1

لقد کان لکم فی رسول اللہ اسوۃ حسنۃ (الآیۃ)



سیرت الرسول صلی اللہ علیہ وسلم





تالیف

الشیخ العلامۃ ابو محمد امین اللہ پشاوری حفظہ اللہ

جمع وترتیب واضافات مفیدہ

الشیخ ابو زھیر سیف اللہ حفظہ اللہ

مکتبہ محمدیہ

بیرون گنج گیٹ منگل مارکیٹ پشاور

0301-8828402

لقد كان لكم في رسول الله أسوة حسنة (الآية)

سیرت الرسول صلی اللہ علیہ وسلم

تالیف: الشیخ العلامۃ ابو محمد امین اللہ پشاوری حفظہ اللہ

١



مکتبہ محمدیہ
بیرون کنج گیٹ منگل مارکیٹ پیښور

د کتاب نوم ——— سیرتِ رسول ﷺ (اول جلد)
د مؤلف نوم ——— الشیخ ابو محمد امین الله البشاوری حفظه الله ورعاه
جمع وترتیب واضافات مفیده ——— از ابوزهیر سیف الله غفر له شیخ آباد پشاور۔
سنهٔ طباعت ——— رمضان ۲٤/۱٤۳٤ هجری الموافق : ۲/۸/۲۰۱۳ء)
د نسخو تعداد ——— ۱۱۰۰
فن ——— سیرتِ رسول (ﷺ)
ناشر ——— مکتبه محمدیه گنج پیښور

د ملاویدو پته

۱- مکتبه محمدیه

بیرون گنج گیټ پهندو روډ منگل مارکیټ پیښور پاکستان
ولی الله :03118828402/ 03018828402 ابوسلمان : 03025953513 ابوزهیر : 03075924001
۲- ایوب مکتبه واسلامی کیسټ مرکز، عقب قصه خوانی پیښور۔
۳- معراج کتب خانه قصه خوانی بازار محله جنگی پیښور۔
٤- نوروز کتب خانه صوابی اډه پاکستان۔
۵- دار الکتاب والسنة، نیو حاجی کیمپ سلطان آباد کراچی : 03002615402
٦- مسلم کتاب پلورنځی، جلال آباد اسحاق زئی مارکیټ۔
۷- مکتبه محمدیه، جلال آباد تالاشئ چوك كمرك مسجد ترڅنگ دکان نمبر ۲



د شیخ محترم ابتدائی خبرے

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى نَبِيِّ الرَّحْمَةِ مُحَمَّدٍ وَآلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ أَجْمَعِيْنَ أَمَّا بَعْدُ:

بهترین علوم څلور دی، هر مسلمان له پکار دی چه دے کی ځان استعمال کړی، مفتاح د خیر به شی ان شاء الله تعالیٰ۔

(۱) علم التفسیر والقرآن (۲) علم السنة النبویة (۳) العلم بالحلال والحرام او الاحکام الشرعیة (٤) علم السیرة النبویة والآثار السلفیة۔

بیا علم السیرة کی تفسیر د کتاب الله تعالیٰ او د احکامو او سننو د رسول الله ﷺ موجود دے نو ځکه پدے ډیره اعتناء او اهتمام پکار دے، په سیرت کی د رسول الله ﷺ محبت ډیریږی او په سیرت کی ایمان مضبوطیږی۔

دارنګه په سیرت کی د دعوت او مصلحت طریقه ایزده کیږی، په سیرت کی د دشمنانو کفارو، خوارجو ملحدینو دسیسی ایزده کیږی، په سیرة الرسول ﷺ کی بیشماره فائدے دی په دے وجه مونږ سیرت په خطبو د جُمعو کی درے څلور کاله بیان کړو په ښه انداز باندے ولله الحمد او ډیرو مسلمانانو ترے فائده واخستله وذلك فضل الله المحض۔

بیا ډیرو ملګرو ددے سیرت د کتابی شکل د جوړولو مطالبه وکړه زمونږ سره وخت کم وو نو زمونږ محترم ورور شیخ ابوزهیر سیف الله حفظه الله تعالیٰ من کل شر فی الدنیا والآخرة ترتیب ورکړو او په سَلیَسه پښتو کی سره د حوالجاتو نه راویستلو چه هر مسلمان ترے ان شاء الله تعالیٰ فائده اخستلے شی په آسانی سره۔

زۀ د ورونو او خویندو مسلمانانو نه مطالبه کوم چه دا کتاب ځان سره کور کی

وساتي او هره ورځ د ماسخوتن نه بعد خپل اهل وعیال ته یوه یوه قصه بیانه کړي ان شاء الله تعالیٰ ډیر ښه تربیت به ئے وشي او تاسو تجربه وکړئ لږه موده بعد څو مره انقلاب کور کي رازي ان شاء الله۔

او مسافرو ورونو له هم پکار ده چه د کار نه فارغ شي او تلاوت وکړي نو ددے کتاب نه دِے یوه یوه قصه خپله یا ملګرو ته بیانه کړي، داسے به شي لکه د رسول الله ﷺ او د صحابه کرامو رضی الله عنهم سره چه ناست وي۔

د خپل نبي ﷺ سره محبت ضرور وکړئ۔

الله تعالیٰ نه سوال کوم په ډیره عاجزئ سره او د سفر حالت کي هم یم چه ددے کتاب نه عامو مسلمانانو ته فائده ایماني او ديني ورکړي او زما او د مولانا سیف الله او د ټولو لوستونکو او آوریدونکو دپاره ذریعه د نجات جوړه کړي او د خپل نبي ﷺ د قرب، جوار او شفاعت سبب وګرزوي او په مونږ باندے حجت نشي۔ وما ذلك على الله بعزيز والله اَسْأَلُ أَنْ يَتَقَبَّلَهُ مِنَّا بِمَنِّهِ وَكَرَمِهِ وَبِرَحْمَتِهِ الْخَاصَّةِ آمين۔

وكتبه ابو محمد امين الله البشاوري۔

(١٤٣٤) ليلة السبت جمادى الاولىٰ (١٠) بشاور۔

الموافق: مارس ٢٢/٢٠١٣ ميلادي۔





د کتاب خصوصیات

الحمد لله و کفی وسلام علی عباده الذین اصطفی اما بعد :

رسول الله ﷺ فرمائي: إِنَّمَا أَنَا رَحْمَةٌ مُهْدَاةٌ. (دارمی، شعب الایمان بسند صحیح)

زهٔ تاسو ته لوی رحمت یم چه د تحفه کړے شوے یم. د رسول الله ﷺ ټوله زندګی د امت دپاره رحمت دے، د رسول الله ﷺ خبرے، د هغه ناسته پاسته، د هغه چال چلن، د هغه کورنۍ زندګئ او بهر د خلکو سره، د کشرانو، مشرانو، بادشاهانو، مالدارو او فقیرانو سره تعلقات ساتل د امت دپاره په هره موقعه او هر ځای کی یوه ښه نمونه او مثال دے، پدے وجه د رسول الله ﷺ د سیرت او د ژوند حالات مطالعه کول او ددے سره تعلق ساتل یو اهم عبادت دے، الله تعالیٰ ته رسیدل او د هغه محبت حاصلول بغیر د رسول الله ﷺ د طریقے نه ممکن نهٔ دی، د رسول الله ﷺ سیرت او د هغه د ژوند حالاتو نه ځان خبرول د الله تعالیٰ د محبت ښنبه ده، که څوك غواړی چه د الله تعالیٰ سره بیا د هغه د رسول سره ئے محبت پیدا شی، نو د الله کتاب او د رسول الله ﷺ سیرت دے زدهٔ کړی، په بنده کی انابت پدے سره پیدا کیږی، د ضد او د کبر ماده پدے سره ختمیږی، د آخرت نه یره او د آخرت استحضار او د زړه نرمی په سیرت د رسول الله ﷺ او د هغه د صحابه کرامو سره پیدا کیږی. په انسان کی خشوع پیدا شی، عمل کی مزه او محبت پیدا شی، پدے سره د انسان په عقل او هوښیارتیا کی زیاتوالے کیږی، رسول الله ﷺ د خپلو ملګرو سره څنګه سلوك کړے، د دشمنانو سره ئے څنګه سلوك کړے نو پدے سره بنده د صحیح ژوند تیرولو طریقے وپیژنی.

پدے وجه مونږ غواړو چه پدے راتلونکی صفحو کی ستاسو مخے ته د الله د رسول او د هغه صحابه کرامو د ژوند تفصیلات ذکر کړو چه الله تعالیٰ مونږ ته د هغے مطابق د ژوند تیرولو توفیق راکړی، د سیرت په وجه بنده د الله تعالیٰ په کتاب او د هغه د رسول ﷺ په احادیثو باندے په ښه شان سره پو هیږی، د آیتونو شان نزول، احادیثو کی چه کوم واقعات راغلی وی د هغے تفصیلات ملاویږی.

په سیرت کی مختلف کتابونه لیکلے شویدی په مختلفو ژبو چه هر یو خپل خپل خصوصیات لری مګر دا ستاسو په لاس کی چه کوم کتاب دے ددے څه جدا خصوصیات

دی چه ان شاء الله دا به په ډیرو کتابونو د سیرت کې نۀ وي څه خصوصیاتو ته مونږ د لوستونکو توجه راړو:

١- دا کتاب په صحیح معنو کې د کتاب او د سنت صحیح ترجمان او تشریح ده چه د کتاب او د سنت رازونه پرې راښکاره کیږي.

٢- پدې کتاب کې د رسول الله ﷺ او د صحابه کرامو د ژوند صحیح حالات په ښکلي او آسان انداز سره ذکر شویدي.

٣- پدې کتاب کې د صحیح منهج او صحیح عقیدې دعوت شویدې، په باطلو او منحرفو ډلو باندې پکې رد شویدې.

٤- د هرې واقعې سره په څنګ کې ایماني، علمي او فقهي فوائد او قواعد ذکر شویدي چه د انسان پوره رهنمائي کوي.

٥- هره واقعه تقریباً د موجوده زمانې د حالاتو سره تطبیق شویده او لوستونکو ته پکې پوره عبرت وربه ګوته شویدې.

٦- پدې کتاب کې د اصلي مراجع او مصادرو نه اخذ شویدې او خپلو اصلي کتابونو ته نسبت شویدې، او د معتمدو سیرتونو نه رانچوړ شویدې.

٧- د احادیثو تخریج او صحت او ضعف پکې بیان شویدې.

٨- د آیتونو حواله جات پکې بیان شویدي.

٩- په هر عربي عبارت باندې اعراب (زبر، زیر، پیش) شویدې، دې دپاره چه لوستونکې ئې په صحیح طریقه سره یاد کړي.

١٠- په واقعه کې چه د کومو ځایونو نومونه راغي حتی الوسع د هغې اندازې خودلې شویدي. ١١- هره واقعه پکې په ډیر تفصیل سره بیان شویده او د واقعې متعلق چه په احادیثو کې کوم خارجي واقعات ذکر شوي وي هغه هم بیان شویدي.

١٢- ژبه ئې انتهائي آسانه او پسته ده چه تقریباً هر لوستونکې ترې فائده اخستې شي.

١٣- په مشکلو او مشتبه نومونو باندې اعراب (زبر، زیر، پیش) شویدې.

١٤- ترتیب ئې ډیر مزیدار دې. نو الله هر مسلمان نارینه او زنانه له ددې نه فائده اخستل او پدې سره خپل ایمان تازه کول پکار دي، الله دې دا زمونږ دپاره صدقه جاریه وګرځوي او امت مسلمه ته دې پدې سره ډیره فائده ورکړي آمین یا رب العالمین.

وکتبه ابوزهیر سیف الله شیخ آباد پشاور.

رمضان ٢٣/١٤٣٤ هجري، الموافق: ١/٨/٢٠١٣ء)



اِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ يَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ﴿ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقٰتِهٖ وَلَا تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ﴾ (۱)

﴿ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ وَّخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيْرًا وَّنِسَآءً وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْ تَسَآءَلُوْنَ بِهٖ وَالْاَرْحَامَ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيْبًا ﴾ (۲)

﴿ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًا ۝ يُّصْلِحْ لَكُمْ اَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيْمًا﴾ (۳)

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ :

﴿ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ وَالَّذِيْنَ مَعَهٗۤ اَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ تَرٰىهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَّبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا سِيْمَاهُمْ فِيْ وُجُوْهِهِمْ مِّنْ اَثَرِ السُّجُوْدِ ذٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرٰىةِ وَمَثَلُهُمْ فِي الْاِنْجِيْلِ كَزَرْعٍ اَخْرَجَ شَطْئَهٗ فَاٰزَرَهٗ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوٰى عَلٰى سُوْقِهٖ يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِيَغِيْظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ مِنْهُمْ مَّغْفِرَةً وَّاَجْرًا عَظِيْمًا﴾ (۴)

﴿ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَنْ كَانَ يَرْجُوا اللّٰهَ وَالْيَوْمَ الْاٰخِرَ وَذَكَرَ اللّٰهَ كَثِيْرًا﴾ (۵)

یو ضروری موضوع چه د مخکی نه زمونږ د هغې د بیانولو اراده وه او بعض ملګرو به مطالبه هم کوله چه بیان ئې کړو هغه دا وه چه د محمد رسول الله ﷺ د زندګئ شکلې تاریخ بیان کړې شي، دا د سلفو (د صحابه کرامو، تابعینو او نیکانو خلکو) طریقه وه چه هغوی به په خپلو مجلسونوکې همیشه د رسول الله ﷺ د

(۱) سورة آل عمران :۱۰۲) (۲) سورة النساء:۱)

(۳) سورة الاحزاب :۷۰، ۷۱) (٤) [سورة الفتح ۲۸: ۲۹] (۵) (سورة الاحزاب ۳۳ : ۲۱)

زندګئ تذکرے کولے او د صحابه کرامو د جهادونو قیصے او حالات به ئے بیانول، د هغوی مجلسونه پدے آباد وو او پدے کی ډیره فائده ده۔

زۀ دا وایم چه په پښتو یا اردو یا عربی ژبه کی د یو کتاب نه هره ورځ د رسول الله ﷺ د ښکلے سیرت یوه یوه واقعه بیانیدلے پدے کی به د مسلمان او د هغه د کور والا دپاره ډیره فائده وی۔

که تاسو خپل ځان او معاشرے ته وګورئ غالباً د رسول الله ﷺ او د صحابه کرامو (رضوان الله علیهم اجمعین) تذکری نۀ کیږی یا به د ووټونو تذکرے کیږی یا د اخبارونو یا د سیاسی خبرو یا د دنیا د خبرو یا به غیبت وی یا به بهتان، پدے سره د سړی په زړۀ کی ډیر فساد راځی او ایمان پرے خرابیږی کله چه یو مؤمن بنده دیته فکر وکړی۔

په یو مجلس کی چه دا ګندونه وی به هغوی باندے د الله تعالیٰ رحمت نۀ نازلیږی، پکار ده چه زمونږ مجلسونه د الله تعالیٰ په ذکر آباد وی۔

سیده عائشه رضی الله عنها فرمائی : تاسو خپل مجلسونه په ذکر د الله تعالیٰ او په ذکر د عمر بن خطاب (رضی الله عنه) سره آباد کړئ۔ یعنی د سیدنا عمر فاروق رضی الله عنه سیرت بیان کړئ ځکه هغه ډیر ناشنا انسان دے، هغه د رسول الله ﷺ ملګرے دے چه د هغه سیرت بیان شی نو دا د رسول الله ﷺ یو قسم سیرت بیانول دی۔

د سیرت مقصد

د نبی کریم ﷺ د سیرت مقصد څه دے؟ د هغه د زندګئ احوال چه هغه ته الله رب العالمین کومه زندګی ورکړے وه هغه ئے څرنګه تیره کړه ؟ د نبوت نه مخکی زندګی ئے څنګه وه او د نبوت نه روسته څنګه شوه ؟

محمد رسول الله ﷺ الله رب العالمین د ټول عالَم د پاره رحمت رالیږلے وو، د ټول عالَم تاریخ جناب نبی کریم ﷺ دے، د مخکنو او روستنو خلکو تاریخ هغه دے، په مخ د زمکه باندے او په آسمانونو کی دومره عظیم شخصیت الله تعالیٰ ندے پیدا کړے لکه د محمد رسول الله ﷺ پشان، د هغه په سیرت کی خبرے کول دا ډیر لوی سعادت او نیک بختی ده، دا به د الله تعالیٰ فضل وی په هغه چا چه ددے فن سره ئے

مینه او شوق پیدا شي او دې سره ئې تعلق او واسطه پیدا شي۔

د سیرت د بیانولو فائدې

په سیرت بیانولو کې ډیرې فائدې دي۔

۱۔ د نبي کریم ﷺ سره مینه پیدا کیږي۔ د نبي کریم ﷺ سره د محبت پیدا کیدلو لس اسباب دي یو د هغې نه د هغه سیرت مطالعه کول دي۔

د رسول الله ﷺ سره محبت د دین لویه حصه ده او د ایمان غټه برخه ده، رسول الله ﷺ فرمائي :

[لَا يُؤْمِنُ اَحَدُكُمْ حَتّٰى اَكُوْنَ اَحَبَّ اِلَيْهِ مِنْ وَّالِدِهٖ وَ وَلَدِهٖ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ] (۱)

یو کس په تاسو کې مؤمن کیدې نشي تر څو چه زهٔ هغه ته ډیر محبوب او خوښ نشم د هغه د پلار او د بچو او د ټولو خلکو نه۔

په یو روایت د مسلم کې راځي :[اَحَبَّ اِلَيْهِ مِنْ اَهْلِهٖ وَمَالِهٖ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ] (۲)

تردې چه زهٔ هغه ته محبوب شم د هغه د اهل او د مال او د ټولو خلکو نه۔

او په روایت د احمد کې دي : [اَحَبَّ اِلَيْهِ مِنْ نَفْسِهٖ] (او د نفس د هغه نه)، د خپل ځان نه به هم ماسره ډیره مینه کوي هله به مؤمن کیږي۔ (۳)

قرآن کریم کې هم راځي : ﴿ وَلَا يَرْغَبُوْا بِاَنْفُسِهِمْ عَنْ نَّفْسِهٖ ﴾ (٤)

مؤمن به د خپل ځان سره د رسول الله ﷺ نه ډیره مینه نهٔ لري پداسې شان سره چه ځان سره ئې محبت ډیر وي او د رسول الله ﷺ سره کم۔

دا حدیث چه کله زمونږ مخې ته راشي ویریږو، ډیر کرت د یو مؤمن د خپل بچو یا د ښځې یا د یارانو دوستانو سره مینه ډیره وي، او د رسول الله ﷺ محبت ئې په زړهٔ کې هر وخت حاضر نهٔ وي بلکه غائب او ورک وي، هسې نهٔ چه د الله تعالی په نزد بې ایمانه شو۔ داسې حدیث یو مؤمن بنده یروي چه هغه فرمائي (لَايُؤْمِنُ) اې انسانه! تهٔ مومن

(۱) [صحیح بخاری ۱/۱٤ رقم :۱٤ ومسلم] (۲) صحیح مسلم : ۱/۱٤۹رقم ۱۷۷)

(۳) مسند احمد ٤/۳۳۳ رقم (۱۸۰۷٦) واسناده صحیح (شعیب الارناووط) (٤) [التوبة : ۱۲۰]

نۀ ئې چه ما سره ډیره مینه ونکړې۔

(۲) فائده د سیرت دا ده چه سړے د قرآن کریم په معنیٰ او تفسیر پوهېږي او په مقصد ئې رسیږي ځکه قرآن کریم د نبی کریم ﷺ د زندګئ مطابق نازل شوے دے چه په سیرت پوهه شوے په قرآن به پوهه شے۔

خوارج او معتزله او نورے غلطے ډلے چه پیداشوی دي یا اُوس پیدا کیږي دا ولے ؟ دا ځکه چه دوی د نبی کریم ﷺ سیرت نۀ ګوری د هغه د حالاتو مطابق قرآن کریم نۀ لګوی پدے وجه په خطائی کي واقع شي نو چه کله سیرت وګوری د قرآن په تفسیر به پوهه شئ، ډیر خلك آیتونه د خپل ذهن مطابق تطبیق کوی حال دا چه د سیرت او د سلفو هیڅ صحیح نمونه ورسره نۀ وی۔

(۳) فائده د سیرت په بیانولو کی دا ده چه انسان په ټولو مسئلو کی د افراط او تفریط (زیاتی کمی) نه بچ کیږي، بنده په غُلوّ کی نۀ واقع کیږي کله چه د نبی کریم ﷺ سیرت ته وګوری چه د نبی کریم ﷺ څنګه زندګی وه؟، په عباداتو په معاملاتو په اخلاقو، په ناسته پاسته، په دوستئ دشمنئ کی هغه څه کول، کله چه دغه زندګی سړی ته معلومه وی نو افراط تفریط کی به نۀ واقع کیږي،

(٤) دا رنګه د سیرت په پیژندلو سره سړی ته د جهاد مسئلے ډیرے آسانیږي، پدے مسئلو کی خلك په ډیره پریشانئ کی واقع وی چه جهاد څنګه وکړو ؟ په کوم ځای کی ئې وکړو ؟ ځکه د جهاد په مسئله کی خلکو ته ډیر شکونه راځي چه جهاد وکړو که وئې نکړو، نو که پدے مسئلو کی مونږ د رسول الله ﷺ سیرت ته رجوع وکړو او د زړه د اخلاصه ئې وکړو او صرف الله تعالیٰ ته متوجه شو د الله تعالیٰ په فضل سره دا مسئلے واضحه کیږي،

(۵) دارنګه د زکاة مسئلے،

(٦) دغه شان د دعوت طریقه هم د نبی کریم ﷺ د سیرت نه معلومیږي، سړے به کافرانو ته یا مسلمانانو، مشرانو، کشرانو، سړو، زنانو ته څنګه دعوت ورکوی؟، دا هم د نبی کریم ﷺ د سیرت نه واضحه کیږي۔

چا سره سختي وکړي چا سره نرمی وکړي؟ دا هم د سیرت نه معلومیږي، لنډه دا چه د رسول الله ﷺ سیرت ټول دین دے، د الله تعالی په مکمل دین باندے ځان پوهه کول

د رسول الله ﷺ په سیرت باندے معلومیږی۔

(۷) فائده: زمونږ پدے سیرت ذکر کولو کی وعظ هم پروت دے، او د الله تعالی په فضل سره د صحیح مسئلے چه کوم حقیقت وی د هغے بیان هم دے۔

د سیرت لفظی معنیٰ

د سیرت معنی ده طریقه د کیناستو پاڅیدو، گرزیدو راگرزیدو، راشه درشه، لین دین، عبادات وغیره، رسول الله ﷺ څنګه ناست دے څنګه ودریدلے دے څنګه ئے عبادت کړے دے خلکو سره څنګه ملاؤ شوے دے، جهاد له څنګه تلے دے، د دین دعوت ئے په کومه طریقه کړے دے، د ملګرو تربیت ئے څنګه کړے؟، دَدے وجه نه د دے وضاحت پکار دے، او پدے وجه سیرت ډیر په مینه وئیل او آوریدل پکار دی، دا به د رسول الله ﷺ د محبت تقاضا وی چه د هغه تذکره ورله خوند ورکوی۔

محبت هم د دینه معلومیږی چه د چاسره ډیره مینه وی د هغه تذکرے به ډیرے کوے (مَنْ اَحَبَّ شَيْئًا اَكْثَرَ ذِكْرَهٗ) څوك چه د یو شی سره مینه کوی د هغهٔ تذکره به ډیره کوی، د چا سره چه دے مینه نهٔ وه کال کی به هم درته نهٔ یادیږی او د چا سره چه دے مینه زیاته وه هر وخت به درته رایادیږی، چه د سیرت خبرے در باندے خوږے لګیدلے نو دا نښه ده چه ستا زړهٔ کی مینه شته دے۔

د محبوب خبرے که لس ځلے واوری تاله به خوند درکوی که تاته معلومے وی نو هم خوند به درکوی ځکه چه (مایتعلق بالمحبوب) خبرے دی (یعنی د هغه چا پورے متعلق دی چه هغه محبوب دے)، نبی کریم ﷺ د الله تعالی محبوب هم دے، د ملائکو محبوب هم دے، د مؤمنانو محبوب هم دے، د اولینو او آخرینو تولو محبوب دے۔

رسول الله ﷺ ته الله تعالیٰ ډیر قدر، لوی شان او عظمت ورکړے دے چه دا ئے په عالَم کی بل هیچا ته ندے ورکړے ددهٔ په مقدار باندے،

د سیرت علماؤ لیکلی دی چه د نبی کریم ﷺ په سیرت به هله پوهه شے چه د هغه نه مخکی د جاهلیت تاریخ وپیژنے، هغه خو ډیر اُوږد تاریخ دے د عربو، د یهودو نصاراؤ او د انبیاء علیهم السلام قصے چه (مایتعلق بالسیرة) وی یعنی د سیرت سره

تعلق لري، لږ شان هغه پیژندل پکار دي نو په سرې باندې به د سیرت مسئله راواضحه شي چه نبي کریم ﷺ دنیا ته راغلې نو څه ئې وکړل؟، د جاهلیت کوم رواجونه ئې ختم کړل؟ او کومه تیاره وه چه هغه ئې لرې کړه، نبي کریم ﷺ چه رڼا بله کړه نو دغه رڼا کومه تیاره ختمه کړه؟۔ کله چه یو سړې ته تیاره نۀ وي معلومه او د رڼا وضاحت وکړې نو پوره نۀ پوهیږي نو ځکه د جاهلیت لږ شان واقعات، د نبي کریم ﷺ دور نه مخکښې احوال، سیاسي احوال څه وو؟ د عوامو څه حالات وو؟ او نبي کریم ﷺ په هغه کې څه تصرف وکړو؟، د دې خبرو پیژندل ضروري دي۔

تخلیق کائنات

د کائناتو د پیدائش نه مخکې صرف د الله تعالیٰ ذات وو بل هیڅ نۀ وو، په حدیث د بخاري کې راغلي دي: (كَانَ اللّٰهُ وَلَمْ يَكُنْ شَيْءٌ غَيْرَهُ) (بخاري: ۳۰۱۹)

د الله تعالیٰ ذات موجودوو پخپل کمال او جلال کې او دا نور مخلوقات الله تعالیٰ لا پخپله اراده نۀ وو پیدا کړې۔

بل لفظ داسې دې (كَانَ اللّٰهُ وَلَاشَيْءَ مَعَهُ) (د الله تعالیٰ ذات موجود وو او هیڅ شے ورسره نۀ وو)، او په یو لفظ د بخاري کې دي: (وَلَمْ يَكُنْ شَيْءٌ قَبْلَهُ)۔ (بخاري: ۶۹۸۲)

(د الله تعالیٰ ذات موجود وو او د هغه نه مخکې هیڅ شے نۀ وو)

نو اراده ئې وکړه چه دا مخلوق پیداکړي نو د آسمان او د زمکې د پیدائش نه پنځوس زره کاله مخکې الله تعالیٰ یو قلم پیدا کړو او الله تعالیٰ په عرش باندې وو او عرش د اُوبو دپاسه وو۔

په قرآن کریم کې په سورت هود کې دا راغلي دي، الله تعالی فرمائي:

﴿وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَآءِ﴾ (هود:۷)

(د الله تعالیٰ عرش په اُوبو باندې وو، او الله تعالی د عرش د پاسه وو الله تعالیٰ عرش ته ضرورت نۀ لري خو دا د هغه د عظمت، د هغه د جمال او د وقار او کمال خبره ده چه الله تعالیٰ د عرش د پاسه دې څنګه چه د هغه د شان سره مناسب وي نو قلم ئې پیدا کړو نو قلم ته ئې وویل: (اُكْتُبِ الْقَدَرَ) تقدیر اُولیکه۔ قلم راولګیدو تقدیر ئې اُولیکه۔

د تقدیر څه معنی ده؟ مخکې تیر شوی وو چه د الله تعالی په علم کې څومره مخلوقات دي او الله تعالی ئې پیداکول غوښتل هغه ټول مسئلې ئې د علم نه بهر په کتاب کې اُولیکل ﴿فِيْ رَقٍّ مَّنْشُوْرٍ﴾ په یوه فراخه تختئ باندې ئې ولیکل۔

ښه واضحه ئې ولیکل چه دا به کیږي دا به کیږي، پنځوس زره کاله مخکې د کائناتو د پیدائش نه الله تعالی د کائناتو په حال عالِم وو چه دا دا کارونه به کیږي او دا به واقع کیږي۔

کله ئې چه دا ولیکل بیا پنځوس زره کاله بعد الله تعالی آسمانونه او زمکې پیدا کړل، لکه دا په قرآن کریم کې کې په سورت حم سجده (۱۰) آیت کې راغلي دي چه الله تعالیٰ آسمانونه او زمکې په اندازه د شپږو ورځو کې پیدا کړل۔

آسمانونه اُوه دي نو دغه شان زمکې هم اُووه دي لکه د سورة الطلاق آیت (۱۲) کې ذکر دی (وَمِنَ الْاَرْضِ مِثْلَهُنَّ) (چه الله تعالیٰ د زمکو نه د آسمان په شان اُوه پیدا کړیدي) لیکن هغهٔ د یو بل سره د پیاز د پوستکو په شان انختي دي او د آسمانونو خپل مینځ کې فاصلې دي دومره اندازه لکه د زمکې نه تر نزدې آسمان پورې او الله تعالیٰ په هر آسمان کې خپل خپل مخلوق پیدا کړیدې، هر یو آسمان کې جدا جدا ملائك دي، ډیر ملائك دي چه د څلورو ګوتو په مقدار ځای په آسمانونو کې نشته مګر په هغې کې ملائك په عبادت کې ولاړ دي۔

بیا پدې کې د علماؤ اختلاف دې چه آسمان مخکې پیدا دې او که زمکه؟

درې قوله دي چا یو مخکې وئیلې دې او چا بل، لیکن پدې کې دریم قول چه د احادیثو او د قرآن کریم د آیتونونه معلومیږي هغه دا چه اول زمکه پیدا شوه، بیا الله تعالیٰ آسمان پیدا کړو او هغې ئې برابر کړو بیا روستو زمکه خوره شوه او خوراکونه او څیزونه پکې پیدا کړې شو۔ نو نفس پیدائش د زمکې مخکې دې، لکه د سورة البقره آیت (۲۹) او د حم السجده (۳) آیت نه معلومه ده او دَحْوُ الارض (د زمکې خورول) روستو شویدي لکه د سورة نازعات آیت (۳۱) نه معلومه ده۔ او پیدائش د آسمان مؤخر دې۔ پدې قول سره په یو آیت کې هم تأویل ته ضرورت نهٔ رازي۔

او ددې تفصیل زمونږ په تفسیر حکمة القرآن اول جلد آیت (۲۹) کې وګوره۔

د آسمان او زمکے د پیدائش طریقه څنګه وه؟

د سورت حم السجده او د تورات د سفر الخلق (۲/۱) نه معلومیږی او دا د سیدنا عبد الله بن عباس ﷺ او سیدنا ابن مسعود ﷺ او بعضو نورو صحابه کرامو اثر هم دے چه الله تعالیٰ اُوبه پیدا کړے او بیا ئے دے نه غبار او ګیس راوچت کړو او بیا ددے غبار نه ئے مضبوط آسمانونه پیدا کړل نو اُووه آسمانونه ئے تیار کړل، بیا دا اُوبه الله تعالیٰ منجمدے (کلکے) کړے یو غونداړے ئے ترے جوړ کړو نو ددے نه ئے زمکه او کائنات پیدا کړل او پدے اُوبوکی چه کومه رڼا وه د هغے نه ئے نمر او سپوږمئ جوړ کړل کله چه نمر او سپوږمئ پیدا شو نو بس مخلوقات او کائنات په دے سره روان شو، ورځ او شپه هم ددے نه پیدا شوه، رڼا او تیارے هم۔ نو دا ټول څیزونه د اُوبو نه پیدا دی، لکه د سورة الانبیاء (۳۰) آیت نه هم معلومیږی

﴿ اَوَلَمْ يَرَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا اَنَّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنٰهُمَا وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَآءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ ﴾۔

آیا کافر خلك دا فکر نهٔ کوی چه یقیناً آسمانونه او زمکه دواړه بند وو نو مونږ راکولاؤ کړل او مونږ هر ژوندے شے د اُوبو نه پیدا کړیدے) یعنی د هر شی ژوند په اُوبو دے۔ او دا په حدیث د ابو هریره ﷺ کی هم راغلی دی :

(عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قُلْتُ : يَارَسُوْلَ اللّٰهِ! اَنْبِئْنِيْ عَنْ كُلِّ شَيْءٍ ؟ قَالَ : كُلُّ شَيْءٍ خُلِقَ مِنَ الْمَآءِ)

(ابن ماجه ورواه ابن حبان (٤/١١٥)

ما عرض وکړو : اے د الله رسوله ! ما ته خبر راکړه چه دا ټول څیزونه الله تعالیٰ د څه نه پیدا کړیدی ؟ نبی علیه السلام وفرمایل : هر شے د اُوبو نه پیدا کړے شویدے۔

(ابن جریر والقرطبی)

بیا الله تعالیٰ دا زمکه خوره کړه ﴿ وَالْاَرْضَ بَعْدَ ذٰلِكَ دَحٰهَا ﴾ [النازعات:۳۰]

بیا الله تعالیٰ پدے زمکه کی خوزاکونه پیدا کړل چه پدے کی د خپل مخلوق دپاره، د پیریانو، د انسانانو او د نورو حیواناتو لپاره دریابی وی که د وچے دومره ګیاه ګانی، دومره رزقونه، دومره بوټی او دومره دومره حیوانات پکار دی۔

دا وئیلے کیږی چه مخلوقات ټول اتلس زره (۱۸۰۰۰) قومونه دی یا زر (۱۰۰۰)۔

قومه دی، دومره نوعه مخلوقات الله تعالی پیدا کړیدی او د دوی د پاره ئے رزقونه مقرر کړیدی الله تعالی فرمائی :

﴿وَقَدَّرَ فِيهَا أَقْوَاتَهَا﴾ [حم السجدة:۱۲] :

او هغه اندازه کړل پدے زمکه کی خوراکونه د هغے)،

د الله تعالیٰ ناشنا معرفت او علم دے۔

په بل ځای کی فرمائی : ﴿وَكُلُّ شَيْءٍ عِندَهُ بِمِقْدَارٍ﴾ [الرعد : ۸]

هر شے الله تعالی په یو اندازه پیدا کړو۔

داسے ئے اُونکړل چه دومره ډیرے گیاه گانی یا دومره ډیرے اُوبه پیدا کړی چه مخلوق بانـدے زیاتی شی او دا زمکه ونیسی او زمکه خرابه او بدبویه کړی، فضا خرابه کړی، او دومره کمے هم ندی چه مخلوق ته نهٔ رسیږی، کله بنده خپل سوچ کی دا وائی چه په دریانونو او سیندونو کی دا دومره اُوبه ولے دی؟ دیته څه حاجت دے ؟ لیکن که د دینه کمے شی د انسانانو، د مرغانو او د حیواناتو او مخلوقاتو ژوند پرے خرابیږی۔

د نباتاتو ماهرین علماء وائی چه الله تعالیٰ اتیا زره نوعه بوټی پیدا کړیدی، ته به وائے چه دا دومره بوټی په غرونو او صحراگانو او ځنگلاتو کی د څه د پاره دی؟

نو دیتـه د انسـانـانو ضرورت دے کـه دا چرتـه کـم شی نو د انسانانو مزیداره هوا خرابیږی، صحت ئے خرابیږی د دے وجے نه د دونو ډیروالے ضروری دے۔

مقصد دا چه زمکه ئے په دوه ورځو کی پیدا کړه او د زمکے ددے رزقونو گیاه گانو او اُوبو انتظام ئے په څلورو ورځو کی وکړو او اُوه اسمانونه ئے جوړ کړل۔

﴿وَأَوْحَىٰ فِي كُلِّ سَمَاءٍ أَمْرَهَا﴾ (حم السجدة:۱۲)

هـر آسـمـان تـه ئے حکم وکړو چه تا کی به دا دا کارونه کیږی، تا کی به ملائك وی تا کی به دا وی وغیره وغیره،

عـرش الله رب الـعـزت د اُوبـو نه اُوچت کړو او د آسمانونو د پاسه ئے کینبودهٔ او خپله الله تـعـالی د عرش د پاسه دے، دا ټول مخلوق د الله تعالیٰ نه لاندے دی او الله تعالی پرے بـره دے، آسـمـانـونه الله تعالیٰ د بندگانو دپاره یو چهت جوړ کړل په آسمان کی ئے نمر او سپـوږمئ بیا ددے ترمینځ ورځ او شپه راوستل، د زمکے نه اُوبه او گیا هگانے راویستل او پـه دے بـانـدے مـضـبـوط غـرونه پیدا کول دا ټول د انسانانو او د هغوی د چارپیانو د

فائدے دپاره وشو۔ دا الله تعالیٰ په سورة النازعات (۲۷-۳۳) کی بیان کړیدی:

﴿ اَءَ نْتُمْ اَشَدُّ خَلْقًا اَمِ السَّمَاءُ بَنَاهَا ۝ رَفَعَ سَمْكَهَا فَسَوّٰهَا ۝ وَاَغْطَشَ لَيْلَهَا وَاَخْرَجَ ضُحٰهَا ۝ وَالْاَرْضَ بَعْدَ ذٰلِكَ دَحٰهَا ۝ اَخْرَجَ مِنْهَا مَاءَهَا وَمَرْعٰهَا ۝ وَالْجِبَالَ اَرْسٰهَا ۝ مَتَاعًا لَّكُمْ وَلِاَنْعَامِكُمْ ۝﴾

د انسانانو د پاره دا آسمان او زمکه چه الله تعالی پیدا کړی دی پدے ډیر وخت تیر شوے دے، دا الله تعالیٰ د انسان د پیدائش نه ډیر مخکی پیدا کړی دی، په قرآن کریم او حدیث نبوی کی څه خاصه اندازه نده راغلے چه څومره وخت به پرے تیر شوے وی، خو د سائنسدانانو د قول مطابق (چه د هغوی تجربه ده) پدے لس اربه، او څوك وائی پنځلس اربه کاله تیر شوی دی، تقریباً چه دومره کلونه د انسانانو د پیدائش نه دا مخکی پیداشویدی،

قرآن کریم کی الله تعالیٰ د خپل عظمت په باره کی په سورت (ق) کی فرمائی:

﴿ اَفَلَمْ يَنْظُرُوْا اِلَى السَّمَاءِ فَوْقَهُمْ كَيْفَ بَنَيْنٰهَا وَزَيَّنّٰهَا وَمَا لَهَا مِنْ فُرُوْجٍ ۝ وَالْاَرْضَ مَدَدْنٰهَا وَاَلْقَيْنَا فِيْهَا رَوَاسِيَ وَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا مِنْ كُلِّ زَوْجٍۢ بَهِيْجٍ تَبْصِرَةً وَّذِكْرٰى لِكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيْبٍ ﴾ (ق:٦/٨)

آیا دوی آسمان ته نۀ گوری چه ما څرنگه (لوی او غټ مخلوق) پیدا کړو او څومره مے ښائسته کړو او نیشته دے آسمان له څه چاودونه، او زمکه مونږ خوره کړه او پدے کی مو غرونه واچول او پدے کی مو هر قسمه گیاه رازرغونه کړه، دے دپاره خلك پدے کی وگوری او نصیحت شی دپاره د هر بنده چه الله تعالیٰ ته رجوع کوی)۔

د آسمان نه تر اُوسه پورے یوه خښته هم راونه غورزیده، انسان چه یو آبادی جوړه کړی هغه آبادی کی کال یا دوه کاله پس کله خښته خرابه وی، کله ئے چهت خراب وی، کله یو شے کله بل خراب وی، یو وړوکے غوندے چهت به ئے جوړ کړے وی نهه لس ستنے به ئے ورته ودرولے وی، الله تعالیٰ بی ستنو دومره غټ آسمانونه ودرولی تر اُوسه پورے پدے کی یو ځای هم مات نشو سره د دومره لوی والی نه د هغے په هیڅ شی کی نقصان رانغلو، دا زمکه هماغه شانته ده او دا غرونه هماغه شانته الله تعالیٰ ودرولی دی اونۀ خرابیږی کله چه الله اراده وکړی چه دا آسمانونه د خپل ځای نه زائل کړی او دا زمکه بدله کړی بیا به ئے په هغه ورځ باندے بدلوی،

کله چه د قیامت ورځ راشي پدې کې به تغیر پیدا کوي او بدلوي به ئې، آسمان به هم بدلیږي زمکه به هم بدلیږي، الله تعالیٰ فرمائي:

﴿ يَوْمَ تُبَدَّلُ الْأَرْضُ غَيْرَ الْأَرْضِ وَالسَّمٰوٰتُ وَبَرَزُوْا لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ ﴾

(سورة ابراهيم:٤٨)

﴿ إِذَا السَّمَآءُ انْفَطَرَتْ ﴾ ٥ ﴿ إِذَا السَّمَآءُ انْشَقَّتْ ﴾ ٥ ﴿ وَإِذَا الْأَرْضُ مُدَّتْ ٥ وَأَلْقَتْ مَا فِيْهَا وَتَخَلَّتْ ﴾ ٥

دا کارونه به کیږي، زمکه او آسمان به بدل شي او آسمان به وچوي مات رامات به شي، او زمکه که به راخکلې شي او دې کې چه څه دي هغه به راګوزار کړي.

پدې خبره کې نور تفصیل نه کوو دا به د قیامت په احوالو کې راشي ان شاء الله تعالیٰ.

حاصل دا چه دا کائنات الله تعالیٰ پیدا کړل، بیا ډیره زمانه روسته الله تعالیٰ اراده وکړه چه انسان پیدا کړي څکه دا عالَم اصل کې انسانانو لره پیدا وو، کورئې ورله مخکې تیار کړو انسان ئې ورله روسته راوستو.

د آدم علیه السلام پیدائش

نو د انسان د پیدائش د پاره الله سبحانه وتعالیٰ داسې پروګرام وکړو چه ملائک ئې ولیږل چه تاسو لاړشه او د ټولې زمکې نه لږه لږه خاوره راجمع کړه یعنې د هر ځای نه که توره وي که سره وي که سپینه وي، د دینه لږه لږه خاوره راواخلئ، لکه په صحیح حدیث کې راغلي دي نبي کریم ﷺ فرمائي:

(اِنَّ اللّٰهَ خَلَقَ آدَمَ مِنْ قُبْضَةٍ قَبَضَهَا مِنْ جَمِيْعِ الْأَرْضِ) ابوداود (٤٦٩٥ والترمذی : ٢٩٥٥)

الله تعالی د ټولې زمکې نه قبضه راواخسته یعنې امرئې وکړو ملائکو ته هغه راواخسته نو الله تعالیٰ ته پدې وجه نسبت کیږي او پدغه خاوره کې ئې اُوبه واچولې او الله سبحانه وتعالیٰ په خپل لاس باندې واغږله (څنګه چه د الله تعالیٰ د شان سره مناسب وي)، دا د انسان شرافت دې، په نورو خبرو کې به الله تعالیٰ ملائکو ته امر کولو چه داسې وکړئ او انسان الله سبحانه وتعالیٰ په خپل لاس باندې جوړ کړو پدې کې د آدم علیه السلام کالبوت ئې تیار کړو، د هغه شکل او جُثه، شپیته ګزه اوږد کالبوت وو،

ددے خاورے په باره کې قرآن کریم کې الله سبحانه وتعالیٰ داسے تعبیر کړیدے
﴿ مِنۡ صَلۡصَالٍ مِنۡ حَمَاٍ مَّسۡنُوۡنٍ ﴾ (حجر:۳۳)

چه کله پدے کې خاوره کې الله تعالیٰ اوبه واچولے ختمه ترے جوړه شوه نو پرے ئے ښودله، ډیره زمانه پرته وه چه بدبوئی پکې پیداشوه، دومره ډیره زمانه پرته وه چه تَغیر پکې پیدا شو بیا الله سبحانه وتعالیٰ د هغے نه کالبوت جوړکړو، پوزه، سترګې، خُله او لاسونه او خپے ئے ورله جوړے کړے پدے ترتیب چه څنګه انسان دے هغسے ئے جوړکړو، خو روح ئے پکې لا نهٔ وو اچولے، قرآن کریم کې الله تعالیٰ انسان ته دا وخت رایادوی فرمائی:

﴿ هَلۡ اَتٰی عَلَی الۡاِنۡسَانِ حِیۡنٌ مِّنَ الدَّهۡرِ لَمۡ یَکُنۡ شَیۡئًا مَّذۡکُوۡرًا ﴾ (الدهر:۱)

(یقیناً په انسان باندے داسے وخت هم راغلے دے چه چا ئے د سَره تذکرے هم نهٔ کولے چه دا څه شے دے)، اُوس دے لګیا دے تکبر کوی او غټے خبرے کوی چه زهٔ او زهٔ، ته څوك وے؟ دا سے زمانه وه چه دا عالَم وو او انسان پکې نهٔ وو،

بیا د احادیثو نه معلومیږی چه پدے مقام کې چه آدم علیه السلام دلته پروت وو دوه کارونه وشو۔

(۱) یو دا چه حدیث کې راځی: الله سبحانه وتعالیٰ زما نبوت ولیکه:

[کُنۡتُ نَبِیًّا وَ آدَمُ بَیۡنَ الرُّوۡحِ وَالۡجَسَدِ] (رواه احمد: ۱٦٦٧٤ وصححه الالبانی وغیره)

دا حدیث صحیح دے یعنی زهٔ نبی وم په داسے حالت کې چه آدم علیه السلام لا د روح او د بدن ترمینځ وو۔ یعنی زما نبوت د مخکې نه لیکلے شویدے۔

او کوم روایت کې چه (بَیۡنَ الطِّیۡنِ وَالۡمَآءِ) راغلے دے یعنی (زهٔ نبی وم په هغه وخت چه آدم علیه السلام د ختې او د اُوبو ترمینځ وو)

هغه حدیث ضعیف دے اګرکه معنی د دواړو حدیثونو نزدے نزدے ده۔

نبی کریم ﷺ فرمائی چه آدم علیه السلام کې لاروح نهٔ وو اچول شوی هسے کالبوت وو الله سبحانه وتعالیٰ زما نبوت د مخکې نه ولیکه ددے دا معنی نده چه زهٔ الله سبحانه وتعالیٰ نبی پیدا کړے ووم او ژوندے ووم او په یو ځای کې ناست وم لکه ډیر باطل پرست بریلیان مبتدعین یا نور اهل بدع چه په دین نهٔ پوهیږی داسے معنی کوی۔

نبی کریم ﷺ ژوندے نهٔ وو، نبی کریم ﷺ پیدا هم نهٔ وو لیکن (کُنۡتُ نَبِیًّا) الله

تعالیٰ زما نبوت ولیکه۔ لکه ددے تشریح په روایت د ترمذی (۳۶۰۹) باسناد صحیح کی داسے راغلے ده چه ابو هریره رضی الله عنه فرمائی: صحابه کرامو تپوس وکړو چه اے د الله رسوله: (مَتٰی وَجَبَتْ لَكَ النُّبُوَّةُ ؟ قَالَ : وَآدَمُ بَيْنَ الرُّوْحِ وَالْجَسَدِ)۔

تا دپاره نبوت کله ثابت شویدے؟ نبی علیه السلام وفرمایل: په هغه وخت چه آدم علیه السلام د روح او د جسد ترمینځ وو۔

د دینه معلومیږی چه د آدم علیه السلام په اولاد کی بهترین انسان او د الله سبحانه وتعالیٰ په نزد د قدر والا انسان جناب محمد رسول الله ﷺ وو، الله تعالیٰ داسے ولیکل چه ددے بنده (آدم علیه السلام) په اولادو کی روستنے نبی چه راځی هغه به محمد رسول الله ﷺ وی د هغه تذکره د مخکی نه وشوه ځکه نبی کریم ﷺ ته اولین او آخرین ویلے کیږی، اولین او آخرین معنی دا نده چه مخکی هم موجود وو او روسته هم موجود وو، آخرین دے چه آخره کی راغلے دے، اولین پدے معنی دے چه د ټولو انبیاؤ نه د دهٔ نبوت مخکی لیکلے شوے دے، الله سبحانه وتعالیٰ ددهٔ تذکره د مخکی نه کړیده لکه څنګه چه یو قیمتی انسان وی نو په ملګروکی سرے د هغه تذکره مخکی وکړی نو د محمد رسول الله ﷺ ذکر او د هغه لیکل مخکی شوی دی، یو دا کار مخکی وشو۔

(۲) دویم کار دا اُوشو (دا هم صحیح حدیث کی راغلی دی) چه ابلیس او جنات الله سبحانه وتعالیٰ د مخکی نه پیدا کړی وو، انسان لاپیدا نهٔ وو او پیریان الله تعالیٰ د مخکی نه پیدا کړی وو، په قرآن کریم کی دی:

﴿ وَالْجَآنَّ خَلَقْنٰهُ مِنْ قَبْلُ مِنْ نَّارِ السَّمُوْمِ ﴾ [الحجر:۲۷]

(جنات ما پیدا کړیدی مخکی د انسان نه د اُور نه چه خالص اُور دے)،

نو ابلیس د هغوی مشر دے او دا جنات د هغه اولاد دے، شیطانان ئے کافر اولاد دے، او جناتو کی مسلمانان او کافران دواړه شته، د صحیح قول مطابق دا ټول د ابلیس اولاد دی۔ ابلیس ئے مشر دے ددے وجه نه دا د ملائکونه غیر دی۔

د مخلوقاتو درے قسمونه

درے قسمه مخلوق الله سبحانه وتعالیٰ پیدا کړی دی: (۱) یو ملائك او هغه ئے د

نُور (رنړا) نه پیدا کړی دی، یو خاص نور وو، (۲) او ابلیس او نور جنات الله سبحانه وتعالیٰ د اُور نه پیدا کړی دی۔ (۳) او سیدنا آدم علیه السلام او انسانان ئے د خاورے نه پیدا کړیدی لکه حدیث کی دی: (مِمَّا وُصِفَ لَكُمْ) یعنی د هغه څه نه چه الله تعالیٰ تاسو ته د هغے بیان کړے چه هغه خاوره ده۔ ابتدائی ماده د انسان خاوره ده، د هغے نه پیدا دے بیا روسته نطفه ترے جوړه شوی ده۔

دا ابلیس الله سبحانه وتعالیٰ پیدا کړے وو جنت کی به وسیدو، آسمانونوته به ختو راختو ځکه الله سبحانه وتعالیٰ ورته اجازه ورکړے وه، عامه اجازه وه څه پابندی پرے نهٔ وه ځکه چه مسلمان وو الله تعالیٰ ئے منلو، د الله سبحانه وتعالیٰ عبادت ئے هم کولو، د کفر څه کار ئے نهٔ وو کړے، دے چه کله راغے آدم علیه السلام ئے ولیدو ورتیر شو پرے نو وے ویل چه "دا څنګه مخلوق الله تعالیٰ پیدا کړے دے نو ځان سره ئے دا وویل چه (خَلْقٌ لَايَتَمَالَكُ) دا خو داسے مخلوق دے چه د ځان اختیار نهٔ لری، ټول سورے سورے دے، خُله ئے هم سوریٔ ده پوزه ئے هم سوریٔ ده سترګو کی ئے هم سوری دیٔ، نهه ځای سورے دے، دا یو ډېر مخلوق دے چه مضبوط ندے، نو پدے وجه که زه په دهٔ مسلط شوم نو زه به ئے بنسه ګمراه کړم او خطاء به ئے کړم، د مخکی نه ئے د ګمراهیٔ ارمان ئے وکړو، ددے وجه نه د ګمراهیٔ ارادے هم په زړهٔ کی راوستل ډیر نحوست لری نو په دهٔ باندے امتحان راغے او د الله سبحانه وتعالیٰ په هر کار کی حکمتونه دی،

شیطان الله سبحانه وتعالیٰ ولے پیدا کولو بیا ئے په انسان ولے مسلط کولو؟ د دے دومره عجیب حکمتونه دی که په هغے بنده پوهه شی د الله تعالیٰ سره به ئے مینه پیدا شی چه الله تعالیٰ ځومره حکیم او علیم ذات دے او ځومره کمال والا ذات دے۔ چه د هغے تفصیل اُوس نهٔ کوو۔

نو دا دوه کارونه وشو، آدم علیه السلام الله سبحانه وتعالیٰ د خاورونه پیدا کړو نو بیا روسته زمانه کی ئے په هغه کی روح واچولو۔

روح یو داسے شے دے چه الله سبحانه وتعالیٰ پیدا کړیدے، یو مخلوق دنے چه عامو بندګانو له الله تعالیٰ د هغه په باره کی علم ندے ورکړے، دَ دوی کمپوترے کمزورے دی هغے ته نهٔ ورسیږی، دا الله سبحانه وتعالیٰ د خپل معرفت او وجود دپاره یو مثال جوړ کړے دے۔

مونږ سره د روح دومره علم دے چه روح یوشے دے چه د انسان په بدن کې دننه وي نو هغه ژوندے وي او چه کله روح د انسان د بدن نه اُوځي نو انسان مړ کیږي، چه کله روح دننه وي بنده خوراك څكاك كوي، گرځي راگرځي، حركات سكنات كوي، په خبره پوهیږي، او چه روح ترے ووتلو نو پدے یو شي باندے هم نۀ پوهیږي، نۀ خبرے كوي، نۀ څه ويني، نۀ څه آوري، د هيڅ نه بيا خبر نۀ وي، دغه د روح علم دے، د دينه غير هيچا ته د روح علم نيشته چه رنگ ئے څنگه دے؟، تور دے كه سپين، زيړ دے كه شين، دا پته نۀ لگي او دا روح يو طاقتور، نظيف او پاك شے دے، دا چه په بدن كې موجود وو نو بدن به خوشبويه وي او چه دا د بدن نه ووتلو سمدستي به بدن بدبويه كيږي لږ ساعت كې سهارنه مازيگر پورے بد بوئي شروع كوي او چه ورځ دوه وربانـدے تيرې شي نو بيا پكې د چينجو د پيدا كيدو خطره وي، نو روح داسے يو پاك شے دے ځكه چه د الله تعالىٰ د طرفه دے۔

فائده : بيا په انسان كې دوه شيان دي يو روح او بل جسد دے۔

جسد الله تعالىٰ د خاورے نه پيدا كړيدے ددے وجے نه دا بدن د خاورو سره تعلق لري، خاورو باندے مړيږي، دے دپاره به د خاورونه رزق پيدا كوي، دے زمكه كې گرځي را گرځي، ددے زمكے نه چه كوم څيزونه پيدا شوي دي هغے باندے به آباد وي كه يو سړے ووائي زۀ خوراك څكاك نۀ كوم، كار كسب نۀ كوم، تجارت نۀ كوم همداسے به زۀ ژوندے اُوسيږم نو دا به غلط وائي ځكه چه الله سبحانه وتعالىٰ په تا باندے دا مقرر كړي ده چه دا بدن به دے آباد وي د دنيا په څيزونو باندے، د دے دپاره الله سبحانه وتعالىٰ د دنيا غِذاگانے پيدا كړي دي،

او روح د الله سبحانه وتعالىٰ د طرفنه راغلے دے د بره نه، د عالَم الغيب نه راغلے دے، د دے وجے نه دا روح هيڅ كله د دنيا په څيزونو نۀ خوشحاليږي كه ته هرڅومره ډوډۍ وخورے، روح ته ترقي نۀ ملاويږي بلكه مړ كيږي كه بدن شهوتونه ډير واخلي د يوے ښځے په ځاى څلور وكړي او بيا زناگانو پسے وگرځي روح به همداسے مړ كيږي صرف د خپلے بي بي نه په فائدو اخستو سره الله تعالىٰ روح نۀ مړ كوي، خو ليكن آباديږي پرے هم نۀ او په حرامو سره روح مړ كيږي او ژوندے كيږي به نۀ، كه بادشاهي ته ورسيږي هم روح به نۀ ژوندے كيږي، هغه باندے به همداسے زوال راځي، روح چه

ژوندے کیږي او پدے باندے خوشحالي راځي نو دا بره د الله سبحانه وتعالىٰ په تعلق باندے راځي، د رب العلمين او د هغه د ذکر سره چه کله تعلق پیدا شو نو دا روح به ژوندے وي او بدن به ژوندے وي او نور خلك به مړه وي، که د الله تعالىٰ سره دغه تعلق نۀ وو نو که هر څو مره کوشش وکړي وزيراعظم شي، بادشاه هم شي او ټوله دنيا د هغه شي والله که خوشحالي مونده کړي، خوشحالي الله سبحانه وتعالىٰ پدے څيزونو کې نده اچولے، نو دغه کې کمال نيشته دے، د دنيا په څيزونو کې کمال نشته دے نو په روح کې کمال نۀ پيداکوي۔

مقصد دا چه سيدنا آدم عليه السلام کې الله تعالىٰ روح واچولو ژوندے انسان شو پرنجے ئے وکړو الحمد لله ئے وويله، الله تعالىٰ ورته په جواب کې يَرۡحَمُكَ الله ووئيله۔

(صحيح ابن حبان: ٦١٦٥)

په يو بل حديث کې راځي چه کله آدم عليه السلام پيدا شو او دغه سوال وجواب وشو نو الله تعالىٰ ورته وفرمايل: دغه جماعت د ملائکو ته ورشه (چه هغوی په يو ځای کې ناست وو) او په هغوی باندے سلام واچوه نو دے ورغلو او هغوی ته ئے وويل: السلام عليکم نو ملائکو جواب ورکړو : وعليکم السلام ورحمة الله۔

بيا بيرته الله تعالىٰ ته دا خبره راوړه نو الله تعالىٰ ورته وفرمايل: دا ستا او ستا د بچو خپل مينځ کې سلام شو۔ (صحيح ابن حبان باسناد قوی : ٦١٦٧)

په احاديثو کې راځي چه ژوندے انسان شو بيا جنت کې يواځے اُوسيده نو الله تعالىٰ ورله زوجه (بی بی) پيدا کړه او دے يو ځای کې اُوده وو چه پوښتئ نه ورله الله سبحانه وتعالىٰ بی بی پيدا کړه چه دا کله راپاڅيدۀ وے کتل يوه زنانه ده ددۀ خوا کې ناسته ده، نو سيدنا آدم عليه السلام ورته وويل : ته څوك يې؟ هغے اُوويل:

زه خو الله تعالىٰ تاله پيدا کړے يم [لِتَسۡكُنَ إِلَيَّ] چه ستا ماسره سکون او آرام پيدا شي، ددے وجے نه سړی ته پوره اطمينان نۀ ملاويږي ترڅو چه ښځه ئے کورکې نۀ وي او داسے ښکاري لکه مسافر، اګر که خپل کور ته به ننوزي، او چه ښځه وي نو بنده مطمئن وي نو دے سره سکون ملاويږي۔

فائده : بيا علماء دا فائده ليکي چه سړے د خاورے نه پيدا دے ددۀ تعلق اکثر د زمکو او د کارونو سره وي، او ښځه د سړي نه پيدا ده، د ښځے په زړۀ کې عظمت صرف

د خپل خاوند وی، د پتھی یا د دکان سره ئے دومره غم نۀ وی، صرف د خپل خاوند غم ورسره وی چه دا ژوندے وی، هغه ورته لوی شے ښکاره کیږی، دا ځکه چه ښځه الله تعالیٰ د خاوند نه پیدا کړے ده۔

سیدنا آدم علیه السلام او د هغه بی بی به یو بل سره ملاویدل پدے کی به الله تعالیٰ هغوی ته بچی ورکول نو انسانان د هغه وخت نه پیدا شو۔

سیدنا آدم علیه السلام د عراق د خاورے نه الله تعالیٰ پیدا کړے دے، کله ئے چه زمکے ته راکوز کړیدے نو په عراق کی ئے راکوز کړے دے او ددۀ بچی ئے د هغه خاورے مطابق پیدا کړل هغه داسے چه د سرے خاورے نه سره سره بچی پیدا شو، د سپینے خاورے نه سپین سپین بچی پیدا شو، بعضے غنم رنګی بعضے تك تور، نو انسانانو له چه الله سبحانه وتعالیٰ دا رنګونه ورکړیدی نو د دے اصل ماده هغه خاوره وه، خاوره کی فرق وو ددے وجے نه په دوی کی هم فرق راغے۔

سیدنا آدم علیه السلام اُوسیده نو الله سبحانه وتعالیٰ بچی ورکول تول مؤحدین مؤمنان وو، رسول الله ﷺ فرمائی: لسو پیړو پورے تول ایمان والا وو، دا تولے پیړئ ایمان والا وے په دوی کی شرك او کفر نۀ وو، د الله او د هغه د رسولانو سره دشمنی پکی نۀ وه، پاکه فضا وه، (لس پیړئ لس قَرنو ته وائی او یو قَرن د یوے زمانی خلکو ته وائی یا دوه سوه کالو ته وائی یا زیاتو کالو ته وائی بنا بر اختلاف)۔

د سیدنا نوح علیه السلام او سیدنا آدم علیه السلام په مابین کی زر کاله وخت تیرشوے دے دا تاریخی خبره ده او حدیث کی داسے دی چه لس پیړئ تیری شوی دی نو لس پیړو کی احتمال دا دے چه ډیر وخت تیر شوے وی ځکه د هغے زمانے د خلکو عمرونه ډیراوږده وو، د سیدنا آدم علیه السلام زر کاله عمر وو، چه هغه الله تعالیٰ پیدا کړو نو زر کاله عمر ئے ورله ورکړو چه د هغه زر کاله عمر وی او د نوح علیه السلام نه مخکی وفات شوے دے نو معلوم شوه چه د دوی ترمینځ ډیر وخت تیر شوے دے)

حاصل دا چه لسو پیړو پورے تول مؤمنان او مؤحدین وو، سوا د یو قابیل نه چه هغه ورانکارے وو هغه پکی د الله تعالیٰ نافرمانی کړے وه۔

هغه دا وه چه دۀ ته وویل شو چه تۀ د نکاح پدے مسئله کی د سیدنا آدم علیه السلام تابعداری وکړه، مشهوره قصه ده هغه تابعداری نکوله نو بیا دواړو (قابیل او

هابیل) قربانی پیش کړه، پدې کی د هابیل قربانی الله تعالیٰ قبوله کړه او د قابیل ئې قبوله نکړه ځکه دۀ کی اخلاص نۀ وو او اخلاص ئې خراب وو، هغه راولګیدو د خپل ورور سره ئې حسد پیدا شو نو دشمنی ئې شروع کړه چه ستا قربانی څنګه قبلیږی او زما نه ؟! تا ته زیات عزت ملاویږی او ما ته نۀ؟، د هغه زمانے د قربانۍ د قبلیدو علامه دا وه چه د آسمان د طرفنه به اُور راغے او دغه شے به ئې خوړو، د چا قربانی چه به اُور اُوخوړله د هغه قربانی به قبوله شوه او چه دچا به ئې ونۀ خوړله د هغه به قبوله نشوه، او دا طریقه تر د بنی اسرائیلو زمانے پورے وه، د بنی اسرائیلو زمانه کی همدا طریقه وه چه اُور به راتلو او قبوله شوے صدقه به ئې خوړله دارنګه غنیمتونه به ئې هم خوړل، کما فی حدیث البخاری۔

د سیدنا یوشع علیه السلام په قصه کی راځی چه غنیمت ورله اُور وخوړو، بیا دے امت ته الله سبحانه وتعالیٰ غنیمت حلال کړو او په اُور باندے ئې نۀ خوری ځکه چه دوی کمزوری دی بیا خرابیږی، او د الله تعالیٰ ددے امت سره یو خصوصی احسان دے چه غنیمتونه ئې ورله همداسے حلال کړل۔

نو صرف قابیل د آدم علیه السلام نافرمانی کړے وه او بل ئې قتل کړے وو چه خپل ورور ئې وژلے وو، لکه دا واقعه قرآن کریم کی راغلے ده چه بیا ورله د ورور د خخولو طریقه هم نۀ ورتلله نو یو کارغه راغے هغه ورته چل وروښوده، نو خپل ورور ئې دفن کړو، الی آخر القصه، نبی کریم ﷺ دے باره کی فرمایلی دی:

[لَا تُقْتَلُ نَفْسٌ ظُلْمًا اِلَّا كَانَ عَلَى ابْنِ آدَمَ الْاَوَّلِ كِفْلٌ مِنْ دَمِهَا لِاَنَّهٗ اَوَّلُ مَنْ سَنَّ الْقَتْلَ]

(احمد، بخاری: ۳۳۳۵ و مسلم: ٤٤۷۳)

(هر انسان چه دنیا کی په ظلم وژلے کیږی (چه څه حق پرے نۀ وی) مګر د آدم علیه السلام په اولنی ځوی (قابیل) باندے به د هغے بوج وی، ځکه چه دا اولنے هغه شخص دے چه د قتل بنیاد ئې ایښے دے)۔ددۀ مخکی چا قتل نۀ پیژندلو۔

(څوک چه د ګناه بنیاد کیدی، مثلًا یوه علاقه کی یو امی یا مُلا یا باچا یا وزیر د ګناه بنیاد کیښودو او نورو خلکو په هغے باندے عمل کولو او د الله تعالیٰ پدغه نافرمانۍ روان وو نو د دے تولو سزاګانے به راځلی ددے سړی په سر به ئې وراچوی او هغوی ته به هم خپله سزا ورکوی، ددے وجے نه دګناه او د الله تعالیٰ د نافرمانۍ بنیاد مۀ جوړوۍ،

ابتدا مهٔ کوئ، په ځای ددے چه د الله تعالیٰ د نافرمانئ بنیاد جوړ شے چُپ کیناستل غوره دی)۔

د نوح علیه السلام زمانے نه د شرک بنیاد شروع کیدل

نو دا لس پیړئ ډیرے پاکے پیړئ وے، پدے کی د سیدنا نوح علیه السلام زمانه چه رانیزدے شوه نو شرك شروع شو هغه په دے طریقه چه د سیدنا آدم علیه السلام پنځه بچی وو چه د هغه د شا نه پیدا شوی وو، یا دا چه د اولادو اولادئے وو، دغه ډیر نیکان خلق وو په قرآن کریم کی د هغوی نومونه هم راغلی، سورت نوح کی الله تعالیٰ د نوح علیه السلام د قوم خبره نقل کوی فرمائی :

﴿ وَقَالُوا لَاتَذَرُنَّ اٰلِهَتَكُمْ وَلَاتَذَرُنَّ وَدًّا وَّلَا سُوَاعًا وَّلَا يَغُوْثَ وَيَعُوْقَ وَنَسْرًا ﴾

(سورة نوح:۲۳)

وَدُ په دوی کی نیك او عابد سړے وو، او مشر وو د دے خلکو ورسره ډیره مینه وه، کله چه وفات شو خلك ورپسے ډیرخفه وو چه زمونږ مشر وو، ډیر نیك او صالح انسان وو په دیکی دوی ته ابلیس د انسان په شکل راغے دوی ته ئے دعوت ورکړو چه وَدُ خو وفات شو زهٔ درته یوه بنه خبره کوم هغه دا چه تاسو ددے مشرانو تصویرونه جوړ کړئ او دا په خپل مجلسونو کی کیدئ (کوم کی چه به دوی کیناستل) چه تاسو ورته گورئ دوی به درته بیرته رایادیږی نو د الله تعالیٰ د عبادت او بندگئ سره به مو مینه پیدا کیږی۔

نو هغوی ورته وویل چه یو تصویر کافی ندے ډیر تصویرونه به جوړ کړو چه هر سړے ئے په خپل کور کی ولگوی چه هر وخت ورته یادیږی او د الله تعالیٰ بندگی کوی۔

(شیطان انسان ته د بل طرف نه راتاویږی سړی ته داسی نهٔ وائی چه دا گناه وکړه بلکه د نیکئ په جامه کی سړی ته راتاویږی چه دا کار وکړه پدے کی خیر او فائده ده نو پدے طریقه سره ئے د الله تعالیٰ په نافرمانئ کی واچوئ۔

تهی وی چه خلك اخلی شیطان ورته داسے نهٔ وائی چه پدے به موسیقی، گانے بجانے آورے او زنانه او بی حیائی به پکی گورے بلکه دا ورته وائی چه پدے کی عالِمان راځی پدے کی اذان کیږی پدے کی حج کتل کیږی پدے طریقه باندے دغه آلات راوړی بیا بے گناهونه کوی، سی ډی گانے راوړی چه دا بنه پروگرامونه به پکی گوری بیا

ورځ پکې بې حیائې شروع شي د شیطان خو دا طریقه ده چه اول د نوك په اندازه سورے پیدا کړي بیا پکې سوك خپله ورځاي کوي۔

نودوی ته ئے دا خبره وکړه چه دا تصویرونه جوړ کړئ هغه نور کسان مړه شو نو د هغوی تصویرونه ئے هم جوړ کړل۔

او ابن کثیر رحمه الله په قصص الانبیاء (۸۵/۱) کې د ابن ابي حاتمؒ په حواله د ابوجعفر الباقرؒ یو روایت راوړیدے چه وَد په خپل قوم کې ډیر محبوب وو کله چه مړ شو خلکو به په (عراق) بابل ښار کې د هغه د قبر په خوا کې ناست وو او جزع فزع به ئے کوله نو هرکله چه ابلیس د دوی دا حالت ولیدو نو دوی ته د انسان په شکل کې راغلو وورته ئے وویل چه ما ددے سړي پسے ستاسو جزع فزع ولیدله نو آیا تاسو دا مینه لرئ چه زهٔ تاسو له ددهٔ په شان یو تصویر جوړ کړم چه هغه به ستاسو په مجلسونو کې تاسو سره وي او هغه به درته یادیږي؟ نو دوی وویل: آؤ، نو شیطان دوی له د هغه تصویر جوړ کړو، نودوی به په خپلو مجلسونو کې هغه ایښودے وو او هغه به ئے رایادولو، هرکله چه ابلیس د دوی دا حالت ولیدلو نو دوی ته ئے وویل چه زهٔ تاسو هر یو له ددهٔ تصویر جوړ نکړم چه هر یو ئے په کور کې کیدئ؟ نو هغوی دا خبره هم ومنله نو د هر چا د کور دپاره ئے یو یو بت جوړ کړو نو دوی به په هغے سره خپل دا مشر یادولو، کشرانو به دا حالت لیدلو نوروسته زمانه کې شیطان بیا راغے کشرانو ته ئے وویل چه ستاسو مشرانو خو به ددے عبادت او بندګي کوله، د دوی عبادت چه مو وکړو نو د دوی روحانیت به د الله تعالی په دربار کې تا سوله سفارش کوي، او د دوی په سبب به بارانونه کیږي، دا قِسم قِسم دوهوکے ورله ورکړے نو خلکو ورله عبادت شروع کړو۔

او ود په عالَم کې اولنے بت دے چه د الله تعالیٰ نه سویٔ ئے عبادت شروع شویدے۔ دا په اول کې د تصویر په شکل وو بیا د بتانو او مجسمو شکلونو ته رابدل شو دے دپاره چه دا خلك په شرك کې ښه ونښلي او همدغه شان وشوه۔ انا لله وانا الیه راجعون۔

سیدنا عبد الله بن عباس رضی الله عنهما فرمائیلي دي: دا پنځه کسان د نوح علیه السلام د قوم نه نیکان بندګان او صالحین خلك وو، اول د دوی د قبرونو تعظیم شروع شو، د قبر د تعظیم نه پس د هغوی تصویرونه جوړ شو او د بتانو عبادت د هغه وخت نه په دنیا کې شروع شو، (صحیح البخاري وغیره)۔

بت پرستی په عالَم کی انتهائی ډیره ده، د هغې زمانې نه راواخله تر اُوسه پورې او د قیامته پورې به دا بت پرستی وی، انسان څو مره اشرف المخلوقات او عزتمند مخلوق وو چه د الله تعالیٰ په لاس باندې جوړ شوې مخلوق وو، الله ورله څومره عزت ورکړې وو او دا راولګیدو د کاڼړو او بوټو او د حیواناتو او د ډیر ادنیٰ مخلوق عبادت ئې شروع کړو او هغه خپل اصلی خالق ئې پریښودو چه کوم ذات پرې مهربانه دے، کوم ذات چه ورله رزقونه ورکوی، کوم ذات ئې چه تربیت کوی هغه پاتې شو او په هغه چا پسې روان شو چه هغه هیڅ شے ندے، هیڅ ضرر او فائده نشی ورکولے۔

بت پرستیٔ د هغه زمانې نه شروع شوه الله تعالیٰ په شرک باندې ډیر زیات ناراضه کیږی، په هیڅ یوه ګناه باندې دومره نهٔ ناراضه کیږی لکه په شرک چه څومره ناراضه کیږی، الله تعالیٰ سره چه څوك برخه داران جوړوی دغه شان په بت پرستیٔ، په قبر پرستیٔ، په مخلوق باندې توکل، د مخلوق نه خوف (یره کولو) او د هغوی نه په امید ساتلو باندې الله تعالیٰ ډیر په غضب کیږی او دا خبری د الله تعالیٰ ډیری بدی شی نو پدې وخت کې نوح علیه السلام الله تعالیٰ منتخب کړو چه دے خلکوته به ورځی او دوی به د شرك نه منع کوی۔

د شرک بنیاد دوه څیزونه دی

پدې وجه علماؤ ویلی دی چه د شرك بنیاد دوه څیزونه دی :

(۱) - یو تعظیم د قبرونو : چه د قبرونو بی حده تعظیم شروع شی، غلافونه پرې خلك اچوی، غټ غټ قبرونه جوړیږی، ګنبدې پرې ودریږی، مسجدونه ئې په خوا کی جوړیږی دا ټولے د شرك لاری دی۔

هغه مسجد کی چه قبروی اسلام مونږ ځکه منع کړے دے چه دا د شرك لاره ده، دا مهٔ کوه اګرکه تهٔ د غیرالله عبادت نکوے، د نمر ختلو په وخت کی د عبادت نه منع راغلے ده ځکه چه د آتش پرستو سره مشابهت رانشی چه هغوی د نمر عبادت کوی اګرکه مونږ قبلے طرفته ولاړ یو او نمر خاته ته مو شاه راځی خو بیا هم د عبادت (نوافلو) نه پدغه وخت کی منع راغلے ده۔

(۲) د شرك دویم بنیاد : تصویرونه دی، بت پرستی زمونږ په زمانه کی انتهائی ډیره ده، خلکو د خپلو مشرانو تصویران (بتان) په بیټهکونو کی لګولی دی د تعظیم، ادب،

احترام او محبت د وجے نه، پدے سره بنده رفته رفته مشرك جوړیږی او دا د شرك لاره ده، تنبيه ئے دا ده چه كه څوك د دغه تصوير لږ شان بی ادبی وكړی د هغه په مخامخ دغه تصوير راوشكوی يا ختيه ورګوزار كړی يا لاړی پرے ورتوكړی نو دځان خوند به وويني چه څومره جګړه پرے كوی، دا جنګ ورسره ولے كوی؟ وجه دا ده چه ددۀ په زړۀ كی د بت تعظيم او عظمت دے نوشرك څه ښكری نۀ لری، (زه دا تعبير ډير كوم چه شرك څه ښكری نۀ لری چه غټی غټی ښكری وی لګئ وی، لوی سنډا به وی، حيوان به وی او په سری به رادانګی بيا به مشرك كيږی، شرك ديته وائی چه د الله تعالیٰ نه تعلق كټ شی او مخلوق سره پيدا شی، د خالق تعلق پريښودل او د مخلوق سره يو ځای كيدل او د هغوی دومره تعظيم كول او دومره يره ترے كول چه ظاهری هيڅ اسباب نۀ وی او د الله حقوق مخلوق ته وركولو ته شرك وائی)۔

الله تعالیٰ ته شرك ډير بد ښكاره شو نو نوح علیہ السلام ئے راوليږه، نبی كريم ﷺ په حديث د شفاعت كی فرمائی: (اَوَّلُ رَسُوْلٍ اِلٰى اَهْلِ الْاَرْضِ)

زمكے والو ته ړومبنے رسول همدا دے، ددے مطلب دا ندے چه مخكی ددۀ نه رسولان نۀ وو راغلی، بلكه د دے مطلب دا دے چه مخكی انبياء وو، سيدنا آدم علیہ السلام نبی مكلم دے، (داسے نبی دے چه الله تعالیٰ ورسره براهِ راست خبرے كړيدی)، څوك وائی چه ادريس علیہ السلام د نوح علیہ السلام نه مخكی تير شويدے لكه دا تاريخی قصو كی راځی، نوح علیہ السلام ته رسول پدے وجه وئيلے كيږی چه هغه د شرك رد كړے دے، د شرك مقابله ئے كړے ده، او مخكنو پيغمبرانو د شرك رد ندے كړے هغوی به عبادات او فضائل بيانول، سيدنا نوح علیہ السلام الله تعالیٰ مبعوث كړو د زمكے خلكو ته ئے راوليږه دا هم په عراق كی مبعوث شوے دے، نهه نيم سوه (۹۵۰) كاله دعوت ئے خپل قوم ته وكړو، سيدنا نوح علیہ السلام هغه پيغمبر دے چه د سيدنا محمد رسول الله ﷺ سره ئے په دوو خبرو كی مشابهت دے:

۱- يو دا چه سيدنا نوح علیہ السلام په دعوت كی وخت ډير تير كړے وو، او نبی كريم ﷺ په دعوت كی سختيه ډيره تيره كړے ده، دا وجه ده چه الله تعالیٰ د نبی كريم ﷺ وحی د سيدنا نوح عليه السلام د وحی سره مشابه كړے ده، الله تعالیٰ فرمائی:

﴿ اِنَّا اَوْحَيْنَا اِلَيْكَ كَمَا اَوْحَيْنَا اِلٰى نُوْحٍ ﴾ (النساء:۱۶۳)

۲- دویمه وجه د مشابهت دا ده چه سیدنا نوح علیه السلام د بت پرستو په دشمنئ کی راغلے وو او نبی کریم ﷺ هم د بت پرستو په دشمنئ کی راغلے وو، د هغوی په مقابله کی ولاړ وو،

سیدنا نوح علیه السلام دعوت کولو، خلك به ئے د شرك نه منع کول هیچا پرے ایمان رانهٔ وړو سِوا د یو څو کسانو نه ﴿ وَمَا اٰمَنَ مَعَهٗٓ اِلَّا قَلِيْلٌ ﴾ (هود: ٤٠)

(ایمان رانهٔ وړو ددهٔ سره مګر لږو کسانو)، اته کسان وو، دریے ئے خامن وو دریے انګیندے (انګوریانے) وے، او دوه ئے مور پلار وو بس دغه کسانو ایمان ورسره راوړے وو پدے وجه ئے مور پلار ته دعا هم کړیده (کما فی آخر سورة نوح)

تاریخی خبری دی که پدے کی کمے زیاتے راشی څه ګناه پکی نشته، بعضے علماء وائی چه اویا کسانو پرے ایمان راوړے وو، په نهه نیم سوه کاله کی چه صرف اویا کسان تیار شی دا د یو قوم څومره لویه بدبختی ده، بیا زمونږ پشان یو سړے نهٔ بلکه یو غوره پیغمبر ولاړ وی او خلکو ته ډیر په واضحه ژبه او د فصاحت او بلاغت نه ډك بیان کوی دا به څومره اثر کوی۔ د الله تعالیٰ یو پیغمبر وی، حق پرست پیغمبر چه هره خبره ئے په وحی باندے ده، فصاحت ئے انتهائی ډیر، شفقت ئے انتهائی ډیر، اخلاص پکی بیخی ډیر، هیڅ قسم ریاکاری پکی نشته او نه ئے یوه خبره غلطه ده، او د الله رب العزت براهِ راست خبرے خلکو ته ددهٔ په خُله باندے کیږی بیا هم دا قوم ایمان نهٔ راوړی او نهٔ سمیږی معلومیږی چه دا قوم ډیر بدبخته وو،

ځکه الله تعالیٰ دوی ته (قَوْمَ سَوْءٍ) (ډیر ناکاره قوم) وئیلے دے۔ ناولے قوم وو، رب العالمین چه د چا نه تعبیر کوی چه دا ناکاره خلك وو نو دا په رشتیا ناکاره وو، ایمان ئے نهٔ راوړو، ضرریان خلك وو، په دوی کی به څوك پیدا کیدل او څوك به مړ کیدل او سیدنا نوح علیه السلام ژوندے وو، دومره ډیر عمر الله تعالیٰ ورته ورکړے وو لیکن د دغه کسانو نه علاوه هیچا ایمان رانهٔ وړو۔

الله تعالیٰ ورته وحی وکړه چه ستا د قوم نه نور خلك ایمان نهٔ راوړی بس دغه کسان وو چه د ایمان صلاحیت پکی وو او باقی کسان ایمان نهٔ راوړی نو زهٔ چه په دوی باندے کوم عذاب نازلوم په هغے به خفګان نهٔ کوے،

نو نوح علیه السلام د الله تعالیٰ په حکم او اجازت سره خپل قوم ښیرې وکړے چه اے الله

تعالیٰ دا قوم هلاك کړه۔ ﴿ رَبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ دَيَّارًا ﴾ (نوح:۲٦)
اے ربه ! ددے کافرانو نه هیڅ یو کس هم پرینږدے)،
الله تعالی د سیدنا نوح علیه السلام دا دعا قبوله کړه۔
الله تعالیٰ ورته حکم وکړو چه کشتئ جوړول شروع کړه، دۀ په یو ځای کی کشتئ شروع کړه نو د قوم خلك به پرے ورتیریدل او توقے او مسخرے به ئے ورپورے کولے چه نوح (عليه السلام) تراوُسه نبی وو اوس ترے نجار (ترکان) جوړ شو، او بل به ئے پدے تعجب کولو چه کشتئ خلك د دریاب په غاړه جوړوی او دا ئے په وچه جوړوی، کشتئ چرته په وچه چلیږی؟! (العیاذ بالله) دا خو لیونے دے، دا ئے د دماغو د خرابیدو نښه ده، او دا خبره به موږ د مخکی نه کوله چه دا سړے لیونے دے نو دا خو رشتینی شوه۔
نو پدے کی الله سبحانه وتعالیٰ نوح علیه السلام ته خبر ورکړو چه کله د تنور نه اُوبه راخوټ کیدل شروع شی نو په کشتئ کی خپل اهل سوارۀ کړه نو کله چه عذاب شروع شو د تنور نه اول اُوبه راووتلے، د آسمان نه راروانے شوے، د زمکے نه غټی غټی چینی راروانی شوی لکه د غرونو په مقدار برابرے شوی او دا قوم ئے ټول تباه کړو۔
دوی په غرونو کی هم اُوسیدل ځکه الله سبحانه وتعالیٰ دا اُوبه دومره ډیرے کړے چه د غرونو په سرونو واوړی او دا قوم ټول تباه شی ځکه دوی په هواره او غرونو دواړو کی اُوسیدل، ټول الله سبحانه وتعالیٰ هلاك کړل،
یو سیدنا نوح عليه السلام او د هغه بچی او د هغه سره چه کوم مؤمنان وو هغه الله سبحانه وتعالیٰ بچ کړل درے بچی ورسره وو، حام، سام، یافث، دا درے ځامن او درے ننګیاندے (یعنی د دے ځامنو بیبیانی) ورسره الله سبحانه وتعالیٰ پاتی کړل او یو ځوی د سیدنا نوح عليه السلام هلاك شو چه کنعان نوم ئے وو، د لسم د رجب نه دا کشتئ اُوچته شوے وه،او د محرم په میاشت کی په لسم تاریخ یعنی د عاشورے په ورځ الله سبحانه وتعالیٰ په جودی غر باندے دا کشتئ ودروله او اُوبه ئے ختمے کړے، او نوح عليه السلام زمکے ته راکوز شو ځکه د سیدنا نوح عليه السلام د بچاؤ ورځ همدا عاشوره ده،
جُودی غر په عراق موصل علاقه کی دے د دجله مشرقی جانب دے۔
سیدنا موسیٰ عليه السلام ته چه نجات ملاو شوے وو د همدے عاشورے په ورځ، نورو انبیاء کرامو علیهم السلام ته هم نجات د عاشورے په ورځ ملاو شوے وو، سیدنا حسین

رضي الله عنه هم د عاشورے په ورځ شهيد شوے دے، نورو ډيرو مؤمنانوته الله سبحانه وتعالىٰ پدے ورځ شهادتونه ورکوی او ورکړی ئے دی، پدے مياشت کی سيدنا نوح عليه السلام د کشتئ نه راکوز شو دا درے بچی ورسره وو لکه دا په يو حديث کښ راغلی دی،

د قرآن مجيد نه هم داسے معلوميږی چه هغه نورمؤمنان الله سبحانه وتعالىٰ مړهٔ کړل د هغوی نسل پاتی نهٔ شوصرف د سيدنا نوح عليه السلام نسل پاتے شو۔

﴿ وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهُ هُمُ الْبَاقِينَ ﴾ (الصافات:۷۷)

او مونږ وګرځول اولاد ددهٔ باقی پاتے په دنيا کی۔

دا قانون دے چه څوك د الله سبحانه وتعالىٰ دپاره غيرت کوی نو الله سبحانه تعالىٰ ورله په نسل کی خيرراولی، الله سبحانه وتعالىٰ د نوح عليه السلام اولاد په دنيا کی باقی پريښودل ددے وجے نه سيدنا نوح عليه السلام ته ابو البشر ثانی وائی، يو سيدنا آدم عليه السلام دے هغه اول ابو البشر دے، دويم سيدنا نوح عليه السلام دے، ددے وجے نه زمونږ تاريخ د سيدنا نوح عليه السلام نه په غير صحيح نشی کيدلای، زمونږ تول تاريخ سيدنا نوح عليه السلام ته رسی، زمونږ په سلسلهٔ نسب کی سيدنا نوح عليه السلام راځی، د سيدنا محمد ﷺ په نسب کی هم سيدنا نوح عليه السلام راځی لکه چه روسته به ذکر شی ان شاء الله،

د الله سبحانه وتعالىٰ قانون دے، يو اثر کی راغلی دی الله سبحانه وتعالىٰ فرمائی:

[إِنِّيْ إِذَا رَضِيتُ بَارَكْتُ وَإِنَّ بَرَكَتِيْ لَتَبْلُغُ السَّابِعَ مِنَ الْوُلْدِ]

زهٔ چه کله د يو بنده نه راضی شم برکت ورکوم او زما برکت اُومے پيړئ پورے رسيږی، (ستا نه چه الله سبحانه وتعالىٰ رضا شو نو اُومے پيړئ پورے به ستا بچو ته خير ورکوی)

(وَإِنِّيْ إِذَا عُصِيتُ غَضِبْتُ وَإِذَا غَضِبْتُ لَعَنْتُ وَتَبْلُغُ لَعْنَتِيَ السَّابِعَ مِنَ الْوُلْدِ)

او زما نافرمانی چه وشی نو غصه شم اوچه کله غصه شم لعنت وليږم او زما لعنت اُومے پيړئ پورے رسيږی، ددغه سړی په نسل کی بيا خير نه راولم،

(رواه احمد فی الزهد ۱/۲۵) عن وهب بن منبه بالفاظ متقاربة والمصنف لابن ابی شيبة وعبد بن حُمَيد، وابو الشيخ وابو نُعيم وَقَدْ نَسَبَهُ فِيْ بَعْضِ الرِّوَايَاتِ إِلَى التَّوْرَاةِ فَهُوَ أَثَرٌ إِسْرَائِيْلِيٌّ وَذُكِرَ فِيْ بَعْضِهَا أَنَّهُ مِمَّا أُوْحِيَ إِلَى عُزَيْرٍ عليه السلام وَلَيْسَ بِحَدِيْثٍ قُدْسِيٍّ وَمَعْنَاهُ صَحِيْحٌ (شرح العقيدة الواسطية للشيخ صالح بن عبد العزيز آل الشيخ)

د الله سبحانه و تعالیٰ غضب دومره تیز دے چه د اُومے پیړیٔ پورے رسی، د دے وجے نه چه پلار نیکه ښه خلك تیر شوی وی الله سبحانه و تعالیٰ ورله په نمسو او کړوسو کی ښه خلك راولی، علماء او صالحین خلك پکی راشی، دا تجربه ده۔

علماؤ لیکلی دی کوم عوام خلك چه د علماؤ سره ډیره مینه لری او خدمت ئے کوی، عزت ئے کوی او د علم عزت کوی، الله سبحانه و تعالیٰ د هغوی په نسل کی علماء راولی، او کوم خلك چه د علماؤ بی عزتی او بی ادبی کوی نو د بی ادبه خلکو په نسل کی الله سبحانه وتعالیٰ علماء نهٔ راولی۔ خلك وائی د علماؤ بچی اکثر نهٔ علماء کیږی، وجه ئے دا ده چه بعض علماء د یوبل سره حسد لری د یو بل بی عزتی کوی، سپکاوے کوی نو الله سبحانه و تعالیٰ دهٔ لره دا سزا ورکوی چه په بچو کی ورله علماء نهٔ پیدا کوی، بعضِ عوام خلك د علماؤ سره ډیره مینه لری نو الله سبحانه وتعالیٰ د دوی په نسل کی علماء راولی دا طریقه ده،

نو الله سبحانه وتعالیٰ سیدنا نوح علیه السلام ته دا فضیلت ورکړو چه بچی ئے په دنیا کی پاتی شو او نسل ئے ختم نهٔ شو۔

ددے درے بچو تفصیل حدیثونو کی داسے راغلے دے :

[سَام اَبُو الْعَرَبِ وَفَارِسَ وَالرُّوْمِ وَالْخَیْرُ فِیْهِمْ]

سام د عربو، فارس والو او د رومیانو پلار دے، دده بچی پدغه طرف تللی دی۔ او د سام اولاد چه عرب دی پدے کی ډیر خیر دے عقلمندی، هوښیارتیا او اُوچت صفات پکی دی دا وجه ده چه نبی کریم ﷺ الله سبحانه و تعالیٰ په دوی کی راولیږه۔

[وَیَافِثُ اَبُو التُّرْكِ وَیَاْجُوْجَ مَاْجُوْجَ وَالصَّقَالِبَةِ] :

د ترکیانو او یاجوج ماجوج او د صقالبه قوم پلار دے، یاجوج ماجوج هم انسانان دی د سیدنا نوح علیه السلام اولاد دے الله سبحانه و تعالیٰ پیدا کړیدی او دنیا کی اُوس هم شته چه هغوی به قیامت ته نزدے راښکاره کیږی، الله سبحانه وتعالیٰ د زمکے په بعضو ځایونو کی پټ کړی دی، خلکو ته نهٔ ښکاره کیږی ځکه چه دا زمکه کروی شکل لری په یو ځای کی پټ دی، دا به روستو زمانه کی راښکاره کیږی، یو سوړه ده هغه ورته بنده ده هغه به راماته کړی او په هغے به راوځی، دا یاجوج ماجوج ترکیان او صقالبه د یافث اولاد دی او حدیث کی راځی (وَلَاخَیْرَ فِیْهِمْ) پدے خلکو کی خیر نشته،

(وَحَام اَبُو الْقِبْطِ وَالسُّوْدَان وَالْبَرْبَرِ):

او حام د قبطيانو او سوډانيانو او د بربريانو پلار دے۔

(مسند البزار رقم: ۷۸۲۰) مسند ابی هريرة، قصص الانبياء لابن كثير (۱/۱۱۹) وسبل الهدى والرشاد فی سيرة خير العباد لمحمد بن يوسف الصالحی الشامی المتوفى (۹۴۲ھ) رحمه الله (۱/۳۱۴)

زمونږ د نبی کریم ﷺ نسب او د هغه خپلوانو او د هغه د قبيلے او د هغه د متعلقينو نسبونه عام غالباً سام بن نوح ته رسيږی ځکه دغه د خير والا بچے وو د هغه اولاد او نسل ډير خير والا دے ځکه نبی کريم ﷺ الله سبحانه و تعالىٰ په هغوی کی راليږلے دے، غالباً پيغمبران په هغے کی راغلی دی، خاصکر د سيدنا ابراهيم عليه السلام نه روستو تول پيغمبران د هغه په نسل کی راغلی دی، او د تاريخ نه داسے معلوميږی چه دا نور انبياء هم د سام په اولاد کی راغلی دی،

د حام او د يافث په اولادو کی چرته انبياء نهٔ ښکاره کيږی ځکه چه بعضو قومونو کی الله سبحانه وتعالیٰ خير اچولے وی په نسبت د بعضو، دا د الله تعالیٰ تقسيم وی لکه مونږ مخکی حديث ذکر کړو چه د زمکے نه الله تعالیٰ خاوره راواخسته او سيدنا آدم عليه السلام ئے ترے جوړ کړو نو پدے زمکه کی يو صفت دے طِيْبَت (مزيداره خاوره) بل صفت د خباثت دے، خبيثه زمکه ښوره ناکه خاوره چه نهٔ پکی گياه کيږی او نهٔ پکی چرته اُوبهٔ وی، انسانان هم داسے دی چه ددے زمکے نه پيدا دی، بعضے طيبين دی، پاك ښکلی اعمالو والا، ښکلی صفاتو والا، ښکلی اخلاقو والا او بعضے خبيثان وی د مار او د لړم په شان چه کوم ځای کی وی د هغه د خُلے نه به ورانی خبری را اوځی او د هغه د ناستے پاستے نه به خلك تنگ وی، او غيبت او فساد به ئے د خُلے نه را اُوځی بس ختم ئے د فساد نه جوړه شوے ده، او بعض انسانان طيب وی، د مزيداری ختی نه جوړ شوی وی، خبری، ناسته پاسته د هغوی مزيدار وی، هر وخت د هغونه خير خوريږی انبياء عليهم السلام الله سبحانه و تعالیٰ د خير په مخلوق کی راوستی دی۔

هر کله چه زمونږ نبی کی الله تعالیٰ ډير کمالات اچولی وو نو مونږ پدے خطبو کی د سيرت نه لږه غوندے برخه راخلو د الله رب العزت په مشيت او ارادے سره چه په هغے کی ډيری فائدی او خيرونه دی، ولے به پکی خير نهٔ وی چه هغه رحمة للعالمين دے د تول عالَم دپاره الله تعالیٰ رحمت گرځولے دے تر دے چه په يو روايت کی راغلی

دی: سیدنا جبریل علیه السلام ته نبی کریم ﷺ فرمائیلی وو:

الله سبحانه وتعالیٰ زما په باره کی فرمائیلی دی چه زه رحمت للعالمین یم، نو (هَلْ اَصَابَكَ مِنْ هٰذِهِ الرَّحْمَةِ شَيْئٌ؟)

ته هم په عالَم کی داخل یی، آیا تا ته دا رحمت در رسیدلی دی؟

نو سیدنا جبریل علیه السلام وفرمایل: هاؤ! دا فائده ما ته هم را رسیدلی ده، هغه دا چه مخکی د قرآن د نازلیدلو نه زما یره ډیره وه ددی خبری نه چه گمراه به شم او خاتمه به می خرابه شی د الله تعالیٰ په غضب چرته گرفتار شم، (دا خطر د ملائکو سره هم شته)، کله چه قرآن نازل شو او الله سبحانه وتعالیٰ زما په قرآن کریم کی دا صفت بیان کړو چه ﴿ذِيْ قُوَّةٍ عِنْدَ ذِي الْعَرْشِ مَكِيْنٍ ۝ مُطَاعٍ ثَمَّ اَمِيْنٍ﴾

نو د دی امین لفظ نه دا معلومیږی چه ده ته الله تعالی امن ورکړو، د امین خپله معنی خو دا ده چه امانتگر دی، خو لیکن دیته پکی هم اشاره ده چه سیدنا جبریل علیه السلام مامون دی د هغه حفاظت کړی شوی دی هغه به نه خطاکیږی.

(الشفاء لعیاض ص (۱/۱۷) وسبل الهدی (۱۰/۳۰۷)

الله سبحانه و تعالیٰ هغه داسی نهٔ گمراه کوی لکه څنگه چه په دنیا کی کافر انسان گمراه کیږی او د الله سبحانه وتعالیٰ حدودو نه اوړی نو دا رحمت ملائکو ته هم رسیدلی دی د ملائکو هغه ډله غوره حسابیدله کوم چه د نبی کریم ﷺ سره په غزواتو کی شریك شوی وو او د هغه سره ئی د کافرانو په مقابله کی مرسته او مدد کړی وو، په نورو ملائکو باندی د دوی فضیلت هم وو.

رسول الله ﷺ رحمت دی پدی وجه مونږ د هغه سیرت بیانول شروع کړیدی د رسول الله ﷺ د ژوند د حالاتو نه دا مخکی مقدمه بیانیږی دا اگرکه اوږده ده لیکن پدی باندی روسته سیرت ډیر ښائسته واضحه کیږی.

نو عرب غوره قوم دی، نبی کریم ﷺ فرمایلی دی:

اِنَّ اللّٰهَ خَلَقَ الْخَلْقَ فَجَعَلَنِيْ فِيْ خَيْرِ فِرَقِهِمْ وَخَيْرِ الْفَرِيْقَيْنِ ثُمَّ خَيَّرَ الْقَبَائِلَ فَجَعَلَنِيْ فِيْ خَيْرِ قَبِيْلَةٍ ثُمَّ خَيَّرَ الْبُيُوْتَ فَجَعَلَنِيْ فِيْ خَيْرِ الْبُيُوْتِ فَاَنَا خَيْرُهُمْ نَفْسًا وَخَيْرُهُمْ بَيْتًا)

(الترمذی ۵/۵۸٤ رقم ۳٦۰۷) باسناد حسن وفیه بعض الکلام).

(الله تعالیٰ مخلوق پیدا کړو نو زهٔ ئی په غوره ډلو کی وگرځولم (کیدی شی د دی دوو

ډلو نه مراد انسانان او پیریان وی، انسانان غوره دی په پیریانو) او بیا ئے د عربو او د عجمو نه په غوره ډله کی (یعنی عربو) کی وګرځولم بیا الله تعالیٰ قبیلے غوره کړے نو زۀ ئے په غوره قبیله کی راوستم (چه هغه بنو کنانه دی لکه چه د نبی کریم ﷺ نسب به روسته راشی چه هغه د بنو کنانهٔ نه دے چه د معد بن عَدنان نه بیا د اسمعیل علیه السلامٍ په اولاد کی راغلے دے) نو بیا ئے په هغوی کی نورے کورنئ پیدا کړے نو زۀ ئے د هغوی نه په غوره کورنئ کی وګرځولم چه هغه بنو هاشم دی)۔

په یو حدیث کی راغلی دی:

(اِنَّ اللّٰہَ اصْطَفٰی کِنَانَۃَ مِنْ وُلْدِ اِسْمَاعِیْلَ وَاصْطَفٰی قُرَیْشًا مِنْ کِنَانَۃَ وَاصْطَفٰی مِنْ قُرَیْشٍ بَنِیْ هَاشِمٍ وَاصْطَفَانِیْ مِنْ بَنِیْ هَاشِمٍ) (صحیح مسلم:٦٠٧٧)۔

الله تعالیٰ د اسماعیل علیه السلام د اولادو نه بنی کنانه غوره کړل او قریش ئے د کنانه نه غوره کړل او بنی هاشم ئے د قریشو نه غوره کړل او د بنو هاشمو نه ئے زۀ غوره کړم) او د امت دپاره ئے رسول راولیږلم۔

عربو ته الله تعالیٰ ډیر غټ عقلونه ورکړی دی، ډیر شجاع او بهادر خلك دی او کمالات نفسی پکی ډیر زیات دی، د سخا او د جُود مسئله پکی ګوری که د زهد او د تقویٰ خبرے پکی ګورے او که رقتِ قلبی (د زړۀ نرموالی) ګوری دا پدے خلکو کی زیات دے، خاصکر یمن والاؤ کی، بیا دویم نمبر د سعودی عرب او خواوشا علاقو خلك دا د نورو خلکو په نسبت رقیق او نرم خلك دے، د زړونو په لحاظ سره په دنیا کی نرم خلك دی، او د ټولو نه زیات سخت زړی خلك ترکیان او مشرق والا دی،

لکه دا په حدیث کی راغلی دی:

(اَلْاِیْمَانُ فِیْ اَهْلِ الْحِجَازِ وَغِلَظُ الْقُلُوْبِ وَالْجَفَاءُ فِی الْفَدَّادِیْنَ فِیْ اَهْلِ الْمَشْرِقِ)

(مسند احمد١٤٥٩٨ وسنده صحیح)

ایمان په حجاز والو کی دے او د زړونو سخت والے او بی وفائی په دهقانانو د مشرق والو کی ده۔

سیدنا محمد رسول الله ﷺ کی الله سبحانه وتعالیٰ ټول ښه صفات اچولی وو، غلط صفات پکی بیخی نۀ وو، د خیر چه څه صفتونه وو هغه ټول په هغه کی موجود وو، ولے به نۀ وی چه الله تعالیٰ ئے صفت کوی: ﴿وَاِنَّكَ لَعَلٰی خُلُقٍ عَظِیْمٍ﴾ (ن: ٤)

یقیناً ته خامخا په ډیر لوی اخلاقو ئے)، چه خالق ئے صفت کوی معلومیږی چه څه کمال پکی شته، رب العالمین ورته وائی تا کی ما ډیر اُوچت صفات اچولی دی، ددے وجے نه علماء کرام فرمائی: چه څوك د نبی کریم ﷺ د یو خوی سره مشابهت ولری او د هغه یو خوی په کی راشی دا به ضرور الله سبحانه و تعالیٰ جنت ته داخلوی۔

ددے حدیث په بنا باندے مونږ وایو چه د خیر دغه صفت چه سړی کی وی دا انسان به الله سبحانه و تعالیٰ ضرورجنت ته داخلوی دا د دے لائق دے چه جنت ته لاړشی، نو د الله تعالیٰ په نیز به د هغه شخص څو مره اُوچته درجه وی چه د خیر تول صفتونه په هغه کی موجود شی۔ دا روایت ددے دپاره ذکر شو چه رسول الله ﷺ الله تعالیٰ په عربو کی رالیږلے دے څکه چه دے خلقو کی کمال ډیر دے۔

بیا عرب درے قسمه دی نو نبی کریم ﷺ په کومو عربو کی پیدا دے ؟

00000

د عربو اقسام

د تاریخ په کتابونو کی راځی عرب درے قسمه دی:

(۱) اَلْعَرَبُ الْبَائِدَة (۲) اَلْعَرَبُ الْمُسْتَعْرِبَه (۳) اَلْعَرَبُ الْعَارِبَه

د عرب بائده معنیٰ: هغه عرب چه پخوا زمانه کی تیر شوی دی او هلاك شوی دی د هغوی په دنیا کی څه قصه نشته او نهٔ د هغوی څه اولاد باقی پاتی دی۔ او د هغوی څه تاریخ نشته صرف قرآن او حدیث کی لږ شان تاریخ د هغوی ذکر شویدے لکه عادیان، ثمودیان، طَسْم، جَدِیْس، عِمْلاق، اُمَیم، جُرْهُمْ، حضُور، وَبَار، عَبِیْل، جَاسِم، حَضْرَمَوْت وغیره شو۔ عادیان په احقاف علاقه کی چه د سعودی عربو یوه علاقه ده یمن ته نزدے ده هلته آباد وو، شمال طرف ته ئے حضرموت دے او ربع خالی ده او مشرق طرفته ئے عُمان دے۔ او دغه ځای کی نن صبا صرف شړی دی هیڅوك پکی نهٔ وسیږی۔

د عاد د پلار نوم عوص وو د هغه د پلار نوم اِرَم وو او اِرم د سام ځوی وو او سام د سیدنا نوح علیه السلام په اولادو کی وو،

(عاد بن عوص بن اِرم بن سَام بن سیدنا نوح علیه السلام) او طسم او جَدیس په

یَمامه کی وسیدل۔ او بعض وائی چه طسم په احقاف او بحرین کی آباد وو۔
(المفصل فی تاریخ العرب ۱/ ۳۳۰) والمعالم الاثیرة فی السنة والسیرة (۱۳)

د عادیانو تاریخ

د سیدنا نوح علیه السلام قوم چه کله تباه شو د هغه اولاد راغلل د اولادو نه ئے قبیلے جوړے شوے نو عادیان هم پکی یوه قبیله جوړه شوه پدے ډیر وخت تیریدو عادیانوته الله سبحانه وتعالیٰ پیغمبر راولیږه سیدنا هود علیه السلام چه په قرآن کریم کی د هغه تذکره ده او دوی ته ئے دا خصوصیت ورکړو چه بدنونه ئے لوی ورکړل چه داسے ئے نورو انسانانو ته نهٔ وو ورکړی (بعضے قومونه د صحت او د بدن په لحاظ سره ډیر غټ وی) نو دوی ته ئے غټ غټ بدنونه ورکړل چه د قرآن کریم د تعبیر نه داسے معلومیږی چه دومره اُوږده اُوږده بدنونه ئے وو لکه د کجورے په مقدار، د کجورے په مقدار چه اُوږدهٔ وی دا به څومره غټ شخص وی، د هغوی لاسونه، خپے او د هغوی اندامونه ډیر غټ غټ وو، د داسے خلکو خواهشات هم ډیر زیات وی خوراك څکاك هم ډیر کوی او نور شهوات هم ډیر اخلی ددے وجے نه د جنتیانو بدنونه به غټ وی، د نبی کریم ﷺ ارشاد دے چه د جنتیانو بدنونه به شپیته گزه اُوږده او اُووه گزه پلن وی څکه دا قسم غټ بدن خواهشات ډیر اخلی او جنت د خواهشاتو ځای دے۔

دوی ته سیدنا هود علیه السلام دعوت ورکړو چه په الله تعالیٰ باندے ایمان راوړی او د سیدنا نوح علیه السلام د قوم نه عبرت واخلی، دے قوم کی هم شرك وواو دا شرك یوه عالمی بیماری ده، د قرآن کریم په سورت یوسف کی دی : چه شرك عالمی بیماری ده عامه دنیا چه په بیماریٔ اخته ده هغه څه بیماری ده؟ هغه شرك دے چه پخواه هم وو او اوس د هغے نه پسے زیات دے، اصلی مرض دغه دے چه انسانانو کی موجود دے د الله تعالی سره برخه داران جوړول، دوی بت پرست وو، ډیر بتان ئے جوړ کړی وو درے بتان خصوصاً (صَدا او هَبَا او ثَمُوْد) د هغے عبادت به ئے کولو،

سیدنا هود علیه السلام دوی ته د الله تعالیٰ د توحید دعوت ورکړو، قوم خبره نهٔ منله او دا ئے وویل : ﴿ مَنْ اَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً ﴾ (فصلت:۱۵)

زمونږ طاقت ډیر دے زمونږ مقابله څوك نشی کولے، دا تکبر به ئے کولو ،

الله سبحانه و تعالیٰ پرې هوا راولیږله روستو د ډیرې زمانې نه، داسې هوا وه:
﴿ سَخَّرَهَا عَلَيْهِمْ سَبْعَ لَيَالٍ وَثَمَانِيَةَ أَيَّامٍ ﴾ (الحاقة:٧)

اُوه شپې او اته ورځې پرې پرله پسې دا هوا وچلوله د چهارشنبې (بدھ) په ورځ پرې دا عذاب شروع شو د بلې چهارشنبې پورې اته ورځې او اووه شپې راغله، په یو ورځ کې الله سبحانه و تعالیٰ هلاك کړل لیکن د الله تعالیٰ د عذاب قانون دا دے چه الله سبحانه وتعالیٰ یو قوم په عذاب سره هلاك کړي بیا بار بار په هغې ځای باندې راځي دا د الله سبحانه و تعالیٰ د عذاب طریقه ده نو دوی به دے هواګانو اُوچتول او زمکے ته به ئے راویشتل، ساه به ئے ترې ایستله او داسې ګډوډ به په زمکه پراته وو لکه د کجورو د تنو په شان، مراد دا چه بوټی ترې خاته،

سیدنا هود علیه السلام او د هغه سره چه کوم مؤمنان ملګري وو هغه ترې الله سبحانه و تعالیٰ په خپل رحمت سره بچ کړل هغوی هجرت وکړو بل ځای ته لاړل، د دغه قصې تفصیل په قرآن کریم کې ځای په ځای ذکر کیږي۔

د ثمودیانو تاریخ

ددوی پسې روستو نزدې وخت کې د عربو بله قبیله راغله چه ثمودیان ئے ورته ویل، ثمود بن عابر، ثمود او جَدِیس دواړه رونړه وو، ثمود بن عابر بن سام بن نوح ؑ، دا هم د سیدنا نوح ؑ په اولاد کې راغلی وو، د سام په اولاد کې وو۔

قرآن کریم کې د دوی واقعه ځکه ډیره بیانیږي چه دا مکے او مدینې ته نزدې خلك دي، دوی په مدائن صالح کې اوسیدل چه دیته حِجُر هم وائي، دا په وادی القریٰ کې واقع ځای دے د مدینې او د شام ترمینځ دے، د مدینې نه د دوی ځای ته درې ورځې مزل دے او یا د درې ورځو نه لږ زیات چه پیاده سفر کوے، او چه ګاړي کې ځے نو زر ورسیږي، پدے علاقه کې دوی آباد وو، د مدینې په شمالي طرف کې تقریباً (۳۴۷) کیلو میټره جدا علاقه ده۔ نن صبا وادی القریٰ ته (العُلا) وائي ددے نه مدائن صالح (۲۲) کیلو میټره وړاندې دے۔ (المعالم الاثیرة۸۸)

دوی ته الله سبحانه و تعالیٰ دا هنر ورنصیب کړے وو چه کاڼړي به ئے تراشل په هغې کې به ئے سوري کول او توګل به ئے او هغې کې به ئے کورونه جوړول،

الله سبحانه و تعالیٰ فرمائی:

﴿ وَثَمُودَ الَّذِينَ جَابُوا الصَّخْرَ بِالْوَادِ ﴾ (الفجر: ۹)

ثمودیانو به په کندو کی کانړی تراشل او مختلف څیزونه به ئې ترې جوړول، ځینې وائي چه (الوَاد) نه مراد وادی القُریٰ ده۔

څوك چه د الله سبحانه وتعالی بندگی نهٔ کوی او د آخرت څه فکر نهٔ لری نو الله تعالیٰ به ئې په دے څیزونو کی ضرور مصروف کوی۔

خلك وائی چه کافر پدے وخت کی هوښیار دی ډیر څیزونه جوړوی د هغې وجه دا ده چه همدے ته ئې فکر دے خپل قوتونه ټول په همدے کی مصرفوی که دوی هر څه جوړ کړی دا خو څه کمال ندے کمال دا دے چه بنده الله سبحانه و تعالیٰ رضا کړی او روسته زندگئ باندے نظر واچوی۔

ثمودیانو دا کار کولو او د الله تعالیٰ سره به ئې برخه داران جوړول نو الله سبحانه وتعالی ورته سیدنا صالح علیه السلام راولیږلو سره د دومره هوښیارتیا نه مشرکان وو او الله تعالیٰ سره ئې برخه داران جوړول، سیدنا صالح علیه السلام ورته د توحید دعوت ورکړو دوی اُونهٔ منلو، انکار ئې وکړو، آخر دا چه په دوی باندے هم الله سبحانه وتعالیٰ عذاب راولیږهٔ او ټول ئې هلاك کړل چغه پرے راغله او سهار وخت کی ټول پرمخې پراتهٔ وو او مردار شو، سیدنا صالح علیه السلام او د هغه ملگری ایمان او تقویٰ والا صرف بچ شول ﴿ وَنَجَّيْنَا الَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ ﴾ (فصلت: ۱۸)

دیته عرب بائده وائی دا هغه عرب دی چه پخوا هلاك شوی دی، د دوی څه ډیر تاریخ نشته دے، د دوئ ورونه دی عِملاق، طَسم، جَدِیس ورته وائی د دوی تواریخ لږ لږ راغلی دی، دا خو پخوانی عرب دی قرآن او حدیث کی ئې د عبرت دپاره لږ شان تاریخ راغلے دے، چه څوك دِ الله او د هغه د رسولانو خلاف کوی الله تعالیٰ به ئې د دغه قومونو په شان د طاقتونو سره هلاکوی۔

(۲) دویم عرب عاربه دی دا کسان د یَعرُب بن یَشْجُبُ بن قَحطَان اولاد دے او دوی ته اهل علم عرب قَحْطانیه او قَحْطَانِیین وائی۔ دوی ته عرب الجنوب هم وائی ځکه چه دوی به د یمن په ښارونو کی وسیدل او دوی ته عرب عاربه وائی ځکه چه دوی اصلی عرب وو، د دوی د عجمو سره په سخرگنی والی کی اختلاط او گډون نهٔ وو راغلے او

مؤرخین لیکی چه دا اولنے هغه شخص وو چه په فصیحه عربی باندے ئے خبرے کړے وے۔او یمن والو د دوی نه عربی اخستے وه۔

(القول المبین فی سیرة سید المرسلین لمحمد الطیب النجارص٤٤)

حافظ ابن کثیر رحمه الله لیکی چه صحیح او مشهوره خبره دا ده چه عرب عاربه د اسماعیل علیه السلام نه مخکی وو او د هغوی نه عادیان، ثمودیان، طسم، جدیس، اُمیم، جُرُهُم، عمالیق او نور ډیر امتونه وو چه د هغے علم صرف الله تعالیٰ ته دے دوی د ابراهیم علیه السلام نه مخکی وو او د هغه په زمانه کی هم وو۔

(السیرة النبویة لابن کثیر ١/٣)۔

ددے عربو نه مختلفے قبیلے خورے شویدی د سَبَاء بن یَشْجُب بن یَعْرُب بن قَحْطان د اولادو نه دوه مشهورے قبیلے وے (١) حِمْیَر بن سباء (٢) او کهلان بن سباء، په حمیر قبیله کی مشهورے قبیلے دا وے : قُضَاعه، سَکاسك، زید الجُمْهور۔

او د کهلان قبیلے نه هَمْدان، اَلْهَان، اَشْعَر، طَیْء، مُذْحِج، لَخْم، جُذَام، اَنْمَار، مُعَافِر، اَزْد او د اَزْد نه بیا اَوس او خَزْرَج قبیلے د انصارو او خزاعه راخورے شوِیدی۔

بنو کهلان د یَمن نه هجرت وکړو او په جزیرة العرب کی دوی خوارهٔ شول دوی دا هجرت یا د ډیم د راخلاصیدو نه لږ مخکی کړے وو کله چه د دوی تجارت خراب شو او رومیانو د دوی په دریابی تجارتی لارو باندے قبضه واچوله او هغوی مصر او شام ته راغلل د وچے لارے ئے هم ونیولے نو بنو کهلان په هجرت مجبوره شو،

یا دا چه دوی د ډیم د راخلاصیدو نه روستو هجرت وکړو کله چه د دوی څه فصل او نسل پاتی نشو او تجارتونه ئے تباه شول لکه قرآن کریم کی د سباء والو په واقعه کی راغی چه دوی ته الله تعالیٰ قسم قسم باغات ورکړی وو لیکن دوی ناشکری وکړه الله تعالیٰ پرے عذاب راوستو، ډیم ئے پرے راخلاص کړو لکه چه روستو به ئے تفصیل راشي ان شاء الله تعالیٰ۔

څینی ددے سبب دا بیانوی چه د کهلان قبیلو او د حِمْیَر قبیلو به خپل مینځ کی جګړے راتللے نو د هغے په وجه کهلان قبیله د خپلو علاقونه ووتل او جزیرة العرب ته راغلل او حِمْیَر قبیله په یمن کی پاتے شوه۔ (الرحیق المختوم)۔

عرب مُستعربه

(۳) دے پسے روستـه عـرب مستـعربه دی هغه عرب چه اصل کی عرب نهٔ وو لیکن بیا روسته عرب شو، دا د سیدنا اسماعیل علیه السلام اولاد دی ځکه د سیدنا اسمعیل علیه السلام نه روسته دا عرب شویدی، دوی ته عرب عدنانیه هم وائی۔ او عرب اسماعیلیه هم،
د سیدنا اسماعیل علیه السلام ژبه عربی نهٔ وه لیکن هغه عربی د خپل سخرانی نه زدهٔ کړه چه هغه بنو جُرهُم دی ځکه چه بنو جُرهم عربی قحطانی قبیله ده نو کوم خلك چه د اسماعیل علیه السلام او د هغـه د بی بی د بـنـو جرهمُو د اولادو نـه وی نو هغوی تـه عرب مستـعربـه وائی چـه پـه هغوی کی زمونږ نبی محمد رسول الله ﷺ هم داخل دے۔ د حجاز چه کوم عـرب دی هغـه هـم پدے قسم کی داخل دی، دا خلك د مور د طرفنه عرب دی او د پـلار د طرفنه عرب نهٔ دی۔ ځکه چه د دوی پلار اسماعیل علیه السلام عربی نهٔ وو بلکه دهٔ عربی د خپلے سخرانے (بنو جرهُم) نه زدهٔ کړیده۔

د سیدنا ابراهیم علیه السلام سیرت

سیدنا ابراهیم علیه السلام د دے عـادیـانـو او ثـمـودیانو نه لږه زمانه روسته راغلے دے، سیدنا ابراهیم علیه السلام د الله تـعـالیٰ ډیـرغـوره پیغمبر دے چه قرآن کریم کی ددهٔ واقعات ډیر بیان بیانیږی، خلیل الرحمن دے، د الله تعالیٰ د دوستئ اعلان ورته شوے دے
﴿ وَاتَّخَذَ اللّٰهُ اِبۡرٰهِيۡمَ خَلِيۡلًا ﴾ (النساء:۱۲۵)
بـنـده چـه سـوچ وکـړی نـو دا ډیـر لـوی مـنـقبت دے چه د یو انسان په باره کی الله رب العزت داسے وائی چه فلانکے زما دوست دے او ما په ډیره اوچته دوستئ سره نیولے دے۔
سیدنا ابراهیم علیه السلام د الله تـعالیٰ ډیر زیات خوښ وو ځکه توحید پکی ډیر زیات کامل وو، زړهٔ ئے د الله تـعـالیٰ د مینے نه دومره ډك وو چه دومره محبت د چا هم نهٔ وو سویٰ د سیدنـا مـحـمـد ﷺ نه، ددے دوو کسانو د الله سبحانه و تعالیٰ سره ډیره زیاتـه مینه وه، ددے وجے نه په ټوله دنیا کی د الله سبحانه و تعالیٰ دوه خلیلان دی یو جناب سیدنا نبی کـریم ﷺ او بل جناب سیدنا ابراهیم خلیل الرحمن ﷺ، نور دوستان ئے هم شته دے خو په لاندے درجه کی دی،

سیدنا ابراهیم علیه السلام په عراق کی پیدا شوی وو د پلار نوم ئے آزر وو او هغه بت پرست وو او د نمرود وزیر وو او د هغه د پیرانو نه وو او د هغه د ملگرو نه وو،

نمرود بن کُوش دا د کنعان په اولاد کی راغلے دے، خو دا تاریخ چه چا لیکلے دے کمزورے خبره ده ځکه د کنعان نسل الله سبحانه و تعالیٰ ختم کړے دے، په دنیا کی ئے ندے پاتے کړے،

بعض علماء داسے نسب بیانوی: نمرود بن فالح بن عابر بن صالح بن ارفخشذ بن سام بن نوح علیه السلام۔ (قصص الانبیاء لابن کثیر ۱۸۷)

نمرود یو کافر بادشاه وو او آزر د هغه د وزیرانو او د پیرانو نه وو، الله سبحانه و تعالیٰ پداسے کورنۍ کی یو لوی شخص پیدا کړو چه اولوا العزم پیغمبر دے، د ورکوتی والی نه الله سبحانه و تعالیٰ هغه ته توحید وروښودلو ځکه انبیاء علیهم السلام په توحید باندے وی چه کله لوی شو او خلویښتو کالو ته ورسیدو الله سبحانه و تعالیٰ ورته نبوت ورکړو نو دهٔ د الله تعالیٰ د دین دپاره ډیرے سختی تیرے کړے، په کور کی چه پلار د سړی خلاف وی نو دا ډیره گرانه خبره وی،

۰ اهل حقو ته ددے پته ده چه کله څوك په حق باندے عمل کوی او پلار ئے خلاف وی نو ډیره سخته وی، خپلوان یا رونړه چه د سړی خلاف وی دا لړه سخته وی او چه مور پلار خلاف وی نو دا ډیره سخته وی۔

نو د سیدنا ابراهیم علیه السلام اول دشمن پلار بیا ټول قوم دے چه دا ټول ترے خلاف دی او بیا د ملك بادشاه ترے هم مخالف دے،

(په ټوله دنیا بادشاهی څلورو کسانو کړیده، دوه کافران دوه مؤمنان، نمرود په ټوله دنیا بادشاهی کړے ده او بُختِ نَصر چه د بنی اسرائیلو په دور کی راغلے دے په ټوله دنیا ئے بادشاهی کړے ده، دا دواړه کافران وو، او دوه مسلمانان دی یو ذوالقرنین دے چه د اسکندر په نوم یادیږی او قرآن کریم کی ورته ذوالقرنین وئیلی شویدے، او دویم سیدنا سلیمان علیه السلام دے چه یو جلیل القدر پیغمبر دے او ذوالقرنین پیغمبر نهٔ وو لیکن یو صالح سړے وو، دا هم د ټولے دنیابادشاه وو)،

چه یو سړے د ټولے دنیا بادشاه وی او هغه د چا سره دشمنی شروع کړی دا به څومره گران ژوند وی سړے دے پدے کی فکر وکړی، سړی باندے چه دا حالت نهٔ وی راغلے

ددے خبرو د حقیقت نه نهٔ خبریږی، دا هسے سرسری شانته خبرے د سړی په غوږ لګیږی، کله چه ستا په مخالفت کی څوك ودریده نو تا ته پته لګی، یوه ورځ هم نهٔ وی دوه هم نهٔ، درے هم نهٔ لس او شل ورځے هم نهٔ وی، کلونه شی، د انبیاء کرامو علیهم السلام اجمعین صبر به تا ته هله معلوم شی چه کله تا دعوت الی الله کولو او څوك دے په خلاف کی ودریدلو،

زمونږ خودا تجربه ده چه کله سړے حق بیانوی او خلك ئے په خلاف ودریږی نو دے سمدست بیګاه له الله تعالیٰ ته ودریږی او دعاګانے کوی چه یا الله ! دغه سړے تهٔ هلاك کړے، ګوره زهٔ قرآن بیانوم او دے د هغے په مقابله کی ودریږی او زه ستا د پیغمبر حدیث بیانوم او دے مخالفت کوی الله ! تهٔ ئے تباه کړے هلاك ئے کړے، کوږئے پدے زمکه ننباسه، یوه شپه لاتیره شوی نهٔ وی او سړے دومره تنګ شی۔

د انبیاؤ کرامو صبر ته وګوره سیدنا نوح علیه السلام نهه نیم سوه کاله صبر کوی سیدنا ابراهیم علیه السلام هم ډیره موده صبر کړے دے،

پدے کی دهٔ د خپل پلار سره مناظرے او بحثونه کړی دی، هغه بیا آخر د کور نه شړلے دے، د قوم سره ئے هم بحث او مناظره کړیده۔

د هغوی آلهه دوه اویا (۷۲) بتان وو د هغوی عبادت به ئے کولو دوه قسمه شکلونه ئے جوړ کړی وو یو د ستورو، د هغے عبادت به ئے کولو چه په کائناتو کی بره رڼا ده۔

دویم : د نیکانو بنده ګانو بتان ئے جوړ کړی وو لکه دا بت پرست خلك اکثر د کاڼړی عبادت نهٔ کوی بلکه د یو ولی او بزرګ عبادت کوی چه پدغه شکل تیر شوے وی، او دا عقیده لری چه مونږ کله ددے شکل تعظیم وکړو د هغه ولی او بزرګ روح راشی نو مونږ له برکت او خیر راکړی او د الله تعالیٰ په دربار کی سفارش راله کوی، داسے یوه ډکوسله غونډی ئے د ځانه جوړه کړی وی، د وَهم خبرے جوړے کړی وی ځکه چه شرك ټول په هسے اوهامو او باطلو خیالاتو بنا دے چه هیڅ حقیقت نهٔ لری، نو دوه اویا بتان ئے جوړ کړی وو د هغے عبادت به ئے کولو نو سیدنا ابراهیم علیه السلام د هغے مقابله هم وکړه لکه قرآن کریم کی راځی د دغه واقعے تفصیل نهٔ بیانوو، هسے اشارات ورته کوو دے دپاره چه یوه خاکه ذهن کی واقع شی،

سیدنا ابراهیم علیه السلام د هغوی مقابله وکړه کله چه هغوی خپلے یوے میلے ته تللی وو

نو هغه بتان ئے ورله تول مات رامات کړل۔
بادشاه سره ئے هم یوه مناظره او بحث اوکړو لکه سورت البقره کی ذکر شوی دی۔
سیدنا ابراهیم علیه السلام د باشاه ملاقات له ورغلی وو یا هغه راغوښتے وو، بعض تفاسیرو کی داسی دی چه د هغه بادشاه سره غنم وو او قحط راغلے وو او خلك به ورتلل د مِیَری لپاره یعنی ددے دپاره چه د هغه نه طعام راوړی،
سیدنا ابراهیم علیه السلام چه ورغے خلکو ورته شیطانی وکړه چه دا هغه سړے دے چه ستا د عقیدے خلاف دے، هغه وویل چا ته دعوت ورکوے؟ سیدنا ابراهیم علیه السلام وفرمایل: زه الله طرفته دعوت ورکوم رب زما الله دے،
نمرود وویل: رب د عالَم خو زهٔ یم، سیدنا ابراهیم علیه السلام ورته وویل: رب هغه ذات دے چه ژوندی کول او مړهٔ کول کوی او دا کارتهٔ نشے کولے، بادشاه وویل: دا زهٔ هم کولے شم، مفسرین لیکی چه یو سړے ئے راونیولو مړئے کړلو او بل جیلی ئے پریښودہ وے ویل گوره دا کار ما هم وکړو؟ سیدنا ابراهیم علیه السلام وویل: الله سبحانه وتعالیٰ هغه ذات دے چه نمر د مشرق نه راخیژوی سهار کی او مغرب طرفته ئے بوځی، څه ته ددے برعکس وکړه، نن ئے د مغرب د طرفنه راوخیژوه او په مشرق باندے ئے ورډوب کړه،
﴿ فَبُهِتَ الَّذِیۡ کَفَرَ ﴾ الله سبحانه وتعالیٰ دغه کافر باشاه ذلیله کړو او د خُلے نه ئے بیا یوه خبره هم نهٔ راوتله،
دغه ددهٔ علم وو او دغه ئے زور وو لیکن پدے خبره بادشاه دومره غصه شو لکه څنگه چه د بتانو په ماتولو غصه شوے وو، نو بادشاه سره د قوم نه راولگیدو ددهٔ دپاره ئے اُور بَل کړو او وے وئیل چه دا په بله طریقه نهٔ وژنو چه په توره ئے ووهو یا په چاقو چاړه بلکه ددهٔ په اُور سیزل پکار دی چه خلك ترے عبرت واخلی، ډیره موده ئے لرگی راجمع کړل بیا ئے په تهال کی کینولو هغه اُور ته ئے گوزار کړو (الی آخرالقصه) چه قصه ئے معروفه او مشهوره ده الله سبحانه وتعالیٰ دا مهربانی پرے وکړه چه په اُورکی ئے روغ جوړ وساته ﴿ قُلۡنَا یٰنَارُ کُوۡنِیۡ بَرۡدًا وَّ سَلٰمًا عَلٰۤی اِبۡرٰهِیۡمَ ﴾ (الانبیاء:٦٩)
الله سبحانه وتعالیٰ اُور ته امر وکړو چه تهٔ خاص پدے وخت کی یخ شه او سلامتیا والا شه خاص په ابراهیم (علیه السلام) نهٔ په بل چا، ولے کچرته د الله سبحانه وتعالیٰ داسے امر وے نو د تهولو اُورونونه به گرموالے ختم شوے وے، د الله سبحانه وتعالیٰ طاقت ته

وګوره داسې ذات دې داسې کولې شي چه د اُورنه طاقت لرې کړي، اُوبو کې طاقت د سیلان او د جریان دې د هغې نه طاقت لرې کولې شي،
سیدنا ابراهیم علیه السلام پدې اُورکې ځلوېښت ورځې پروت وو، دا تاریخي قصو کې راځي چه اُور کله مړ کیدو والا شو نو سیدنا ابراهیم علیه السلام ترې روغ جوړ راووت، خلك په تعجب کې شو چه دا څنګه چل وشو هغه سړے چه مونږ سم د جهنم اُورته ګوزار کړو هغه بیخي روغ جوړ راوته چه نۀ ئې جامې خرابې شوې نه ئې شکل خراب شو او نۀ ویښته، نه ئې رنګ خراب شو، پدې ځلوېښت ورځو کې الله سبحانه و تعالیٰ ورلـه د جنت نه رزق ورکولو د مونځونو وختونه ئې ورته وخودل، د الله سبحانه و تعالیٰ عبادت به ئې کولو دننـه په اُورکې داسې وو لکه په کوټه کې چه ناست وي، د الله سبحانه و تعالیٰ دے حفاظت ته وګوره۔
بیا هم دا قوم دومره بداخلاقه او بدعمله وو چه دومره غټه معجزه ئې ولیده او بیا ئې هم ایمان نۀ راوړو، دا څومره لویه معجزه ده، صرف نمرود پکې دا ویلي وو چه ستا رب خو ډیر مهربانه دے په تا او ډیر غیرتي دے، ددۀ په نوم به زۀ څه ذبحه وکړم، لکه تاریخي قصو کې دا راځي،
نو سیدنا ابراهیم علیه السلام ورته وویل ایمان راوړه او د الله سبحانه و تعالیٰ توحید قبول کړه نو ذبحه به دې بیا قبلیږي، چه توحید دې نۀ وي قبول کړے د الله سبحانه وتعالیٰ د یو والي اقرار دې نۀ وي کړے کـه هر څومره غواګانې میښې حلالې کړې نو الله سبحانه وتعالیٰ ته ندي قبولې، د مشرك سړي ذبحه نۀ قبلیږي لیکن نمرود د خپل کبر او غرور نه نۀ راواپس کیدو، نو سیدنا ابراهیم علیه السلام ته پلار هم دشمني راښکاره کړه او دا ئې ورته وویل چه زما د کور نه ووځه او زما نه جدا شه ماسره نور وخت نشې تیرولې او سیدنا ابراهیم علیه السلام ته هم پته ولګیده چه دا قوم نور ایمان نۀ راوړي او طریقه دا ده چه کله یو قوم ته دعوت اُوشي او بار بار اُوشي او قوم ایمان نۀ راوړي نو بیا د هغې نه هجرت کول پکار دي، انبیاء کرامو ته به الله سبحانه و تعالیٰ د هجرت امر کولو، پدې کې هغه هجرت وکړو د عراق نه او صرف یوه ښځه ورسره ده او یو سیدنا لوط علیه السلام ورسره دے :
﴿فَآمَنَ لَهُ لُوطٌ﴾ (عنکبوت: ٢٦)
سیدنا لوط علیه السلام ورته اظهار د ایمان اوکړو چه زۀ دې هم ملګرے یم، سیدنا لوط علیه السلام د

سیدنا ابرا هیم علیه السلام ورارهٔ کیږی، لوط بن هاران بن آزر، دا د هاران ځوی وو او هاران د سیدنا ابرا هیم علیه السلام ورور وو،

سیدنا لوط علیه السلام پیغمبر وو، ده هم ورسره هجرت اُوکړو، شام کی یوه علاقه ده حَرَّان ورته وائی، په هغه علاقه کی په دوی باندے قحط راغے دا د الله تعالیٰ امتحان وو ددے ځای نه ئے بیرته هجرت اوکړو او د څه مودے دپاره مصر ته لاړل،

کله چه مصر ته ورداخل شو نو د مصر یو ظالم او جبار بادشاه وو، په بادشا هانو کی اکثر ظلم او جباریت وی داسے ډیر کم وی چه الله تعالیٰ ورله مشری ورکړی وی او دوی بنائسته استعمال شی، غالباً تاسو به ګورئ چه مشران صحیح نهٔ وی استعمال شوی، د جهالت د وجے نه چه کرسئ ته چه وخیژی دوی به وائی بس د اُلوهیت درجے ته مونږ ورسیدو، او ټول واك به زمونږ وی، نهٔ مرګ راځی اونهٔ به په مونږ ځوك حمله وکړی او نهٔ به چرته جیل وی او نهٔ بل څه، هر څه ترے هیر شی او دمخکنو نه عبرت نهٔ اخلی چه هلکه مخکی چه دا خلك ستا په شان باشا هان وو اُوس په جیلونو کی پراتهٔ دی او څه مړه شول۔

ددے ظالم او جبار بادشاه عادت دا وو چه مسافر به په مصر ورتیریدل او ښځه به ورسره وه دا به ئے ترے اخستله که خور یا مور به ورسره وه نو هغه ته به ئے څه نهٔ ویل، پدے باندے به غیرت ورتللو چه یو مسافر سړے دے وی او هغه سره دے ښځه وی او دا دے ترے فائدے اخلی دا زهٔ نهٔ برداشت کوم بلکه دغه ښځه به ورله زهٔ بی حیا کوم او تکلیف به ورته ورکوم، نو پدے کی چا بادشاه ته شیطانی وکړه چه دلته یو سړے راغلے دے یوه زنانه ورسره ده (مِنْ اَحْسَنِ النَّاسِ) د ټولو خلکونه ډیره زیاته بنائسته ده نو هغه ونیسه څنګه چه ستا عادت دے، پدے کی هغه سیدنا ابرا هیم علیه السلام اول طلب کړو چه تهٔ راشه، هغه چه ورغے تپوس ئے ترے وکړو چه تاسره ځوك ده؟

نو سیدنا ابرا هیم علیه السلام پدے وخت کی اسباب استعمال کړل او اسباب استعمالولو باندے انسان مکلف دے چه داسے وخت راشی سړے به توریه کوی او دروغ به نهٔ وائی، دروغو کی ضرر دے او توریه جائز ده توریه دیته وائی چه د خبرے حقیقت یو وی او د مخاطب بل مراد وی یا د متکلم یو مراد وی او د مخاطب بل،

(یا د یو کلام دوه معنی وی معنی قریبه او معنی بعیده، تهٔ ترے معنی بعیده واخلے

او مخاطب ترے معنی قریبه واخلی)
سیدنا ابراهیم علیه السلام بادشاه ته وویل [هٰذِهٖ اُخْتِیْ] دا زما خور ده، د هغه نیت دا وو چه دا مے خور پدے وجه ده چه مسلمانه ده او مسلمان سرے او ښځه د یو بل ورور او خور وی، د مسلمانے ښځے سره نکاح جائز ده چه دا ټولے زمونږ اسلامی خویندی دی،
(بعض باطل پرست خلك د اهل حقو په باره کی وائی چه دوی پنځمه خور جائز گنړی، نو دا خبره صحیح ده لیکن دوی ئے په مطلب نهٔ پو هیږی پنځمه خور جائز ده هغه دا ده چه دا عامے مسلمانانے زنانه دا زمونږ خویندے دی دا مونږ او تاسو د پاره جائز دی چه په نکاح شرعی سره ئے واخلو، باقی څلور قسمه خویندی حرامی دی، (۱) د پلار او د مور دواړو نه یعنی اَعیانی(۲) صرف د پلار نه یعنی عَلّاتی (۳) صرف د مور نه یعنی اَخْیَافی (٤) رَضَاعِیْ خور، دغه حرامے دی۔
نو سیدنا ابراهیم علیه السلام دلته دا کلمه استعمال کړه واپس چه راغے بی بی (سَاره) ته ئے وویل چه بادشاه تا زما نه ایساروی هغه ما نه ستا په باره کی تپوس وکړو ما ورته وویل چه دا زما خور ده نو ته هم ورته داسے ووایه چه دا زما ورر دے ولے که داسے ورته ووائی چه دا زما خاوند دے زما تکذیب به اوشی زه به دروغژن د هغه په نزد باندے حساب شم، تهٔ هم دا توریه اُوکړه، هغے ته ئے دا توریه اُوښوده، او هغے ته ئے بیرته وجه هم بیان کړه چه (فَاِنَّهٗ لَيْسَ عَلٰى وَجْهِ الْاَرْضِ مُؤْمِنٌ غَيْرِيْ وَغَيْرُكِ)
په مخ د زمکه په دے علاقه کی زما اوستا نه په غیر بل مؤمن نشته یعنی چه ښځه او خاوند دواړه مؤمنان وی (کما قال ابن کثیر فی قصص الانبیاء ۱/۱۹۷)۔
او مؤمنان خویندی او رونه دی دا بی بی سیده ساره رضی الله عنها وه،
بعض وائی چه دا ئے د تره لور وه او بی بی ئے وه او ځینی وائی : دائے خپله خور وه په رشتیا باندے او په هغه زمانه کی د خور سره نکاح جائز وه، لیکن دا رایه غلطه ده، په صحیح تاریخ کی داسے راغلی دی چه دا ئے د تره لور وه خورئے پدے ځای کی د دے وجے نه ویلی وه چه دا مؤمنه وه لکه دا خبره په حدیث د ابوداود کی راغلے ده۔
پدے کی هغه جبار ظالم بادشاه هغه زنانه بوتله سره د دینه چه د هغه د قانون او د شرط مطابق خبره هم وه، ځکه چه هغه به د چا خور نهٔ اخستله لیکن بیائے هم د خپل قانون خلاف وکړو او دغه ښځه ئے بوتله او اراده ئے اُوکړه چه هغے سره بی حیائی

وکړې او لاس ورسره ولګوی نو هغې د بادشاه نه اجازت طلب کړو او اودس ئې اوکړو او دوه رکعته مونځ ئې اوکړو او د الله سبحانه وتعالیٰ نه ئې دعا طلب کړه او سیدنا ابراهیم علیه السلام هم په مانځه بانده ولاړ دے، او دعاګانے هم کوی۔

داسے وخت کښې به دا هتیار استعمالوی، دا اصلی هتیار، اصلی توره ده، خپل رب ته توجه، هغه ته التجاء او هغه ته زاری کول دا اسلحه ډیرو خلکو نده پیژندلے، زمونږ دحُکامو او محکومینو یقین د امریکے په اسلحے او ایتم جوړ شوے دے چه مونږ سره اسلحه نشته ځکه جهاد نکوو والله چه یو شلخے توپك او ایمان او دعا درسره ملګری وی او لږ معمولی غوندے اسباب درسره وی هم الله تعالیٰ درله غلبه درکوی لکه تاسو دا حالت ولیدلو ﴿ كَم مِّن فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللَّهِ ﴾

لږ خلك الله تعالیٰ په ډیرو غالبه کوی۔ نو په مانځه اُودریده او دا دعا ئې اوکړه چه اے الله ! که ما چرته د خپل فرج او د خپل ځان حفاظت کړے وی مګر صرف خاوند ته مے ځان ښکاره کړے وی نو دا کافر په ما مسلط نکړے چه ماله ګوتے راوړی، اُوسه پورے ما چرته بی حیائی نده کړے، زهٔ ستا د پیغمبر بی بی یم، الله سبحانه وتعالیٰ ته ئې خپل نیك عمل وسیله کړو چه ما د خپل ځان حفاظت کړے نو دا کافر رانه جدا کړه،

نو کله چه دغه کافر اراده وکړه چه ګوتے وروړی (فَغُطَّ) نو په هغه بے هوشی راغله دماغ ئې بند شو، لاسونه ئې راغونډ شو لکه په سړی چه د ګوزن بیماری ولګی یا صرعه (میرګی) بیماری پرے راشی، خرارے ئې شروع کړو لکه خوب کښې چه سړے خرپړی نزدے وه چه ساه ے وخیژی نو سیده ساره رضی الله عنها وویل چه اے الله ! دا سړے ته روغ کړه، که دا مړ شی خلك به وائی چه دے وژلے دے، درے ځلے پرے دا کار اُوشو، دے به ورته دعا کوله۔

په یو روایت کښې دا دی چه دے ظالم به پدے بیماریٔ کښې دا اواز اُوکړو :

(اُدْعِي اللَّهَ وَلَا أَضُرُّكِ) د الله تعالیٰ نه دعا اوغواړه زهٔ به درله ضرر نه درکوم۔

وعدوبه ئې هم کوله چه زهٔ به ضرر نهٔ درکوم نو د هغې به طمع پیدا شوه چه ضرر به نهٔ راکوی خو چه ښه به شو بیا به ئې همدا کار کولو، چه دوه درے کرته پرے بیماری راغله، بادشاه خپل یو چپراسی راوغوښته هغه ته ئې وویل :

(إِنَّكَ مَا أَتَيْتَنِي بِإِنْسَانٍ وَلَكِنْ أَتَيْتَنِي بِشَيْطَانٍ)

تـا خـو مـا تـه انسان نـدے راوستلے بلکه تاخو ماته شیطان راوستے دے۔ هغے ته شیطان وائـی حـال دا چـه دے پـخـپـلـه شیطان وو او کافر هم وو او د الله تعالیٰ د پیغمبر بی بی او یوه پاکه زنانه چه د الله تعالیٰ د اولیاؤ نه ده، هغے ته شیطان وائی۔

دا د کـافـرو طریقه ده او د اُوسنو کافرو طریقه هم دا ده څوك چه صحیح مسلمان وی، الله والا وی او پـه مـلـك کـی امـن غـواړی، په ملك کی راحت او د امن او د سکون ژوند خـوښـوی هـغـه تـه دهشتگرد وائی او په هغه باندے بد بد نومونه کیښودے کیږی او څـوك چه کافر دی او د الله او د رسول او د دین او د عوامو او د انسانیت دشمنان دی هغه ډیـر ښـه خـلـك او عـزتـمـنـد خـلـك گـنـړی، دا د دوی عـادت دے، ددے واقعے نـه دا قسم عبرتونه را اُوځی۔

او پـدے کـی دننه یو بل عبرت هم پروت دے یوه دینی مسئله پکی پرته ده هغه دا ده چـه کـه پـه سـړی باندے داسے حالتِ راشی والعیاذ بالله مونږ کمزوری یو په مونږ دے الله تـعـالیٰ نهٔ راولی، که په یو مؤمن بنده باندے چرته راشی، د یو کافر په لاس کی ورشی یا ددهٔ بی بی ورشی نو علماء وائی آیا دهٔ له دا جائز دی چه ځان قتل کړی چه دا کافر زما د ښځے بی عزتی کوی یا زما بے عزتی کوی راشه ځان مړ که او که ځان به نهٔ وژنی؟

د قـرآن او سـنـت دواړو نه دا معلومه ده چه پداسے وخت کی به ځان نهٔ وژنی بلکه په الله به توکل کوی، د الله تعالیٰ نه به دعا غواړی او د صبر نه به کار اخلی،

دے مـقـام کـی تـا تـه ددے خبرو امر دے چه توکل په الله تعالیٰ باندے اُوکړه، دعا د الله تـعـالیٰ نـه اُوغـوړاه او صبر اُوکړه او تـقـویٰ اختیار کړه، دا کارونـه بـه اختیاروے، دا د مخکی نه هم اختیارول پکار دی، هغه خلك ناپوهه دی چه خپلو ښځوته ئے حکمونه کـړی دی چـه پـه تـاسـو کـچـرے داسی وخت راشی نو ځان به الوځویٔ لکه دے وخت کی داسے شوی دی دا صحیح طریقه نده،

د نبی کـریـم ﷺ په زمانه کی مشرکینو د صحابه کرامو نه بعض زنانه تښتولے هم دی، پـه حـدیـث د مـسـلـم کی راځی : یوه زنانه ئے تښتولے وه د کافرو سره ډیره زمانه وه هـغـوی چـه څـه غـوښـتـل هـغـه بـه کـول پدے مابین کی هغے نذر اوکړو چه کچرے الله سبحـانـه وتـعـالیٰ زهٔ ددے جـیـل نـه خلاصه کړم او دے مصیبت نه ئے ویستلم زه به دا اُوښـه ذبـح کـوم کـومـه اُوښـه چـه مـا سـره ده هغه اُوښه د نبی کریم ﷺ وه، مشرکینو

هغه هم تنبتولے وه پدے مابین کی هغوی غافله شو دا د جیل نه اُوتختیده، الله سبحانه و تعالیٰ راخلاصه کړه، دے زنا نه اوښه هم راوستله خلك چه خبریدل هغه مدینے ته رارسیدلے وه،

بیا ئے د رسول الله ﷺ نه تپوس اُوکړو چه یارسول الله ﷺ ما اُوښه نذر کړے ده که زهٔ الله تعالیٰ بچه کړم دا به ذبحه کوم، نبی کریم ﷺ ورته اوفرمایل :
(سُبُحَانَ اللّٰهِ ! بِئسَ مَا جَزَتُهَا) دے خو ډیره بده بدله اُوښے ته ورکړه چه الله تعالیٰ پدے اوښے سره هغه راخلاصه کړه او دا ئے اُوس وژنی، دا نشی ذبحه کولے ځکه
(لَا وَفَاءَ لِنَذُرٍ فِيمَا لَايَمُلِكُ ابُنُ اٰدَمَ) (صحیح مسلم:۴۳۳۳)

دداسے نذر پوره کول نشته چه انسان د هغه شی مالك نهٔ وی، دا اُوښه خو زما ده، نو پردئ اُوښه په نذر باندے نشی ذبحه کولے۔

نو ددے حدیث او ددے په شان نور روایتونه هم دی چه کله داسے حالت کی څوك راګیر شی څه به کوی؟ نو صبر به کوی د تقویٰ نه به کار اخلی او د هغو د حدودو پابندی به کوی او دعاګانے به غواړی، رب العلمین به ورته یوه لاره کولاؤ کړی لکه څنګه چه دے زنانه ته کولاوه کړه دا خو ډیر اُوچت کرامت والا ده، الله رب العلمین په آسانئ سره خلاصه کړه متقیانو بندګانو تولو سره الله تعالیٰ دغسے مدد کوی دا د الله سبحانه وتعالیٰ عادت دے چه هغه د داسے بندګانو مدد کوی۔

لیکن ددے بادشاه په زړهٔ کی ددے ښځے یعنی سیده ساره رضی الله عنها عظمت راغے چه دا زنانه ډیره اُوچته ښځه ده او الله والا ده، بعض کافر خلك مؤمنان حق پرست په زړهٔ کی منی چه دا صحیح خلك دی لیکن په ظاهره کی د شیطانانو د شیطانئ د وجے نه د مؤمنانو خلاف کوی)۔

دا بادشاه راولیګیدو دے له ئے هدیه ورکړه، تاریخ کی دوه خبرے راغلے دی یو دا چه د بادشاه وینځه وه هاجره نوم ئے وو، هاجره ئے ورله په هدیه کی ورکړه،

په مُوثق او معتمد تاریخونو کی دا دی چه دا د هغه وینځه نهٔ وه بلکه د هغه لور وه د مصر د بادشاه خپله لور وه، نو خپله لور ئے ورله په هدیه کی ورکړه چه دا ته واخله دا به ستا خدمتګاره وی ځکه تا کی دومره کرامتونه او کمالات دی پدے وخت کی سیده ساره رضی الله عنها د بادشاه د دربار نه راووتله او خدمتګاره هم ورسره وه، او سیدنا

ابراهیم علیه السلام په مانځه ولاړ دے هغه الله سبحانه و تعالیٰ ته متوجه شویدے نو دهٔ ورته په مانځه کی اشاره وکړه چه د بادشاه نه الله سبحانه و تعالیٰ په څه طریقے راخلاصه کړے، دے ورته جواب ورکړو چه (رَدَّ اللّٰهُ کَیۡدَ الۡکَافِرِ فِیۡ نَحۡرِهٖ)

او بل لفظ کی دی : (رَدَّ اللّٰهُ کَیۡدَ الۡکَافِرِ وَاَخۡدَمَ هَاجِر)

یعنی الله سبحانه و تعالی د هغه مکر او فریب او کوشش د هغه په سینه کی ورواپس کړو او هاجره ئے په خدمت کی راکړه، او زما خادمه ئے وګرځوله)

سیدنا ابراهیم علیه السلام په مصر کی څه زمانه وو بیا د هغے نه بیرته واپس شام ته لاړو، فلسطین علاقے ته لاړلو هلته بیا آباد وو،

د سیدنا ابراهیم علیه السلامبچی نهٔ پیدا کیدل، دا ښځه ئے راولګیده او په خپل خاوند باندے ئے رحم اُوکړو او دا هاجره ئے سیدنا ابراهیم علیه السلام ته ورکړه چه دا زما وینځه ده خو تا له مے در کړه کیدے شی چه الله تعالیٰ تا ته ددے نه اولاد درکړی او ستا سترګے پرے یخے کړی، په خاوند باندے ئے ډیر شفقت او رحم وو او ډیر زیات محبت ئے ورسره وو۔ نو سیدنا ابراهیم علیه السلام د هاجرے سره نکاح وکړه چه دا د بادشاه لور وه چه نکاح ئے ورسره اُوکړه الله سبحانه و تعالی هغے له بچے ورکړو سیدنا اسمعیل علیه السلام، او دا اولنے بچے وو د سیدنا ابراهیم علیه السلام او مشر ځوی وو، پدے وخت کی د سیدنا ابراهیم علیه السلام عمر (۸۶) کاله وو۔

سیدنا ابو هریره رضی الله عنه چه کله دا حدیث بیانولو نو وے فرمایل :

(تِلۡكَ اُمُّکُمۡ یَا بَنِیۡ مَاءِ السَّمَاءِ)

دغه زنانه ستاسو مور ده اے عربو ! دا د عامو عربو مور ده چه زمونږ د محمد رسول الله ﷺ هم مور ده ځکه هغه د سیدنا اسمعیل علیه السلام په اولاد کی راځی۔

یو حدیث کی راغلی دی نبی کریم ﷺ فرمائیلی وو چه کله تا سو مصر فتحه کړئ نو (فَاسۡتَوۡصُوۡا بِهِمۡ خَیۡرًا) دے مصر والو سره تاسو احسان کوئ خاصکر په دوی کی خاص علاقی دی د هغوی سره احسان کوئ، نبی کریم ﷺ پیشنګوئی د مخکی نه کړے ده چه مصر د کفر علاقه ده، دا به فتح کیږی او د ایمان والو په لاس کی به راځی روسته بیا د سیدنا عمر بن خطاب رضی الله عنه په دور خلافت کی د سیدنا عمرو بن عاص رضی الله عنه په لاس باندے فتح شو او د مسلمانانو په لاس کی راغے نو چه

فتح شي تاسو به هغوی سره نیکی کوئ (فَإِنَّ لَهُمْ ذِمَّةً وَرَحِمًا) ځکه د دوی ماسره ذمه هم شته او ما سره ئے خپلولی هم ده۔

نو نبی کریم ﷺ د دومره وړاندے خپلولئ هم خیال ساتی نو وے فرمایل چه زما له طرفه د هغوی سره احسان وکړئ، هغه دا چه د رسول الله ﷺ وینځه وه سیده ماریه قبطیه رضی الله عنها چه د قبط نه رواستلے شوے وه، د رسول الله ﷺ وینځه وه، مقوقس بادشاه مصر ورته تحفه کی رالیږلے وه۔

ددے وجے نه تاسو د هغوی سره احسان اوکړئ بله وجه دا ده چه زما وړاندے مور چه د سیدنا اسمعیل علیه السلام مور ده هغه ددے قبطیانو نه ده او د مصر والو نه ده نو ددوی په واسطه تاسو د مصر والو سره احسان اوکړئ، څومره وړاندے نسب نبی کریم ﷺ پالیلے دے او زمونږ خو د پلار ځوی وی او رانه پاتی وی او د یو لسو روپو دپاره درز ورکوو، د تره ځامنو سره خو خبرے هم نشته هغوی ته خو خلك تربوران وائی، تربور معنی ده " دشمن " د تره ځامن خلك دشمنان ګنړی، نبی کریم ﷺ د دومره وړاندے نسب لحاظ ساتلے دے دا حدیث او دا تاریخ مونږ ته داسے عبرت خبرے ښائی۔

د سیدنا ابراهیم علیه السلام اسماعیل علیه السلام او د هغه مور لره په مکه مکرمه کی پریخودل

د سیدنا ابراهیم ؑ نه سیدنا اسمعیل ؑ پیدا شو، لره زمانه (دولس دیارلس کاله) روسته بیا سیدنا اسحٰق ؑ پیدا شو، هغه ئے بیا سیده ساره رضی الله عنها ته ورکړو بیا د سارے رضی الله عنها هم بچی پیدا شو ځکه دا طریقه ده چه یو خاوند وی د هغه بچی نهٔ کیږی او دا مشره ښځه راولګیږی خاوند له ښځه وکړی په ښنتوب باندے صبر اُوکړی چه دا ښنه دے راشی خیر دے خو چه ددے خاوند بچی مے پیدا شی او دهٔ کور خراب نشی نو الله سبحانه وتعالیٰ د هغے نیك نیتئ ته ګوری نو مشرے له هم بچی ورکړی، یا کله خو هغے اولے له الله تعالی اولاد شروع کړی،

ډیر کسان دا سی دی چه هغوی دا کار کړے دے نو هغوی له الله تعالیٰ ځامن ورکړی دی د ښنه نیت د وجے نه، نیك او ښنه نیت هم ډیر اوچت شے دے، سړے ښنه نیت او

ښائستـه اراده اوکړی دا ډیر اوچت شے دے په ښکلی ښکلی نیتونو ډیر ښکلی فیصلے کیږی، نو سیدنا اسحاق علیه السلام دولس دیارلس کاله روسته پیدا شواو سیدنا اسمعیل علیه السلام مشر وو۔

بیا الله سبحانه و تعالی سیدنا ابراهیم علیه السلام تـه حکم اُوکړو چه ته د فلسطین نه لاړشه او خپله دا ښځه هاجره او اسماعیل علیه السلام بوځه کوم چه تاته ډیر محبوب دے ځکه چه کله د انسان یو ځوی وی او په دعاګانو پیدا شوے وی نو هغه سړی ته ډیر محبوب او ګران وی دا دواړه بوځه او په مکه مکرمه کی ئے پریده،

د دوی د پریښودو دوه وجے وے یوه وجه دا وه چه دا د الله تعالیٰ امر وو چه دا هلته بوځه او یواځے ئے پریده ځکه دغه ځای کی کعبه آبادیږی، د الله سبحانه و تعالیٰ حرم او بیت الله به آبادیږی د هغے د خاطره دا یوسه۔

دویمه وجه دا ده چه د سیده هاجره او سیده ساره رضی الله عنهما ترمینځ به څه خبرے راتللے د ښنتوب د وجے نه ځکه چه انسانان دی، انسانان که هر څومره اُوچت وی لیکن زړونو کی ئے تنګوالے راځی نو یو بل سره به ئے کله کله خبره راتلله۔

سیده هاجره رضی الله عنها د وینځے پشان حیثیت لرلو او مسافره هم وه، ددے د خاطره الله سبحانه و تعالیٰ ورته امر اوکړو چه دا ددے ځای نه بوځه چه د دے ښځو اختلاف هم نۀ پیدا کیږی او سنت طریقه هم دا ده،

زمونږ د نبی کریم ﷺ طریقه دا ده چه د یو سړی دوه یا درے یا څلور ښځے وی نو هغه به شریکی نه اُوسوی بلکه هغوی له به جدا جدا کورونه ورکوی، که بیل کور نشے ورکولے نو بیله بیله کوټه به ورکوی، خوراك، څکاك او خرچه او هرڅه پروګرامونه به ئے جدا جدا وی لکه سیده عائشه بیله وه، سیده ام سلمه بیله وه سیده ام حبیبه بیله وه (رضی الله عنهن) اګر که بچی ئے هم نۀ وو، دوی په یو ځای هم خوراك کولے شو لیکن سنت عمل داسے ندے، سنت دا ده چه هرے یوے ته به بیله بیله خرچه ورکوی او کوټه به هم بیله بیله ورکوی،

زمونږ د بعضے پښتنو عادت دا دے چه ښځه اُوکړی د هغے بلے ښځے سره ئے شریکه اُوسوی، دوډئ ئے هم شریکه وی او دارنګه کله ورسره مور او پلار هم په یوه کوټه کی شریك اُوسیږی، کله ورسره رونړه او خویندے هم وی دا د اسلام خلاف ده۔

سیدنا ابراهیم علیه السلام خپله زوجه سیده هاجره رضی الله عنها او خپل بچے سیدنا اسمعیل علیه السلام واخستل او د فلسطین نه ئے راروان کړل او دلته مکے مکرمے ته ئے راوستل مکه هغه ځای وو چه (لَيۡسَ بِهَا اَنِيۡسٌ) نهٔ پکی انسان شته دے نهٔ پکی کوم کور شته، نهٔ پکی اُوبه او کوم فصل شته دے، نهٔ پکی بازار بلکه یوه شاړه صحرا ده، میدان او غرونه او ځنګل دے۔

کعبه په داسے ځای کی جوړه شوی ده چه یو ناو دے یو خوا او بل خوا ترے غرونه دی او بس، خو دا غرونه اُوس تقریباً وهلے شوی دی خلکو ته نهٔ ښکاره کیږی، مخکی کعبه په یو ناو کی د خوړ په غاړه جوړه شوے وه، خوړ دے په خوړ کی پاس اُوچت ځای دے پدے کعبه جوړه شویده،

کله نا کله سیلابونو هم دا کعبه وړے ده، په داسے یو شاړ ځای کی ئے خپله زوجه او ځوی پریښودل او سیدنا ابراهیم علیه السلام ترے روان شو لړ غوندے اُوبه او کجورے ئے ورسره پریښودے، د الله سبحانه و تعالیٰ کارونه هم ډیر عجیب وی،

سیدنا ابراهیم علیه السلام ترے روان شو هغه ئے یواځے پریښوده، دے ښځے ورته اواز اوکړو چه (اِلٰی مَنۡ تَكِلُنَا یَا اِبۡرَاهِیۡمُ؟) اے ابراهیمه! ته مونږ چاته پریږدے؟ هغه ورته آواز نهٔ کولو نهٔ ئے ورته مخ راړولو بیا ئے ورته وویل (اِلٰی مَنۡ تَكِلُنَا یَا اِبۡرَاهِیۡمُ؟)

تهٔ مونږ چاته پریدے؟ دریم ځل ئے ورته دا وویل: ته مونږ چاته پریدے؟ نو څلورم ځل ئے ورته دا اُوویل (آللّٰهُ اَمَرَكَ بِهٰذَا؟) دا د رب العلمین امر دے تاته چه داسے اوکړه؟ هغه ورته مخ راوګرځولو چه آؤ، رب العلمین ما ته دا امر کړیدے چه داسے اُوکړه،

(داسے اوچت او پوخ ایمان به د چا وی ؟)

نو سیده هاجره رضی الله عنها ورته وویل :(اِذًا لَایُضَیِّعُنَا اللّٰهُ)

هر کله چه دا د رب العلمین امر دے نو رب العلمین به مونږ نهٔ ضائع کوی خیر دے که پدے ځای کی پاتی شو چه الله راسره ملګرے وی،

معلومیږی چه دا د سیدنا ابراهیم علیه السلام په کور کی تربیه شوے زنانه وه اُوچت ایمان ئے زده کړے دے او د الله سبحانه وتعالیٰ سره ئے ډیر اُوچت تعلق دے، که صحیح تعلق د چا نهٔ وی نو ځانله ځای کی انسان تنګیږی، مونږ انسانان د الله تعالیٰ د تعلق د کموالی د وجے نه ځان له والی کی بور کیږو، خلك وائی زه بور کیږم چه د بل چا سره کیناستل

ونکړي او ګڼونه ونۀ لګوي او خبرے اترے ونکړي نو تنګيږي، د نيکانو خلکو طريقه دا وه چه په يوا ځوالي کې به خوشحاليدل۔

پدغه طريقه سيدنا ابراهيم علیه السلام لاړو او کله چه د دوی نه غائب شو او د يو ډيرکۍ نه اخوا واوړيدو بيا کعبے طرفته متوجه شو، کعبه لا جوړه نۀ وه روسته به جوړيږي، نو دعاګانے ئے وکړے،

قرآن کريم کې هغه دعاګانے ذکر دي چه هغه رب العلمين ته دومره خوښے دي چه قرآن کې ئے رانقل کړيدی، ﴿ رَبِّ اجۡعَلۡ هٰذَا بَلَدًا اٰمِنًا وَّارۡزُقۡ اَهۡلَهٗ مِنَ الثَّمَرَاتِ ﴾

يوه دعا دا چه ددے علاقے نه بلد (ښار) جوړ کړه چه دلته خلك راشي او بل دا چه دلته رزق نيشته رزق پکې پيدا کړه او دريمه دعا ئے دا وکړه چه ﴿ مَنۡ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالۡيَوۡمِ الۡاٰخِرِ ﴾ الله پاکه رزق پکې هر هغه چاته ورکړه چه په تا او په آخرت ئے ايمان راوړے دے، مؤمن او مؤحد بنده دے، کافر او مشرك ته ئے مۀ ورکوه، الله سبحانه و تعالیٰ ورله دا مخکې دعاګانے قبولے کړے او دے روستنۍ دريمے دعا په باره کې ئے ورته وويل:

﴿ وَمَنۡ كَفَرَ فَاُمَتِّعُهٗ قَلِيۡلًا ﴾ کافرو ته به هم رزق ورکوم ځکه بيا دنيا دارالامتحان نۀ جوړيږي ځکه که دا دعا قبوله شوی وے نو په مکه کې به صرف مؤمنان موجود وے که څوك کافر او منافق ورتللے نو مکے به بيرته ديکه ورکولے نۀ به ئے پريخودلے نو دنيا کې به پته لګيدلی وے، دنيا خو دارالامتحان ده کافر، مومن او منافق هريو ورتللے شي، ډير مشرکين پکې اوسيدل، نو الله سبحانه و تعالیٰ اوفرمايل چه کافر ته به رزق ورکوم لږه زمانه خوراکونه به وکړي، لږه فائده به ورکوم ﴿ ثُمَّ اَضۡطَرُّهٗۤ اِلٰى عَذَابِ النَّارِ وَبِئۡسَ الۡمَصِيۡرُ ﴾ بيا ئے جهنم ځای دے۔ (بقره: ۱۲۶)

او دا دعائے هم اوکړه:

﴿ رَبَّنَاۤ اِنِّىۡۤ اَسۡكَنۡتُ مِنۡ ذُرِّيَّتِىۡ بِوَادٍ غَيۡرِ ذِىۡ زَرۡعٍ عِنۡدَ بَيۡتِكَ الۡمُحَرَّمِ ﴾

يا الله! ما خپله ښځه او بچے په داسی ځای کې پريښوده چه دلته هيڅ شينکی او ګياه نشته خو دلته ستا کور جوړيدو والا دے ځکه د الله تعالیٰ امر ورته دا وو چه دلته به بيت الله جوړيږي نو يا الله ته دوی ته رزق ورکړه د ميوونه او بل دا چه

﴿ فَاجۡعَلۡ اَفۡئِدَةً مِّنَ النَّاسِ تَهۡوِىۡۤ اِلَيۡهِمۡ وَارۡزُقۡهُمۡ مِّنَ الثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمۡ يَشۡكُرُوۡنَ ﴾

(سورة ابراهيم: ۳۷)

یاالله ! د خلکو زړهٔ کی د دوی سره مینه پیدا کړه څکه داسے شاړ ځای ته څوک چرته ځی او رزق ورله ورکړه دے دپاره چه ستا شکر گزار شی)

الله سبحانه و تعالیٰ دا دعا په دومره اُوچت انداز کی قبوله کړے ده چه د یو فاسق انسان هم د کعبے سره محبت دے، د حرم شریف زیارت به ئے خوښ وی، مونږ به هم دلته نکوی خو که دا دے ورته اوویل چه عمرے یا حج ته ځے نو بالکل ورته تیار دے، کاروبار او دکانداری هم ورته پریږدی خو حرم ته روانیږی یو کال به لاړشی بل کال ته به ئے بیا زړهٔ شوق کوی چه زه به څنگه لاړشم۔

دا د سیدنا ابراهیم ﷺ دعا ده چه دومره زور پکی دے چه زمونږ زړونه ئے راښکلے دی که دا نهٔ وے نو هغه ځای خو تکلیفی ځای وو، په لاره به دے سفرے کولے گرانے سفر به وے لوږے تندے به وے، اُو به به هم نهٔ ملاویدے اوس پکی لږه آسانی راغلے ده خو من وجه اُوس هم پکی تکلیف دے، خو پخوا پکی تکلیف ډیر زیات وو نو سیدنا ابراهیم ﷺ دغه دعاگانے وکړے۔

علما فرمائی د (لَعَلَّهُمۡ یَشۡکُرُوۡنَ) نه دا فائده معلومیږی چه رزقونه ددے مقصد دپاره ندی چه د سړی شهوتونه پرے ډیر شی او بدن ئے پرے پیړشی بلکه چه مال درسره زیات شی نو د الله شکر به زیات کوے او خپل عبادتونه او بندگیانی به زیاتوی او په ځان به د الله تعالیٰ احسانات منی، توحید به ئے منے او د هغه تعظیم به کوے۔

سیدنا ابراهیم علیه السلام ددے دعاگانو نه روسته بیرته واپس فلسطین ته لاړلو او ښځه او بچے ئے دلته یواځے پریښودل۔

دا هغه ته پدے طریقه د الله تعالیٰ د طرفنه امر او حکم وو دا کار اُوس مونږ نشو کولے څکه مونږ ته دا حکم نشته، هغه نبی دے او دا وحی ده پدے باندے به څوک قیاس نکوی چه یو سړے وائی زه تبلیغ له ځم او دا ښځه اوبچی به دغه شان شاړه کی پریدم څکه چه سیدنا ابراهیم ﷺ او سیدنا موسیٰ ﷺ هم دا کار کړے دے زه به هم داسے کوم، دا په مونږ فرض نده دا د انبیاؤ علیهم السلام خصوصیت دے هغوی ته دا وحی شوے ده دے باندے به قیاسونه نهٔ کوی، زمونږ چه کوم شریعت دے او د رسول الله ﷺ چه کوم حکم مونږ ته دے مونږ به په هغے باندے عمل کوو۔

پدے مابین کی سیده هاجره او سیدنا اسمعیل ﷺ دلته ډیره وو کجورے به ئے خوړلے

او اُویـه بـه ئـې څـکلـې تـر دې چـه هـغـه کجورې او اُویه ختمې شوې نو دا ماشوم دومره ورِوکې دې چه پیٔ خوری نو د مـور په سینه کی چه کوم پیٔ وو هغه هم وُچ شول نو تنده هم راغله او لوږه هم، دا ډیره سخته خبره ده، بنده یواځې هم وی او بیا لوږه او تنده هم نو دیته صبر نهٔ کیږی،

بیا سیـده هاجره رضی الله عنها د اسبابو په درجه کی ددې ځای نه روانه شوه چه زه ځم او هلتـه اُویه طلب کوم نو د (صفا) غونډیٔ ته وختله هلتـه ئې اخوا دیخوا وکتل بیا د هـغـه ځـای نـه روانه شوه (مروه) ته د (مروه) او د (صفا) په مابین کی یوه کنده راځی چه اُوس ئې بـنـده کړې ده پـدې کـنده کی ئې منډه وکړه دا وجه ده چه کله څوك عمره کوی یا حج نو پدغه ځای کی به منډه کوی دا سنت د سیده هاجرې رضی الله عنها دی او زمونږ رسول الله ﷺ دغه طریقه اختیاره کړې ده مونږ د هغه تابعداری کوو،

پـدې ځـای کـی ډیره تیزه لاړه لـکـه مـصیبت زده انسان چه منډه وهی، مروه تـه ورسیـدلـه هلتـه ئې هـم اخوا دیخوا وُکتل بیرته واپس راغله بیا صفا ته وختله دا دوه نـزدې غـرونـه وو، اووه ځـلې ئې دا منډه وکړه، آخر دا چه دا په مروه باندې ولاړه وه سیدنا جبریـل علیه السلام الله سبحانه و تعالیٰ راولیږه، سیدنا جبریل علیه السلام چه راغې اول ئې دا کـار اُوکـړو چـه دیتـه ئې آواز وکـړو، دې وویل چه دا آواز د چا دې نو ځان ته ئې وویل چه چُپ شه(صَهٖ) چُپ شه، نوبیا ئې ورته آواز وکړو نو دې ورته وویل :

(قَدۡ اَسۡمَعۡتَ اِنۡ کَانَ عِنۡدَكَ غَوَاثٌ)

خبره دې ماته راواوروله ته څوك ئې کچرته تاسره مدد وی نو راوړه۔

پـدې وخت کی چه سیده هاجره دغه ځای له راغله نو سیدنا جبریل علیه السلام په خپل وزر بـانـدې زمـکه ووهله اُویه ئې راویستلې زمزم اُویه دلته راووتلې، ځینی خلك وائی زمزم اُویـه د اسمعیل علیه السلام پـه لـتـه راوتـلـی دی مـگـر دا خبـره صـحیح نه ده بلکه دا د سیدنا جبریل علیه السلام په وزر باندې زمکه وهلې شوې ده او اُویه ترې راوتلی دی ډیرې مبارکې او د جراثیمو نه پاکې اُویه دی۔

نبی کریم ﷺ فرمائی : [طَعَامُ طُعۡمٍ وَشِفَاءُ سُقۡمٍ] چه د ډوډیٔ په ځایٔ کار ورکوی او هـر قسم بیماریانی پرې الله سبحانه و تعالیٰ ښې کوی خو چه کله ئې سړې په یقین سره وڅکـی د الله سبحانه و تعالیٰ په فضل باندې دا کمال په هغې کی شته دې، عامې اُوبو

باندے چہ اته لس ورځے سر بند کړے شي نو بوئي کوي او د زمزم اُوبه لسو کالو پورے هم بوئي نۀ کوي،

ډیر کافر خلك هم دے ته تعجب کوي چه دا خلك بهر ملکونو ته وړي او ډیر وخت پرے تیرشوي وي او هيڅ قسم جراثیم پکی نۀ وي اونۀ بدبويه شويوي، دا يو کرامتي اُوبه دي دا په هغه وخت کې الله تعالیٰ پیدا کړي وي، بیا ورکے شوي روسته د عبد المطلب په قصه کې راځي ان شاء الله چه الله سبحانه و تعالیٰ د هغه په لاس راتازه کړے۔

نو زمزم د اُوبو په څکلو سره د سیده هاجره رضی الله عنها په سینه کې پئ پیدا شو، نو ماشوم ته ئے پئ ورکول نو پدے کې الله سبحانه و تعالیٰ بل پروګرام وکړو هغه دا چه جُرهُم یوه قبیله وه د یمن نه راروانه وه بنوجُرهم ئے ورته وئیل عرب خلك اکثر پدے یمن باندے آباد وو نو د هغه ځای نه دا جُرهم قبیله راروانه شوے ده پدے لاره باندے تیریږي،

دا جُرهُم قبیله ولے د دغه ځای نه راروانه شوے وه ؟ د دے ناشْنا وجوهات دي يو د هغه نه دا وو چه رومیانو به د دے خلکو سره جنګونه کول، روم والو دا خلك د خپل وطن پریښودو ته مجبوره کړي وو یا دا چه خپل مابین کې قومي جګړے وے، دوه قبیلے چه حِمْیَر بن سباء او ګهلان بن سباء ورته وائي د هغوي خپل مینځ کې به اختلافات راتلل نو د دے وجے نه د خپل علاقے نه راوتلي وو،

د دے یوه بله وجه هم ده چه پدغه علاقه کې يو ډیم وو چه د دغه ډیم واقعه به روستو بیان کړو د هغه ډیم د ماتیدو د یرے د وجے نه چه ډیم لامات شوے نۀ وو لیکن ماتیدلو ته نزدے شوے وو ځینې کسانو ته پته لګیدلے وه د څه ذرائعو او اسبابو په واسطه چه روسته به ئے ذکر کړو نو د دے وجے نه راوتلي وو او راروان شوي وو،

دلته ځان له ځای پیدا کوي پدے اراده چه د مهاجرت ژوند تیر کړي نو د مکے نه لاندے يو ځای کې دیره شو او دمه ئے وکړه چه وے کتل مرغان ورته ښکاره شو خپل مینځ کې ئے ووئیل چه مرغان نۀ وي مګر د اُوبو په غاړه وي څکه چه اُوبه يو ځای کې نۀ وي هلته مرغان هم نۀ وي، دا مرغان څنګه دلته تاویږي راتاویږي، نو يو کس ئے ورولیږه چه وے لیدل دلته اُوبه دي اودا دوه کسان ئے پخوا کې ناست دي یوه زنانه ده او يو ورسره ماشوم دے، واپس ئے هغوي له خبر راوړلو چه دلته اُوبه پیدا شوي دي،

بنوجُرهم راغلل (وَكَانُوا اَصۡحَابَ خُلُقٍ) د عربو عادت دا وو چه اخلاق ئے ډیر ښه وو اخلاقی ماده پدے خلکو کی ډیره زیاته وه نو دے ښځے سره ئے ظلم ونکړو چه په زوره نکاح ورسره وکړی او بچی ترے هم واخلی او اُوبه ترے هم ونیسی بلکه د هغے نه ئے اجازه طلب کړه چه ته مونږ ته اجازه راکوے چه مونږ ستا خوا کی ډیره شو؟

سیده هاجرے رضی الله عنها ورته وویل بالکل ډیره شئ زمکه خو ځانله ځما نده ستاسو دی هم وی راځئ، بیا ترے اجازه طلب کړه چه دا اُوبه به مونږ ته راکوے او که نه؟ هغے وویل: آؤ، اُوبه به درکوم لیکن (لَا حَقَّ لَكُمۡ فِي الۡمَآءِ) د اوبو مالکه به زه حسابیږم نور تاسو ترے څکل کوئ، خپلے جامے پرے وینځئ او د ضرورت دپاره ئے استعمالوئ، ستاسو حق به پکی نۀ وی، بنوجُرهُمو وویل صحیح ده همداسے به وی.

حدیث کی راځی چه کله د زمزم اوبه راووتلے نو ډیرے زیاتے وے نو سیده هاجرے رضی الله عنها دیته دیوال ووهلو چه دا اُوبه لږ ډنډ شی د دے دپاره چه ختمے نشی، نبی کریم ﷺ فرمائی: (رَحِمَ اللّٰهُ أُمَّ إِسۡمٰعِيۡلَ لَوۡ تَرَكَتۡ زَمۡزَمَ لَكَانَتۡ عَيۡنًا مَعِيۡنًا)

(بخاری: ٢٣٦٨)

الله سبحانه و تعالیٰ دے په اِم اسمٰعیل باندے رحم وکړی کچرته دے ورته دیوال نۀ وے وهلے نو دا به بهیدونکے چینه وے،

دا اوبه به د نهرونو پشان روانے وے لیکن د هغی د دیوال د وجے نه اُوبه کمے شوے،

دا ناشنا د راز خبره ده د ایمان سره تعلق لری، هغه څوك پرے پو هیږی چه زور مؤمنان وی، هغه راز دا دے چه دلته په الله سبحانه و تعالیٰ باندے اُوچت توکل پکار وو هغه ذات چه مونږ سره اُوبه نۀ وے هغه راته اُوبه پیدا کړے، نو دیوال وهلو ته څه ضروت دے که خلاصے شوی نورے به راکړی، مخکی هم الله تعالیٰ وو نو بیا هم الله شته، څرنگه چه زمونږ د عامو خلکو عادت دا دے چه الله تعالیٰ دے وخته پورے رزق راکړو صبا له به څه کیږی؟ ته به وائے (معاذ الله) چه الله سبحانه و تعالیٰ صبا له رزق ورکولو باندے قدرت نۀ لری یا مهربانه ندے یا په هغه کی څه تغیر او تبدل پیدا کیږی، دا د انسانو مزاج دے چه د راتلونکی زمانے د پاره غم کوی او دیته نۀ گوری چه دا مخکی ماله چا رزق راکړو اُوسه پورے چا ساتلم نو روستو به مے هم هغه ساتی او رزق به راکوی نو سیده هاجرے رضی الله عنها دیوال دے دپاره ووهلو چه دا اُوبه چرته

خلاصې نښې پکار دا وه چه دې پدې کار کې توکل علی الله کړې وې نود دیوال وهلو په وجه نقصان دا اوشو چه اُوبه کمې شوې.

يو صحابي رضي الله عنه ته الله سبحانه و تعالىٰ داسې کرامت ورکړې وو چه ميچنې به ئې وړه غورزول څکه چه د الله سبحانه و تعالىٰ نه ئې دعا کړې وه، ده دا وړه لړ راجمع کړل بيا ئې اراده وکړه چه دا وګوری چه دا د کوم طرفنه راوځي نو ميچنه ئې اُوچته کړه نو الله تعالىٰ دغه وړه ودرول او ميچنې بيا هغه شان کار نکولو، نبی کريم ﷺ ورته اُوفرمايل که دا تا نهٔ وې اُوچته کړې نو د قيامته پورې به روانه وې او وړه به ئې کولې،

د الله سبحانه و تعالىٰ په قدرت کې تا څه له ګوتې وهلې، داسې ځای کې په الله سبحانه و تعالىٰ باندې ډير اعتماد پکار وي خو انسان کمزورې دې که هر څومره اُوچت انسان وي داسې خبرې زړهٔ کې راځي چه دا به څنګه کيږي،

الغرض: بنوجُرهُم پدې ځاى کې آباد شو او ددې هم ورسره اُنس او تعلق پيدا شو، تر دې چه سيدنا اسمعيل عليه السلام لږ راغټ شو نو سيده هاجره رضي الله عنها الله تعالىٰ وفات کړه او سيدنا اسمعيل عليه السلام راولګيدو په دوی کې ئې نکاح وکړه، سيدنا ابراهيم عليه السلام په فلسطين کې اُوسيده، الله تعالىٰ ورته حکم وکړو چه مکې ته لاړ شه.

نو څلور څله سيدنا ابراهيم عليه السلام راغلې وو يو کرت چه راغې نو سيدنا اسمعيل عليه السلام په کور کې ندې موجود چا ورته کور وروښودهٔ چه دا ئې کور دې د هغه د ښځې نه ئې تپوس وکړو چه خاوند دې چرته تللې دې؟ هغې ورته اوويل: ښکار له تللې دې، سيدنا اسمعيل عليه السلام به ښکار کولو د هغوی خوراك ښکار وو، غشې وغيره به ئې د همدې مقصد دپاره جوړول په هغه زمانه کې جهادونه او قتالونه نهٔ وو فرض شوی ليکن د ښکار او خپل مينځ کې جنګونو دپاره به ئې جوړول.

سيدنا ابراهيم عليه السلام ترې تپوس اُوکړو چه د کور څه حال دې؟ هغې ورته شکايت اُوکړو چه ډير بد حال دې، د لوږې او تندې حالت دې او هيڅ هم نيشته نو سيدنا ابراهيم عليه السلام هغې ته وويل چه خاوند دې کله راغې نو زما سلام ورته وايه، او بيا ورته دا ووايه چه (غَيِّرْ عَتَبَةَ بَابِكَ) د خپل کور د دروازې درشل بدله کړه،

سيدنا ابراهيم عليه السلام واپس لاړو، دا هم ناشنا خبره ده چه د فلسطين نه راغلې دې نهٔ شپه تيروی او نهٔ ورځ، سيدنا اسمعيل عليه السلام خو د ښکار دپاره ډيره موده نهٔ تيروله بلکه

مابنام له به راواپس کیدو لیکن د الله تعالیٰ امر ورته دا دے چه ته لږ وخت دپاره لاړشه پدے کی به نور ناشنا حکمتونه وو چه الله تعالیٰ ته هغه معلوم دی،

بیرته واپس لاړو چه مابنام له یا صبا له سیدنا اسمعیل علیه السلام واپس راغلو څه داسے احوال ئے معلوم کړل چه کورته څوك راغلی دی تپوس ئے اُوکړو چه څوك میلمه خو نهٔ وو راغلے؟ نو ښځے وویل چه یو سپین ږیرے سړے راغلے وو، زمونږ د احوالو تپوس ئے اوکړو ما ورته شکایت اوکړو بیا هغه تا ته سلام پریښودو او د سلام نه روستو ئے دا وویل چه د دروازے درشل بدله کړه، سیدنا اسمعیل علیه السلام وویل : دا خو زما پلار وو او د دروازے درشل همدا ته ئے، هغه ما ته امر کړے دے چه تا زهٔ طلاقه کړم، انبیاء کرامو علیهم السلام ته الله سبحانه وتعالیٰ ډیره هوښیارتیا ورکړی وی دا هسے ساده خلك نهٔ وی بلکه ډیر اُوچت بندگان وی ځکه ئے الله تعالیٰ انبیاء گرځوی، په اشاراتو باندے یو بل سره پو هه شو۔

د دے ځای نه دوه فائدی راووتلے، (١) اوله فائده دا ده چه کله پلار بچی ته اووائی چه ښځه دے طلاقه کړه هغه به ئے طلاقوی کله چه پلار د سیدنا ابراهیم علیه السلام یا د سیدنا عمر بن الخطاب رضی الله عنه پشان هوښیار سړے وی د هسے پوډری په خبره به ښځه نهٔ طلاقوی هغه پلار چه هوښیار دے او په صحیح مشوره باندے تاته اووائی چه ښځه دے طلاقه کړه په دے کی ماته نقصان ښکاره کیږی دا زما خوښه نده، دا زهٔ کور کی نهٔ ساتم نو پدے وخت کی به بچے د پلار خبره منی،

حدیث کی دی : ابودرداء رضی الله عنه نه یو سړی تپوس وکړو چه مور راته وائی چه ښځه طلاقه کړه نو هغه ورته وفرمایل چه ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلی دی :

(اَلْوَالِدُ اَوْسَطُ اَبْوَابِ الْجَنَّةِ اِنْ شِئْتَ فَحَافِظْ عَلَيْهِ وَاِنْ شِئْتَ فَضَيِّعْهُ) (الترمذی: ١٩٠٠)

(پلار د جنت منځنئ دروازه ده که غواړے هغه وساته او که غواړے هغه ضائع کړه)

دلته ابودرداء رضی الله عنه د والد نه عامه معنیٰ واخسته یعنی بچے راوړونکے نو پدے معنیٰ باندے والدے ته هم شامل دے۔ والده چه کله عقلمنده وی او ځوی ته د ښځے په طلاقولو حکم وکړی د هغے حکم به هم منلے کیږی۔

سیدنا عمر رضی الله عنه خپل ځوی سیدنا عبد الله ته وویل چه ښځه دے طلاقه کړه هغه نهٔ طلاقوله نو نبی کریم ﷺ ته ئے شکایت اُوکړو، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل چه د

پلار خبره اُومنه طلاقه ئے کړه۔

د پلار خبره منل دومره ضروری شے دے، اُوس زمونږ په دے زمانه کی تاسو اُوګورئ خلك د پلارانو سره په وړو وړو خبرو جګړے کوی، مقابلے او مناظرے ورسره کوی او دا وائی چه دا پلار زمانه بنه نهٔ پو هیږی دا جاهل او ساده دے دا د پخوانئ زمانے سړے دے، د پلار دومره حق دے چه د هغه په امر به ښځه هم طلاقوی اګرکه تا به په وادهٔ باندے لکهونو روپئ هم لګولی وی۔

(۲) فائده په دے کښی دا ده چه ناشکری ډیر بد صفت دے، ناشکری د عامو خلکو مرض دے (اِلَّامَنْ رَحِمَ رَبُّكَ) چه تپوس ترے اُوکړے څه حال دے ؟ نو وائی به ډیر بدحال دے بالکل کارونه نیشته دے، خرچه نشته، په کور کی هیڅ نشته او پریشانی ده، دا خبرے مونږ او تاسو کوو، دا ډیره غلطه طریقه ده بلکه داسے به وائی چه الحمد لله د الله سبحانه و تعالیٰ شکر دے ډیر ښه حالت دے، که ډیره سخت حالت وو نو الحمد لله علی کل حال وایه او که لږ ګذارے والا راحت وو نو الحمد لله رب العالمین اُووایه، د ناشکرئ الفاظ مهٔ استعمالوه، ګنے الله تعالیٰ به دے د ځان نه جدا کړی

لکه څنګه چه سیدنا ابراهیم علیه السلام سیدنا اسمعیل علیه السلام ته اوویل دا ښځه دے جدا کړه ناشکره ښځه د کور نه شړل پکار دی چه کله شکایتونه او ناشکری کوی، نو هغه ئے طلاقه کړه،

د عربو طریقه دا وه چه طلاق ئے بد نهٔ ګنړلو او دومره نفرت ئے نهٔ کولو چه بیخی د هغه سړی سره ورانه کړی او تر دے چه د هغه جنګ او قتل ته تیار شی۔

او طلاق په اسلام کی جائز کار دے صحیح ده چه بهترین شی ندے بلکه جائز شے دے کله چه سړے تنګ شی د خپلی ښځے سره نو د ځان نه ئے جدا کولے شی، مسئله کی تفصیل نهٔ کوو صرف اشارات مو ورکړل۔)

جُرهم قبیله راولګیده سیدنا اسمعیل علیه السلام ته ئے بله جینئ په نکاح ورکړه، د هغے نوم وو سَیِّدَه بنت مَضَاض بن عمرو الجرهُمی وو نو سیدنا اسمعیل علیه السلام بله ښځه وکړه۔

بیا سیدنا ابراهیم علیه السلام څه موده پس راغے د الله سبحانه و تعالیٰ په امر باندے چه دا خپله تَرکه او دا خپل پریښودلے شوے مال وګوری بیا چه راغے د تقدیر کار ته وګورئ چه سیدنا اسمعیل علیه السلام بیا ندے موجود، نو د ښځے نه ئے تپوس وکړو چه اسمعیل

(ؑ) چرته تللې دې؟ هغې ووېل هغه خو صحراته وتلې دې د ښکار دپاره مونږ د پاره څه رزق ګوري، سيدنا ابراهيم ؑ ترې تپوس وکړو چه څه احوال دي ؟

هغې ووېل : الحمد لله ډير ښه حالت دې او ښه خوشحاله خوشحالي ده، سيدنا ابراهيم ؑ ووېل خوراك مو څه شې دې؟ هغې جواب ورکړو چه (اَللَّحْمُ وَالْمَآءُ) په غوښه باندې وخت تيروو او اُوبه استعمالوو،

نو سيدنا ابراهيم ؑ ورته ووېل كله چه ستا خاوند راشي نو اول پرې زما سلام ووايه او بيا ورته اووايه چه (ثَبِّتْ عَتَبَةَ بَابِكَ) د خپلې دروازې دُرشل مضبوط ساته۔

نو ابراهيم عليه السلام ورته دعا وكړه چه يا الله ! دې خلكو ته پدې غوښه او اُوبو كې بركت واچوه، نبي كريم ﷺ فرمائي: كه څوك په نورو ځايونو كې يواځې غوښه او اُوبه استعمال كړي نو دا موافق كيږي نۀ بلكه صحت خرابوي او كه په مكه مكرمه كې سړې يواځې غوښه او اوبه استعمال كړي نو د سړي صحت نۀ خرابوي ځكه چه سيدنا ابراهيم عليه السلام ورله دعاكړې وه،

سيدنا اسمعيل ؑ چه راغې تپوس ئې اُوكړو څوك ميلمه راغلې وو؟ ښځې ورته ووېل چه يو ميلمه راغلې وو، سيدنا اسمعيل ؑ وفرمايل : څه ئې وُېل؟ هغې په جواب كې ؤويل: دغسې خبرې ئې اُوكړې او ما داسې جواب وركړو، سيدنا اسمعيل عليه السلام وفرمايل : چه دا خو زما پلار وو دا امرئې ماته كړې دې چه دا ښځه ځان سره وساته، د دروازې دُرشل همدا ته ئې، تا د شكر خبرې كړيدي پدې وجه ئې ماته دا حكم كړې دې چه ته دې زما په نكاح كې ئې۔

بيا دريم ځل سيدنا ابراهيم ؑ راغې د الله تعالىٰ په امر باندې كله چه راغې نو سيدنا اسمعيل ؑ د يوې ونې لاندې ناست وو او غشي ئې تراشل او هغه ئې جوړول نو چه يو بل ئې وليدل نو داسې ملاؤ شو لكه څنګه چه پلار او بچې ملاويږي، ډيره موده د يو بل نه جدا شوي وو نو د يو بل سره ئې ډيره مينه او محبت اُوكړو او معانقه (غاړه) ئې يو بل ته وركړه او دا ئې ووېل چه رب العالمين ما ته امر كړيدې چه دې ځاى كې زۀ د الله تعالىٰ د پاره كور جوړوم كعبه جوړوم، كعبه دې وخت كې نۀ وه، سيدنا اسمعيل ؑ ورته ووېل ؛ (اَطِعْ رَبَّكَ) د خپل رب خبره اُومنه كعبه جوړول پكار دي نو سيدنا ابراهيم ؑ ورته وفرمايل ته به زما تابعدارى كوې؟ هغه ووېل: آؤ، زه به درسره پدې كې

مددګاریم نو سیدنا اسمعیل علیه السلام ورسره پدې کې مددګار شو دواړو پلار او ځوی کعبه جوړه کړه۔ (صحیح البخاری: ٣٣٦٥، کتاب احادیث الانبیاء)

کعبه اول چا جوړه کړیده؟

د تاریخي روایتونو نه داسې معلومیږي چه دا کعبه د پخوانه وه بیا سیلابونو وړې وه نو سیدنا ابراهیم علیه السلام راتازه کړه او اول دا کعبه ملائکو جوړه کړې وه بیا سیدنا آدم علیه السلام جوړه کړې وه بیا د سیدنا نوح علیه السلام په زمانه کې طوفان ویوړه، د هغې څه آثار نۀ ښکاره کیدل نو سیدنا ابراهیم علیه السلام ته الله سبحانه و تعالی وروښودل:

﴿ وَإِذْ بَوَّأْنَا لِإِبْرَاهِيمَ مَكَانَ الْبَيْتِ أَنْ لَّا تُشْرِكْ بِي شَيْئًا﴾ (انبياء:٢٦)

الله سبحانه و تعالی ورته د بیت الله هغه ځای وروښوده چه دې ځای کې پخوا زما کعبه وه هغه ته بیرته راتازه کړه،

سیدنا ابراهیم علیه السلام بیرته راتازه کړیده نو اول باني ئې داندې۔

لیکن محققین مؤرخین لیکي لکه امام ابن کثیر رحمه الله او د غه شان د قرآن اوحدیث د ظاهر نه همدا معلومیږي چه اول کعبه سیدنا ابراهیم علیه السلام جوړه کړیده، مخکې چا نده جوړه کړې هسې دې ځای له الله سبحانه و تعالیٰ د مخکې نه عزت ورکړې وو، د آسمان او د زمکې د پیدائش نه روستو الله تعالیٰ دا ځای عزتمند وګرځولو، په صحیح حدیث کې دا راغلي دي چه دا ځای د مخکې نه عزتمند وو، ددې وجې نه په قرآن او حدیث کې اکثر سیدنا ابراهیم علیه السلام ته نسبت کیږي چه هغه کعبه جوړه کړیده۔

د کعبې معنیٰ ده اُوچته زمکه، نو دا په اوچت ځای باندې جوړه شویده او الله تعالیٰ هم اوچته کړیده عزت ئې ورکړیدې۔

د ابراهیم علیه السلام د کعبې د جوړولو قصه

دې دواړو کعبه جوړوله سیدنا اسمعیل علیه السلام به کانړي ورکول او سیدنا ابراهیم علیه السلام به جوړوله، کله چه دیوالونه لږ اُوچت شول قوازۀ ورته لګول پکار وو، او قوازۀ نۀ وه

پدے کی الله سبحانه و تعالیٰ کانړے راوستہ سیدنا ابراهیم علیه السلام به پرے ودریده او دا کانړے به ورته الله تعالیٰ غتهولو، دا تاریخی روایتونو کی دی چه دا دیوال به څومره اوچتیده نو دا کانړے به هم ورته اوړدیده، ددے په وجه ئے دا کعبه اُوچته جوړه کړه او حطیم ئے هم پکی داخل کړے وو، حطیم د کعبے نه اُوس بهر ځای دے د سپوږمئ په شکل دیوال ترے تاو دے، دیته حِجر اسماعیل هم وائی او حطیم هم، دا د قریشو په زمانه کی د کعبے نه بهر شویدے لکه روستو راځی۔

کعبه ئے پدے طریقه جوړه کړه چه دوه دروازی ئے پکی ودرولی، یو میزاب (پرنالے) طرفته دروازه او بله دا معلومه دروازه وه کومه چه د حجر اسود په خوا کی ده دا دواړه دروازے ئے خکته د زمکے سره نزدے ولګولے چه خلك به پرے ورننوتل او بل طرفته به ترے وتل دوه رکعته مونځ به پکی خلکو کولو او بره چهت هم نۀ وو پداسی شکل باندے وه او ډیره غټه هم وه۔

الله رب العلمین وفرمایل چه کعبه خو جوړه شوه نو دے له به راځی څوك ؟ نو هغه ته ئے حکم وکړو چه صفا غونډئ ته وخیژه او اعلان وکړه باقی ذمه واری زما ده، سیدنا ابراهیم علیه السلام اعلان اوکړو لکه الله تعالیٰ قرآن کریم کی فرمائی :

﴿ وَاَذِّنْ فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ﴾ (الحج:٢٧)

(او اعلان وکړه خلکو ته په حج سره) چه په تاسو باندے الله تعالیٰ حج فرض کړیدے دے کور ته راشئ، دا آواز الله تعالیٰ د هغه بندګانو ارواحوته ورسولو د چا په نصیب کی ئے چه حج لیکلے وی، یا ئے تولو مخلوقاتو ته واورول نو څوك الله تعالیٰ هلته بوځی او څوك نۀ بوځی دا د هغه خوښه او د هغه اختیار دے نو الله سبحانه و تعالیٰ د مخلوق په زړه کی د هغه ځای سره مینه پیدا کړه او زړونه د الله تعالی په لاس کی دی، چاسره محبت پیدا کوی او چا سره نۀ،

روستو به د اَبْرَهَه قصه کی مونږ ذکر کړو چه هغه د سنګ مرمرو یوه کوټه جوړه کړے وه او سرۀ ئے پکی لګولی وو لیکن د مخلوق ورسره مینه نۀ پیدا کیدله او کعبه د کانړو نه جوړه شوی ده، ساده ساده کانړی پکی لګیدلی دی لیکن الله سبحانه و تعالیٰ د مخلوق په زړۀ کی د هغے سره مینه پیدا کړے ده ﴿ تَهْوِیْ اِلَیْهِمْ﴾

سیدنا ابراهیم علیه السلام دعا کړے وه چه اے الله ! د خلکو په زړونو کی ددے سره مینه پیدا

کړه)

نو د کعبې سره الله سبحانه و تعالیٰ د خلکو مینه وا چوله عام عرب به دې له راتلل او عام انسانان به هم دې له راتلل د حج او د عمرې دپاره او د هغه وخت نه دا حج او عمره رائج شول، مخکې حج او عمره نهٔ وو،

د سیدنا ابراهیم علیه السلام د زمانې نه د هغې رواج جوړ شو، دا د الله سبحانه وتعالیٰ یوه ښکلې بندګي ده، په دنیا کې د الله تعالیٰ د تعلق ځای دې چه بندګان هغې ته ورجمع کیږي ځکه الله تعالیٰ زمونږ محبوب دې او د محبوب د تعلق یو ځای او یو کور پکار دې چه خلك هغې ته راجمع کیږي چه تسلي پرې کیږي.

الله سبحانه و تعالیٰ په دنیا کې په سترګو نهٔ لیدلې کیږي لیکن د زړهٔ په بصیرت او د زړه په ایمان باندې لیدلې کیږي نو په کعبه کې تر اوسه پورې بندګي کیږي او قیامت ته نزدې پورې به روان وي، کله چه کعبه ورانه شوه دنیا به ورانیږي تر څو چه کعبه په دنیا کې آباده وه دنیا به نهٔ ورانیږي، الله تعالیٰ فرمائي :

﴿ جَعَلَ اللّٰهُ الْكَعْبَةَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ قِيَامًا لِلنَّاسِ وَالشَّهْرَالْحَرَامَ ﴾ (المائدة:٩٧)

(الله تعالیٰ کعبه عزتمند کور د خلکو دپاره سبب او ذریعه د ژوند جوړه کړیده).

چه دا تر څو وه دا دنیا به آباده وي او ددې په ورانیدو به دنیا ورانیږي.

نبی کریم ﷺ فرمائي : حبشو ته څه مهٔ وایئ ځکه چه دوی کې به یو سړې راځي کعبه به ورانوي، یعني که دوی شریان او مفسدان هم وي څه ورته مهٔ وایئ جنګ ورسره اول مهٔ شروع کوئ ځکه دوی به کعبه ورانوي، کله کله به یو کافر ددې وجه نه پریدې، غم غرض به پرې نهٔ کوې چه د هغه په پریښودو کې د اسلام او د مسلمانانو فائده ده.

کعبه سیدنا ابراهیم علیه السلام جوړه کړه عام خلك به دیته راتلل او عبادتونه به دلته کیدل او توحید خورشو، تردې چه د رب العلمین توحید په بنوجُرْهُم او عامو عربو کې خورشو، سیدنا اسمٰعیل علیه السلام ته الله سبحانه و تعالیٰ دولس بچي ورکړي وو او د هر یو نه غټې قبیلې جوړې شوې، پدې ټولو کې توحید وو او دا د توحید عقیده راروانه وه تر معد بن عدنان د زمانې پورې، معد بن عدنان د نبی کریم ﷺ یویشتم نیکه دې چه روسته به د هغه نسب ان شاء الله ذکر شي.

د سیدنا ابراهیم علیه السلام بنکلے دین او د هغه دعوت په دنیا کی خورشو او ټول عرب په توحید کی داخل شول، ټول مؤحدین وو مشرکین او کفار پکی نهٔ وو، که لږ څه پکی وو، وو به لیکن په ظاهره کی ټول مؤحدین وو، او د سیدنا ابراهیم علیه السلام تابعدار خلك وو۔

عربو ته شرک څنګه راغلو؟ د بنو جرهم د مکے نه ویستل

نو په عربو کی شرك څنګه راغلو او یهودیت او نصرانیت څنګه راننوتلو؟

د دے مختصره واقعه هغه دا ده چه په مکه مکرمه کی بنی جُرهم آباد وو او د سیدنا اسمعیل علیه السلام اولاد۔ نو په دوی کی بعضے نقصانات او فسادونه او شرونه پیدا شول، د الله سبحانه وتعالیٰ طریقه دا ده چه د مفسدانو ملګرے نهٔ دے که هغه هرڅومره مشهور شی الله تعالیٰ ئے بیرته ذلیل کوی،

د خزاعه په نوم باندے یوه قبیله وه چه دیمن نه راغلے وه چه دا د مکے مکرمے په ماحول کی آباده وه، یوه غټه قبیله وه، نو دغه خزاعه قبیله راولګیده په بنوجُرهُم قبیله باندے ئے حمله وکړه جنګ وشو نو د بنوجرهم نه ئے مکه ونیوله نو کله چه خزاعه قبیلے مکه قبضه کړه نو د سیدنا اسمعیل علیه السلام د اولاد نه مکه د لاسه ووتله او د بل چا په لاس کی واقع شوه۔

یعنی د مکے مشری، خدمت او تربیت د خزاعه قبیلے په لاس کی راغے نو بنوجُرُهُم قبیله چه کله دمکے نه وتله نو دوی دا کار وکړو چه د زمزم اُوبه ئے پټے کړلے د هغے د پاسه ئے کانړی واچول، سم غرئے پرے د پاسه جوړکړو چه خزاعه قبیلے ته پته ونهٔ لګی چه دلته اُوبه دی نو هغه اُوبه ئے بندے کړے بیا به مکے ته د بهر لرے لرے غرونو نه اُوبه راوړلے کیدلے او د زمزم اُوبه د عبدالمطلب د زمانے پورے ورکے شوے وے چه عبدالمطلب د نبی کریم ﷺ نیکه دے تقریباً پنځه شپږ سوه کاله بلکه ددے نه هم زیاتے د زمزم اُوبه ورکے شوے وے هیچا نهٔ پیژندلے چه دلته د زمزم اُوبه دی هسے خلکو کی مشهوره وه چه دلته یوه چینه وه او کوهے وو لیکن ځای ئے چا ته معلوم نهٔ وو، دخزاعه قبیلے د عداوت او دشمنئ د وجے نه دا اُوبه ورکے شوے وے بیا عبدالمطلب دا اُوبه راویستلے لکه روستو به قیصه راشی، جرهم قبیله څه په مکه کی پاتی شو او څه اخوا دیخوا اُو تبنتیدل او د خزاعه قبیلے حکومت په مکه باندے راغے۔

عربو ته شرک اول چا راوړلو؟

په خزاعه قبیله کې یو مشر وو (عَمرو بن عَامِر بن لُحَيّ الخُزَاعِي) چه دا ډیر مالداره سړے وو او په خپل قوم کې لوی سید او شریف وو، دهٔ به د حاجیانو دومره خدمت کولو چه لس زره اُوښان به ئے د هغوی دپاره ذبح کول، اُوبه به ئے هم خلکو ته ورکولے او په هغے کې به ئے وځکے اچولے او پیځ به ئے خلکو ته ورکول او ډیر سخاوتونه به ئے کول، د عربو عادت دا وو چه څوك به جواد (سخی) وو هغه به په دوی کې ډیر شریف انسان وو نو هغه به ئے خپل مشرکولو، نو عمرو بن عامر بن لحی خزاعی د قوم مشر وو نو د علاقې هم مشر شو او د خلکو په نزد ترے لوی پیر جوړشو، پیری او مشری ئے دواړه په لاس کې راغلل۔

عمرو بن عامر ظالم کې د شرك بیماری وه شرك اول دهٔ خوښ کړے دے۔

نبی کریم ﷺ فرمائی : ما په جهنم کې عمرو بن عامر بن لحی الخزاعی ولیده (يَجُرُّ قُصُبَهٗ فِي النَّارِ) چه خپلے کُلمے ئے په اور کې راخکلے یعنی کُلمے ترے بهر راوتلے وې او ځان پسې ئے راښکلے اوروان وو۔

د امام بخاری روایت دے چه دهٔ د سیدنا ابراهیم الطَّيِّكِ دین بدل کړے دے، د سیدنا اسمعیل الطَّيِّكِ چه کوم د توحید دین وو هغه دے ظالم بدل کړو لکه یو عالِم مؤحد د توحید دعوت اُوکړی بل پیر پسے راشی هغه توحید خراب کړی، خلکو ته بیرته د شرك دعوت ورکړی نو دے عمرو بن عامر پیر دا زیاتے وکړو چه شرك ده اول ایجاد کړو، په مکه کې صابیت دهٔ اول جوړ کړے وو او د سیدنا ابراهیم الطَّيِّكِ په دین کې غلط رواجونه دهٔ راداخل کړی وو،

د داسې پیرانو او غلطو مشرانو اولیډرانو نه به ځان ساتئ، ددے وجے نه قرآن مونږ ته دا وائی چه کوم مشر پسے ورځے هغه اول وګوره چه دا څوك دے تاته څه شے درښائی او کوم طرفته دے راکاړی؟ الله او رسول طرفته دے راکاړی او که د الله او رسول نه دے اړوی، څنګه مسئلے تاته بیانوی او ددے مسئلو څه عاقبت دے او څه انجام ئے دے؟، (اَتْبَاعُ كُلِّ نَاعِقٍ) مهٔ جوړیږه چه هر څوك چغه کړی او ته ورپسے ورمنډه کړے بلکه تحقیق وکړه چه دا سړے څوك دے؟ څه وائی څه خبره کوی؟ او دا خبره چه کوی نورو

علماؤ سره به پدے مشوره وکړم که حقه وی وبه ئے منم او که دروغ وی چه پریدم ئے۔

نو خلك د عمرو بن عامر بن لحی پسے روان شو دۀ یو بت پرستی عامه کړه سائبی، بحیری دا نذر د غیرالله په اوښانو او گلو او بیزو کی دۀ رائج کړو، په فصلونو کی شرك کول او د الله سره برخه داران جوړول دا هم دۀ رائج کړل۔

دارنگه په عربو کی بیا نور مرضونه راغلل د تلبیی بدلول او د لونړو خښول دا پکی پیدا شو، دا شرك په دۀ کی پدے طریقه راغلے وو چه عمرو شام تهٔ تللے وو او په شام کی عمالقه اُوسیدل هغه قوم چه سیدنا موسیٰ علیه السلام ورسره مقابله کړے وه عملیق بن لوذ بن ارم بن سام بن نوح علیه السلام د نوح علیه السلام په اولاد کی دا عمالقه راغلی دی چه دا د عادیانو د ترۀ خامن وو، او دوی په شام کی آباد وو او دوی مشرکین، بت پرست وو، شیطان ورته بت پرستی ښودلے وه نو هغوی به د بتانو عبادت کولو، عمرو چه ولیدل چه دوی د بتانو عبادت کوی نو داکارو ورته ښه ښکاره شو

(د سړی په زړۀ کی چه صحیح توحید نهٔ وی پروت نو شرك ورته ښه ښکاره کیږی او کله چه په زړه کی توحید وی او د الله تعالیٰ او د رسول مینه وی نوشرك به ډیر بد گنړی او نفرت به ترے کوی)۔

نو عمرو تپوس وکړو چه پدے بتانو تاسوخه کوئ؟ عمالقو وویل چه مونږ ددے کانړو عبادت کوو نو ددے په وجه باندے په مونږ باران کیږی مونږ چه د دوی نه څه حاجت غواړو حاجت راله پوره کوی، هر قسم حاجتونه زمونږ د دوی په وجه پوره کیږی، برکات مونږ ته دوی راکوی نو پده باندے دا خبرے ښے ولگیدلے نو دۀ وویل چه یو بت به پکی ماله رانکړئ، زه ئے هم خپل قوم له وړم؟

نو عمالقو ورته بت ورکړو چه واخله نو اول دۀ هُبُل بت راوړو،

(هبل د مکے د مشرکانو یو غټ بت وو چه د شام نه دے عمرو راوړے وو د نبی کریم ﷺ د پیدا ئش نه دا واقعه پنځه شپږ سوه کاله مخکی راغلے وه او یا د دینه هم زیاته هُبُل ئے اول راوړے وو، د هُبُل معنیٰ ده قوت دا هغه بت وو چه دوی به د طاقت دپاره استعمالولو دا عقیده ئے وه چه کوم قوت غواړے، دا به ئے درکوی، د ځانه یو وهمی عقیده ئے جوړه کړے وه، شرك ټول وَهُم دے او مشرکان اوهامو پسی روان دی۔

بعضِ علماء وائی دا هُبُل مخفف دے د بَعَلَ نه، او بعل د دوی یو بت وو او په شام کی

یو ه علاقه ده چه د بعلبك په نوم مشهوره هم ده په هغه ځای کی دا وو.
د قرآن کریم په اصطلاح کی بعل خاوند ته وائی خاوند سره زور ډیر وی په نسبت د ښځې نو پدې کی هم د طاقت معنیٰ پرته ده، بعل د سیدنا الیاس علیه السلام د قوم یو بل بت وو، قرآن کریم کی هغه هم ذکر شوے دے،
﴿ اَتَدۡعُوۡنَ بَعۡلًا وَّتَذَرُوۡنَ اَحۡسَنَ الۡخَالِقِيۡنَ ﴾ (الصافات:۱۲۵)
آیا تاسو بعل بُت ته رامدد شه وایئ او ښائسته پیدا کونکے ذات پریدئ)
عمرو دا هُبُل بت راوړو او په کعبه کی دننه ئے ودرولو او دا ئے د عقیق (قیمتی کاڼړو) نه جوړ کړے وو، سره عقیق وو نو داسے سور کاڼړے چه به دوی ولیده نو په سجده به ورته سمدستی پریوتل نو یو ه ورځ د هُبُل ښے لاس مات شوے وو قریش راولګیدل او دهٔ ته ئے دا ښے لاس د سرو زرو نه جوړ کړو چه زمونږ د بابا لاس مات شویدے، مشرکین دومره جاهلان دی چه د چا عبادت کوی نو خدمت ئے دوی کوی، لاس خپے ئے ماتیږی، خیرنیږی، خاورے پرے راغورځیږی، پخپله د یو ځای نه بل ځای ته نشی نقل کیدے او بیا ئے هم عبادت کوی نو یو ئے هُبُل راوړو.
بل دا دے چه هلته پنځه بتان نورو و چه قرآن کریم کی د هغوی نومونه ذکر دی (وَدّ، سُوَاع، یَغُوث، یَعُوق او نَسر) دا پنځه بتان وو چه د سیدنا نوح علیه السلام د قوم نه پاتی شوی وو او ددے عمالقو سره وو، عمرو دغه بتان هم رانقل کړل او عربو ته ئے راوړل یعنی حجاز او ددے ماحول ته، او دا خو مشر سرے وو ددهٔ خبره خلکو منله، پیر دے چه څه وائی خلك به ئے مني.
بعض تاریخونو کی داسی دی چه ددهٔ یو پیرے تابع وو، (وَكَانَ لَهٗ رَئِيًّا مِنَ الۡجِنِّ)
دا پیرے دده سره تللے وو شام ته نو یو ه زمکه ئے ورته وښودله چه دا زمکه راوکنه دلته څه عجیبه څیزونه پراته دی، دهٔ چه دا زمکه راوکنستله نو دغه پنځه بتان ئے راویستل شیطانانو ورته دا کار ورو ښوده او شیطان خو دا کوشش کوی چه په انسان باندے خلك ګمراه کړی دا پنځه بتان ئے راویستل او دلته ئے راوړل او مختلفو قبیلو کی ئے تقسیم کړل،
ثقیف قبیلے ته ئے یو بت ورکړو، دَوس قبیلے ته ئے بل بت ورکړو، قریشو ته ئے بل بت ورکړو، اَوس او خَزرج چه مدینه کی اُوسیدل د هغوی دپاره ئے منات بت په مُشلّل

علاقه کی مقرر کړو چه دلته به دا بت پروت وی تاسو به ددې عبادت کوئ، مختلفه بت پرستی شروع شوه د الله تعالیٰ هغه توحید پدې طریقې سره ختم شو او د عربو نه ووت، بیا پکی دومره مبالغه شروع شوه چه دوی ووېل چه دا بتان خوکم دي او خلك ډیر زیات دي نو ددې په مثل ئې نور بتان جوړ کړل د خپل ځان نه او هر چا ځانله په کور کی یو یو ودرولو چه هغه ځای ته به ځوك ځی، ثقیف قبیلې ته به ځوك ځی، کعبې ته به ځوك ځی، دلته کور کی دننه ځان له بابا جوړول پکار دی نو هر کور کی د هغې په مثال بتان جوړ کړې شو نو د ټولو کورونو نه بت خانې جوړې شوې،

عادت د هغوی دا وو چه کله به بهر وتل نو پدې بتانو به ئې لاس راښکلو د تبرك دپاره او کله چه به د سفر نه راتلل نو اول به بت له راتلل د تبرك دپاره، امت په شرك باندې داسې تباه شوې دې،

اُوس هم شرك موجود دې دنیا ترې ډکه ده، دا وجه ده چه کله دا شرکونه وپیژنی نو په قرآن کریم به ښه پو هیږی چه قرآن کی الله رب العزت د شرك تذکره ولې ډیره کوی، تقریباً په هر سورت کی د شرك رد کوی ځکه الله تعالیٰ باندې شرك ډیر بد لګیږی، الله رب العزت ورته دومره غصه دې چه مشرك هیڅ کله نهٔ معاف کوی، الله تعالیٰ فرمائی : هره ګناه به معاف کړم خو شرك هیڅا ته نهٔ معاف کوم۔

مشرك به خالداً مخلداً فی النار وی، د شرك لفظ الله تعالیٰ په قرآن کریم کی یو سل یویشت (۱۲۱) کرته ذکر کړیدې۔ او باقی د شرك ردونه خو ئې هر سورت کی کړیدی،

مفسرین لیکی: (مَا مِنْ آيَةٍ اِلَّا وَتَتَضَمَّنُ التَّوْحِيْدَ)

داسې یو آیت نشته مګر په هغې کی به توحید ذکر شوې وی)

نو شرك پدې طریقه په عربو کی خور شو، د مکې مشرکانو چه به کوم کاڼړې خوښ شو د هغې عبادت به ئې کولو (اَفَرَاَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ اِلٰهَهٗ هَوٰاهُ)

ښائسته کاڼړې چه به ئې ولیدو نو هغه زوړ به ئې ګوزار کړو او دغه ښائسته کاڼړې به ئې راواخسته د هغې عبادت به ئې شروع کړو،

سیدنا عمر ؓ یو کرت مجلس کی ناست وو کله په ژړا شو او کله ئې وخندل اکثر به پرې دا کار کیدو چا ورته ووېل : امیر المؤمنین ! ته ناشنا کار کوې خلك دربانديې ناشنا ګمان کوی، په مجلس کی خلك نورې خبرې کوی ته کله په خندا شې او کله په ژړا شې

دا ولې؟ سیدنا عمر رضی الله عنه ورته وفرمایل چه ماته د جاهلیت د زمانې هغه احوال رایادیږي نو کله زۀ وژاړم او کله وخاندم، خندا راله پدې راغله چه مونږ به کله په سفر ووتلو نو د کجورونه به مو بت جوړ کړو، شکل او سترګې به مو ورله جوړې کړې او خپل ځان سره به مو یووړو، په اوګه به مو را اچولی وو هلته به مو ورله عبادت کولو او خپل کار به مو هم کولو، یوه ورځ ما بت ځان سره دغسې شان وړې وو نو زه وږې شوم خپلې کجورې راسره ختمې سوې نو پدغه بت مې شروع وکړه، لاس مې ترې وخوړلو بیا مې ترې دا بل لاس وخوړلو بیا مې ترې سر وخوړو تر دې چه ټول مې ختم کړو تعجب پدې دې چه هغه شې چه مونږه ئې بندګی کوو او بیرته ئې خورو هم، خپل بابا مې وخوړو دا مونږه څومره نا خبره وو.

په روایت د دارمیؒ کی راځي چه مونږ به داسې کول چه د کجورو عبادت به مو کولو چه هغه به مو وخوړلې نو شړی به مو راجمع کړې او په هغې باندې به مو ګډه یا بیزه راولشله او دا پیۍ به مو په هغې واچول بیا به مو د هغې عبادت کولو، شیطان راته داشې رانبودلې وو، دا یو وَهُم وو دوی به دا عبادت ګنړلو او پدې کی به ئې برکت ګنړلو.

نو الله سبحانه و تعالیٰ په مونږ څومره لوی فضل وکړو چه سیدنا محمد رسول الله ﷺ ئې راولیږه او د جهالت د تیارونه ئې راویستلو که دا نبی نۀ وې مونږ خو پدغه ګندګیو کی اخته وو، پدې وجه سیدنا عمر رضی الله عنه به دا خبره هم زیاته کوله :

(لَایَعُرِفُ حَلَاوَةَ الْاِسُلَامَ اِلَّا مَنُ ذَاقَ مُرَارَةَ الُجَاهِلِیَّةِ).

د اسلام په خوند به هغه څوك پوهه شي چه د جاهلیت تریخوالے ئې څکلے وي.

که د شرك تریخوالے تا څکلے وي چه مخکی دې زړه کی کفر او شرك وو او بیا درته هغه خوږ توحید درنصیب شي تۀ به هله د ایمان په خوند پوهه شې اُوس مونږ او تاسو د اسلام په خوند څکه ډیر نۀ پوهیږو چه مونږ د جاهلیت تریخوالے نۀ دې څکلے او چه چا څکلے وی هغه ته څه نا څه پته لګیږي.

دویمه وجه دا ده چه د ایمان حلاوت ته مونږ نۀ یو رسیدلی، که د ایمان حلاوت ته ورسیدلے بیا به درله په رشتینی سره خوند درکوی چه اې الله ! ستا شکر دې چه زۀ دې د شرك نه بچ کړې یم، اې الله ! خلك قبرونو، بتانو ته پراتۀ دی، کانړی په ځان راکاږي، څوك د ژوندو او څوك د مړو عبادت کوی، څوك د پیرانو او څوك د لیډرانو کوی، او

څوك د ائمه کرامو او بزرگانو عبادت کوی او تا مونږ په خپل فضل سره د دغه ټولو نه خلاص کړی یو، نو بیا به درله شکر ویستل خوند درکړی، مونږ کی به ډیر کم خلك وی چه په توحید به ئے شکر ویستلے وی چه الحمد لله مونږ ته ئے توحید او د سنت اتباع رانصیب کړه، ډیر خلك د دنیا په څیزونو مالونو او خوراکونو شکر وباسی لیکن د الله سبحانه و تعالیٰ په توحید او د رسول الله ﷺ په سنت او د حق په قبلولو باندے ډیر کم خلك شکر وباسی۔

نو مقصد دا چه دا بت پرستی د خندا سبب وو، او سیدنا عمرؓ وویل چه ژړا پدے راځی چه لونړه به مونږ ژوندے خښولے۔

زۀ په یو سفر باندے تللے ووم چه بیرته راغلم زما لور غټه شوے وه د خبرو اترو زمانے ته رسیدلے وه، دا زما د غیرت خلاف وه چه زما لور خنګه ژوندے ده او په کور کی اوسیږی، ددے خښول پکار دی نو لور مے ځان سره واخستله او صحرا ته مے بوتله او قبر مے ورله کنسته په ما باندے چه خاورے لګیدلے نو دے لور به راله ګیره صفا کوله، پدے مابین کی پدغه حالت باندے وم چه دے لور راته وویل : پلاره دا څه شے کنے؟

ما هغے ته حال نۀ ویلو تر دے چه قبر مے مکمل تیار کړو نو هغه راونیوله او په قبر کی مے څملوله او خاورے مے پرے واړولے او هغے ژړل نو زۀ چه دا حالت رایاد کړم ما ته ژړا راشی۔

زۀ په مجلس کی پدے دواړو حالتونو کی سوچ کوم پدے وجه کله خندا او کله ژړا راشی۔ په جاهلیت کی دا مرضونه پیدا شو۔

د اساف او نائلے قصه

یو عجیب دوه بتان پدے مشرکینو کی نورهم وو، د مشرینو وهمونو ته وګوریٔ یو سړے وو د هغه نوم اِساف بن عمرو وو او یوه زنانه د هغے نوم نائله بنت سهل وو، دا دواړه د یمن اوسیدونکی وو، دا په یو بل باندے مئین وو، دواړو ته موقعه نۀ ملاویده چه ملاقات وکړی نو دواړو وعده اوکړه چه دواړه به حرم ته د حج په بهانه لاړشو سفر به اوکړو او کیدے شی چه په سفر کی زما او ستا ملاقات اوشی پدے باندے اتفاق راغے، دواړه د یمن نه راروان شو، د خپلو قافلو سره به خلك راتلل چه کله دلته

راورسیدل د یو بل سره ملاوشول وعده ئے وکړه چه کله د خلکو د غفلت وخت وی تیاره وی، کعبے ته به ننوځو هلته به ملاقات وکړو، دواړه کعبے ته ننوتل د خلکو د غفلت وخت وو یا اُودہ وو چه یو بل سره ملاؤ شو نو په کعبه کی ئے دننه زنا وکړه د الله تعالیٰ په حرم کی ئے دا کار وکړو چه دعامو خلکو په زړهٔ کی د کعبے عظمت اولوی والے وو او د مشرکینو په زړهٔ کی هم د کعبے عظمت او لوی والے وو په رشتیا د کعبے تعظیم پکار دے نو دوی ورله بے ادبی وکړه کله چه انبیاء کرام علیهم السلام نهٔ وی موجود نو داسے ناشنا کارونه الله سبحانه و تعالیٰ کوی دے دپاره چه بندګانو ته خپل ځان وروپیژنی نو الله سبحانه و تعالیٰ د دے ښځے او سړی نه کانړی جوړ کړل (فَمَسَخَهُمَا اللّٰهُ حَجَرَيْنِ) الله تعالیٰ مسخ کړل او کانړی ئے ترے جوړ کړل،

خلك چه راغلل وے لیدل چه ښځه او سړی دواړو نه الله تعالیٰ کانړی جوړ کړیدی د خلکو په زړونو کی د کعبی تعظیم نور هم زیات شو چه دا د الله تعالیٰ رشتینی کوټه ده څوك چه ددے بی عزتی او بی احترامی کوی الله تعالیٰ ورسره دا کار کوی، بیا هغه خلکو دا راوخستل د عبرت دپاره او دا اُوس چه کوم زمزم دے د دے په ځای باندے نزدے کیښودل دے دپاره چه خلك ورته په طواف کی د عبرت دپاره ګوری چه څوك د کعبی بی احترامی کوی نو الله تعالیٰ ورسره دغه شان معامله کوی۔

بیا ئے لږه زمانه روسته ددغه ځای نه جدا کړل او اساف ئے په صفا او نائله ئے په مروه کیښودله خلکو به ترے عبرت اخستلو چه لږه زمانه تیره شوه نو شیطان خلکو ته دعوت ورکړو چه ستاسو مشرانو خو ددے باباګانو عبادت کولو، دا خو ډیر غټ اولیاء دی او لوی بزرګان دی چه دے ځای باندے مشرانو ایښی دی معلومیږی چه پدے کی څه کمال شته د هغه وخت نه د هغوی عبادت شروع شو،

د دوه زناکارو نه خلکو اولیاء جوړ کړل او د هغے عبادتونه شروع شول، ډیر مشرکین داسی دی چه په یو ځای کی به قبر هم نهٔ وی لکه چهل ګزے بابا مطلب څلویښت ګزه) اوږد دے، دومره اوږده انسانان چیرته تیر شوی دی یو سیدنا آدم عليه السلام دے چه هغه شپیته ګزه اوږد وو چه پاکستانی دیرش ګزه جوړیږی، سیدنا آدم عليه السلام په شرعی ګز شپیته ګزه اُوږد وو د هغه نه روسته مخلوق واړه کیږی غټیږی نهٔ لکه نبی کریم ﷺ دغسے فرمایلی دی، اوږده اوږده باباګان خلکو د ځان نه جوړ کړی دی، یا یو ځای کی یو

حیوان مړ وي خلکو خخ کړي وي او د هغې نه ئې هم بابا جوړ کړي وي لکه ایبټ آباد ته چه څې نو په لار کې (خرپیر) راځي خلك وائي دا د غازیانو خر دے دربارئې پرې جوړ کړیدے، دا هسې وهمونه دي ډیر کرت پداسې قبرونو کې بتان راپیدا کیږي پخوانو کافرو پکې د قبر په نوم خخ کړيدي، هغوي ته معلومه وه چه مسلمانانو کې د قبرونو تعظیم زیات دے دے دپاره چه دا بتان راونهٔ باسي نو پدے قبرونو کې سره، سپین او جواهرات او د کانړو بتان پراتهٔ وي لکه دا واقعات مشهور دي۔ د مشرکینو داسې ګډې وډې عقیدې دي هسې په اوهامو پسې روان دي۔

نو د اساف او نائلې عبادت شروع شو۔

دا رنګه عمرو بن عامربن لحي خزاعي راولګیده بَحِیْرہ، سَائِبَہ، وَصِیلَہ او حَام ئې په په اُوښانو کې پیدا کړل چه د هغې اُوږده تعریفونه دي دلته ئې نهٔ بیانوو لیکن اُوښان به ئې د نذر د غیرالله یعنې د بتانو او د باباګانو د خاطره همداسې پریښودل چه پدے به ځوك سورلی نکوي، حج د بیت الله ته به پرے نهٔ ځي، ددے پیٔ به صرف میلمانه خوري، او ددے بابا ګانو منجوران به ئې خوري او که دا اوښان مړهٔ هم شي نو منجوران به ئې خوري بل ځوك به ئې نهٔ خوري قسم قسم غلط نظریات په دوي کې پیدا شو تر دے چه ډیرو مشرکینو صحیح تلبیه هم بدله کړه،

د سیدنا ابراهیم علیه السلام د زمانې نه داسې تلبیه وه :

(لَبَّیْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّیْكَ لَاشَرِیْكَ لَكَ لَبَّیْكَ اِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لَاشَرِیْكَ لَكَ)

هغوي به د کعبې نه طواف کولو او داسې به ئې ویله :

(لَبَّیْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّیْكَ لَاشَرِیْكَ لَكَ لَبَّیْكَ اِلَّاشَرِیْكًا تَمْلِكُهٗ وَمَامَلَكَ)

اے الله ! ستا شریکان نشته مګر داسې شریکان دے شته چه د هغې مالك هم ته ئې، دهغوي په لاس کې چه څه دي دهغې مالك هم ته ئې مګر هغوي له تا څه لږه شانته ورځ ورکړیده، لږ عزت دے ورکړیدے، نبي کریم ﷺ به ورته فرمائیل چه (وَیْحَکُمْ قَدْقَدْ) الله تعالی دے تاسو هلاك کړي پدغه ځاي ودریږئ چه لاشریك لك، استثناء پکې مهٔ کوئ (چه مګر ستا شریکان شته چه ستا په اختیار کې دي)، د الله تعالی شریکان نشته نهٔ یو ځاي او نهٔ لاندے نو تاسو ولے د الله سره شریکان جوړوئ۔

نو تلبیه ئې هم بدله کړه نو د سیدنا ابراهیم علیه السلام په دین کې تغییر او تبدیل په عربو

کی پدے طریقه راغلو۔

رسول الله ﷺ ته ضرورت

اُوس پکار ده چه الله تعالیٰ یو نبی راولیږی چه دا شرکیات دوباره ختم کړی ځکه دوی انسانان دی د الله تعالیٰ بندگان دی او داسی نسل درنسل په شرك کی اخته دی نود دوی دپاره داسے نبی پکار دے چه زورآور قوی او غتے رڼا والا وی ځکه چه تیاره ډیره زیاته ده چه ټوله دنیا ئے نیولے ده نو داسے یو شمس الرساله راخیژول پکار دی (سِرَاجًا مُنِیْرًا) داسے یو نمر راخیژول چه هغه د همیشه دپاره ولاړ وی،

اَفَلَتْ شُمُوْسُ الْاَوَّلِیْنَ وَشَمْسُنَا	❁	اَبَدًا عَلٰی اُفُقِ الْعُلٰی لَاتَغْرُبُ

داسے نمر پکار دے چه هغه نهٔ ډوبیږی، نو سیدنا محمد رسول الله ﷺ الله سبحانه وتعالیٰ راولیږه، داسے نمرئے راخکاره کړو چه قیامته پورے ولاړ دے رڼا ئے باقی ده ددے وجے نه روسته بل نبی ته حاجت هم نشته ځکه چه ددے نمر رڼا نهٔ ختمیږی۔

یو وخت کی زمونږ خوا ته یو ملگرے راغلے وو ما ته ئے وویل چه زما یو نیك دے او هغه قادیانی دے په مرزا غلام احمد قادیانی باندے ئے ایمان راوړے دے خو منیب شان دے که ته ورسره خبره وکړے او صحیح شی نو دا به ښه وی نو هغه زمونږ خوا ته راغلو او څه اعتراضات ئے وکړل یو پکی دا وو چه تاسو سیدنا عیسیٰ علیه السلام ولے بره خیژولے دے؟، په جیل کی مو اچولے دے، نهٔ ئے پلار شته نهٔ ئے مور یواځی مو جیل ته اچولے دے یعنی آسمان کی ورسره څوك نیشته، ما ورته وویل آسمان خو څه سنتر جیل ندے چه هلته تنگ دے هغه خو د الله په رحمت کی دے مزے کوی پدے کی څه اشکال دے؟،

بل سوال ئے دا اُوکړو چه نبوت خو نُور او رڼا ده پکار دا ده چه دا رڼا همداسے جاری وی نو دیو نبی نه روستو دے بل نبی راشی نو تاسو ولے دا رڼا بندوئ؟ د نبی کریم ﷺ رڼا وه بیا د مرزا غلام احمد قادیانی رڼا راغله؟ زما ذهن کی الله سبحانه وتعالیٰ دا جواب واچولو چه په قرآن کریم کی دا ټول جوابونه شته دے والحمد لله۔

ما ورته وویل چه بلے رڼا ته هله ضرورت وی چه مخکی رڼا ختمه شی تیاره شی، بیا خللك شمع او بیټری لگوی او کله چه نمر ولاړ دے نو شمع او بیټرئ لگولو ته هیڅ

ضرورت نشته هسې ځان په تکلیف کول دي د نمر مخې ته په ماچس لګولو سره ځان به هم وسیزې او خلك به هم وسیزې نو قادیاني سر اوخوزولو او الحمد لله څه جواب ورسره نۀ وو. نو مونږ وایو چه نبي کریم ﷺ الله سبحانه و تعالیٰ داسې وخت کې راوستلو چه تیارې وې.

دا خو د عربو د شرك قصه وه، اُوس به د بلې خبرې وضاحت اوکړو چه یهودیت او نصرانیت عربو ته څنګه راغلي وو؟ ځکه چه بعض عربو یهودیت او بعضو نصرانیت اختیار کړې وو نو دا په کومه طریقه دلته راغلل ؟ دا په هغه زمانه کې حق دینونه وو ځکه یهودیت او نصرانیت کې توحید وو او خلکو پکې شرك روستو راوستلو.

یهودیت او نصرانیت عربو ته څنګه داخل شول ؟

د یهودیت او نصرانیت عربو ته د داخلیدلو اُوږده واقعه ده او رسول الله ﷺ د دوی مقابله هم کړیده لکه روستو بیانیږي ان شاء الله تعالیٰ نو ددې وضاحت هم ضروري دې ددې دپاره چه مونږ ته پرې سیرت آسان شي او په آسانۍ باندې پرې پوهه شو.

د هغې بعضې خلاصه دا ده :

د یمن په یوه علاقه (سَبَاء) کې یو مشهور ډیم جوړ شوې وو چه تر اُوسه پورې د هغې د دیوال نه څلورمه حصه تقریباً باقي ولاړه ده او خلك ئې سیل ته ورځي او باقي الله تعالیٰ په خپل عذاب سره ختم کړیدې، دا ډیم د ډیر پخوانه خلکو جوړ کړې وو تقریباً د عیسیٰ علیه السلام نه یو نیم زر کاله مخکې جوړ شوې وو او د دوه غرونو په مینځ کې وو، دلته د حِمْیَر علاقې بادشاهان آباد وو، پدې یمن باندې دلته یو مشرو د هغه نوم عامر وو. بعضې روایتونو کې داسې راځي چه خوب ئې ولیده.

او بعضو کې دا دي چه په سترګو ئې ولیده چه د دې ډیم نه لاندې منږکان پیدا شوي دي او دا ډیم د لاندې نه وهي او سورې پکې کوي او نزدې ده چه دا دیوال راوغورځوي او چه دا راپریوتلو نو دا خو ډیرې اُوبه دي ډیرې علاقې به ویسي (لکه د تربیلې ډیم که راپریوځي ډیرې علاقې به یوسي د بجلۍ نظام به خراب شي).

قرآن کریم کې الله سبحانه و تعالیٰ سورت سباء کې دا واقعه بیان کړیده دا ډیره د عبرت خبره ده ځکه قرآن کریم دیته تعارض کړې دې نو دې باشاه چه دا حالت ولیده

نو دہ ارادہ اوکړہ چہ ددے ځای نہ تلل پکار دی ځکہ دلتہ یو مصیبت راتللو والا دے نو د دے ځای نہ ځو نو ټول قوم تہ ئے حال ونۂ وئیلو چہ اے خلکو! مصیبت راروان دے راځئ چہ ځو بلکہ د قوم سرہ ئے چل وکړو او د خپل ځان د ویستلو دپارہ ئے یوہ طریقہ جوړہ کړہ،

پہ یمن کی عرب آباد وو او دا د قحطان اولاد وو چہ عرب اکثرہ د قحطان اولاد دی او د سیدنا اسمعیل ﷺ اولاد دے پدے طریقے سرہ ئے د وتلو حیلہ او چل جوړ کړو چہ ددۂ ډیر بچی وو نو خپل کشر بچی تہ ئے ووئیل چہ تہ بہ د خلکو پہ مخ کی ما تہ پہ مخ څپیړہ راکړے نو پدے طریقے بہ مونږ ددے علاقے نہ اُوځو نو یو مجلس کی دے ناست وو کشر ځوی راپاڅیدو دے پلار تہ ئے څپیړہ ورکړہ نو دے راپاڅیدہ، وے وئیل چہ داسے علاقہ کی بہ زۂ ونۂ اُوسیږم چہ یو ورکوتے بچے راپاڅی او زما بی عزتی کوی نو پدے علاقہ کی بہ زۂ شپہ تیرہ نکړم نو پدے طریقہ ئے د قوم سرہ مکر، حیلہ او فریب وکړو نو د کلی نہ راووتو او خپل بچی ورسرہ وو نو بعضے نور قومونہ هم ورسرہ ملګری شو چہ دا عامر ځی نو مونږ هم ورسرہ ځو نو د یمن نہ ډیر قومونہ راروان شو، غسان قبیلہ چہ غساسنہ ورتہ وائی دا شام طرف تہ لاړل او مُنَاذِرہ چہ د نعمان بن منذر بادشاہ پہ اولاد کی دی دوی پکی عراق طرفتہ لاړل، آل جفنہ بن عمرو بن عامر هم شام تہ لاړل او څہ عمان تہ لاړۂ او څہ د خزاعہ قبیلے پہ شکل کی دلتہ عربو تہ راغلل نو پدے طریقہ باندے راتقسیم شو،

حافظ ابن کثیر رحمہ اللہ د ابن عباس رضی اللہ عنهما نہ نقل کړیدی چہ ټول سباء والا د یمن نہ نۂ وو وتلی بلکہ د دوی نہ څلورو قبیلو بد فالی ونیولہ نو ووتل او شپږ قومونہ پہ یمن کی باقی پاتی شو چہ هغوی (۱) مَذْحِج، (۲) کِنْدَہ (۳) اَنْمَار (چہ دا د خَثْعَم پلار وو) (٤) اشعریون (٥) بَجِیْلَہ (٦) او حِمْیَر

دا شپږ قبیلے پہ یمن کی پاتے شوے او پہ دوی کی بادشاهی او تبابعہ همیشہ راروان وو تردے چہ د دوی نہ دا بادشاهی د حبشو بادشاہ واخستلہ پہ هغہ لښکر سرہ چہ ارباط او ابرهہ ئے ورلہ مشران جوړ کړی وو بیا د هغوی نہ سیفِ ذِیْ یَزَن حِمْیَرِیْ دا بادشاهی واخستلہ او دا کار د نبی ﷺ د پیدائش نہ لږ وخت مخکی شوے وو چہ د هغوی قصہ روستو راځی۔

بیا دغه یمن والو ته نبی ﷺ سیدنا علی بن ابی طالب او خالد بن الولید، بیا ابو موسیٰ الاشعری او معاذ بن جبل رضی الله عنهم ورلیږلی وو چه هغوی الله تعالیٰ ته راوبلی او دلائل ورته واضحه کړی، بیا په یمن باندے اسود عنسی چه د نبوت دعوه ئے کړے وه هغه غلبه وکړه او د رسول الله ﷺ نائبان او گورنران ئے د هغے نه راویستل لیکن کله چه اَسْوَدِ عَنْسِیُ قتل شو نو د سیدنا ابوبکر صدیق ؓ په دور خلافت کی یمن د اسلامی حکومت د لاس د لاندے راغے۔

(السیرة النبویة لابن کثیر رحمه الله ٤ / ١٠٠)

ددے عامر نه روستو یو بادشاه راغلو چه رَبِیُعَه بن نَصُر ئے نوم وو چه مؤرخین د هغه نه روستو تاریخ او قصے شروع کوی او د رسول الله ﷺ تاریخ پداسے طریقه راوړی: مونږ هم د هغه واقعه ذکر کوو ځکه چه پدے واقعه کی ډیر عبرتونه پراته دی۔

د عامر نه روستو د یَمَن په علاقه باندے ربیعه بن نصر مشر شو نو ربیعه بن نصر یو خوب ولیده (چه خوبونه به پدغه وخت کی خلکو ډیر لیدل) دهٔ ناشنا شان خوب ولیدهٔ نو د علاقے مشران خلك او نجومیان او کاهنان ئے راجمع کړل چه ددے خوب تعبیر ماته راکړئ نو هغوی ورته وویل چه ستا خوب مونږ ته ډیر سخت ښکاره کیږی، دلته دوه کسان دی ډیر پوهه دی او نجومیان کاهنان دی هغه به درله تعبیر درکړی، د یو نوم سطیح دے او د بل نوم شِق دے

(کهانت دیته وائی چه د پیریانو په ذریعه د ملائکو نه خبرے زده کوی او هغه خلکو ته بیانوی په هغے کی څه دروغ وائی څه رشتیا، کومے خبرے چه د ملائکو نه آوریدل شوی وی هغه رشتیا وی او کومے خبرے چه د ځان نه جوړی کړے وی هغه دروغ وی. خو لیکن نبی کریم ﷺ مونږ د کهانت نه منع کړی یو چه تاسو په کهانت باندے تصدیق هم مهٔ کوئ او کاهنانو ته ورځئ هم مهٔ، ځوك چه ورغے او هسے ورته ودریده نو څلویښت ورځے مونځ ئے نهٔ قبلیږی او کچرته تصدیق ئے ورله اوکړو نو کافر به شی

(مَنْ اَتٰی کَاهِنًا اَوْ عَرَّافًا فَصَدَّقَهٗ بِمَا یَقُوْلُ فَقَدْ کَفَرَ بِمَا اُنْزِلَ عَلٰی مُحَمَّدٍ ﷺ)

(مسند احمد: ۹۵۳۲)۔

(ځوك چه کاهن ته ورغے او د هغه د خبرے تصدیق ئے وکړو په تحقیق سره هغه کافر شو په هغه څه چه نازل شوے دے په محمد ﷺ باندے)

تروبتیان چه د پټو شیانو خبر ورکوی چه یو شے ورك شوے دے فلانی ځای کی پروت دے، نو د پیریانو په ذریعه ئے معلوموی اکثر دروغ وی کله کله رشتیا وخیژی هغه زما نه د کهانت وه خلکو پرے عمل کولو، مونږ د هغے تصدیق نه کوو خو لیکن تاریخ کی داسے لیکلی دی)

شِق او سَطِیح چه راغلل د هغوی نه ئے جدا جدا د خوب د تعبیر تپوس وکړو چه ما یو خوب لیدلے دے نو هغوی ورته دا خوب د مخکی نه بیان کړو چه تا یو داسے خوب لیدلے دے، سطیح ورته اول جواب ورکړو او شِق ئے بل ځای کی کینولے وو هغه ئے بیا راوستلو هغه ورته هم همغسے جواب ورکړو څنګه چه مخکنی ورکړے وو چه تا داسے خوب لیدلے دے (رَأَیۡتَ حُمَمَۃً خَرَجَتۡ مِنۡ ظُلُمَۃٍ فَوَقَعَتۡ بِاَرۡضِ تُهَمَۃٍ فَاَکَلَتۡ مِنۡهَا کُلَّ ذَاتِ جُمۡجُمَۃٍ) تا تور انسانان لیدلی دی چه د تورے زمکے نه راوتلی دی بیا دا تور خلك د یمن زمکے ته داخل شوی دی، (دلته راغلی دی) او بیا د هغے نه روسته ئے انسانان وژلی دی، عام انسانان د هغوی د لاس نه مړهٔ دی،

نو بادشاه ووئیل : دا خوب خو رشتیا ما همدغه شان لیدلے دے نو ددے تعبیر څه دے؟ هغوی ورله داسے تعبیر ورکړو چه د حبشو نه به څه خلك راځی او په یمن باندے به حمله کوی نو بادشاه ووئیل دا حبش چه راشی او په یمن باندے حمله وکړی نو دا خو به مونږ ډیر زیات خفه کړی، حبش خو زمونږ دشمنان خلك دے

(اِنَّ هٰذَا لَنَا لَغَائِظٌ مُوۡجِعٌ) دا خو به مونږ ته ډیر درد راکړی او غصه به مو کړی۔

نو بادشاه ووئیل : دا به کله وی او آیا دا به زما په زمانه کی وی او که روستو به وی ؟، هغه ووئیل : روستو به وی د شپیتو کالو نه تر اویا پورے۔ بادشاه ووئیل : آیا د دوی بادشاهی به ختمیږی او که ډیر وخت به وی؟ هغوی ووئیل : د دوی به اویا کالو پورے بادشاهی وی، بیا به ورسره جنګونه کیږی او د هغے نه به په تیښته سره وځی۔

(دا خبرے کیدے شی چه کاهنانو د پیریانو په واسطه د ملائکو نه زده کړی وی)

نو بادشاه ووئیل : بیا به څه وشی؟ کاهنانو ووئیل: د هغے نه روسته به د یو سړی بادشاهی راځی چه ذی یزن نوم به ئے وی، بادشاه ووئیل هغه به څو مره کاله وی ؟ کاهنانو ووئیل : هغه به لږ وخت وی، بادشاه ووئیل بیا به څه وی؟ کاهنانو ووئیل: د هغے نه روسته به یو نبی راځی (نَبِیٌّ زَکِیٌّ یَّأۡتِیۡهِ الۡوَحۡیُ مِنۡ قِبَلِ الۡعَلِیِّ)

یو پاك نبی به راځی چه هغه ته به د اُوچت الله تعالیٰ د طرفنه وحی راځی،
بادشاه وویل : دا نبی څوك دے ؟ دوی وویل : دا یو سړے دے د غالب بن فِهر بن مالك بن النضر د اولادو نه دے الله سبحانه وتعالیٰ به هغه ته بادشاهی ورکوی (إِلٰى آخِرِ الدَّهْرِ) د زمانے تر آخره پورے۔
(نو د عربو دا نسل د قیامت منکر وو قیامت ئے نۀ پیژندو) نو سوال ئے وکړو چه (وَهَلْ لِلدَّهْرِ آخِرٌ) آیا د زمانے آخر شته دے ؟ نو هغوی وویل آؤ، الله رب العزت به د قیامت ورځ راولی هغے کی به دا ټول انسانان راجمع کیږی، څوك چه نیکان وی هغوی ته به الله تعالیٰ ښائسته بدلے ورکوی او څوك چه بدکاره وی هغوی ته به الله تعالیٰ د بدکارئ سزا ورکوی، بادشاه وویل : تۀ چه ما ته کومے خبرے کوے آیا دا حقی دی؟ هغه وویل : آؤ، قسم په هغه الله چه سپوږمئ او تیاره راخیژوی چه ما کوم خبر درکړو دا خامخا حق دے۔
د دے دواړو کاهنانو خبرے یو شان وختلے او هر یو جدا جدا یو شان تعبیر وکړو نو ربیعه بن نصر د دوی د خبرو تصدیق وکړو چه آؤ زما خوب هم تاسو اُووئیلو او تعبیر مو هم صحیح ویستلو همداسے ده، نو ربیعه بن نصر هم د یمن نه ووتلو او خپل بچی ئے ځان سره واخستل چه زۀ دلته نه اُوسیږم دلته دشمن راروان دے یو ملك ته دشمن راننوتلو والا وی او د سړی بی عزتی کوی د هغه ځای نه تلل ښکار دی نو ربیعه بن نصر د یمن نه لاړو عراق علاقے ته او هلته په حِیره کی اوسیده سره د خپلو بچو نه چه دا خبره روسته مونږ ته د نبی علیه السلام په تاریخ کی فائده راکوی۔

د تُبّع حِمْیَری بادشاهی او د هغه د مدینے والو سره جنګ

د دینه ورسته د ربیعه بن نصر یو څوی مشر شو چه د هغه تُبَّع حِمْیَری لقب دے چه قرآن کی هم ددۀ ذکر راغلے دے دوه ځای الله سبحانه و تعالیٰ په سورة الدخان او سورة ق کی ددۀ ذکر کړے دے، ﴿أَهُمْ خَيْرٌ أَمْ قَوْمُ تُبَّعٍ﴾ او سورت (ق) کی الله سبحانه وتعالیٰ د تبع په باره کی فرمائی چه ددۀ قوم ما هلاك کړے دے۔
ددے تبع نوم اَسْعَد وو ابو کُرُب ئے کنیه وه او تبع چه د یمن به کوم بادشاه وو هغه ته به ئے تبع وئیل، ډیرو بادشاهانو ته به ئے تبابعه ویل دا نوم به ئے ورته کیښودہ لکه

نجاشي د حبشو بادشاه ته ويل كيده او خاقان د مصر د بادشاه نوم وو، د فارس بادشاه ته به كسرئ ويل كيدو او د روم بادشاه ته قيصر ويلے شو دا لقبونه به ورته خلكو ايښودل۔

دا تبع حميري مشر شو، ددهٔ عادت دا وو چه ده به سياحتونه ډير كول او تجارتونه به ئے هم ډيركول، نودا د يمن نه راووته او خپل ملګري هم ورسره وو او په سياحت باندے روان شو پدے مابين كي په مدينه منوره باندے راتير شو چه هغه وخت كي مدينے ته يثرب ويل كيدهٔ او قرآن كي هم دا نوم ذكر دے

﴿ يَا اَهْلَ يَثْرِبَ لَامُقَامَ لَكُمْ ﴾ (الاحزاب :۱۳)

نبي كريم ﷺ بيا ددے نوم نه منع كړے وه چه دا نوم مهٔ استعمالوئ ځكه دا نوم منافقان استعمالوي، مدينه يا طِيبَه يا طَابَه ورته وايئ۔

نو تبع حميري په مدينے راتير شو دلته ئے خپل ځوي د تجارت دپاره پريښودهٔ او دے خپله شام ته لاړو، هلته خبر شو چه زما ځوي مدينے والو وژلي دے نو واپس راغے فوج ورسره دے، بادشاهان چه په يو لار روان وي ډير خلك ورسره وي،

(د هغه زمانے بادشاهانو دا مزے كولے چه ډير آزاد به ګرځيدل اُوسني بادشاهان خو په سوره كي دننه ناست وي بهر ته نشي راوتلے خاص دفترونو او ځايونو كي وي، مونږ اُوس په هديرو كي هم ګرځو هرځاى ته ځو ځكه غربت ډير ښه شے دے، آزاد به ګرځے هيڅ پرواه به دے نهٔ وي چه لږ مشر شوے بيا به آزاد نشي ګرځيدلے سم جيل كي به دننه پروت ئے، نود هغه زمانے بادشاهان آزاد خلك وو رعب داب ئے ډير زيات وو)

نو چه واپس راغے ددهٔ يو فوجي پردئ كجورے ته ختلے وو، د هغه كجورے مالك چه راغے هغه فوجي ئے ورله مړ كړونو دهٔ ته ډيره سخته غصه ورغله چه ځوي ئے هم راله وژلے دے او فوجي ئے هم راله ووژلو نودهٔ په مدينه حمله وكړه نو مدينه باندے ډيره سخته جګړه شروع شوه، په مدينه كي اَوس او خزرج اوسيدل دا هم د يمن نه په پخوا زمانه كي راغلي وو نو دے اَوس او خزرج كي دا كمال وو چه د ورځے به ئے ددهٔ سره جنګ كولو چه مابنام به شو نو ډوډئ به ئے ورله وروړه او ميلمستوب به ئے ورله كولو چه دا د يمن نه راغلي دي، زمونږ ميلمانه دي

نو تُبع حِمْيري تعجب وكړو چه دا څومره سخيان او عزتمند خلك دي چه زهٔ ورسره جنګ هم كوم او دوي راله ډوډئ راوړي او ميلمستوب راله كوي، عربو كي د ميلمه

دوستئ او ورکړے او صدقو صفت ډیر زیات دے، نو کله چه هغه ددے قوم کرم او شرافت ولیدو متأثره شو، نو په مدینه کی دننه یهودیان اُوسیدل چه دوی د شام نه د رومیانو د جنګونو او بل د اقتصادی مشکلاتو د وجه نه دلته مدینے ته راغلی وو چه مدینه کی کجوری زیاتی دی نو دلته به آباد شو۔

نو په مدینه کی د یهودیانو درے طائفے اُوسیدلے، بنو قینقاع، بنو نضیر او بل بنو قریظه دا درے غټے طائفے او قبیلے وے چه پدوی کی ورے ورے ډلے نورے هم وے خو دا مشهوری ډلے وے، نو په یهودو کی دوه عالمان چه په تورات باندے ښه پوهیدل اونیکان خلك وو په تورات ئے ښه عمل وو پدے تبع حمیری پسی راغلل او دا ئے ورته وویل چه پدے مدینه باندے حملے مهٔ کوه ددے ځای نه لاړ شه، هغه وویل ولے؟ دے یهودو علماؤ ورته وویل ځکه چه دا د محمد رسول الله ﷺ د هجرت ځای دے، تبع وویل محمد (رسول الله ﷺ) څوك دے؟ نو دے مولیانو ورته وویل چه دا د الله تعالیٰ یو پیغمبر دے، روسته زمانه کی به راځی او د مکے نه به هجرت کوی او دے مدینے ته به راځی نو تبع ورته وویل: دا تاسو د کوم ځای نه معلوموئ؟ هغوی ورته وویل: دا الله تعالیٰ مونږ ته تورات کی لیکلی دی، چه د آخری رسول محمد رسول الله ﷺ ځای دا دے،

(دا نبی کریم ﷺ الله سبحانه و تعالیٰ د مخکی نه متعین کړے وو او خلکو ته ئے په کتابونو کی وربنودلے وو، د هجرت ځای ورله هم متعین کړے وو، د هغه د اُمت صفتونه د هغه خپل صفتونه هر څه پوره ذکر شوی دی دے دپاره چه د چا شك او شبهه دده په باره کی پاتی نشی)

نو تبع حمیری ډیر متاثره شو او غائبانه ایمان ئے په نبی کریم ﷺ راوړهٔ، اُوه سوه کاله مخکی دا خبره تیره شویده، او دا اشعار ئے وویل:

فَلَوْمُدَّ دَهْرِیْ اِلٰی دَهْرِهٖ	O	لَکُنْتُ لَهٗ وَزِیْرًا وَّابْنَ عَم

که زما زمانه د هغه د زمانے پورے اُوږده شوه یعنی ددغه نبی د راتلو پورے زه ژوندے پاتے شوم نو زهٔ به خامخا د هغه مددګار او د هغه د تره ځوی پشان جوړیږم۔

او د هغه قدمونه به وینځم او زه به د هغه خدمتګار یم۔

السیرة النبویة لابن کثیر ۱/ ۲٤) سبل الهدی و الرشاد (۳/ ۲۷٤)

نو تبع حميرى پرے د مخکى نه ايمان راوړه چه زه دا گواهى ورکوم چه احمد يعنى محمد رسول الله ﷺ د الله تعالىٰ رسول دے، ددے وجے نه الله سبحانه وتعالىٰ په قرآن کريم کى ددهٔ يو نوعه صفت هم کړے دے چه ايمان ئے راوړے دے د يهودو د خبرے د وجے نه،

دے په دغه زمانه کى په يهوديت کى داخل شوپدے طريقه باندے چه د مدينے د دغه ځاى نه واپس خپل وطن ته روان شو، واپس تللو چه پدے کى په هُذَيل قبيله ورتير شو نو هغوى ورته شيطانى وکړه چه دلته يوه کوټه ده خلك سرهٔ او سپين زر راوړى او په هغے کى ئے اچوى، کعبه ئے ورته وښودله او دلته يوه ژوره کنده وه د کعبے مخے ته چه خلکو به سره او سپين راوړل او په هغے کى به ئے اچول دا به کعبى ته نذر وه لکه د کعبىٰ د جوړولو او د هغے د خدمت دپاره اُوس هم خلك پيسى ورکوى نو ته لاړ شه او د سرو او سپينو زرو نه ډکه ده دا به تاته ملاؤ شى نو تبع وويل هرکله چه دومره ډير سره او سپين دى نو پدے خو حمله کول پکار دى زهٔ ځم او حمله پرے کوم او دا هرڅه ترے اخلم، د هذيل قبيلے غرض خو دا ووچه دا د الله تعالىٰ کور دے چه کله دا پدے اراده ورشى نو الله تعالىٰ به ئے هلاك کړى، دهغه د هلاکت او تباهئ اراده ئے وه، بادشاه سره ئے دشمنى وه۔

پدے وخت کى هغه دوه يهوديان علماء دده سره ملگرى وو ددهٔ سره روان وو، هغوى ورته وويل په کعبه حمله مهٔ کوه، تبع جميرى وويل ولے ؟ هغوى وويل : دا د الله تعالىٰ حرم دے د الله تعالىٰ کور دے او د الله تعالىٰ په دنيا کى بل کور نشته سيوا ددينه که پدے دے حمله وکړه ځان به تباه کړے، نو تبع وويل زه څه وکړم ؟

علماؤ ورته وويل لاړشه د کعبے نه طواف وکړه، دلته هغه کارونه وکړه کوم چه نور خلك کوى، هغه لاړو د کعبے نه ئے طواف وکړو او د هغه ځاى تعظيم ئے وکړو گډے بيزے اوښان ئے هم پکى ذبح کړل نو تبع دے يهوديانو ته وويل چه تاسو ولے طواف نهٔ کوئ چه نور خلکو ته پرے امر کوئ ؟ نو هغوى ورته وويل پدے کى شرك دے مونږ څکه طواف نهٔ کوو او خلکو پدے کى بتان ودرولى دى، دننه پکى بتان دى او دے خلکو گيرچاپيره بتان اچولى دى او مونږه الله تعالىٰ د شرك نه منع کړى يو، زمونږ په کتاب کى توحيد دے، الله تعالىٰ مونږ ته توحيد راښودلے دے،

مونږ درسره داکار نشو کولے او تهٔ ئے کوه، هغه دا کار وکړو او هلته ډيرے ورځے پاتى

شو، بیا ورته الله تعالیٰ خوب کې وروښوده چه ددې کعبې دا سې تعظیم وکړه چه دې کعبې ته کپړه ورواچوه یعنی غلاف، نو هغې ته ئې کپړه ورواچوله بیا ئې خوب ولیده چه دا کپړه ادنیٰ ده بله ورواچوه بیا ئې بله ورواچوله بیا ئې په دریم ځل خوب ولیده چه بله ورواچوه، دریم ځلورکرت ئې خوب ولیده په آخره کې ئې د وریښمو جامه ورواچوله د هغه زمانې نه کعبې ته جامې وراچول کیږي، او خپل بنوجُرهم قبیلې ته ئې وصیت وکړو چه تاسو به دا کار جاري ساتئ۔

د نبي علیه السلام د زمانې نه اُوه سوه کاله مخکې دا جامه وراچول شوې ده، اول دا ابوکرب اسعد الحمیري چه تبع حمیري دده نوم دې هغه کعبې ته جامه وراچولې ده او بیا به هر کال وراچول کیده دا د کعبې تعظیم دې۔

او د قیامت د علاماتونه دا ده چه خلك به خپلو کورونو ته داسې کپړې اچوي چه د کعبې سره به ئې مشابهت کوي۔او دا حرامه ده چه د خپلو کورونو دیوالونو ته اچوي، صرف دروازې ته د پردې دپاره کپړه زوړندول صحیح دي، او د دینه غیر هسې دیوالونو ته کپړې اچول ناروا دي تقریباً پنځو روایتونو کې ترې منع راغلې ده، دا صرف د کعبې خصوصیت دې چه هغې ته به اچولې شي۔

نو تبع حمیري کعبې ته غلاف واچولو او د هغه ځای نه ئې واپس یمن ته د تللو اراده وکړه او د هذیل قبیلې هغه کسان ئې ونیول چا چه ورته شیطاني کړې وه هغه ئې تول ذبحه کړل چه تاسو ماته غلطه لار راښودله، هغه ئې ووژل ځوك چه شیطاني کوي دغه به ئې حال وي۔

د تُبّع حِمیري خپل قوم ته دعوت او بیا ناشنا واقعات راتلل

نو ددې نه روستو تبع حمیري یمن ته لاړو او یمن والو ته ئې د یهودیت دعوت ورکړو خلکو ورسره دا خبره نهٔ منله نو دې کې دننه یوه غریبه (ناشنا) واقعه راپیښه شوه هغه دا چه ددهٔ په مقابله کې قوم راپاڅیدو او ورته ئې وویل چه ته زمونږ نه یمن ته نشې داخلیدې ځکه (لِأَنَّكَ فَارَقْتَ دِيْنَنَا) تا د پلار نیکه دین پریښې دې او په نوي دین کې داخل شوې ئې، ځکه دا تبع یهودي شو وو او یهودیت په هغه وخت کې حق دین وو، د سیدنا موسیٰ علیه السلام په تابعداریٔ کې داخل شوې وو، نو تا د پلار نیکه لار پریښوده په

نوی دین باندے روان شوے مونږ تا نۀ پرېږدو او په ځان دے نۀ مشر کوو،
(دلته دا فائده معلومه شوه چه تر اُوسه پورے محبوب دے لیکن چه کله ئے صحیح دین قبول کړو نو مخالفت ئے شروع شو بیا ئے خلکو خبره نۀ منله خبرے ئے ورپسے شروع کړے)

نو هغه ورته دعوت ورکړو چه دا کوم دین ماقبول کړے دے دا حق دین دے او پدے کې کامیابی ده د الله سبحانه و تعالیٰ دین دے، د آسمان نه راغلے دے تاسو هم پدے کې داخل شئ، او تاسو چه په کوم دین باندے روان يئ دا په زمکه جوړ شویدے چرته د زمکے دین او چرته آسمانی دین! نو هغه قوم خبره نۀ منله نو دلته دوه واقعے وشوے۔

د سیرت کتابونه لیکی چه د یمن والو یو پروګرام وو چه کله به د دوی خپل مینځ کې اختلاف پیدا شو نو یو غر وو د هغے نه به اُور راوتلو الله سبحانه و تعالیٰ به دا اُور راویستلو او دے اُور به خلکو له فیصلے کولے، اُور به څنګه فیصله کوله اُور خو خبرے نشی کولے ؟ هغه داسے وه چه څوك به ظالم وو هغه به ئے سیزو او چه څوك به مظلوم وو هغوی ته به ئے څه نۀ ویل، دا د یمن والو ګمان دے چه داسے به کیده، یمن والا داسے وائی چه زمونږ په وطن کی دا شے وو لکه مخکی زمانه کی د سیدنا آدم علیه السلام اولادو کې دا طریقه وه لکه چه دا د قرآن حدیث نه معلومه ده چه صدقه به اُور خوړله، د آسمان نه به اُور نازلیدو او صدقه او غنیمتونه به اُور خوړل لکه قرآن کریم کی هغه ذکر شویده۔

﴿ اِذْ قَرَّبَا قُرْبَانًا ﴾ (المائدة:۲۷) ﴿ حَتّٰى يَأْتِيَنَا بِقُرْبَانٍ تَأْكُلُهُ النَّارُ﴾ (آلعمران:۱۸۳)

نو دا خبره هم بعیده نده چه دوی له به اُور داسے فیصله کوله نو دوی دے اُور له فیصله ویوړه چه راځئ که ستا دین حق وو تا به ونۀ سیزی او که زمونږ دین حق وو مونږ به ونۀ سیزی، د یمن چه کوم کاهنان،نجومیان او ترویتیان دی دا ټول راجمع شو او تبع حمیری سره د دغه دوه یهودی علماؤ او تورات نه چه دا ورسره وو غاړے ته ئے اچولے وو او دا ئے لوستلو د اُور خوا له ورغلل د کوم ځای نه چه دا اُور راوتو،

نو پدے کی دا اُور راووته او د کاهنانو او نجومیانو او بت پرستو مشرکانو خلکو پسے شو نو هغوی ترے منده کړه نو خلکو ورته وویل تښتئ مۀ صبر به کوئ یا به نو به اُوباسئ تر دے چه هغوی صبر وکړو او ملیان او پوهه خلك او نجومیان او

تـرویتیـان تـول اُور اوسیزل او څه نورو کسانو ایمان راوړو چه دا تُبع حمیری په حقه دے، او ددهٔ سره چه کوم یهود دی دا په حقه دی نو نور خلك په ایمان کی داخل شو۔

بـعضے وائی چه دا قصه پدے طریقه باندے وه چه یو اُور وو عذابی شانته د یوغره نه الله تـعـالیٰ راویستلے وو، نـو دا خبره دوی تـه پیـش شوه چه کـه ددے اُور نـه مونږ چا خـلاص کـړو هـغه به په حقه وی نو هغه مشرکینو کوشش وکړو چه دا اُور واپس کړی نو خپلے هغه منترے وغیره ئے پرے ووئیلے خو هیڅ ئے هم ونهٔ کړے شو،

دغـه دوه یهـودیـان علماء نیکان صالحین خلك وو نو تورات ئے ولوستـه (د الله تعالیٰ په کتاب باندے همیشه دپاره مصیبتونه حل کیږی) ددے لوستل ئے چه شروع کړل نو دا اُور بـه تـرے شـا تـه کیـدو او دوی ورپسے روان وو تـردے چـه دا اُور پـه غره کی دننـه ورننوته، د هغه عذاب نه الله تعالیٰ خلاص کړل۔

د قـصـے دا دواړه طریقے امکان لری چه صحیح وی، دواړه بعیدے خبرے ندی نو پدے وجـه ډیـر خـلـك پـه یهـودیت کی داخل شو او یمن کی یهودیت پدے وجه راغے نو یمن کی مشرکین کم شو او یهودیان پکی راغلل۔

دا خو معلومه خبره ده چه یهودیت او نصرانیت چه کله حق دین راغلے دے نو خلکو پـکـی زر تحریف او تبدیل راوستلے دے او هغه دین ئے گډوډ کړے او خراب کړیدے، دے یهـودیـت کـی بیا روستو ډیر نقصانات راغلل لکه روسته د قیصے نه معلومیږی، خو حق دیـن دغـه ځـای تـه پـدغـه طـریـقـه اول ورداخل شو مشرکین هم پکی وو لیکن یهودیان ډیر زیات وو،

د تبع نه روستو د هغه ځوی حَسّان مشر شو

پـه یـمـن کی تُبع حمیری څه زمانے پورے ژوندے وو بیا هغه هم وفات شو، د هغه د وفـات نه روستو د هغه ځوی مشر شو او بادشاهی به روسته نسل در نسل په دوی کی راتلله، د تبع حمیری د ځوی حَسّان نوم وو، کله چه دهٔ ته بادشاهی ملاو شوه، عام خلك ددهٔ تابعداروو ډیرے علاقے ددهٔ د لاس د لاندے راغلے۔

پـه حُـکامو کی اکثر دا کار وی چه تکبر پکی ډیر وی، کرسئ ته چه ورسیږی نو ددهٔ نـه مـرگ هـم هیـر شـی او الله سبـحـانـه وتعالیٰ او رسول او هر څه ترے هیر شی صرف

خپل طاقت تـه گـوری نودهٔ ووېل چه ماسره خو طاقت ډیر دے دا عرب او عجم ټول د خپل لاس لاندے کوم لکه چه د اُوسنو کفارو همدا طریقه ده چه ډیر ملکونه الله تعالیٰ وزلـه ورکړی دی، ډیر مال، دولت او هر څه اسباب ورسره دی لیکن بیا هم کوشش کوی چه ټوله دنیا د خپلے خیټی د لاندے راولی او تخرگ کی ئے اونیسی،

کله چه یاجوج ماجوج راشی د زمکے والا مقابله به وکړی بیا به وائی راځئ د آسمان والـو مقابله کوو په آسمان کی ملائك وژنو او د الله تعالیٰ مقابله هم کوو، دا د انسانانو مزاج دے چه د دوی خیټه د خاورو نه سوئ په بل څه نهٔ مړیږی که هر څومره بادشاهی ورته ورکړے شی نوره هم غواړی)،

نـو د تبع حـمیری څـوی حَسّـان هم دا چل شروع کړو خپل قوم ته ئے ووېل راځئ په عربـو او عجمو حمله کوو نو هغوی ورسره مجبوراً روان شو کله چه عراق ته ورسیدل نو هلتـه ئے پـه عـجمو خلکو حمله کوله نو د عربو قبائلو ووېل چه دا سړے ظالم دے هسے ناحقه چټی په چټی مونږ وژنی او تباه کوی نو دا د ځان نه لرے کول غواړی،

(داسے مشر بـه د ځان نه لرے کوے چه خلك د هلاکت کندے ته راکاږی، مشران چه کـلـه داسی وی چه ملك بربادوی عوام تباه کوی او دین ته ضرر ورکوی نو دا لرے کول پکـار وی هـغـه کسانو دپاره لرے کول پکار دی چه د چا پرے طاقت او وسع رسیږی او د هغه په ځای به متبادل کس راولی)

نـو مشرانـو مشـوره وکـړه چه ددے سړی نه به ځان څنگه خلاص کړو نو حَسّان یو داسے سړے وو چـه حساس ډیر وو څـوك بـه ئے ځان ته نهٔ پریښودل که پلار به ئے هم ملاقات ته ورتللو نو د هغه تلاشی به کیده او دے به ډیر محفوظ ځای کی کیناستلو د یـرے د وجے نه، نو پدے کی دے مشرانو مشوره وکړه او ورور ته ئے ورله خبره وکړه چه د هـغـه نوم (عَمُرو) وو چه دا هم د اسعد ابوکرب تبع حمیری څوی دے او د حسان ورور دے، نـو عـمرو تـه ئے ووېـل چه تهٔ دا خپل ورور قتل کړه او بادشاهی به تا ته درکړو نود هـغـه پدے کی شوق پیدا شو (څکه چه مشری یو داسے شے دے چه سړے ورته پلار هم وژنی، ورور هم وژنی هر څوك وژنی خو چه مشری ورته ملاؤ شی)،

نـو عـمرو ووېل صحیح ده زهٔ به ئے مړ کړم، صرف یو کس پکی مشوره ورکړه چه دا ورور دے مـهٔ وژنـه څـکـه دا نقصان دے، ددغه سړی نوم ذورُعَین وو دهٔ ورته ووېل مهٔ ئے

وژنه لکه تاریخ کی دا راغلی دی، لیکن عمرو ددهٔ مشوره ونهٔ منله او وے ویل چه زهٔ دا وژنم بس مشرانو راته فتویٰ راکړه چه مړئے کړه نو مرګ ئے پکار دے نو ذو رُعین راولګیده او یو خط ئے ولیکه او په هغے کی ئے یو دوه شعرونه ولیکل او دا ئے عمرو ته ورکړل چه دا یو خط دے ته ئے خان سره وساته په یو وقت د اوقاتو کې به دے پکار راشی خط ئے هغه له ورکړو نو عمرو خان سره چاره واخستله او دننه پدے خپل ورور باندے ورداخل شو پداسے وخت کی چه هغه د غفلت په حالت کی وو نو هغه ئے مړکړو او دے د سفر په حالت کی وو د همدے سفر په حالت کی ئے مړکړو،

نو پدے کی دا حِمْیَر قوم او دا یمنیان راولګیدل دا عمرو ئے خپل بادشاه کړو نو دوی سره ئے وعده کړے وه چه واپس به خو بس د هغه ځای نه بیرته راواپس شو یمن ته راغلل،

پدے مابین کی الله سبحانه و تعالیٰ په دهٔ (عمرو) باندے خوب منع کړو خوب ورته نهٔ ورتللو، دهٔ نجومیان ساحران عرافین او غلط خلك راجمع کړل او ددے سبب ئے ترے وتپوسلو نو هغوی ورته وویل چه دا قانون دے چه کله څوك خپلوان مړکړی لکه پلار ووژنی یا ورور یا تره نو الله تعالیٰ د هغه انسان نه خوب منقطع او ختم کړی او پریشانه ئے کړی نو تا خپل ورور وژلے دے پدے وجه په تا دا بی خوبی او پریشانی راغلے ده، الله درباندے دا مصیبت راوستے دے۔

نو هغه له غصه ورغله او حکم ئے وکړو چه چا ماله د ورور د قتل مشوره راکړے ده دا کسان وژل غواړی، (ددے نه عجیب عبرت سړی ته را اوځی) نو عمرو راولګیده دے کومو کسانو چه د قتل مشوره ورکړے وه دا تول ئے ووژل او د تیغ نه ئے تیر کړل چه تاسو ولے ماته مشوره راکوله چه ورور دے مړکړه نو تول ئے قتل کړل، د ذورعین نمبر چه راغے هغه ته ئے وویل چه ته راشه تا هم وژنم، هغه وویل زما خو تاسره برائت شته دے هغه کاغذ راواخله، هغه کاغذ راواخستلو نو په هغے کی دوه شعرونه لیکلی وو هغه ئے ولوستل او د هغه شعرونو حاصل دا دے چه یو سړے راولګی خپلوان لره مړ کړی هغه انسان به بی خوبه کیږی.

سَعِيدٌ مَنْ يَبِيتُ قَرِيرَ عَيْنٍ	❁	أَلَا مَنْ يَشْتَرِىْ سَهْرًا بِنَوْمٍ	
فَمَعْذِرَةُ الْإِلٰهِ لِذِىْ رُعَيْنٍ	❁	فَأَمَّا حِمْيَرٌ فَغَدَرَتْ وَخَانَتْ	

٥خبردار! څوك دے هغه شخص چه د خوب په مقابله کی بی خوبی اخلی؟ هغه تن خو نیك بخت دے چه ښه یخو سترګو سره (په آرام) شپه تیره کړی

٥ هر چه حِمیر قبیله ده نو دے دوکه او خیانت وکړو نو د ذی رعین دپاره د الله د طرفنه عذر دے چه هغه پدے مشوره کی شریك نهٔ دے۔

یعنی حمیر قبیلے درله غلطه مشوره درکړه مګر زه پدے کی ملګرے نهٔ یم۔

هغه چه کله هغه اشعار اولوستل چه ده خو زما خیرخواهی کړیده او ما نده منلے نو*ذو رعین ئے پریښوده او نور وزیران او مشران ئے ووژل۔

فوائد: د دینه دا فائده معلومه شوه چه د بادشاهئ په وجه او دمال دولت د وجے نه خلك ورور هم وژنی لکه سیدنا یوسف علیه السلام خپلو وررونو کوهی ته غورځولے وو د حسد د وجے نه، په حسد کی چه کله بعضے خلك راشی نو بیا رور ولی او خپلولی او هیڅ شی ته نهٔ ګوری)

دویمه فائده: که انسان هر څومره حساس شی او هر څومره احتیاط کوی خو چه د مرګ ورځ ئے راشی خپل ورور به ئے د قتل مرتکب وګرځی په خپله کوټه کی به دننه ناست وی او قتل به کړے شی، معرکه او میدان جهاد کی به نهٔ وی، د مرګ نه هیڅ انسان نشی خلاصیدے)

دریمه فائده: چه کله یو سړے غلطه مشوره ورکړی او د بل چا بد خواهی وکړی او بدنیته شی نو ددے غلطے مشورے او بدنیتئ ضرر به ورته یوه ورځ د ورځو نه رسیږی که نن نهٔ وی میاشت یا کال دوه کاله پس به ورسیږی، الله تعالیٰ به ئے خپله ذلیله کړی لکه څنګه چه دے خلکو عمرو ته غلطه مشوره ورکړه نو بیرته همدغه کسان د عمرو په لاس ووژلے شو)

څه زمانه د عمرو بادشاهی پدے شکل باندے وه پدے کی دا عمرو هم مړشو ددے بی خوبئ او پریشانئ د وجے نه، هر کله چه پدے یمن کی افراتفری داسے جوړه شوه نو پدے کی یو سړے وو چه هغه د بیوت المملکة (د شاهی کورنئ) نه نهٔ وو یو فاسق سړے وو هغه راودانګل څان سره ئے څه فاسقان ملګری کړل په بادشاهی باندے ورغے نو بادشاهی ئے ونیوله او د تاریخ په کتابونو کی د دغه سړی نوم لَخُنِیعَه ذکر شوے دے او په ذِیْ شَنَاتِرُ نوم سره هم یادیږی، دا یو فاسق او بی حیا او بدکاره انسان وو فسق او

فجور او فساد به ئے کولو نو په یمن کی فسادونه شروع شو۔

دے بادشاه به یو ناولے او غلط کار دا کولو چه د باشاهی د کورنئ نه چه به کوم خلك وو د هغوی بے عزتی به ئے کوله دا ددے دپاره چه په راتلونکی زمانه کی د دوی لاس ته بادشاهی ورنشی، دۀ یوه کوټه جوړه کړے وه او د بادشاهی د کورنئ نه به ئے هلکان دے ځای ته راغوختل او بدفعلی او بی حیایی به ئے ورسره کوله ددے دپاره چه وشرمیږی او آینده کی ئے څوك مشر نکړی چه خلك وائی چه دا هغه سړے دے چه دده سره غلط عمل شوے دے دا څنګه مونږ مشر کړو،

دے بادشاه چه به کله دا بدعمل وکړو نو په کړکئ کی به خلکو ته راښکاره شو او مسواك به ئے په خُله کی نیولے وو خلکو ته به ئے اشاره وکړه چه زه اُوس د دے حیایئ نه فارغه شوم او هغه هلك مے وشرمولو ذلیله مے کړو، ددے وجے نه به هغه خلکو ته وردیدلے نشو چه خلکو ته ووائی چه ما مشر کړئ، د مشرئ د لیاقت نه به ئے ویستو، پدے کی د عمرو یو کشر رور دے چه هغه ته ذونواس وائی خپل نوم ئے زُرعه دے چه احادیثو کی دده واقعه راځی، دا واقعه مو ددے د پاره بیان کړه چه هغه حدیث ورسره لګیږی روستو په واقعه د اصحاب الاخدود کی راځی۔

نو ذونواس د بادشاهئ د کور هلك وو د عَمرو ورور وو اود تُبع حمیری ځوی وو، دا ډیر ښائسته هلك وو او جسیم هم وو او تَارَة ځوانئ ته رسیدلے وو، عقلمند هم وو، هغه دے لخنیعه بی حیا او ظالم بادشاه راوغوښته نو دغه نوجوان هلك پدے پو هه شو چه د بدکارئ دپاره مے غواړی نو د ځان سره ئے یوه تیره چاړه واخسته وړه غوندے چه په خپل بوټ کی ئے دننه کیښوده او دده کوټے ته ورغے کله چه هغه دده د بی حیاء کولو اراده وکړه نو غلے غوندے هغه چاړه ئے راویستله او پدے خیټه کی ئے ووهلو او مردارئے کړو او د هغه سرئے غوڅ کړو، په کومه کړکئ کی چه به راښکاره کیدو هلته ئے کیښوده دے چه کله بهر راووت نو د خلکو طریقه دا وه چه د دغسے هلکانو پسے به ئے توقے کولے نو ده ته ئے هم وویل (یَا ذَا نَوَاس اَرَطْبٌ اَمْ یَبَاس) دا خبره ئے ده ته وکړه چه څنګه چل ئے درسره وکړو؟ نو هغه په حمیری ژبه کی جواب ورکړ (سَتَعْلَمَ الْاَحْرَاسُ است ذِیُ نَوَاس اَرَطْبٌ اَمْ یَبَاس) تاسو ټولو څوکیدارانو او ټولو خلکو ته به لږ ساعت روستو پته ولګی چه خبره لمده ده که وچه۔

نو ذونواس د دغه ځای نه د خپلے یرے نه وتبنتیده ځکه چه خلکو نیولو او وژلو ئے، په دے مابین کی چه څه وخت تیر شو دوی وکتل چه بادشاه ورك دے څنګه نۀ ښکاره کیږی چه کوتے ته ورغلل نو مردار پروت وو او سرئے په کړکئ کی ایښودے شوے وو نو د یمن خلکو وویل چه دا ذونواس خو ډیر غیرتی شجاع او بهادر سرے دے، دا په ځان بادشاه کول غواړو ځکه چه دۀ مونږ ددے خبیث بادشاه نه خلاص کړو۔

نو ده پسی ګرځیدل یو ځای کی ئے پیدا کړو نو ورته وے ویل چه مونږ تا مشر کوو، تۀ د بادشاهئ لائق ئے نو پدے طریقه ذونواس بادشاه شو نو بیر ته د بادشاهئ کورنئ ته حکومت ملاؤ شو، نو ذونواس بادشاه شو او ډیره زمانه ئے بادشاهئ وکړه

ابن قتیبه رحمه الله وائی چه لخنیعه اووه ویشت (۲۷) کاله بادشاهی وکړه او بیا ذو نواس اته شپیته (٦٨) کاله۔

(الروض الانف۱/۸۵ للسهیلی) والبدایة والنهایة لابن کثیر۲/٦ ٢٠٢) الکامل فی التاریخ۱/١٤٤)۔

000000

نجران ته د نصرانیت راتللو طریقه

ذونواس یهودی بادشاه وو دا هغه سړے دے چه الله سبحانه وتعالیٰ سورت البروج کی ددۀ د ظلم واقع ذکر کړیده۔

﴿قُتِلَ اَصۡحٰبُ الۡاُخۡدُوۡدِ﴾ الله فرمائی: هلاك دے کړے شی کندو والا چه مسلمانانو ته ئے د اور کندے کنستلے وے او هغوی ئے پکی ور ګوزارل۔ په قرآن کریم کی دے واقعے ته اشاره شوے ده چه تفصیل ئے روستو راځی۔

ذونواس بادشاهی کوله یهودیت ئے په علاقه کی خوررولو، د یهودیت دپاره به ئے دفاع کوله او د یهودیت دپاره ئے غیرت کولو پدے دور کی سیدنا عیسیٰ علیه السلام راغلے وو، سیدنا عیسیٰ علیه السلام په شام کی الله تعالیٰ نبی ګرځولے وو، لږه زمانه نبوت ئے وو نو الله تعالیٰ آسمان ته بره وخیژولو، نو د سیدنا عیسیٰ علیه السلام دوه شاګردان پاتی شو حواریین چه دا په دین باندے ډیر کلك خلك وو موحدین وو نو پدے کی یهودو دا کوشش وکړو چه د دوی نه توحید ختم کړی ځکه یهودو کی فساد ډیر زیات دے نو د هغوی نه ئے توحید ختمول غوښتل نو ددے نصاراؤ دین ئے په چل ول باندے ګډ وډ کړو چه هغه

اُوړ ده قصه ده،

په کوم ځای کې چه به د دوی لږ شان طاقت وو په هغې به ئې حمله کوله هغوی به ئې وژل او قتلول به ئې او کوم عالِم او پو هه شان سړے چه پکې وو هغه به ئې هم وژلو نو پدے کې نیکان صالحین خلك پټ شو څوك غرونو ته او څوك ځنګلوته لاړل چه د الله تعالی بندګی به کوو او ددے یهودو سره جنګ او جهاد نشوکولے طاقت راسره نیشته، دعوت هم نشوکولے نو ځانله به کینو د خپل رب بندګی به کوو، دا دور راغے۔

نو په دوی کې یو سړے وو چه د هغه فَیمیُون نوم وو ډیر صالح انسان وو او د شام اُوسیدونکے وو، د سیدنا عیسٰی علیہ السلام په مذهب باندے روان وو، ددے خلکو دعاګانے به هم ډیرے قبلیدے نرم زړونو والا وو بندګی به ئې هم د الله تعالیٰ ډیره کوله، دۀ به د اتوار د ورځے تعظیم کولو چه ټوله هفته به ئې د خلکو دپاره په مزدورئ باندے کورونه جوړول خوراك به ئې په خپل لاس پیدا کولو او چا ته به ئې سوال نۀ کولو او د اتوار په ورځ به صحراء ته تللو او د خپل رب بندګی به ئې کوله تر ماښامه پورے نو دده په نیکئ او شان باندے یو سړے پو هه شو چه د هغه (صالح) نوم وو نو صالح دده سره ډیره مینه پیدا شوه نو صالح به دده پسے په پټه ګرزیدو چه هغه ته به ئې ځان نۀ ښکاره کولو تردے چه د هغه نه ئې ډیر کرامات ولیدل چه په یوه صحراء کې دده خوا ته خطرناك مار راغلو او دے په مانځه ولاړ وو نو دۀ ورته ښیرے وکړے مار الله تعالیٰ ختم کړو نو د صالح ورسره مینه نوره هم زیاته شوه هغه ته ئې ځان ښکاره کړو چه زۀ ستا سره ډیره مینه لرم،

نو فیمیون صاحب به په مختلفو ځایونو کې په پټه دعوت کولو او خپله مزدوری به ئې کوله او دا صالح ورسره کلك ملګرے شو هر ځای کې به ورسره لازم ګرزیدو تردے چه دا دواړه افریقے ته تلی وو هلته ئې دعوت کولو بیرته په واپس راتللو کې د عربو یوے قبیلے پرے حمله وکړله

(او د عربو عادت دا وو چه مسافر به ئې هسے نیول) نو دواړه ئې ونیول او د دوی نه ئې غلامان جوړ کړل نو په دے کې ئې هغه راوړل او په نجران علاقه کې ئې خرخ کړل او نجران یمن ته نژدے علاقه ده چه اُوس په سعودی کې داخل ده، د سعودی یوه صوبه او حصه ده، د صوبه اَبهَا نه ورته (۲۷۰) کیلو میتره فاصله ده، مخکې دا علاقه په

یمن کې داخله وه، د مکې نه جنوب مشرقي طرفته (۹۱۰) کیلو میټره وړاندې دې.

نو په نجران کې ئې دا فیمیون او ددهٔ ملګرې خرڅ کړل، فیمیون په یو سړي او صالح په بل سړي باندې، فیمیون د نجران د شریفانو نه یو شریف سړي واخستلو نو فیمیون ډیر صالح سړے وو، د شپې او د ورځې به ئې د خپل مَولىٰ او مالك دپاره کارکولو او د الله تعالیٰ بندګي بهٔ ئې هم کوله،

پدې مابین کې هغه مَولىٰ دا فیمیون ولیده چه د شپې په تیاره کې په کوټه کې ورته رڼا بلیږي پدې حال کې چه هغه سره د رڼا څه ذریعه نشته، نهٔ بجلي نهٔ شمع او نهٔ ډیوه هیڅ نشته او رڼا ورسره ده بیا ئې بله شپه پدې حال کې ولیده چه بیا ورسره رڼا ده، بله شپه ئې ولیده نو پته ورته ولګیده چه دا سړے په حقه دے او دهٔ ته د الله تعالیٰ د طرف نه دا رڼا راځي (ځکه چه څه اسباب ظاهري نشته دے او ده سره رڼا وي نو دیته کرامت وائي، کرامت همدې ته ویلے شي چه الله سبحانه وتعالیٰ په غیر د اسبابو نه چا ته څه شے ورکړي لکه هغه دوه صحابه کرام چه هغوی ته به د هغوی د همساګانو نه رڼا راوتله، د سیدنا طفیل بن عمرو الدوسي رضی الله عنه د تندي نه رڼا راوتله، نو بیا هغه دعا وکړه چه الله تعالیٰ دا لرې کړه نو په چابك کې ورله الله تعالی دا رڼا واچوله دیته کرامت وائي ظاهري اسباب نهٔ وي او رڼا وي، دا د یو ولي او نیك عمله سړي په اختیار کې نهٔ وي)،

نو هغه مالك ترې تپوس وکړو چه تهٔ د چا عبادت کوې؟ ستا اِله خو ډیر عجیب دے، هغه ورته ووېل: زهٔ د هغه ذات بندګي کوم چه وحده لاشریك دے، دیته توحید وائي زهٔ د هغه بندګي کوم او زهٔ په توحید باندې روان یم، دا رڼا د هغه د بندګئ د وجې نه هغه مونږ ته راکوي.

نو په نجران کې شرك ډیر زیات وو د یوې کجورې عبادت به کیدلو چه یوه غټه اُوږده کجوره وه او کال پس به پرې میله لګیده، او جامې او کپړې او د ښځو ګاڼړې به ئې پرې اچولې او قسم قسم څیزونه به ئې هغې ته زوړندول لکه د مشرکینو دا نظریه ده.

مالك د فیمیون نه تپوس وکړو چه تهٔ په کوم دین باندې روان ئې؟ هغه ورته ووېل: زهٔ په نصرانیت باندې یم او تاسو په باطل دین باندې روان یئ، دا د کجورې ونه نهٔ چا ته فائده رسولے شي او نهٔ ضرر، او بیا دے فیمیون صاحب ورته ووېل:

کـه زۀ داسـې وکـړم چـه د خپـل الله نه دعا وغواړم چه ستاسو دا معبود هلاك کړي او تباه شـي نـو تـاسـو بـه زمـا پـه ديـن کې داخل شئ؟، هغوی وويل : هر کله چه ستا اِله دومره زورور وي چه هغه زمونږ دا اِله او معبود ختمولے شي نو بالکل پکې داخليږو او خپـل ديـن پـريـدو، نـو د هغـه عـلاقـې مشـران راجمع شو او فيميون ورته راووته او دوه رکـعـتـه مـونـځ ئـې وکـړو او د الله تـعالیٰ د ذات نه ئې دعا وغوښته چه الله تعالیٰ دا شرك ددې عـلاقې نـه ختـم کـړه، د الله تعالیٰ نه ئې په اخلاص سره دعاګانې وکړې نو پدې کې رب الـعـلـمين د آسمان نه پدې کجوره باندې يوه صاعقه (تندر) نازل کړو او دا ئې د بيخ نه ويستله او ټوله ئې وسيزله۔

بـعـضـې روايتـونـو کې راځي چه هوا ئې پرې راوليږله نو پدې دواړو خبرو کې بُعد نشتـه، پـه تندر باندې اول ختمه کړه بيا ئې پرې هوا والوځوله، خلکو تعجب وکړو چه دا زمـونـږ اِلـه او معبود او ددې سړي په دعا پداسې طريقه ختميدل دا خو ناشنا کار دې، نـو عـام نـجران والا په نصرانيت کې داخل شو، نصاریٰ شو چه دا دين حق دې ځکه چه ددې سړي داسې کـرامتـونـه راښکاره کيږي او زمونږ اله ختميږي، ددۀ د اِله د طاقت د وجې نـه، نـو ډير خـلـك د نجران په دين کې پدې وجه داخل شو، يوه وجه د نصرانيت د راتـلـلـو دا وه چه دا فيميون پدغه علاقه کې راغلے وو او دعوت ئې کړے وو، (کله کله ذ يـو سـړي پـه وجـه الله سبـحـانه و تعالیٰ ډير قوم ته اصلاح ورکړي او هدايت ورته وکړي لکه دوی ته د يو سړي په وجه الله تعالیٰ دومره هدايت ورکړو)،

دويمه وجه د نصرانيت دا وه چه د نجران يو بادشاه ووهغه هم يهودي وو هغه ځان له يـو سـاحـر سـاتـلے ووځکه ددې بادشاهانو عادت دا وي چه ځوك نجوميان ساتي، ځوك سـاحـران ځـوك پيـران، دې دپاره چه د روسته حالاتو په باره کې ترې معلومات واخلي، اُوسـنـي بادشاهان هم دغه نجوميان ځان سره ساتي، پيران ځان سره ساتي، د پاکستان د يـو وزيـراعـظـم هـم يـو پير دے چه په هر ځاى کې ځان سره ګرځوی حل او حرم کې هم ورسره وي، دا ددې دپـاره ګـرځـوي چـه مـونـږ لـه بـه برکت راکوي او خير به راکوي او د راتلونکي زمانې علم به ورسره وي د هغې نه به موخبروي)

دې بادشاه ځان له يو ساحر ساتلے وو، کله چه هغه جادوګر بوډا شو نوبادشاه ته ئې وويل چـه داسـې وکـړه چه يو هلك وګوره چه ډير ذکي (ذهين) وي چه زۀ ورته دا جادو زده کړم

چه صبا له تاته فائده درکړی، ځکه زۀ مړ کیدو والا یم چه دا علم باقی پاتے شی،

(د جادو علم په اصل کی د فرعون نه پاتی وو، فرعون د جادو د پاره سکولونه جوړ کړی وو، بعض خلك سکولونو ته پدے وجه د فرعون تعلیم وائی) نو هغوی چه وکتل یو هلك ئے پیدا کړو چه د هغه نوم عبدالله بن تامُر دے دا هلك به تللو او د دغه ساحر نه به ئے سحر زدۀ کولو سهار به تللو او ماښام ته به واپس کورته راتللو۔

پدیکی نصارئ ددے باشاهانو نه پټ شوی وو، په غارونو او په ځنګلو کی به ناست ووځانله به ئے عبادتونه کول نو دا عبدالله بن تامر چه به د خپل کورنه راتللو نو په یو ځنګل به راتیریدو یوه ورځ ئے ولیدل چه یو سړے دے د خپل رب عبادت کوی (ابن اسحاق د وهب بن منبه رحمه الله نه نقل کړیدی چه دا سړے فیمیون وو)

نو دۀ ورته غوږ کیښودہ هغه انجیل لوستلو په ډیر خوږ آواز باندے او ددے سره ئے ژړل هم نو ده تعجب وکړو چه دا ځنګه ناشنا حالت دے چه سړے یواځے یو غار کی ناست دے او کتاب لولی او ژړا کوی نو په دۀ باندے اثر وشو (ځکه چه صحیح عبادت او حق دین او د الله کتاب د فطرت سره برابر وی نو د عبدالله بن تامر دا کار ډیر خوښ شوځکه چه فطرت ئے صحیح وو)

نو وخت په وخت به راتللو ددۀ سره به کیناستلو او انجیل به ئے ترے زدۀ کولو او هغه ساحر له به هم ورتللو، نو کله چه به ساحر ته ورغے ناوخته به وو، ماښام کی چه به کورته راغلو هم ناوخته به راتلو، نو کور والا او ساحر دواړو پرے اعتراض وکړو چه دا ولے د سکول نه ناوخته راځے او ساحر به ورته وئیل چه د کور نه ولے ناوخته راځے؟

نو ده خپل راهب (پیر) ته شکایت وکړو چه زۀ هلته هم وهلے کیږم او دلته هم وهلے کیږم، نو هغه استاذ راهب ورته توریه ورروښودله چه کله جادوګر ته ورشے هغه ته وایه زۀ کورکی بند شویووم او خپل اهل بند کړے وم او کله چه خپل کورته لاړشے هغوی ته وایه چه زه د ساحر سره بند شوے وم،

(یعنی توریه کوه، توریه دیته وائی چه دروغ هم پکی نۀ وی او دمخاطب لړ شان ذهن بل طرفته واوړی او ته پکی دروغ هم ونۀ وائے حقیقت بیان کړے)،

پدے حالت کی دا وو هلته به ئے جادو هم زده کولو او بل طرف ته به ئے د دے عابد نه عبادت هم زدۀ کولو او انجیل هم،

نبی کریم ﷺ فرمائی: یوه ورځ د ورځو نه داسے واقعه وشوه چه په لاره کی یوه غټه اژدها راوتلے وه (یوه بلاوه یو لوی حیوان وو) چه د خلکو لاره ئے بنده کړے وه څوك پرے نشو ورتیریدلے نو په دغه وخت کی دے هلك (عبدالله بن تامر) وویل چه زهٔ نن گورم چه ددے ساحر پدے جادو کی به طاقت ډیر وی او که د دغه راهب عبادت گزار کلمه او دین به حق وی نو پدے کی دهٔ خپل غشی راواخسته او بسم الله ئے پرے وویله او دغه اژدها ته ورواړندے شو هغه ئے ویشتله او لاره ئے خلکو ته خلاصه کړه نو ددهٔ پدے خپل دین (نصرانیت) باندے عقیده نوره هم پخه شوه او دا کرامت ورله هم الله تعالیٰ ورکړو ځکه چه په زړه کی ئے صفائی وه،

دے وړوکی هلك داسے مصیبت د الله تعالیٰ په ذکر او په غشی سره لرے کړو چه عامو خلکو هغه نشو لرے کولے نو خلکو کی مشهورشو او الله تعالیٰ ورله کرامتونه ورکړل نو خلك به ورته راتلل چه ما دم کړه ما جوړ کړه نو دهٔ به اول ورته د توحید دعوت ورکړو چه زه تا نشم جوړولے، جوړول صرف الله سبحانه و تعالیٰ کوی، تهٔ په الله باندے ایمان راوړه او نصرانیت دین او د الله توحید قبول کړه نو زهٔ به دے دم کړم او د الله نه به وغواړم الله رب العزت به دے روغ کړی۔

(دا د یو دمگری او ډاکټر کمال وی چه سړی له دوائی هم ورکړی دم هم پرے واچوی او ورسره د توحید عقیده هم ورته وښائی، د هغه پیرانو پشان به نهٔ جوړیږی چه هغوی خلکو ته خپله لوئی او خپل کمال ورښائی چه زهٔ داسے کمالی یم، د الله تعالیٰ نه ذهن اړول او په غیرالله جوړول دا خو د مشرکانو کار دے، نسبتو نه پدے باب کی الله تعالیٰ ته پکار دی)

نو عبد الله بن تامر وویل چه زه جوړول نشم کولے گوره دا رب العلمین کوی تاسو الله تعالیٰ باندے ایمان راوړئ نو خلکو به ایمان راوړو او دهٔ به دمول نو الله تعالیٰ به جوړول نو دا خبره په خلکو کی مشهوره شوه،

(دمونه ډیره مقبولهٔ شعبه ده پدے وجه دمگری ته هر څوك راځی هغه له پکار دی چه د توحید دعوت ورکړی) نو دهٔ له به هر څوك راتلل او ده به د دم سره دعوت هم ورکولو نو په دے کی ډیر نصاریٰ پیدا شو نو د بادشاه یوجلیس (همیشه ناست) ملگرے وو، یارانه دوستانه ئے وه هغه په سترگو ړوند شوے وو هغه واوریدهٔ چه پدے

علاقه کې یو هلك پیدا شوے دے ورکوتے هلك دے چه په چا دم واچوی نو جوړیږی هغه هم راغلو ده ته ئے وویل چه ما جوړ کړه!

عبد الله بن تامر ورته وویل: زۀ جوړول نشم کولے، جوړونکے الله تعالیٰ دے که ته په الله تعالیٰ باندے ایمان راوړے او د توحید صحیح عقیده قبوله کړے او په سیدنا عیسٰی علیه السلام باندے ایمان راوړے نو زۀ به درله د الله نه وغواړم هغه به شفا درکړی۔ ((روند د الله نه څه غواړی؟ دوه سترگے)) نو هغه توحید قبول کړو، دۀ ورله دعا وکړه او دم ئے پرے واچولو الله تعالیٰ ورله په سترگو کې رڼا پیدا کړه او نظر ئے ولگیدو، بینا شو، الله سبحانه و تعالیٰ پدے قادر دے چه تلے سترگے بیرته راواپس کړی په هر څه قادر دے، برگی مرض هم ښه کولے شی مړی هم راژوندی کولے شی هر څه کولے شی۔

د بادشاه دا ملگرے واپس د بادشاه خوا ته راغلو (ځکه چه د موحد او حق پرست دا گمان وی چه فلانے سړے زما یار دوست دے اوس به هم همغسے یار دوست وی حال دا چه کله تا صحیح عقیده اختیار کړه نو ملگری او مور او پلار او نزدے خلك او استاذان به درسره دشمنی شروع کړی او غلطے فتوے به درباندے ولگوی چه دا خراب شویدے، بی مذهبه او بی دینه شویدے، په پیسو واوړیدو)

دا چه هلته ورغے بادشاه ورته وویل: ته څوك ئے؟ هغه وویل: زه فلانے یم ستا ملگرے، بادشاه وویل: دا سترگے درته چا واپس کړے؟ هغه وویل: دا خو ما ته رب العلمین واپس کړے نو بادشاه وویل (أَلَكَ رَبٌّ سِوَائِ ؟) آیا زما نه بغیر هم ستا رب شته دے؟ نو جلیس الملك ورته وویل: زما رب او ستا رب او د ټول مخلوق رب یو الله تعالیٰ دے، هغه ذات دا کارونه کوی، بادشاه ورته وویل: ته خو زما دوست وے، دا خبرے به پریدے که پریدے نبنبودلے نو زه دے وژنم، مگر توحید د هغه زړه ته داسے مضبوط ورننوتے وو هغه ورته وویل: که مړمے کړے هم زۀ توحید نشم پریښودلے؛

(د الله تعالیٰ توحید او حق دین په هسے د همکئ باندے ځنگه پریښودلے شی داسے توحید او ایمان خو بیا زړه ته نۀ وی ننوتلے والعیاذ بالله، الله تعالیٰ دے په مونږ باندے داسے حالت نۀ راولی)۔

نو هغه وویل: نۀ ئے پریدم، بادشاه راولگیدو دا خپل ملگرے ئے ووژلو چه د ډیرے مودے نه به ورسره په یو مجلس کې ناست وو، بیا بادشاه دغه هلك راطلب کړو دا کوم

ئے چه مقرر کړے وونو دۀ ته ئے ووئیل : بچیه ستا خو دا جادو ډیر مؤثر شوے دے کوم جادو ته چه مونږ تۀ کینولے ئے، نو عبدالله بن تامر ورته ووئیل دا جادو نۀ دے دا د الله تعالیٰ توحید او د الله تعالیٰ کلمه ده، نو بادشاه ورته ووئیل : چا درته دا عقیده ښودلے ده، شابه هغه سړے راوښایه، دے هلك ته هغه راهب ویلی ووچه تا باندے به امتحان راځی ځکه پدے مسئلو کی په سړی باندے د الله سبحانه و تعالی امتحانات راځی مګر مابه چاته نه ښائے که ته چرته اونیول شوے مابه نۀ ښائے۔ نو هغه ونیول شو او د سخت سخت وهلو نه روستو هغه کمزورے شو او حال ئے ووئیلو چه ما ته د فلانی ځای راهب دا عقیده راښودلے ده، بادشاه د هغه پسے پولیس ولیږل هغه سړے ئے ونیولو او رائے وستلو، دۀ ته ئے ووئیل دا عقیده تا دے هلك ته ورښودلے ده شر او فساد دے جوړ کړے دے، شابه دا عقیده پریده، راهب ووئیل دا خو زۀ نۀ پریدم۔

بادشاه ورته ووئیل : دا پریده کنے وژنم دے، راهب ووئیل نۀ ئے پریدم امر ئے وکړو چه لاړ شئ آره راوړئ نو هغه ئے راوړه او د سر په مینځ ئے ورته کینښوده او د لاندے پورے ئے دوه ټوټی کړو یوه ټوټه ئے یو خوا پریوته او بله بل خوا ته او شهید شو (په توحید او دین باندے خلکو ته داسے تکلیفونه رسیدلی دی او بیا هم د دین نه نۀ دی اوړیدلی۔

او دا اول ځل نۀ دے چه په مسلمانانو باندے تکلیفونه راځی بلکه د پخوانه الله تعالیٰ د اسلام سره دا تکلیفونه تړلی دی په ټولو دینونو کی د الله تعالیٰ دا طریقه ده چه په اهل حقو باندے داسے مصیبتونه ډیر راولی ځکه چه جنت ئے ورله تیار کړے دے)

دا غریب خو شهید شو، پدے کی بادشاه ته پته ولګیده چه دا شر ټول ددے هلك نه پیدا دے ددۀ وژل پکاردی نو په داسے انواعو د قتل باندے به ئے قتل کړو چه خلك ترے عبرت واخلی، کوته کی نۀ ئے وژنو نو پنځه سوه فوج ئے برابر کړو او دا هلك ئے د هغوی مشر ته ورکړو چه دا ځان سره واخله یو غر ته ئے وخیژوه او اقرار ترے واخله که زمونږ دین ته راواپس شو نو پریدئ او که په خپل دین کلك وو نو د غر نه ئے ښکته راګوزار کړئ دے دپاره چه ټول خلك ئے سیل وکړی او دا غوښے ئے پوتی پوتی شی کله چه دوی دا هلك غر ته وخیژولو نو دا هلك خو مستجاب الدعوات وو، دۀ د الله نه دعا طلب کړه :(اَللّٰهُمَّ اكْفِنِيهِمْ بِمَا شِئْتَ) (اے الله ! تۀ زما دپاره ددے خلکو نه کافی شے) چه څه ستا خوښه وی په هغه طریقے سره ته دوی هلاك کړه، نو په غره باندے الله تعالیٰ

زلزله راوستله او ټول هلاك شول صرف دا هلك بچ پاتے شو
(د الله سبحانه وتعالیٰ قدرت ته وګوره چه پنځه سوه کسان ټول تباه کوی او صرف یو تن بچ کوی)
لیکن عبد الله بن تامر هجرت ونهٔ کړو بیرته ددے بادشاه خوا ته راغے ځکه پدے کی حکمتونه وو بادشاه جاهل وو، بادشاه ورته وویل: ملګرو دے څه وکړل؟ دهٔ وویل : الله تعالیٰ زما د طرفنه د هغوی کافی شو، ټول هلاك شو نو بادشاه بیا نورو پنځه سوه فوجیانو ته حکم وکړو چه دا هلك په کشتئ کی کینوئ، کله چه کشتئ د دریاب مینځ ته لاړه شی نو اقرار ترے واخلئ که راوګرزیدو خو صحیح ده !و که نهٔ راګرزی نو دریاب ته ئے ګوزار کړئ دے دپاره چه خلك ترینه عبرت واخلی، کله چه دوی کشتئ کی کینولو او د دریاب مینځ ته ورسیدل نو دغه هلك بیا ښیرے وکړے چه اے الله ! تهٔ زما دپاره د دوی نه کافی شے نو پدے کی په کشتئ باندے لوی لوی چپی راغلے اوکشتئ واوړیده ټول فوج پکی هلاك شو صرف دا هلك بچ شو۔
دے واپس بادشاه ته راغلو ورته ئے وویل چه تهٔ ما نشے وژلے ترڅو چه زهٔ درته چل وښایم، باشاه وویل : څه دی ؟ دهٔ وویل : پدے نجران علاقه کی چه څو مره خلك وسیری ټول قبائل العرب به راجمع کړے او ما به یو اُوچت ځای ته وخیژوے او بیا به زما د غاړکئ نه یو غشے راواخلے او داسے به ووائے چه (بِسْمِ اللهِ رَبِّ الْغُلَامِ)
(په نوم د هغه الله دے ولم چه ددے هلك رب دے)،
هغه بادشاه جاهل وو خلك ئے راجمع کړل چه خپل طاقت ورته وربنکاره کړی چه زهٔ داسے زورور یم چه خلك وژلے شم لیکن پته ورته نشته چه ددے عاقبت ددهٔ په ضرر تمامیږی، دا هلك ئے اُوچت یو لرګی د ونے ستے ته وخیژولو او ددهٔ د غاړه کئ نه ئے غشی راواخستل او (بسم الله رب الغلام) وئیلو سره ئے هلك ویشتلو نو هغه په ځنړه باندے ولګیدو او لاس ئے پرے کیخودو نو هغه شهیدو شو (رضی الله عنه وارضاه)
پدغه ځای کی دا مجلس برخاست شو خلکو خپل مابین کی ګونګوسی شروع کړل چه دائے ولے ووژلو؟ دا ئے په څه ووژلو؟ او څنګه پدے (بِسْمِ اللهِ رَبِّ الْغُلَامِ) کلمه کی دومره فائده وه؟، معلومیږی چه دا سرے په حقه ووا و زمونږ بادشاه په ظلم او زیاتی باندے روان دے نو عامو خلکو ایمان راوړو، بادشاه چه د څه نه یریدو چه پدے علاقه

کې نصرانیت خور نشی توحید خورنشی نو الله سبحانه و تعالیٰ هغه ځیز عام کړو، عامو خلکو ایمان راوړو سوئ د حکومتي او سرکاري خلکو نه۔

(ددې هلك (عبد الله بن تامر رحمه الله) په باره کې راځي چه روستو زمانه کې د سیدنا عُمر فاروق رضی الله عنه په دوړ خلافت کې په نجران کې یو سړے وو هغه زمکه کنستله د څه کار دپاره نوګټه پکې راغله چه هغه ئے لرے کړله یو مړے دے او داسے ناست غونډے دے چه وے کټلو روغ جوړ دے، لاس ئے په همغه ځای ایښے دے په کوم ځای چه لګیدلے وو نو دوی ترے لاس لرے کړو وینه ترے روانه شوه، چه لاس به ئے پرېښودو هغه به بیرته خپل ځای ته واپس کیدو نو دوی سیدنا عمر رضی الله عنه ته خط ولیکلو نو سیدنا عمر رضی الله عنه هغه خلکو ته خبر ورولیږلو چه بیر ته ئے هغه خپل ځای ته واپس کړئ او دفن ئے کړئ ځنګه چه د مخکې نه پروت ووګوتے ورته مهٔ وروړئ ځکه چه د مړو بهر راویستل ندی پکار (السیرۃ النبویۃ لابن اسحاق ۱/۱٦)

د عمر فاروق رضی الله عنه د دورِ خلافت پورے دغه عبد الله بن تامر په قبر کې روغ جوړ پروت دے، وینه د هغه د مخ او تندی نه بهیږی، دا هم یو بیل کرامت دے چه الله سبحانه و تعالیٰ ئے بندګانو له د مرګ نه روسته ورکوی دا زمونږ ددے امت شهداؤ سره ډیر کرت شوی دی،

د الله زمرے سیدنا حمزه رضی الله عنه اته څلویښت کاله بعد د سیدنا معاویه رضی الله عنه د خلافت په زمانه کې راویستلے شو د هغه د بدن نه وینه روانه وه، او په بیلچه باندے ئے هغه ځای کنستلو نو د سیدنا حمزه رضی الله عنه ګوته ولګیدله د هغے نه وینه روانه شوه،

د بل صحابی سیدنا عمرو بن الجموح رضی الله عنه ګوته ولګیدله د هغے نه هم وینه روانه شوه۔ نو سیدنا ابو سعید الخدری رضی الله عنه وفرمایل خلکو ګواه شئ چه دا خلك په حقه نهٔ وی نو څوك به په حقه وی!، اته څلویښت کاله روسته هم پکې وینه روغه پرته ده او وچه شوے نهٔ ده او په قبر کې روغ جوړ پراتهٔ دی، زمونږ د امت د شهداؤ سره خو دا کار الله سبحانه و تعالیٰ ډیر زیات کړے دے نو ده سره ئے هم دا کار کړے وو چه په قبر کې روغ جوړ پروت وو۔

عامو خلکو ایمان راوړو، بادشاه او خلك خپلو خپلو ځایونو ته خوارهٔ شول لیکن بادشاه ته خبر وشو چه تهٔ د څه نه یریدلے هغه کار خو وشو هغه دا چه عامو خلکو

ایمان راوړو او په توحید کې داخل شو نو په دغه زمانه کې ذو نواس بادشاه هم موجود وو د کوم قصه چه لږه مخکې مونږ ذکر کړه او د هغه سره فوجونه او طاقت زیات وو او هغه هم یهودي وو نو ذو نواس ځان سره فوجونه راروان کړل دې دپاره چه ددې مؤمنانو سره مقابله وکړي او د نجران دغه بادشاه هم ورسره ملګرې دې نو د لارو او د کوڅو په سرونو کې ئې اُخدود (ډوغلونه، ژورې کندې) وکنستلې او په هغې کې ئې اُورونه بل کړل او دا حکم ئې وکړو چه خلکو نه تپوس کوئ چه څوك په توحید او دغه دین (نصرانیت) باندې وي نو دې کندو ته ئې ورګوزار کړئ اوکه څوك وائي چه زۀ د بادشاه په دین یم نو هغه به ئې پریښودو نو پدې طریقه ئې ډیر خلك دغه د اُور کندو ته ګوزار کړل او په اُورونو ئې وسیزل پدې وجه ورته الله رب العالمین په قرآن کریم کې ډیر د غضب الفاظ استعمال کړیدي:

﴿قُتِلَ اَصۡحٰبُ الۡاُخۡدُوۡدِ ○ النَّارِ ذَاتِ الۡوَقُوۡدِ ○ اِذۡ هُمۡ عَلَيۡهَا قُعُوۡدٌ○ وَهُمۡ عَلٰى مَا يَفۡعَلُوۡنَ بِالۡمُؤۡمِنِيۡنَ شُهُوۡدٌ ○ وَمَا نَقَمُوۡا مِنۡهُمۡ اِلَّاۤ اَنۡ يُّؤۡمِنُوۡا بِاللّٰهِ الۡعَزِيۡزِالۡحَمِيۡدِ ○ الَّذِىۡ لَهٗ مُلۡكُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ شَهِيۡدٌ ○ اِنَّ الَّذِيۡنَ فَتَنُوا الۡمُؤۡمِنِيۡنَ وَالۡمُؤۡمِنٰتِ ثُمَّ لَمۡ يَتُوۡبُوۡا فَلَهُمۡ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمۡ عَذَابُ الۡحَرِيۡقِ ○﴾

دا آیتونه الله سبحانه وتعالیٰ د دوی په باره کې نازل کړي ووچه ددې روښتني امت دپاره پکې لوی عبرت دې، مؤمنان به ئې دغه اُورته وراچول بیا به ئې ګواهي کوله چه ما دومره ووژل او دومره مې قتل کړل او دومره مې ونیول، الله سبحانه وتعالیٰ فرمائي دغه ایمان والو څه ګناه نۀ وه کړې (د بادشاه ئې په بل څه وجه خلاف نۀ وو کړې) بلکه دوی په الله تعالیٰ چه عزیز او حکیم ذات دې ایمان راوړې وو او د هغه توحید ئې منلې وو نو دې خلکو ته دغه توحید او ایمان عیب ښکاره کیدو پدې وجه ئې دوی مقابله وکړه۔

پدې کې یوه زنانه راوستلې شوه چه د هغې سره په غیږه کې ماشوم وو، دوی هغه ونیوله او ورته ئې وویل چه دا ماشوم دې اُورته ګوزارو ایمان او توحید پریږدۀ، هغه په ماشوم خفه شوه او لږه غوندې روستو شوه لیکن بیا الله تعالیٰ مضبوطه کړه ماشوم ئې ترې واخستو او ددې مخامخ ئې اُورته ګوزار کړو نو الله تعالیٰ ددې کرامت دا راښکاره کړو چه دغه ماشوم د اُور نه آواز وکړو (او پدې وخت کې ئې خبرې شروع

کړے) چه اے مورے ! دا اُور نهٔ دے بلکه جنت دے، دے ته تهٔ هم راځه۔
دا خبره صحیح ده چه په ظاهره کې پدے کې تکلیف دے اُور دے سیزل کوی لیکن دے پسے روسته جنت دے الله سبحانه و تعالیٰ پدے کې جنت پیدا کړیدے بس دا هم زړه وره شوله اُورته ئے ور اُودا نګل او سره د بچی نه شهیده شوه رضی الله عنهما۔

ددے واقعے عبرتونه

(۱) ددے واقعے نه یو عبرت او فائده دغه را اوځی چه دِ سِحُر او غلطو تعلیمونو نه ځان ساتل پکار دی۔
(۲) بله دا معلومه شوه چه کله به په ایمان والو دومره سخته راځی چه ګوتونوته به ځی او هلته به د الله تعالیٰ بندګی کوی نوره وسه به ئے نهٔ کیږی نوغلے به کینی لکه د قیامت په علاماتو کې دا راځی چه کله دعوت فائده نهٔ ورکوی، جهاد نشی کولے نو بیا به د خپل ځان غم کوی او د الله تعالیٰ بندګی به کوی او نورو د خلکو غم به نهٔ کوی نبی ﷺ فرمائی : (فَعَلَيْكَ بِنَفْسِكَ وَدَعْ أَمْرَ الْعَامَّةِ)

(ابو داود: ٤٣٤٥) شعب الایمان (٧١٤٨ وغیره)

(د خپل ځان غم کوه او د عامو خلکو معامله پریده۔ لکه څرنګه چه په بنی اسرائیلو کې دا واقعه راغلے وه۔
(۳) دریمه فائده دا معلومیږی چه دغه عبد الله بن تامرؓ ځان قتل ته ورکړو د ډیرے غټے فائدے دپاره، او غټه فائده دا وه چه دغه خلك به ایمان راوړی چه د خلکو مخامخ دا بادشاه ما قتل کړی نو دے خلکو ته به الله تعالیٰ د ایمان توفیق ورکړی نو یو ځای کې ٭ بله وینه تویول او خپل ځان قربانی کول ددے دپاره چه غټه فائده په هغے باندے مرتبه وی نو دغه وینه هم قیمتی کیږی خو دا وینه به بنده په معمولی څیزونو نهٔ بربادوی لکه بعضے خلك په خپل ژوند تنګ شی نو هسے ځان هلاکوی۔
دلته هم دے سړی د کافر بادشاه په لاس ځان وژلے دے خو دا هغه زمانه وه چه د کافرو مقابله په بله طریقه نشوه کیدلے۔
(٤) بله فائده دا ده چه الله تعالیٰ د مجرم سړی نقیض القصد کوی یعنی یو سړے غلطه اراده لری نو الله رب العزت به د هغه په ضد کار کوی لکه چه ددے بادشاه اراده دا وه چه اسلام او دین او ایمان ددغه علاقے نه ختم کړی، الله تعالیٰ د هغه برعکس او د هغه په

ضد كار وكړو چه ايمان والائے ډير كړل، معلومه شوه چه كله به يو ملا په يوه علاقه كې دا كوشش كوى چه دے علاقه كې توحيد او سنت عام نشي، اهل حق رانبكاره نشي، هغه به د باطل دعوت هم كوى، مناظرے به كوى ليكن الله تعالىٰ به د هغه په ضد فيصلے كوى اهل حق به پيدا كوى او زياتوى به ئے، دا د الله تعالىٰ طريقه ده.

كفار به دا كوشش كوى چه د ټولے دنيا نه اسلام ختم كړو الله سبحانه و تعالىٰ ئے نور ډيروى، مجاهدين ختم كړو، الله سبحانه و تعالىٰ به ئے نور ډيروى چه يو مړ شي لس به پيدا كيږى چه لس مړه شي شل به پيدا كيږى اسلام نۀ ختميږى، (لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِيْ ......) د الله نبى فرمايلى دى : هميشه به داسى خلك وى چه هغوى به په حق باندے ولاړ وى او د كافرو سره به جنگ كوى، تر قيامت ورځے پورے به دا پروگرام روان وى، نو زما او ستا په مرگ سره اسلام نۀ ختميږى او نۀ جهاد ختميږى د الله تعالىٰ په فضل سره ځكه د الله نبى دا وعده كړيده چه داسے به كيږى.

(٥) بل عبرت او فائده دا معلوميږى چه كله بنده د الله تعالىٰ دين مضبوط راونيسى نو داسے مشكلات به هم پكى راځى، وهل ټكول، مرگ او قسم قسم تكاليف لكه په دغه قصه كې د زنانه د واقعے نه معلومه شوه.

د يمن بادشاه ذو نواس يهودى دا كار وكړو چه مسلمانان ئے شهيدان كړل او ډوغلونه ئے وكنستل او د نجران هغه مشر هم ورسره ملگرے وو نو په علاقه كې نصرانيت پدے وجه باندے راغلے وو.

د حبشو يمن ته داخليدل

هركله چه ذو نواس يهودى بادشاه د نصاراؤ مقابله وكړله او د عبد الله بن تامر ملگرى ئے قتل كړل نو د ذو نواس بادشاه نه يو مسلمان سړے چه د هغه دَوْس نوم وو او ذى ثُعْلُبان ئے ورته وئيلو د سبا والو نه وو، وتښتيدو په اس باندے سور شو او د ښرو په لاره روان شو چه دے په هغے كې عادت وو نو ددۀ فوج ورپسے ډيرے منډے وكړلے ليكن هغه ترے الله تعالىٰ خلاص كړو دا ذى ثُعْلُبان چه كله خلاص شو نو سيده روم ته لاړو.

قيصر بادشاه چه د روميانو مشر وو دے هم نصراني وو او په دغه علاقه د روميانو

کی هم نصرانیت راغلې وو دا بادشاه د سیدنا عیسیٰ علیه السلام په دین باندې وو نو ذی ثعلبان قیصر بادشاه ته شکایت وکړو چه مونږ سره په نجران کی داسې ظلمونه اُوشو او ذو نواس بادشاه فوجونه راوستلی وو تول مسلمانان او ایمان والا ئې شهیدان کړل زهٔ تری راوتښتیدلم نو ما سره مدد وکړه نو قیصر ورته وویل چه یمن زمونږ نه ډیر لرې دې که زهٔ درله فوج درکړم هلته مقابله کول او هلته رسیدل ډیره ګرانه خبره ده خو زهٔ به درله په نجاشی بادشاه باندې خط درکړم چه دا د حبشو بادشاه دې او هغه یمن ته نزدې دې (ځکه چه یو ټاپو او دریاب ئې مینځ کی دې د یمن او حبشو ترمینځ دریاب تیر شوی دې)

نوذی ثعلبان وویل: صحیح ده، قیصر ورله خط ورکړو نو دې د هغه ځای نه حبشو ته راغې او نجاشی بادشاه باندې په خاصه طریقه سره ورداخل شو، کله ئې چه ورله خط ورکړو نو هغه جنګ ته تیار شو ځکه حبش خلك د عیسیٰ علیه السلام په دین باندې وو او نصاریٰ وو اګرکه دوی دا عیسائیت خراب کړې وو، قسم قسم بدعات او خرافات ئې پکی داخل کړی وو لکه اُوس هم د یورپ حکومتونه ځان دپاره د عیسائیت دعوې کوی لیکن په صحیح نصرانیت نهٔ دی روان ځکه چه که دوی په خپل صحیح دین روان شی نو ضرور به په محمد رسول الله ﷺ باندې ایمان راوړی ځکه چه په هغه دین کی دا خبره راغلې ده چه اې خلکو تاسو به په آخری رسول محمد رسول الله ﷺ باندې ایمان راوړئ، لیکن دوی ددې خبرې منلو ته تیار نهٔ دی)۔

نجاشی ورته وویل بالکل صحیح ده زهٔ ستا مددګاریم ځو به او د ذو نواس مقابله به کوونو نجاشی دې ذی ثعلبان ته تقریباً اویا زره فوج ورکړو او په هغې باندې ئې (اَرِیَاط) حبشی مشر کړو ابرهة الاشرم هم پدې فوج کی دننه دې دا ددې فوج قومندان دې۔

دا اویا زره فوج راغې په ساحل باندې راپوریوتل مقابله ئې شروع کړه، ذو نواس هم فوج راوستلو او د دوی مقابله ئې شروع کړه نو الله تعالیٰ دغه یهودی او د هغه فوج له شکست ورکړو اوږده قصه ده، دهغې لنډه خلاصه دا ده چه ذونواس وتښتیده په اس باندې سور شو دریاب کی ئې ځان داخل کړو سره د اس نه چه دشمن ته ځان نهٔ ورکوم نو په دریاب کی ئې ځان ننویستو او آخر الله تعالیٰ په دریاب کی دننه مردار کړو۔

ذو نواس پدغه طریقه مردار شو خو ارياط دا اويا زره فوج يمن ته راوسته نو د يمن

ټوله علاقه حبشو ونیوله حبشو دلته نه یهودیت ویستلو او نصرانیت ئې راوړو. عام یهود ختم شو څه لږ لږ پټ پاتې شو او نصرانیت پکې عام شو.

پدې مابین کې د ابرهه او د أرياط په خپل مینځ کې اختلاف پیدا شو دا أرياط فاسد شان سړې وو، دۀ به ډیر ورانې کولو، ابرهه ورته وویل چه فسادونه او شرونه مکوه نو اختلاف ئې پیدا شو نو نیم فوج د ابرهه سره شو او نیم فوج د ارياط سره، نو ابرهه د حلم او صبر والا انسان وو، ابرهه ورته وویل دا فوځیان ولې جنګوو زما فوج هم حبش دی او ستا هم حبش دی، حبش په حبشو ولې مړه کړو؟ راځه ما او تا به مقابله اُوکړو که زۀ دې چرته او وژلم، مشری به ستا شی او که ته مې اُووژلې نو مشری به ما ته پاتې شی نو أرياط وویل چه د انصاف خبره دې وکړه، عوام څله وژنو، ښه دا ده چه ما او تا مقابله وکړو د اکثروُ بادشاهانو طریقه دا وی چه خپله په سوړه کی ناست وی او عوام په خپل مینځ کی وژنی.

نو پدې کې د دې دواړو مقابله شوه میدان ته راووتل او خلکو ئې سیل کولو نو أرياط اُوږد سړې وواو ابرهه لنډې وو، د بدن نه پیړ وو، نو ارياط په ابرهه حمله وکړه په سر، پوزه او شونډو باندې ئې اووهلو او دائې ورله غوڅ کړل، د سر په ځای ئې روڅه ولګیده ددې وجه نه به ابرهه ته (ابرهة الاشرم) وئیل کیدو. د اشرم معنیٰ ده شونډه او پوزه او روڅه پریکړې شوې) نو پدې کې ابرهه پرې بیرته حمله وکړه او د ابرهه یو غلام وو د هغه نوم عتوده وو هغه هم پرې حمله وکړه نو أرياط ئې قتل کړو او مشری ابرهه ته پاتې شوه.

کله چه ابرهه د یمن مشر شو پدې کې نجاشی بادشاه ته پته ولګیده چه ما کوم سړې د یمن مشر مقرر کړې وو هغه خو ابرهه وژلې دې نو په الله ئې قسم وکړو:

(لَيَطَئَنَّ أَرْضَ الْيَمَنِ وَلَيَجُزَّنَّ رَأْسَهُ)

چه زۀ به د یمن په زمکه خپه ایږدم یعنی یمن ته ځم او د یمن خاورې ته به فوج داخلوم او د ابرهه سر به خریم، پدې کې ابرهه ته پته ولګیده چه نجاشی بادشاه راپسې راځی او هغه خو زورآور دې نو پدې ځای کې ئې خپل سر وخریلو او د یمن خاوره ئې راوخستله او په یوه بوجۍ کې ئې واچوله او دا ئې نجاشی ته ولیږله او دا ئې ورته ولیکل چه زۀ هم ستا غلام یم او أرياط هم ستا غلام وو، مونږ ټول ستا د امر تابعدار یو لیکن

اَرباط ورانے کولو ما پدے وجه ختم کړو، نور څه غواړے یو مشر به مقرروی خو زهٔ یم؟ دهٔ ورته ډیره عاجزی وکړه هرچه ستا قسم دے نو هغه پدے پوره کړه، د یمن خاوره مے در ولیږله پدے باندے قدم کیده او زما د سر پریکولو قسم بادشاه کړیدے نو دا ویښته مے پریکړل او دا مے درولیږل۔

پدے کی نجاشی بادشاه رضا شو چه صحیح ده، ته زما د طرفنه مشر شوے، نو ابرهه د یمن مشر شو،

د ابرهه د کعبے په مقابله کی یوه کوټه جوړول

د یمن د علاقے بادشاهی ددهٔ په لاس کی راغله نو دے ابرهه اراده وکړه چه د نجاشی بادشاه د ځان نه ښه رضا کوم او خوشحالوم ئے۔ نو د هغه د خوشحالئ دپاره ئے داسے کار وکړو چه یو قُلَّیس ئے جوړ کړو، قُلَّیس یو مُحکمی (مضبوطی) آبادی او کوټی ته وائی، د یمن په صنعاء علاقه کی ئے دا کوټه جوړه کړه او دا هغه زمانه ده چه د نبی کریم ﷺ د پیدائش وخت رانزدے شوے دے، دا ئے چه کله جوړه کړه نو نجاشی ته ئے ولیکل چه ما داسے آبادی جوړه کړی ده چه ددے په شان آبادی چا نهٔ ده لیدلے او نهٔ په دنیا کی شته، دومره ښکلے آبادی ده، پدے آبادئ کی د بلقیس د بادشاهئ سنگِ مرمر او د هغے سرهٔ زر او ټول جواهرات ئے راوړی او پدے کی ئے لګولی وو۔

ابرهه نجاشی ته دا خبره لیکلی وه چه دا مے دے دپاره جوړه کړه چه د عربو حج دیته راوړم، دا کوټه ئے د کعبی په شکل باندے جوړه کړے وه چه عام عرب به دیته راځی۔دا به د نصاراؤ یو مرکز وی، نجاشی بادشاه پدے باندے نور هم خوشحاله شو چه دا خو ډیر ښه کار دے کړیدے،

(دا خلك هسے ځانته هوښیار وائی حال دا چه په حقیقت کی جاهلان او ناپوهه دی چه د الله مقابله ئے شروع کړیده) د دوی غرض دا وو چه دلته به نصرانیت عام شی او بله دا چه د خلکو پیسے او اقتصاد به هم دلته راشی ځکه چه څوك کعبے ته ځی نو ډیر مالونه لګوی (او د بادشاهانو نه خلك ډیر متأثره وی پدے وخت کی د عربو ډیر قبائل هم نصرانیت کی داخل شوی وولکه غسانسنه، طئ قبیله او بنو تغلب وغیره)،

بنوتغلب نصاریٰ وو، نبی کریم ﷺ د دوی نه جزیه اخستے وه، دا د نبی کریم ﷺ په

وړاندې نیکه کې راځي، اَصۡحَابُ النَّسِيئَه ورته وائي چه دوی به نسيئه کوله، ددې تشریح به روسته راشي ان شاء الله تعالیٰ۔

د هغوی نه یو سړی ته غصه ورغله چه د الله تعالیٰ د حرم مقابله اُوس پدغه شي باندې کوی نو د شپې ئې په هغې کې ډکې متیازې اوکړې بیا ئې په ځای پرې ننبودلې بلکه را وائې خستلې او په دیوالونو پورې ئې اُومږلې او د هغه ځای نه د شپې شپې اُووتو، ابرهه ته پته ولګیده چه زما د کوټې بې عزتي شویده دا چا کړې ده؟ خبر شو:

(رَجُلٌ مِنَ الۡعَرَبِ مِنۡ بَنِيۡ كِنَانَةَ) د عربو یو سړې دې د بنو کنانه قبیلې نه۔

دا ئې ولې کړیده؟ پدې وجه چه ته د کعبې مقابله کوې د هغه په مقابله کې بله کوټه جوړوې،

نو ابرهه قسم وکړو چه قسم په الله د هغه وخته پورې زۀ نه منع کیږم تر څو چه مې د مسلمانانو کعبه نۀ وی ورانه کړې، نجاشي بادشاه ته ئې خبر ولیږلو چه زه خو کعبه ورانوم؟ نو هغه هم ورله اجازه ورکړه چه ورانه ئې کړه، نجاشي بادشاه ورله یو فیل ورکړو چه نوم ئې محمود وو، دا ډیر غټ هاتي وو او هاتیان په هغه وخت کې داسې وو لکه پدې زمانه چه ټینکونه دی، دیارلس هاتیان ئې ځان سره واخستل چه د کعبې مقابله وکړی، د کعبې د ورانونو دپاره ابرهه شپیته زره فوج د ځان سره واخسته چه دا ډیر زیات شمیر وو چه عام عربو د هغې مقابله نشوه کولې، دا ډیره عجیبه غریبه واقعه ده پدې کې ډیر زیات فوائد دی چه اشاره به ورته اُوکړې شي ان شاء الله۔

دا محمود هاتي ورله نجاشي ورکړو چه په کعبې نړولو کې به درته آساني وی، ابرهه راروان شو سره د ډیرو لښکرونه (د هغه زمانې د بادشا هانو عادت دا وو چه جنګونو کې به پخپله حاضریدل)۔

پدې کې عربو واوریدل چه ابرهه د یمن نه راروان دې او د الله تعالیٰ کور (کعبه) ورانوی نو ټولو عربو دا په ځان باندې لازمه وګڼړله چه د الله د حرم حفاظت پکار دې، (د الله تعالیٰ د حرم عزت د هغه خلکو په زړه کې وو، په مونږ باندې قتال واجب دې چه کافر راشي او د سړی د عزت ځای خرابوی نو سړې به ورسره قتال کوی)،

نو ابرهه راروان شو نو په لاره کې ورته د یمن د اشرافو او بادشا هانو نه یو تن راووتو چه د هغه نوم ذو نفر وو هغه خپل قوم د ابرهه او د هغه د فوج د مقابلې دپاره راویستلو

دیے دپاره چه د الله تعالیٰ د کور دفاع وکړي نو دوی سخت جنګ وکړو لیکن ذو نفر سره د خپلو ملګرو او قوم نه شکست وکړو او پدے کی ذو نفر ونیولے شو قیدی کړے شو.

ابرهه اراده وکړه چه قتل ئے کړي مګر دهٔ ورته وویل چه ما مهٔ قتلوه کیدے شی چه زما په بقاء کی به ستا دپاره فائده وی، نو ابرهه حلیم او صبرناك سړے وو هغه ورته وویل: تهٔ معاف شوے خو زمونږ جیل کی به پروت ئے، ځان سره ئے واخسته نو په لاره کی د خَثْعَم قوم په علاقه راتیریدو نو د خَثْعَم قبیلے مشر نُفَیل بن حبیب الخثعمی ورته سره د خپلو دواړو قبیلو (شهران او ناهس) نه د ابرهه د مقابلے دپاره راووتو او نور د عربو قبیلے هم ورسره ملګرے شوے، جنګ شروع شو دوی هم شکست وخوړو، د دوی مشر هم ونیول شو، ابرهه اراده وکړه چه دا قتل کړي، نو دهٔ ورته وویل: ما مهٔ وژنه زما په بقاء کی به ستا دپاره خیر وی ځکه چه زهٔ به تا ته لاره دروښایم ځکه چه زهٔ د عربو د لارو ډیر ماهر یم او دا دواړه قبیلے زما د لاس د لاندی دی زما خبره منی، نو هغه ئے هم ځان سره واخسته،

پدے مابین کی طائف ته راورسیدل، د یمن نه په طائف باندے لار راغلے ده۔

کله چه طائف ته راورسیدل، د ثقیف قبیلے مشران ورته راووتل او دا ئے ورته وویل چه مونږه خو ستا غلامان یو مونږه ستا حرب او جګړے دپاره نهٔ یو راوتلی ځکه ته زمونږ د معبود (بابا) لات (بت) د ورانولو دپاره نهٔ ئے راوتلے بلکه کعبه ورانوے (لات بت دپاره دوی یوه کوټه جوړه کړے وه او په هغے کی ئے ودرولے وو) او هرکله چه تهٔ د کعبے د ورانولو دپاره ځے نو لار به درته مونږ وښایو نو ثقیف قبیلے دا ظلم وکړو چه د کعبے د ورانولو دپاره ئے د هغوی سره سړی ملګری کړل او ابرهه هم دا اراده کړے وه چه زهٔ د هیچا سره قتال نهٔ کوم زما مقصد صرف کعبه ورانول دی که زما سره څوك جنګ نکوی زهٔ هم ورسره جنګ نهٔ کوم نو دا کسان ئے پریښودل، دهٔ ورسره جنګ ونکړو ځکه ثقیف قبیلے ورسره جنګ نهٔ کولو نو دوی ورسره یو سړے ولیږلو چه د هغه ابورُغَال نوم وو، دوی روان وو تردے چه کله دوی مُغمس علاقے ته ورسیدل چه دا د طائف او د عرفات ترمینځ یوه علاقه ده مکے ته نزدے ده، (۲۰) شل کیلو میټره فاصله ده، په هغه ځای کی ئے دمه وکړه نو هلته ابورغال باندے الله تعالیٰ مرګ راوستو هلاك شو او پدغه ځای کی خښ کړے شو۔

(د احادیثو نه معلومیږي چه د عربو عادت دا وو چه کله به پدغه لاره باندے تیریدل نو د ابورغال قبر به ئې په کانړو ویشتلو (لَاَرْجُمَنَّ قَبْرَكَ كَمَا رُجِمَ قَبْرُ اَبِي رُغَالٍ) دا په روایت د ترمذي کي راغلے دے (وسنده صحيح)،

سیدنا عمر فاروق رضی الله عنه د یو سړي (غَيْلَان الثقفي) په باره کي چه هغه خپلے تولے ښځے طلاقے کړے وے وئیلي وو چه یا به ښځو ته رجوع کوے یا به دے داسے په کانړو اولم لکه څنګه چه د ابورغال قبر په کانړو ویشتلے کیږي)

د عربو ورسره بغض وو چه دا هغه سړے دی چه د کعبے د ورانولو دپاره ئې ابرهه ته لاره ښودله، څوك چه پدغه لاره ورتیریږي ددے ظالم قبر په کانړو ولي دا خو الله تعالیٰ دغه ځاي کي مردار کړو۔

دوي بیا راغلل د مکے مکرمے نه بهر د مِنیٰ عَلاقے نه وړاندے او د مزدلفے ترمینځ یوه وادي وه هغے ته وادي محسر وائي په دغه ځاي کي ابرهه او د هغه فوج پړاؤ واچولو، وادي محسر اُوس په منیٰ کي داخل دے، نبي کریم ﷺ چه به کله پدے ځاي تیریدو نو اُوښه به ئې تیزه کړه او په جلتئ سره به تللو ځکه د هغه سنت دا دی چه یو قوم په کوم ځاي کي تباه شوي وي د هغه ځاي نه به په جلتئ سره وتلو او هلته به ئې سیل صفا نۀ کوله لکه څنګه چه د ثمودیانو په علاقه تیریدلو صحابه کرامو ته ئې وفرمایل چه د دوي کورونو ته مۀ ورځئ مګر که ورځئ نو ژاړئ ځکه چه الله تعالیٰ په غضب کیږي چه یو قوم په یو ځاي کي هلاك شویوي او یو سړے هلته ورشي سیلونه کوي او خاندي راخاندي داسے نۀ چه الله تعالیٰ تاسو هلاك نکړي ددے ځاي نه عبرت اخستل پکار وي رسول الله ﷺ به ددے ځاي نه عبرت اخستلو نو په جلتئ به تیریدو)۔

کله چه دوي دے مقام ته راورسیدل نو ابرهه مخکي یو سړے ولیږلو چه د هغه اسود بن مقصود نوم وو چه ته لاړ شه او د مکے چه کوم مالونه دي هغه قبضه کړه، هغه لاړو، د مکے چه کومے ګډے او اُوښان وو هغه ئې قبضه کړل،

(غالباً د مکے د خلکو حیوانات به اُوښان وو۔ هغوي نه به ئې فائدے اخستلے)

اُوښان ئې ونیول او هغه ئې د ابرهه فوج ته راوستل پدے کي د عبدالمطلب دوه سوه اُوښان هم ونیولي شو، (عبد المطلب د نبي کریم ﷺ نیکه دے)، مالونه د ابرهه ځاي

تـه راوستـل شـو، پـدے کـی ابرهـه راولـګـیـدو یو بل کس ئے مکے ته ولیږو چه حُنَاطه حِمْیَری نـوم ئے وو چه ته لاړ شه مکے والو ته اُووایه چه تاسو زما د قتَال اراده لرئ اوکه نه ؟ کچرته دوی د قتال اراده لری نو ته راشه ما ته خبر راکړه او که زما د قتال او د جنګ اراده نـهٔ لـری نـو د دوی چـه کـوم مشر دے هغه زما خواله راوله چه ورسره خبرے وکړم، حُـناطه مکے ته لاړو تپوس ئے وکړو چه دلته ستاسو مشر څوك دے؟ خلکو ورته وویل :ددے عـلاقے مشر عبد الـمطلب دے (د هغه قصه به روسته راشی چه دهٔ ته الله تعالیٰ پدے علاقه کی څنګه او په څه طریقه مشري ورکړے وه؟)۔

عبد الـمطلب ورغـے حُـنَاطه ورته وویل ته جنګ کوے اوکه نهٔ؟ عبد المطلب ورته وویـل چـه د جـنګ طاقت خو زمونږ نشته، د مکے مکرمے ضعیف خلك هغه به څه مقابله وکړے شی؟، مونږ جنګ نشو کولے قریش پدے باندے قادر ندی نو حُناطه ورته وویل چه زهٔ بادشاه رالیږلے یم هغه تا غواړی۔

پدے مابین کی اَبرهه خوبادشاه دے د هغه به خپل خاص محفوظ ځای وو، دهغه به خاص کټ، خاصـه کـرسـئ او خاصـه کوټه وه او خیمے به ورله په لاره وهلے کیدلے او دهغه سره خو هرڅوك نشو ملاویدے۔

نـو عبد الـمطلب د هغه سره راروان شو تردے چه معسکر ته راورسیدل نو د ذو نفر تپـوس ئے وکړو، ځکه چه دا ذو نفر د عبد المطلب دوست وو، بیا د ذونفر سره ملاؤ شو او ذونـفر هغه قیدي دے کوم چه ابرهه سره دے نو پدے حالت د قیدی توب کی ورسره مـلاؤشـو نـوعبـد المطلب ورته وویل چه تاسره څه غِنیٰ (د بچاؤ څه لاره) شته دے چه مـونږ ددے ظالـم نه خلاص شو؟ هغه ورته وویل چه ماسره څه طاقت دے زهٔ خو خپله قیدی یم یا به مے صبا وژنی یا به مے مابنام، زما په لاس کی څه دی چه زه تاسو د اَبرهه نـه خـلاص کړم، صرف یوه رایه درکولے شم چه د اَبرهه یو ملګری دے چه اُنیس د هغه نـوم دے زهٔ بـه هـغـه ته سفارش وکړم ستا دپاره به د بادشاه په دربار کی سفارش اُوکړی، هـغـه تـه بـه ستـا عـزت او مـکـانـت بیان کړی نو څه اکرام به دے اُوشی، ذونفر قیدی د اُنیـس سره ورله خبره وکړه چه دا عبد المطلب یو ښه سړے دے، د قوم مشر دے د بادشاه سره ورلـه تـه خبـره وکـړه چـه ددهٔ څه اکرام او اعزاز اُوکړی او دهٔ ته خپل دوه سوه اُوښان واپس کړی، هغه وویل: صحیح ده زهٔ به دا کار وکړم۔

نو اُنیس د ابرهه سره خبره اُوکړه چه د مکے مکرمے مشر چه عبد المطلب ئے نوم دے ستا د ملاقات دپاره راغلے دے دا هغه شخص دے چه خلکو ته خوراکونه ورکوی نو اَبرهه امر اُوکړو چه دننه ئے راولئ، نو په اَبرهه باندے چه کله عبد المطلب ورداخل شو نو په ابرهه باندے رعب غوندے راغے ځکه عبد المطلب د رنګ نه هم ښائسته وو بدن ئے هم غټ وو او اُوږد سړے وو (وَكَانَ رَجُلًا جَسِيْمًا وَسِيْمًا) د جسم او ښائست والا سړے وو ډیر یو کامل سړے وو، نو ابرهه ډیر لوی وګڼړو او زړهٔ کی ئے د هغه لوی راغله او دا خبره ئے هم بده اُوګنړله چه ابرهه سره په تخت باندے کینی ځکه چه حبش به وائی د عربو یو سړے دے او د ابرهه سره په تخت باندے ناست دے،

(اکثرو بادشاهانو کی تکبر زیات وی،) که ما سره په کټ باندے کیناسته نو بیا به د حبشو په نظر کی سپك راشم چه عبد المطلب ئے ځان سره په کټ کینولو او دا ئے هم بده اُوګنړله چه پخپله بره په تخت کینی او عبد المطلب په ز مکه کینی۔نو ابرهه د خپل تخت نه راکوز شو او لاندے چه کومه درئ او بساط (بستره) وه په هغے دواړه شریك کیناستل، ابرهه بادشاه په عربی ژبه نهٔ پوهیدو نو د ترجمان په واسطه ئے خبرے شروع کړے، ابرهه عبد المطلب ته وویل چه ستا څه حاجت دے وایه ؟ عبد المطلب ورته وویل چه زما دوه سوه اُوښان دی ستا فوج نیولی دی زهٔ د سوال دپاره راغلے یم چه هغه مونږ ته راپریده۔

عبد المطلب چه دا خبره وکړله نو ابرهه ورته وویل چه تهٔ خو ما ته ډیر اُوچت انسان ښکاره کیدلے لیکن کله چه دا خبره دے وکړه زما د نظر نه پریوتلے ځکه چه زهٔ ستاسو د رب کعبه ورانوم چه ستاسو او ستاسو د پلارانو قبله او ستاسو د عزت ځای دے او د (سیدنا) ابراهیم (علیه السلام) قبله ده د هغے سفارش نهٔ کوے او د خپلو اوښانو په باره کی خبره کوے یعنی تهٔ څومره قلیل الهمت انسان ئے، همت دے کمزورے دے، یو سړے دومره کمزوری همت والا وی چه معمولی خبرو باندے د هغه نظر لګیږی او غټو خبرو باندے ئے نظر نهٔ لګیږی)

نو عبد المطلب ورته په جواب کی وویل:

(اَنَا رَبُّ الْاِبِلِ وَلِلْبَيْتِ رَبٌّ سَيَحْفَظُهٗ وَسَيَمْنَعُهٗ)

زه د اُوښانو مالك يم او د کعبے خپل یو بیل جدا مالك او رب دے هغه به ئے حفاظت

کوی)،

ما سره د خپلو اُوښانو غم دے، د کعبے حفاظت به هغه ذات کوی کوم چه د آسمانونو او د زمکے مالك دے، مونږ د هغے حفاظت نشو کولے مونږه ستا په قتال باندے قادر نهٔ یو شپیته زره فوج او لږ شانته قریش او عرب دوی به ستا څه مقابله اُوکړی، ابرهه ووئیل : زه به دا کعبه ضرور ورانوم او مانه ئے څوك نشی خلاصولے زهٔ ددے دپاره راغلے یم، عبد المطلب ووئیل : تهٔ پوهه شه او هغه پوهه شه۔

ابرهه امر اوکړو چه عبد المطلب ته خپل اُوښان ورکړئ، عبد المطلب خپل اُوښان واخستل او روان شو، مکے ته لاړو او قریش ئے راجمع کړل هغوی ته ئے ووئیل چه دا مصیبت راغلے دے ددے مقابله مونږ او تاسو نشو کولے داسے وکړئ چه غرونو ته وخیژئ داسے نهٔ چه د حبشو د بد اخلاقئ اثرات تاسو ته ونهٔ رسیږی ځکه دا یو بد اخلاقه قوم دے ستاسو د ښځو او د ماشومانو بی عزتی به وکړی، د مالونو بی عزتی به درله وکړی نو ددے ځای نه اُوځئ بیا کعبے ته عبد المطلب او دده ملگری ودریدل او د الله تعالیٰ نه ئے د ابرهه او د هغه د لښکر په خلاف دعاگانے وغوښتے ځکه دوی خو الله تعالیٰ منلو او ډیر کرت به ئے الله تعالیٰ ته توجه هم کوله۔

خو بنده چه سیرت گوری تعجب وکړی چه ددے دومره هوښیارتیا او عقلمندئ سره بیا هم دوی مشرکین وو، د الله تعالیٰ سره ئے برخه داران جوړول، د عربو ډیر غټ عقلونه وو، ډیر فصاحت او بلاغت ئے لرلو او ډیر کمالات پکی وو او د هغے سره به ئے هم شرك کولو)

عبد المطلب دا دعا وکړه : (اَللّٰهُمَّ اِنَّ الْعَبْدَ يَمْنَعُ رَحْلَهٗ فَامْنَعْ مِنْهُمْ حِمَاكَ)

اے الله ! هر انسان د خپل کور حفاظت کوی ته هم د دوینه خپل کور محفوظ کړه، اے الله ! دا ظالمان راځی صبا له ستا دا کور نړوی او ختموی اے الله ! ته ددے حفاظت وکړه او دا دعاگانے ئے په شعرونو کی وکړے او بیا د هغه ځای نه اُووتل، د غرونو سرونو ته لاړل پدے انتظار وو چه اُوس به ابرهه راځی او کعبه به ورانوی او څه به کیږی؟۔

پدے حالت کی ابرهه امر اوکړو سائق الفیل (د هاتی چلونکی) ته چه دا فیل اُوچتوه چه روانیږو او په کعبه حمله کوو نو دوی چه فیل اُوچتولو هغه نهٔ پاڅیدو، ډیر ئے اُووهلو چه پاڅیږی، په نیزو سره ئے د خیټو په نرمو کی ووهلو لیکن هغه نه

پاخیدہ کله ئے چه مخ ورله شامِ طرفته واړولو منډه ئے اُووهله، چه یمن طرفته ئے ورله مخ وګرځولو منډه ئے وهله چه بل طرفته به ئے ورله مخ واړلو نو تلو به خو چه کعبے طرفته به ئے ورله مخ کړو نو څملاستو به او هغه طرفته به نۀ تللو نو تبرګے ئے راوړو او دا سرئے ددے فیل اووهلو چه ولے د خپل عادت خلاف کوی او نه ځی لیکن فیل پدے طرف نهِ ورتللو۔

پدے مقام کی دا کار اُوشو چه نفیل بن حبیب چه کوم جیلی وو دا الله تعالیٰ په څهٔ طریقه باندے خلاص کړو هغه راغے ددے فیل په غوږ کی ئے څه خبره وکړه چه الله تعالیٰ ورله په زړه کی اچولے وه داسے ئے ورته په غوږ کی وویل :

(اُبْرُكْ يَامَحْمُوْدُ فَإِنَّكَ فِيْ بَلَدِ اللّٰهِ الْحَرَامِ)

اے محموده ! څمله ځکه ته د الله په عزتمند ښار او کلی کی ئے۔

دا خبره الله تعالیٰ ددے فیل په غوږ کی واچوله او زړۀ ته ئے ورکوزه شوه، حیوانات د الله تعالیٰ شعائر پیژنی الله تعالیٰ هغوی ته هم دومره شعور ورکړے وی، دوی پدی کشمکش کی وو چه فیل پاځوی لیکن هغه نۀ پاځیږی، پوره قصه شروع ده، پدے کی الله سبحانه و تعالیٰ د ساحل البحر (د دریاب د طرفنه) څه مرغان راوالوځول چه ظاهر د قرآن دغه دے چه مرغان وو او هغوی ته ابابیل وائی یعنی ډلی ډلی مرغان، واړه واړه چه هغوی سره درے کانړی وو چه اصل کی بمونه وو یو بم ئے په خُله کی نیولے وو یو په یوه پنجه کی او بل په بله پنجه کی، او دا راغلل د ابرهه په فوج ئے بمباری شروع کړه چه قرآن کریم ترے په (حِجَارَةٍ مِنْ سِجِّيْلٍ) سره تعبیر کړیدے یعنی په اُور کی پاخه شوی کانړی وو نود کوم کس په سر به ئے چه کانړے ګوزار کړو نو کانړے به ترے لاندے ووتلو او داسی کمیاوی مواد پکی الله تعالیٰ اچولی وو چه د هغے د وجے نه د دوی ټول بدن به وسوزیدو او داسے شو لکه د خوشیانو او خاشنو په شان لکه حیوان چه کله ګیاه وخوری او بیا ئے بهر ګوزار کړی دغه شان بدنونه ئے خراب شوی وو او بویونه ترے ختل، د دے لائق نۀ وو چه په قبر کی خښ کړے شی۔

(ددے ځای نه سائنسدانانو دا خبره اخستے ده چه داسے جهازونه جوړ کړی چه د هغے نه بمباری په دشمن وکړے شی، مرغان جهازونه دی بمونه ورسره دی په دشمن باندے ئے راولی او داسی بمونه ورسره دی چه خلك بالکل نیست و نابود کوی)

مرغانو چه کله دا بمباری شروع کړه نو په خلکو کې افراتفری شوه، منډې شروع شوې نُفَیل بن حَبِیب یو غر ته وتښتیدو، لاندې نه فوج چغې وهې چه اې نفیل بن حبیب! مونږ ته لار وښایه چه یمن ته په کومه لاره لاړ شو ځکه چه دغه فوج ته لاره نهٔ وه معلومه او نفیل به ورته لاره ښودله ځکه دا جیلې وو او هغه بیا په اشعارو کې د خپل حال هم تذکره کړې وه چه کله ابابیل راغلل او دا قوم ئې تباه کولو د تولو په خُله کې د نفیل آواز وو چه اې نفیله راشه اې نفیله راورسیږه۔

حَمِدُتُّ اللّٰهَ اِذْ اَبْصَرْتُ طَيْرًا	❁	وَخِفْتُ حِجَارَةً تُلْقِيُ عَلَيْنَا
وَكُلُّ الْقَوْمِ يَسْأَلُ عَنْ نُفَيْلٍ	❁	كَأَنَّ عَلَيَّ لِلْحُبْشَانِ دَيْنًا

زهٔ د الله تعالیٰ حمد وایم کله چه ما مرغان ولیدل او ویریدم د هغه کاڼو نه چه په مونږ باندې ئې راګوزارل۔ تول قوم نُفَیل (یعنی ما) ته داسې آوازونه کول لکه ګویا که چه د حبشو په ما باندې قرض وی)۔

نو دا فوج ئې ورله ذره ذره کړه اکثر پکې ووژل شو او څه په لاره باندې مردار شو، څوك په یوه لاره روان شو او څوك په بله لاره باندې، څوك په یو ځای هلاکیږه او څوك په بل ځای۔

(د الله سبحانه وتعالیٰ دا طریقه ده چه کله په یو قوم کې څه نا څه طاقت وی نو خپلو مؤمنانو بندګانو ته حکم کوی تاسو زما د دشمنانو مقابله وکړئ زهٔ به تاسو سره مدد کوم خو کله چه کفار راشی او د مسلمانانو هیڅ طاقت نهٔ وی او اسلام بیخې ختموی او د اسلام شعائر ختموی او د خلکو پرې وس نهٔ کیږی نو بیا الله تعالیٰ په خپله مقابله کوی، زلزلې پرې راولی، د کاڼو باران پرې کوی، په طوفانونو او نورو طریقو سره ئې ختموی، مګر که مسلمانان موجود وی او الله تعالیٰ کافران هلاك کړی نو دوی ته هم مستقله سزا ورکوی چه تاسو ولې خپله فریضه پرېښوده۔

لیکن پدې زمانه کې د الله د تعالیٰ د حرم د حفاظت دپاره څوك نشته چه هغه وساتی نو رب العالمین خپله حفاظت وکړو چه د ابرهه شپیته زره فوج ئې پدې طریقه سره هلاك کړو)۔

ابرهه باندې الله تعالیٰ مرض ولګولو، هغه ئې پدې بم باندې ونهٔ ویشتلو ځکه که زر مړشی شرم به د هغه کم شی نو الله تعالیٰ پرې یو مرض سمدست اُولګولو چه هغې

ته جُذام بیماري وائي، دانے پرے راوختلے چه د هغے په وجه ئے انداموته غورزیدل شروع شو، اندامونه ترے پریوتل، یوه گوته ترے وغورځیده بیا بله بیا بله او وینی او وازدی (چربي) ترے روانه وه او وخت په وخت همداسے کمزورے کیدو او یمن طرفته ئے منډے وهلے، یمن ته په رسیدو کی داسے وړوکے شوے وو لکه د هګئ نه چه بچے راوځي او بنړے پرے لګے لګے ولاړي وی، د مرغئ د بچي په شان وړوکے شو او کله چه صنعاء الیمن ته ورسیدو نو سینه ئے وچادله او زړۀ ئے بهر راووتلو نو الله سبحانه وتعالیٰ په دغه طریقه سره مردار کړو۔

څوك چه د الله تعالی د حرم بے عزتی کوی د هغه به دغه حال وی، د کعبی بی احترامی چه چا کړیده الله تعالیٰ داسی تباه کړیدے، اُوګوره ابرهه اهل کتاب دے، عیسوی دے، د الله تعالیٰ په کتاب باندے روان وو څه نا څه په دین باندے ئے عمل کولو او دیخوا په مکه کی مشرکان دی چه د الله تعالیٰ سره شریکان جوړوی لیکن الله تعالیٰ د مشرکانو مدد اوکړو او د اهل کتابو مقابله ئے وکړه، وجه دا ده چه دلته د مشرکینو سره کعبه ده، د الله تعالیٰ حرم ورسره دے، پدے مقام کی دا مشرکان پدے مسئله کی په حقه دی، ددے وجه نه د عربو مشرکانو به انتظار کولو چه که محمد رسول الله ﷺ په حقه وی نو مکه به فتح کړی او هیڅ ضرر به ورته ملاؤ نشی او الله تعالیٰ به ئے د مکے د قریشو په مقابله کی هلاك نکړی او که چرته دے ئے هلاك کړو نو مونږ به ترے خلاص شو۔ نو کله چه محمد رسول الله ﷺ په اتم کال مکه فتح کړه، تول خلك په اسلام کی داخل شو چه بالکل دا حق نبی دے)

دا د اصحاب الفیل واقعه ده چه دا هم د محمد رسول الله ﷺ د نبوت د ارهاصاتو نه دی، د هغه دپاره الله تعالیٰ د کعبے حفاظت کولو او دا دهغه د دعوت مرکز وو الله تعالیٰ ورله د مخکی نه حفاظت وکړو روسته به راشی چه نبی کریم ﷺ پدے زمانه کی نزدے پیدا شویدے، د اصحاب الفیل ددے واقعے نه پنځوس (۵۰) ورځے روستو زمونږ خوږ نبی کریم ﷺ په دنیا کی سترګے وغړولے او رحمة للعالمین دنیا ته تشریف راوړو۔

سیده اسماء رضی الله عنها د اصحاب الفیل دغه کاڼړی راټول کړی وو د هغے په کور کی به پراته وو داسے کاڼړی وو لکه د چڼړے د دانے په اندازه۔

ام المؤمنین سیده عائشه رضی الله عنها فرمائی : ما هغه دوه کسان لیدلی وو کوم چه د فیل د مخکی او د روستو نه چلونکی او شړونکی وو هغه الله تعالیٰ نهٔ وو هلاك کړی ځکه دے فوج کی څه کسان ژوندیٔ هم پاتی شول لیکن په عذابونو باندے اخته شوی وو، ام المؤمنین فرمائی : ما دغه دوه کسان په مکه کی لیدلی وو چه په سترګو باندے ړاندهٔ او په خپو باندے شل شوی وو او د خلکو نه به ئے سوالونه کول (یَسْتَطْعِمَانِ النَّاسَ) د خلکو نه به ئے طعامونه طلب کول چه مونږه ورږی یو څه راکړئ۔

الله سبحانه و تعالیٰ هغوی سره داسے کار وکړو ابرهه هلاك شو او دا واقعه په عربو کی خوره شوه چه الله تعالیٰ د خپل حرم داسے حفاظت وکړو، د کعبی عظمت د خلکو په زړونو کی نور هم زیات شو چه دا یقیناً د الله تعالیٰ حرم دے چه داسے واقعه راشی نو د انسانانو ایمان پرے زیاتیږی۔

د یمن نه د حبشو ویستل او د سَیفِ ذِیْ یَزَن په لاس کی راتلل

ابرهه چه هلاك شو نو د هغه نه روسته د هغه ځوی (یکسوم) راولګیدو او د یمن بادشاه شو هغه یو څه زمانه بادشاهی وکړه، پدے مابین کی هغه هم الله تعالیٰ تباه کړو نو د هغه بل ورور وو د هغه مسروق نوم وو هغه بادشاه شو، د یمن دا پروګرام د مسروق په لاس کی شو۔

پدے کی د یمن چه کوم زاړهٔ بادشاهان وواصلی عرب وو د هغوی نه یو سړے راپاڅیدهٔ، هغه ته ئے سیف بن ذِیْ یَزَنْ ویلو، په ذی یَزَن باندے مشهور دے، هغه دا فکر وکړو چه تر څو به دا حبش په مونږ باندے مشری کوی د بهر ملك نه راغلی دی او زمونږ پدے ملك کی تصرف او مشری کوی، ظلمونه کوی او ملك ئے رانه قبضه کړیدے دا به تر څو پورے وی؟! نو پدی خلکو حمله پکار ده چه ددے ملك نه اُوځی،

(د غیرتی خلکو همیشه دپاره همدا طریقه وی چه کافر کله راشی او د مسلمانانو ملك اُونیسی نو د مسلمانانو په زړونو کی یو غیرت راپورته شی چه کافرانو د مسلمانانو دا علاقے ولے نیولی دی او ولے داسے فسادونه کوی؟ او د هغے دپاره فکر کوی چه دوی به په کومه طریقه وځی نو آخر دے سوچ له الله سبحانه وتعالیٰ وجود ورکړی

او هرچه عام خلك دي نو د هغوی صرف د خپلې خیټې او سیر اوړو پیدا کولو سره غم، ډیر کم همته وي)۔

نو ذي يَزَن هم دا سوچ وکړو چه دا خلك به څنګه اوباسو نو ذا ذي يزن د يمن نه اووتو او د روم بادشاه (قیصر) خوا ته لاړو، هغه ته ئې شکایت وکړو چه زمونږه دېے ملك ته دا حبش راغلي دي مونږ او زمونږ ماشومان په عذابوي او د زنانو بې عزتي مو کوي او داسې داسې فسادونه کوي ته زمونږ سره مدد وکړه چه دا خلك لرې کړو نو قیصر پدې خبره هیڅ باك ونکړو او دا خبره ئې وانهٔ وریده، وجه دا وه چه قیصر بادشاه هم نصراني وو او دا حبش هم نصارئ دي، د خپل دین والو مقابله څنګه وکړي! نو ده ته ئې هیڅ التفات او توجه ورنکړه

نو دې بیرته واپس شو نو په فکر کې ئې دا خبره راغله چه زمونږ د یمن نه پخوا زمانه کې یو سړے عراق ته تللے وو او د هغه اولاد هلته آباد دي یو په هغوی کې نعمان بن منذر دے چه دا پخوا زمانه کې د یمن نه دغه طرفته تلے وو (لکه مخکې مونږ د دې وضاحت کړے وو) نُعُمان پدې وخت کې د کسرئ بادشاه د طرفنه په حِیره او ددې په خواو شا علاقو د عراق باندې ګورنر دے۔

نو ددهٔ سره به څه پروګرام وي نو روان شو چه کله عراق ته داخل شو او نعمان بن منذر ته ورسیده نو هغه ته ئې شکایت وکړو چه داسې پروګرام دے، یمن زمونږ نه نیولے شویدے، حبشو پکې احتلال کړیدے (هغوی په کې رانګوتي دي) نو د دوی ویستل پکار دي؟ نو نعمان بن منذر ورته وویل چه زهٔ هم کمزورے یم، دومره طاقت مې نشته چه د حبشو مقابله وکړم لیکن زهٔ به کسرئ یعنی د فارس (ایران) بادشاه ته شکایتِ وکړم چه هغه نوشیران بادشاه وو، (پدغه زمانه کې نوشیروان د ایران او د فارس د علاقې بادشاه وو) چه هغه په هغه وخت کې داسې حیثیت لرلو لکه نن صبا چه د روس او امریکا دے یعنی دواړه داسې غټ حکومتونه وو، لیکن بادشاهانو ته هر وخت ورتلل هم ګرانه خبره ده، البته کال کې مونږ یو کرت ورځو ته ماته انتظار وکړه چه هغه ورځے راشي تهٔ به ما سره شریك لاړ شې، دے په انتظار وو تر دے چه هغه وخت راغلو،

نو نعمان بن منذر روان شو د کسرئ ملاقات له او دا سیف ذي یزن هم ورسره دے هلته چه لاړل د باشاه د ملاقات خاص وخت وو چه وزیرانو او مشرانو او بادشاهانو به

ددهٔ ملاقات کولو، بیا به واړه واړه بادشاهانو او گورنرانو ددهٔ ملاقات کولو، ددهٔ د ملاقات دا طریقه وه چه پرده به ئے زوړنده کړے وه دهغے نه شا ته به راغے کیبه ناستو نو بیا به ئے پرده اُوچته کړه نو خلك به ورته په سجده پریوتل، (دوی ډیر متکبران او جبابره خلك وو)، په سر باندے به ئے تاج اینبودو، دومره غټ تاج ووچه نوی (۹۰) کیلو وزن ئے ووچه هر قسم یاقوت زمرد او جواهرات پکی لگیدلی وو لیکن دا نوی کیلو تاج چه سرے په سر کیږدی دا خو سر خوږوی او ورمیږ ماتوی نو دا خو به پوره عذاب وی نو هغوی ورله داسے پروگرام کړے وو چه دا تاج ئے بره چهت پورے په زنځیرونوتړلے وو نو زور به ئے ټول په هغه زنځیر باندے وو، دهٔ به پکی سر ورننویستو او پرده به ئے لرے کړه نو خلکوته به داسے ښکاره کیده لکه ددهٔ په سر چه پروت وی، داسے غټه تنه به ئے ښکاره شوه نو په خلکو به رعب راغے،

نو کله چه دے بادشاه په سر باندے تاج کیخودو اوپرده ئے لرے کړه ټول خلك ورته په سجده شول تردے چه نعمان بن منذر چه عرب وو دهٔ هم ورته سجده وکړه دا سیف ذی یزن پدی مجلس کی ناست دے هغه سجده ونکړه نو بادشاه غصه شو چه دا احمق څوك دے چه زما پدی مجلس کی ناست دے او ماته ئے سجده ونکړه؟۔

نو چا ورته وویل چه دا یو ځوان دے د یمن نه راغلے دے د نعمان بن منذر ملگرے دے، ستا ملاقات له راغلے دے نو بادشاه ترے تپوس وکړو چه تا ماته ولے سجده ونکړه؟

هغه ورته وویل : زهٔ غمژن او فکرمند یم، سجدے ته مے سوچ نشو ما سره خپل یو فکر او غم دے، هغه غم زهٔ دومره غافله کړے یم چه زما دیته بالکل فکر نه شو چه زهٔ سجده وکړم، هغه ددے نه لوی دے۔ بادشاه ورته وویل ستا څه فکر دے ؟

ذی یزن ورته وویل : زما فکر دا دے چه زهٔ د یمن نه راغلے یم او د بادشاهئ د کورنئ نه یم او حبش راغلی دی زمونږ ملك ئے نیولے دے، زهٔ استمداد (ستا نه مدد غوښتو) له راغلے یم، ماسره څوك ولیږه چه ددغه خلکو مقابله وکړو نو کسرئ وویل چه زه به مشوره وکړم، وزیران ئے راجمع کړل، مشوره ئے ورسره وکړه چه دا سرے راغلے دے مدد غواړی څه وکړو ؟

وزیرانو مشوره ورکړه چه په یمن باندے مونږ څه کوو عرب خلك دی، جدا ملك ئے

وزیرانو مشوره ورکړه چه په یمن باندے مونږ څه کوو عرب خلك دی، جدا ملك ئے دے او خپل فوجونه د هغوی په زمکه کی ولے هلاك کړو که حبش ئے نیسی او که بل څوك مونږه ئے ذمه وار نهٔ یو نو رایه پدے راجمع شوه چه هیڅ مدد ورسره نکوو، نو سیف ذی یزن ئے راوغوښته چه دا لس زره روپیٔ واخله او مونږ سره نور مدد نشته، دهٔ هغه لس زره روپیٔ واخستلے چه د هغه زمانے سره سپین وو۔

بهر چه راووته په خلکو ئے تقسیم کړے، یو او بل ته ئے ورکړے او وروے شیندلے نو بادشاه ته چا خبر ورکړو چه هغه سړی خو ستا هدیه ضائع کړه، نو بادشاه بیرته راطلب کړو د بادشاه په زړهٔ کی ددهٔ وقعت او قدر پیدا شو چه دے سړی کی خوڅه کمال شته، د روپو او پیسو والا سړے نهٔ دے، (ځکه د روپو پیسو والا سړی نه هیڅکله کار نهٔ کیږی نهٔ د دین دعوت کولے شی او عبد الدینار او عبد الدرهم صرف د خیټے نه تاویږی)

نو بادشاه ورته وویل دا هدیه دے ولے راواپس کړه ؟ هغه ورته وویل : زه ستا په لس زره روپو باندے څه کوم زما د یمن غرونه د سرو او د سپینو دی، په هغے کی قیمتی قیمتی جواهرات دی، کسریٰ وویل د سرو او د سپینو غرونه خو ماندی لیدلی نو هغه وویل چه ضرور شته۔نو د بادشاه طمعه پیدا شوه چه هرکله داسے د سرو او سپینو غرونه موجود دی نو ددے خو نیول پکار دی ۔

بیا ئے وزیران راجمع کړل چه دے سړی سره څه چل وکړو ؟مشوره پدے راغله چه خپل اصلی فوج نهٔ ورلیږو هسے نهٔ چه دوی د حبشو د لاسه تباه شی بلکه کوم ډاکوان او غله او مفسدان خلك چه مونږ جیلونو کی بند کړیدی او څه پکی د بادشاه مخالفین دی دوی به ددے سړی سره ولیږو کچرته د حبشو په لاس هلاك شو نو هلاك دِے شی دوی خو مونږ هسے هم قتلوو نو د بل په لاس به قتل شی او کچرته دوی غالب شو نو دیمن ملك به د مجرمانو په ذریعه مونږه ونیسو،

پدے باندے مشوره راغله نو حکم ئے وکړو چه کوم جیلیان دی هغه ټول دے راوستلے شی۔ د سیرت په کتابونو کی راځی چه دوی تقریباً اته سوه کسان وو۔

دا کسان ئے د سیف ذی یزن سره روان کړل او سیف ذی یزن ئے رهبر دے او د خپل حکومت نه ئے یو سړے ورله مشر کړو چه وَهرز دَ هغه نوم دے چه دا یو پهلوان سړے وو او اُوچت نسب او کورنئ والا وو او د عمر په لحاظ هم مشر وو، دهٔ ته ئے وویل چه تهٔ

پدے کی چه دوی کله روان شو نو اُووتل د عربو قبائل هم ورسره ملگری شو د سیف ذی یزن د مشریٔ د وجے نه، (یعنی سیف ذی یزن ورسره د خپل قوم نه هم کسان ملگری کړل) نو اُوه اُوه نیم زره فوج جوړشو په کشتو کی کیناستل او په ساحل باندے پورے وتل عَدن علاقے ته راغلل،

پدے کی د ابرهه ځوی مسروق ته پته ولگیده چه فوج راغے، مقابله کیدو والا ده نو دهٔ هم ورپسے فوجونه ورویستل، وهرز د هغوی د جنگ د امتحان اخستو دپاره هغوی پسے خپل ځوی ویستلو نو هغه پکی هلته ووژلے شو نو د وهرز غصه نوره هم زیاته شوه نو مقابله شروع شوه مقابله مقابله، تردے چه الله تعالیٰ د مسروق فوج ته شکست ورکړو پدے طریقه :

چه دا وهرز راولگیدهٔ تپوس ئے وکړو چه د دوی مشر څوك دے چه زهٔ د هغه مقابله وکړم؟ نو خلکو ورته وویل دا کوم چه تا ته ښکاری چه په هاتی باندے سور دے او په سر باندے ئے تاج ایښودے دے او د دواړو سترگو ترمینځ ئے سرهٔ یاقوت لگیدلی دی همدغه دے، نو وهرز وویل : پریدیٔ دهٔ لره، بیا څه وخت پس دهٔ تپوس وکړو چه اوس په څه سور دے؟ هغوی وویل : په اس باندے، نو وے ویل : پریدیٔ چه کله راکوزشیٔ ما ته اوواییٔ نو تپوس ئے وکړو چه اُوس په څه سور دے ؟ هغوی وویل : په قچره باندے نو وهرز وویل : دا خو بنت الحماره ده (د خرے بچیٔ ده) دا هم ذلیل دے اوددهٔ بادشاهی هم ذلیله ده نو ددے مقابله اُوس آسانه ده ما ته ئے پریدیٔ چه زهٔ ئے په غشی وولم که تاسو ددهٔ ملگری ولیدل چه ونهٔ خوزیدل نو لا حمله مهٔ کویٔ تردے چه زهٔ درته اجازه وکړم ځکه چه ما به سرے خطاء کړے وی او که تاسو دا خلك ولیدل چه ددهٔ نه راتاؤ شو نو ما به سرے صحیح ویشتلے وی نو بیا پرے حمله وکړیٔ،

نو پدے کی وهرز په ډیره سختیٔ سره خپله لینده راښکله او ددهٔ نه په لینده راښکلو کی په دغه زمانه کی هیڅوك تکړه نهٔ وو، چه حمله ئے پرے وکړه نو په تندی باندے ئے ویشتو او د تندی ترمینځ یاقوت ئے ولگیدل او د هغے نه غشے شا ته ځت طرفته ووتلو او د خپل قچر نه راپریوتو او قتل کړے شو او حبش د هغه نه راتاؤ شو نو پدے وخت کی فارس والو په هغوی پسے ورمنډه کړه او په شریکه ئے پرے حمله وکړه تردے چه ټولو حبشو شکست وخوړو او دوی په یمن باندے ورننوتل، حبشیان وتښتیدل او څه

ئے قیدونو ته واچول شو لکه څنګه چه یو ملك کی دشمن راځی په بل دشمن باندے غلبه وکړی پدغه طریقه باندے ئے غلبه وکړه،

وهرز چه دننه یمن ته ننوتو نو هلته په صنعاء الیمن کی یوه دروازه وه هغه وویل: دا دروازه ورانه کړئ، زهٔ همداسے نهٔ ورننوځم څکه چه زما د جنډے سر به ښکته شی، زه د خپلے جنډے سر نهٔ ښکته کوم نو دروازه ئے ورانه کړه او جنډه ئے همداسے نیغه ورداخله کړه نو د یمن بادشاهی بیرته د حبشو نه واخستل شوه د فارس والو حکومت پرے راغے. او حبشو په یمن باندے دوه اویا کاله حکومت کړے وو څلور بادشاهان پرے تیرشوی وو. اول ارباط وو، دویم ابرهه، دریم یکسوم، څلورم مسروق وو. دے څلورو په یمن باندے دوه اویا (۷۲) کاله باشاهی کړے وه.

وهرز چه د هغه علاقے مشر شو بیا ئے هم ذی یزن ته هیڅ ورنکړل، یو قوم ئے ویسته بل قوم ئے راوستو، حبش ئے ویستل او ایرانیان ئے راوستل نو څه فائده شوه پدے وجه عرب د ډیر خفګان په حالت کی وو،

(د سیف ذی یزن د مبارکئ دپاره د حجاز وغیره نه وفدونه راروان شو چه هغه ته ئے مبارکی ورکوله چه بادشاهی ورته بیرته راواپس شوه او د هغه صفت ئے کولونو په دغه وفد کی د قریشو نه عبد المطلب بن هاشم هم ورغلے وو نو دوی چه د سیف ذی یزن سره ملاؤ شو نو سیف عبد المطلب ته په رسول الله ﷺ باندے زیرے ورکړو او هغه ته ئے د هغه د آینده کارونو خبر ورکړو چه ددهٔ نه به یو لوی شخصیت جوړیږی. لکه دا خبره به په خپل ځای کی راشی.

(السیرة النبویة لابن کثیر رحمه الله ۱/۳۳)

پدے کی دا وَهُرَز څه زمانه روسته مړشو، کسریٰ (د ایران بادشاه) راولګیدهٔ په یمن باندے ئے ددهٔ ځوی مَرزُبَان بن وَهُرَز مشر کړو، مرزبان بله ورځ مړشو د هغه ځوی تَیْنُجَان ئے مشر کړو، بیا ئے د هغه ځوی ابن التینُجَان مشر کړو پدے طریقه زمانه داسے تیریدله، بیا دا کسریٰ د ابن تینجان نه څه خفه غوندے شو چه دا صحیح ندے نو هغه ئے معزول کړو او د هغه په ځای ئے باذان د هغوی مشر کړو،

باذان چه کله مشر شو نو دا هغه زمانه ده چه الله تعالیٰ پکی زمونږ خوږ نبی محمد رسول الله ﷺ نبی جوړ کړیدے او د مکے مکرمے نه ئے مدینے ته هجرت هم کړیدے او

ډیره موده تیره شویده تقریباً شپږم کال د هجرت دے۔
دا خو د هغوی تاریخ وو۔

د کسریٰ بادشاه د رسول الله ﷺ د رانیولو دپاره کسان رالیږل

دلته رسول الله ﷺ په مکه کې پیدا شویدے او بیا په څلویښتم کال ورته الله تعالیٰ نبوت ورکړیدے او بیا د دعوت د تکلیفاتو د وجه نه ئے مدینے ته هجرت کړیدے او په مدینه کې ئے اسلامي حکومت قائم کړیدے او شپږم کال دے چه بادشاهانوته ئے خطونه لیږل شروع کړل، هرقل (د روم بادشاه) ته ئے هم خط ولیږلو، دلته ئے د ایران بادشاه (کسریٰ) ته هم خط ولیږه چه ایمان راوړه، که ایمان دے راوړو دا بادشاهي به ستا وي الله تعالیٰ به نور عزت هم درکړي او دنیا او آخرت به دے ښه شي او که نهٔ وي نو الله تعالیٰ به دے هلاک کړي،

دا خط کسریٰ ته سیدنا عبد الله بن حذافه السَّهمِی رضی الله عنه صحابي وړے وو، باشاهانو کې تکبر ډیر وي نو کسریٰ په تکبر کې راغے د رسول الله ﷺ دا خط ئے د لوستلو نه په غیر وشلولو، ټوټے ټوټے ئے کړو او دا ئے وویل چه زما د ملك یو غلام دے هغه راپاخیږي (یعني د عربو یو غلام یو باندے والا راځي) او ماته دعوتونه راکوي نو نبي کریم ﷺ ورته ښیرے وکړے چه (مَزَقَ اللّٰهُ مُلْکَهٗ) الله تعالیٰ دے ددهٔ باشاهي ذره ذره کړي لکه څنګه چه زما خط ئے ذره ذره کړو۔

هرقل بادشاه ته چه کله خط راغے هغه ورله ډیر عزت وکړو او هغه خط ئے ځان سره وساته، ددے وجے نه د هغه سره الله تعالیٰ بادشاهي پاتے کړه او د کسریٰ بادشاهي الله سبحانه و تعالیٰ ډیره زر ختمه کړه، د کسریٰ (اَبْرَوِیز بن هُرْمُز) ځوی (شیرویه) راولګیده خپل پلار ئے مړکړو بیا هغه شپږ میاشتے حکومت وکړو هغه هم ورپسے مړ شو په طاعون باندے یا خپل ورور قتل کړو (علی اختلاف الروایتین)

بیا ئے د شیرویه ځوی اردشیر بن شیرویه بادشاه شو هغه پنځه میاشتے بادشاهي وکړه، بیا د کسریٰ لور (بوران بنت کسریٰ) مشره شوه هغه هم څه لږه زمانه روسته مړه شوه لکه روسته په خپل ځای کې به ئے واقعه راشي ان شاء الله تعالیٰ۔ کله چه

رسول الله ﷺ تـه د هغـې د مشرئ خبر راورسيدو نو وې فرمايل: لَنْ يُفْلِحَ قَوْمٌ وَلَّوْا أَمْرَهُمُ امْرَأَةً (هغه قوم به هیڅ کله کامیاب نشي چه خپله مشري ئې ښځې ته حواله کړه).

لنډه دا چه په څلورو کالو کې دننه په دغه بادشاهي باندې لس بادشاهان راغلل ليكن د حکومت واګې هیچا تینګې نهٔ کړې تردې چه خلك په (يَزْدجِرد بن شَهْرِيَار) بادشاه باندې راجمع شو چه دا د بني ساسان آخرنې بادشاه دې او دا هغه سړې دې چه د اسلامي فوج سره ئې مقابله کړېده او بیا الله تعالیٰ شکست ورکړیدې تردې چه ساساني حکومت تول په توله تر څلورو پيړو نه زيات پورې بالكليه ختم شو او دا کار په سنه (٦٣٧ ميلادي) کې وشو. د دوی سره په زمانه د خلافت د سيدنا عمر بن الخطاب ؓ کې جنګ قادسيه شويدې.

(السيرة النبوية عرض ووقائع /١٥)

باذان چه کله د يمن مشر شو نو کسرئ بادشاه يو سړې ورولیږلو او خط ئې ورکړو او باذان ته ئې لیکلي وو چه عربو کې يو سړې پيدا شويدې چه زما د غلامانو نه دې او د نبوت دعوئ ئې کړې ده او ماتـه دعوتونه راکوی هغه لاس تړلې ماله راوله، د لاس او خپونه ئې وتړه او ماته ئې راوله، د يمن بادشاه ته څکه دا خبره کوی چه يمن مدينې ته نزدې دې او د کسرئ بادشاهي چه ایران دې ډيره لرې وه.

پدې مابين کې باذان دوه کسان پولیس يو خپل قهرمان يعني وكيل او امين خپل چه نوم ئې (بانويه) وو او بل (خرخسرو) د يمن نه ولیږل مدينې ته چه تاسو به لاړ شئ او دغه سړې به اونیسئ ما تـه بـه ئې راولئ، اول به ئې دلته راولئ بیا به ئې ددې ځای نه کسرئ تـه بوځو، هغوی د هغه ځای نه راروان شو (صرف دوه کسان ئې راولیږل ځکه دې ظالمانو تـه دا معمولي خبره ښكاره كيده چه يو اعرابي (بانډه چی) سړې چه د نبوت دعوئ کوی دوه پولیس ورله کافي دی)،

پدې مابين کې چه کله هغوی طائف ته راورسیدل نو تپوس ئې وکړو چه دلته يو سړې پيدا شويدې د نبوت دعوئ کوی هغه کوم ځای دې؟، نو د قريشيانو دوه کسان ورسره ملاؤ شو هغوی ورته وويل چه د دغه سړي نوم محمد (ﷺ) دې او د مکې اُوسيدونکې دې او د هغه ځای نه اُوس مدينې ته تللې دې او لاره ئې ورته وخودله او پدې سره قريش ډير خوشحاله شو چه کسرئ بادشاه (سيدنا) محمد (ﷺ) ته غصه

سره قریش ډیر خوشحاله شو چه کسریٰ بادشاه (سیدنا) محمد (ﷺ) ته غصه شویدے او د کسریٰ زور ته څوك رسیدلے شي؟ اُوس به ئے ختم کړي.

پدے وخت کی چه کله دغه دوه مشرکان مکے ته راننوتل ډیر خوشحاله وو مکے والو ته ئے زیرے ورکړو چه اُوس به تاسو د محمد (ﷺ) نه خلاص شئ، وجه دا ده چه د کسریٰ بادشاه هغه ته غصه پیدا شویده، د دوی طمعه دا وه چه اُوس به پرے حمله کیږی او ختمیږی به.

(دا د ټولو هغه چا چه په الله تعالیٰ باندے ئے یقین نهٔ وی طریقه ده چه د اهل حقو په باره کی دا گمان کوی چه دغه دے ختمیدلو والا دی او ختم به شی حال دا چه د هغوی سره الله تعالیٰ ملگرے وی، رب العالمین چه د چا ملگرے وی بیا د کسریٰ او د فارس او امریکه او د کفارو د وجه نه د دین کار نهٔ پریدی).

پدے کی دا دوه پولیس مدینے ته ورسیدل نبی کریم ﷺ سره ملاؤ شو، خپل مقصد ئے ورته بیان کړو چه مونږه سره کسریٰ ته لاړ شه مونږ به هغه ته ستا سفارش وکړو اوکه لاړ نشے نو تا ته خو د هغه طاقت معلوم دے، نبی کریم ﷺ ورته اُوفرمایل:

صبا به ملاؤ شو نن ئے ورسره لږے خبرے وکړے او وے فرمایل: صبا به بیا تفصیلی خبرے کوو، نبی کریم ﷺ ته وحی شوے وه چه کسریٰ بادشاه بیگاه شپے له د ځوی په لاس قتل کیږی چه د هغے تفصیل روستو راځی.

صبا له چه دغه کسان د نبی کریم ﷺ سره ملاؤ شو نو دوی ورته بیا هغه خبره وکړه نو نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل: چه کسریٰ خو مړ شو زما رب ستاسو مشر (کسریٰ) مړ کړو، هغوی ته دا خبره ناشنا ښکاره کیده چه کسریٰ او د هغه وژل نو دوی حیران شو نبی کریم ﷺ ورته وویل چه کسریٰ وژلے شویدے ماته وحی شویده هغوی وویل چه مونږ دا خبره باذان ته ورسوو، نبی کریم ﷺ وفرمایل هاؤ! هغه ته دا خبره ښکاره کړئ او باذان ته ووایئ چه ایمان راوړه ستا دغه بادشاهی به تا ته وسپارم او تا به په خپل قوم (ابناء الیمن) باندے مشر کړم اوکه ایمان نهٔ راوړے نو زما دا نبوت به ستا قدمونو ته او د کسریٰ ځای ته دررسیږی.-او د کسریٰ دا قتل په سنه (۶۲۸م) کی شوے وو.

پدے زمانه کی د کسریٰ په خلاف باندے دننه په کور کی اختلافات پیدا شوی وو او

شپه لسم د جمادی الاولیٰ اوم(۷) کال د نبوت شوے وو۔
پدے واقعه کی دا هم راځی چه دے دوه کسانو ګیرے خریلے وے د ایرانیانو (فارس والو) عادت دا وو چه ګیرے به ئے خریلے او دوی مجوس وو د اُور عبادت ئے کولو نو ګیره خرئیل د مجوسو عمل وو، د ګیرے واړه کول د یهودو رواج وو، یهودو به ګیره وړه کوله میږه تون به ئے پریښوده، نو نبی کریم ﷺ ترے مخ واړولو او ورته ئے وفرمایل :
(وَيْحَكُمَا مَنْ اَمَرَكُمَا بِهٰذَا)
هلاك شئ تاسو ته چا امر کړیدے چه ګیرے وخریوئ)، مشرکینو به هم ګیرے نهٔ خریلے، ابوجهل هم غټه ګیره پریښے وه، د ولید هم ګیره وه، د عبد الله بن سلول منافق هم ګیره وه د ټولو خلکو به ګیرے وے دا د فطرت تقاضا ده۔
(السيرة النبوية لابن كثير ۳/۵۰۹)
مونږ باندے د ایران والو تسلط دومره زیات شو چه د هغوی ډیر رواجونه مونږ مسلمانانو کی راغلل لکه علماء فرمائی چه د (خدا، خدائے، خداوند) الفاظ هم د ایران والو الفاظ دی، الله تعالیٰ ډپاره ددے نوم استعمالول نهٔ دی مناسب ځکه چه ددے په قرآن او حدیث کی هیڅ ثبوت نشته، ایرانی نوم دے رحمانی نهٔ دے)
نبی کریم ﷺ دوی ته ښیرئ وکړے، نو هغوی وویل چه دا خو مونږ ته بادشاه امر کړیدے، دا د هغه قانون دے چه ګیره به خریوئ۔
نبی کریم ﷺ اُوفرمایل ما ته خو زما رب امر کړیدے چه ګیره پریده)۔
بیا دا دوه کسان واپس شو د رسول الله ﷺ دا خبره ئے واخسته چه کسریٰ مړ دے، باذان ته چه کله ورسیدل هغه ته ئے وویل چه هغه سړی د نبوت دعوت کوله دا ئے ویل چه ستاسو بادشاه مړ دے نو باذان ووبل که چیرته په رشتیا دا خبره داسے وی نو بیا دا حق نبی دے او کچرته داسے نهٔ وی نو دا دروغژن دے،
پدے مابین کی د ایران چه کوم دویم بادشاه مقرر شو (شیرویه) چه دا د کسریٰ بادشاه ځوی وو دهٔ باذان ته جواب راولیږو چه ما خپل پلار مړ کړو او حکومت ما واخستو، تهٔ به د هغه پورے زما د طرفه مشر ئے چه زما حکم درته نهٔ وی راغلے، باذان ته پته ولګیده چه محمد رسول الله ﷺ چه کومه شپه یاده کړے وه او په کومه طریقه چه ددهٔ قتل بیان کړے وو چه ځوی رالګیدلے دے او پلار ئے وژلے دے دا خو بالکل حق او سچ

دے او هغه شان ده څنګه ئے چه خبر وزکړے وو نو دا دومره لرے خبر سرې ته رسيدل سره ددے نه چه نۀ څه ټیلفون نۀ څه بله نزدے ذریعه شته، معلومیږی چه داوحی ده، د وحی په ذریعه دے سړی ته خبر شویدے نو دا حق نبی دے نو باذان هم ایمان راوړو او کوم فوج چه د ایران والو وو هغوی هم ایمان راوړو، هغه اته سوه کسان او د هغوی چه کوم اولاد پیدا شوی وو او نور فارس والو چه دلته په یمن کی آباد وو هغوی ټولو ایمان راوړو۔

پدے وجه باندے علماء کرامو باذان لره په صحابه کرامو کی شمار لے دے (ﷺ)

بیا نبی کریم ﷺ دۀ لره په خپله عهده باندے برقرار پریښودو یعنی په یمن باندے ئے باقی پریښودو او د یمن حکومت ئے هغه ته وروسپارلو چه ته پرے حکومت کوه، د نبی کریم ﷺ سره ئے ملاقات وکړو او دا ئے وویل چه یارسول الله مِمَّنْ نَحْنُ ؟

مونږ به د چا نه حسابیږو ؟ نبی کریم ﷺ ورته اُوفرمایل: اَنْتَ مِنَّا اَهْلِ الْبَيْتِ):

تاسو به زمونږ د اهل بیتو نه حسابیږئ۔

د باذان مقصد دا وو چه د انصارو خپل جدا عزت وی او د مهاجرو خپل جدا عزت اوشان وی نو مونږ ته به څه ملاویږی؟ نو نبی کریم ﷺ وفرمایل چه تاسو به زمونږ د اهل بیتو نه حسابیږئ۔

ددینه معلومیږی چه زمونږ په دین کی تعصب، پارټی بازی او قوم پرستی نشته چه هغه د عزت سبب جوړ شی بلکه اعتبار ایمان او تقویٰ لره دے چه په چا کی تقویٰ او ایمان موجود وی هغه زمونږ اهل او زمونږ مشر دے، رسول الله ﷺ هغه د خپل ځان نه حساب کړو۔

پدے طریقه یمن ته اسلام داخل شو، د یمن خلك پدے طریقه مسلمانان شول، چه فارس والا دلته راغلی دی او بیا د رسول الله ﷺ د پیشین ګوئی نه متأثره شویدی او ایمان ئے راوړیدے۔

د دے ځای نه به بیرته مونږ د رسول الله ﷺ خپل سیرت ته واپس کیږو،



د قصی بن کلاب مشر کیدل

د رسول الله ﷺ په وړاندې نیکونو کې یو نیکه دې چه د هغه نوم قصي بن کلاب دې، څوك ورته قُصَيُّ او څوك ورته قُصِيُ وائي. قصي بن کلاب د رسول الله ﷺ وړاندې څلورم نیکه تیر شویدې د عبد مناف پلاردې (محمد بن عبد الله بن عبد المطلب بن هاشم بن عبدمناف بن قصي بن کلاب) او دغسې نور نسب هم دې چه روسته به بیان شي ان شاء الله.

دا قصي په مکه مکرمه کې پیدا شو په مکه باندې د خزاعه قبیلې مشري وه، چه مکه ئې د جُرهم قبیلې نه نیولې وه. قصي چه کله رالوې شو، دهٔ ته الله تعالیٰ عزت ورکړو ډیر هوښیار سړې وو، په عربو کې په سخاوت او جود مشهوروو نو د دوی عادت دا وو چه په مشرئ باندې به دوی جګړې کولې نو دهٔ قریش راجمع کړل ورته ئې وویل چه دا یوه داسې قبیله راغلې ده په تاسو مشري کوي چه مشري ئې ستاسو نه اخستې ده نو تاسو به ما سره ملګري کیږئ چه دا مشري د دوی نه بیرته واخلو؟ هغوی وویل چه آؤ، مونږ تاسره پدې خبره ملګري کیږو، پدې مابین کې چه هغوی ورسره ملګري شو نو د خزاعه قبیلې سره ئې جنګ شروع کړو نو خزاعه قبیله ئې د مکې مکرمې نه وشړله او د مکې مشري قصي بن کلاب ته ملاؤ شوه.

خزاعه په مکه باندې درې سوه (۳۰۰) کاله مشري کړې وه. او بیا قصي ته دا مشري په سنه (۴۴۰ میلادي) کې ملاؤ شوه. او قصي د مکې حاکم هم وو او دیني مشر هم وو.

قصي چه کله مشر شودهٔ به حاجیانو ته اُوبه هم ورکولې کجورې هم او نور میلمستوب به ئې هم ورکولو، په هغه زمانه کې د نن صبا په شان دکانونه او بازارونه نهٔ وو نو طریقه دا وه چه کله به د بهر نه حاجیان مکې ته راغلل، خوراك څکاك به نهٔ وو نو قصي بن کلاب به خپل قوم ته وویل چه پیسې راجمع کړئ او خپله به ئې پکې ډیرې واچولې دې دپاره چه کوم حاجیان راځي د هغوی دپاره میلمستیا وکړی دې ته به ئې خرج او الرفاده ویله. دا دوی ته یو شرافت او عزت ښکاره کیدو او ددې شرافت

او عـزت او مشـرئ دپاره بـه دوی ځـانـونـه وژل او ځان بـه ئـې غريب کولو خو چه مشری ورته ملاؤ شي۔

نـو قصی بن کلاب د خزاعه قبیلې د يوې زنانه سره نکاح هم کړې وه چه د هغې نوم حُبّی وه او د حُلیـل بـن حُبُشِيـة ابـن سـلول بن کعب بن عمرو الخزاعی لور وه د قصی ددې ښځې نـه څـلور ځامن او دوه لونړه پيدا شوي (۱) عبد الدار۔ (۲) عبد مناف (۳) عبد العزی (٤) عبد۔ (۱) تَخمُر بنتِ قُصَی، (۲) بَرَه بنتِ قصی۔

عبد مناف ئې د ټولو مشر ځوی وو او دا په ټولو کې ډير عزتمند بچې وو او د عبدالدار پـکـې عـزت ډيـر کـم وو هسـې معتوه شانته وو (معتوه هغه ته وائې چه د ډير کمال او عزت والا نهٔ وی خلك ئې دومره عزت نهٔ کوی)

پدې نورو بچو کې خپل کمالات وو او په دهٔ کې کمال نهٔ وو۔

نـو پدې مابين کې قصی بن کلاب راولګيده او په خپل دې ځوی (عبدالدار) باندې ئې شـفـقـت راغـلـو چـه خـلـك ددهٔ عـزت دومره نـهٔ کوی نو زهٔ ورلـه عزت ورکوم نو دا راولـګـيـدو او خپلـه ټولـه مشـری ئې دهٔ ته حواله کړه چه حاجيانو ته به هم تهٔ خوراك څـکـاك ورکوې او د قريشو جنډه چه جوړيږی دا به هم ستا په لاس باندې وی او دوی به هيڅ مشوره بغير ستا نه نهٔ کوی نور پروګرامونه به هم ستا په لاس کيږی پدې طريقه ئې هـغـه تـه عزت ورکړو او خلکو کې عزتمند شو، خپـل مالونـه ئې هم ټول راواخستـل دې عبـدالدار ته ئې ورکړل او نور بچې ئې محرومه کړل ځکه چه هغوی پخپله عزتمند او مالداره وو۔

قصی بن کلاب دار الندوه هم جوړه کړې وه چه په کومه کې د رسول الله ﷺ د قتـل مشـوره شـوې وه، دا ئې د قـريشو دپاره د مشورې يو ځای جوړکړې وو چه د هغې قصه روستو راځی چه دا ئې په کومه طريقه خرڅه کړې وه او بيرته ئې اخستې وه۔

نو قصی بن کلاب خپل ځوی ته دا شرافت ورکړو او دا نور ئې محرومه کړل۔

پـدې کی رب العزت عبد مناف ته عزت ورکړو، د عبد مناف نه څلور بچې پيدا شو (۱) هـاشم، (۲) مطلب، (۳) عبد شمس (٤) او نوفل۔ د اولنو درې واړو مور عاتکه بنت مـره بـن هلال وه چه نسب ئې مضر ته رسيږی او د نوفل مور واقده بنت عمرو المازنيه د مازن بن منصور بن عکرمه لور وه۔

مطلب، عبد شمس او نوفل د هاشم وروڼهٔ دی او هاشم د نبی کریم ﷺ د نیکه د پلار دے، هاشم په څلورو واړو ورونو کی د ټولو نه زیات عزتمند وو،

رسول الله ﷺ په یو حدیث کی دے ته اشاره کوی چه زهٔ الله رب العزت په بهترینه کورنئ کی په بهترین نسب کی پیدا کړے یم)،

د هاشم خپل نوم عمرو دے، هاشم ورته ځکه وائی چه د بهر نه به کوم حاجیان راتلل نو دهٔ به ورته خوراك او ماته ډوډئ ورکوله د هاشم معنیٰ ده (ماتوونکے، یعنی حاجیانو دپاره ډوډئ ماتونکے) دومره سخی سړے وو، د قصی بن کلاب پروګرامونه ټول دهٔ ته پاتی شو، اول عبد مناف ته پاتی وو بیا د عبد مناف نه هاشم ته پاتی شو۔

هاشم مدینے ته لاړو هلته یوه عزتمنده زنانه وه، سلمیٰ ئے نوم وو د هغے سره ئے نکاح وکړه، دومره عزتمنده زنانه وه چه هغے دا شرط لګولے وو چه زهٔ کله یو سړی سره نکاح وکړم نو طلاق به زما په لاس کی وی که زما دغه سړے خوښ نهٔ وی نو زهٔ به دغه سړے طلاقوم، هاشم ورسره پدے شرط نکاح وکړه چه صحیح ده۔

سلمیٰ ئے په نکاح واخسته او خپله تجارت له یمن ته لاړو، هلته ئے تجارت کولو او مصر او شام ته ئے د تجارت دپاره سفرونه کول تردے چه په همدے کی په غزه علاقه کی وفات شو چه دا مشهور ځای دے۔

سلمیٰ بنت عمرو بن زید د بنو النجار نه ده۔

د هاشم ددے سلمیٰ نه صرف دوه بچی پیدا شو یو عبد المطلب وو او بله لور رقیه وه۔ او بیا هاشم نورے ښځے هم کړے وے چه د هغے نه (۱) اسد بن هاشم (۲) او ابو صیفی بن هاشم (۳) او نضله بن هاشم ځامن پیدا شو او څلور لونړه (۱) الشفاء (۲) خالده (۳) ضعیفه (٤) حَیَه۔ ټول اولاد ئے څلور ځامن او پنځه لونړه وو۔

د اسد مور قَیُلَه بنت عامر بن مالك الخزاعی وه او د ابو صیفی او حیه مور (هند بنت عمرو بن ثعلبه الخزرجیه) وه۔ او د نضله او شفاء مور د قُضاعه قبیلے یوه ښځه وه۔ او د خالده او د ضعیفه مور وافده بنت ابی عدی المازنیه وه۔

(الروض الانف ۱/۲۰٦) تهذیب سیرة ابن هشام (۱/۲۹)

هاشم هلته مړشو ښځه ئے په مدینه کی پاتے شوه مګر ددے ښځے نه یو هلك پیدا شو چه د هغه نوم شیبه وو چه هغه په عبد المطلب باندے یادیږی، عبد المطلب د نبی

کریم ﷺ نیکه دے نو دا د سلمیٰ نه پیدا دے دده خپل نوم شیبه دے شیبه ورته ځکه وائی چه دا پیدا شو نو سر کی ئے سپین ویښته وو،

هاشم چه مړشو د مکے مشری مُطلّب ته پاتے شوه، مطلب د هاشم رور دے دا هم ډیر سخی سړے وو، خلکو به ورته فَیَّاض وئیلو یعنی بهیدونکے (لِكَثْرَةِ جُودِهٖ) ځکه چه سخاوت به ئے ډیر کولو، په دهٔ کی هم ډیر ښکلی صفات او ډیر کمالات راجمع وو۔

مُطلب پدے خبر شو چه زما ورارهٔ چه د هاشم ځوی دے په مدینه کی دے، دده ځای نه مدینے ته لاړو هلته ئے د هغه مورته ووېل چه دا زما ورارهٔ دے ، دا ما سره ولیږه چه د مکے مشری ورته ورکړم او د هغے عزت ورته ورکړے شی ځکه دا د هاشم بچے دے زما ورارهٔ دے، هغے ورسره نهٔ پرېښوده چه دا زهٔ د ځان نه نشم جدا کولے نودے شیبه خپلے مورته ووېل : زهٔ به ددے خپل ترهٔ سره لاړشم، د مورنه ئے اجازه واخسته ځکه مشری او عزت او شرافت ددے خلکو ډیر خوښ وو،

پدے کی شیبه د خپل ترهٔ (مطلب) سره راروان شو، نو مطلب دا خپل ورارهٔ په اُوښ باندے د ځان سره کینولو چه مکے ته دننه راننوتو خلکو ووېل چه مطلب ځان له غلام اخستے دے (په هغه وخت کی د غلامانو د اخستلو رواج ووخلکو به ځان له غلامان اخستل، نو شیبه ته عبد المطلب نوم کیښودے شو، (یعنی د مطلب غلام) مطلب به خلکو ته وېل دا زما غلام نهٔ دے بلکه دا زما ورارهٔ دے زما رور هاشم په مدینه کی ښځه کړے وه د هغے نه پیداشویدے او ما دلته راوستلو،

پدے طریقه شیبه په عبد المطلب نوم باندے په خلکو کی مشهور شو۔

بیا مطلب د یمن یوے علاقے (دمان) ته د تجارت دپاره تلے وو نو هلته وفات شواو د مکے ټوله مشری دے عبد المطلب (یعنی شیبه) ته پاتے شوه او اعزاز او اکرام دهٔ ته ملاؤ شو۔

د عبد المطلب د مشرئ په وخت کوم کارونه وشو؟

د عبد المطلب د مشرئ په زمانه کی دوه کارونه اُوشو ، (۱) یو د زمزم پیدا کیدل وو، د زمزم اُوبه الله تعالیٰ عبد المطلب ته وروښودلے پدے طریقه چه دهٔ به اُوبه د بهر نه

راوړلے او د حاجیانو خدمت به ئے کولونو یوه ورځ عبد المطلب خوب ولیده،
(هغه زمانه داسے وه چه نبوت پکی نهٔ وونو خوبونه به ئے لیدل او کاهنانو ته به ورتلل او دَ هغوی په واسطه به ئے د پیریانو نه تپوسونه کول او نجومیانو ته ورتللو په ذریعه ئے معلومات کولو پدے باندے به ئے د غیبو خبرونه معلوموول او مونږ کی خو الحمد لله نبوت او رسالت د نبی کریم ﷺ دے، وحی راسره ده (قرآن حدیث)، نو د غه نورو څیزونو ته زمونږ هیڅ ضرورت نهٔ راځی مونږ په یقین روان یو او هغه خلك په شك روان وو)۔
عبد المطلب په حَطِیم کی اُوده وو (حطیم دکعبی په خوا کی یو ځای دے چه اُوس ترے د سپوږمئ په شکل دیوال تاؤ دے پدے کی اُوده وو)
په خوب کی ورته یو تن (ملائك) راغلو ورته ئے وویل (اِحْفِرْ طِیْبَةَ)۔ طیبه راوکنه۔ (یعنی هغه ځای چه خوشبویه او پاك دے) هغه ورته وویل: طِیْبَه څه شے دے؟ لیکن هغه ترے روان شو او هیڅ ئے ورته ونهٔ وئیل۔
عبد المطلب په زړه کی وویل که دا خوب د الله سبحانه وتعالیٰ د طرفنه وی نو بیا به هم راځی اوکه د شیطان د طرفه وی نو بیا به درته نهٔ راځی صبا له بیا په حطیم کی اُوده شو بیا ورله خوب کی راغے ورته ئے وویل: (اِحْفِرْ بَرَّه) بَرَّه (نیك او برکتی ځای) راوکنه، عبد المطلب ورته وویل بره څه ته وائی؟ هغه ورته بیا حال ونهٔ ویلو بیرته ترے لاړو، ددهٔ تعجب نور هم زیات شو څکه په داسے واقعه کی ډیر زیات تاکید پکار دے، دریم ځل چه اُوده شو بیا ئے خوب ولیده او ورته ئے وفرمایل (اِحْفِرِالْمَضْنُوْنَة) هغه ځای راوکنه چه په هغے باندے بخل کیدلے شی۔
عبد المطلب وویل مضنونه څه ته وائی؟ پدے خو زهٔ نه پو هیږم، څلورمه شپه چه بیا اوده شو نو خوب ئے ولیده ملائك ورته وویل (اِحْفِرْ زَمْزَمَ) د زمزم اُویه راوکنه،
زمزم اوبه مخکی د سیدنا اسمعیل علیه السلام په وخت کی وے لیکن جُرهم قبیلے چه کله دمکے نه وتله او خزاعه راتلله هغه وخت کی دوی دا زمزم ورك کړے وو په کانړو ئے بند کړے وواو دپاسه ئے پرے غټے غټے کمرے او دپاسه ئے پرے خاوره اچولے وه، د خزاعه قبیلے نه ئے دا زمزم کوهی پټ کړے وو، پدے کی دوه سُوئ (هوسئ) وے د سرو زرونه جوړے وی هغه ئے هم پکی خښے کړے وے او دا سوئ د کعبے دپاره جوړے

کړے شویوے او توری ئے ورسره هم خخے کړے۔

نو په خوب کی چه عبد المطلب ته وویل شو چه زمزم راوکنه نو عبد المطلب ورته وویل (وَمَا زَمْزَم؟) زمزم څه ته وائی؟ نو هغه ورته پدے الفاظو سره دغه ځای وروښودلو ورته ئے وویل :

(لَاتَنْزِفُ أَبَدًا وَلَاتُذَمُّ، تَسْقِي الْحَجِيْجَ الْأَعْظَمَ وَهِيَ بَيْنَ الْفَرْثِ وَالدَّمِ عِنْدَ نُقْرَةِ الْغُرَابِ الْأَعْصَمِ عِنْدَ قَرْيَةِ النَّمْلِ)

دا زمزم داسے اُوبه دی چه جاری دی ختمیږی به نه او نۀ به ددے بدی بیانیږی او عامو حاجیانو ته (که دلته پراته وی او که د بهر نه راځی) ټولو ته به دا اُوبه ملاویږی، دا اُوبه په کوم ځای کی دی؟ (بَيْنَ الْفَرْثِ وَالدَّمِ) نو غوشیان او وینه چه کوم ځای پرته ده د هغے په مینځ کی ځای دے نو دومره غټ ځای به څوك راکنی؟ نو بیا ئے ورته وویل: (عِنْدَ نُقْرَةِ الْغُرَابِ الْأَعْصَمِ) یو کارغه به راشی چه وزرے به ئے سپینی وی په یو ځای باندے به ټونګه وکړی (عِنْدَ قَرْيَةِ النَّمْلِ) دغه ځای کی به میږان هم راوتلی وی د هغوی سوړه او کلی به وی)۔

دا ئے ورته پدے خوب کی د زمزم نښے وښودلے څکه دا خو یو غټ کانړے دے دا په یو سر باندے څوك ماتولے شی چه نۀ ورسره بمونه شته، نۀ ورسره څه لوی آلات شته نو څکه داسے تعیین ورته وکړے شو،

نو عبد المطلب سهار لاړو (دے وخت کی د عبد المطلب یو بچے پیدا شوے دے چه حارث ئے نوم دے)

د عبد المطلب ټول لس بچی وو په روسته زمانه کی پیدا شو شپږ نارینه او څلور زنانه ځینی وائی شپږ جینکۍ او څلور هلکان وو۔

مشر ځوی ئے حارث وو پدے وخت کی دا هم رالوی شویدے نو دا حارث ئے د ځان سره روان کړو او جبل ئے د ځان سره واخستو او ځوی ته ئے وویل راځه دا اُوبه را اُوباسو۔ نو کله چه دغه ځای ته ورغے معلومات ئے کولو چه دا به کوم ځای وی نو میږان ئے ولیدل چه راوتلی دی او یو سرے دے چه د اِساف او نائلے دپاره ئے یوه غوا راوستے ده هغه د غیر الله دپاره نذر کوی څکه اساف او نائله دوه بتان وو په دغه ځای کی

(او مخکی ذکر شویدی چه دا د یمن دوه کسان وو چه په کعبه کی ئے زنا کړے وه او

الله تعالیٰ ترے کانړی جوړ کړی وو او بیا ئے یو په صفا او بل په مروه باندے د عبرت دپاره اینښودی وو)

نو دے سرړی ددے دوه بتانو په مینځ کی دا غوا حلالوله نو دے غوا توپ کړو (وے دانګل) اوپه وړاندے ځای کی واقع شوه هلته ځملاسته نو دا سړے ورغے هلته ئے ورله خیته څیری کړه او غوشیان ئے ترے راویستل او دلته کارغه هم راغلو او ټونګه ئے وهله نو عبد المطلب ته پته ولګیده چه همدا وینه او غوشیان دی چه ددے په مینځ کی ما ته ځای خودلے شویدے۔

بس عبد المطلب شروع شو هغه ځای ئے راکنستلو او خپل خوب ئے رشتینی کولو۔

پدے مابین کی قریش وریسے راغلل ورته ئے وویل عبد المطلبه ! دا څه کوے؟ زمونږ ددے دوه باباګانو بی عزتی کوے (چه دوی دلته دی او ته د دوی په مینځ کی کنده کنے دا خو ددے الهه ؤ بی عزتی ده)، هغه ورته حال نهٔ ویلو، عبد المطلب ورته وویل زه دا ځای کنم زما کار دے، قریشو منع کولو عبدالمطلب وویل زمزم اُوبه دی زهٔ ئے راکنم نو هغوی منع کولو جګړه ئے شوه نو عبد المطلب خپل ځوی ته وویل چه ته دا کسان زما نه منع کړه د دوی سره بحث کوه چه زه دا ځای راوکنم دا خلك به پخپله پو هه شی نو حارث قریش په خپل بحث مصروف کړل او عبد المطلب شروع وو ځای ئے راکنستو، دے وخت کی دهٔ نذر هم وکړو چه که الله تعالیٰ ما ته لس بچی راکړل داسی بچی چه زما حفاظت کولے شی او زما شاته ولاړ وی زهٔ به یو پکی د الله تعالیٰ دپاره حلالوم، پدے وخت کی ئے دا نذر کړے وو، ځکه چه صرف حارث ځوی ئے شاته ولاړ وو نور څوك نهٔ وو، عربو به بچی وژل خو حاجت ئے هم ورته وو، د جنګونو دپاره به ئے ضرورت ورته راتلو، او کله کله به ئے د فقر او غریبئ د وجے نه هم وژل، لکه بعضے عربو به دا کار کولو هر کس به دا کار نهٔ کولو،

نو پدے کی عبدالمطلب دغه ځای کنستلو کنستلو تردے چه د یو کوهی غاړه راښکاره شوه نو عبد المطلب وویل الله اکبر (الله ډیر لوی دے) قریش پو هه شو چه سړی خو مقصود پوره کړو کوم خوب ئے چه لیدلے دے هغه رشتینی شو نو قریش غلی شو څه ئے ونهٔ ویل ځکه چه ناشنا شے راښکاره شو، د کوهی نه ئے ګتی لری کړے

نو په هغه کې دوه هوسئ د سرو زرو راراوختلې او توري راوختلې چه هغه ئې راواخستلې نو د زمزم کوهې رابنکاره شو، په مکه کې هسې هم اُوبه نهٔ وې په داسې مقام کې هر قسم اُوبه راوتل کافي وو مګر بيا يو داسې مبارکې اُوبه چه د هغې فضائل په احاديثو کې ډير راغلي دي۔

نبي کريم ﷺ ارشاد فرمايلې دې چه (طَعَامُ طُعْمٍ وَشِفَاءُ سُقْمٍ) ددې څکل د خوراك په ځاى کار ورکوي او د بيماريانو دپاره شفاء ده۔

(صحيح مسلم : ٦٥١٣ باب فضائل ابي ذر)

په يو صحيح حديث کې دا هم راغلي دي، د نبي کريم ﷺ ارشاد دې : (مَاءُ زَمْزَمَ لِمَا شُرِبَ لَهُ) زمزم اُوبه چه چا په کوم نيت وڅکلې هغه شي ورته الله ورکوي)،

(صحيح ابن ماجه (۳۰۵۳) ارواء الغليل (۱۱۲۳)۔

امام سيوطي رحمه الله وائي : زه تلې ووم ما د زمزم اُوبه څکلې دي د علمونو دپاره چه الله تعالىٰ په ماباندې علمونه راکولاؤ کړي نو هر قسم علم ئې په ما راکولاؤ کړو چه زه په هغه کې کتاب هم ليکلې شم او هره مسئله چه په هغې کې د علماؤ اختلاف وي هغه ماته ياده ده سره د دلائلو او د راجح او د مرجوح نه۔

او دا خبره يقين غواړي، يو ملګري ويل : زما په خپه کې ميخ تلې وو د هغې د وجه نه دانه رابنکاره شوې وه چه نهٔ بنه کيدله نو حج ته لاړم او په يقين سره مې د زمزم اُوبه وڅکلې نو هغه دانه سمدستي بيخي ختمه شوه بيا چه مې پخواني ډاکټر ته ځان پيش کړو هغه وويل چه دا خو د اپريشن نه به غير نهٔ بنه کيدله اوس تاله الله تعالىٰ دغه شان بنه کړه دا ولې؟ هغه ورته دا وجه بيان کړه چه د زمزم اوبو کې الله تعالى دا برکات اچولي دي۔

او ډيرو انسانانو ته الله تعالىٰ هغه څه ورکړي دي چه کوم ئې د الله تعالىٰ نه غوښتلي دي، زمزم بهترينې اُوبه دي، کمال ئې دا هم دې چه جراثيم پکې نشته، په ډيره موده ساتلو سره هم بدبوئي نهٔ کوي، نورې اُوبه لس ورځې پس بوئي کوي او زمزم مونږ. پخپله ديارلس کاله ساتلي دي او حال دا دې چه ندي خرابي شوي،

د جامعه اسلاميه مدينه منوره ډير طالب العلمان بهر ملکونو ته ځي په لاره په ائرپورټونو کې ورله دا اُوبه ټيسټ کوي پدې کې جراثيم نهٔ راوځي نو هغوی هم

تعجب کوی چه عجیبه شان اُوبه دی، په مخ د زمکه بهترینے اُوبه دی، ځکه چه الله تعالیٰ سیدنا اسمعیل علیه السلام ته د سیدنا جبریل علیه السلام په وزر باندے راوستلی دی۔
مکه کی اُوس نژدے د نبوت یو ه مدرسه جوړیږی دمدرسے دپاره اُوبه پکاردی، مکان ورله پکار دے چه د الله تعالیٰ د دین خدمت وشی نو الله سبحانه و تعالیٰ دا پروګرام وکړو چه زمزم اُوبه ئے راښکاره کړے۔
قریشو دعویٰ وکړه چه مونږ درسره شریك یو تولو به د دینه فائده اخستله نورکو هیان ئے ختم کړل، عبد المطلب ورته وویل : د زمزم اُوبه الله تعالیٰ ماته راښودلی دی، دا زما دی ستاسو پکی حق نشته دے، هغوی وویل چه مونږ درسره پدے کی هم حق لرو او پدے سروزرو او توروکی هم ځکه چه دا زمونږ د پلار اسماعیل علیه السلام اُوبه دی۔
عبد المطلب وویل چه ستاسو حق نشته، نو د هغے زمانے فیصلے به په کاهنانو کیدلے، عبد المطلب ورته وویل راځئ کاهن ته به لاړ شو هغه چه په څه فیصله وکړه په هغه باندے به عمل وکړو،
(سره ددے دومره هوښیارتیا نه پیرانو او تعویذګرو پری تسلط کړے وو لکه زمونږ دے وخت کی ښه موحدین خلك به وی خو چه لږه بیماری او تکلیف پرے راشی یو دمګری او بل ته به منډے وهی، کله به ورله ځښتونه کوی او کله تعویذونه او ځلور پنځه زره روپئ هم ترے واخلی او د هغوی عقیده هم خرابه کړی، په قرآن او حدیث کی دمونه شته نو بس په شرعی طریقه په ځان باندے خپله دم اچوه، کاهنانو، ترویتیانو او تعویذ ګرو ګنډه مارو پسے تللو نه ځان ساتل پکار دی)۔
عبد المطلب ورته وویل راځئ کاهن ته به ځان پیش کړو کاهن هغے ته وائی چه د پیریانو په واسطه د راتلونکی زمانے خبرونه ورکوی، نو هغوی وویل کوم کاهن ته به لاړشو؟ عبد المطلب ورته وویل د بنی سعد قبیلے یو ه کاهنه زنانه ده هغے ته به لاړ شو، هغے ته پیریان راځی او هغے ته د غیبو حالونه وائی، هغوی وویل کوم ځای کی ده؟ عبد المطلب ورته وویل : شام ته نیزدے یو ه علاقه کی ده، (اشراف الشام)
نو دوی روان شو، عبد المطلب دے او د قریشو څه مشران ورسره دی، د هرے قبیلے نه ئے یو یو کس واخستو چه راځئ په کاهنه باندے فیصله کوو دا اوبه به یا زما شی او یا

به ستاسو یا به شریکے شی،

نـو دوی روان شو نو د عربو زمکے شاړی دی پدی کی اُوبه نهٔ ملاویږی دوی چه نیمے لارے تـه ورسیدل الله سبحانه و تعالی دوی ته اُوبه ختمے کړے، خاصکر عبد المطلب او ددهٔ مـلـګـرو تـه او هـغـه نورو سره لږے لږے اُوبه وے، دوی سخت تږی شو چه نهٔ شا ته راتـلـلے شـو او نـهٔ مخکی تللی شو هغه نورو ملګرو نه ئے مطالبه وکړه نو هغوی ورته وویـل کـه مـونږه ئے تاسو ته درکړو مونږ به تږی پاتی شو نو پدے کی انتهائی تږی شو نو عبد المطلب ملګرو ته وویل چه څه مشوره ده، څه وکړو ؟

ملګرو ورته وویل چه زمونږ رایه ستا د رائے تابع ده۔ نو هغه وویل : مرو خو هسے هم مـرو نو که پدے زمکه باندے داسے پراته یو نولیوان به مو وخوری نو قبرونه به وکنو او څـوك چـه مـړکـیـده هـغـه ژوندی به ئے خښوی په آخره کی به یو کس پاتی شی که یو کس ضائع شو لیـوانو وخوړه خیر دے خو چه دا ټوله قافله ضائع نشی، نوقبرونه ئے وکنستل، د مرګ په انتظار باندے ناست وو چه کله به مری۔

پدے کی د عبد المطلب په ذهن کی دا خبره راغله چه دا خو هسے کم عقلتوب دے، کـمـزوری ده چـه یو سړے خپله ځان هلاکت ته غورځوی څه نا څه طاقت راپکی شته راځـئ چه روان شو او اُوبه طلب کړو په الله تعالیٰ باندے یقین وکړو (لَعَلَّ اللّٰهَ أَنْ يُّسْقِيَنَا) شاید چه الله تعالیٰ اُوبه راکړی ځکه چه مونږ عاجز یو، دے علاقو کی وګرځو یو خوړ بل خوړ ته لاړشو، ځنګلو کی به وګرزو۔

پـدے مـابین کی چه دوی پاڅیدل او روانیدل، عبد المطلب خپلے اُوښی ته وختلو نو چـه اُوښـه ئے روانـه کـړه نـو الله سبحـانـه و تعالیٰ د هغـه اُوښے د خپے نـه لاندے اُوبـه راوبـسـتـلے، پـدے طـریـقـه چـه اُوښے پـه خپله خپه سره زمکه ووهلو نو اُوبه راووتے نو ډیـرے خـوږے اُوبـه وے، نـو دے او ددهٔ مـلـګـری د اُوښـانـو نـه راکوز شو نو ده خپله هم وڅـکـلے او دده مـلـګـرو هم وڅکلے او هغه نورو ته ئے هم دعوت ورکړو چه راشئ تاسو هم خپلو حیوانانو ته اُوبه ورکړئ او خپله ئے هم وڅکئ،

پـدے شـاړه زمـکه کی دوی ته اُوبه راوختلے او د دوی د مرګ نه حفاظت وشو، دا ټول عزتـونـه الله تـعـالیٰ دے مشرکینوته ولے ورکړل؟ اګرکه عبد المطلب شرك کولو او د الله تـعـالیٰ سـره ئے بـرخـه داران جوړول او کا هنانوته به ورتلل ددے وجه دا ده چه د دوی دا

عزت د سیدنا محمد ﷺ د وجے نه کوی چه هغه روسته راروان دے،

ابرهه نه چه الله سبحانه و تعالیٰ قریش خلاص کړل ولے؟ سره ددے نه چه ابرهه اهل کتاب وو او قریش مشرکان وو، ابرهه د قریشو نه غوره وو لیکن الله تعالیٰ د قریشو مدد وکړو ځکه چه محمد رسول الله ﷺ ته الله تعالیٰ لاره همواره وله او د هغه مرکز ئے محفوظ ساتلو، دا د نبی علیه السلام د نبوت ارهاصات او نښے دی۔

نو قریشو عبد المطلب ته وویل چه هرکله الله سبحانه و تعالیٰ تا ته داسے کرامت درکړو او اُوبه ئے درکړے

(د یو مشرك سړی هم داسے کرامت ښکاره کیدے شی، د یو خاص نکتے د وجے نه)

(اِنَّ الَّذِیْ سَقَاكَ الْمَاءَ بِهٰذِهِ الْفَلَاةِ لَهُوَ الَّذِیْ سَقَاكَ زَمْزَمَ)

(السیرة النبویة لابن کثیر ۱/۱٦۸) والسیرة الحلبیة (۱/٥٤)الروض الانف (۱/۲٦٤)

کوم ذات چه تاته پدے شاړ میدان کی اُوبه درکړی دی همدغه ذات تاته د زمزم اُوبه هم درکړی دی)، لاړ شه زمزم ستا شو مونږ به تا سره د زمزم په باره کی جنګ نهٔ کوو نو پدے ځای باندے هغه جګړه ختمه شوه او د بنی سعد هغه کاهنی ته د تللو نه راوګرځیدل ځکه الله تعالیٰ د اُوبو په راپیدا کولو خپله فیصله وکړه۔

هرچه دا توری او سرهٔ زر دی پدی به څه کوو؟ نو عبد المطلب وویل راځئ د انصاف خبره دا ده چه پدے به قُرعه (خښنړے) واچوو چه د چا وختلے د هغه به وی نو هغوی وویل: صحیح ده، خښنړے ئے پدے طریقه واچولو چه دوه غشی ئے د قریشو دپاره مقرر کړل دوه ئے ځان دپاره مقرر کړل او دوه ئے کعبے له مقرر کړل، د کعبے والا غشے زیړ وو، خپل ځان له ئے تور مقرر کړل اوقریشو له ئے سپین غشے مقرر کړو،

د قریشو په باره کی استسقام بالازلام قرآن کریم کی راغلی دی، د مشرکینو یو رسم رواج دا هم وو چه خپل قسمت به ئے په غشو سره معلومولو، په غشو به ئے جواری هم کوله،

په کعبه کی دننه هبل د دوی یو غټ بت وو خواکی ورسره جوره کنده وه چه هغے کی به سرهٔ او سپین اچول کیدل، د کعبے د پاره به خلکو هدیی راوړلے، د هبل خواکی به یو منجور ناست وو او د منجور په خوا کی به یوه بوجئ وه په هغے کی به غشی پراته وو یا به منګے وو په هغے کی به دننه غشی پراتهٔ وو، پدے غشو باندے دوی

مختلف لیکل کړی وو، په یو غشی ئے لیکلی وو(لَا) یعنی دا کار مهٔ کوه، په بل غشي ئے لیکلی وو چه (نَعَمۡ) یعنی دا کار اُوکړه، په بل باندے به ئے لیکلی وو(مِنۡکُمۡ) دا سړے ستاسو نه دے، بل باندے به لیکلی وو (مُلۡصَقٌ) په تاسو پورے پیوسته دے، بل باندے به ئے لیکلی وو (مِنۡ غَیۡرِ کُمۡ) ستاسو نه ندے، بل باندے به ئے لیکلی وو (فِیۡهِ خَیۡرٌ فِیۡهِ بَرَکَةٌ) پدے کی خیر او برکت شته) قسماقسم لیکل به وو، او دا اوه (۷) قسمه غشی وو.

دوی به لاړل سل (۱۰۰) روپیۍ به ئے څان سره واخستے منجور ته به ئے ورکړے چه زمونږ دپاره دا غشے ووهه او قسمت راله معلوم کړه، نو هغه به سل روپیۍ واخستے اُوبښ به ئے هم ورله ورکړو چه دا اُوبښ هم واخله نو چه کوم غشے به راوختنه نو هغه کار به ئے کولو دا د دوی استخاره وه چه یو کار به ئے کولو نو دغه غشے به ئے وهلو نو هغوی چه به څه امر ورته وکړو هغه کار به ئے کولو مثلاً ذیو سړی به اراده وه چه په سفر باندے ځي، غشي والا له به ورغے هغه ته به ئے وویل دا پیسے واخله او زما فال وګوره نو هغه چه به غشے راویستو په هغه به ئے لیکلی وو (نَعَمۡ) یعنی دا کار وکړه، او په سفر باندے روان شه نو هغه به په سفر روان شو او دا به ئے ویل (اَمَرَنِیۡ رَبِّیۡ) زما رب ماته امر کړیدے، دے هبل بابا ماته امر وکړو د دوی ګمان دا وو چه دا ماته امر کوی،
او که چرته به لیکلی وو چه (لَا) نو سفر ته به نهٔ تللو ویل به ئے (نَهَانِیۡ رَبِّیۡ)
زه خپل رب منع کړم د سفر نه،

د یوے جینۍ د نکاح اراده به ئے وه که (نَعَمۡ) به شو کوله به ئے، او که (لَا) والا غشے به راووت نو بیا به ئے هغه جینۍ نهٔ کوله، څکه ویل به ئے چه زه خپل اله (معبود) منع کړے یم، دغه شان که (مِنۡکُمۡ، مِنۡ غَیۡرِ کُمۡ، مُلۡصَقٌ بِکُمۡ) به راووتو نو د هغے مطابق به ئے هغه شخص شمارلو، نو دا د عربو طریقه وه چه نسبونه به ئے پدے معلومول، چه دا زمونږ د نسب دے او که مونږ پورے پیوسته دے او که د بل چا د نسب نه دے، دا به ئے پدے سره معلومول.

پدے کی عبد المطلب سره د قریشونه ورغے هغه بابا له او منجور ته ئے روپیۍ ورکړے چه دا واخله او مونږ له فال وګوره چه دا سرۀ زر او توری به د چا وی؟ او عبد المطلب خپله کعبه کی ودریدو او دعاګانے ئے کولے نو دعائے وکړه چه یا الله! دا د هغه چا

وخیژوه چه د چا حق وي. نو پدے کی دوه غشی د کعبے دپاره راووتل او دوه د عبد المطلب دپاره او باقی قریش محرومه شول، غشی تول ددۀ راووتل نو دا راولګیدو هغه سره زر ئے مات رامات کړل د کعبے دروازه ئے ترے جوړه کړه او هغه اُوسپنه ئے هم په هغے کی ولګوله، او خپله ئے ترے څه خاص وانخسته، اول په کعبه کی چه سره زر لګولی دی هغه عبد المطلب لګولی دی.

دا د عبد المطلب واقعه وه چه د زمزم اُوبه الله سبحانه و تعالیٰ دۀ ته راویستلے او دہ به حاجیانو ته د هغے نه اُوبه ورکولے چه دا پروګرام وروسته سیدنا عباس رضی الله عنه ته پاتی شو، د نبی کریم ﷺ په زمانه کی به هم سیدنا عباس رضی الله عنه چه د عبد المطلب ځوی او د رسول الله ﷺ تره دے خلکو ته اُوبه ورکولے.

رسول الله ﷺ چه کله حج کولو نو سیدنا عباس رضی الله عنه خپل ځوی ته امر وکړو چه فضل نوم ئے دے چه لاړشه رسول الله ﷺ له د کورنه اُوبه راوړه، ځکه پدے اُوبو کی حاجیانو لاسونه وهلی دی.

نبی کریم ﷺ وفرمایل: همدا اُوبه صحیح دی نو هغوی د زمزم د کوهی نه اُوبه راویستلے نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل:

(اِنْزِعُوا بَنِیْ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَاِنَّکُمْ لَعَلٰی عَمَلٍ صَالِحٍ)

اے د عبد المطلب اولاده! اُوبه را اوباسئ، یقیناً تاسو په نیك عمل کی مصروف یئ،

(وَلَوْلَا اَنْ یَّغْلِبَکُمُ النَّاسُ عَلٰی سِقَایَتِکُمْ لَنَزَعْتُ مَعَکُمْ) (صحیح مسلم:۳۰۰۹)

کچرته په تاسو باندے د خلکو د غالبه کیدو یره نۀ وے نو ما به تاسو سره په خپل لاس دا اُوبه راویستلے وے) او خلکو ته به مے ورکولے، لیکن که زه دا کار اوکړم نو تول خلك به راشی او زما تابعداری به کوی نو تاسو نه به دا پروګرام واخستلے شی، نوزه ئے ددے خاطره پریدم، که نۀ وے نو ددے کوهی نه ما هم بوکه راویستله لکه څنګه ئے چه تاسو راوباسئ پدے کی اشاره وه چه دا یو داسے بهترین عمل دے چه نبی ﷺ ئے هم ارمان وکړو، خلکو ته اُوبه ورکول هسے هم لوی عمل دے او بیا خاصکر د زمزم په شان اُوبه ورکول خامخا لوی اجر او فضیلت دے. دے کار ته به ئے سِقایه وئیله. (یعنی خلکو ته اُوبه ورکول).

او دا سِقایه د سیدنا عباس رضی الله عنه او د هغه د اولاد په لاس کی وه دا پروګرامونه هغوی ته

وسپارل شو دا د زمزم د راویستلو قصه وه،

پدے طریقه عبد المطلب د مکے مشری کوله او هیخ جگړه ورسره نهٔ کیدله، بلا مقابلے مشر وو۔

د وخت په تیریدو ددهٔ ډیر بچی پیدا شو لسو ته ئے ځامن ورسیدل څه لونړه وے، په هلکانوکی ئے مشر ځوی دا حارث وو (۲) غَیْدَاقْ، (۳) مُقَوِّم (٤) ضِرَار (۵) زبیر (٦) سیدنا حمزه رضی الله عنه (۷) سیدنا عباس رضی الله عنه (۸) ابو طالب (۹) ابولهب (۱۰) او عبد الله۔ او لونړه ئے پیدا شوی (۱) اُمِّ حَکیم چه هغے ته بیضاء هم وائی (۲) بله اَرْوٰی، (۳) عَاتِکه، (٤) بَرّه، (۵) اُمَیْمه۔

آخری بچے ئے عبد الله پیدا شو کله چه دا پیدا شو نو عبد المطلب نذر منلے وو چه که زما لس بچی پیدا شو نو یو به ذبح کوم لیکن دا بچے دهٔ ته ډیر گران وو ځکه چه کشر بچے سړی ته ډیر گران وی۔

تنبیه : بعض اهل سیرت لیکلی دی چه دا خبره ضعیفه ده چه عبد الله د عبد المطلب کشر ځوی وو ځکه چه د صحیح روایاتو نه معلومیږی چه سیدنا حمزه د عبد الله نه کشر وو او بیا سیدنا عباس د سیدنا حمزه ؓ نه کشر وو، او د سیدنا عباس نه نقل دی چه ما ته د رسول الله ﷺ د پیدائش حالت یاد دے چه زهٔ د درے کالو یا دے ته نزدے وم نو زهٔ راوستے شوم ما ورته وکتل نو زنانو ما ته وویل چه دا خپل ورور دے خکل کړه نو ما خکل کړو۔

نو ددے بیا دوه تاویله دی (۱) یو دا چه کله عبد المطلب د عبد الله د ذبح کولو اراده کړے وه نو په هغه وخت کی دا ئے کشر ځوی وو او ددهٔ نه روستو ئے بیا حمزه او عباس پیدا شوی وو۔ قاله السهیلی، مگر دا تاویل دومره غوره نهٔ دے۔ (۲) دویم دا چه عبد الله د مور په بچو کی کشر وو ځکه چه ددهٔ سره په مور کی ابو طالب او زبیر شریك وو د دوی مور فاطمه بنت عمرو بن عائذ المخزومیه وه۔

(ذخائر العقبی لمحب الدین الطبری ۱/ ۲۵۰) والروض الانف (۱/ ۲۷۰) سبل الهدی (۱/ ۲٤۷)

او عربو کی دا بنه عادت وو چه نذر به ئے پوره کولو او د خپل لوظ ډیر پابند وو نو اُوس به پدے لسو بچو کی یو بچے حلالوی نو کوم یو حلال کړی نو عبد المطلب لاړو او بچو ته ئے دا خبره وکړه چه تاسو خپل نوم ونه ولیکئ چه زهٔ مو دغه هُبُل (بابا) ته

بوځم چه ستاسو فال وکړی چه د چا نوم راوختلو هغه به ذبحه کوم نو لسو واړو خپل خپل نومونه ولیکل ځکه چه د خپل پلار سخت تابعدار وو،

هبل ته ورغے هلته منجورته ئے وویل : زما ددے بچو فال وګوره چه د چانوم راوخیژی چه هغه ذبحه کړم خپل نذر پوره کړم، کله چه هغه فال وکړو نو دغه غشے په عبد الله باندے راختلو او دا خو عبد المطلب ته ډیر محبوب وو امتحان پرے راغے، نو عبد المطلب راولګیدو توره ئے راواخسته چه خپل نذر پوره کړی او دا عبد الله ئے د اساف او نائلے خوا ته بوتلو دے دپاره چه په توره سره ئے ووژنی او خپل نذر پوره کړی نو ددهٔ هم د زړهٔ نه الله خبر دے نو پدے کی قریش راغلل او عبد المطلب ئے ددے کار نه منع کړو چه دا مهٔ وژنه ځکه چه بیا خو به دا کار د قریشو سنت طریقه وګرزی، چه د چا لس بچی پیدا کیږی نو یو به پکی ذبح کوی نو پدے سره به مونږ ته یو مصیبت جوړ شی ځکه چه د عربو مشرانو چه به یو کار وکړو نو کشرانو به هغه سم سنت او دین جوړ کړو۔

پدے کی د عبد الله ماماګان (بنو مخزوم) هم راپاڅیدل هغوی عبد المطلب ته وویل چه دا کار به نکوے دا هلك تهٔ هیڅکله نشے وژلے، ستا هیڅ عذر نشته چه تهٔ ئے قتل کړے که دا زمونږ په مالونو بلندے آزادیږی نو مونږ ترے خپل مالونه قربانوو،

عبد المطلب وویل ما چه نذر منلے دے، زه به څه وکړم نو بیا ئے هم ددے قریشو خبره ونهٔ منله توره ورسره وه او عبد الله ئے د خپے لاندے اچولے وو نو پدے کی عباس بن عبد المطلب دئ د خپل پلار د خپے نه لاندے رابنکلو نو پدے کی د عبد المطلب توره د عبد الله په مخ باندے ولګیده او هغه زخمی شو چه دا اثر د زخم د عبد الله په مخ کی تر مرګه پورے وو۔ (السيرة النبوية لابن كثير ۱/۵ والبداية والنهاية له (۲/۳۰٦)

مګر ګوزار دومره مضبوط نهٔ وو نو مړ نشو توره پوره ونهٔ رسیدله ځکه چه قریشو ورله لاس کلك نیولے وو، توره ئے ترے راواخسته،

نو عبد المطلب وویل ما چه نذر کړے دے؟ هغوی ورته وویل: کاهن ته به لاړشو هغه به راله فیصله وکړی (عَرَّافَةُ حِجَاز) حجاز کی چه کومه عرافه ده هغه به راله فیصله وکړی (عرافه هغے زنانه ته وائی چه د راتلونکی زمانے خبرونه وائی)

عرافه کوم ځای کی ده؟ دا په مدینه کی ده، ددے ځای نه روان شو مدینے ته د هغے نه

معلومات اخلی کله چه مدینے ته ورسیدل هغوی ورته وویل: هغه خو ددیے ځای نه خیبر ته تلے ده نو دوی د مدینے نه خیبر ته روان شو۔

کله چه هغے سره ملاؤ شو (دهغه عرافی زنانه نوم قُطْبَه وو) هغے ورته وویل چه ماسره اُوس پیرے نشته زۀ به تاسو ته څه جواب درکړم، دومره انتظار وکړئ چه زما پیرے راشی زه به د هغه نه تپوس وکړم، پیریان ئے تابع کړی وو،

هغوی ورته هلته شپه وکړه چه صبا له شو د هغه زنانه پیرے راغے نو هغه زنانه د خپل پیری نه تپوس وکړو چه زۀ دیے خلکوته څه جواب ورکړم نو هغه پیری ورته طریقه وښوده او پیریانو به طریقه د شرك د عام کولو دپاره ورښودله، پیریان اکثره داسے کار کوی کله کله د بعضے پیرانو سره هم پیریان وی او دا قسم خلك اکثر غلطو عقیدو والا وی دوی د خلکو نه صرف مال او دولت جمع کولو والا وی۔ پیریان ځانله تابع کړی ناشنا ناشنا خبرونه ورته راوړی)،

صبا له عبد المطلب او د هغه ملګری ورغلل د دغه عرافی سره ملاؤ شو هغے ورته وویل: ستاسو په علاقه کی د انسان دیت څومره دیے کله چه ستاسو نه څوك قتل وکړی؟ هغوی ورته وویل: لس اُوښان او په دغه زمانه کی د دوی په نیز دیت د یو سړی لس اُوښان وو۔

عرافی ورته وویل: نو هغے ورته وویل خپل کلی ته واپس شئ او هلته غشی واچوئ یعنی فال معلوم کړئ کچرته فال په لسو اُوښانو راوختلو نو لس اُوښان ددیے عبد الله په ځای ذبحه کړئ نو ستاسو رب (هبل) به پدیے نذر بدلولو باندیے راضی اوخوشحاله وی۔ او که دا فال په عبد الله راوختلو نو لس لس اوښان به نور زیاتوئ تردیے چه ستاسو رب راضی شی۔

(په اسلام کی قانون دا دیے چه یو تن نذر ومنی هغه به پوره کوی مگر که غلط نذر وو نو د هغے پوره کول نشته بلکه د هغے په ځای به د قسم کفاره ورکړی او که یو شے ئے نذر کړو چه هغه ئے نشو پوره کولے نو د هغے عوض به ورکړی مثلاً یو سړے نذر ومنی چه زه به ګډ حلالوم نو که په ګډ حلالو ئے وس کیدو هغه به پوره کړی او که ګډ نۀ ملاویږی نو بیا به د ګډ په اندازه پیسے خیرات کړی)۔

پدیے کی دوی واپس راغلل د هبل خوا کی چه کوم منجور ناست دیے هغه ته

ورغلل ورته ئے وویل چه مالـه فال وګوره نو هغه ورله فال وکتلو نو فال په عبد الله راوختلو نو عبد المطلب لس اُوښان نور زیات کړل، بیا همداسے مخکې تللو تردے چه اتیا، نوی اوښانو بیا سلو اوښانو پورے خبره ورسیدله، په هر ځل به په عبد الله باندے فال راختلو، پدے کې په هر ځل به عبد المطلب کعبے ته ننوتو او دعاګانے به ئے کولے چه اے الله ! زما ځوی بچ کړه او په آخره کې ئے وویل چه اے الله ! سل اوښان دے ذبحه شي خو چه زما بچے (عبد الله) بچ شي په آخر کې په سلو اوښانو باندے فال راوختلو نو خلکو ورته وویل ستا اله او ستا رب (چه دا هبل بت دے) ستا نه پدے کار راضي شویدے ځکه بار بار پدے اُوښانو دا فال راخیژوی د هغوی دا ګمان ووچه دا کار دا بت کوی، دا د تصور او نظریه خربوالے دے، د مشرك نظریه په وهمیاتو بنا وی او زمونږ د اسلام عقیدے ټولے په حقائقو بنا دی او هغوی په وهمونو روان دی، نو پدے وهم روان ووچه دا هبل رضا شو)

نو عبد المطلب سل اوښان ذبح کړل او دا اوښان ئے په خپل ځای باندے پریښودل چه هیڅوك به د عبد المطلب د کورنۍ نه دیته ګوتے نۀ وروړی، او ځوك به ترے نۀ منعه کوی چه هر ځوك ئے کور ته وړی، وړے شی که حیوانات راځی خوری اوکه انسانان ئے وړی دا غوښه به نۀ خرڅولے شی او نۀ به زما کورته راوړلے شی بلکه غریبانان او عوام خلك دے وخوری ځکه چه عبد الله ددے په وجه بچ شو۔ او بیا د هغه په اولاد کې دیت سل اوښان مقرر شو۔ او بیا په اسلام کې هم دا په خپل حال پاتې شو۔

په ځینو روایاتو کې راغلی دی چه عبد المطلب په آخری ځل درے کرته خپل فال معلوم کړو او درے واړه ځل په سلو اُوښانو راوختلو نو هغه درے سوه اُوښان ذبح کړل۔ لیکن حافظ ابن کثیر رحمه الله لیکی چه اول روایت صحیح دے۔

(البداية والنهاية ٢/٤٠٦ و السيرة النبوية لابن كثير، الرحيق المختوم ص (٣٢) والكامل فى التاريخ ١/٢٤٠) والروض الانف (١/٢٧٠)

په یو ضعیف روایت کې راغلی دی چه نبی کریم ﷺ ته منسوب دی چه هغه وئیلی دی: (اَنَا ابْنُ الذَّبِيْحَيْنِ) (زهٔ د هغه دوه کسانو ځوی یم چه د هغوی د ذبحے اراده شویوه)

دا د سیرت روایت دے د سند په لحاظ سره قوی حدیث ندے، ددے سند بیخی

ضعیف دے اگرکه اصل معنیٰ ئے ثابته ده۔

یو سیدنا اسمعیل علیه السلام وو چه الله سبحانه وتعالیٰ ابراهیم علیه السلام ته امر وکړو چه ځوی ذبحه کړه هغه ذبحه کولو خو په بدل کی الله تعالیٰ ګډ راولیږلو، دویم دلته عبد المطلب چه هغه نذر کړے وو چه که ماته الله سبحانه و تعالیٰ لس بچی راکړل نو یو به ترے ذبحه کوم نو پدی ځای کی عبدالمطلب خپل ځوی عبد الله ذبحه کولو لیکن الله سبحانه و تعالیٰ ترے خلاص کړو۔

پدے طریقه باندے عبد الله ئے د لاس نه ونیولو او کور ته ئے بوتلو او پدے طریقه ئے د عبد الله سره محبت نور هم زیات شو۔

د نبی علیه السلام د پلار عبد الله نکاح

عبد الله چه کله پنځه ویشتو کالوته ورسیدو نو اراده ئے وکړه چه نکاح ورله وکړی نو په قریشوکی یوه عزتمنه زنانه چه (اَشْرَفُ النَّاسِ نَسَبًا وَخُلُقًا وَدِيَانَةً) وه،

(یعنی هغه زنانه چه د نسب او اخلاق او دینداریٔ په لحاظ سره اُوچته وه) د هغے نوم آمنه بنت وهب وو، (آمنه بنت وهب بن زهره بن کلاب بن مره بن کعب بن لُؤَيِّ بن غالب بن فِهر)، چه دا د نبی کریم ﷺ د پلار د طرفه په وړاندے نیکونو (پنځم نیکه) کی شریکیږی، ګویا که دا د عبد الله د وړاندے ترهٔ لور کیږی

دا ئے ورله په نکاح واخسته د آمنے د مور نوم بَره دے او د مور د مور نوم ئے (ام حبیب) وو، دا ټولے د رسول الله ﷺ د وړاندے نیکه په اولاد کی راځی، ګویا که دا ټول د یو نسب والا دی په قریشو کښ۔

نو عبد الله خپل پلار د لاس نه نیولے دے او روان دی چه دا جینیٔ ورله په نکاح اخلی، د هغوی نکاحونه هم ډیر آسان وو په کومه ورځ چه به نکاح وه په هغه ورځ به وادهٔ هم وو دوی روان دی نو په لاره کی ورله یوه زنانه چه د هغے نوم رقیه یا قتیله یا ام قتال دے مخے ته راغله چه هغه د ورقه بن نوفل خور ده (د ورقه بن نوفل قصه به روسته راشی چه دا یو نیلک سړے وو په رسول الله ﷺ باندے ئے ایمان هم راوړیدے او د پخوانو کتابونو عالم وو، نصرانی وو)۔

نو دے رقیه د خپل ورور ورقه بن نوفل نه دا خبرے آوریدلے وے چه پدے مکه کی یو نبی پیدا کیدو والا دے او په خلکو کی هم دا خبرے د مخکی نه مشهورے وے او خاصکر دے زنانه ته د خپل ورور د طرفنه معلومات شوے وو۔

نو هرکله چه دے زنانه دا عبد الله ولیدو نو د عبد الله په تندی کی ورته رڼا ښکاره شوه، الله سبحانه وتعالیٰ ددۀ په تندی کی رڼا اچولے وه نو دے ښځے ترے مطالبه وکړه چه ته ماسره نکاح وکړه او که نکاح راسره نشی کولے بدکاری راسره وکړه نو عبد الله ورته وویل چه زۀ د خپل پلار سره روان یم او زما دا طاقت نشته چه د هغه نه جدا شم (لَا أَسْتَطِيعُ أَنْ أُفَارِقَهُ وَلَا أَسْتَطِيعُ أَنْ أُخَالِفَهُ وَلَا أُرِيدُ أَنْ أَعْصِيَهُ شَيْئًا) دا طاقت هم نۀ لرم چه د هغه خلاف وکړم او زۀ دا نۀ غواړم چه د هغه نافرمانی وکړم۔

او دا خبره ئے هم ورته وکړه: (إِنَّ الْكَرِيمَ يَحْمِي عِرْضَهُ وَدِينَهُ) د عزتمندو او دیندارو خلکو دا کار ندے چه هغه زناکانے کوی، عزتمند انسان د خپل عزت حفاظت هم کوی او د خپل دین هم۔ نو د بی حیایئ خبرو نه ئے منع کړه او د نکاح نه ئے هم منع کړه چه نکاح زما د پلار واك دے چه هغه ما له څوك کوی۔

نو عبد الله ئے بوتلو او د آمنه د پلار نه ئے مطالبه وکړه چه دا لور دے ماله راکړه هغه ورله په آسانئ ورکړه، نکاحونه په عربو کی ډیر آسان وو

(په اوس زمانه کی نکاحونه د شیطان د وجه نه ډیر سخت شویدی، شرطونه پکی ډیر سخت لګیږی ددے وجه نه بی حیائی او فسادونه او زناګانی عام کیږی، د اسلام قانون دا دے نکاحونه زر زر کوئ او خپلے خویندے او لونړه هم زر ورکوئ او هلکان چه بلوغ ته رسیږی نو زر ورله نکاحونه وکړئ دے دپاره چه د معاشرے نه بی حیائی او فساد ختم شی کله چه انسان څلویښتو کالو ته انتظار کوی او د څلویښتو کالو نه روستو د نوکرئ او د سروس غم کوی او بیا واده کوی نو ددے نه ډیر فساد پیدا کیږی، په الله باندے ئے توکل نۀ وی وائی چه سروس نۀ وی ملاؤ شوے، نوکری نۀ وی ملاؤ شوی رزق به د کوم ځای نه خوری دا خو شرکی شان عقیده ده چه سړی ته به رزق صرف د نوکرئ نه ملاویږی بلکه په الله تعالیٰ توکل پکار دے، نکاح ته نیت صحیح کړه الله تعالیٰ به مالداری درکړی لکه څنګه چه د الله تعالیٰ وعده ده)۔

نو عبد الله له ئے په آسانئ نکاح وکړه او په همدی اوله ورځ ئے ورله واده هم اوکړو

نکاح او واده تړل شریك، کله چه عبد الله ورسره ملاؤ شو نو الله رب العزت ورته حمل ورنصیب کړو او په سیدنا محمد ﷺ باندے حامله شوه کله چه دا عبد الله واپس راتللو او په هغه زنانه (باندے چه رقیه نوم ئے وو) ورتیر شو هغے ورته نۀ کتل نو عبد الله ورته وویل څنګه پرون دے مطالبے کولے او نن ګورے هم نۀ، نو هغے وویل چه ستا په مخ کی یوه رڼا وه هغه رڼا زه اُوس نۀ وینم، زما دا اراده وه چه دا رڼا ما ته رامنتقله شی اُوس هغه رڼا نشته دے نو زما تا ته حاجت نشته،

هغه رڼا پدے طریقه باندے د عبد الله د بدن نه الله سبحانه و تعالیٰ ویستله او آمنے ته ئے ورنقل کړه چه هغه سیدنا محمد ﷺ وو چه دا یوه رڼا ده او یو نور دے۔ جناب نبی کریم ﷺ بشر هم دے په اعتبار د ذات او نور هم دے په اعتبار د صفت، الله سبحانه و تعالیٰ پکی رڼا اچولے ده، د بریلیانو دا عقیده غلطه ده چه هغوی رسول الله ﷺ د بشریت او انسانیت نه اُوباسی او وائی چه نُور دے حال دا چه علماؤ او مفسرینو دا عقیده د کفر ګنړلے ده چه څوك رسول الله ﷺ د انسانیت نه وباسی۔

د عبد الله وفات

بی بی آمنه چه کله حامله شوه او عبد الله د یوے قافلے سره د تجارت دپاره شام ته لاړلو، په واپسئ کی چه کله دوی مدینے ته راورسیدل د خپلو ماماګانو کره نو په دغه وخت کی په عبد الله باندے مرګ راغے او سمدستی وفات شو او د نابغة الجعدی په کوركی دفن کړے شو، څوك وائی مدینے ته د ماماګانو د ملاقات دپاره تللے وو نو هلته مړشو، کله چه دا مړ شو نو نبی کریم ﷺ د حمل په حالت کی وو۔

بعضے مورخین داسی وائی چه پیدا شوے وواو دوه میاشتے تیرے شوی وے د غیرې ماشوم وویداسے وخت کی ترے پلار وفات شو او سیدنا محمد ﷺ یتیم شو، څینی وائی: د اتلسو میاشتو په عمر کی ترے پلار وفات شو لیکن اول قول ډیر غوره دے۔

(السیرة النبویة لابن کثیر والرحیق)۔

عبد الله چه کله وفات شو نو آمنه ډیره زیاته خفه شوه چه نوے واده وه او د هغے نه بعد ئے خاوند وفات شو دا ډیره درمنده شوه۔

د سیرت په کتابونو کی راغی چه دے د خپل خاوند په باره کی ډیر شعرونه هم

وویـل چه دا یو ډیر ښه ښکلے سړے وو او ډیر اوچت انسان وو او په سفر کی وفات شو او هغـه درد ئے راښکاره کولو، زنانه ته خپل خاوند داسے ښکاری لکه غر، ادنیٰ سړے به وی لیکن ښځے ته ډیر اُوچت ښکاره کیږی، دنیا کی که هیڅ هم ورته نهٔ ملاویدے خو چه ښه خاوند ورته ملاؤ شی دا د هغے دپاره هر څه هر څه وی۔

د هغے بعض اشعار دا دی:

عَفَا جَانِبُ الْبَطْحَاءِ مِنِ ابْنِ هَاشِمٍ	٥	وَجَاوَرَ لَحْدًا خَارِجًا فِي الْغَمَاغِمِ
دَعَتْهُ الْمَنَايَا دَعْوَةً فَأَجَابَهَا	٥	وَمَا تَرَكَتْ فِي النَّاسِ مِثْلَ ابْنِ هَاشِمٍ
عَشِيَّةَ رَاحُوا يَحْمِلُوْنَ سَرِيْرَهُ	٥	تَعَاوَرَهُ أَصْحَابُهُ فِي التَّزَاحُمِ
فَإِنْ تَكُ غَالَتْهُ الْمَنَايَا وَرَيْبُهَا	٥	فَقَدْ كَانَ مِعْطَاءً كَثِيْرَ التَّرَاحُمِ۔

O د بطحاء طرف د هاشم د ځوی نه خالی شو او د خپلے علاقے نه بهر په لحد کی پریوتو۔ O دهٔ ته مرګونو دعوت ورکړو نو دهٔ هغه قبول کړو او مرګونو به په خلکو کی د هاشم ددے ځوی په شان بل څوك نهٔ وی پریښے۔

O په ماښام کی خلکو ددهٔ د جنازے کټ راپورته کړو چه ملګری ورته نمبر په نمبر په ګنړه راتلل۔ O دے مرګونو او حوادثو د زمانے هلاك کړو حال دا چه دے ډیره ورکړه کونکے او ډیر رحم کونکے وو۔

د عبد الله میراث

عبد الله نه پنځه اُوښان او لړے ګډے بزے او یوه حبشی وینځه چه د هغے نوم برکه وو او کنیه ئے ام ایمن وه او بیا د رسول الله ﷺ حاضنه (پرورش کونکے وه) پاتی شول۔

د رسول الله ﷺ د پیدائش تاریخ

پدے کی په حمل باندے لړه زمانه تیره شوه نو نبی کریم ﷺ الله سبحانه و تعالیٰ د ربیع الاول په میاشت کی پیدا کړو۔

پدے کی د مؤرخینو اختلاف دے۔ بعضے وائی په دولسم د ربیع الاول او څوك وائی

په نهم باندے پیدا شو یوم الاثنین د دوشنبی یعنی پیر (ګل) په ورځ۔
نبی کریم ﷺ به پدے ورځ روژه نیوله چه دا غوره ورځ ده (یَوْمٌ وُلِدْتُ فِیْهِ) دا هغه ورځ ده چه زه پکی پیدا شوے یم او هغه ورځ ده (بُعِثْتُ فِیْهِ) چه الله سبحانه و تعالیٰ زه پدے ورځ کی پیغمبر کړے هم یم او عجیبه دا ده چه پدے ورځ کی وفات شوے هم دے۔
نبی کریم ﷺ یوم الاثنین (د ګل) په ورځ وفات شوے دے او په دے کی نبی شوے هم دے او پدے ورځ کی پیدا شوے هم دے،
ددے وجے نه سیدنا ابوبکر رضی الله عنه دا دعا غوښتله چه اے الله ! ما د ګل په ورځ وفات کړه ځکه دا د سیدنا محمد ﷺ ورځ ده،
صحیح بخاری کی هم راځی چه یوم الاثنین د ګل د ورځے فضلیت دغه دے ځکه روژے پکی نیول غوره دی، دویم وفات کیدل د جمعے په ورځ غوره دی لکه چه د سنن په روایت کی راځی چه د جُمعے په ورځ څوك مړ شی یا د جُمعے په شپه باندے خو شرط دا دے چه مسلمان وی نو الله تعالیٰ ئے د قبر د عذاب نه ساتی، د قبر فتنه او امتحان پرے نۀ راځی، پدے دوو ورځو کی فضلیت دے د جمعے او د ګل په ورځ۔
دا صحیح حدیث کی راغلی دی چه یوم الاثنین باندے پیدا شو بیا د ربیع الاول نهم یا دولسم تاریخ وو نو دا د تاریخ خبره ده او د عام الفیل (یعنی د ابرهه د هاتیانو لښکر چه راغلے وو هغوی د محرم په میاشت کی په مکه باندے حمله کړے وه هغه واقعه د دینه پنځوس ورځے مخکی تیره شوے وه،
او نبی کریم ﷺ د عام الفیل نه پنځوس ورځے یا پنځه پنځوس ورځے روسته پیدا شو، د اپریل دوه ویشتم تاریخ وو او د عیسیٰ علیه السلام آسمان ته د ختلو نه روستو (۵۷۱) کلونه تیر شوی وو۔
پدے وخت د پیدائش کی بیا عجائبات راغلل چه هغے ته د نبی کریم ﷺ د نبوت اِرهاصات (نښے) وئیلے کیږی۔
نبی کریم ﷺ د ګل په ورځ سهار څلور بجے پیدا شو چه ستوری په آسمان کی وو آسمان روښانه وو، وریځ پکی نۀ وه ځکه چه کومه زنانه بیانوونکے ده هغه فرمائی چه ستوری مونږ ولیدل د رسول الله ﷺ د پیدائش په وخت کی رانزدے شول۔

۰۰۰۰۰۰

د نبی ﷺ د پیدائش په وخت د نبوت ارهاصات (نخے)

بعضے ناشنا کرامتونه او ارهاصات هغه دا دي چه الله سبحانه و تعالیٰ د ورکوتوالی نه د هغه حفاظت کولو، الله تعالیٰ چه د چا په شا باندے ولاړ وی د هغه به ولے حفاظت نهٔ وی؟، د هغه به ولے ښه تربیت نهٔ کیږی؟، د هغه به ولے عزت نهٔ وی؟ او هغه ته به تهول خیرونه ولے نهٔ ملاویږی؟، کله چه الله تعالیٰ ورسره ملګرے وی نو بیا څه پاتے شو، د رسول الله په شا باندے الله تعالیٰ ولاړ وو، د هغه تربیت او د هغه حفاظت ئے کولو لکه څنګه چه خلك د یو محبوب حفاظت کوی، الله سبحانه و تعالیٰ د هغه نه زیات ددهٔ حفاظت کولو ځکه چه دا به د عالَم دپاره الله تعالیٰ هدایت او رحمت ګرځوی او دده په وجه به د الله تعالیٰ توحید په دنیا کی عام کیږی، د الله سبحانه وتعالیٰ بندګی به کیږی، ددهٔ په وجه به د الله تعالیٰ اولیاء پیدا کیږی،

(۱) نو ددهٔ په باره کی یو کار دا اُوشو چه آمنه بنت وهب فرمائی (چه دا د نبی کریم ﷺ مور بی بی ده) : عامی زنانه چه کله حاملے شي هغوی ته ډیر تکلیف وی لکه قرآن کریم هم الله تعالیٰ فرمایلی دی، کیناستل ئے په تکلیف، پاڅیدل ئے په تکلیف وی، تکلیفونه تکلیفونه وی تر دے چه بچے پیدا کیږی په پیدائش کی هم ورته تکلیف وی، نو سیده آمنه بنت وهب فرمائی : ما پدے خپل بچی باندے د حمل زمانه داسے تیره کړے وه لکه عام عادی حالات، زهٔ پدے نهٔ پوهیدم چه زما په خیټه باندے حمل دے نهٔ د هغه څه بوج وو، نهٔ څه دروندوالی وو نهٔ څه تکلیف وو۔

الله سبحانه و تعالیٰ دهٔ ته دا عزت ورکړو چه د مخکی نه ددهٔ نبوت خلکو ته ورښکاره کوی دیته دلائل النبوّة وائی (د نبوت نه مخکی ښنبی ښکاره کیدل) ځکه روسته ډیره غټه خبره کوی، ډیره لویه دعوه کوی نو د مخکی نه د هغے دپاره د ښنبو ښبانو (دلائلو) ضرورت دے، یو ه ښبانه خو دا وه چه د نبی کریم ﷺ مورته د حمل تکلیف نهٔ وو لکه هغه په خپله خُله دا بیانوی۔

(۲) دویمه ښبه دا ښکاره شوه چه آمنه فرمائی چه ما خوب ولیدو، په خوب کی ما ته دا وویل شو چه تانه یوه رڼا پیدا کیږی، نو ما نه په خوب کی یوه رڼا ووتله او دا رڼا

دومره اُوچته وختله چه ما ته ددې ځای نه د شام علاقې (د بصرىٰ) ښنګلې ښکاره شوې. دومره لرې ځای پورې دا رڼا وچته شوه، شام د مکې نه ډیر زیات لرې دې چه ډیر خلك ئې په ویښه هم نشي لیدلې او دې ته الله تعالىٰ په خوب کې ددې رڼا په وجه وربښکاره کړې پدې وجه د نبي کریم ﷺ نه چا پوښتنه وکړه چه تهٔ مونږ ته خپل حال بیان کړه نو هغه وفرمایل:

(اَنَا دَعْوَةُ اَبِیْ اِبْرَاهِیْمَ وَبُشْرٰی اَخِیْ عِیْسٰی وَرُؤْیَا اُمِّیَ الَّتِیْ رَأَتْ اَنَّهٗ خَرَجَ مِنْهَا نُوْرٌ اَضَاءَ لَهَا قُصُوْرَ الشَّامِ)

(زه د خپل پلار سیدنا ابراهیم علیه السلام دعا یم چه هغه د کعبې د جوړولو په وخت دا دعا کړې وه

﴿رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيْهِمْ اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ﴾ (البقره: ۱۲۹)

یا الله ! دې عربو کې رسول راولیږه چه ستا آیتونه خلکو ته وائي او تعلیم ورکوي دوي ته د کتاب او سنت او پاکوي دوي لره د غلطو اعمالو او اخلاقو نه یقیناً ته غالبه او حکمتونو والا ئې)،

دا دعا سیدنا ابراهیم علیه السلام زما په باره کې کړې وه، ((او زهٔ زیرې د خپل ورور سیدنا عیسىٰ علیه السلام یم)) سیدنا عیسىٰ علیه السلام زما په باره کې زیرې ورکړې دې چه ﴿وَمُبَشِّرًا بِرَسُوْلٍ يَّاْتِيْ مِنْۢ بَعْدِي اسْمُهٗٓ اَحْمَدُ﴾ زما نه روسته یو نبي راروان دې چه د هغه نوم به احمد وي، سیدنا عیسىٰ علیه السلام خپل امت ته دا زیري ورکوي چه زما نه روسته یو نبي راروان دې د هغه تابعداري به کوئ

((او زهٔ خوب یم د خپلې مور چه زما مور خوب لیدلې وو پدې خوب کې د هغې نه یوه رڼا خارجه شوه چه د شام ښنګلې ئې رڼا کړې او هغې ته ښکاره شوې))

مسند احمد ۱۷۲۰۳) (مسند الشامیین ۱۹۳۹)

دا زما د نبوت د مخکې نه نښې دي چه پخوانو انبیاء علیهم السلام پیشین ګویانې ورکړې دي او دعاګانې ئې کړیدي نو یوه نښه دا شوه چه مور ئې دا خوب ولیدو.

(۳) بله عجیبه نښه او عجیب کرامت الله سبحانه و تعالىٰ نبي کریم ﷺ ته دا هم ورکړو چه کله پیدا شو نو د پیدائش په وخت کې هم د نبي کریم ﷺ سره یوه رڼا پیدا

شوه چه دا ټوله کوټه ئې د رڼا نه ډکه کړه او دا خبره د نبي کريم ﷺ مور کړيده او هغه قابلې (دائى) زنانه کړيده کومه چه زنانه ته د ماشوم د پيدائش په وخت کينى هغه وائى چه مونږ پدې کار باندې ډير تعجب وکړو، بل تعجب مو دا وکړو چه:

(وَاِنَّ النُّجُوْمَ لَتَدْنُوْا) د آسمان ستورى زمکې ته رانزدې کيدل تا به وئيل چه ګنې ستورى زمونږ کوټې ته راننوزى دا يو عجيب کيفيت مونږه وليدو نو مونږ تعجب وکړو چه داسې حالت خو کله نۀ دې راغلې۔

الله سبحانه و تعالىٰ د نبي کريم ﷺ دا بعضې نښې دې خلکو ته ښکاره کړې،

(٤) بله نښه دا وه چه بي بي آمنې خوب کې دا ليدلى وو چه ستا دا بچې به پيدا کيږى او چه کله پيدا شي داسې دم پرې واچوه (اُعِيْذُهٗ بِالْوَاحِدِ مِنْ شَرِّ كُلِّ حَاسِدٍ)

زۀ پناهي غواړم ددې ماشوم دپاره په هغه الله پورې چه يوذات دې د شر د هر حسد ګرنه) چه څوک ورسره حسد ونۀ کړى قتل ئې نکړى، ضررونه ورنکړى حسد ګرخو ډير دى، او دا هم ورته وروښودل شوه چه دا کله ستانه پيدا شي نوددۀ نه به رڼا پيدا کيږى دا نښې وليدلې۔

نو د نبي کريم ﷺ د ابتداء نه بعضې نښې دا وى سيدنا حسان بن ثابت رضى الله عنه فرمائي: زۀ د اوو کالو په عمر باندې په مدينه کې اُوم (او دا د نبي کريم ﷺ نه اُوه کاله مشر دے)، سيدنا حسان بن ثابت د رسول الله ﷺ شاعر فرمائى: زۀ په مدينه کې اُوم د يهودو کلى ته ورغلې ووم نو يو يهودى يو اُوچت ځاى ته وختلو او آواز ئې وکړو:

يا معشر اليهود! اې د يهودو ډلې! پدې خبر شئ چه زۀ نجومي يم په علم نجوم باندې پوهيږم (طَلَعَ اللَّيْلَ النَّجْمُ وَاحْمَرَّ) بيګاه شپه هغه ستورے راختلى دے او سور شويدے کوم چه د آخري نبي په پيدا کيدلو باندې راخيژى، آخرى نبي چه کله پيدا کيږى نو پدغه وخت کې به يو خاص ستورى راخيژى د علم نجوم نه به هغه ته معلومات وو۔

زه دا خبر درکوم چه هغه نبي چه تاسو ئې انتظار کوئ هغه پيدا شويدے۔ ځکه يهوديان پدې انتظار ناست وو چه روسته به يو نبي راځي، مشرکانو ته به ئې ويل او ځان به ئې ډير غټ ګڼړلو چه مونږ خو موحدين يو دوى مشرکان دى نو مشرکينو ته به ئې ويل چه مونږ ته به الله سبحانه و تعالىٰ يو نبي راليږى مونږ به ورسره ملګرى

کیږو هغه به هم اهل کتاب وی او مونږ هم اهل کتاب یو او دا مشرکین عرب به مونږ ختموو،

خو کله چه نبی کریم ﷺ الله تعالیٰ رسول راولیږلو نو دوی په ضد او حسد کی راغلل چه مونږ ددهٔ تابعدای څنګه وکړو؟!۔

د حسد او د ضد د وجے نه ئے د هغه تابعداری پریښوده، حسد او ضد ډیر بد شے دے چه د هغوی بعضے واقعات به په خپل ځای کی ذکر شی۔

نو یو دا کار اوشو چه یهودیان په مدینه کی پوهه شو چه نبی کریم ﷺ پیدا شویدے، د دینه خبرنهٔ وو چه نن شپه پیغمبر پیدا شویدے بلکه الله تعالیٰ دے کافرو ته د علم نجوم په ذریعه ورونبودله اګر چه مونږ د علم نجوم (ستورو) تصدیق نهٔ کووځکه مونږه د دینه منع شوی یو چه تاسو د علم نجوم تصدیق مهٔ کوئ پدے کی ګوتے مه وهئ، دے سره د سړی توحید خرابیږی۔

مګر هغوی خو کافر خلك وو هغوی ته الله تعالیٰ په آسمانونو کی یوه نښه ورونبودله د هغوی د تجربی مطابق، پدے کی زمونږ د دین تائید راځی او زمونږ د دین څه خلاف خبره پکی نشته دے۔

سیدنا حسان بن ثابت رضی الله عنه وائی چه کله زهٔ راغبت شوم او معلومات راته حاصل شو چه پیغمبر پیدا شویدے نو روسته د هغه د نبوت نه ماته پته ولګیده چه هغه یهودی دا خبره کړے وه، زه د اوو کالو په عمر ووم او دا خبره ماته یاده وه (او د اوو کالو په عمر ماشوم خبره یادولے شی خاصکر د عربو ډیر ښه ذهنونه وو ډیرے مضبوطے حافظے الله تعالیٰ ورته ورکړے وے)

نو دا نښه یهودو کی ښکاره شوه هغوی هلته اعلانونه وکړل چه آخری نبی پیدا شویدے۔

(۵) بله نښه دا ښکاره شوه چه کله نبی کریم ﷺ پیدا شو (نو په فارس کی به د اُور عبادت کیدلو ځکه مجوسیان هغه خلك دے چه د اُور عبادت کوی او د آسمانونو د رڼا عبادت هم کوی او د زمکے د رڼا هم، بعضے داسے وو چه د ستورو، د نمر او د سپوږمئ عبادت ئے هم کولو او بعضو د نمر عبادت کولو، د اُور عابدان په زمکه کی ډیر زیات وو دوی به دا ویل چه اُور ډیر طاقتور شے دے چه هر شے سیزی نو د هغه د زور

نه متأثره شوی وو څوك پكې د نمر د او د سپوږمۍ د رڼا او رونق نه متاثره شوی وو نو عبادت ئې ورله شروع كړے وو او دا عزتمند انسان به رالګيدو هغوی ته به ئې سجدے لګولے.

نو فارس والو به د اُور دومره په سختئ سره عبادت كولو چه دا اُور به د هغوی هميشه بَل وو په هيڅ موسم د اُوړی او ژمی او منی او سپرلی كی نۀ مړ كيدو او شپه او ورځ به بَل وو څكه چه سنركاري طريقے سره به ددے عبادت كيدو لرګی به ئے ورله هميشه راوړل څكه چه دا ئے معبود ګنړی او معبود خلك نۀ وژنی او خلك به ترے ګير چاپيره پراتۀ وو عبادتونه به ئے ورله كول او دا به هغوی تقوىٰ او بزرګی ګنړله چه ديته لرګی راوړی او خلكَ ئے عبادت وكړی نو هر سړی به ورله لرګی راوړل نو دا اُور زركاله نۀ وو مړ شوے خو كله چه الله تعالىٰ نبی كريم ﷺ په كومه شپه پيدا كړو نو په دغه شپه د دوی دغه اُور مړ شو هغوی حيران شو چه زر كاله يو اُور بَل شوے او سمدست په هغے آفت راغے لكه طوفان چه پرے راغلے وی بيخی ئے اُور مړ كړو دا د تعجب خبره وه.

(٦) بله نښه دا چه د فارس والو په بادشاهئ بانديے يوه زلزله راغله چه دغه ايوان او صدارتی محل او مركز او اسمبلی ئے وخوزوله (سَقَطَ مِنْهُ أَرْبَعَ عَشْرَةَ شُرْفَةً) چه د هغے نه څوارلس كوټے بنكته وغورزيدے، غټه بالاخانه وه د هغے نه څوارلس كوټے وغورزيدے نو هغوی هم حيران شو چه دا څنګه عجيبه كار وشو.

(الروض الانف ١/ ٢٠) والرحيق المختوم (٣٥).

(٧) بل كار الله سبحانه وتعالى په دغه ځاى كی دا اُوكړو چه ددے خلكو كنائس (ګيرجے) او عبادت خانے وے په هغے كی به ئے د غير الله عبادت كولو نو پدے زلزلے سره هغه كنيسے هم پريوتلے، بحيرۀ ساوه ئے ورته ويله د هغے نه ګير چاپيره دا ګيرجے وے۔يو وړوكے غوندے دريابګے وو په هغے كی اُوبه وے دوی به د هغے تقديس او تعظيم كولو (مشركين عجيب خلك وو د هرڅه عبادت ئے كړيدے د خپلے بی عقلئ او د شيطان د تسلط د وجه نه ئے د داسے ګنده څيزونو بندګی كړيده چه انسان هغه ذكر كولے نشی)

او بله دا چه ددے بحيرۀ سَاوَه سره الله تعالىٰ دا كار وكړو چه زمكه ئے وچوله او دا اُوبه ئے پكی داخلے كړے، اُوبه ئے وچے شوے نو يو طرفته د دوی په معبودانو هم تزلزل

راغے، یو معبود ئے خراب شو، هلته ئے گیرچے راپریوتے او دارنگه د ایوان کوتے هم راپریوتے دلته ئے اُور هم مړشو نو سخت حیران شو چه ناشنا کارونه کیږی۔

د فارس مُوبذان (قاضی) خوب ولیدو

پدے کی د فارس والا قاضی او مفتی چه هغه ته ئے د هغوی په ژبه (مُوبَذان) وئیلو هغه یو خوب ولیدو چه سخت او مشکل اُوښان دی او هغه ځان پسے عربی اسونه راکاږی، اُوښان مخکی او اُسونه ترے روستو روان دی او په دِجله نهر (کوم چه عراق کی دے) باندے پوریوتل او د هغوی په ښارونو کی خوارهٔ شول۔

نو کسریٰ بادشاه چه کله د اِیوان دغه کوتی راپریوتل ولیدل نو ډیر غمجن شو او خپل تاج ئے په سر کړو او په تخت باندے کیناستو او بیا ئے خپلے اسمبلیٔ والو ته جواب ولیږو هغوی راجمع شو، دهٔ ترے تپوس وکړو چه آیا تاسو خبر یئ چه ما د څه دپاره تاسو راجمع کړیٔ؟ هغوی وویل: نهٔ، بادشاه به خبر راکړی نو پدے مابین کی دوی خبرے اترے کولے چه خط راورسیدو چه اُورونه هم مړهٔ شول نو دکسریٰ بادشاه نور غم زیات شو او خلکو ته ئے حال ووئیلو چه ما څه ولیدل او څه پریشانه کړم،

پدے کی مُوبذان ورته وویل چه ما هم بیګا شپه خوب لیدلے دے او بیا ئے هغه ورته بیان کړو نو بادشاه وویل چه اے موبذانه! دا به څه کیږی؟ نو موبذان ورته وویل چه د عربو د طرف نه به څه خرابتیا راپیسیږی، موبذان ته د هغوی په نسبت ددے خبرے علم وو۔

نو پدے کی بادشاه نعمان بن منذر ته خط ولیکلو چه ما ته یو داسے سړے راولیږه چه زما د تپوسونو جوابونه راکولے شی، نو نعمان بن منذر ورته عبد المسیح بن عمرو بن حیان بن نُفَیله الغَسّانی راولیږلو، کله چه هغه راورسیدو بادشاه ترے تپوس وکړو چه تا ته علم شته د هغے خبرے چه زهٔ درنه تپوس کوم؟

عبد المسیح ورته وویل: وایه که ما سره علم وی خبر به درکړم او که نهٔ وی زهٔ به درته داسے څوك وښایم چه هغه به پرے پوهیږی، نو بادشاه ورته ټوله کهانی او قصه بیان کړه نو عبد المسیح وویل چه زما یو ماما دے او په مشارف الشام کی وسیږی د

بیان کړه نو عبد المسیح وویل چه زما یو ماما دے او په مشارف الشام کی وسیږی د هغه نوم سَطِیح دے هغه ته ددے خبرے معلومات شته، بادشاه وویل : تهٔ ورپسے لاړشه او د هغه نه ما له ددے خبرو جواب راوړه،

عبد المسیح د بادشاه د دربار نه راووتو او سطیح ته راورسیدو او پدے وخت کی سطیح د مرگ په حالت کی دے نو دهٔ پرے سلام واچولو او خبرے اترے ئے ورسره وکړے نو سطیح ورته هیڅ جواب ورنکړو بیا ورته عبد المسیح شعرونو کی پیغور ورکړو چه گونگا شوے که څه دریاندے وشو؟

سطیح چه دهٔ دا شعرونه واوریدل نو سر ئے راپورته کړو او وے ویل : اے عبد المسیحه ! تهٔ په اُوښه باندے راغلے ئے او بنی ساسان بادشاه رالیږلے ئے د هغه د ایوان د خوزیدلو او د اُورونو د مړ کیدو او د موبذان د خوب د لیدو په وجه

(نو سطیح دَ مخکی نه هغه ته وویل چه تهٔ ددے غرض دپاره راغلے ئے، ځکه چه دا کاهن وو، خلکو ته به ئے د غیبو خبرونه ورکول په واسطه د پیریانو سره)

بیا ئے ورته جواب ورکړو چه اے عبد المسیحه ! کله چه تلاوت ډیر شی او د امسا والا شخص راښکاره شی او وادی السماوه اُوبهیږی او د سَاوه بَحِیره وُچه شی او د فارس اُور مړ شی نو بیا شام د سطیح دپاره شام نهٔ دے۔ بیا ئے ورته وویل : ددے فارس والا خلکو نه به د غورزیدلو گمرُو او بالاخانو په اندازه کسان بادشاهی کوی یعنی څوارلس کسان به د دوی نه بادشاهان کیږی او بیا به د دوی حکومت زر زر ختمیږی۔

بیا په همدغه ځای کی سطیح مړ شو۔ او سطیح چه دا خبره وکړه نو پدے وخت کی د نبی علیه السلام د پیدائش یوه میاشت یا لږ څه کم شویدی۔

کما ذکره ابن کثیر فی السیرة النبویة (۱/۲۱۸)۔

او عبد المسیح خپله اُوښه راروانه کړه او ډیر اشعار ئے وویل او کسریٰ بادشاه خوا ته راورسیدو هغه ته ئے د سطیح خبره وکړه نو کسریٰ بادشاه وویل : چه څوارلس کسان زمونږ نه بادشاهان کیږی دا خو به ډیر ډیر کارونه مینځ ته راغلی وی۔

نو داسے وشو چه الله سبحانه وتعالیٰ په څلورو کلونو کی لس بادشاهان بدل کړل او باقی بادشاهانو د سیدنا عثمان بن عفان رضی الله عنه د خلافت پورے بادشاهی وکړله۔ (رواه البیهقیؒ وابن کثیرؒ)

آخری بادشاه چه د هغه نه د دوی حکومت ختم شو هغه یَزْدُجِرد بن شَهْرَیَار بن اَبْرَوِیْز بن هُرْمُز بن اَنُوْشِیْرَوان وو او دا هغه شخص دے چه ددهٔ په زمانه کی د ایران ایوان دړے وړے شو۔ او ددهٔ مشرانو دړے زره یوسل څلور شپیته کاله (۳۱٦٤) بادشاهی کړے وه۔ او د دوی اولنے بادشاه جیومرت بن اَمِیْم بن لاوذ بن سام بن نوح علیه السلام وو۔ چه دهٔ ته (کیُومرث) هم وائی۔

(او دا سطیح د سَیْل العَرِم (ډیم راخلاصیدو) په زمانه کی پیدا شوے وو او تر د ذو نواس بادشاه زمانے پورے تقریباً دیرش پیړو پورے ژوندے وو او دا په بحرین کی وسیدو او د ازد قبیلے نه وو۔ او دا هغه سړے وو چه ربیعه بن نصر ته ئے د خوب تعبیر مخکښی د هغه د بیانولو نه ورکړے وو۔ (السیرة النبویة ۱/۲۱۵)۔

پدے طریقه د فارس بادشاهی ختمه شوه، د مسلمانانو په خلافت کی دغه علاقے د فارس ونیولے شوے او د ایران د بادشاه لور سیدنا حسین رضی الله عنه په نکاح کی راغله او د هغه بادشاه مالونه ټول د مسلمانانو لاس ته راغلل دا د نبی کریم ﷺ د نبوت نښے راښکاره شوے چه په فارس والو باندے دا کارونه وشول۔

(۸) بله دا چه آمنه بنت وهب دا هم په خوب کی لیدلی وو چه کله دا ماشوم پیدا شی تهٔ ورله محمد نوم کیده، دا ئے د خوب واقعه ده چه کله پیدا شو نو محمد نوم ئے ورته کیښوده، یعنی عبد المطلب ته ئے دا خوب بیان کړو نو هغه ورله دا نوم منتخب کړو۔ (امتاع الاسماع ۲/۱٤۰)

دویمه وجه ددے دا هم کیدے شی چه عربو کی دا نوم مشهور نهٔ وو، دا به چا نهٔ ایښودلو الله سبحانه وتعالیٰ ددے نوم حفاظت کړے وو، یو د نبوت دعویٰ چا نه وه کړے، عربو به د هر شی دعویٰ کوله چه زهٔ شاعر یم، زهٔ کاتب یم، زهٔ تاریخ دان یم، زهٔ نسب والا یم او نسب دان یم، ددے ټولو څیزونو دعوے به خلکو کولے لیکن د نبوت دعویٰ چا نهٔ کوله الله سبحانه وتعالیٰ ترے دا هیره کړے وه د نبی کریم ﷺ د نبوت د حفاظت دپاره څکه کهٔ د نبوت دعویٰ مخکښی چا کړے وے

نو بیا به د رسول الله ﷺ د نبوت دعوے ته چا دومره اعتبار نهٔ ورکولے نو دا خبره هم الله تعالیٰ د خلکو نه پټه ساتلے وه،

دویم د نبی کریم ﷺ دا نوم الله تعالیٰ د خلکو نه پټ ساتلے وو صرف د نبی علیه

السلام دپاره ئے خاص کړے وو خلکو به دا نوم نۀ ایښودو خو د هغه په زمانه کې بیا دوه درے کسانو نورو هم دا نوم ایښودے وو،

د هغے واقعه دا وه چه درے ځلور کسان د مکے مکرمے نه بهر ملك ته د کوم یهودی بادشاه د ملاقات دپاره تلی وو، د بادشاه سره ملاقات وشو نو بادشاه هغوی ته وویل: تاسو د کوم ځای یئ؟ دوی وویل: د مکے، هغه ورته وویل: په مکه کې به ګوره یو رسول پیدا کیږی، په دغه ځای کې آخری نبی راتلو والا دے، د پخوانو کتابونو نه هغوی ته معلومه وه او د هغه نوم به محمد وی نو دے ځلورو کسانو پخپل زړونو کې دا خبره واخسته چه دا نبی پیدا کیږی نو چه زمونږ اولاد کې پیدا شی ډیر به ښه وی۔

دغه ځلور کسان (۱) یو د سفیان بن مجاشع په نوم یو سړے وو د هغه چه ځوی پیدا شو محمد نوم ئے ورله کیښودہ، (۲) دویم اُحَیحَه بن جُلَّاح بن حُریش بن جَحْجَبَا الاوسی په نوم وو هغه خپل ځوی ته محمد نوم کیښودہ، (۳) دریم حُمران بن ربیعه چه د قریشو نه یو سړے وو هغه خپل ځوی ته محمد نوم کیښودہ۔

(٤) او ځلورم عبدالمطلب وو چه د نبی کریم ﷺ نیکه دے د هغه ځامن خو نۀ پیدا کیدل ځکه چه بوډا شوے وو او لس بچی ئے وو نو دۀ وویل چه که نمسے مے پیدا شی نو محمد نوم به ورله کیږدم۔ (امتاع الاسماع ۲/۱٤۰) الروض الانف (۱/۲۷٦)

هغه نورو کسانو پدے نیت باندے ایښے وو چه کیدے شی چه زمونږ دے اولاد ته د نبوت دا شرف او عزت ورکړے شی لیکن الله سبحانه و تعالیٰ دا عزت سیدنا محمد رسول الله ﷺ له ساتلے وو،

نو د محمد ددے نوم د کیښودو دوه وجے شوے یو دا چه آمنے خوب لیدلے وو او دویم دا چه په تورات کې الله تعالیٰ لیکلی وو چه د عبد المطلب په اولاد کې یو به سړے راځی د هغه نوم به محمد وی او په مکه کې پیدا کیږی او بیا به مدینے ته هجرت کوی دا تول بیانونه شوی وو، د رسول الله ﷺ د نبوت تعیین د مخکی نه شوے وو، ددے دپاره چه د چا شك شبهه پکی پاتے نشی ځکه چه دا یو عالمی پیغمبر دے چه د چا شك او شبهه او بهانه پاتی نشی۔

(۹): نبی کریم ﷺ ته دا عزت هم ورکړے شوے وو چه (وُلِدَ مَسْرُوْرًا) پداسے حالت کې پیدا شو چه نوم ترے پریکړے شوے وو، عام انسانان چه کله پیدا شی نو کولمه

ورپورې نښتې وي الله سبحانه وتعالیٰ د هغې په واسطې باندې په خيټه کې ماشوم ته غذا ورکوي، په خُله باندې خوراك نهٔ کوي، پدې سره بنده الله تعالیٰ پیژني چه هغه الله چه د مور په خيټه کې د بنده د خوراك انتظام کوي اګرکه هلته خوراك نشي کولے نو بهر په دنيا کې به ورله خامخا انتظام کوي، عجيب رب دے دا په مونږ باندې څومره مهرباني ده بيا هم انسان د هغه سره شريکان جوړوي)

نو کله چه ماشوم پيدا شي دغه نوم ترے پريکولے شي او قابله (دائی) هغې ته غوټه ورکړي نو د نبی کريم ﷺ نوم خپله قدرتي طور سره پريکړے شوے وو۔

(۱۰) او دارنګه چه کله پيدا شو (مُعْتَمِدًا عَلٰی يَدَيْهِ) په لاسونو باندې ئے تکيه وهلے وه، يعنی زمکے ته چه راپريوتلو نو په لاسونو باندې ئے تکيه ووهله، ماشوم داسے تکيه نشي وهلے دا عجيب حالت دے، زنانه دا حالت وليدو۔

(۱۱) : رَافِعًا رَأْسَهٗ اِلَی السَّمَاءِ) سر ئے آسمان ته اُوچت کړے وو چه دے کې هم د الله تعالیٰ توحيد او د هغه محبت او د هغه تعلق ته اشاره ده چه بره آسمان ته ګوری ځکه د بنده تعلق به تهول د آسمان سره وي، د الله تعالیٰ د وحی سره به ئے تعلق وي او بره دغه رب چه په عرش باندې دے هغه ذات به دده تربيت کوي، دے نکتو ته اشاره ده او الله سبحانه وتعالیٰ ښه پوهيږي۔

(۱۲) بله دا چه (وُلِدَ مَخْتُوْنًا)

نبی کريم ﷺ چه کله پيدا شو نو سنت کړے شوے وو، دا د سيرت روايت دے۔

بعضے علماء وائی چه په اُومه ورځ باندې عبد المطلب سنت کړو، مشهوره دا ده چه الله تعالیٰ هغه مختون (سنت کړے شوے) پيدا کړے وو، بعضے ماشومان داسی وی چه الله تعالیٰ همداسی سنت کړی پيدا کړی وی نو دوباره سنت کولو ته ئے حاجت نهٔ وی، عواموکی دا مشهوره ده چه په اندام به ورله هسے چاړه راکاږي او لږه شان وينه به ترے وباسی۔

مګر دا خبره دُرست نهٔ ده ځکه چه د سنت ګيرئ مقصد حشفه رابنکاره کول دی دے دپاره چه بول پکی نهٔ ايساريږی او د غسل اُوبه ورته په آسانئ ورننوزی او پدے کی شرعی نورے فائدے هم شته او دا سنتِ کول د ماشوم په مسلمانانو باندې واجب دی، د نبی ﷺ د پيدائش په وخت کې به دا ختنه يهودو کوله او عربو کی هم رائجه وه۔ او

ختنه اول د سیدنا ابراهیم علیه السلام د زمانے نه شروع شویده، د سیدنا ابراهیم علیه السلام نه مخکی به چا ختنے نهٔ کولے، د الله تعالیٰ حکم نهٔ وو، او سیدنا ابراهیم علیه السلام هم اول نهٔ وه کړے بلکه کله چه اتیا کالو ته ورسیده نو الله تعالیٰ ورته حکم وکړو چه دا غوښه د ځان نه پریکړه، ګران امتحان وو په بوډا والی کی د سرې زخم هم نهٔ ښه کیږی،

نو سیدنا ابراهیم علیه السلام چاړه راواخسته او د خپل ځان نه ئے دا غوښه پریکړه سیدنا ابراهیم علیه السلام د الله تعالی تابعداری وکړه، بیا د هغه زمانے نه دا طریقه جاری شوه، مسلمان به خامخا ختنه کوی او د کفارو طریقه به نهٔ خپلوی چه هغوی دا غوښه د ځان نه نهٔ پریکوی او پدے کی د صحت په لحاظ سره ډیر ضررونه او مرضونه او نقصانات دی،

او عرب چونکه پدے مسئله کی د سیدنا ابراهیم علیه السلام په دین باندے روان وو پدے وجه هغوی به هم ختنه کوله، بیا ختنه انسان په اوله ورځ هم کولے شی او په اُومه ورځ هم، د اُومے ورځے د ختنے کولو په باره کی دوه حدیثونه راغلی دی مګر لږ ضعیف دی نو که انسان ئے په اُومه ورځ وکړی هم صحیح ده او که د هغے نه ئے روسته کړی نو هم ګناه نشته، چه ماشوم کله پیدا شی په اومه ورځ ورله عقیقه پکار ده که ختنه ورله په دغه ورځ کوی او که نه ئے کوی،

نبی کریم ﷺ چه کله پیدا شو نو مور بی بی ئے ددهٔ نیکه عبد المطلب ته خبر ورکړو (ځکه چه پلار ئے نهٔ وو) چه ستا نمسے پیدا شویدے، نو عبدالمطلب انتهائی خوشحاله شو ځکه د عبدالله سره ئے ډیره مینه وه او هغه وفات شوے وو نو د سرې د وفات شوی ځوی سره ډیره مینه وی چه د هغه بچے پیدا شی نو د مړ ځوی یاد ئے راتازه شی۔ نو الله سبحانه و تعالی ورله د نبی کریم ﷺ سره په زړه کی ډیره مینه واچوله،

عبد المطلب راغے خپله ئے دا ماشوم واخسته او په تورته کی تاؤ راتاؤ کړو او کعبے ته ئے ویوړو، کعبے ته دننه داخل شو د الله تعالیٰ نه ئے دعاګانے وکړے چه اے الله! تا لره شکر دے چه داسے ښکلے نمسے دے راکړو (ځکه دے خلکو الله تعالیٰ هم منلو د هغه د عظمت اقرار ئے هم کولو او د کعبے تعظیم ئے هم کولو، د الله تعالیٰ بندګی به ئے هم کوله لیکن مرض پکی دا وو چه شرک به ئے کولو نو پدے شرک ترے الله تعالیٰ ناراضه وو ځکه چه شرک د الله تعالیٰ سره لویه دشمنی ده)

نو عبد المطلب د الله تعالیٰ شکر وکړو او بیرته واپس ئے نبی کریم ﷺ خپلے مور ته راوړو او بیا د هغے سره وو۔

رسول الله ﷺ ته تے ورکونکے زنانه

یوه هفته پورے ورله خپلے مور تے ورکولو بیا نورو زنانو ورکړو، دغه تے ورکونکو زنانو ته مُرضِعَات وائی، نو د رسول الله ﷺ رضاعی میندے څلور وے :

(۱) په اوله کی ورته خپلے مور تے ورکولو، (۲) بیا د ابولهب چه د نبی علیه السلام ترهٔ دے د هغه وینځه وه ((ثُوَیْبَه)) نوم ئے وو، نبی کریم ﷺ یو ځای کی پروت وو ژړل ئے لکه څرنګه چه عام ماشومان ژاړی نو ثویبی خپل وړوکی ځوی چه نوم ئے ((مَسْرُوْح)) وو هغه ته تے ورکولو نو راغله او نبی کریم ﷺ ته ئے هم پئ ورکړل، دے ثویبے د نبی کریم ﷺ نه مخکی سیدنا حمزه بن عبد المطلب رضی الله عنه ته هم په وړوکوالی کی تے ورکړے وو او د نبی ﷺ نه روسته ئے سیدنا ابو سلمه بن عبد الاسد المخزومی رضی الله عنه ته ئے هم تے ورکړو چه دا د ام سلمه رضی الله عنه خاوند وو او د نبی علیه السلام رضاعی ورور دے نو ام المؤمنین ام سلمه رضی الله عنها د نبی ﷺ رضاعی ورندار وه، بیا د ابو سلمه د وفات نه روستو نبی کریم ﷺ په نکاح اخستے وه۔او په هغے کی ډیر حکمتونه وو یو دا چه دا د پوخ عمر ښځه وه نو په هغے باندے ئے شفقت کولو او بل د هغے ډیر بچی پاتی شوی وو نو د هغوی تربیت ئے غرض وو۔

(۳) دریمه رضاعی مور د نبی کریم ﷺ حَلِیمَه السَّعْدِیَّه وه۔ چه دا د بنو سعد قبیلے نه راغلے وه هغے ورته تے ورکړے وو چه قصه ئے روستو راځی۔

(٤) په بنو سعد کی بله زنانه وه چه هغے سیدنا حمزه رضی الله عنه ته تے ورکړے وو نو نبی کریم ﷺ ته ئے هم یوه ورځ تے ورکړو نو د نبی کریم ﷺ دا څلور میندے وے یوه خپله او درے رضاعی۔

د ثویبه په باره کی

په احادیثو کی راغلی دی چه ثویبه د ابولهب وینځه وه کله چه نبی کریم ﷺ پیدا شو نو ثویبه لاړه ابولهب ته ئے د هغه د وراهٔ زیرے ورکړو نو ابولهب ډیر خوشحاله شو

او په ډیره خوشحالۍ کی ئے خپله دا وینځه آزاده کړه (لکه دا زمونږ د نبی سنت طریقه هم ده چه کله څوك چا ته زیری ورکړی نو هغه به ورته څه تحفه ورکوی لکه سیدنا کعب بن مالك ﷛ ته چه کله د توبی د قبلیدو زیری ورکړے شو نو هغه خپلے جامے زیری ورکونکی ته ورکړے او دا د زړهٔ سختوالے وی چه کله یو انسان ته د خپل ورور یا د ورارهٔ یا د بل خپلوان د بچی زیری ورکړے شی او دا پرے هیڅ پرواه ونکړی او داسے وائی چه یوه بله فتنه زیاته شوه بلکه پدے خوشحالی پکار ده چه یو مؤمن او موحد زیات شو۔

بخاری کی راځی (نبوی حدیث ندے بلکه د تابعی عروه بن زبیر رحمه الله خبره ده) چه کله ابولهب مړ شو نو بعض کور والو په خوب کی په ډیر بد حالت کی ولیدو تپوس ئے ترے وکړو چه تا باندے څه تیر شو؟ هغه وویل چه زهٔ چه تاسو نه راجدا شوے یم، زهٔ د هیڅ ښه حالت سره نهٔ یم ملاؤ شوے سویٰددے نه چه ما ته د ثویبه د آزادولو په وجه لږ یخوالے محسوس شو۔

نو ابولهب ته الله رب العزت پدے باندے لږ شانی ثواب هم ورکړی ووسره د دینه چه مشرك دے ځکه د الله تعالیٰ قانون دا دے چه هر څوك نیك عمل وکړی الله تعالیٰ ئے نهٔ ضائع کوی کهٔ کافر نیك عمل وکړو هم الله تعالیٰ ئے نهٔ بربادوی،

د کافر او د مؤمن د عمل فرق دا دے چه مؤمن نیك عمل وکړی نو الله تعالیٰ ورله دنیا او آخرت دواړو کی بدله ورکوی دنیا کی هم عزت او کمال ورکوی او آخرت کی ثوابونه ورکوی او هرچه کافر دے نو هغه ته د نیك عمل بدله صرف په دنیا کی ورکوی خوکله کله آخرت کی هم لږ څه بدله ورکول کیږی، هغه دا چه عذاب پرے سپك شی یو سخت کافر دے یو نرم کافر دے، یو اخلاقی کافر دے بل ضدی کافر دے د دوی په عذابونو کی هم فرق وی۔

سیدنا عباس ﷛ اُوفرمایل یا رسول الله ﷺ! ابوطالب به ستا حفاظت کولو او ستا دپاره به غصه کیدو نو تا هغه ته څه فائده ورکړه؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل:

كَانَ فِيْ دَرَكٍ مِنْ جَهَنَّمَ فَأُخْرِجَ مِنْ أَجْلِيْ فَجُعِلَ فِيْ ضَحْضَاحٍ مِنْ نَارٍ لَهُ نَعْلَانِ مِنْ نَارٍ يَغْلِيْ مِنْهُمَا دِمَاغُهُ) (بخاری: ۳۸۸۳)

ابوطالب د جهنم په غټه کنده کی پروت وو خو زما د احساناتو او د خدمت د وجه نه

الله تعالیٰ سبحانه وتعالیٰ د هغه اُور نه راویستلو او په هغه معمولی اُور کی ئے ودرولو چه خپے ئے صرف په اُور کی دی او دهغے نه ئے د سر دماغ خوټ کیږی او دا په ټولو کی آسان عذاب والا دے لیکن دے دا گمان کوی چه زما د ټولو نه سخت عذاب دے۔

نو گوره ابو طالب ته د هغه د نیك اعمالو بدله الله تعالیٰ هلته ورکړه چه عذاب ئے پرے آسان کړو، خو داسے بدله نهٔ ورکوی چه جنت ته ئے بوځی ځکه شرك د الله سبحانه وتعالیٰ هغه بے ادبی ده او هغه گندگی ده چه الله رب العالمین ئے بیخی نهٔ معاف کوی، د الله مغفرت او بخنه دیته فراخه نهٔ ده۔

مقصد دا چه ابو لهب ته فائده ملاؤشوه اگر که دهٔ دا کار پدی وجه ندے کړے چه دا هلك به نبی جوړیږی او د الله پیغمبر به وی خو الله تعالیٰ دهٔ ته دا بدله ځکه ورکوی چه دهٔ یو قسم د الله د نبی سره احسان وکړو په هغه باندے ئے خوشحالی وکړه نو الله تعالیٰ په خپل نبی باندے د چا احسان نهٔ پریدی نو دهٔ ته ئے دا بدله ورکړه او کیدے شی چه دا خبره حقه وی د خوب واقعه ده او د یو تابعی خبره ده کیدے شی چه همداسے شوی وی ځکه الله تعالی د کافرانو سره هم کله نرمی کوی، لکه د ابو طالب سره ئے د هغه د احساناتو د وجه نه نرمی وکړه

مگر غلطو عقیدو والا خلکو ددے نه دا غلطه فائده اخستے ده چه دوی جشن عید میلاد النبی مناووی او ددے فضائل بیانوی، عید میلاد النبی معنیٰ ده د نبی ﷺ په پیدائش باندے اختر مناوول او خوشحالی کول او یو ځای ته راجمع کیدل او جلسے کول او شمعے او بلپونه بلول او نعتونه او شرکی کلمات وئیل چه دا د شیطانانو مرکز وی، نوم ورلهٔ عید میلاد النبی کیدی بیا پکی خپل شرکیات او خرافات او منگهړت واقعات او قصے بیانوی او عوامو ته دا ښکاره کوی چه دا د دین برخه ده نو دا ټولے طریقے بدعت او گمراهی ده ځکه چه که دا دین وے نو د الله نبی به امت ته خودلے وے چه تاسو زما په پیدائش باندے داسے جشنونه مناؤ کړئ او دغه شان صحابه کرامو به ددے اهتمام کړے وے حال دا چه د هیڅ صحابی نه داسے جشنونه نهٔ دی ثابت او نهٔ نبی ﷺ پدے کی څه ثواب مقرر کړیدے او ددے دپاسه هم دا خلك ځان ته اهل سنت والجماعت وائی او مینځ کی ئے عقیده د سنت خلاف او عمل ئے د جماعت د صحابه کرامو خلاف دے خو په تش لیبل باندے کار نهٔ کیږی ترڅو چه عمل او عقیده د

صحابه کرامو په شان نۀ وی۔

د الله د رسول په پیدائش باندے به هر مؤمن خوشحالی کوی لیکن دغه ترتیب سره خوشحالی کول بدعت او ناروا کار دے، د الله په نبی باندے خوشحالی دا ده چه د هغه تابعداری وکړے شی، د هغه سنتو باندے په مضبوطتیا سره عمل وکړے شی، پدے باندے مونږ نه الله او د هغه رسول خوشحالیږی۔

نبی کریم ﷺ ددے خوشحالئ یو صورت دا ذکر کړیدے چه په کومه ورځ د پیر (ګل) باندے نبی علیه السلام پیدا شویدے نو په هغه ورځ باندے روژه نیول بهتر دی او دغه شان د زیارت (جمعرات) په ورځ بهتر دی ځکه چه پدے دواړو ورځو کی د بندګانو نیك اعمال الله تعالیٰ ته خیژی او هغه په کی نظر اچوی او بیا بندګانو ته بخنه کوی)۔

الغرض: ابولهب د نبی ﷺ په زیری کی ثویبه آزاده کړه، نبی کریم ﷺ به په روسته زمانه کی د هغے سره احسانات کول، هغے ته به ئے جامے کپړے او تحفے رالیږلے، بیا چه کله نبی کریم ﷺ مدینے ته هجرت وکړو او ډیره موده تیره شوه نو نبی ﷺ د فتح د مکے په وخت د ثویبی په باره کی تپوس وکړو ځکه چه دا په مکه کی پاتے شوے وه او بیا د فتح د خیبر په وخت کی وفات شوه، چا ورته وویل چه هغه خو وفات شویده، بیا ئے د هغے د ځوی (مَسُرُوح) په باره کی تپوس وکړو نو ورته وویل شو چه هغه خو د هغے په ژوند کی وفات شویدے۔

د نبی کریم ﷺ عادت مبارك دا ووچه چا به ورسره احسان وکړو نو بیا به ئے د هغه د بچو او نمسو کړوسو سره احسان کولو لکه مخکی مونږ ذکر کړی ووچه د مصریانو سره ئے احسان پدے وجه کړے ووچه د هغه ځای نه زما خپلولی وه وړاندے خپلولی به ئے سنبالوله لکه دا اوچت صفات د نبی کریم ﷺ به روستو مونږ د هغه په صفاتو کی بیان کړو ان شاء الله تعالیٰ۔

د نبی کریم ﷺ په بنی سعد کی تے رودل

په عربو کی یو عادت ووهغه دا چه خپل ماشومان به ئے باندو (اعرابو) ته لیږل، د

مکے او د مدینے نه گیرچاپیره چه کومے بانډے دی دے ته به ئے لیږل چه هلته ئے تربیت وشی خاصکر مکے والو به دا کار ډیر کولو پدے کی به ډیر حکمتونه وو، مکے والا پدے مشهور وو ددے وجه نه د بانډو ښځے به مکے ته راتللے او دلته نه به ئے بچی ځان سره اخستل او په مزدورئ به ئے د هغوی ماشومانو ته تے ورکولو، پدے کی ډیرے فائدے وے :

(۱) یوه فائده دا وه چه دا زنانه به دلته خاوند ته وزګاره شی، ددهٔ خدمت به وکړی، او بانډو والو به د خپلے فائدے دپاره اخستلو چه مزدوری او د رزق بندوبست ئے وشی۔

(۲) دویمه فائده دا وه چه د مکے مثال داسے وو لکه ښاریه نو دوی به خپل ماشومان بانډو ته لیږل دے دپاره چه هلته صحیح عربی زدهٔ کړی او فصاحت او بلاغت ئے خراب نشی ځکه چه مکے ته به د بهر نه د حج او د عمرے دپاره خلك راتلل نو کیدے شی چه دلته ئے په عربئ کی فرق راشی او بانډو والا خلك صحیح او مضبوطه عربی وائی، خالصه صفا ژبه وائی، د نورو ژبو سره نهٔ وی ګډوډه شوی،

عربو ته خپله عربی زدهٔ کول ډیر ضروری ښکاره کیدل دے دپاره چه د خپل پلار نیکه ژبه خرابه نشی، د پلار نیکه روایتونه به ئے ژوندی ساتل او دا ښه کار دے چه کله د شریعت خلاف نهٔ وی، کوم خلك چه خپل تمدن او تهذیب او روایات پریدی او د انګریزانو نه متأثره شی نو هغوی په خپله ژبه پښتو، فارسی، اردو کی توله انګریزی وائی دوی په انګلش کی کمال ګڼړی مګر عربو کی دا ماده زیاته وه چه د خپلے ژبے لحاظ به ئے ډیر ساتلو۔

د عربئ زده کول زمونږ په دین کی واجب دی هر مسلمان بانډے دومره عربی زده کول لازم دی چه د مانځه په معنیٰ بانډے پوهه شی، د کلمے په معنیٰ بانډے پوهه شی،کوم تلاوت چه کوی چه د هغے په معنیٰ پوهه شی او که توله عربی تول مسلمانان زده نکړی نو تول به ګنهګار وی چه څه نا څه خلکو ته یاده وه او څه ته یاده نهٔ وه نو فرض کفائی ادا شو۔

سیدنا امام شافعی رحمه الله عرب دے هغه فرمائی:

ما د عربئ زده کولو دپاره شپږ میاشتے سفر کړے وو او په بانډو کی به ګرزیدم چه عربیت مے پوخ او مضبوط شی،

امام اصمعی رحمه الله یو عربی عالِم دے هغه فرمائی: د قرآنکریم یو تکے (متاع لفظ) راته گران شو زهٔ په باڼړو کی شپږ میاشتے گرزیدم چه ددے لفظ حقیقی معنیٰ به څه وی؟ نو آخر راته په یوه موقعه کی ملاؤ شو چه لوښی وینځونکی شوړے ته وائی، دا څه مهمله خبره نهٔ ده بلکه مهمه او ضروری خبره ده پدے سره د قرآن او حدیث الفاظ ښه حل کیږی۔

سیدنا عمر فاروق رضی الله عنه به فرمایل: (عَلَيْكُمْ بِدِيْوَانِ الْعَرَبِ فَإِنَّهُ مِنْ دِيْنِكُمْ)

د عربو اشعار زده کړئ، د عربو لغت زده کړئ ځکه دا ستاسو دین دے۔

بل روایت کی دی: (تَعَلَّمُوا الْعَرَبِيَّةَ) (السنن الكبرى للبيهقي: ٢٣٦٦)

تاسو عربی زده کړئ۔

سیدنا ابی بن کعب رضی الله عنه فرمائی:

(تَعَلَّمُوا الْعَرَبِيَّةَ كَمَا تَعَلَّمُوْنَ حِفْظَ الْقُرْآنِ) (مصنف ابن ابی شیبة: ٣٠٥٣٥)

عربی داسے زدهٔ کړئ لکه څنګه چه قرآن کریم زدهٔ کوئ۔

عبد الله بن عمر رضی الله عنهما فرمائی:

(أَعْرِبُوا الْقُرْآنَ فَإِنَّهُ عَرَبِيٌّ)۔ (ابن ابی شیبه: ٣٠٥٣٧)

قرآن کریم دپاره عربی زدهٔ کړئ ځکه چه دا په عربیٔ ژبه کی نازل شویدے۔

قرآن کریم په عربیٔ حل کیږی، سنت نبوی په عربی لغت باندے حل کیږی، ددے وجے نه ثوك چه عربی کی ډیر ماهر وی هغه په قرآن کی هم ډیر مهارت لری، د عربی ماهر په احادیثو کی هم ډیر مهارت پیدا کولے شی۔

په یو ضعیف روایت کی دی چه چا ته عربی ورځی او په بله ژبه خبرے کوی په زړهٔ کی ئے منافقت راځی۔

نو عربی هغه لغت دے چه د بنده نفاق لرے کوی او نورو ژبو باندے چه بنده خبرے کوی نو د هغه ژبے د اثر د وجه نه بنده کی د منافقت راتللو خطره وی۔

(٣) بله فائده د ماشومانو په باڼړو کی ساتلو دا ده چه بدنونه ئے قوی شی، په ښار کی لوی شوے سرے کمزورے غوندے وی، نرم او پوست بدن ئے وی او طاقت پکی دومره نهٔ وی او د غرونو او د باڼړو والو بدن قوی وی ځکه چه گټو، لوړو جورو کی منډے وهی لو هډوکی ئے مضبوط شی۔

(٤) بله فائده دا وه چه په مکه مکرمه کی مرضونه او وباء گانی ډیرے وے ځکه چه د بهر ملکونو نه به حاجیانو ځان سره راوړلے لکه دا د مشرکانو عقیده وه چه یو مرض بل ته نقل کیږی زمونږ اسلام کی قانون دا دے چه (لَاعَدْوٰی) د یو تن مرض بل ته نهٔ نقل کیږی، ځوك چه دا عقیده لری چه یو مرض بل ته لګی نو دا غلطه او د حدیثو خلاف عقیده ده خو دا خبره یقین غواړی۔

د بانډو زنانه به راتللے او د مکے نه به ئے ماشومان د تی ورکولو دپاره وړل د هغوی پکی فائده دا وه چه کله ئے ورکړی او د رضاعت موده ختمه شی نو هغوی به پیسے ورکولے، یا به میاشت په میاشت د ماشوم پلار ورتللو او دغه زنانه ته به ئے څه پیسے ورکولے او خلکو کی غربت او مسکنت وو نو دیته محتاج وو لیکن عربو کی دا د شرافت صفت ډیر زیات وو نو هغوی پیسے نهٔ اخستلے دا به ئے ویل چه مونږ تاسو سره تنخواه نهٔ مقرر وو چه خپل پئ در باندے خرڅ کړو، د شرافت او د عزت په وجه به وَرته دا خبره بدی ښکاره کیده مګر د بچی پلار به هم د هغوی عزت او اکرام کولو چه د هغے معاوضه به ئے ورکوله، ګډے بزے او اُوښان به ئے ورکول، نو د دواړو د طرفنه به احسان کیدلو۔

نو په مکه کی زمونږ سیدنا جناب محمد رسول الله ﷺ هم پیوو ته محتاج وو نو پدے کی د سعد قبیلے نه مکے ته یوه زنانه راغله چه د هغے نوم حَلِیْمَه بنت ابی ذُؤَیْب السعدیه وه او د خاوند نوم ئے حارث بن عبد العزیٰ وو دا دواړه مکے مکرمے ته راغلل، په حدیث کی دا واقعه راځی، حَلیمه پخپله قصه بیانوی:

چه مونږ کله د خپلے علاقے نه راروان شو، په علاقه کی انتهائی سوکړه وه، بارانونه نهٔ وو او لوږه تنده، فقر او فاقه او غریبی وه، مونږ سره یوه اُوښه وه چه په هغے کی یو ځاڅکے پئ نهٔ وو او کمزوری هم وه، ډیره تپه او خواره وه ځکه چه د خوراك څکاك او شینکیانو نشت والے وو، زما یو ماشوم پیدا شوے وو چه د هغه عبد الله بن الحارث نوم وو، دغه ماشوم به زما په غیږه کی وو هغه به هم زما په پیوو باندے نهٔ مړیدو او د ډیرے لوږے د وجه نه به ئے توله شپه ژړل او اُوښه کی هم پئ نهٔ وو چه مونږ رالشلے وے۔

نو پدے تکلیفی حالت کی مونږه راغلو دلته مو نور ماشومان طلب کول پدے نیت

چه د هغوی نه به مونږ ته څه مال ملاؤ شی، څه اکرام او عزت به مو وکړی، یوه اُوښه او یوه خرهٔ راسره وه، په هغې باندې زهٔ سوره وم راروان یو او خاوند مې هم راسره دے نورې زنانه هم دی، زما خرهٔ کمزورې او تپه وه چه نورې زنانه به زمونږ نه مخکې روانې وې او زه به د ټولو نه روستو پاتې کیدم نو هغوی به مونږ ته وئیل چه ستا د وجه نه مونږ روستو روستو کیږو مزل مو ونکړو، جلتې کوه نو ما به وئیل چه زما سورلی کمزورې ده، الغرض په تکلیف تکلیف مکې مکرمې ته ورسیدو،

مونږ په مکه مکرمه کې د ماشومانو پسې گرزیدلو، نورو زنانو د مالدارو او د عزتمندو خلکو بچې واخستل چه هغوی سره څه نا څه مال وو، هغوی ته دا هاشمی ماشوم پیش شو لیکن کله چه به وویل شو چه دا یتیم دے نو هغوی به ترې مخ واړولو، او وئیل به ئې چه د نیکه او د مور د طرفنه به ئې مونږ ته څه ملاؤ شی، حلیمه وائی : زهٔ وگرزیدم نو ما ته هیڅوك ملاؤ نشو،

د مکې نه چه بهر ووتلم زهٔ د خپل خاوند سره یو ځای کې کیناستم نو مشوره مو بیرته پدې وکړه چه تش نشو تللې د مکې نه ټولو زنانو ماشومان ځان سره واخستل او ما سره نشته، نو ما خاوند ته وویل چه زهٔ دا به بده گنړم چه خپل کلی ته همداسې نا اُمیده واپس شم، راځه دا یتیم ماشوم به واخلو، خاوند ئې وویل چه همداسې وکړه (عَسَى اللّٰهُ أَنْ يُّبَارِكَ لَنَا فِيْهِ) کیدې شی چه الله تعالىٰ مونږ ته پدې کې برکت واچوی۔

حلیمه وائی: زهٔ ورپسې لاړم او د آمنې نه مې سید الکونین محمد رسول الله ﷺ راواخستو، (ځکه چه د حلیمې ځای او هر څه معلوم وو)۔

حلیمه وائی چه هرکله ما دا ماشوم راواخستو او روان شو او په لاره کې مو په یو ځای کې دا ماشوم غیرہ کې واچولو نو سینې مې سمدست د پیوو نه راډکې شوې، دلته الله تعالىٰ د نبی کریم ﷺ دا کرامت راښکاره کړو چه نبی ﷺ هم وڅکل او موړ شو او زما بل ځوی عبد الله هم پرې موړ شو او دواړه اوده شول او ددې نه مخکې به مونږ ددې بچی د ژړا په وجه نشو اُوده کیدلې او زما خاوند چه اُوښې له ورغې نو د هغې غولانزې هم د پیؤو نه ډکې شوې وې او مخکې به پکې یو څاڅکې وو یا به کله نهٔ وو، او د هغې نه ئې پیٔ راولشل چه ما هم وڅکل او زما خاوند هم وڅکل او ښه ماړه شول او ډیره په خوشحالئ باندې مو شپه تیره کړه،

کله چه صبا شو ما ته خاوند وویل : اے حلیمے ! تۀ پوهیږے چه قسم په الله تا یو مبارك نفس راخستے دے، په هر څه کی تغییر او تبدیل او برکت پیدا کیږی، حلیمه وائی ما ورته وویل چه زۀ هم دا امید لرم۔ بیا زۀ راغلم او په خپله خرۀ باندے سوره شوم او دا ماشوم مے ځان سره کینولو نو په هغے کی دومره چالاکی او تیزی پیدا شوه چه د ټولو زنانو نه مخکی روانه وه نو زنانو ما ته وویل چه حلیمے مونږ ته صبر وکړه دا څومره په جلتئ روانه ئے او دا به ئے ویل چه دا هغه خره ده او که په مکه کی دے بله واخسته ؟ نو ما ورته وویل چه دا همغه ده نو هغوی به ویل چه دا څه چل پدے وشو چه مخکی به د ټولو نه روسته روانه وه او کمزورے وه او اوُس دومره طاقت پکی پیدا شو چه زمونږ نه هم مخکی کیږی قسم په الله دے خو یو ناشنا حالت اختیار کړیدے۔

حلیمه وائی : پدے طریقه مونږ خپلو علاقو بنو سعد ته راورسیدو او په ټولو زمکو کی زمونږ علاقه ډیره قحط زده وه او پدے کی سوکړه ډیره زیاته وه نو هلته زمونږ ګډے او بیزے چه به مونږ صحراته اړولے نو ماښام به چه راتلے نیے به مړے وے او پئ به ئے هم ډیر زیات کول او ددے نور قوم ګډے او بیزے به صحراته لاړے چه بیرته به راتللے پوره به مړے هم نۀ وے او هیڅ څاڅکے پئ به هم پکی نۀ وو، ځکه چه قحط وو بارانونه نۀ وو پدے عربو کی بارانونه هم کم کیږی ګیا هګانے نۀ وی نو پئ به هم هغے نۀ کول یو شے بل شے به ئے خوړل صحیح برابره زندگی نۀ وه، او زما په ګډو بیزو کی به ډیر پئ وو۔

نو پدے کی ددے قوم خلك راجمع شو خپلو شپونکیانو ته ئے وویل چه تاسو ګډے او بیزے هغه ځای کی څروئ کوم ځای کی چه د حلیمے هغه شپونکی ګډے بیزے څروی، څنګه د هغوی ګډے بیزے مړے راځی او ستا سو وږی ؟ نو هغوی وویل مونږ خو یو ځای ته اړولے وی یو ناؤ، یو غر اویوه علاقه ده خو دے باندے مونږ نۀ پوهیږو چه هغه ولے مړے وی او دا زمونږ نۀ مړیږی، نو دابرکات د حلیمے په کور کی وو او الله سبحانه و تعالیٰ د نبی کریم ﷺ په وجه باندے راوستل،

سیده حلیمهؓ خپله بیان کوی چه دا ماشوم به دومره زر زر غټیدو چه عام هلکان به دغه شان نۀ غټیدل تردے چه لوی هلك ترے جوړ شو، لکه الله تعالیٰ د مریم علیها السلام په باره کی فرمایلی وو :

﴿وَاَنبَتَهَا نَبَاتًا حَسَنًا﴾ چه دا به الله تعالیٰ زر زر او په بنائسته طریقه سره غټوله۔
نبی کریم ﷺ به الله سبحانه و تعالیٰ داسی لویولو چه په میاشت کی به د کال په اندازه غټیدلو او په خبره باندے هم زر پوهیدو، عقلمندی پکی الله تعالیٰ اچولے وه او لغت ئے هم زر یاد کړو ځکه چه هر قسم کمالات الله تعالیٰ په نبی کریم ﷺ کی اچولی وو، ظاهری باطنی دواړه قسمه کمالات وو لکه د نبوت د دَور نه روسته دا خبره بیانیږیٰ چه په هغه کبی جمال ظاهری او باطنی دواړه الله تعالیٰ اچولی وو، اُوچت عقل ورته الله تعالی ورکړو نو دوه کالو پورے دا د حلیمے سعدیه سره وو، دوه کاله چه پوره شو (موده د رضاعت) لکه څنګه چه د قرآن کریم قانون هم دے چه د رضاعت موده دے دوه کاله وی، قرآن کریم د عربو دا عادت په خپل حال پریښودے دے،
دوه کاله روسته د خپل خاوند سره بیرته راروانه شوه او دا ماشوم ئے راوستلو، آمنے ته ئے سپارلو لیکن دوی پدے حرص کولو چه دا موږ بیرته ځان سره بوځو ځکه چه ددۀ په وجه ئے ډیر برکات لیدلی وو نو بیرته ئے ترے مطالبه وکړه چه دا ماشوم د وعدے مطابق موږ راوستلو مګر موږ غواړو چه دا ماشوم موږ واپس ځان سره بوځو دے دپاره چه ښه مضبوط هلك ترے جوړ شی او دا مو ورته وویل چه موږ په دۀ باندے د مکے د وباء (مرض) نه یریږو دا موږ سره پریږده نو موږ ورپورے انبنتی وو تردے چه موږ سره ئے پریښودو۔ (الرحیق المختوم ص (۳٦)

شق الصدر -(د سینے څیرل)

د نبی کریم ﷺ د ژوند دریم کال شروع شو چه بیرته د حلیمه سعدیه سره بنی سعد ته واپس لاړو تردے چه د همدے کال یو څو میاشتے تیرے شوے لکه د محمد بن اسحاقؒ د سیرت نه معلومیږی،
او محققین علماء وائی چه څلورم کال شروع شو نو دلته یوه بله واقعه راپیښه شوه چه هغے ته د شق الصدر واقعه وائی یعنی د نبی ﷺ د سینے څیری کول۔
چه هغه واقعه په صحیح مسلم کی راغلے ده چه نبی ﷺ د ماشومانو سره لوبی کولے (د حلیمے یو ځوی عبد الله وو او بله لور شِیماء او بله اُنیسه وه، د هغے سره ئے د

کورونو شاته لوبی کولے او گډے بزے ئے څرولے) نو جبریل علیه السلام راغلو
(او یو روایت کی دی چه دوه ملائك راغلل) نو راوے نیولو او په زمکه ئے راڅملولو
او سینه ئے ورله څیری کړه او زړه ئے ورله بهر راویستو او د زړه نه ئے ورله یوه توټه
غوښه راویستله او پریکړه او وے ویل چه دا ستا د زړه نه د شیطان برخه ده (یعنی
شیطان دے ځای کی کینی او زړه ته وسوسے اچوی) بیا ئے دغه زړه د سرو زرو په یوه
کاسه کی د زمزم په اُوبو سره وینځلو او بیرته ئے یو ځای کړو وے گنډلو او خپل ځای ته
ئے واپس کړو۔ (ددے نه ډاکټرانو دآپریشن طریقے اخستی دی)
نو الله تعالیٰ د نبی کریم ﷺ د زړه نه د شیطان هغه برخه ختمه کړه کوم کی چه د
شر خبرے او بدے ارادے راځی نو د نبی علیه السلام زړه ته به سراسر د خیر نه ډکے خبرے راتللے،
د شیطان نه الله تعالیٰ محفوظ کړو ځکه چه دا زړه د وحی مرکز گرځی نو د مخکی نه
الله تعالیٰ بیخی صفا کړو۔
سیدنا انس بن مالك رضی الله عنه فرمائی : ما به د نبی علیه السلام په سینه کی د دغه گنډلے شوی
ځای اثر لیدلو۔
(د نبی کریم ﷺ پنځه ځله دا اپریشن شق الصدر شوے دے لکه حافظ ابن حجر
رحمه الله لیکلی دی چه پنځه ځله دا واقعه راغلے وه لکه روسته خپل خپل ځای کی
راځی)۔
کله چه په نبی علیه السلام باندے دا کار وکړے شو نو پدے کی ماشومانو ولیدلو نو منډه ئے
کړه او د هغه مور او پلار ئے راخبر کړل چه محمد (زمونږ قریشی ورور) خو ووژل شو،
نو مور او پلار ئے رامنډه کړه راغلل وے کتل چه نبی کریم ﷺ ولاړ دے (فَإِذَا هُوَ قَائِمٌ
مُنْتَقِعُ اللَّوْنِ) رنگ ئے تك زیړ شوے وو ے ددے واقعے کوچے نه،
کله ئے چه هغوی ولیدل نو په ژړا شو نو هغوی په غیږه کی ونیولو او تپوس ئے
ترے وکړو چه څه وشو؟ هغه ورته وویل : داسے دوه کسان راغلل، زۀ ئے راڅملولم او
سینه ئے راله څیری کړه او زړه ئے رانه ویستلو او نور پوهه نشوم نو هغوی دواړه
ویریدل چه چرته پیریان ئے ونۀ وهی ځکه چه عرب به د جناتو نه ډیر یریدل نو خاوند
حلیمے ته وویل چه دے هلك ته زمونږ پدے علاقه کی څه تکلیف ونۀ رسیږی نو دا
خپل اهل ته سپارو نو دوی په جلتیٔ سره د بنی سعد بن بکر نه روان شو او بیرته مکے

تـه راغـلل شپږ میاشتې پدې کې تیرې شوې وې او دا ماشوم ئې بیرته راوستلو او خپلې مـور آمنې تـه ئې وسپارلو، هرکله چه دوی راغلل نو آمنې ترې تپوس وکړو چه څنګه تاسـو دا راوستو حال دا چه تاسو خو ددهٔ په بوتللو ډیرحرص کولو او ما درنه لا مطالبه نـهٔ ده کړې او تاسـو پـه خپله راوستو، دوی ورته وویل : څه نشته، ستا بچې مونږ تا ته روغ رمټ راواپس کړو، نو هغې ترې تپوس وکړو چه ستاسو دواړو دپاره ضرور څه قصه شته دا څنګه بی وخته مو راوستو ضرور به حال وایئ؟

نـو حلیـمې ورته قصه وکړه نو بی بی آمنې ورته وویل : هیڅکله داسې نشي کیدې، قسـم پـه الله، الله تـعالیٰ پـه دهٔ باندې هیڅکله داسې کار نهٔ کوی چه پیریان ورته تکلیف ورکړی، زما ددې څوی دپاره عجیب شان او حالت دې، زهٔ به تاسو ته ددې خبر درکړم، کـله چه دا زما په خیټه شو نو ددې په شان آسان حمل ما چرته نهٔ وو لیدلې، بیا چه کله مـا حـمـل وزیږولـو نـو زمـا نـه یـوه رڼا راووتله چه د هغې په وجه په بصریٰ د شام کی د اُوښـانـو څټـونـه روښـانـه شـو، (یائې داسې وویل چه د شام بلډنګونه روښانه شو)، بیا د پیـدائش په وخت کی د عامو ماشومانو په شان راپرې نهٔ وتو بلکه لاسونه ئې په زمکه ولګول او سرئې آسمان ته پورته کړو۔

زمـا پدې یـقیـن دې چه دهٔ ته څوك ضرر نشي رسولې، بیرته ئې ځان سره بوځه، مور ئې ورسره بیرته قصداً ورپریښودو چه تاسره دې وی تاسره خوشحاله هم دې او ته ئې ښه تربیت کوې او ویریږه پرې مهٔ، نو دوباره ئې ورسره بیا ولیږلو،

(سبل الهدی والرشاد ۱/۳۹۰) والخصائص الکبری ص :۹٤)

نـو بیـا حلیـمې څـه وخت روسته مکې مکرمې ته راوستلو چه نبی کریم ﷺ تقریباً پنځه یا شپږو کالو عمر ته رسیدلې وو۔

مګر په صحیح روایتونو کی دا راغلی دی چه کله پرې حلیمه سعدیه ویریدله او نبی ﷺ ئې په مکه کی خپلې مور ته وسپارلو نو هغې ورته وویل چه دا پریدئ او تاسو ښه په اطمینان او په خیر سره واپس شئ۔

او بـعـض روایـاتـو کـی دی چه عبد المطلب دې دواړو ته ښائسته تحفې ورکړې او په ډیرخیر سره ئې خپل کور ته واپس ولیږل۔

واقدی رحمه الله د ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل کړیدی چه نبی ﷺ د حلیمې نه

د پنځو کالو په عمر راواپس شوے وو او نورو علماؤ وئیلی دی چه د څلورو کالو په عمر وو او علامه اموی رحمه الله فرمائی چه د شپږو کالو په عمر راواپس شو چه نیکه به ئے هر کال ملاقات ته ورتللو۔ (سبیل الهدی والرشاد ۱/۳۹۰)

د سیرت په بعض کتابونو کی راځی چه د حلیمے نه په لاره کی (په اعلیٰ د مکهِ کی) نبی علیه السلام ورك شو نو هغوی ډیر سخت پریشانه شو چه دا به څه شوے وی؟ خلك پسے گرځیدل نو ورقه بن نوفل او یو بل سړی د قریشو (ابوسفیان) د هغه د کورنۍ نه دا اُوموندلو د ځان سره ئے محفوظ کړو بنو هاشم له ئے جواب ولیږلو چه ستاسو بچے ورك ندے مونږ سره دے، په سورت ضحیٰ کی دیته اشاره ده،

الله تعالی فرمائی: ﴿ أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَآوَىٰ ○ وَوَجَدَكَ ضَالًّا فَهَدَىٰ ﴾

ته یتیم وے الله تعالیٰ درله ځای درکړو لکه د عبد المطلب او ابو طالب قصه راځی هلته درله الله تعالیٰ ځای درکړو، او ته ورك شوے وے نو الله تعالی درته لاره دروښودله خپل ځای ته ئے بیرته راواپس کړے،

(د عربو عادت دا وو چه داسے ماشوم به ئے وموندہ نو پټولو به ئے او غلام به ئے ترے جوړ کړو لکه د سیدنا زید بن حارثه واقعه کی راځی چه د خپلے مور سره روان وو خلکو وتښتولو او په مکه کی ئے خرڅ کړو،سیدنا سلمان فاسی واقعه کی راځی چه هغه خلکو وتښتولو او خرڅ ئے کړو، غلام ترے جوړ شو، دا د هغوی عادت وو د عربو ماشومان تښتول یا غټ کسان تښتول او خرڅول او د هغے نه خپله فائده اخستل او غلام ترے جوړول)

عبد المطلب راغے او د دوی نه ئے دا ماشوم واخستو او په اوګه ئے کړو او طواف ئے وکړو او دا ئے په اوګه باندے ناست وو او ددۀ دپاره ئے د الله تعالیٰ نه دعاګانے کولے او دا ئے دمولو، بیا ئے خپلے مور آمنے ته ولیږلو۔

(الروض الانف ۱/۱۹٤) السیرة النبویة (۲۳۲۱)۔

رسول الله ﷺ د خپلے مشفقے مور سره

ددے نه روسته نبی کریم ﷺ د خپلے مور بی بی سره په مکه کی وسیدو، د خپلے

مور د شفقت او محبت نه ئې فائده اخستله ځکه چه مور په خپل بچي باندې ډیره مهربانه وي یو کال دوه کاله ئې چه تیر کړل نو مور ئې اراده وکړه چه مدینې ته لاړه شي د دوه مقصدونو دپاره (۱) یو دا چه د خپل مړ خاوند د قبر زیارت کول، دې دپاره چه د هغه یاد راتازه شي، ډیره موده تیره شویده۔ (۲) دویم ددې مقصد دپاره چه هلته ئې ماماګان دي، ځکه چه د نبي علیه السلام ماما خیلي په مدینه کې وه، بني النجار د هغه ماماګان وو ځکه چه د نبي علیه السلام د نیکه پلار هاشم هلته وادهٔ کړې وو۔

(**مسئله** : آیا زنانه د پاره زیارتونو او قبرونو ته تلل شته او که نه؟ نو د علماؤ پدې کې اختلاف دې، ظاهره دا ده چه زنانه مقبرې ته تللې شي خو په پنځو شرطونو، لنډ الفاظو کي دا دي :

۱- ډول سنګار او زینت به نکوي،

۲- د خاص قبر (دربار) دپاره به سفر نکوي چه پیر بابا یا کاکا صیب ته ځي دا به نکوي، خاص زیارت ته تلل ناروا دي کله چه هلته شرك کیږي، دارنګه زنانه به شرك نکوي د قبر کانړي به په ځان نهٔ راکاږي،

۳- هلته به جزع فزع نکوي لکه حدیث دي: نبي علیه السلام یوې زنانه ته وئیلي وو (اِتَّقِ اللّٰهَ وَاصْبِرِیْ) (بخاری:۱۲۰۳) د الله نه یریږه او صبر کوه)،

چه قبر ته لاړه شي او په ځان راکیږدي شور ئې جوړ کړې وي او ځان وهي او ژړاګانې کوي که داکارونه ئې کول نو بیا قبرونو ته تلل ناروا او حرام دي۔

٤- خاوند به ورته اجازه کړي وي،

٥- ډیره به نهٔ ځي بلکه کله کله به ځي، داسې نه چه هره هفته کې روانه وي لکه حدیث کي دي : (لَعَنَ اللّٰهُ زَوَّارَاتِ الْقُبُوْرِ)

(الترمذی : ۱۰۵٦) وابن ماجه (۱۵۷٤) واحمد (۸٤۳۰) بسند صحیح)

د الله تعالی لعنت دې په هغه ښځو چه ډیر زیات د قبرونو زیارتونه کوي)،

دا غلطه طریقه ده چه اول اختر کې ځي، یا ئې د ځان اوقات مقرر کړي وي، د عاشورې په ورځ ځي یا چه کله سړې مړ شي نو زنانه صبا له وائي اوله شپه ئې تیره شوه راځئ چه قبر ته ورشو، دا ټول د اسلام خلاف کارونه دي، خلك پدې پوهه کول پکار دي او زنانه ددې نه منع کول پکار دي، د الله تعالیٰ په دین ځان پوهه کړئ او هغه

بیا عملی کړئ، په زنانو باندے رسئ (پرے) وراَرول پکار ندی چه څه کوی هغه به کوی نو زنانه قبرونو ته تللے شی کومو قبرونو ته ؟ نو نزدے قبرونو ته، د څه دپاره به ځی ؟ ددے دپاره چه عبرت واخلی مرګ رایاد کړی دنیا سره ئے بی رغبتی پیداشی او آخرت سره ئے مینه پیدا شی او مړو ته دعا وکړی، د زیارت القبور همدغه فائدی دی)۔

دلته آمنے دا کار کړے دے او دا د جاهلیت زمانه ده، دا زمونږ دپاره دلیل ندے چه د مکے نه ئے مدینے ته سفر کړے پنځه سوه کیلو میټره لاره ئے وهلے وه دومره وړاندے سفر کول د سړی دپاره هم حرام دی چه د قبر دپاره وی او د زنانو دپاره خو حرام حرام دی د هغوی دپاره جائز ندی چه دا کار وکړی خو دا د جاهلیت دَور دے۔

(دا خبره واوره چه د نبی کریم ﷺ زاړه احوالو باندے به استدلال نۀ کیږی کوم چه د نبوت نه مخکی وو او دا به په دلیل کی نۀ پیش کیږی ترڅو چه زمونږ شریعت روسته د هغے تائید نۀ وی کړے، نبی کریم ﷺ به د نبوت نه مخکی څه بعضے کارونه کړی وی هغه به زمونږ دپاره حجت نۀ وی لکه غار کی کیناستل او دعوت نۀ کول دا اُوس مونږ ته شریعت مطهره ندی ښودلی لیکن د نبوت نه روستو د هغه د سیرت تائید په دین کی راغلے دے نو د هغه هر حالت امت دپاره فائده مند دے۔

نو دلته یو دا کار اوشو۔

۲- **دویمه مسئله** : د قبر دپاره سفر کول ګناه ده، نبی کریم ﷺ منع فرمایلے ده :

(لَاتَشُدُّوا الرِّحَالَ اِلَّا اِلٰی ثَلٰثَةِ مَسَاجِدَ) (صحیح مسلم :۳۳۲۵)

(سفر به نۀ کوئ په نیت د عبادت باندے مګر درے جماتونو ته، مسجد حرام ته، مسجد نبوی ته او مسجد اقصیٰ ته) نورو ځایونو ته پدے نیت سفرے حرامے دی چه د عبادت دپاره ځی چه مثلاً وائی بونیر ته به لاړ شو هلته یو قبر دے او په هغه ځای کی ډیر ثواب دے، داسے سفر به حرام وی که تجارت له ځی، یا د یو مسلمان ملاقات له ځی یا دعوت له ځی نو دا قِسم سفرے شریعت روا کړیدی۔

مقصد دا چه د نبی کریم ﷺ مور آمنه روانه شوه د خپلو ماماګانو د ملاقات دپاره د خپل خاوند محبت ئے هم په زړه کی دے چه قبرئے اُوینی د قبر په ملاقات باندے هم د انسان تسلی کیږی چه کله ئے اوینی، یو نیمګړے شانته ملاقات وی۔

پدے کی چه دا روانه شوه خپل یتیم بچے هم ورسره دے چه پدے وخت کی د شپږ

کالو په عمر وو او د هغه حاضنه (پرورش کونکې) ام ایمن هم ورسره ده چه د عبد الله نه پاتې شوې وینځه ده او پدې کې په بعضو تاریخونو کې دا هم ذکر دی چه عبدالمطلب هم ورسره دې ځکه یواځې زنانه دا سفرې چرته کولې شي هغه خو داړه ماران خلك وو داسې زنانه چه به ئې په لاره کې مونده کړې نو هغه به ئې ماتولې نو پدې وجه باندې هغه نیکه هم ورسره لاړو،

عبد المطلب مشهور سړې وو په دوو اُوښانو دوی سفر وکړو چه دوی څلور کسان وو د مکې مکرمې او مدینې منورې ترمینځ پنځه سوه کیلو میتره مزل دې چه په اُوښانو باندې ځې لسو ورځو کې وهلې کیږي او چه په اس باندې تیز ځي نو درې ورځو کې وهل کیږي.

په روسته زمانه کې چه نبی ﷺ کله مدینې ته هجرت وکړو نو زړې خبرې ئې رایادې کړې او وې ویل چه زهٔ د خپلې مور سره دلته راغلې وم او د نابغه کور ته راغلی وو او بنو عدی بن النجار زمونږ ماماګان دی هلته زما مور دیره شوه او هلته ئې د خپل خاوند د قبر ملاقات هم وکړو نبی کریم ﷺ هم ورسره وو.

پدې کې بیا قصه ګو مولیانو د خلکو د زړه د جوش راپارولو دپاره قیصې جوړې کړې دی چه نبی ﷺ ورغې او د خپل پلار په قبر باندې ورپریوتو او بې هوشۍ ته ورسیدو. دا خبرې غلطې دی، د ځان نه جوړې شویدی.د انسان چه کوم شفقت راځي په خپل پلار باندې او د یوې زنانه زړه کې چه کوم رحم او شفقت راځي په خاوند او زړه ئې نرمیږي هغه حالت د دوی هم پیدا شو.

نو په مدینه کې دوی د خپلو ماماګانو کره یوه میاشت تیره کړه.

د بعضې روایتونو نه معلومیږي چه نبی کریم ﷺ کله روستو زمانه کې د بنونجار هغه قلعه ګانې ولیدلې نو وې فرمایل چه دا ماته یادیږي زه د شپږو کالو په عمر وم چه زهٔ دلته راغلې ووم دا درې څلور خبرې به هغوی کولې، یو دا چه د بنی عدی بن نجار په اُطم (یعنی د دوی د قلعه ګانو) په سر باندې به ما د وړو جینکو سره لوبې کولې چه اُنیسه یوه وړوکې جینۍ وه د انصارو نه، ما د هغې سره لوبې کړیدی.

دویم : دلته به مرغان راتلل پدې دیوال به کیناستل ما به الوځول کیناستلو ته به نهٔ پریښودل لکه دا د ماشومانو عادت دې،

دریـم دا چـه دلتـه د بنوعدی بن نجار یو حوض وو، اُوبه په هغې کې جمع وې مونږ به په هغې کې لامبل او پدې کې ما د لمبلو چل زده کړې وو په یوه میاشت کښې، رسول الله ﷺ کې الله تعالیٰ کمالات راجمع کړی وو لکه روسته ددې تاریخ نه معلومیږی الله تعـالی په هر څیز کې استعمالولو ددې دپاره چه د زندګۍ تولو احوالو کې ورتیر شی صرف یوه کوټه کې غټ نشی چه د هیڅ نه خبر نهٔ وی چه د زندګۍ هر حالت په هغه باندې راشی او د هر چا سره د هغه مطابق معامله کولې شی، وجه دا ده چه یو سړې په جمـات کې لوی شی د بازار نه خبر نهٔ وی، بل سړې یو غار کې لوی شی د معاشرې نه خبر نهٔ وی، بـل سړې د ډاکوانو سره لوی شی د رقت او نرمۍ نه خبر نهٔ وی نو داسې سړې د خلکو تربیت نشی کولے بلکه د خلکو تربیت هغه څوك کولے شی چه د تولو خلکو سره اوریدلے راوریدلے وی نو د نبی کریم ﷺ په ذمه باندې د تول امت تربیت وو پدې وجه الله تعالیٰ په هر کار کی ورله تجربه پیدا کوله۔

څلورم دا چه یـو کـور تـه ئے وکتل نو وې فرمایل : پدې کور کی زهٔ د مور سره پاتې شوې یم، او پدې کور کی زما د پلار عبد الله بن المطلب قبر دے۔

ام ایمن وائی چه یهودیان به د نبی علیه السلام خوا ته وخت په وخت راتلل نو یوه ورځ ما د یو تن نه واوریدل چه وې ویل :(هُوَ نَبِيُّ هٰذِهِ الْأُمَّةِ وَهٰذِهٖ دَارُ هِجُرَتِهٖ)۔

دا ددې امت نبی دے او دا ځای به ددهٔ د هجرت ځای وی او زردې چه پدې ښار کی به ډیر قتلونه او قیدیان کیږی۔ نو ما دا خبره د هغه وخت نه یاده کړه۔

السیرة النبویة لابن کثیر ۱/۲۳۵)۔

او ابـو نـعیم د واقـدی پـه سـنـد سره نقل کړیدی چه رسول الله ﷺ وفرمایل : ما یو یهـودی تـه وکتـل چـه هغه به زما خوا ته راتللو نو یوه ورځ ئے ما ته وویل : اے هلکه! ستـا څـه نـوم دے ؟ مـا ورتـه وویـل: احمد، او زما شا ته ئے وکتل نو ما ترې واوریدل چه ویل ئے : هٰذَا نَبِيُّ هٰذِهِ الْأُمَّةِ) دا بـه ددې امت نبی وی بیا زما ماماګانو ته ورغې او هغوی تـه ئے خبر ورکړو نو ماماګانو زما مور ته خبر ورکړو نو زما مور په ما باندې ویریدله او مونږ د مدینې نه راووتو۔ (الخصائص الکبریٰ للسیوطی ص(۱۳٤)



د بی بی آمنې وفات

بی بی آمنې دلته په مدینه کې یوه میاشت تیره کړه بیا بیرته واپس روان شو چه واپس تلل نو دا مور ئې ناجوړه شوه په لاره همداسې مریضه وه چه د اَبْوَاء علاقې ته ورسیدله چه دا د مکې او د مدینې په مابین کې یو ځای دے چه مدینې ته نزدې دے نو مرض ئې سخت شو نو وفات شوه او په دغه ابواء علاقه کې دفن کړے شوه۔

پلار ئې خو مخکې وفات شوے وو او د مور سورے هم ترے ختم شو نو یتیم او یسیر پاتې شو، او د سفر حالت هم دے او د شپږو کالو په عمر هم دے نو په نبی کریم ﷺ مصائب راجمع شو د رِقت (نرمۍ) ځای جوړ شو چه انسان پرے نرمی وکړی ځکه مور او پلار دواړونه محروم شو، دا د الله پاك حکمتونه دی حکیم علیم ذات دے چه داسې ئې کول،

ددے نه روستو ام ایمن ځان سره واخستو او مکې ته ئې بوتلو او هغې به ورله پرورش کولو۔ (الوفاء بتعريف فضائل المصطفى لابن الجوزي)۔

نبی کریم ﷺ د نبوت نه روسته په دغه لاره ورتیریدو نو د خپلې مور قبر ته ورغلو، (قبر ته تلل جائز دی، د مسلمانانو مقبرے ته هم تللے شی او د کافرو ته هم) نو نبی کریم ﷺ فرمائی چه ما د الله تعالیٰ نه اجازه طلب کړه چه یا الله! ماته اجازه راکړه چه د خپلې مور دپاره بخنه وغواړم نو الله تعالیٰ زه منع کړم چه استغفار ورله مهٔ غواړه ما ترے دا اجازه طلب کړه چه قبر له به ئې ملاقات ته ورځم نو اجازه ئې راکړه۔

(که مور او پلار هر څنګه عقیدے والا وی لیکن د انسان ورسره محبت وی) نو نبی علیه السلام ته ئې د ملاقات اجازه ورکړه او د استغفار اجازه ئې ورنکړه شاید چه ددے وجه دا وی چه دوی د شرك په عقیده کې تلی دی لکه دا خبره په حدیث د مسلم کې راغلې ده۔ او ځوك چه د الله تعالیٰ سره برخه داران جوړوی هغه د استغفار لائق ندی چه بښنه ورله طلب کړے شی،

دا خبره په بعضے انسانانو ډیره بده لګیږی د تصوف شانته مزاج چه ځوك لری نو هغوی دا خبره نهٔ برداشت کوی چه د نبی علیه السلام مور او پلار څنګه په شرك کې

وفات شویدی؟ دا د پیغمبر بی عزتی گڼړی حال دا چه دا خبره په صحیح احادیثو کی راغلی ده نو ددی وجه نه هغوی وئیلی دی چه د نبی علیه السلام مور او پلار دواړه مؤمنان وو الله تعالیٰ نبی علیه السلام ته بیرته راژوندی کړی وو او په هغه باندی ئی ایمان راوړی وو او پدی باره کی ضعیف روایاتو باندی اعتماد کوی حال دا چه دا خبره بی دلیله ده،

ځینی علماء وائی چه د جاهلیت په زمانه کی چه کوم موحدین تیر شویدی لکه ورقه بن نوفل او زید بن عمرو بن نفیل نو دوی هم هغه شان موحدین وو او ځوك نور وجوهات ذکر کوی لیکن د صحیح حدیثونو نه داسی معلومیږی چه د شرك په حالت کی مړهٔ دی۔

لیکن الله تعالیٰ علیم خبیر ذات دی چه یو نبی دی ډیر قدرمند دی، الله تعالی ورله ډیر عزت ورکړی دی دومره عزت ئی په بندګانو کی هیچا ته نهٔ دی ورکړی او د هغه مور او پلار د دنیا نه په داسی وخت کی ځی چه د جاهلیت زمانه ده او د شرك عقیده ئی وی پدی کی د الله تعالیٰ ډیر حکمتونه دی مونږ له پکار ده چه الله تعالیٰ ته تسلیم شو، زمونږ تسلیمیدل زمونږ دپاره د کمال خبره ده۔

﴿ اِنَّكَ لَاتَهۡدِیۡ مَنۡ اَحۡبَبۡتَ ﴾ (القصص:۵٦)

ابو طالب هم کافر مړ شو حال دا چه د نبی کریم ﷺ ډیر مدد ئی کړی وو پدی کی د الله تعالیٰ حکمتونه دی حکیم او علیم دی، زمونږ عِلمونه ډیر معمولی دی، د چینجی په مقدار دماغ دی د الله تعالی د علمونو په نسبت مونږ ته هیڅ شی ندی راکړی شوی ﴿ وَمَا اُوۡتِیۡتُمۡ مِنَ الۡعِلۡمِ اِلَّا قَلِیۡلًا ﴾ (الاسراء:۸۵)

او الله تعالی په هر څه باندی پو هیږی

﴿ وَمَامِنۡ غَآئِبَةٍ فِی السَّمَآءِ وَالۡاَرۡضِ﴾ (النمل:۷۵)

آسمانونو او زمکو کی چه کوم شیان غائب دی الله رب العزت په هغی باندی عالِم دی۔ ﴿ وَمَا یَعۡزُبُ عَنۡ رَّبِّكَ مِنۡ مِّثۡقَالِ ذَرَّةٍ ﴾ یونس :٦١)

د الله تعالیٰ نه د ذری په اندازه هیڅ شی نهٔ پټیږی)

رسول الله ﷺ چه د نبوت نه پس د خپلی مور د قبر خوا ته راغی چه دا د عمرة الحُدَیبیه موقعه وه نو وی ژړل او ملګرو هم ورسره وژړل۔ (صحیح مسلم :۲۳۰٤)

د دینه دا معلومیږی چه د قبر خواته ورتلل او هلته په قلاره ژړا کول چه صرف اوښکے بهیږی دا دلیل دے د زړه د نرموالی او د زړه د خوږوالی، زمونږ زړونه سخت شوی دی خلك مقبره کی خاندی، دارنگه خلك سګریټ څکی، څوك به په مقبره کی قبر کنی لګیا به وی ګپونه به لګوی دا د زړونو خرابوالے دے۔

حسن بصری رحمه الله یو سړے ولیدو چه په مقبره کی ئے دوډئ خوړله نو هغه وویل: دے ظالم ته وګوره زړه ئے مړ شوے دے څکه (اَلْمَوْتُ بَیْنَ عَیْنَیْهِ وَهُوَ یَشْتَهِی الطَّعَامَ) مرګ ئے په سترګو کی دے ګوری چه دا مړی پراته دی او ددۀ پدے حال کی هم دوډئ ته شوق کیږی۔

د زړۀ مړۀ کیدل د قبرونونه عبرت نۀ اخستل دی، د قبرونو په خوا ورتیریږی او په سری باندے لږ هیبت هم رانشی متوجه هم نشی چه دا خلك هم زمونږ پشان یو وخت پدے زمکه ګرځیدل مندے تړے به ئے وهلے او پیسے به ئے ګټلے لګیا به وو او اوس په قبرونو کی پراتۀ دی، دا زمونږ مرض دے۔

نبی کریم ﷺ باندے دغه مصیبت او مشکل راغلو چه مور ئے وفات شوه او نیکه ئے ورسره وو او ام ایمن چه د نبی کریم ﷺ حفاظت کونکے وه زنانه وه نو نیکه د خپل ځان سره مکے ته راواپس کړو۔

او د نیکه ورسره انتهائی محبت پیدا شو څکه چه پلار ئے د مخکی نه مړ وو هغه هم ورته ډیر ګران وو او د هغه بچی هم ورته ګران وو الله تعالیٰ ورله په زړه کی محبت اچولے وو ﴿ اَلَمْ یَجِدْكَ یَتِیْمًا فَآوٰی ﴾

نو عبد المطلب دا د خپلو تولو ځامنو او لونړونه ډیر ځان ته رانزدے کړو په مکه کی به وسیدو او خپل نیکه به ورله حفاظت کولو۔

د عبد المطلب شفقت او کفالت

عبد المطلب چه د قریشو مشر دے د باچا په شان حیثیت لری رسول الله ﷺ باندے د هغه ډیر زیات شفقت وو پدے کی دا واقعه راغله چه عبد المطلب دپاره به د کعبی په سوری کی بستره اچولے کیده دے به هلته کیناستلو او تکیه به ئے ورته لګوله، خلك

به راتـلـل ددهٔ نـه به ګیر چاپیره کیناستل خبرے به کیدلے، غټان خلك او خواص خلك به ورته راجمع کیدل لکه اسمبلئ کی چه څنګه خلك راجمع کیږی،

د عبد المطلب بـه ډیر زیات اکرام کیدلو تردے چه د هغه په بستره به څوك نشو کیناستلے، او ددهٔ د ناستے نـه مخکی به څوك نشو کیناستلے ددهٔ د تعظیم او اکرام د وجـه نـه خاصـکر خپل ځامن به ئے ددهٔ د تعظیم د وجه نه نهٔ کیناستل، نبی کریم ﷺ چه به کله راغے نو هغه به د تولو نه مخکی په بستره باندے کیناستلو نو ترونو به منع کړو چه د نیکـه په بستره مهٔ کینـه دا ښه کار نهٔ دے، عبد المطلب به راغے او خپل ځامن به ئے منع کړل او ویل به ئے دا زما نمسے دے :

(دَعُوْا اِبْنِیْ هٰذَا فَاِنَّ لَهٗ شَأْنًا) زما دا بچے پریدئ څکه ددهٔ ډیر ناشنا احوال دی،

عبد المطلب تـه هم دا معـلومات شوے ووچه دا به روستنے نبی جوړیږی د ډیرو احوالونه ئے معلومه کړے وه، د مخکی نه معلومه شوه چه پده باندے څه ناشنا ناشنا احوال راغلل عبد المطلب ددے تولو نه خبریدو، عبد المطلب د بعضے بادشاهانو سره هم ملاؤ شوے وو هغوی ورتـه ویلی ووچه ستا په اولاد کی یو نبی راتللو والا دے د پخوانو کتابونو نه ئے معلومهٔ کړے وه، عبد المطلب خپل ځوی ابو طالب ته وصیت هم کړے وو څکه ابو طالب ئے مشر ځوی پاتی شوے وو او څه مرهٔ وو، نو ابو طالب ته ئے وصیت وکړو چه که زهٔ مړ شوم زما ددے بچی حفاظت به تهٔ کوے۔

پدے کی د بنو مدلج یوه قبیلـه وه چه دا خلك ډیر زیات قیافه دان وو، (قیافه د نفسیاتو مهارت ته وائی یعنی علمِ نفسیات، دے ته فراست هم وائی چه یو سړی ته به ئے وکتـل نو دا بـه ئے معلومول چه دا د فلانی ځوی دے او د فلانی د نسب نه دے او د فلانو نه نهٔ دے او دا دا صفات پکی دی، قیافه دانی په هغه وخت کی داسے وه لکه نن صبا زمانـه کی چه خلك د ډاکټرانو په خبره باور کوی نو د عربو هم دا عادت وو چه د قیافه دان ،علمِ نفسیات والا په خبره بـه ئے ډیر یقین لرلو او قیافه دانی زمونږ په شریعت کی هم دلیل دے، د سیدنا زید بن حارثه او د هغه د ځوی سیدنا اسامه پورے به مشرکینو توقے کولے ویل به ئے چه زید تك سپین سړے دے او اُسامه تور دے دا دده نـه ندے پیدا دا د بل چا نه پیدا دے، نبی کریم ﷺ به پدے خبره ډیر زیات خفه کیدلو نو پدے کی د بنو مدلج نه څه خلك راغلل (مُجَزِز مُدْلَجِی)

او سیدنا زید او سیدنا اسامه دواړه شریك پراته وو، سرونه ئے پټ وو او خپے ئے ښکاره کیدلے نو هغه خپل علم راښکاره کړو وے ویل :
(اِنَّ هٰذِهِ الْاَقْدَامَ بَعْضُهَا مِنْ بَعْضٍ)
چه دا قدمونه بعضے د بعضو نه دی یعنی یو د بل نه پیدا دی،
نبی کریم ﷺ پدے ډیر خوشحاله شو ځکه چه قریشو دا خبره واوریدله د هغوی د مشر په خبره سره ددے رد اُوشو چه هغوی به ده ته د ولدِ زنا نسبت کولو او حال دا چه قیافه دان وویل دا ددهٔ نه پیدا دے، نو بیا به روسته هغه ته کنځلے نهٔ کیدلے نبی کریم ﷺ هم قیافه دانی علم نفسیات ته اعتبار ورکړے دے دیته اوس هم په بعض احکامو کی اعتبار شته دے)۔
نو د بنو مدلج نه څه کسان راغلل عبدالمطلب ته ئے وویل (اِحْتَفِظْ بِهٰذَا) د دے خپل بچی حفاظت کوه، ځکه چه دے مقام ابراهیم کی چه کوم قدم او منډ دے نو ددے هلك (محمد رسول الله ﷺ) قدم د هغے سره ډیر مشابه دے یعنی د رسول الله ﷺ قدم د سیدنا ابراهیم علیه السلام د قدم سره زیات مشابه دے۔او دوی دا خبره صحیح کړے وه ځکه چه رسول الله ﷺ خپله فرمایلی دی چه زهٔ کله معراج ته تلے وم ما هلته انبیاء ولیدل نو سیدنا ابراهیم ما ولیدو (وَاَنَا اَشْبَهُ وَلَدِهٖ بِهٖ) زهٔ د هغه په اولادو کی د هغه سره زیات مشابه یم، ما ته گوریٔ زما په شکل ابراهیم علیه السلام هم دے۔
اُوس پدے وخت کی د کفارو د طرفه یوه دسیسه او ورانے شروع دے چه د انبیاء کرامو سپکاوے د عوامو په ذهن کی اچوی کله ئے په یو تصویر کی ښکاره کوی او کله بل شان حالت کی دے دپاره چه پیغمبران د خلکو په ذهن کی سپك ښکاره شی دا لوی ظلم دے۔ داسے سړے چه د انبیاء علیهم السلام گستاخی کوی او د هغوی پورے استهزاء او مسخرے کوی او د هغوی تصویرونه جوړوی چه خلکو کی معمولی ښکاره شی د دوی قتلول واجب دی ځکه چه دوی دین تباه کوی۔
نو کله چه عبد المطلب د بنو مدلج دا خبره واوریده نو عبد المطلب خپل ځوی ابو طالب ته وکتل او ورته ئے وویل چه اے ابو طالبه! تا ددے خلکو خبره واوریدله؟، نو د عبد المطلب نه روستو به ابو طالب د نبی علیه السلام سخت حفاظت کولو۔
پدے طریقه سره عبد المطلب ورله دوه کاله خدمت وکړو، کله چه رسول الله ﷺ

اتو کالو دوه میاشتو او لسو ورځو ته ورسیدو نو په عبد المطلب باندے مرګ راغے او د دنیا نه لاړو، او په دے وخت کې ئے ابو طالب ته وصیت وکړو چه د رسول الله ﷺ حفاظت به کوی او دده نه به مدافعت کوی۔ او عرب خلك خو د لوظ ډیر پابند وو نو ابو طالب په پوره طریقے سره د نبی علیه السلام حفاظت وکړو۔

ام ایمن فرمائی : هرکله چه عبد المطلب وفات شو نو ما نبی ﷺ ولیدو چه د عبد المطلب د کټ نه شاته ولاړ وو او ژړل ئے۔

(د اول نه د رسول الله ﷺ په زړه کې نرمی او رحمت وو او دلته ئے د نیکه سورے ختم شو، مخکې ئے د مور شفقت او ددے نه مخکې ئے د پلار سورے ختم شوے وو نو په زړه باندے ئے ډیر غم راجمع شو او د غریبئ او فقر زندګی هم وه)۔

د ابوطالب کفالت

هرکله چه عبد المطلب وفات شو او په مکه کې په حَجُون مقبره کې خخ کړے شو نو د رسول الله ﷺ کفالت او تربیت ابو طالب ته حواله شو ځکه چه ابو طالب ته پلار وصیت کړے وو او دارنګه ابو طالب د رسول الله ﷺ د پلار خپل ورور وو په مور او پلار دواړو کې ورسره شریك وو او د رسول الله ﷺ هم دا ډیر خوښ وو نو ابو طالب د نبی کریم ﷺ انتهائی زیات خدمت او مزیدار تربیت وکړو او د خپلو بچو سره ئے یو ځای کړو بلکه په خپلو بچو باندے ئے هم دا مخکې کړو او د ځلوینښتو کالو نه زیات خدمت ئے ورله وکړو، او د ټول قوم نه ئے دده حفاظت او مدافعت وکړو او دده په سر ئے د خلکو سره جګړے وکړے او د تربیت پوره حق ئے ادا کړو۔

عبد المطلب مالداره سړے وو لیکن د هغه ټول مال به د حاجیانو په خوراك څکاك او انتظام باندے لګیدو تردے چه دومره مال به ئے پدے کار لګولو چه بل کاله پورے به ځای ته نهٔ راتلو، غریب شوے به وو۔ نو ابو طالب ته څه مال د هغه نه پاتے نشو نو د ابو طالب زندګی د غریبئ او د سختئ وه۔



اشکال او د هغې ازاله

دلته دا سوال ذهن ته راځي چه ابو طالب د نبي کريم ﷺ ډير انتهائي خدمت او تربيت کړے وو ليکن هغه ته الله تعالیٰ بيا هم د ايمان توفيق ورنکړو ددے وجه څه ده؟ نو ددے وجه او حکمت دا ښکاره کيږي چه د عمل د قبوليت دپاره يو شرط دا دے چه د بنده نظر به په الله تعالیٰ باندے لګيږي او د الله تعالیٰ نه به متأثره وي او دلته د ابو طالب نظر په الله تعالیٰ باندے نۀ لګيدو بلکه ډ قومي غيرت او د پلار د وصيت او د خپلولئ په خاطر ئے د نبي ﷺ نه مدافعت کولو نو څکه ترے دا عمل د آخرت په اعتبار سره قبول نشو۔ ددے نه معلومه شوه چه بنده که هرڅومره لوی لوی اعمال وکړي خو نظر ئے په الله ونۀ لګي نو دا عملونه ئے برباد دي او دا ډيره د خطرے خبرے دي، د ډيرو خلکو عملونه د يو عالم او د ملا او د پير او مرشد په يره او اميد او د هغه نه په تأثر باندے بناء وي نو پدے سره د عمل د بربادیدو ډيره خطره ده۔

په نبي عليه السلام سره استسقاء کول

الغرض: ابو طالب د نبي کريم ﷺ خدمت کولو او ابو طالب غريب سړے وو او مکه مکرمه کې کجورے او فصلونه هم نۀ وو، لوږه تنده او غريبي ډيره زياته وه يو صحابي دے جَلْهَمَه بن عُرُفُطه رضي الله عنه هغه وائي زه د بهر ملك نه راغلم او په مکه کې ډير قحط وو قريش راجمع شول ابو طالب ته ئے وويل ته زمونږ د علاقے مشرئے مونږ له استسقاء وکړه (يعني د باران دعا وغواړه)

د هغوی د باران غوښتلو مختلفے طريقے وے يو د هغے نه دعا او مدد غوښتل د الله نه نو ابو طالب راووتلو قريش هم ورسره وو او نور هلکان هم ورسره وو او يو هلك ورسره وو چه ډير ښائسته او سپين هلك ووچه د اتو نهو کالو په عمر دے هغه ئے دلاسه نيولے دے هغه ئے راوستلو او کعبې ته ئے د هغه شا ولګوله او ځان ته ئے مخامخ کړو او د الله تعالیٰ نه ئے دعا وکړه چه اے الله! تۀ په مونږ باندے د رحمت باران وکړه

دعاگانے ئے غوښتے څنګه چه مناسبے وے پدے مابین کی وریځ راپیدا شوه او ډیر باران تربے الله تعالیٰ وکړو او هغه قحطونه الله تعالیٰ ختم کړل څوك چه کلی کی اُوسیدل هغه هم لامده شول یعنی الله پاك پربے ډیر باران وکړو، د رسول الله ﷺ کرامتونه او کمالات پدغه وخت کی هم خلکوته معلوم وو او هغوی به وئیل چه راځئ چه ددهٔ دعا الله تعالیٰ ته پیش کړو او الله تعالیٰ په مونږ باران وکړی۔

صحیح بخاری کی راځی چه ابو طالب به د نبی کریم ﷺ صفاتو کی دا شعرونه ویل:

وَأَبْيَضُ يُسْتَسْقَى الْغَمَامُ لِوَجْهِهٖ	❀	ثِمَالُ الْيَتَامٰى عِصْمَةٌ لِلْأَرَامِلِ

هغه محمد (ﷺ) سپین سربے ښائسته مخ والا دے چه باران کولے شی ددہ د مخ د خاطره، د یتیمانو مدد گار دے، د کونډو زنانو او د کمزورو خلکو د پاره عِصمت (بچاو) دے، هغوی سره مددونه کوی۔

سیدنا عبد الله بن عمر رضی الله عنهما فرمائی چه نبی کریم ﷺ کله نبی شو د جمعے خطبه ئے وکړه په خطبه کی ئے استسقاء وکړه نو سمدست باران وشو نو ماته دغه د ابو طالب شعر راياد شو چه:

وَأَبْيَضُ يُسْتَسْقَى الْغَمَامُ لِوَجْهِهٖ ثِمَالُ الْيَتَامٰى عِصْمَةٌ لِلْأَرَامِلِ

د نبی علیه السلام ګډے بزے څرول

مخکی نه الله رب العزت خلکو ته دده شان او قدر وښودلو، نبی کریم ﷺ د ابو طالب سره د غریبئ او مسکنت په حالت کی وو ځکه چه ابو طالب غریب وو او د پلار نه هم څه ورته نهٔ وو پاتے شوی نو نبی کریم ﷺ به ګډے بزے څرولے، نبی کریم ﷺ ددغه وخت نه ګډے څرول شروع کړی دی او تقریباً د (۲۱) یا (۲۲) کالو پورے د خپل عمر نه تقریباً دیارلس یا څوارلس کاله ئے ګډے څرولے دی، په ورکوتوالی کی ئے هم څرولے وے کله چه د حلیمه السعدیه سره وو، لیکن هغه د ماشوموالی حالت وو ددرے څلور کالو په عمر وو هلته ماشوم وو او دلته ئے قصداً څرولے،

یو حدیث کی دی: رسول الله ﷺ یو ځل په سفر باندے روان وو د خپلو ملګرو سره

نو د ممانړے بوتے مخے ته راغے نو رسول الله ﷺ وفرمایل: پدے کی توری خورئ دا ډیرے خوږے وی چا ورته وویل اے د الله رسوله! ته خو داسے خبرے کوے لکه په صحراونو کی چه اُوسیدلے ئے؟ نبی کریم ﷺ اُوفرمایل: آؤ ما به گډے بیزے څرولے، صحابه کرامو وویل: یارسول الله تا هم څرولی دی؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل آؤ: (وَهَلْ مِنْ نَبِيٍّ اِلَّا وَقَدْ رَعَاهَا) هر نبی چه الله تعالیٰ رالیږلے دے هغه گډے او بیزے څرولی دی، صحیح بخاری (۳٤۰٦) مسلم (۲۰۵۰) (۱٦۳)

په یو صحیح حدیث کی راغلی دی چه یو ځل د گډو او اُوښانو والا اختلاف شو اُوښانو والا وویل مونږ غوره یو گډو والا وویل: مونږ غوره یو، گډے غوره دی۔ نبی کریم ﷺ ته ئے دا لانجه راوړه چه دے کی څوك غوره دی؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل: (بُعِثَ مُوْسٰی عَلَيْهِ السَّلَامُ وَهُوَ رَاعِيُ غَنَمٍ) موسیٰ علیه السلام الله تعالیٰ راولیږو نبی ئے کړو او گډے بیزے ئے څرولے (وَبُعِثَ دَاوُدُ علیه السلام وَهُوَ رَاعِيُ غَنَمٍ) داود علیه السلام الله راولیږو، دهٔ هم گډے بیزے څرولے، (وَبُعِثْتُ اَنَا وَاَنَا اَرْعٰی غَنَمًا لِاَهْلِيْ بِاَجْيَادٍ)

زهٔ هم الله تعالیٰ راولیږلم ما به هم گډے بیزے څرولے په محله اجیاد کښ، (مکه مکرمه کی یوه محله ده په جیاد مشهوره ده اصل کی اجیاد ده خلك ورته جیاد وائی، د محله جیاد شاته غرونه دی پدی کی به ما گډے او بیزے څرولے)

(النسائی فی الکبریٰ ۱۱۳۲٤) واخرجه البخاری فی الادب المفرد (۵۷۷) واسناده صحیح انظر تعلیق مسند احمد: ۱۱۹۱۸) الروض الانف ۱/۲۹٤)

بل حدیث کی دا دی: (كُنْتُ اَرْعَى الْغَنَمَ لِاَهْلِ مَكَّةَ عَلٰى قَرَارِيْطَ)

(ما به د مکے والو دپاره گډے بزے څرولے په یو څو قیراطونو) (صحیح البخاری: ۲۲٦۲)

قراریط یا د یو ځای نوم دے چه هلته ما د مکے والو دپاره گډے څرولے دی لیکن ظاهره معنیٰ دا ده چه قراریط شپږمه حصه د روپئ ته وائی یعنی ما پدے باندے څرولی دی نو دا لږه لږه خرچه به ئے د دوی نه اخستله ځکه چه غربت وو، نو نبی علیه السلام په داسے غربت حالت کی زندگی تیره کړیده۔



د یو نبی د ګډو بزو څرولو حکمتونه

نبی کریم ﷺ ګډې او بیزې ولې څړولې دي؟ الله ښه پوهیږي لیکن پدې کې ظاهري حکمت دا ښکاره کیږي چه د تربیت چل زده کړي څکه عام انسانان چه دین پکې نهٔ وي د ګډو بیزو.او د حیواناتو په شان وي که د دوی سره سختي کوی نو مرې به ئې کړي او یا به ئې وهي درز درز به ئې پرې راخستې وي نو وړې به ئې بیرته ماښام راولې او کچرته ورسره ډیره نرمي کوی هیڅ هم ورته نهٔ وائي پردو فصلونو ته ورګډیږي، خلك به ئې درلـه مرې کړي یا به ئې درنه غلا کړي، تساهل او آساني به هم ورسره نهٔ کوی او سختي به هم نکوی او د امت د تربیت طریقه همدا ده چه خلکو سره به ډیره نرمي هم نکوی چه خپلې طبعې ته ئې پریدې هغوی باندې به آواز کولې شي چه دا کار مو ګناه ده دا مهٔ کوئ، دا کار غلط دې دا پریدئ او کله کله به زورنه ورکولې شي او کله به وهلې شي، رسول الله ﷺ به کله کله په دعوت کې غصه کیدو چه داسې کار ولې وشو ؟ (اِنَّ مِنۡكُمۡ مُنَفِّرِيۡنَ) (نفرت ولې پیدا کوئ ؟)

غصه به شو او عامو اوقاتو کې به ئې نرمي کوله۔

بعضې خلك انتهائي سخت وي په خُله کې ئې کانړي او اُور پروت وي هرچا ته بې څایه کافر وائي، صحیح مسلمانانو ته هم کافر وائي، خپله غصه سرهٔ وي او دې ته دین وائي، داسې کار نهٔ دې پکار بلکه د دین مطابق او د الله د حدودو مطابق فتوې کول پکار دي په هغې کې اثر هم وي او طاقت هم پکې ډیر وي صرف جوش باندې کار نهٔ کیږي بلکه د الله د حدودو په پابندئ باندې کار کیږي۔

په نبی کریم ﷺ یا په نورو انبیاء کرامو علیهم السلام باندې الله تعالیٰ ګډې بیزې څکه څرولې دي چه مقصد پکې د دعوت طریقه ورزده کول وو،

سیدنا موسیٰ علیه السلام نه یوه ورځ د ګډې یو وروکې بچې وتښتیدو منډه ئې کړه نو دهٔ هم ورپسې ورمنډه کړه په نیمه ورځ کې ئې راونیولو کله ئې چه راونیولو نو سره ددینه چه سیدنا موسیٰ علیه السلام ډیر غصه ناك پیغمبر وو مګر ګډه ئې په غیږ کې راواخسته او ښکل ئې کړه او بیا ئې ورته وویل چه ګوره زهٔ دې هم په تکلیف کې کړم او څان دې هم په عذاب کړو، دا منډې ولې وهې۔

تاریخ کی راغلی دی چه الله تعالیٰ ورته وفرمایل : دا بنده د پیغمبریٔ لائق دے، ځکه چه د غصے تقاضا خو دا وه چه دغه کډے ته ئے ډانګے نیولے وے او سرئے پرے وهلے وے او وژلے ئے وے لیکن دهٔ د وهلو په ځای ښکل کړه۔

نو داسے به کیږی یو سړے به ستا نه منډے هم وهی، ستا خواله به نهٔ راځی، رد بد به هم وائی چه وهابی صابی دے او نوے مسئلے کوی او د پلار نیکه دین ئے خراب کړو مګر تهٔ به په هغه باندے شفقت کوے چه خیر دے دا خلك نهٔ پوهیږی الله تعالیٰ به ئے روسته ښه کړی نو په دعوت کی به د ناپوهو خلکو سره د صبر نه کار اخستلے شی، د ناپوهیٔ زمانه په هرچا راغلے ده هر سړے دے خپل ځان ته وګوری،

(۲) دویمه وجه دا ده چه نبی کریم ﷺ باندے الله تعالیٰ ګډے بیزے ځکه څرولے چه ددے ګډو بیزو په څرولو کی سړے یواځے په صحراونو کی ناست وی، او په یواځوالی کی ډیر خیرونه او فائدے دی، اسلام مونږ ته د یواځی والی ډیر دعوت راکړے دے، که د چا سره خامخا ضروری کار نهٔ وو نو یواځی والے اختیار کړه لکه دا خبره به مونږ روستو د نبی ﷺ د نبوت په ابتداء کی بیان کړو چه نبی ﷺ به غار حراء ته ولے تللو ؟

په یواځی والی کی د انسان سوچ برابر وی، د الله تعالیٰ په قدرتونو، زمکے او آسمانونو او شپه او ورځ او کائناتو کی سوچ کوی او دے ته ګوری نو چه د چا زړه صفا وی نو د هغه پدے سره د الله تعالیٰ سره ډیر محبت پیدا کیږی او زړه ئے د الله تعالیٰ د تعظیم او قدر نه ډکیږی، د خپل پیدائش مقصد ته متوجه کیږی چه زهٔ څه له پیدا یم او چرته روان یم او څه کول پکار دی ؟

د خلکو سره په ډیر تعلق کولو کی انسان په ډیرو نقصاناتو کی واقع کیږی، انسان نه د خیر ډیر کارونه پاتی کیږی، ښه صحیح سوچونو ته نهٔ وزګاریږی او د ډیرو ښو خبرو نه محروم شی، په ښارونو کی کارونه ډیر راپیښیږی نو انسان صحیح فکر ته نهٔ برابریږی۔ انبیاء کرامو علیهم السلام اجمعین ته الله تعالیٰ ځکه داسے حالت ورنصیب کړے دے چه لږ سوچ وکړی چه مونږ څه له پیدا یو او دا انسانان څه کوی، د دوی د هدایت او د اصلاح څنګه کوشش وکړو؟ دے فکر کی الله تعالیٰ ډیر زیات برکات اچوی۔

الغرض رسول الله ﷺ ګډے بیزے څرولے په مکه مکرمه کی او خاصکر په محله

جیاد کی هم ځرولے او ددے نه مخکې ئے په وړوکوالی کی په بنو سعد کی ځرولے۔

د شام د بَحِیرَىٰ الراهب قیصه

نبی کریم ﷺ چه کله دولسو کالو عمرته ورسیدو نو پدے کی ابو طالب اراده وکړه چه شام ته لاړ شی ځکه عرب به د تجارت دپاره شام ته تلل ځکه چه د دوی د زندګئ بله چاره نۀ وه، په مکه کی څه فصلونه او کروندے نۀ وے بلکه دوی به د بهر ملکونو نه سامانونه راوړل هغه به ئے دلته خرڅول یا به ئے په شام وغیره کی خرڅول او د حج په ورځو کی به ئے په میلو کی تجارتونه کول، (عُکاظ، ذی المجاز او مَجِنّه) کی به دا میلے لګیدلے۔

دوی روان شو د قریشو قافله هم ورسره روانه شوه، نبی کریم ﷺ هم دا غوښتل چه ما هم ځان سره بوځی او د ابو طالب هم دا اراده وه چه دا وراره رانه جدا نشی، اول ئے ورته وویل چه ته کشرئے او لری مزل دے مه ځه، هغه وویل : زۀ ستا نه نۀ جدا کیږم، تاسره ځم نو د شفقت د وجے نه ئے ځان سره ملګرے کړو، قافله روانه شوه پیسے ئے واخستے او شام طرفته ئے مخ کړو۔

پدے کی چه کله شام ته نزدے بُصرىٰ علاقے ته ورسیدل چه دا د عربو مرکز وو لیکن د رومیانو د حکومت لاندے راغلے وو، بُصرىٰ ته چه کله ورسیدل دلته یو راهب (پیر) وسیدو د نصاراؤ نه دا راهبان پاتی شوی وو، ځانله به ئے عبادتونه کول او یواځی په ګوټونو کی ناست وو، بَحِیرىٰ ددهٔ لقب وو او جرجیس ئے نوم وو،

کله چه دوی هلته ورسیدل او یو ځای کی ئے دمه وکړه نو بحیرىٰ راهب د وړاندے نه وکتل چه قافله راروانه ده او د سرونو دپاسه ئے وریځ راروانه ده نو دهٔ تعجب وکړو۔ دارنګه کوم ځای کی چه کانړی او بوټی دی هغه پدے قافله باندے سورے کوی او دوی ته مائله کیږی او په سجده ورته پریوزی نو دهٔ ته سخت تعجب ښکاره شو چه دا څه ناشنا واقعه ده، بحیرىٰ په جلتئ سره خپلو خادمانو ته حکم وکړو چه طعام تیار کړئ دا قافله راځی چه دوی له ډوډئ او میلمستیا وړکړو، طعام ئے تیار کړو کله چه قافله راورسیده نو بحیرىٰ راهب وریسے د خپلے کوټے او علاقے نه بهر راووتو او ددے نه

مخکې بحيرئ به هيڅ قافلې ته نۀ راوتو او نۀ به ئې پرې څه پرواه کوله نو قريشو هم تعجب وکړو چه په بحيرئ څه وشو چه اوسه پورې به ئې په قافله باندې څه پرواه نۀ کوله او اوس مونږ له دعوت کوي؟، د هغوي شك غوندې پيدا شو،

بحيرئ چه کله دوي طعام ته کينول نو هغه تولو ته داسې په ژور نظر کتل شروع کړل چه په کوم يو تن کې دا کمال دې چه کاڼړي او بوټي او ونې ورته مائله کيږي او سجده ورته کوي نو په يو کې ئې هم دا کمال ونۀ ليدو (ځکه چه د نبوت دغه کمال دوي ته د پخوانو کتابونو نه معلوم وو چه د آخري نبي زمانه رانژدې شويده او نښې ئې هم ورته معلومې وې او دا د الله تعالىٰ د طرفنه د خپل نبي يو تصديق وو دې دپاره چه د چا پکې شك شبهه پاتې نشي۔

نو بحيرئ وويل چه تاسو نه خو څوك پاتې شوې نۀ دې؟ هغوي وويل : تول راغلي يو، بيا چا وويل چه يو يتيم ماشوم مونږ هلته د اُوښانو او د سامان د حفاظت دپاره کينولې دې، بيا پدې قافلې والو کې بعض کسانو وويل چه مونږ خو غټ رذيلان يو چه نو يتيم ماشوم مو هلته کينولې دې او مونږ دلته ډوډئ ته ناست يو، ورشئ هغه راولئ پدې کې چه نبي کريم ﷺ کله بحيرئ ته رابنکاره شو نو بحيرئ د هغه رنگ او د هغه کمال او ادب او اخلاقو ته وکتل نو بحيرئ ترې سخت متأثره شو

نو بحيرئ د هغه نه تپوسونه شروع کړل مگر د تپوسونو نه مخکې ئې داسې وويل : (أَسْأَلُكَ بِحَقِّ اللَّاتِ وَالْعُزّٰى) زه تا نه د لات او د عزئ په حق سوال کوم چه زه درنه يو څو تپوسونه کوم ته به جواب راکوې، بحيرئ راهب مشرك نۀ وو لات او منات ئې نۀ منل ليکن نبي ﷺ ئې معلومولو، نو نبي ﷺ ورته وفرمايل:

(لَاتَسْأَلْنِيْ بِاللَّاتِ وَالْعُزّٰى) د لات او د عزي په نوم زما نه تپوس مه کوه

(فَوَاللّٰهِ مَا أَبْغَضْتُ شَيْئًا قَطُّ بُغْضِيْ لَهُمَا)

قسم په الله که يو شې هم زما دومره بدې شي لکه لات او عزي چه مې څومره بدې شي، لات او عزئ مې انتهائي بد راځي، نو بحيرئ وويل:

(اِذاً اَسْأَلُكَ بِاللّٰهِ) بنه د الله په نوم به درته سوال وکړم۔

(قَالَ سَلْ مَا بَدَالَكَ) اُوس تپوس کوه څه چه غواړې۔

(الله رب العزت د خپل نبي حفاظت کړې دې، د وړوکوالي نه ئې د گنده اخلاقو، بدو

اعمالونه ساتلے دے لکه ددے واقعے په آخر کی بیانیږی نو د شرك نه ئے هم ساتلے دے، نبی کریم ﷺ هیڅکله هم شرك ندے کړے خپل خپلوان ئے مشرکین وو، بتانو ته ئے سجدے کولے، د غیر الله عبادتو نه ئے کول لیکن نبی کریم ﷺ ترے الله تعالیٰ ساتلے وو، الله تعالیٰ ورته په زړه کی د بتانو او د عبادت د غیرالله بغض اچولے وو، دا د الله د طرفه دهٔ ته هدایت وو، که نهٔ وی خاندان د سری ګډوډ وی معاشره تو له په شرك پته وی ترونه ماماګان ګډوډ وی او پداسے قبیله کی یو کس رالوئی شی پکار ده چه د خپل قوم په هغه عقیده او دین باندے کلك وی لیکن نبی کریم ﷺ الله پاك په هدایت او توحید او سمه لار باندے کلك کړے وو)،

بحیریٰ ترے تپوسونه وکړل چه خوبونه وینے ؟ هغه ورته جوابونه ورکول او دغسے د هغه د کارونو او د هغه دهیئت په باره کی ئے ترے تپوسونه وکړل او نبی ﷺ جواب ورکړو، نو بحیریٰ د خپل علم مطابق دا جوابونه صحیح وموندل، بیا ئے ورته وویل دا لمن اُوچته کړه نو نبی کریم ﷺ لمن اُوچته کړه نو د هغه د دوه اوګو (ولو) ترمینځ یو غونډارے غوښه وه هغے ته خاتم النبوة وائی لکه دا په ډیرو حدیثونو کی راغلے ده،

د صحیحینو وغیره کتابونو په احادیثو کی ذکر کیږی چه اکثر یهود او نصاریٰ چه به راتلل د نبی کریم ﷺ شا (ملا) به ئے کتله ځکه چه دا په پخوانو کتابونو کی راغلی وو چه د آخری نبی نښه به دا وی چه د هغه په شا کی به یو غونډارے غونډے غوښه وی۔

صحابه کرام ددے نه په خپلو اندازو سره مختلف تعبیرونه کوی کله وائی :كَزُرِّ الْحَجَلَةِ) دومره غونډارے وو لکه د ډولے د دروازے چه څومره بټنه ده، ډولۍ ګانے به پخوا خلکو وړلے، د هغے به بټنه وه، کله وائی دومره دانه وه لکه هګۍ د زرکے، (د زرکے د هګۍ په شان برګه بروګه وه)، کله وائی (كَبَيْضَةِ الْحَمَامَةِ) د کوترے د هګۍ پشان، دا د خلکو اندازے دی هر چا چه لیدلے ده د هغے اندازه ئے بیان کړے ده،

په هغے باندے ګیر چاپیره داسے خالونه خالونه وو، ویښته هم پرے ولاړ وو، دا د رسول الله ﷺ د نبوت نښه ده، پخوانی خلك چه به راتلل دا به ئے کتله۔

نو دے بحیریٰ چه دا کله وکتله وے ویل دا آخری نبی دے او نبی کریم ﷺ ئے د لاس نه ونیولو او وے فرمایل: (هٰذَا سَيِّدُ الْعَالَمِيْنَ) دا د مخلوقاتو سردار دے

(هٰذَا نَبِيُّ هٰذِهِ الْأُمَّةِ) ددے امت نبی به دا وی۔

ابو طالب ورته وویل (وَمَا عِلْمُكَ بِهٰذَا ؟) تا ته څه پته ده؟

بحیریٰ وویل : دا زه پیژنم په خاتم النبوة چه پخوانو کتابونو کی دا لیکلے دی چه ددهٔ د اُوګو تر مینځ به غوښه وی، دا ښکاره نښه په دهٔ کی موجود ده او دا نورے نښے هم پکی دی، دویم دا چه تاسو کله د دغه کنډو نه راښکاره شوئ نو ونی او کاڼړی په سجده پریوتل او دا سجده نهٔ کوی مګر صرف نبی ته۔

(سجده غیرالله ته جائز نده د الله نه سیوا بل چاته سجده لګول شرك دے، لیکن د نورو مخلوقاتو دپاره جائز دی چه نبی ته سجده وکړی، دا د نبی یو عظمت وی چه الله تعالیٰ ئے دے امت ته ښکاره کوی، اُوښانو رسول الله ﷺ ته سجده کړے ده کاڼړو، ونواو بوټو ورته سجده کړے ده حیواناتو ورته کړیده، خو انسان باندے الله تعالیٰ دا حرامه کړیده چه بنده ته سجده ولګوی بلکه انسان به موحد وی صرف یو د الله تعالیٰ ذات ته به سجدے لګوی مخلوق ته به سجدے نهٔ لګوی

لکه دا روسته د نبی کریم ﷺ په معجزاتو کی بیانیږی چه مخلوقاتو به ورته سجدے کولے دا د هغوی دپاره شرك ندے زمونږ دپاره شرك دے چه مونږه نبی ته سجده کوو یا قبر ته یا پیر ته یا نیك سړے وی یا بد خو هغه ته سر خکته کول شرك دے)

نو د بحیریٰ راهب په واسطه د نبی ﷺ د نبوت ښکاره تصدیق اُوشو، او دا نور خلك ئے هم پوهه کړل چه دا نبی دے (ګوره قریشو ته الله تعالیٰ د مخکی نه دومره سبق ورکړے دے چه دا به نبی وی سمدست ئے د نبوت دعوه نده کړے بلکه ډیرے ښښے ښانے قریشو ته د هغه د نبوت راښکاره شوے وے خو بیا ئے هم چه نهٔ منلو ضد ئے کولو نو ځکه الله تعالیٰ اُور ته داخل کړل او قرآن کریم چه په دے کافرو باندے سخت ردونه کوی دا پدے وجه چه دوی پدے خبرو ښه پوهه شویدی او بیا هم ضد کوی۔

نو بحیریٰ تپوس وکړو چه دده ولی (مشر) څوك دے ؟ ابو طالب وویل زه یم : بحیریٰ وویل ته ئے څه ئے ؟ هغه وویل زه ئے پلار یم نو بحیریٰ ورته وویل :

(مَايَنْبَغِي لِهٰذَا الْغُلَامِ أَنْ يَّكُوْنَ أَبُوْهُ حَيًّا)

(ته صحیح خبره نه کوے) دا نشی کیدے چه ددے هلك پلار ژوندے وی۔ صحیح حال ووایه ته ئے څه ئے؟ ابو طالب وویل : زه ئے تره یم، نو بحیریٰ وویل : اوس دے

صحیح خبره وکړه څکه د آخری نبی په باره کې مونږ په پخوانو کتابونوکې لوستلي دي چه هغه به یتیم وي پلار به ئې مړ وي او په مکه مکرمه کې به پیدا کیږي نو ته ئې څنګه پلار شوې او پدې ماشوم کې د نبوت تولې نښې موجود دي، نو پدې وجه ته دده پلار نشي کیدلې،

نو بحیرئ ورته دا وصیت وکړو چه دا ماشوم ځان سره شام ته مه بوځه څکه شام کې یهود اوسیږي او نصاریٰ هم، او یهودیان ډیر حسد ګر خلك دې که دا هلك ئې ولیدو نو سمدست ئې پیژني او قتل به ئې کړي.

(پخوانو کتابونو کې د رسول الله ﷺ داسې تذکرې شوې دي لکه د هغه تصویر چه پکې لګیدلې وي لکه سړې د چا تصویر ویني او بیا بهر کوځې ته اُوځي او هغه سړې په سترګو ویني نو سمدست ئې پیژني چه دا تصویر ددې سړي دې،

﴿ يَجِدُوْنَهٗ مَكْتُوْبًا عِنْدَهُمْ فِي التَّوْرٰاةِ وَالْاِنْجِيْلِ ﴾

ددې پیغمبر صفت او حُلیه (شکل) لیکلې شویدې په مخکنو کتابونو کښې) الله تعالیٰ فرمائي چه تورات او انجیل کې د رسول الله ﷺ دومره صفت لیکلې شوې ووګویا که بعینه رسول الله پدې تورات او انجیل کې دننه موجود وو، سړې چه پاڼړه واړوي نبی کریم ﷺ ورته پکې ښکاره کیږي، خو دې ظالمانو اُوس بدل کړي دي لږ لږ پکې اُوس هم باقي دي، اشارات پکې شته، مګر هغه نومونه ئې ترې لرې کړي دي او اُوس چه تورات او انجیل ګورې د نبی کریم ﷺ صفتونه پکې اوس هم شته، په انجیل کې ئې په یو ځای کې لیکلي دي چه سیدنا عیسیٰ علیه السلام وائي چه ډیر مخکني خلك به روسته شي او ډیر روستني به مخکې شي)

مقصد دا چه تاسو مخکني یئ روسته به شئ او روستني چه مسلمانان دي چه د یهود او نصاراؤ نه به جنت ته مخکې روان وي. دا مثال نبی علیه السلام هم ورکړیدې لکه په حدیث د بخاری کې راغلي دي: (نَحْنُ الْآخِرُوْنَ السَّابِقُوْنَ) مونږ روستو راغلي خلك یو لیکن د پخوانو امتونو نه به جنت ته مخکې ځو.

بحیرئ ابو طالب ته وویل چه دا خپل وراره خپل کلي ته په جلتئ سره واپس کړه څکه چه ددهٔ دپاره به یو لوی شان وي.

نو ابو طالب د بحیرئ دا خبره ومنله خپله ورسره واپس نشو څکه تجارت پسې روان

وو، د هغې پرېښودل هم ورته گران وو نو نبی علیه السلام ئې د خپلو بعضو غلامانو او بعضو ملگرو سره مکې ته راواپس کړو هسې نۀ چه یهودیان ئې قتل نکړي۔

بیا ابو طالب چه بیرته د شام نه واپس راغلو نو دلته یوه بله واقعه راغله هغه دا وه چه په عربو کې د فِراست والا او هوښیار خلك ډیر وو نو یو هوښیار سړے مکې ته راغې، د مکې والو عادت دا وو چه خپل بچي به ئې ورله وروړل چه ددۀ فال وگوره (لکه زمونږ د بعضو خلکو په عادتونو کې فالونه کتل وي)

(فِراست یو علم وو چه د ډیرے تجربے نه به حاصل شوے وو یو سړي ته به ئې وکتل او معلومه به ئې کړه چه دے سړي کې دا دا صفتونه دي، دا هوښیار، دا بی وقوف دے، دا غصه ناك دا صبرناك دے، دا د مشرئ لائق او دا نالائق دے، دا انسان به روستو خرابیږي او دا انسان به روستو ښه کیږي د مخ او د شکل، د سترگو او د چال چلن د انداز نه به ئې معلومول کول)

نو داسے د فِراست والا یو سړے راغې خلکو ورله خپل بچي راوړل نو ابو طالب هم ورله خپل ورارۀ راوستو پدے کې چه هغه فِراست والا سړي نبی کریم ﷺ ته وکتل نو نظر ئې ورته همداسے متوجه کړو همداسے ورته گوري اخوا دیخوا ترے مخ نۀ اړوي، ابو طالب ویریده چه داسړے څنگه زما ورارۀ ته په وران وران او په ډیر عجیب نظر باندے گوري، پدے کې دغه فِراست والا سړے په څه بله خبره مشغول شو او توجه ئې بدله شوه ابو طالب ترے زر خپل ورارۀ راښکلو او لرے ئې کړو، بیا چه هغه متوجه شو تپوس ئې وکړو: (أَيْنَ الْفَتٰى ؟) هغه هلك څه شو؟ چا ورته حال نۀ ویل، بیا ئې وویل: (أَيْنَ الْفَتٰى ؟) هغه هلك چرته دے؟

ابو طالب جواب ورنکړو ویریدو چه ددے سړي بد نظر پدے هلك ونۀ لگي، هغه فِراست والا وویل: (أَيْنَ الْفَتٰى؟ فَوَاللهِ لَيَكُوْنَنَّ لَهٗ شَأْنٌ) هغه هلك چرته دے پۀ ده کې خو عجیب صفتونه دي ددۀ به ډیر ناشنا احوال راښکاره شي۔

(السيرة النبوية لابن كثير : ١/٢٤٢)

هغه هوښیار سړي هم د نبی کریم ﷺ د نبوت اشاره ورکړه، عرب د قیافه دان او د فراست والا خلکو نه متاثر وو نو الله تعالیٰ څکه د هغوی په خُله باندے د رسول الله ﷺ شان او قدر خلکو ته ښکاره کړو چه دا ونۀ وائي چه فلانکي خیلو دده په باره کې

څه ندي ويلي بلکه ټولو خپلونو ويلي دي، يهود وائي چه دا صحيح سړے او حق نبي دے، نصارئ وائي چه دا د الله پيغمبر دے او د الله تعالیٰ نبي دے لکه بحيرئ راهب وويل، د مدينے يهودو ويلي وو، او مخکې نه ئے اعلانونه کړي وو،

دا رنګه قيافه دان وائي چه دا د الله نبي دے، پخوانو بادشاهانو دا خبرے کړي وے دلته فراست والا هوښيارو دا خبرے وکړے، او نبي کريم ﷺ کې خپله هم ښکلي صفتونه موجود وو، او الله تعالیٰ پکې راجمع کړي ووځکه د نبوت لائق دے دا ټول پکې الله تعالیٰ اچولي دي۔

د نبي ﷺ صفات

(۱) د هغه د صفاتو نه يو دا وو چه شرك ئے چرته هم ندے کړے، د الله سره ئے برخه داران ندي جوړ کړي او دغه شان ټول انبياء عليهم السلام الله تعالیٰ د ګناهونو او شرکونو نه بچ ساتي او شرك يوه قبيحه ګناه ده، الله تعالیٰ ترے خپل نبي په وړوکوالي کې هم ساتلے دے،

(۲) دويم ښکلے صفت دا دے چه په هغه کې حياء، بُردباري او صبر وو، حرص پکې نۀ وو، د ابو طالب په کور کې به ډوډئ کمه وه نونورو ماشومانو به په ډوډئ باندے ورمنډه کړه او نبي کريم ﷺ به داسے کار نۀ کولو حرص به ئے نۀ کولو، هغه به شا ته ناست وو، کله به ترے طعام خلاص شو نو يوه ورځ دوه به ئے په لوږه تيرے کړے خو د خپلے حياء د وجه نه به ئے څه نۀ کول۔

نو يوه ورځ پرے ابو طالب پوهه شو چه دا ورارهٔ زما ددے بچو د وجه نه وږے پاتې کيږي او حياء کوي او په طعام باندے نۀ ورټوپ کوي نو بيا ئے حکم وکړو:

(اِعۡزِلُوۡا لِابۡنِیۡ هٰذَا)

زما دے ځوی ته طعام بيل ورکوئ ځکه تاسو حرص ناك يئ او ده ته څه نه پريدئ،

دا څومره ښکلے صفت دے چه سړے وږے هم وي او خاصکر ماشوم خوږاړي وردانګي او ځان وژني خو ډوډئ غواړي ليکن نبي کريم ﷺ کې الله تعالیٰ دا صفت اچولے وو مخکې نه ډير حياناك وو،

(۳) (يُصْبِحُ دَهِينًا كَحِيلًا) چه سهار به راپاڅيدو وېښته به ئې داسي وو لکه غوړ او سترګې به ئې داسي وې لکه تورې او نورماشومان چه به راپاڅيدل نو د هغوی سترګې به چخنې وېښته به ئې پراګنده وو، خرپړ به وو۔

(٤) بل ناشنا حالت دا وو چه نبی کریم ﷺ چه به کله د ابوطالب د بچو سره طعام ته کيناستلو تول به پرې مړيدل بلکه ترې پاتې کيدو به او چه کله به نبی کریم ﷺ ورسره نهٔ وو ناست نو طعام به خلاص شو او دوی به وږی پاتې شو، پدې باندې ابوطالب پوهه شو چه دا ماشوم مُبَارَك دے نو بيا به ئې خپل ماشومانو ته وئيل چه تاسو لا انتظار وکړئ چه زما بچے (محمد) راشي۔

(۵) بل په نبی کریم ﷺ کې د صِدق (رشتيا) وئيلو صفت وو (لَمْ يَكْذِبُ قَطُّ)

نبی کريم ﷺ هيڅکله هم دروغ ندی وئيلي، پدې وجه په عربو کې په (اَلصَّادِق) رشتينی سره مشهور وو

(٦) بل صفت ئې (اَلْاَمِيْن) امانت دار وو، امانت کې ئې هيچرته خيانت نهٔ وو کړے۔

نبی کريم ﷺ د امانت ډير پابند وو که چا به ورسره مال کيښودو يا به ورسره چا يوه خبره کيښوده نو هغه به په ډير ښکلي انداز کې ساتله۔ او دا ډير ښکلي صفات دی۔

نو مونږ له هم پکار دی چه پدې صفاتو کې د رسول الله ﷺ تابعداری وکړو چه هيڅکله دروغ ونهٔ وايو اګرکه ډير سخت حالت وی او هيچرې خيانت ونکړی، په ځان باندې دا التزام وکړه چه زه به چرته هم دروغ نهٔ وايم نو د الله رب العزت په فضل دومره نيکی به در کی راشي او د نيکئ لارې به درته کولاؤ شي چه تا به خوب کې هم نهٔ وی ليدلي، د نبی کريم ﷺ ارشاد دے

(اِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِیْ اِلَی الْبِرِّ وَاِنَّ الْبِرَّ يَهْدِیْ اِلَی الْجَنَّةِ) څوك چه رشتيا وائی نو دے به نيکو طرفته راکاږی او نيك کارونه سړے جنت ته راکاږی)۔ (بخاری و مسلم)

امانت چه په چا کی وی هغه مؤمن دے او چه امانت صفت په چا کی نهٔ وی منافق دے، امانت ديته وائی چه يو سړے تا ته خبره وکړی يا درسره مال کيږدی يا درته يوه عهده وسپاری مثلًا داسے درته ووائی چه ته به دے جمات کی امام ئے، مدرس به ئے، ماشومانو ته به سبق وائے، يا دے فلانی دکان کی به ما سره کار کوے، دا به ستا کار وی اته بجے به راځي ماز يګر پنځه بجے به چهټی کوے، نو که پدے کی يو انسان د مالك

په موجودگئ کی کار کوی او چه هغه نهٔ وی بیا سم کار نهٔ کوی نو دا خیانت دے، رب العالمین به ددے په باره کی تپوس کوی او پدے خیانت کی نن صبا ډیر انسانان واقع دی والله المستعان۔

رسول الله ﷺ کی د امانت صفت دومره زیات وو چه د مکے خلکو به ورسره خپل امانتونه کیخودل۔

(۷) بل صفت پکی دا وو (لَمْ يَشْرَبْ قَطُّ)

شراب ئے هیڅکله نهٔ ووڅکلی، عربو به شراب د اُوبو په شان څکل۔

د یو حدیث نه معلومیږی چه نبی کریم ﷺ فرمائی: ما د جاهلیت والو د هیڅ کار قصد او اراده په زړه کی نهٔ ده راوستے کوم چه به هغوی په جاهلیت کی کول سویٰ د دوه شپو نه چه په هغے کی هم زهٔ الله تعالیٰ ساتلے یم۔

یو دا چه ما یو وخت کی گډے بیزے څرولے په صحرا کی او ما سره یو ملگرے هم وو، زړه کی مے دا تیره شوه چه دا واده به څنگه شے وی؟ (څکه ما کله وادهٔ نهٔ وو لیدلے) نو خبر شوم چه په مکه کی په یو کور کی وادهٔ دے نو ما خپل ملگری ته وویل چه بیگاه له په مکه کی وادهٔ دے زهٔ به هغے له لاړ شم سیل به وکړم او تهٔ زما په ځای گډے بزے څروه، هغه وویل صحیح ده،

(پدے وخت کی نبی کریم ﷺ د دولسو کالو په عمر وو) فرمائی:

زهٔ راغلم چه اول مکے ته راننوتم نو په اولنو کورونو کی وادهٔ وو

(د هغوی د وادهٔ طریقه دا وه چه تهنگ تهکور به ئے پکی ډیر کولو، درز دُرز او لوبی او شعرونه به ئے پکی وئیل او بی حیائی به پکی وه، وادهٔ کی خوشحالی جائز ده لیکن بی حیائی حرامه ده، زمونږ اکثر ودونه د اسلام خلاف وی او زنانه پکی د حد نه ډیر تیروتل کوی او د تقویٰ نه لاس وینځی)

زهٔ چه لاړم نو هلته ما د شپیلو او تمبل آواز واوریدو ما وویل: دا څه دی؟ چا وویل چه دا د فلانی او د فلانئ وادهٔ دے۔ نو زهٔ ورته کیناستم چه وگورم لیکن الله تعالیٰ په ما باندے خوب راوستو، همداسے اُوده وم تردے چه (فَوَاللّٰهِ مَا اَيْقَظَنِيْ اِلَّا مَسُّ الشَّمْسِ) قسم په الله زهٔ د نمر گرمائش رابیدار کړم۔ (نو نهٔ مے وادهٔ ولیدو او نهٔ بل څه) بیرته چه راواپس شوم، ملگری راته وویل چه څنگه چل وو؟ ما ورته وویل: وادهٔ مے ونهٔ لیدو

ځکه چه د ورننوتو سره سمدست په ما باندے خوب راغے۔

بله ورځ بیا واده وو ما ملګری ته وویل : ته کینه زهٔ به لاړ شم (واده مے ندے کتلے چه دا لړ وګورم) چه بیا مکے ته راننوتم نو بیا مے هغه شان د تمبل آوازونه واوریدل لکه څنګه چه په دغه شپه کی آوریدلی وو نو ما تپوس وکړو، راته وویل شو چه فلانی فلانئ په نکاح کړیده۔ نو کیناستم چه وګورم چه څه چل دے؟ نو الله تعالیٰ بیا په ما باندے خوب راوستو تردے چه د نمر په ګرمائش باندے راپورته شوم نو الله تعالیٰ راله حفاظت وکړو۔ ملګری ته راغلم هغه رانه تپوس وکړو چه څه چل وو؟ ما ورته وویل: هیڅ ونهٔ شو او قصه مے ورته وکړه۔ نو قسم په الله ما هیڅکله ددے نه روستو نهٔ څه قصد کړے او نهٔ دے کار ته راواپس شوے یم تردے چه الله تعالیٰ ما ته په خپل نبوت سره عزت راکړو۔

ابو نعیم فی دلائل النبوة (۱/۱۸۶) وقال الهیثمی فی مجمع الزوائد رواه البزار ورجاله ثقات آه۔ (۸/۲۲۶) (والسیرة النبویة لابن کثیر والرحیق المختوم)

نیکی دومره ښه شے دے کله چه انسان نیك عمله شی نو الله تعالیٰ ئے دداسے ځایونو نه محفوظ ساتی۔

(۸) د عربو یو بل عادت وو (اَلسَّمَرُ بَعْدَ الْعِشَاءِ) د ماسخوتن نه روسته ګپونه لګول، قصے کول۔ (پدے وجه مونږه شریعت منع کړی یو ددے نه چه د ماسخوتن نه روستو ګپونه ولګوو بلکه خپل ذکر اذکار پوره کړه او وختی اُوده شه، او د ماسخوتن نه روسته قصے او ګپ شپ لګولو نه منع راغلے ده سویٰ د میلمه یا ښځے سره) پدے سره انسان د تهجدو نه محرومیږی او د سهار مونځ ترے قضاء کیږی نو بی ضرورته ناوخته اُودهٔ کیدل بی دینی ده، ددے نه ډیر نقصانات او فسادونه پیدا کیږی، دا د عربو عادت وو، ﴿ سٰمِرًا تَهْجُرُوْنَ ﴾ قصے به ئے کولے)۔

نبی کریم ﷺ فرمائی : زما زړه کی دا شوق راغے چه زه هم ځم او دا قیصے به واورم چه یوه شپه لاړم هغه قصے ته کیناستم لا شروع شوے نهٔ وه چه په ما باندے خوب راغے او سهر نمر خاته راپاڅیدم، نو یوه قصه مے هم وانهٔ وریده، الله رب العزت راله داسے حفاظت کولو دا ټول حفاظتونه د الله تعالیٰ د طرفه وو او ښکلی صفتونه هم پکی الله تعالیٰ اچولی وو۔

(۹) د نبی کریم ﷺ عورت کله ندے ښکاره شوے چه بل چا لیدلے وی او د عربو عادت دا وو چه عورتونه به ئے ښکاره کول، د کعبے د جوړولو په وخت رسول الله ﷺ په اوږه باندے گټی راوړلے نو چا ورته وویل چه لنگ لرے کړه او په اوږه باندے ئے کیږده او گټی راوړه نو هغه چه لنگ لرے کړو نو بی هوشی پرے راغله او بیا ئے وویل چه زما لنگ څه شو؟ ددے نه روستو هیچا د رسول الله ﷺ عورت نهٔ دے لیدلے۔

(۱۰) په نبی کریم ﷺ کی بل ښکلے صفت دا وو چه حیاء پکی وه حیاء ډیر ښکلے صفت دے چه انسان کی وی، د نبی کریم ﷺ د حیاء په باره کی راځی:

(أَشَدُّ حَيَاءً مِنَ الْعَذْرَاءِ فِيْ خِدْرِهَا) هغه زنانه چه پرده نشینه وی په پرده کی ناسته وی د هغے نه هم نبی کریم ﷺ ډیر زیات حیاء والا وو۔

(صحیح بخاری ۳۵٦۲ومسلم٦١٧٦)

په نبی کریم ﷺ کی دومره حیاء وه چه کله به د ملگرو نه په یو کار ناراضه شو نو داسے به ئے نهٔ ویل چه فلانیه! دا کار دے داسے ولے وکړو؟ بلکه په منبر باندے به ئے عامه خبره کوله (مَا بَالُ أَقْوَامٍ) یعنی بعضے خلك داسی خبره او داسے کار کوی دا ورله نهٔ ده پکار۔ نو مخامخ به ئے سړی ته رټنه نهٔ ورکوله چه په تا کی دا عیب دے او مخامخ به ئے د چا نوم نهٔ اخستلو۔

حیاء همیشه سړے دین ته راکاږی، (اَلْحَيَاءُ شُعْبَةٌ عَظِيْمَةٌ مِنَ الْإِيْمَانِ) حیاء د ایمان یوه لویه شعبه (څانگه) ده، او په نبی کریم ﷺ کی په اعلیٰ پیمانه باندے موجوده وه۔

رسول الله ﷺ به انتهائی حیاکوله، ددے وجه نه رسول الله ﷺ چا په لارو کی په بول کولو باندے نهٔ دے لیدلے یا په لاس کی ئے پرتوغانړ نیولے وی او روان وی لکه د بعضو خلکو دا عادت وی حال دا چه علماء لیکی چه کوم انسان په لارو کی د خلکو په مخکی بول کوی هغه مردود الشهادة دے گواهی ئے نهٔ قبلیږی ځکه چه دا انسان قلیل المروۃ دے په دهٔ کی سړی توب نشته، بعض خلك د خپل کور نه راوځی او بهر په کوڅه کی متیازے کوی دا طریقه غلطه ده، د نبی ﷺ دا عادت نهٔ وو صرف یو ځل نبی ﷺ د یو قوم په یو ډیران ورتیریدو نو هلته ئے بول وکړل خو پټ ځای وو او مخ ئے یو دیوال ته وو۔ مگر بیا ئے هم دومره حیاء وکړه چه سیدنا حذیفه بن الیمان رضی الله عنه ته ئے وویل ما پټ کړه زما شا ته ودریږه چه زهٔ پناه شم او خپل حاجت پوره کړم۔ او

دا هم شاړ ځای وو بیائے هم دومره احتیاط کړیدے۔

- لنډه دا چه نبی کریم ﷺ کی ټول ښه صفات موجود وو،

حدیث کی راځی یو سړی ام المؤمنین سیده عائشے رضی الله عنها ته وویل چه د نبی کریم ﷺ څنګه اخلاق وو؟ هغے ورته وویل تا قرآن ندے وئیلے؟ هغه وویل : ولے نه! هغے ورته اُوفرمایل : (كَانَ خُلُقُهُ الْقُرْآنَ) (د نبی کریم ﷺ اخلاق قرآن وو)،

معنیٰ دا چه قرآن کریم کی الله رب العزت ډیر ښکلی اخلاق بیان کړیدی دغه ټول اخلاق په رسول الله ﷺ کی موجود وو، ﴿ خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ﴾ (اعراف:۱۹۹) په قرآن کریم کی د اخلاقو په باره کی دا اوچت آیت دے۔

الله فرمائی : (اے زما نبی ! معافی راونیسه یعنی پدے باندے همیشه عمل کوه او دا خپل کار جوړ کړه او خلکو ته د عُرف (د معروفاتو او د نیکیو) دعوت ورکوه، او مخ اړوه د ناپوهه خلکو نه) ځکه چه په دعوت کی به جاهل خلك تا ته ضرر درکوی نو هغوی ته جواب مه ورکوه او خپل کار جاری ساته۔

﴿ قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ ﴿۱﴾ الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ ﴿۲﴾ وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ﴿۳﴾ وَالَّذِينَ هُمْ لِلزَّكوٰةِ فَاعِلُونَ ﴾

دا ټول صفتونه چه الله تعالیٰ په قرآن کریم کی د مؤمنانو بیان کړی دی دا په پوره طریقه په رسول الله ﷺ کی موجود وو، ولے به نهٔ وی موجود حال دا چه الله تعالیٰ هغه لره د ټول امت امام او رهنما او مشر ګرځولے دے نو خامخا به پکی دا صفات وی، بیا په امت کی د نبی کریم ﷺ صفات تقسیم دی په چا کی زیات او په چا کی کم دی، ټول صفتونه په یو انسان کی نهٔ راجمع کیږی نو بختور هغه انسان دے چه د نبی کریم ﷺ صفاتو سره ئے ډیر مشابهت وی، امانتدار، رشتینی، داعی، مجاهد، عابد، نرم اخلاقه، احسان کونکے جوړ شی۔

(۱۱) (اَلضَّحُوكُ الْقَتَّالُ) د نبی کریم ﷺ په نومونو کی راځی هغه انسان چه ډیر خندیدونکے، کولاؤ تندی والا چه هر وخت به ئے تندے فراخه وو سره ددے نه چه دهٔ ته به مختلف قسم خلك راتلل لیکن ټولو ته به روڼ تندی والا وو، نبی علیه السلام به همیشه مُسکے وو، او قتال معنیٰ ده د الله تعالیٰ د دشمنانو وژونکے وو یعنی دواړه متضاد صفتونه پکی راجمع وو، د خپلو ملګرو سره نرمی کونکے او د دشمنانو سره

سختی کونکے۔

د خپلو بی بیانو سره به ئے مینه محبت کولو، د میلمه میلمستیا به ئے په ډیره اعلیٰ پیمانه کوله، ګاونډیانو سره به ئے ښه سلوك کولو، علم، تقویٰ، جهاد، دعوت غرض دا چه په هر باب کی به نبی کریم ﷺ ډیرو اُوچتو اخلاقو والا وو۔

(۱۲) په نبی کریم ﷺ کی بل صفت د منلو وو، یو کشر سړے به راغے او رسول الله ﷺ ته به ئے وویل چه زما حاجت دے نو نبی ﷺ به هغه پوره کولو بلکه که یوه زنانه او وینځه به راغله چه زما حاجت دے نبی ﷺ به په مجلس کی ناست وو او هغے به ورته اشاره وکړه نو نبی ﷺ به ورپاځیدو دومره عاجزی پکی وه حال دا چه وینځه یو داسے مخلوق دے چه د خلکو په نظر کی ډیره پرېوتی او خکته وی۔

کله به ورته یوے زنانه یا یو سړی وویل چه زهٔ دلته خبره نشم کولے ما سره بهر کوځے ته ووځه، یوے زنانه ورته داسے وویل، نو نبی ﷺ ورته جواب ورکړو :

(يَا أُمَّ فُلَانٍ أُنْظُرِيْ أَيَّ السِّكَكِ شِئْتِ حَتّٰى أَقْضِيَ حَاجَتَكِ؟)

ستا کوم ځای، کور کوڅه خوښه ده چه زهٔ درشم او ستا ضرورت پوره کړم؟

نو نبی ﷺ به نهٔ وئیل چه زهٔ سید الاولین والآخرین یم او نبی او خلیفه او بادشاه یم مګر ددے ټولو صفتونو سره سره دومره عاجزی کوی۔

نو رسول الله ﷺ چه په کوم طرز او طریقه باندے زندګی تیره وله مونږ له هم یادول پکار دی پدے سره بنده کمال ته رسیږی۔

رسول الله ﷺ د دولسو کالو نه روستو هم په مکه کی وسیدو او ګډے بزے به ئے څرولے او په ځوانئ کی ئے هم څرولے د هغه بل کسب نهٔ وو په غیر د دغه کار نه،

حرب الفجار- د فجار جنګ

نو په بعض تاریخونو کی راځی چه کله د پنځلسو کالو شو او ذویم تاریخ دا دے چه کله شلو کالو ته ورسیدو نو پدے کی د عربو یو جنګ راغلو چه هغه د سیرت په کتابونو کی په حرب الفجار سره یادیږی۔ (د فجار جنګ یعنی د نافرمانئ جنګ، حرب الفجار به ئے دیته وئیلو چه د اَشْهُرِ حُرُم (عزتمنو میاشتو) په اول کی به چا

جنګ شروع کړو نو دا به فاجر او بدکاره حسابیدو ځکه چه دے څلورو میاشتو ته الله تعالیٰ عزت ورکړے وو (ذی قعده، ذی الحجه، محرم، رجب) اُوس هم دا قانون دے چه پدے میاشتو کی به جنګ شروع کول ناروا وی او دفاعی جنګ پکی جائز دے ځکه چه کله کافر حمله وکړی نو بیا ورسره په هره میاشت او په هر ځای کی جنګ جائز دے خو ابتدائی حملے به پدے میاشتو کی نهٔ شروع کیږی. نو د عربو په نیز هم دا میاشتے عزتمنے وے، دا عقیده ئے د سیدنا ابراهیم علیه السلام نه د پاتی شوی دین نه زدهٔ کړے وه او زمونږ په دین اسلام کی هم دغه حکم شته نو کومو عربو چه به پدے میاشتو کی جنګ شروع کړو نو دغه جنګ ته به ئے « د نافرمانئ جنګ» وئیلو.

دا جنګ د دوه قبیلو یعنی قریش او د دوی ملګری کنانه ترمینځ او د قَیس بن عَیلان ترمینځ چه د هوازن قبیلے نه دی واقع شوے وو چه دا قیس بن عیلان چه هوازن طائف والا دی دوی راغلی وو او په قریشو باندے حمله ئے کړے وه پدے طریقے سره چه د نعمان بن منذر په نوم د عراق یو بادشاه وو، هغه څه تجارتی مال عُکاظ میلے ته رالیږلے وو او په هغے باندے ئے یو سړے مقرر کړے وو د هغه عُرُوَةُ الرَّحَّال یا عروة بن الرحال بن عُتبه بن جعفر بن ربیعه بن عامر بن صَعْصَعَه بن معاویه بن بَکر بن هَوَازن نوم وو،

دا سړے د طائف وو نو د قریشو نه یو کس راپاڅیدو چه د هغه نوم بَرَّاض بن قَیس وو د بنو ضُمره بن بکر بن عبدِ مَنَاة بن کنانه قبیلے نه وو نو براض دغه عروه ته وویل چه آیا تهٔ دے مال ته د بنو کنانه په خلاف پناهی ورکوے ؟ هغه وویل : آؤ، د ټولو خلکو په خلاف ئے ورکوم.

(دغه عروه بدکاره شان وو، لکه بعض خلك قاتلان او ډاکوان شان وی ورانے کوی)

نو براض چه کله عروه لره قتل کړو نو خپله خیبر ته وتښتیدو پټ شو او د هغه ځای نه ئے خبر راولیږو چه ما سړے مړ کړو یعنی عروه، او تاسو ځئ د عُکاظ میلے نه تښتئ چه حمله درباندے ونکړی حمله درباندے کیږی،

پدے وخت کی د قریشو او د بنو کنانه ؤ دواړو مشر (حَرْب بن اُمَیّه) وو، ځکه شریف هم وو او د عمر په لحاظ هم مشر وو نو دوی ددے ځای نه وتښتیدل او حرم ته ئے پناهی ورلـه نو هوازن قبیله ورپسے شوه تردے چه د حرم د داخلیدو نه مخکی ئے راونیول او د

دواړو قبیلو جنګ ونښتو تو له ورځ ئے جنګ وکړو اول کی غلبه د هوازن وه بیا بیرته په نیمائی ورځ کی پرے قریش غالبه شو، بدله ئے ترے واخسته،

کله چه شپه راغله نو قریش ترے حرم ته وتښتیدل نو هوازن قبیلے ته پته ولګیده چه دا کسان خو حرم ته ننوتی دی، حرم کی څنګه جنګ وکړو؟! نو ورته آواز ئے وکړو چه زمونږ او ستاسو جنګ به کال له وی، تاسو هم ځان ښه تیار کړئ او مونږ به هم ځان تیار کړو، کله چه کال تیر شو جانبینو جنګ ته ځان تیار کړو نو د دواړو طرفنه حمله وشوه او دا شهر حرام (یعنی عزتمنه میاشت) وه نو دوی د عزتمندے میاشتے عزت مات کړو پدے وجه ورته حرب الفجار وویل شو،

په بعض روایاتو کی راغلی دی چه پدے جنګ کی ډیر مړی وشو نو د بنو کنانو مشر حَرْب بن اُمَیّه راغلو او دواړو ډلوته ئے د صلح دعوت ورکړو او ورته ئے وویل چه ولے ځان تباه کوو، داسے به وکړو چه مړی به وشمارو د چا مړی چه زیات وی د هغے دیت به ورکړو نو پدے باندے ټول خلك راضی شول۔

او ددے دواړو ترمینځ خپلولیانی هم وے پدے وجه صلحے ته تیار شو۔

رسول الله ﷺ پدے جنګ کی د خپلو ترونو سره د قریشو د طرف نه حاضر شوے وو، هغوی ځان سره بوتلے وو او ابن هشام په خپل سیرت کی وائی چه پدے وخت کی د رسول الله ﷺ عمر څوارلس یا پنځلس کاله وو، او محمد بن اسحاق وائی چه د شلو کالو په عمر وو۔

رسول الله ﷺ به خپلو ترونو ته غشی ورکول او هغوی به ویشتل ځکه چه رسول الله ﷺ پدے وخت کی کشر وو ایله د جنګ قابل شوے وو۔

او بعض علماء وائی چه رسول الله ﷺ پدے وجه جنګ ونکړو چه دا د نافرمانئ جنګ وو ځکه چه په عزتمنو میاشت کی وو۔ (الروض الانف ۱/۳۱۷)

او دا حرب الفجار څلور کرته واقع شویدے په مختلفو موقعو کی او دے یو قسم حرب الفجار ته حرب البراض وائی ځکه چه دهٔ دا جنګ ګرم کړے وو۔

پدے جنګ کی قریشو د خپل ځان نه دفاع کوله او د هوازن قبیلے حمله وه او په ابتداء کی غلبه د هوازن وه مګر په آخر د ورځ کی غلبه بیرته قریشو ته ملاؤ شوه۔

پدے کی فائده دا وه چه رسول الله ﷺ پدے جنګ کی حاضری کړے وه، دا ددے

دپاره چه نبی کریم ﷺ د جنگونو چل زده کړی چه جنګ به څنګه کیږی یو قوم چه په بل باندے حمله کوی دا به څنګه کوی؟، څنګه به سرے پټیږی؟ اسلحه به څنګه تیاروی؟، روسته الله تعالیٰ خپل نبی ته غټ کار سپاری ددے وجه نه ئے په تولو کارونو کی استعمالوی نو په جنګونو کی ئے هم استعمال کړو، د جنګونو چلونه هغه هم زده کړل، پدے جنګونو کی چه نبی کریم ﷺ ملګرے شو نو رسول الله ﷺ ته الله تعالیٰ د جهاد یو بنیاد کیښودو۔

د دینه روسته نزدے یوه بله واقعه راغله،

حِلفُ الفضُول :-- (بهترین قسم)

حِلُف قسم ته وائی او فُضُول معنیٰ غوره والے یعنی دغوره والی قسمونه، یا فضول ورته پدے وجه وائی چه څلور کسان وو د هر یو نوم فضل وو،

دا کسان راجمع شو په یو نیك كار باندے ئے يوه معاهده او قسم وکړو چه نبی کریم ﷺ هم پدے کار کی حاضر شویدے۔

مختصره واقعه دا ده چه د یمن نه یو سړے راغلے وو چه د هغه زُبَیُد نوم وو په مکه مکرمه کی ئے په عاص بن وائل السهمی باندے خپل یو څه سامان خرڅ کړو نو هغه ترے د روپو مطالبه وکړه، عاص بن وائل پیسے نهٔ ورکولے او دا ئے ورته ویل چه صبا راشه بله ورځ راشه، هغه ئے پریشانه کولو، دغه مسافر ورته وویل چه یا زما سامان واپس کړه یا پیسے راکړه ما تهٔ عذاب مهٔ راکوه، نو چونکه دا مسافر وو د خلکو نه ئے څوك مددګار نهٔ وو پدے وجه عاص بن وائل ورته وویل چه لاس دے راخلاص، نهٔ سامان درکوم او نهٔ رانه پیسے اخستے شے۔

نو دے مسافر د مکے یو څو قبیلو ته درخواست وکړو چه تاسو ما سره ودریږئ او ددے سړی نه ما له خپل حق واخلئ لکه عبد الدار، بنی مخزوم چه د ابو جهل قبیله وه او جُمَح، او سهم او عدی قبیلو ته، لیکن دے قبیلو د هغه په خبره هیڅ پرواه ونکړه چه مسافر دے خپل کار به کوی نو دا زُبَیُدی راغے او څه اشعار ئے جوړ کړل او د قریشو یو قِسم بدی ئے پکی بیان کړه، او په بعض روایتونو کی راځی چه دا د قریشو دار الندوے

ته راغے او دوی ته ئے ووئیل چه تاسو زما دا مال ددے سړی نه را آزاد کړئ گنے زهٔ به داسے اشعار ووایم چه تاسو به په عربو کی وشرمیږئ او عزت به مو واخستے شی او ددے خلکو عزت او شرافت ډیر خوښ وو۔

او دویم روایت دا دے چه دا شخص د ابو قُبَیس غر ته وختلو او دا شعرونه ئے ووئیل :

يَا آلَ قُرَيْشٍ لِمَظْلُومٍ بِضَاعَتُهُ	❁	بِبَطْنِ مَكَّةَ نَائِي الدَّارِ وَالنَّفَرِ
وَمُحْرِمٍ أَشْعَثٍ لَمْ يَقْضِ عُمْرَتَهُ	❁	يَا لَلرِّجَالِ وَبَيْنَ الْحِجْرِ وَالْحَجَرِ
إِنَّ الْحَرَامَ لِمَنْ تَمَّتْ كَرَامَتُهُ	❁	وَلَا حَرَامَ لِثَوْبِ الْفَاجِرِ الْغُدَرِ

oاے قریشو ! د یو مظلوم سړی مال په مکه کی نیولے شویدے چه کور او قوم ئے ډیر لرے دے۔

o او داسے مُحْرِم دے چه پراگنده ویښتو والا دے، عُمره ئے هم لا نهٔ ده پوره کړے، اے خلکو ! ددهٔ مدد وکړئ او دا لا د حطیم او د حجر اسود ترمینځ ولاړ دے،

o یقیناً عزت خو د هغه انسان دپاره وی چه د هغه عزت او شرافت پوره وی او د بدکاره دوکه باز انسان د جامے دپاره هیڅ عزت نشته۔

نو دے سړی پدے اشعارو کی قریشو ته اشارے وکړے چه په مکه کی ډیر بدکاره وسیړی دوی ته حَرَم څه فائده نهٔ ورکوی، د حَرَم په وجه د دوی څه عزت دے چه کله دوی د یو مسافر مدد نشی کولے؟!۔

نو عرب خلك خو ډیر غیرتیان وو پدے کی د بنو هاشمو نه درے څلور کسانو په خپل مینځ کی دا لوظ وکړو چه اول په هغوی کی زبیر بن عبد المطلب راغلو (چه دا د نبی کریم ﷺ تره دے او د شرك په زمانه کی تیر شویدے) دا اُودریدو او دوه درے کسان نور هم ورسره ودریدل او دوی په ځان باندے خوشبوئی هم ولگوله پدے وجه دے قسم ته (حِلْفُ الْمُطَيِّبِيْن) هم وائی۔ او دا قسم ئے وکړو چه هر مظلوم چه د بهر نه مکے ته راشی یا په مکه کی وی او خلك پرے ظلم وکړی، مال او عزت ترے اخلی نو مونږ به په شریکه د هغه مظلوم سره مدد کوو او د ظالم مقابله به کوو او خپل دا قسم ئے داسے مضبوط کړو وے وئیل چه ترڅو پورے په دریاب کی دومره اُوبه موجود وی چه ورهٔ پرے لمدیږی تر هغه وخته پورے به مونږ په خپل قسم کلك ولاړ یو او ترڅو چه غرونه ولاړ وی تر هغه وخته پورے به مونږ په خپله وعده ټینګ یو، عرب ډیر غیرتیان او د

لوظ پابند خلك وو.

د بعض روایتونو نه معلومیږی چه دوی د زمزم اُوبه په یوه کاسه کی واچولے او بیا ئے بیت الله ته ولیږلے او د بیت الله گوټونه ئے پرے وینځل او بیا ئے دغه اُوبه راوړے او دوی په شریکه وڅکلے.

پدے کی ډیر مضبوطوالی ته اشاره وه چه مونږ به پدے خبره ډیر کلك ولاړ یو.

(الاکتفاء بما تضمنه من مغازی رسول الله و الثلاثة الخلفاء ۱/۶۲) لابی الربیع الاندلسی)

پدے کی دوی نورو خلکو ته دعوت ورکړو چه تاسو مونږ سره پدے قسم کی داخلیږئ؟ نو په دے وعده کی ډیر کسان راغلل، یو ویل چه زهٔ پکی داخلیږم بل ویل زه پکی داخلیږم، ډیر خلك راجمع شول رسول الله ﷺ خپله پدے حلف الفضول کی داخل شویدے هغه وفرمایل: چه زهٔ هم پدے خبره مضبوط یم چه د هر مظلوم مدد به کوم مالی مدد وی که د هغوی د عزت وی که هر قسم مددونه وی دا به کوو، دا کسان د عبد الله بن جُدعان په کور کی راجمع شو هغه ورله ډیر طعام تیار کړو ځکه چه دا د قریشو یو مشر وو عمر ئے هم زیات وو او شرافت والا هم وو او مالداره هم وو او دا عزتمنه میاشت وه یعنی ذی القعده،

دوی ټول راغلل او عاص بن وائل ته ئے وویل چه دے مسافر ته دا مال ورکړه لیکن هغه نهٔ ورکولو نو دوی ورپسے توری راویستلے چه یا به تا وژنو یا به ځان وژنو نو عاص ویریدو او مال ئے راویستلو او دغه مسافر ته ئے ورکړو.

پدے لوظ باندے به په مکه کی پابندی کیدله چه په چا به معمولی شان ظلم او زیاتے کیدو نو هغه دپاره دے خلکو بدله اخستله او مدد به ئے ورسره کولو.

رسول الله ﷺ به د نبوت نه روستو فرمایل: زهٔ د عبد الله بن جُدعان په کور کی حلف الفضول ته حاضر شوے وم، زهٔ دا نهٔ خوښوم چه ما ته ددے په مقابله کی سرهٔ سرهٔ اُوښان ملاؤ شی او که زهٔ دغه شان کار ته په اسلام کی بیا راوبللے شم نو خامخا به ورځم او د مظلومانو مدد به کوم. (الرحیق المختوم، والاکتفاء، والروض الانف)

(په بعضو خلکو باندے زور راتلل ډیر بنه وی کله چه پرے زور راشی بیا ئے دماغ ځای له راشی، زمونږ بعض خلك د زور مسلمانان وی که هسے مسئلے ورته کوی خبره پرے اثر نهٔ کوی خو چه زور پرے راشی بیا خبره منی، بعض خلك د خالق د زور نه

نۀ یریږی او د مخلوق نه یریږی نوٙ عاص بن وائل السهمی باندے چه کله زور راغے مال ئے ورکړو۔

د عبد الله بن جُدعان د مالداره کیدو واقعه

ددے حلف الفضول دپاره د عبدالله بن جدعان کور مناسب وګنړلے شو ځکه چه یو مشر سړے وو او بل مالداره وو، ددۀ د مالدارئ واقعه په تاریخونو کښ دا راځی چه دۀ ته الله تعالیٰ ناڅاپی مال ورکړے وو۔

د بعض فائدے دپاره ئے رانقل کوو:

عبد الله بن جُدعان په ابتداء کښ ډیر مسکین سړے وو چه پلار د کورنه پدے وجه هم شړلے وو چه دا هسے بیکاره شے دے هیڅ پیسے وغیره نۀ ګټی او د خلکونه قرضونه کوی او په ما باندے ئے اړوی۔

نو عبد الله بن جدعان قرضدارو دومره تنګ کړے وو چه خپلے خودکشئ ته تیار شوے وو چه ځان مړ کړی نو یوه ورځ د ورځو نه صحراء ته لاړو او غرونو ته ورغلو دے دپاره چه په زمری یا پړانګانو باندے ځان مات کړی یا په مارانو باندے ځان وچیچی او د خلکو ددے قرضونو نه ځان خلاص کړی،

نو د خودکشئ په اراده یو ځنګل ته لاړو یو ناؤ ته ننوتو نو یو مار ئے ولیده چه تلک سور اُوږد مار پروت دے، دواړه سترګے ئے د ډیوو په شان بلیدلے، دۀ وویل چه زما حاجت خو دلته پوره کیږی پدے مار باندے به ځان وچیچم او د غمونو نه به خلاص شم نو رُو رُو نزدے کیدو او مار نۀ خوزیدو نو دے حیران شو چه دا چا وژلے دے که څه وجه ده؟ کله چه ورنزدے شو هغه د سروزرو مار وو چه سر زر وو او چا ترے یو مار جوړ کړیدے دے دپاره چه خوك دا سرۀ راونۀ باسی

(لکه پخوا د انګریزانو دا طریقه وه چه بتان به ئے خښ کړل یا نور څه مالونه نو قبر به ئے پرے جوړ کړو دے دپاره چه مسلمانان دا راونۀ باسی ځکه چه مسلمانان د زیارتونو او قبرونو تعظیم لری)

نو دے خلکو هم چرته خښ کړی وو او د مار شکل ئے د څه سرو نه جوړ کړے وو چه

خلك راځي نو ويرېږي به او تښتي به نو دا عبد الله چه ورغے وے ليدل چه سرهٔ دي مار ئے راواخستو او مات ئے کړو او دننه غار ته چه ننوتو نو په هغې کې د جُرهُم قبيلے د بادشاهانو قبرونه وو چه يو د هغوی نه حارث بن مضاض وو کوم چه د خپلو خلکو نه غيب شوے وو او هغوی ته پته نهٔ وه چه کوم خوا تلے دے،

او د هغوی سرونو ته ئے داسے تختے ومونډلے چه په هغے باندے د هغوی د وفات تاريخ او د بادشاهئ مودے ليکلے وے او د هغوی په خوا کې ئے جواهرات او ملغلرے او سره او سپين ډير شے ومونډل نو د هغے نه ئے خپل حاجت پوره کړو او بيا د غار نه رابهر شو او د غار په دروازه باندے ئے څه نخه وکړه دے دپاره چه بيا ورته څه وخت راواپس کيږي نو پدے طريقه سره ډير زيات مالداره شو، دومره ډير مالداره شو چه عامو حاجيانو ته به دهٔ کجورے هم ورکولے او وشکی به ئے هم ورکولے او عام حاجيان به په خوراکونو باندے دهٔ مړول او قريشو ته به ئے هم د هغے نه ډير زيات مال ورکولو نو پدے وجه باندے د قريشو مشر هم وګرزيدو بيا چه به کله ددهٔ سره مال کميدو نو دے به په پته باندے دغه غار ته تللو او خپل حاجت به ئے پوره کولو او بيرته به راواپس کيدو۔

(السيرة النبوية لابن كثير ۱/۱۱٦) وقال: وذكره ابن هشام في التيجان لمعرفة ملوك الزمان)۔

عبد الله بن جُدعان د سيده عائشه رضي الله عنها د خپلوانو او د قوم نه دے د سيدنا ابوبكر صديق رضي الله عنه د پلار د ترهٔ ځوی دے ابوز هير ئے کنيه ده او د بني تيم بن مُرّه قبيلے نه دے تَيمي ورته وائي) نو هغے تپوس وکړو چه اے د الله رسوله! عبد الله بن جُدعان خو به ډيرے زياتے صدقے کولے خلکو باندے به ئے خوراکونه خوړول او ميلمنو له به ئے ميلمستيا ورکوله (او ډيره نيکي او صله رحمي به ئے کوله) آيا دا به ورله د قيامت په ورځ فائده ورکړي؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: دا به ورله فائده نهٔ ورکوی ځکه چه (اِنَّهٗ لَمْ يَقُلْ يَوْمًا: رَبِّ اغْفِرْلِيْ خَطِيْئَتِيْ يَوْمَ الدِّيْنِ) (اخرجه مسلم: ٥٤٠)

(السيرة النبوية لابن كثير)

دهٔ يوه ورځ هم دا نهٔ وو ويلی چه اے زما ربه ماته د قيامت په ورځ ښنه وکړه،

يعنې ددهٔ دا عقيده نهٔ وه چه يوه ورځ د حساب راروانه ده، نو دهٔ د هغې په باره کې د الله تعالىٰ نه يوه ورځ هم بخنه نهٔ وه غوښتے۔

دا مالونه ئے لګولی دی، صدقے ئے کړی دی ميلمنو ته ئے ميلمستوب ورکړے دے

لیکن د خپل نوم اوشهرت دپاره، د قیامت په یره باندے ئے ندی کړی ددے وجے نه د نیك اعمالو د قبلیدو پنځلس شرطونه دی، یو شرط دا دے چه نیك عمل مونږ کوو د قیامت په یره باندے به ئے کوو ددے دپاره به نیك عمل کوو چه یوه غټه ورځ زمونږ په سر راروانه ده او دا عمل ددے دپاره کوو چه زمونږ دپاره د اُور نه جامه او زغره وګرځی، او زمونږ دپاره د خلاصیٔ ذریعه وګرځی، قیامت باندے به ستا نظر وی هله به ستا نیك عملونه اثر هم لری او نیك عملونه به دے د الله تعالیٰ په دربار کی قبلیږی، دے سړی ډیر نیك عملونه کړی وو لیکن الله تعالیٰ ته قبول نشو ځکه چه رَبِّ اغْفِرْلِیْ خَطِیْئَتِیْ یَوْمَ الدِّیْن دعائے نده ویلے چه یا الله ما ته بخښنه وکړے پدغه ورځ باندے۔

الغرض: د عبدالله بن جدعان په کور کی دا حلف الفضول وشو رسول الله ﷺ فرمائی دا ډیر ښائسته قسم وو په اسلام کی که زه چرته ورته اُوبللے شم زه به بیا هم ورشم۔ وجه دا ده چه پدے کی د مظلومانو مدد دے پدے کی د کونډو د یتیمانو او د مسافرو خلکو سره مدد کول دی، زمونږ اسلام هم دا تقاضا کوی چه د داسے خلکو سره مدد وکړے شی، دا حلف د ډیر زمانے پورے قائم وو په اسلام کی هم دننه وو ځکه اسلام داسے خبرے نهٔ رد کوی بلکه د هغے مضبوطوالی کوی۔

د سیدنا حسین رضی الله عنه په واقعه کی راځی چه ددهٔ څه مال د مدینے یو امیر ولید بن عتبه بن ابی سفیان په نوم نیولے وو، دهٔ ورته وویل دا مال مے راکه، هغه نهٔ ورکولو نو سیدنا حسین رضی الله عنه ورته وویل که ته ئے نهٔ راکوے نو (لَاَدْعُوَنَّ بِحَلَفِ الْفُضُوْلِ) زهٔ به هغه کسانو ته آواز وکړم کومو چه په حلف الفضول باندے قسمونه کړی وو، د هغے نسل موجود دے د هغوی بچی نمسی کړوسی موجود دی هغوی به راشی او ستا مقابله به وکړی اودا مال به درنه واخلی،

سیدنا عبدالله بن زبیر رضی الله عنه فرمائی: کچرے سیدنا حسین رضی الله عنه دا آواز اوکړو نو ما دا توره راویستلے ده او د حسین سره به ملګرتیا کوم او د ولید مقابله به کوم تردے چه هغه ته حق ورکړی یا به مونږ شریك مرو، بیا دا خبره مسور بن مخرمه الزهری ته هم ورسیده نو هغه هم دغه شان خبره وکړه، بیا عبد الرحمن بن عثمان بن عبد الله التیمی ته ورسیده نو هغه هم دغه شان خبره وکړه نو ولید ته چه کله دا خبره ورسیده نو هغه ویریدو او خپل مال ئے واپس سیدنا حسین علیه السلام ته ورکړو تردے چه هغه راضی شو۔

(الکامل فی التاریخ لابی الحسن علی الشیبانی ۱/ ۵۷۰)

د نُبَیه بن الحجاج بنځې لره تښتول

دغه شان د خَثْعم قبیلې نه یو تن د حج یا عمرې دپاره مکې ته راغلو او د هغه سره لور وه چه د تهولو ښځو نه ډیره زیاته ښائسته وه نو د هغه نه نُبَیه بن الحجاج په زوره وتښتوله او د هغه نه ئې پته کړه، نو خثعمي وویل: ما سره به ددې سړي په خلاف څوك مدد وکړي؟ چا ورته وویل چه حلف الفضول ته آواز وکړه نو هغه د کعبې خوا ته راغلو ودریدو او داسې آواز ئې وکړو: (یَالَ حَلَفِ الْفُضُولِ)۔

اې د حلف الفضول والا خلکو! راشئ زما مدد وکړئ نو ناڅاپه د هر طرف نه دهٔ ته خلك راغونډ شو او توري ئې راویستلې وې او دا ئې ویل چه تا ته مدد درغلو څه چل دې؟ نو دهٔ وویل: نبیه په ما باندې ظلم وکړو ما نه ئې لور په زوره وتښتوله، نو خلك دهٔ سره روان شو تردې چه د هغه د کور دروازې ته راغلل، نبیه ورته راووتو، نو دوی ورته وویل چه جینۍ راوباسه، خوار شې تا ته پته نشته چه مونږ څوك یو او په کومه خبره مو لوظونه کړیدي؟، هغه وویل: دا کار به وکړم لیکن ما ته ئې د یوې شپې دپاره پریدئ۔ نو دوی ورته وویل: هیڅکله داسې نشي کیدې یو منټ له ئې هم نهٔ پریدو نو هغه ئې ورته راویستله او هغه دغه شان خړ پاتې شو۔

(السیرة النبویة لابن کثیر ۱/ ۲۶۰)

حلف الفضول په اسلام کې دننه قائم وو، رسول الله ﷺ پدې کې هم حاضر شویدې د مسافرو، کونډو، یتیمانو شفقت ورته الله تعالیٰ زړهٔ کې اچولې وو، دا هم یو ښائسته صفت دې چه الله رب العالمین د یو بنده تربیت کوي د مخکې نه۔

د سیده خدیجة الکبریٰ رضی الله عنها په مال باندې د نبی ﷺ شام ته تجارت

نبی ﷺ په دغه طریقه ژوند تیرولو تردې چه کله څلیریشتم پنځه ویشتم کال ته

ورسیدو نو پدے کی ابو طالب ترے مطالبه وکړه چه کور کی غربت ډیر دے، فقر فاقه ده، تهٔ شام ته د تجارت دپاره لاړ شه ځکه تاته معلومات دے چه په مونږه باندے زمانه سخته راغلے ده او د تجارت نه په غیر زمونږ کار نهٔ کیږی،

ددے نه مخکی رسول الله ﷺ گډے بزے د مکے والو دپاره څرولے لیکن د سیرت نه داسے ښکاره کیږی چه کله ځوانئ ته ورسیدو نو بیا تجارت ته نقل شو نو دلته ابو طالب ترے مطالبه وکړه نو د تجارت اراده ئے وکړه لیکن پیسے نشته، تجارت به په څه باندے کوی؟ نو په مکه کی یوه زنانه وه سیده خَدِیُجَه بنت خُوَیلِد رضی الله عنها، ددے زنانه مخکی یو خاوند وو د هغه (عَائِذ) نوم وو او بل خاوند ئے وو (ابو هاله) نو دا د دواړو خاوندانو نه کونډه پاتے شوے وه،

لیکن دا مالداره او شریفه ښځه وه دے به تاجرانو له مال ورکولو چه دا زما پیسے دی په مضاربت باندے ئے واخلئ ماله به ددے دومره گټه راکوئ او تاسو هم ځان له اخلئ، لیکن دا خو زنانه ده دومره تحقیقات خو نشی کولے چه د تاجرانو سره حساب وکړی چه دا مال تا په څو خرڅ کړو او څنگه څنگه، ځکه چه دا خو د بازار نه نهٔ خبریږی نو پدے وجه دے به د خپل مال دپاره داسے امین (امانتگر) شان سړے کتلو چه هغه ته مال ورکړی او مال ورله ضائع نکړی (ډیر کرت یو سړے چا ته مال په مضاربت ورکړی نو گټه خو په ځای پریده چه هغه ترے سر هم وخوری ځکه چه امانتگر خلك خو ډیر کم دی، اکثرو تاجرانو کی د خیانت ماده وی) الله تعالیٰ فرمائی:

﴿ وَاِنَّ كَثِيۡرًا مِّنَ الۡخُلَطَاءِ لَيَبۡغِىۡ بَعۡضُهُمۡ عَلٰى بَعۡضٍ اِلَّا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَقَلِيۡلٌ مَّا هُمۡ ﴾ (ص:۲۵)

(اکثر په مال کی شریك ملگری په یو بل باندے ظلم کوی سوئی د ایمان او نیك عمل والو نه او دا کسان ډیر کم دی)

د اکثرو شریکانو جگړے پیدا کیږی، الله فرمائی چه صحیح امانتگر تاجران او شریکان ډیر کم دی۔

الغرض: خدیجے به امانتگر سړے کتلو چه په مال کی ورله تجارت وکړی، نو ابو طالب هم نبی کریم ﷺ ته وویل چه ته تجارت دپاره شام ته لاړ شه او د خدیجے سره مال ډیر دے هغه به ئے درکړی پدے کی خدیجه خبره شوه چه نبی کریم ﷺ سره خپل

تره څه خبره کړیده تجارت له ئے لیږی او ددهٔ د صدق او امانت او ښائسته اخلاقو نه دا څه نا څه خبره وه نو دے ورته وویل : زهٔ به درله مال درکړم۔ مخکې ما نورو تاجرانو ته په دوه اُوښانو مال ورکړیدے نو تا له به هم دوه اُوښان درکړم او زما دپاره تجارت وکړه نو ابو طالب ورته وویل : دوه اُوښان کم دی، د محمد (ﷺ) دپاره مونږ په دوه اُوښانو نهٔ راضی کیږو۔

خدیجې وویل څلور اُوښان به ورته ورکړم، نو ابو طالب وویل :صحیح ده نو د مزدورئ په شکل ئے ولیږلو چه څلور اُوښان ستا مزدوری شوه او مال چه څه ګټه وکړه هغه به زما وی دیته اجاره وائی دا د مضاربت صورت نهٔ دے ځکه چه په مضاربت کی (په بعض صورتونو کښ) معینه ګټه اخستل حرام وی بلکه داسے به وائی چه د ګټے نیمه، یا دریمه یا څلورمه یا پنځمه حصه به راکوے۔

نو دلته ئے رسول الله ﷺ د اَجِیر (مزدور) په شکل ولیږلو چه دا کار وکړه تا له به دومره پیسے درکوم نو رسول الله ﷺ پدے باندے راضی شو او شام ته ئے سفر شروع کړو، خدیجې (رضی الله عنها) ورسره خپل غلام هم ولیږه چه مَیْسَره د هغه نوم وو،

رسول الله ﷺ ددے نورو تاجرانو نه عجیب او بدل طرز اختیار کړو مکه کی چه کوم سامانونه وو مثلاً دلته به څرمنے خرڅیدلے یو شے بل شے، بعضے سامان ئے د مکے نه ځان سره واخستو شام ته ئے ویوړو او هلته ئے خرڅ کړو او په شام کی چه کوم سامانونه وو هغه ئے واخستل مکے ته ئے راوړل چه دلته به هغه نهٔ ملاویدل۔

عامو تاجرانو به دا کار کولو چه دے ځای نه به ئے مال ویوړ او شام کی به ئے خرڅ کړو پیسے به ئے راوړلے او یا به ئے ددے ځای نه پیسے ویوړے د هغه ځای نه به ئے مال راوړو د یو طرف نه به ئے تجارت کولو او نبی کریم ﷺ به د دواړو طرفونو نه تجارت کولو ددے وجه نه الله تعالیٰ ورته مال هم ډیر ورکړو او برکت ئے ورله پکی ډیر واچولو۔

مَیْسَرَه ورسره روان دے په لاره باندے ګوری چه د نبی علیه السلام عجیب احوال دهٔ ته ښکاره کیږی:

(۱) یو د هغے نه دا ووچه په ګرمئ کی مزل ووچه کله دوی روان دی دوه ملائک راځی او په نبی کریم ﷺ باندے سورے کوی او میسره ئے کله کله وینی چه دوه ملائک دی، او وزری ئے کولاؤ کړیدی او په نبی کریم ﷺ باندے سورے کوی یو

ناشناحالت ئے ولیدو۔

(۲) بل د نبی کریم ﷺ د حسن سُلوك او اخلاق او دده د ملگری سره رِفق او نرمی چه د غلامانو سره د خلکو طرز دا دے چه سختی کوی په قهریږی ورته، غلامان سپك گنړی، د عربو عادت دا وو چه غلامان ئے سپك او ذلیله گنړل نبی کریم ﷺ د میسره سره داسے ښائسته سلوك کوی لکه د استاذ یا د یو مشر او عزتمند سړی سره ئے چه کوی۔

هغه هم تعجب وکړو چه دا څنگه انسان دے نور عرب د غلامانو سره سختی کوی او دا ما داسے گنړی لکه خپل مشر رور یا د پلار پشان دومره اکرام زما کوی هغه هم د هغه د ښو اخلاقو نه ډیر متاثره شو،

شام ته چه لاړو دے گوری چه دا نبی د خلکو سره ډیره ښائسته او په ښو اخلاقو معامله کوی، سختی نۀ کوی نو پدے وجه باندے ډیر خلك په دۀ باندے رامات وو، څیزونه ئے ترے اخستل او خرڅول ئے هم۔

(دا طریقه وه چه د دوکاندار اخلاق نیك وی خلك په هغه ډیر رامات وی دهغه د خوش اخلاقئ، د هغه د صدق او امانت او د هغه د ښه سلوك په وجه الله تعالیٰ د خلکو زړه کی اچوی او خلك هغه ته ډیر زیات راځی)

نبی کریم ﷺ باندے هم خلك ډیر زیات رامات وو،

(۳) پدے لار کی دا واقعه راغله کله چه رسول الله ﷺ شام ته نزدے شو هغه بحیرٰی راهب مړ شوے وو څکه چه ډیر وخت تیرشویدے، لس دولس کاله تیر شوی دی، د هغه په ځای باندے یو بل عابد مقرر شویدے نبی کریم ﷺ د هغه د عبادتخانے خوا ته د یوے ونے لاندے دمه وکړه نو دغه راهب (عابد) چه ولیدل نو میسره ته راښکاره شو او وے وئیل چه تا سره دا سړے څوك دے چه ددے ونے لاندے کیناستو؟ هغه ورته وویل: دا یو قریشی سړے دے د اَهْلِ حَرَم نه دے، نو راهب ورته وویل :

ددے ونے لاندے نۀ کینی مگر نبی، د پخوانو کتابونو نه مونږ ته معلومه شویده چه آخرنے نبی به ددے ونے لاندے کینی، الله تعالیٰ دے ونے ته دا یو خصوصیت ورکړے وو چه ددے لاندے بل هیڅوك نۀ دے ناست په غیر ددۀ نه نو دے سړی کی د نبوت دا بله نښه ښکاره شوه۔

دے دویم راهب هم د نبی کریم ﷺ د نبوت اقرار وکړو لکه مخکنی راهب بحیرئ چه کړے وو، لیکن مخکنی عامو قریشو دا خبره آوریدلے ده او دلته صرف مَیْسَرَه واوریده چه د خدیجے غلام دے۔

پدے کی نبی کریم ﷺ شام ته لاړو ښه اخلاق ئے د خلکو سره وچلول د هغه ځای نه واپس راغے الله رب العلمین ورله ډیره ګټه ورکړه او خدیجے ته ئے چه کله مال ورکړو ډیره خوشحاله شوه ځکه مال ئے ورته مکمل راورسولو او فائده هم پکی ډیره شوے وه کله چه نبی کریم ﷺ راورسیدو خدیجی په هغه کی یو کرامت ولیده هغه دا چه دا په خپله کړکئ کی راښکاره شوے وه او عرب تول صحراونه ووچه وے لیدل نبی کریم ﷺ او ددے غلام میسره را روان دی او د بره نه پرے ملائك سورے کوی نو هغے ته هم الله تعالیٰ دا نظاره وښودله دا کرامت د رسول الله ﷺ ئے ورښودو هغے هم تعجب وکړو نورو زنانو ته ئے اشاره وکړه چه راشئ ددے سړی دپاسه ملائك را روان دی او هغه پرے سورے کوی د ګرمئ نه ئے بچ کوی هغے د نبی کریم ﷺ پدے حال باندے ډیر زیات تعجب وکړو

کله چه نبی کریم ﷺ مکے ته راورسیده میسره لاړو خدیجی ته ئے د سفر توله واقعه بیان کړه او د راهب خبره ئے هم ورته وکړه او د وریځے د سوری کولو خبره ئے هم وکړه نو د خدیجی رضی الله عنها په زړه کی الله تعالیٰ دا خبره واچوله چه دا شخص (محمد رسول الله ﷺ) په نکاح اخستل غواړی، الله پاك یو ترتیب برابروی۔

سیده خدیجه رضی الله عنها پدے وجه د نکاح اراده وکړه چه دا سړے صادق او امین دے، د امانت خیال ساتی بل دومره برکت په تجارت کی مونږ د بل چا نه ندے لیدلے او دا ئے هم لیدلی وو چه ملائك ئے په سر باندے سورے کوی،

بل دے خپل غلام میسره هم ورته بیان وکړو چه د محمد رسول الله ﷺ په شان انسان ما چرته ندے لیدلے، داسے ښه اخلاق، ښه سلوك او دده په بیع او شراء کی نرمی۔

نبی کریم ﷺ خپله هم فرمایلی دی:

(رَحِمَ اللّٰهُ رَجُلًا سَمْحًا اِذَا بَاعَ سَمْحًا اِذَا اشْتَرٰی سَمْحًا اِذَا اقْتَضٰی)

(بخاری: ۲۰۷٦) وابن ماجه (۲۲۰۳) واللفظ له)

(الله تعالیٰ دے په هغه سړی رحم وکړی چه یو شے خرڅوی هم په نرمئ او په ښه

اخلاقو او که اخلی ئے هم په اخلاقو او چه قرض طلب کوی هم په ښه اخلاقو)،
په پخوانو امتونو کی یو سړے وو چه قبر ته لاړو نیك عمل ئے نهٔ وو کړے صرف ایمان پکی وو ملائکو ورته وویل نیك عمل پیش کړه مونږ دے پریږدو هغه وویل ما هیڅ هم ندی کړی ملائکو ورته وویل: لږ سوچ وکړه هغه سوچ وکړو نو وے وویل : ما به د خلکو سره بیع شراء کوله، (ځیزونه به مے خرڅول اخستل) چه چا به زما نه سامان واخستلو نو په قرضو به مے ورکولو چه خیر دے میاشت پس پیسے راکړه، پنځلس ورځے روسته ئے راکړه لس ورځے پس ئے راکړه بیا به مے چه کله غلامان وړپسے ولیږل دا به مے ورته ویل خیر دے نیم قرض ترے راوړه ټول ترے مهٔ راوړه او کچرته مسکین سړے وو څه نا څه پیسے ورته پریده نو الله تعالیٰ ملائکو ته وویل :
(تَجَاوَزُوْا عَنْ عَبْدِیْ) زما دا بنده پریدئ ده له سزا مهٔ ورکوی (فَنَحْنُ اَحَقُّ بِذَا مِنْكَ) الله تعالی فرمائی زه ډیر لائق یم پدے تجاوز او معافی او آسانئ باندے ستا نه. چه تا زما د بندگانو سره آسانی کړے ده اخلاق دے ورسره چلولی دی زه به تاسره آسانی وکړم چه د قبر عذاب او د آخرت د عذاب نه بچ شے.
(بخاری: ۲۰۷۸ ومسلم:٤٠٧٧)

دا انسان الله تعالیٰ صرف په اسلام او د الله تعالیٰ د مخلوق سره په بیع شراء کی په نرمئ او اخلاقو بښلے دے، ددغه سړی نور څه نیك اعمال نهٔ وو نو ځوك چه دکانداری او اخستل خرڅول کوی ښه اخلاق زده کول پکار دی نهٔ دا چه یو سړے ورسره خوا کی ودریږی او دا ورته غصه شی چه څه دپاره زما د دکان مخے ته ولاړ ئے کله په سامان راکوزولو گاهك ته غصه کیږی بعض خلك داسے وی چه قرض ئے په چا واوړی نو بیهخی ئے وژنی او ورته وائی ښځه خرڅه کړه او ماله پیسے راکړه دا د اسلام طریقه نهٔ ده بلکه اخلاق پکار دی.
نو مَیُسَره خدیجے ته د نبی کریم ﷺ اخلاق هم بیان کړل نو هغه نوره هم متأثره شوه.

د سیده خدیجی رضی الله عنها سره نکاح

سیده خدیجه رضی الله عنها په قریشو کی ډیره بهترینه زنانه وه د نسب په لحاظ، د

جمال په لحاظ، د مال او د عقل او د رائے په لحاظ سره ډيره کامله ښځه وه، ديته به خلکو خِطبي (جرگے) رالیږلے چه ما په نکاح واخله دے به رد کولو او پلار به ئے هم رد کولو چه دا زهٔ چا له نهٔ ورکوم دے به ويل زما څلويښت کاله عمر دے زه خاوند نهٔ کوم، د خاوند اراده ئے هم نهٔ وه ډيرو خلکو به مطالبے کولے پيسے به ئے ورته پيش کولے ليکن دے به د نکاح نه انکار کولو۔

مګر دے وخت کې ئے د رسول الله ﷺ سره مينه پيدا شوه، الله تعالیٰ ورته د خير اراده کړے وه سيده خديجه رضي الله عنها د خپل زړه دا حال خپلے يوے ملګرے (نَفِيسَه بنتِ مُنيَه) ته وويلو (چه دا د يعلیٰ بن مُنيَه تميمي خور ده) او هغه ئے وليږله چه ته لاړه شه او سيدنا محمد رسول الله ﷺ باندے ما وروپيش کړه نو دا لاړه د نبی کريم ﷺ خوا کې کيناسته ورته وے فرمايل :

(يَا مُحَمَّدُ هَلْ لَكَ أَنْ تَتَزَوَّجَ يا - مَالَكَ أَنْ لَّاتَتَزَوَّجَ)

آيا ستا شوق شته چه نکاح وکړئ، يا ولے ته نکاح نهٔ کوے؟

نبی کريم ﷺ وفرمايل : څه نشته چه نکاح پرے وکړم ځکه نکاح څه نا څه مال او خرچه غواړی هغه ما سره نشته، نو هغے ورته وويل :

(هَلْ لَكَ فِي الْجَمَالِ وَالْمَالِ وَالنَّسَبِ)

آيا ستا شوق شته دے چه داسے زنانه درله وکړم چه ښائسته هم وی مالداره هم وی او نسب ئے هم ډير اُوچت وی؟

هغه وويل دا به څوك وی ؟ هغے وويل : سيده خديجه رضي الله عنها نو نبی کريم ﷺ وفرمايل : هغه به ما وکړی څه هغه خو ډيره اُوچته زنانه ده ډير خلك ئے غواړی چا له ځان په نکاح نهٔ ورکوی زه خو ډير غريب يم؟ نو هغے زنانه (نفيسے) ورته وويل : ددے ذمه واره زه يم، دا درله زه کولے شم۔

پدے مابين کې هغے تلل راتلل وکړل او خبره ئے جوړه کړه، رسول الله ﷺ دا خبره ترونو ته ذکر کړه نو د هغه سره ترونه ملګری شو يو په هغے کې ابو طالب لاړو او بل حمزه بن عبد المطلب رضي الله عنه څوك وائی بل يو تره زبير هغه لاړو خو د تاريخی روايتونو نه معلوميږی چه خطبه د نکاح ابو طالب وويله او دا د عربو عادت وو او د ابراهيم عليه السلام نه سنت پاتی وو چه په نکاح کې خطبه ويل پکار دی چه نکاح ترې اول

به خطبه وائی کومه چه مسنونه خطبه ده (إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِيْنُهُ الخ)
(د خطبی نه روستو به نکاح وتړل شی، د بعضے ناپوهه مولیانو طریقه دا ده چه اول نکاح وتړی بیا روسته خطبه وائی ددے داسے مثال دے لکه سړے تقریر وکړی او د تقریر په آخره کی خطبه وائی دا ناپوهی ده).

ابو طالب خطبه وویله او د بل طرفنه د خدیجی رضی الله عنها تره (عمرو بن اسد) خدیجه په نکاح باندے ورکړه، ځکه چه دا ئے ولی وو او خپل پلار (خُوَيْلِد بن اسد) پدے زمانه کی وفات شوے وو لکه دا معتمد روایت دے او سیده خدیجه رضی الله عنها نبی کریم ﷺ ته په نکاح شوه او شل اُوښان ئے مهر مقرر کړو چه دا ترونه به ئے ورکوی نبی کریم ﷺ سره خپله نۀ وو خو د ترونو په ذمه شو چه هغه به ئے ورکوی، سیده خدیجه رضی الله عنها نبی کریم ﷺ ته په نکاح شوه چه ددے عمر پدے وخت کی څلویښت کاله وو او د رسول الله ﷺ عمر پنځه ویشت کاله دے.

بیا د سیده خدیجه رضی الله عنها فضلیت دا دے چه رسول الله ﷺ ددے په ژوند کی بله ښځه نۀ ده کړے په همدے یو ډیٔ ښځه باندے ئے اکتفاکړیده ډیر کلونه ئے ددے سره تیرکړیدی، د رسول الله ﷺ سره دا وه تردے چه د هغه د نبوت پنځه شپږ کاله تیر شو نو بیا دا وفات شوه تقریباً شل کاله ئے ددے سره تیر کړیدی او خپله ځوانی ئے زیاته ددے سره تیره کړیده. نو یو فضلیت ئے دا شو چه پدے باندے ئے بله ښځه (بنه) نۀ ده راوستے.

د دینه دا خارجی مسئله معلومیږی چه رسول الله ﷺ چه دا کوم نکاحونه کړی دی دا هسے د خواهشاتو دپاره نه وو لکه بعضے کافر وائی او پدے وخت کی د یهود او نصاریٰ ؤ طریقه دا ده چه دساده مسلمانانو په ذهن کی د محمد رسول الله ﷺ قدر کموی په مختلفو طریقو باندے، کله ورله په اخبار او انټرنیټ کی ګنده شان تصویر جوړ کړی او د نبی کریم ﷺ نوم ورته ولیکی، کله ورله د داړه مارو او دهشت ګردو شکل جوړ کړی دے دپاره چه د خلکو د زړونو نه د هغه عظمت وځی، کله کله پرے دا اعتراض کوی چه ډیرے ښځے ئے ولے کړیدی؟

مونږ وایو: دا ئے ډیر ښه کارکړیدے الله تعالیٰ ورله اجازه ورکړیده د هغه رسول دے د چا په کی څه کار دے چه هغه پدے ډیرو ودونو خفه کیږی، پخوانو انبیاء علیهم

السلام ته هم الله تعالیٰ ډیرے بیبیانی ورکړے وے۔
بل جواب دا دے چه نبی کریم ﷺ د خپلو خواهشاتو دپاره دا نهٔ دی کړی بلکه د مختلفو حکمتونو دپاره ئے کړیدی نبی کریم ﷺ د امت داعی دے، غټ دعوت ورپه غاړه دے، یو تن بی غمه ناست وی او بل ته امت ورپه غاړه وی آیا دا دواړه برابر دی؟ هیڅکله نهٔ، رسول الله ﷺ ته سړی، زنانه، ماشومان، عرب او عجم د ټول امت تربیت او دوی ته صحیح دعوت ورکول ور په غاړه وو نو ددے دپاره ورسره ملګری پکار دی چه پدے دعوت کی ورسره مدد او مرسته وکړی نو رسول الله ﷺ ددے دپاره ډیر نکاحونه کړیدی۔
دارنګه رسول الله ﷺ ډیر نکاحونه ددے دپاره کړیدی چه د یوے ځینیٔ د موز او پلاز سره ئے مینه نوره هم زیاته شی لکه د سیدنا ابوبکر رضی الله عنه لور سیده عائشه رضی الله عنها ئے څکه په نکاح واخسته چه د سیدنا ابوبکر رضی الله عنه عزت اُوشی څکه چه دهٔ د رسول الله ﷺ ډیر اکرام کړیدے، د محمد رسول الله ﷺ په نکاح کی د یوے زنانه راتلل دا ډیره لویه خبره ده۔
کله کله ئے پدے مقصد نکاحونه کړی وو چه د عربو عادت وو چه د خپل زوم به ئے داسے عزت کولو لکه د خپل بچی، دهغه نه به ئے داسے دفاع کوله لکه د خپل بچی پدے وجه قرآن کریم کی راځی: ﴿ اِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبٰى ﴾ (الشوریٰ:۲۳)
(نبی ﷺ به دوی ته وئیل چه تاسو زما سره د خپلولیٔ د وجه نه مینه وکړیٔ)
نبی کریم ﷺ د مختلفوعربو نه نکاحونه کړی وو ددے دپاره چه د دوی زما سره مینه پیدا شی نو دا دعوت به زما اُومنی او اسلام کی به داخل شی او دوی دپاره به ذریعه د خیر وګرځی پدے وجه بو ډیٔ ګانے زنانه ئے په نکاح اخستے دی، بی واده جینیٔ ئے هم کړی ده سیده عائشه رضی الله عنها د نهوکالوپه عمر وه چه بلوغ ته لانهٔ وه رسیدلے هغے کی به د خواهشاتو څه مسئله وی؟ بلکه خواهشات پکی نهٔ وو صرف د سیدنا ابوبکر رضی الله عنه رضاکول مقصد وو، او د سیده عائشے رضی الله عنها کور ته راوستل ددے دپاره وو چه علم زده کړی او مدرسه کی لویه شی۔ لکه دا خبره به د عائشه رضی الله عنها د نکاح په بیان کی راشی ان شاء الله تعالیٰ۔
رسول الله ﷺ چه ډیرے بیبیانے کړی وی د مختلفو حکمتونو دپاره دعوت مقصد

وو، ځان طرفته د خلکو راغب کول مقصد وو، کله کله د یوے زنانه اکرام کول لکه د سیده ام حبیبه رضی الله عنها سره ئے پدے وجه نکاح وکړه چه دے د خپل خاوند سره حبشو ته هجرت کړے وو (عبید الله بن جحش) او هغه ترے هلته نصرانی کافر شو او بیا مړ شو، هغه خپلے ښځے ته هم دعوت ورکړو چه راځه نصاریٰ به شو هغے وویل چه ما په محمد ﷺ باندے ایمان راوړیدے ښه په بصیرت سره، زۀ داسے د تږقو مسلمانه نۀ یم چه په معمولی خبرو د دین نه اوړم،

(لکه د بعضو خلکو د دوو پیسو لانجه راشی بیا د قرآن او د حدیث نه وتښتی مونږه ایمان په بصیرت راوړے دے مونږ محمد رسول الله ﷺ پیژندلے دے چه حق رسول دے، نو فکر وکړه چه د یوے ښځے خپل خاوند ته داسے جواب ورکول او د خاوند کافر کیدل او د هغه سره نکاح ماتیدل او دا یواځې په صحرا کی پاتے کیدل دا ډیره گرانه خبره ده)۔

نو نبی کریم ﷺ ته چه دا خبره راورسیده نو ددے ښځے اکرام ئے وکړو او نجاشی بادشاه ته ئے وویل دا ما ته په نکاح راکړه صرف خپله نکاح کی ئے دے دپاره راوسته چه ددے عزت اوشی ځکه د رسول الله ﷺ په نکاح کی راتلل دا څه وړه خبره نۀ ده، نجاشی بادشاه راولګیدو سیده ام حبیبه رضی الله عنها ئے نبی کریم ﷺ ته په نکاح کړه، او خپله ئے خطبه وویله او څلور سوه دیناره چه څلور زره درهمه ترے جوړیږی دا ئے په مهر کی ورکړل نو د نبی کریم ﷺ د طرفه هغه مهر ورکړو ځکه بادشاه ووخطبه ئے وویله بیا خلکو د پاڅیدو اراده وکړه نو هغه وویل کینئ دا د انبیاؤ سنت دے چه کله اوله کی نکاح وتړل شی څه خوارۀ میټهائی تقسیمول پکار دی (گوره ماتے چه خلك ورته وائیٰ دا سنت عمل دے) پخوا به خلکو گوړه ماتوله اُوس څوك چائے او میټهائی ورکوی دا ښه کار دے دا صحیح طریقے دی زمونږ دین کی شته دے،

الغرض: کفار دا کوشش کوی چه د خلکو په اسلام باندے بدگمانی پیدا کړی او د پیغمبر شان د مسلمانانو په نظر کی خکته کړی حال دا چه زمونږ عام مسلمانان ددین مطالعه نۀ لری او نۀ د علماؤ سره کینی چه د هغوی نه د خپل دین حقائق معلوم کړی۔ مقصد دا چه د سیده خدیجه رضی الله عنها سره پدے طریقه نکاح اوشوه۔



فضائل خدیجة رضی الله عنها

سیده خدیجه د رسول الله ﷺ اولنۍ ښځه وه چه په نکاح ئې واخسته او هغې ته ئې په مهر کې شل اُوښان ورکړل، یو کال دوه روسته د نبی کریم ﷺ د دینه بچې پیدا شو اولنے بچے د نبی کریم ﷺ قاسم پیدا شو، د رسول الله ﷺ اسم کنیه هم پدهٔ باندے وه (ابو القاسم ﷺ)، لیکن په دوه کالو کې دننه دا بچے وفات شو۔

بعضو تواریخو کې راځي چه شپږ اوه کالو پورے ژوندے وو په مکه مکرمه کې بیا وفات شو، د هغې پسے ئې بیا لور وشوه (سیده زینب رضی الله عنها) چه دا ئې مشره لور وه، بیا د هغې نه روستنه (سیده رقیه رضی الله عنها) بیا د هغې نه روسته (سیده فاطمه رضی الله عنها) پیدا شوه بیا (ام کلثوم رضی الله عنها) پیدا شوه څلور اولاد ئې اُوشو او چه کله محمد رسول الله ﷺ نبی جوړ شو او څلویښتو کالو ته ورسیدو چه دا د نبوت اولنے کال دے نو یو ځوی ئې پیدا شو د هغه نوم (عبدالله) وو چه ددهٔ دوه نومونه نور دی «طیب» او «طاهر» نو عبد الله، طیب او طاهر درے نومونه د یو تن دی بیل بیل کسان نهٔ دی،

نو د نبی کریم ﷺ درے ځامن وو څلور لونړه وې یو ځوی ئې روسته په اتم کال د هجرت باندے په مدینه کې پیدا شویدے چه هغه د ماریه قبطیه نه وو د هغه ابراهیم نوم وو، د هغې واقعه روسته راځي ان شاء الله چه ماریه یوه زنانه وه چه د مِصر نه مُقَوقِس بادشاه نبی کریم ﷺ ته هدیه کې رالیږلې وه او دا وینځه وه د هغې نه د نبی کریم ﷺ دا (ابراهیم) ځوی پیدا شو او دا اولسو میاشتو پورے ژوندے وو بیا وفات شو د شوال په میاشت کې چه ددهٔ نه رسول الله ﷺ شپږ میاشتے روستو وفات شویدے ځکه چه د شوال نه تر ربیع الاول پورے شپږ میاشتے جوړیږی دا د بوداوالی بچے دے او داسے بچے سړی ته ډیر ګران وی،

کله چه ابراهیم (رضي الله عنه) وفات شو نو نبی کریم ﷺ په هغه باندے ډیر زیات غم ښکاره کړو، د سترګو نه ئې اُوښکے اُوبهیدلے صحابه کرامو ورته وویل چه تهٔ هم ژاړے اے د الله رسوله !؟ هغه وفرمایل: دا رحمت دے،

(دا د زړه د نرموالي نښه او د مسلمان حق دے چه هغه پسے خفګان وکړے شي لیکن تیزه ژړا بـه نـهٔ کوی، جزع فزع او شکایتونه به نهٔ کوی، د الله د تعالیٰ د حدودو پابندی به کوی)۔

د خـدیـجـې رضی الله عنها بل فضلیت دا ووچه د رب العالمین د طرفه سلام په هغې بانـدے راغلے وو چه دا عزت الله رب العزت په مخ د زمکه باندے یوے زنانه ته هم ندے ورکـړے چـه الله پرے سلام رالیږلے وی په غیر د سیده خدیجه رضی الله عنها نه، سیدنا جبریل علیه السلام سلام راوړو نبی کـریـم ﷺ ته ئے وویل چه خدیجه ته د الله تعالیٰ د طرفه سلام ووایه او زما له طرفه هم ورته سلام ووایه۔

(وَبَشِّرْهَا بِبَيْتٍ فِي الْجَنَّةِ مِنْ قَصَبٍ لَاصَخَبَ فِيهِ وَلَانَصَبَ) (بخاری: ۱۷۹۲)

او هغې ته زیرے ورکړه په یو کور په جنت کی چه د ملغلری نه به جوړ وی نهٔ به پکی شور وی نهٔ پکی ستړی والے۔

بل فضلیت ئے دا وو چه دا (أَوَّلُ مُؤْمِنَةٍ عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ بَعْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ)

(په مخ د زمکه د رسول الله ﷺ نه روسته اوله مومنه همدا ده۔ ځکه چه دے اول په رسول الله ﷺ باندے ایمان راوړے وو او اوله اهل حدیثه ده چه د رسول الله ﷺ حدیث ئے اول منلے دے، ډیره لویـه نـصیبداره او بـخـتـوره زنـانه ده چه الله تعالیٰ ورته داسے فـضیـلـت ورکړو، که انسان په تاریخ نظر واچوی نو همیشه اوله قربانی زنانو ورکړیده پـه اسلام کی اوله مؤمنه دا ده او په اسلام کی اوله شهیده سُمَيّه رضی الله عنها ده او د فـرعـون پـه کُـور کـی اولـه شهـیـده زنـانـه مـاشِطَـه وه چـه د فرعون د زنانو سر بـه ئے کمنځولو)۔

بیا سیده خـدیـجه رضی الله عنها د نبی کریم ﷺ سره وه تردے چه الله تعالیٰ خپل رسول ته نبوت ورنصیب کړو دا د نبوت نه روسته څه زمانه (پنځه شپږ کاله) ژوندئ وه بیا وفات شوه۔

د رسول الله ﷺ سره ئے ډیر زیات مددونه کړیدی، عجیب عجیب مددونه ځکه نبی کریم ﷺ ته ډیره ګرانه وه،

رسول الله ﷺ به ددے د مرګ نه روستو هم ددے ډیرے تذکرے کولے۔

نبـی کـریـم ﷺ بـه د هـغې سره د هغې د مرګ نه روستو هم دومره وفاداری کوله چه

دهغې کومې دوستانې وې د هغوی سره به ئې احسان کولو او چه کله به نبی کریم ﷺ یوه ګډه یا چیلۍ حلاله کړه نو د هغې د دوستانو کور ته به ئې غوښه لیږله (د هغوی اکرام به ئې کولو)۔

سیده عائشه رضی الله عنها نبی کریم ﷺ ته وفرمایل: ته خدیجه دومره یادوې ګویا که په دنیا کې بله ښځه نه وه صرف یوه خدیجه وه! نو نبی کریم ﷺ به فرمایل: (اِنَّهَا كَانَتْ وَكَانَتْ) هغه خو داسې ښځه وه (یعنی هغې کې خو ډیر زیات کمالات وو) او الله تعالیٰ ماته بچې هم د هغې نه راکړی وو)) (بخاری ومسلم)

او عائشه رضی الله عنها دا هم فرمائي: چه ما د نبی کریم ﷺ د بیبیانو نه په یوه زنانه هم دومره غیرت نه وو کړې څومره چه ما په خدیجه رضی الله عنها باندې کړې وو او حال دا چه ما لیدلې هم نه وه څکه چه رسول الله ﷺ به دا ډیره یاده وله۔

(صحیح بخاری ومسلم)

(نبی ﷺ عائشه رضی الله عنها د خدیجې رضی الله عنها د مرګ نه درې کاله روسته په نکاح اخستې وه)۔

یوه ورځ نبی کریم ﷺ د خدیجې د خور (هاله بنت خویلد) آواز واوریدو چه راغله اجازه ئې غوښتله نو نبی علیه السلام ته ددې د آواز نه د خدیجې آواز را یاد شو نو په هیبت کې ئې وویل: (اَللّٰهُمَّ هَالَةُ) چه اې الله! دا خو هاله ده۔ (بخاری ومسلم)

نبی کریم ﷺ د خدیجې د وجه نه په دومره کیفیت کې شو او د هغې د خور په راتللو سره ئې خوشحالي ښکاره کړه۔

سیده عائشه رضی الله عنها وائي زۀ په غیرت کې شوم، ما رسول الله ﷺ ته وفرمایل: تۀ دا څوك یادوې، د قریشو د بوډۍ ګانو نه یوه بوډۍ وه چه سرۀ وښکې ئې وو او پخوا زمانه کې مرۀ شویده او تا ته خو الله تعالیٰ د هغې نه غوره په بدله کې درکړیدې۔(بخاری ۲/۳۱۶)

(دا فطری او دینی غیرت دې چه هره بی بی غواړی چه زۀ رسول الله ﷺ ته ډیره ګرانه شم)۔

(حافظ ابن کثیر رحمه الله لیکی چه دا حدیث دلیل دې چه عائشه رضی الله عنها د خدیجې رضی الله عنها نه غوره وه یا په فضیلت کې یا په ژوند تیرولو کې څکه چه

رسول الله ﷺ پدے باندے انکار ونکړو او نۀ ئے پرے رد وکړو کله چه دے ورته د خدیجې رضی الله عنها په باره کې دغه خبرے ذکر کړے. (السیرة النبویة ۲ ۱۳۴)

د نبی کریم ﷺ د خپلو بیبیانو سره وفاداری ډیره وه دا هم د الله تعالیٰ د دین یوه برخه ده خپلے ښځے ته عزت او اکرام ورکول، د هغے سره وفاداری کول د اسلام یوه اهمه برخه ده، نبی کریم ﷺ کې د مخکې نه دا کمال موجود وو،

نبی کریم ﷺ پدے حالت کې ژوند تیرولو د خدیجې رضی الله عنها د واده نه روستو نبی کریم ﷺ د تجارتونو دپاره سفرے ونکړے بلکه د سیده خدیجه رضی الله عنها مال به ئے راخستلو او تاجرانو ته به ئے په تجارت ورکولو او بیا به ئے ورسره حساب کولو نو پدے طریقه الله رب العزت دے هم مالداره کړو: الله فرمائی:

﴿ وَوَجَدَكَ عَائِلًا فَأَغْنَىٰ ﴾

(ته الله فقیر موندلے وے نو مالداره ئے کړے په سبب د مال د خدیجې رضی الله عنها)

چه هغے سره ډیر مال وو نبی کریم ﷺ به تجارانو له ورکولو او پدے طریقه د سفرونو نه خلاص شو دا هم ډیره ښه طریقه وی چه بنده له الله پاك پدے طریقه مال ورکوی لږ مال گټی خو آسانئ سره ئے گټی او هر وخت د الله تعالیٰ بندگئ ته وزگار وی نو نبی کریم ﷺ الله تعالیٰ پدغه طریقه مالداره کړو.

د غریبئ حالت هم پرے راغلے وو پنځه ویشتو کالونه روسته څه نا څه فراخی پرے الله تعالیٰ راوستله د مالدارئ زمانه پرے راغله، الله تعالیٰ د فقر او مالدارئ دواړه زمانی پرے ولے راوستلے؟ ځکه دا هم تربیت وی، وجه دا ده چه سړی باندے فقر نۀ وی راغلے همیشه مالداره وی او خوراکی وی بیا د غریبانو حال ورته نۀ معلومیږی چه غریب به څنگه وخت تیروی؟ ځکه اسلام مونږ ته وائی روژے ونیسئ په روژه کی تاته د فقیر حال معلومیږی چه لوږه تنده تیرول خو ډیر گران کار دے او دا فقیران ئے هر وخت تیروی، هغه فقیر چه یو ځای ته روان وی او د جیب کرایه ورسره نۀ وی د هغه حال ته لږ سوچ وکړه چه هغه به څنگه وخت تیروی! او تاسره کروړاؤ روپئ دی چه څنگه ځے هغسے تللے شے،

بعضے خلك چه بازار ته لاړشی د لسو روپو کرایه به ولگوی او په پنځه زره تنخوا به میاشت گوزاره کوی او بعضے خلك چه د دغه لسو روپو د کرایه مزل په اندازه بازار

کی چکر وهی دوه زره روپۍ به لګوی پدے کی څومره فرق دے؟!!۔

نو الله رب العزت په نبی کریم ﷺ باندے د فقر حالت هم راوستے دے ددے د پاره چه د غریبانو حال هم وپیژنی د مالدارانو حال هم وپیژنی، د تاجرانو دکاندارانو د حال نه هم خبر شی، په جنګونو کی هم حاضر شویدے، نبی کریم ﷺ باندے د بی واده توب حالت هم راغلے دے، پنځه ویشت کاله بی واده وو بیا د واده حالت هم پرے راغلے دے څکه د واده او نکاح نه روسته د سرې زندګی بدلیږی او د هر یو حالت دپاره خپل خپل صفت پکار دے نبی کریم ﷺ باندے دا حالتونه راغلل تردے چه نبی کریم ﷺ پنځه دیرشتو کالو ته ورسیده نو بیا نور واقعات راغلل :



بسم الله الرحمن الرحيم

بناء الكعبة المشرفة - د كعبې مشرفې جوړول

نبی علیه السلام چه کله د نبوت نه مخکې پنځه دیرش کاله عمر ته اُورسیدو نو پدې وخت کې او ددې نه روستو دوه درې واقعات راغلل چه هغه په احادیثو کې ذکر شویدی او د سیرت په کتابونو کې هم موجود دی۔

یوه واقعه : **بناء الكعبة المشرفة** (زادها الله شرفاً) د کعبې مشرفې جوړول۔

کعبه د ابراهیم علیه السلام د زمانې نه آباده وه لیکن د کعبې په دیوالونو کې نقصان پیدا شوې وو د یو څو وجو نه (۱) اوله وجه دا وه چه سیلاب راغلې وو ځکه چه په مکه کې سیلابونه ډیر زیات وی، غریزه علاقه ده، د ټولو غرونو نه ورته سیلابونه راجمع کیږی او باران ئې هم ډیر تیز وی، باران پکې اکثر نۀ کیږی، او چه اُوشی نو ډیر تیز وی دا د هغه ځای عادت او د الله کار دې۔ نو سیلابونو د کعبې په خوا کې یوه کنده جوړه کړې وه چه تر نن زمانې پورې موجوده وه، د صفا مروه د لاندې پدې ځای تیره شوې وه نو دې کنده کې د سیلابونو د راتلو د وجه نه د کعبې دیوالونو ته نقصان رسیدلې وو۔

(۲) دویمه وجه دا وه چه وخت ئې هم ډیر تیر شوې وو، د ډیرې زمانې نه زړه آبادی وه۔

(۳) دریمه وجه دا وه چه یوې زنانه کعبه کې خوشبوئی لګوله لکه د عُود د لرګی په شان خوشبوئی وه نود هغې د خوشبوئی نه سپرغئ والوتلې او پدې سره د کعبې غلاف اُوسوزیدلو او پدې طریقه د کعبې دیوالونو ته هم نقصان اُورسیدو، ضعف او کمزوری پکې پیدا شوه، راپریوتو ته نزدې شو۔ (السيرة النبوية لابن كثير ۱/ ۲۷۰)

نو د مکې مشرکینو په دار الندوة (مجلسِ مشاورت) کې پدې مشوره اُوکړه چه د کعبې از سرِنو جوړول پکار دی ځکه دا زمونږ د عزت او د شرافت کور او کوټه ده او د ابراهیم علیه السلام زړۀ آبادی ده او د کعبې عظمت هغوی ته د مخکې نه معلوم شوې وو کله چه الله سبحانه وتعالیٰ ابرهه تباه کړې وو۔ نو اتفاق ئې پدې راغلو، چه کعبه جوړه وو لیکن اوله خبره دا ده چه دا به څوك جوړوی؟ ځکه چه مونږ له د دیوالونو د آبادولو

طریقه نهٔ راځي او دا د کانړو آبادي ده، زمونږ آبادیانے د ختو دي۔
دویم دا چه پدے بانـدے د بره نه لرګي اچول پکار دي، دا به د کوم ځای نه راوړو؟ نو ددے دپاره فکرمند شو۔
الله سبحانه وتعالیٰ یو سرے د جدے علاقے نه راوستو، هغه اُووئیل : ما په جَده کي یوه کشتۍ ولیده چه هغه ماته شوے ده هواګانو اړولے ده، او خلقو پرېښودے ده او په یوه جزیره کي پرته ده او ډیر اوږده اُوږده لرګي پکي دي، څوك مالك ئے نشته بس هغه به راوړو۔ نو دوی پدے خبره ډیر خوشحاله شو چه دا خو د الله رب العالمین د طرفه آساني شوه، لرګي پیدا شو، نو په هغے پسے ئے کسان اُولیږل او هغه لرګي ئے راوړل۔ نو د آبادۍ جوړولو د مِعمَار (ګیلکار) په تالاش کي لګیا شو نو پدے کي الله تعالیٰ د روم د علاقے یو مسافر راوستو (بَنَّاءٌ رُوْمِيٌّ) (د روم معمار / ګیلکار) وو د هغه نوم باقوم الرومي وو، دا د ګټو په آبادو پو هیدو نو هغه ئے پیدا کړو۔
اتفاق ئے پدے راغلو چه چنده راجمع کړي، خو شرط ئے پکي دا اُولګولو چه پدے کي به یوه روپۍ هم حرامه نهٔ راوړئ، ځکه د الله حرم جوړه وو، حرامے پیسے لګول خو ډیر ظلم دے نو دا شرط ئے اُولګولو چه (اَنْ لَّا یَکُوْنَ فِیْهَا مَهْرُ بَغِیٍّ) داسے روپۍ به وي چه پدے کي به د زنا کارے ښځے اخستے شوے پیسے نهٔ وي ځکه دا د بعض عربو عادت وو چه هغوی به خپلے ښځے استعمالولے او په هغے به ئے پیسے ګټلے۔
(دلتـه دے کمال ته اُوګوره مشرکان دي، د الله سره برخه داران جوړوي لیکن بیا هم دا سوچ کوي چه حرام استعمالول د الله د کور په جوړولو او پاکو ځایونو کي ښه کار نهٔ دے ځکه دوی کي د پخوانو انبیاء کرامو علیهم السلام د دعوت نه څه نا څه اثر باقي پاتې وو او بعض خبرے په خپل عقل هم معلومیدې)
۲- دویم شرط : پدے کي به د سود مال نهٔ وي ځکه سود هم ظلم دے، هر عقل والا ئے پیژني، که الله حرام کړے هم نهٔ دے نو په هغه وخت کي هم دا معلومه وه چه سود ظلم دے۔
۳- دریم دا چه پدے کي به (مَظْلَمَةُ اَحَدٍ) نهٔ وي یعني د بل چا نه قبضه شوے مال به نهٔ وي۔ (لکه بعض خلق حرام مال راجمع کړي او وائي چه حج به اُوکړو بیا به معاف شو، یو سړے د افیون او چرسو پیسے اُوګټي بیا وائي چه زکات به ترے ورکړو پاکے به

شی، حال دا چه دا خیال غلط دے۔ حدیث کی دی :

(اِنَّ الْخَبِیْثَ لَا یَمْحُو الْخَبِیْثَ)

(مسند احمد ۳۶۷۲ وسنده ضعیف لضعف الصباح بن محمد ومعناه معلوم من الدین)

گنده مال، گنده مال لره نۀ پاکوی او د انسان گناهونه هم پرے نۀ معاف کیږی۔ کـه چا حرام مال د ثواب په نیت او د الله په نوم چا ته ورکړو نو الله به ورله سزا ورکوی ځکـه په گندگئ باندے الله ته څنگه ځان نزدے کوی، نو د حرام مال نه نفرت پکار دے مشرکانو به ترے هم نفرت کولو نو مونږ او تاسو له خو ضرور نفرت پکار دے)۔

نو پـدے طـریقه پیسے راجمع شوے لیکن دا پیسے کمے وے دومره ډیره چنده د دوی سره نۀ وه چه دا کعبه پرے مکمله جوړه شی او حرام مال ورسره ډیر وو ځکه چه تاجران وو لیکن هغه خو ئے نۀ لگولے۔

نو پدے کی دوه خبرے راغلے یو دا چه یا خو به حرام مال راوړو او کعبه به پرے جوړه وو یا بـه دا کـعبـه ورته نیمه کړو یعنی کعبه به وړه جوړه کړو۔ نو پدے اتفاق راغلو چه کعبه به نیمگړے جوړه کړو لیکن حرام مال پکی نۀ شو لگولے۔

فائده : ددے نـه دا شرعی مسئله راووتله چه په مساجدو یا مدارسو جوړولو کی د کـافر نـه چـنـده اخستـل جائـز نـۀ دی لـکـه نن صبا انگریزان (انجیوز) والا خلقو ته د مسـجد جـوړولـو پیسے ورکـوی د غلط مقصد دپاره چه خلق په ځان رامات کړی چه مونږ خو د جماتونو دشمنان نۀ یو۔

ددے وجـه نـه مسـئلـه دا ده چه د دغه پیسو اخستـل داسی دی لکه ایمان خرخول او پیسے اخستل۔ لیکن که پخوا زمانه کی یو کافر یو مسجد جوړ کړے وی، خلقو ترے پیسے اخستلی وی، او ته ناخاپی ورغلے مونځ دِے پکی اُوکړو نو ستا مونځ پکی جائز دے۔ لـکـه بیت الله الحرام د مشرکینو په پیسو جوړ شویدے، او مشرکانو جوړ کړیدے لیـکـن نبی ﷺ وران نـۀ کـړو چـه دا د مشـرکـانو په پیسو جوړ دے او زۀ ئے ورانوم، نۀ بلـکـه پـه هـمـدغـه کـعبـه کـی بـه رسـول الله ﷺ مـونځونه او عبادتونه کول۔ او که مسـلـمان د اول نه مسجد جوړوی نو کافر مشرك ته به د چندے اخستو دپاره نۀ ورځی ځکه آیت دے : ﴿مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِيْنَ أَنْ يَّعْمُرُوْا مَسَاجِدَ اللّٰهِ﴾ (الانفال:۱۷)

(مشـرکـانو لـه نـدی پـکـار چه هغوی د الله جماتونه آباد کړی) مدرسے جوړے کړی

بلکه دا د ایمان او توحید والو کار دے۔

پدے خو اتفاق راغے لیکن اُوس دا زړه کعبه ورانول پکار دی ځکه نوے آبادی بغیر ددے د ورانولو نه نۀ جوړیږی، خو اُوس څوك دے چه دے کار ته اقدام اُوکړی؟،

ټول ددے کار نه یریدل د ابرهه د هلاکت او د بیت الله د حفاظت تاریخ هغوی ته یاد وو نو پدے کی یو شخص د ولید بن المغیره په نوم رامخکی شو

(چه دا هوښیار او د رنګ نه ښائسته او عقلمند او چالاك سړے وو، روستو به راشی چه دۀ د نبی ﷺ سره ډیرے معارضے او بحثونه کړیدی)

ولید اُووئیل: زۀ به اُوخیژم کچرته ما ته مصیبت راورسیدو نو زۀ یو تن یم هلاك به شم او تاسو به بچ شئ او که مصیبت نۀ وو نو تاسو به هم راوخیژئ او په شریکه به ئے ورانه کړو نو پدے کې ولید اول د کعبے سر ته اُوختلو او خلقو دعاګانے کولے او دا ئے وئیل: (اَللّٰهُمَّ لَمْ نَزِغْ، اَللّٰهُمَّ لَمْ نُرِدْ اِلَّا الْخَیْرَ)

اے الله! زمونږ دا اراده نۀ ده چه ستا د حرم بے عزتی اُوکړو، بلکه زمونږ د خیر اراده ده)

نو الله ته ئے دا نیت صفا کولو نو ولید شروع شو یوه ګټه ئے رالرے کړه بیا ئے بله رالرے کړه نو څه تکلیف ورته وُنه رسیدو نو دوی ته ئے اُووئیل:

راځئ شروع شئ نو خلقو ورته اُووئیل: مونږ نۀ درځو ترڅو چه یوه شپه او ورځ تیره شوی نۀ وی ځکه کیدے شی چه په تا باندے نن یا بیګاه له مصیبت راشی (ځکه د الله طریقه دا ده چه انسان ته صبر کوی، حلیم ذات دے) نو مونږ صبر کوو،

نو پدے کی دا ورځ هم تیره شوه او شپه هم تیره شوه ولید ته هیڅ تکلیف ونه رسیده، او کعبه ئے نیمګړے کړیده صبا له ولید راغے او هغه سره خپل بچی هم وو او په کعبه باندے ئے شروع اُوکړه نو نورو مشرکانو له ئے هم مزه ورکړه چه تکلیف نۀ رسیږی او الله پدے کار رضا دے نو ټولو په شریکه دا کانړی لرے کول تردے چه هوار میدان ئے پریښودو نو بنیادونو کنستلو باندے ئے شروع اُوکړه تردے چه د ابراهیم علیه السلام بنیادونو ته ورسیدل نو پدے کی داسے کانړی راوختل (کَأَسْنِمَةِ الْاِبِلِ الْخُضْرَاءِ) شنه شنه کانړی وو لکه د اُوښانو د قوب په شان یو بل سره انختی وو لکه میخونه چه پیرے وهل شوی وی او غونډاری غونډاری کانړی وو نو دے ته ئے مِعْوَل (جبل) ورواچولو،

نو روایتونو کی دوه قسمه خبرے راغی یو روایت کی دی چه د هغے نه ډیره زیاته تیزه چمکداره رڼا راوچته شوه نزدے وه چه دغه سړے ړوند شوے وے۔ تو له مکه مکرمه ئے داسے رڼا کړه لکه چه نمر راوخیژی۔

او بل روایت کی دی چه په مکه باندے زلزله راغله او دا علاقه وخوزیده نو هغوی پدے باندے پو هه شو چه ددے نزول صحیح نهٔ دی او الله پاك ددے نه مونږ منع کوی۔ (ځکه نبی خو نشته چه دوی له خبر ورکړی صرف داسے اشاراتو سره الله تعالیٰ پو هه ورکوله) نو دوی امر اُوکړو چه ددے دپاسه ډے آبادی جوړه کړے شی او هغه زاړه بنیادونه ئے په خپل حال پریخودل او آبادی ئے پرے شروع کړه۔ نو رومی ګیلکار به ګټے کیخودلے او قریشو به وړته ګټے راچلولے او دیوالونه او ګوډونه ئے په قومونو تقسیم کړل چه دا دیوال به فلانے قوم جوړوی او دا بل به فلانے قوم او دے ځای نه تر دے ځای پورے به فلانے قوم جوړوی۔ نو کعبه ئے په خپل ترتیب جوړه کړه او د ابراهیم علیه السلام په شان ئے جوړه نهٔ کړه۔

د ابراهیم علیه السلام په زمانه کی د کعبے ترتیب دا وو چه دوه دروازے ئے وے او دواړه د زمکے سره لګیدلے وے نو په یوه دروازه به ورننوتل او اخوا میزاب (پرنالے) طرف ته بله دروازه باندے به خلق ترے وتل او د کعبے بره چهت نهٔ وو او حطیم په کعبه کی داخل وو، کعبه غټه وه او تقریباً د نهه ګزو په مقدار باندے د هغے پورته دیوال وو۔ نبی علیه السلام فرمائی چه د مشرکینو پیسے کمے شوے نو ځکه ئے دا کعبه نیمه کړه او د حطیم شپږ ګزه مکان ئے ترے بهر کړو۔

او دویم نقصان ئے دا اُوکړو چه د کعبے دپاره ئے یوه دروازه پریخودله او دروازه ئے هم د زمکے نه دومره اندازه اُوچته کړه چه سړے اُودریږی نو سر ئے ایله درشل ته رسیږی او دا ئے ځکه اُوچته کړه چه مشرکینو دا خپل جاګیر ګنړلو چه زمونږ ځوك خوښ وی هغه به ورته ننوځی او چه ځوك مو نهٔ وی خوښ هغه به نهٔ ورځی زمونږ د اجازے نه بغیر (لکه اُوس هم د حُکامو په لاس کی ده چه هغوی ئے چاته کولاووی خوښه ئے ده لکه دے وخت کی بے دینه او فاسقان خلق د ملکونو بادشاهان ورننوځی او متقیان او نیکان خلق نهٔ پریدی اګرکه د هغوی اُوس دے وخت کی عذر هم شته چه که چرته عمومی اجازه ملاؤ شی نو خلق به ازدحام او تیل شروع کړی نو پدے کی د قتل وقتال

خطره ده لیکن اهل حکومت خلق ورپریدی مګر که یو بد عمله انسان کعبې ته ننوځي نو دا د هغه څه کمال نهٔ دے چه هغه وائي زهٔ کعبې ته ورننوتے یم، پدے څوك نهٔ عزتمند کیږی، ابوجهل هم ورداخل شوے دے چه ترڅو په الله باندے صحیح ایمان رانهٔ وړی، د کعبې په ورننوتو نهٔ مسلمانیږی۔

«خر به حاجی نشی په طواف د بیت الله»۔

نو یو ئے دا نقصان اُوکړو چه دویمه دروازه ئے ختمه کړه او چهت ئے ورله د لرګو جوړ کړو او د نبی علیه السلام په زمانه کی په کعبه کی شپږ ستنے وے یو بل ته مخامخ چه قریشو په کی اُودرولے وے او تقریباً مربع شکل کی کعبه تیاره شوه چه اوچتوالے ئے تقریباً (۱۵) متره وو، او قریشو د کعبې نه ګیرچاپیره یو ووړوکے شان دیوال پریښودو چه هغې ته شاذروان وائی، دا په اصل کی د کعبې نه دے لیکن قریشو قصداً د کعبې نه بهر کړیدے نو اوس د طواف په وخت کی دے ته ختل نهٔ دی پکار ځکه چه دا د کعبې نه حساب دے او طواف خو به د کعبې نه بهر کولے شي۔ (الرحیق المختوم)

هرکله چه د حجر اسود په اندازه دیوالونه اُوچت شو نو اُوس د حجر اسود راوړل پکار دی۔

(حجر اسود د جنت نه رالیږلے شوے کاڼړے دے لکه صحیح حدیث کی راځی۔ ابراهیم علیه السلام ته الله تعالیٰ ورکړے وو دا په ابتداء کی تك سپین وو لیکن د بندګانو ګناهونو تورکړو ددے وجه نه ورته حجر اسود (تورکاڼړے) وائی۔

که د الله نافرمانی نهٔ کیدلے نو حجر اسود به تك سپین وے او رڼا به ئے کولے، دارنګه دا وجه هم ده چه هرکله الله تعالیٰ دا کاڼړے دنیا ته رالیږلو نو الله ترے رڼا واخسته ځکه چه د دنیا احوال بدل دی او د جنت بدل دی۔ ولے که پدے کی رڼا وے نو د مشرق او مغرب ترمینځ فضاء به ئے رڼا کولے۔

نو حجر اَسود یو عزتمند کاڼړے دے، دا پدے ځای کیخودل پکار دی دا به څوك اږدی؟ نو عربو کی د شرف او دمشرئ د طلب ماده ډیره زیاته وه، پدے به خوشحالیدل چه اُووئیلے شی چه دا کار فلانی قوم اُوکړو، د شرف او د نوم خبرے په هغوی کی ډیرے زیاتے وے۔ نو پدے کی د دوی اختلاف شو چه دا کاڼړے به څوك اږدی؟۔

هر قوم وئیل مونږ به ئے اږدو نو پدے کی اختلاف دومره سخت شو چه نزدے وه چه

خپل مینځ کی قتال ته خبره رسیدلی وه، توریے د یو بل پسے راوخکلے نو پدے کی اُمَیه بن حرب (د ابوسفیان پلار) چه د علاقے مشر دے، اُووئیل: تاسو قریش د یو قوم خلق رالګیږئ او یو بل وژنئ دا تاسو څومره کم عقل کار کوئ۔ راځئ تحکیم (فیصله به په چا) اُوکړو۔ نو په سری باندے ئے هم اتفاق نهٔ راتلو۔

آخر دا چه دا قانون ئے کیخودو (اَوَّلُ دَاخِلٍ مِنْ بَابِ بَنِیْ شَیْبَةَ) د بنی شیبه په دروازه (چه دا د حرم یوه دروازه ده صفا مروه طرف ته) سهار وختی څوك اول راداخل شی نو په هغه به فیصله کوو۔ سهار کی دوی په انتظار ناست دی۔ رب العالمین اراده کړے وه، په دغه دروازه د دواړو جهانو سردار محمد رسول الله ﷺ راننوتو چه دا پدے وخت کی د پنځه دیرشو کالو په عمر وو، ځوان هلك دے او هغه الصادق الامین چه په ټولو قریشو بلکه په ټولو عربو کی پدے لقب او په تقویٰ او نیکئ او ښائسته اخلاقو مشهور وو، کله چه دوی اُولیدو نو ټولو اُووئیل:

(رَضِینَا الصَّادِقَ الْأَمِیْنَ، رَضِینَا الصَّادِقَ الْأَمِیْنَ)

(مونږ په رشتینی امانتګر انسان چه محمد رسول الله ﷺ دے راضی یو) دا ډیے فیصله اُوکړی۔ الله سبحانه وتعالیٰ د مخکی نه په دوی باندے مشرکولو اوعزت ئے ورکولو ځکه تقدیر خو د الله په لاس کی دے نو دا عزت الله دهٔ له پریخے وو۔

نو دوی نبی ﷺ ته اُووئیل: د حجرِ اسود کیخودو باره کی اختلاف دے ته فیصله اُوکړهٔ نو الله تعالیٰ خپل رسول ته د مخکی نه هوښیارتیا ورکړے وه، کوم سکول او کومه مدرسه کی ئے وخت نهٔ دے تیر کړے د چا سره ئے کوم تربیت نهٔ دے شوے لیکن رب العالمین ورله تربیت کړے دے۔ نو نبی علیه السلام په داسے طریقه فیصله اُوکړه چه ټول خلق ئے خوشحاله کړل او ټول شر او اختلاف ختم شو، دهٔ خپل څادر راواخستو او حجر اسود ئے په کی واچولو او بیا ئے د قریشو د قبیلو مشرانو ته اُووئیل: چه په شریکه باندے دا څادر اُوچت کړئ چه هغه ځای ته ئے یوسو۔ رسول الله ﷺ پخپله ورغلو او د څادر نه ئے کانړے راواخسته او په خپل عزتمند او د برکت او خیر نه ډك لاس سره ئے په هغه ځای کی کیخودو۔ نو ټول قومونه خوشحاله شو او هر یو اُووئیل چه مونږ کیخودو۔

نبی علیه السلام داسے هم کولے شو چه په خپل لاس سره ئے هلته کیدی لیکن په

څادرکې ئې واچولو دے دپاره چه د نورو قومونو عزت هم پکې اُوشي. او دے دپاره چه د یو قوم استبداد او استقلال رانشي. خو د نبي ﷺ تسلط پکې ډیر وو، نو کعبه پدے طریقه جوړه شوه.

رسول الله ﷺ ته پکې الله تعالیٰ دغه عزت ورکړو.

روستـو زمـانه کې کله چه فتح د مکے اُوشوه نو رسول الله ﷺ ام المؤمنین عائشه رضی الله عنها ته اُوفرمایل :

(لَوْلَا أَنَّ قَوْمَكِ حَدِيثُ عَهْدٍ بِجَاهِلِيَّةٍ لَنَقَضْتُ الْكَعْبَةَ وَلَبَنَيْتُهَا عَلَى قَوَاعِدِ إِبْرَاهِيمَ وَلَأَدْخَلْتُ فِيهَا مِنَ الْحِجْرِ وَلَجَعَلْتُهَا عَلَى بَابَيْنِ بَابٍ يَدْخُلُ النَّاسُ مِنْهُ وَبَابٍ يَخْرُجُونَ مِنْهُ)

مسند احمد : ٢٤٧٥٣)

(که چرته ستا دا قوم (قریش) نوی مسلمانان نهٔ وے نو ما به کعبه ورانه کړے وے او د ابراهیم علیه السلام په بنیادونو مے جوړوله او ما د حطیم دا حصه هم پکې داخلوله او ددے دپاره مے دوه دروازے جوړولے چه په یوه دروازه به خلق ننوتلے او په بله به وتلے)

څـکـه کعبے تـه نـنـوتـل سنت طریقه ده چه عمر کې سرے یو ځل ورننوځي او دوه رکعاته پکې اُوکړي.

خو دا خلق اُوس نوی مسلمانان دي د هغوی د خاطره به اُوس دا کار پریدو.

فائده : ددے نـه دا فـائـده مـعلومیږي چه یو شے جائز وي او بل افضل وي نو کله به افـضـل شے د خلقو د خاطره پریدے خو ترڅو چه بل طرف ته بدعت او ناروا نهٔ وي ځکه بـدعـت بـه د چا د وجه نه نهٔ کوے، مخالفت د سنت به د چا دو جه نه نهٔ کوے، که څوك خـفـه کیږي او که خوشحالیږي خپل کار به کوی لیکن که یو شے جائز وي (لکه دلتـه د قـریشو کعبه جوړول جائز دي لیکن افضل نهٔ دي) او بل طرفته خلق ناپوهه وي که ته پـه بهتـر کـار بـانـدے عمل کوے نو خلق درته لانجه جوړوي او دعوت درله خرابوي نو دلتـه بـه پـه جـائـز عـمـل اُوکړے او افـضـل به لږ وخت پورے پریدے، تـول عمر بـه ئې نهٔ پریدے.

بـعـض خـلـق دا روایت ددے دپاره پیـش کـوی چـه رفع الیدین مهٔ کوئ او آمین په جهرسره مهٔ وایئ، پنځوس کاله ئې هم مهٔ وایئ ځکه چه نبي علیه السلام کعبه دوباره جوړول پریخي وو، دا د دوی استدلال دے!!.

مونږ وایو : نبی علیه السلام کعبه جوړول د لږ وخت دپاره پریخي وو لکه د حدیث د الفاظو نه معلومیږي چه نوي مسلمانان دي او روستو زمانه کې کعبه بدله شوې وه۔
عبد الله بن زبیر رضي الله عنه ورانه کړه او په صحیح طریقه ئې جوړه کړه ددې وجه نه سنت طریقه پریخودل نهٔ دي پکار۔
یوه ورځ یا دوه ورځې سړې یو مستحب عمل پریخودلې شي د خلقو د دعوت د خاطره چه خلق پوهه شي۔ رسول الله ﷺ د کعبې په باره کې د قوم رعایت وکړو چه د کعبې په باره کې به ډیر زیات پریشانه او ګډوډ شي، که زهٔ هغه ورانه کړم بیا به وائي چه نبي علیه السلام په هر څه کې کار لري نو په زړهٔ کې به ئې بې محبتي پیدا شي۔نو کعبه مشرفه په همدې شکل جوړه شوه چه قریش راجمع شو،
اوس پدې کې د الله حکمتٌ ته وګوره چه دوی پدې آبادئ کې حطیم د کعبې نه بهر پریښودو، کچرته دا ئې پکې داخل کړې وې نو ډیر خلق به په کعبه کې دننه د مانځه نه محروم شوي وې، لیکن اوس دا موقعه الله تعالیٰ عامو مؤمنانو ته ورکړه چه حطیم کې مونځ کوي نو دا داسې دې لکه په کعبه کې مونځ ځکه چه دا د کعبې یوه حصه ده، په حطیم کې مونځ کولو سره سنت طریقه ادا کیږي۔

د زید بن عمرو بن نفیل سره د نبی علیه السلام ملاقات او د شرک نه نفرت

د نبي علیه السلام سره دا کار د پنځه دیرشو کالو په عمر کې وشو، ددې نه روستو وخت تیریدو، یو کال دوه چه تیر شول، د اوه دیرشو (۳۷) کالو په عمر شو نو الله سبحانه وتعالیٰ د نبي علیه السلام په زړهٔ کې د بت پرستئ بُغض او نفرت د مخکې نه اچولې وو ځکه دا د فطرت خلاف ده، دا د پخوانو انبیاء علیهم السلام د دین خلاف ده، د الله د توحید خلاف ده، شرك به ئې بد ګڼړلو، په عربو کې هم څه موحدین خلق وو لکه روستو به د وَرَقَه بن نوفل په تاریخ کې بیان شي ان شاء الله تعالیٰ، هغه به د توحید بیان کولو نو د توحید والا خلق د مخکې نه موجود وو خو کم وو، نو د زید بن عمرو بن نُفَیل سره د نبي علیه السلام په بَلْدَح علاقه کې ملاقات وشو، (بلدح مکې ته نزدې مغربي جانب ته یوه وادي ده)۔

(زید بن عمرو بن نُفَیل یو نیك انسان وو، یو مجلس کې دواړه کیناستل، چا د کډے غوښه راوړه نو نبي علیه السلام ونهٔ خوړله، د دسترخوان نه پاڅیدو او زید بن عمرو بن نفیل هم ترے پاڅیدو، زید وویل : (اِنِّیْ لَسْتُ آکُلُ مِمَّا تَذْبَحُوْنَهٗ عَلٰی اَنْصَابِکُمْ)

مونږ هغه شے نهٔ خورو چه د باباګانو (دروغژنو معبودانو) په نوم باندے ذبحه شوے وی، مونږه هغه شے خورو چه د الله په نوم ذبح شوے وی۔ (صحیح بخاری: ۳۸۲٦)

الله تعالیٰ د دوی په زړونو کې فطری توحید اچولی وو، دیته فطری توحید وائی۔ زید بن عمرو بن نفیل یو مشر سړے وو نو هغه به ډیرے خبرے کولے، قریشو باندے به ئے ردونه کول وئیل به ئے:

(اَلشَّاةُ خَلَقَهَا اللّٰهُ وَاَنْزَلَ لَهَا مَاءً وَّاَنْبَتَ لَهَا مِنَ الْاَرْضِ كَلَاءً ثُمَّ تَذْبَحُوْنَهَا عَلٰی غَيْرِ اسْمِ اللّٰهِ)

ګډه الله پیدا کړیده او الله ددے دپاره د آسمان نه اوبه نازلوی او د هغے دپاره د زمکے ګیاهګانے راشنی کوی او تاسو دا د خپلو آلهو (د غیر الله) په نوم ذبح کوئ) په خلکو باندے به ئے انکار کولو او دا خبره به ئے ډیره لویه ګنړله۔ (صحیح البخاری : ۳۸۲٦)

دا کوم عقل او کوم یو انصاف دے چه اُوبه الله پیدا کړے، ګیاه او ګډه الله پیدا کړه او حلالیږی د بابا په نوم؟!!، نو خلق به ئے ددے شرك نه منع کول، لیکن چا به هغوی ته غوږ نهٔ کیښودو، ځکه چه هغه به هم خپل دعوت ته ډیر زور نهٔ ورکولو،

قانون دا دے چه دعوت ته دے ډیر زور نهٔ ورکولو نو مخالفین به دے نهٔ پیدا کیږی، وائی به چه یو سړے دے یوه خبره ئے وکړه لاړه ختمه شوه نو دومره اثر پرے نهٔ کوی خو چه کله تا دعوت ته زور ورکړو چه داسے ده او دا بل شان نهٔ ده، او دا تاسو چه څه کوئ دا غلط دی بیا به تهٔ وګورے چه خلق به ستا په خلاف کې ودریږی او دشمنی به درسره شروع کړی لکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره چه څرنګ دشمنی شروع شوے وه، نو پدے طریقه د زید بن عمرو بن نُفَیل او د نبی ﷺ ملاقات او د غیر الله د ذبائحو نه انکار او نفرت او بچاو راغلو۔

د رسول الله ﷺ د خلوت او عبادت سره مینه پیدا کیدل

نو الله تعالیٰ د نبی ﷺ په زړهٔ کې د خپل ځان سره ډیره مینه واچوله او زړونه الله

بدلوی رابدلوی، د مخکې نه ئې هم محبت وو لیکن د ایمان تفصیل ورته نهٔ وو معلوم نوحدیث کې دی: (ثُمَّ حُبِّبَ اِلَیهِ الخَلَاءُ) ۔ بیا نبی ﷺ ته په زړهٔ کې ددې خبرې مینه واچولې شوه چه خلوت او یواځې والې اختیارول پکار دی۔

دا قانون دې (که الله تا ته درنصیب کړو) چه کله د بنده په زړهٔ کې د الله محبت او تعظیم په رشتیا سره ننوزی بیا به د خلقو مجلسونه او گپ شپ خوند نهٔ ورکوی، انسانان به ورته سپك هم نهٔ ښکاری، د الله بندگان دی، ډیر ښه به ئې گنړی لیکن د خلقو د مجلسونو نه به د الله مجلس ډیر خوښوی چه یواځې کینی او ځانله الله یاد کړی، د هغه ذکر وکړی د قرآن کریم تلاوت وکړی، د هغه سره رازونیاز وکړی، دا به ورله مزه ورکوی، د الله سره به ئې اُنس (محبت) پیدا شی۔

اُوَیس قَرنی رحمه الله له یو سړی هَرِم بن حَیّان راغې (اُوَیس قَرنی یو تابعی نیك عمله انسان دې چه نبی علیه السلام هم د هغه صفت کړیدې): دهٔ ورته ووئیل چه زهٔ تا ته ددې دپاره راغلې یم (لِأَستَأنِسَ بِكَ) چه زهٔ تا سره اُنس حاصل کړم، خبرې درسره وکړم ځکه چه یواځې تنگیږم۔ ډیر انسانان داسې دی چه ځان له نشی کیناستې، یوه گینټه هم یواځې والې نشی برداشت کولې ځکه چه د الله سره ئې تعلق نهٔ وی۔

نو اُوَیس قرنیؒ ورته ووېل: فَمَا ظَنَنتُ أَنَّ اَحَدًا یَستَأنِسُ بِغَیرِ اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ۔

زما دا گمان چرته نهٔ وو چه داسې انسانان به هم وی چه د الله د ذات نه غیر به د هغه په بل چا باندې اُنس حاصلیږی۔ د زړهٔ وحشت به ئې ختمیږی او په بله اصطلاح د الله نه په غیر به د نورو انسانانو په وجه د هغه زړهٔ ته اطمینان رسیږی۔

نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله د ډیرې مینې د وجه نه خلوت او یواځې والې اختیار کړو، سره ددینه چه هغه زمانه کې په مکه مکرمه کې دومره خلك نهٔ وو، لیکن بیا به هم غار حراء ته تللو۔

(غار حراء د کعبې نه تقریباً دوه میله وړاندې دې چه د جبل النور په سر کې دې، د مکې شمال مشرقی طرفته دې دا غار خلورگزه اوږد دې او پاو کم دوه گزه د هغې پلنوالې دې، د غار شکل داسې دې چه دوه غټ گټان دی دپاسه پرې بل کمر پروت دې د یو کس یا دوه کسانو د مانځه ځای دې او د عجائباتو نه دا ده چه د هغه ځای نه مخامخ حرم او کعبه ښکاره کیږی، په غار کې چه ثوك کینی او سوری کې وگوری نو کعبه به ورته

ښکاره کیږي۔

نو نبي ﷺ به کعبه هم لیدله او عبادت به ئے هم کولو، نو نبي ﷺ به هر وخت غار حراء ته تللو او د الله بندګي به ئے کوله، په کومه طریقه به ئے کوله؟ ددے علم الله ته دے، ظاهر دا ده چه د ابراهیم ﷺ د دین مطابق عبادت به ئے کولو، د ابراهیم ﷺ د دین نه څه خبرې پاتې وے په هغے به ئے عمل کولو۔ څوك وائی د موسیٰ ﷺ په طریقه به ئے عبادت کولو، د هغه عبادت د الله ذکر کول او د الله په قدرتونو او کائناتو کی سوچ او فکر کول وو، چه دا عالَم او دا آسمانونه او زمکه او دا غرونه د څه مقصد دپاره پیدا دی، او پدے سره د الله عظمت او لوی والے په زړهٔ کی راوستل،

سوچ او فکر ډیر اُوچت او ښکلی عبادت دے چه زمونږ پدے زمانه کی ختم شویدے، د عامو انسانانو نه د سوچ عبادت ختم شویدے، سوچ او فکر چه نهٔ وو هیڅ کمال ته نشی رسیدلے، کمال ته انسان په سوچ او فکر سره رسیږی۔

نبي ﷺ به په دغه غار کی مونځ هم کولو په کومه طریقه چه ورته الله تعالیٰ ورښودلے وو، مونځونه روستو نازل شویدی د وحی په ذریعه لیکن د جاهلیت په زمانه کی چه به کومه طریقه د مانځه وه په هغه طریقه به رسول الله ﷺ دلته بزرګی کوله او د الله ذکر به ئے کولو تقریباً درے کاله رسول الله ﷺ پدے غار کی تیر کړی دی،

پدے طریقه چه کله به د میاشت دپاره او کله د هفتے او کله به د درے ورځو دپاره لاړو بیا به بیرته خپلی بی بی خدیجې رضی الله عنها ته راواپس کیدو او د هغے ملاقات به ئے کولو، او توښه به ئے ځان سره اخستله۔ او خدیجه رضی الله عنها د هغه نه ډیره مطمئنه وه او ددهٔ پدے کار ډیره خوشحاله وه او هغے به دا فکر کولو چه زما د خاوند به یو لوی شان راښکاره کیږی پدے وجه هغے به ورسره انتهائی مدد کولو۔

یو حدیث کی دی: (جَاوَرْتُ بِحِرَاءٍ شَهْرًا) (صحیح مسلم:٤٢٧)

زهٔ په حراء غار کی یوه میاشت وسیدم، مکه څومره نزدے ده، دوه میله لاره انسان په یوه ګینټه نیمه کی وهلے شی لیکن بیا هم کور ته نهٔ راځی ځکه چه د الله مینه ئے زړهٔ ته ننوتی ده، د الله محبت چه کله زړهٔ ته ننوزی نو بیا دغه خبرو ته فکر نهٔ وی، زړهٔ روښانه شی، په زړهٔ کی دننه یو نور پیدا شی چه بنده د هغے نه تعبیر نشی کولے، بیا د خلقو سره اختلاط ورله خوند نهٔ ورکوی،

د نبی ﷺ د غار حراء سره د ډیر تعلق د وجه نه خپل کور هم د دغه غار خوا ته نقل کړو، د غر لاندے ئے چونپړئ ووهله، په هغے کی به دیره وو، خپله بی بی به ورسره وه لکه دا د احادیثو نه معلومیږی۔ د الله سره د ډیر محبت په وجه ئے دا کار کړے وو او دا هم د الله سبحانه وتعالیٰ د خوا نه د هغه تربیت کول دی،

دا د الله قانون دے چه که یو بنده غواړی چه الله زما په خبرو کی اثر پیدا کړی چه په خلقو اثر کوی نو د هغه دپاره د مخکی نه دا ضروری ده چه په دهٔ کی به تقویٰ موجوده وی، په دهٔ کی به د الله رب العالمین سره تعلق او ربط او تړون د عبادت وی هله به په غیر کی اثر کوی، هر روح چه دا اراده وکړی چه په بل باندے اثر وکړی نو طریقه دا ده چه اول به څه نا څه وخت الله ته ورکړی، خلوت بالله به وکړی بیا به ددهٔ خبره په بل چا اثر وکړی،

کله چه یو سړے خپله د ګپ شپ او تهوقو او خندا نه راپاڅیدهٔ او په منبر باندے وروختلو او بیان ئے شروع کړو نو هغه په چا باندے غالباً اثر نهٔ کوی، ددے دپاره طریقه او اصول دغه دی چه مخکی به د الله سبحانه وتعالیٰ نه دعا وغواړی، مونځ به وکړی او هغه ته به خپل نیت صفا کړی چه اے الله ! زهٔ دا خبری کوم، د څه دپاره ئے کوم، الله دے قوم ته هدایت وکړه، بیا به ستا خبری په بل باندے اثر اچوی او بل ته به فائده ورکوی، تقریر او بیان هر وخت داسے نهٔ وی لکه د کیسټ پشان چه کیسټ ولګوی سمدست به شروع شی بلکه دا د الله ورکړه وی، الله تعالیٰ د بنده ذهن، زړهٔ او ژبه برابروی چه د الله نه مخکی دعا طلب کړی او څه نا څه تقویٰ پکی پیدا شوی وی بیا بنه اثر کوی، بعض خلق یو شان بیان غواړی، د یو عالِم بیان هر وخت یو شان نهٔ وی، دا د انسان په طاقت کی نهٔ وی)۔

مقصد دا دے چه رسول الله ﷺ الله تعالیٰ په غار کی درے کاله دے دپاره وساتلو چه روستو ورته غټ کار وریه غاړه کوی نو د الله سره ډیر تعلق او تړون پکار دے نو پدے وجه الله تعالیٰ د محمد رسول الله ﷺ په خبرو کی دومره اثر اچولے وو چه پنځلس سوه کاله پرے تیر شو اُوس هم پکی اثر پروت دے سره ددے نه چه زمونږ په خُلو وئیل کیږی او بیا چه لا د پیغمبر په خُله وئیل شوی وی نو څومره اثر به وو، دا وجه ده چه صحابه کرام څکه د الله اولیاء جوړ شوی دی چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په

خُله باندے د هغوی تربیت شویدے۔

د نبوت نښې راښکاره کېدل

بیا هرکله چه نبی ﷺ ځلویښتو کالو ته ورسیدو نو په هغه باندے د نبوت آثار (نښې) راښکاره شوے چه اُوس ئے الله نبی کرځوی، د مخکې نه خو څه علامات راښکاره شوی دی، پخوانو کتابونو کې دی او نورو خلقو کې دا خبره مشهوره ده چه دا زمانه د یو نبی د راتللو ده، داسے دَور دے چه پدے کې الله تعالیٰ آخری نبی رالیږی، د پخوانو یهودیانو نه ئے دا خبری آوریدلی وے،

د نبی ﷺ د نبوت نښې عامې دنیا ته هم ښکاره شوے وے، پیریانو خبرے کړے وے، د کانړو نه خبری راوتلی وے چه دا یوه زمانه ده چه پدے کې نبی راتللو والا دے، هغه خبرے به په بله موقعه کې ذکر شي۔

لیکن رسول الله ﷺ ته خپله د نبوت یو دوه نښې راښکاره شوی۔

نبی ﷺ فرمائی: زهٔ په مکه مکرمه کې روان وم، پدے کې یو کانړی ما ته وائی: (اَلسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ)۔

اے د الله رسوله !په تا دے سلام وی، دا د نبوت نه مخکې زمانه ده، په کانړی کې ظاهراً روح نشته خو هغه په نبی علیه السلام باندے سلام اچوی،

نبی ﷺ فرمائی:

(اِنِّیْ لَاَعْرِفُ حَجَرًا بِمَكَّةَ كَانَ یُسَلِّمُ عَلَیَّ قَبْلَ اَنْ اُبْعَثَ)

هغه کانړے زهٔ اوس هم پیژنم چه په ما باندے به ئے په مکه کې زما د نبوت نه مخکې سلام اچولو۔ (صحیح مسلم عن جابر بن سمره:۶۰۷۸)

دا ددے دپاره الله سبحانه وتعالیٰ دا حالات جوړوی چه ددهٔ زړهٔ مضبوط کړی ځکه چه دے د الله نبی جوړیږی۔ په ځان ئے پوهه کوی چه تهٔ نبی ئے، هسے څه د پیریانو اثر نهٔ دے، دماغ دے خراب شوی نهٔ دی، الله چه یو شخص نبی جوړوی نو په هغه باندے دا فرض ده چه په ځان به ایمان راوړی۔

د سیرت د روایاتو نه معلومیږی چه نبی ﷺ به کله غار حراء ته تللو نو کانړو او ونو

به سلام اچولو، چه شاته به ئے وکتل هیڅوك به نهٔ وو، نو هغه په ځان باندے څه ناڅه درجه کی پوهه شو چه دا څرنګ آوازونه ما ته کیږی۔

دویم کار دا وشو چه د بعضو احادیثو نه معلومیږی لکه صحیح حدیث کی راغلی دی (مګر دا معلومه نهٔ ده چه ددے ځای واقعه ده او که د بل ځای خو ظاهر دا ده چه ددے ځای واقعه به وی)

ابوذر ؓ تپوس وکړو یارسول الله! تا ته څرنګ معلومه شوه چه ته د الله نبی ئے؟ نبی علیه السلام وفرمایل: زهٔ د مکی په یو خوړ کی روان وم پدے کی دوه ملائك راغلل یو ملائك په هوا کی کیناستو او بل لاندے زمکے ته راکوز شو او دواړه په شکل د انسانانو وو، نو د زمکے والا ملائك سره تلهٔ ده، د بره ملائك نه ئے تپوس وکړو:

(أَهُوَ هُوَ ؟)۔ آیا دا هغه سړے دے چه الله ئے نبی رالیږی او نبی ئے جوړوی؟۔

نو هغه ورته اشاره وکړه چه همدا دے، نو بره ملائك ورته اشاره وکړه چه وے تله، نو زهٔ ئے د تلے په یو چابړی کی واچولم او بل یو انسان ئے په بل چابړی کی واچولو (دا معجزه غونډے ده، نور انسانان پدے خبره نهٔ پو هیږی، صرف رسول الله ﷺ پرے پو هیدو)

نو زهٔ په هغه درونډ شوم، بیا ئے د لسو کسانو سره وتللم بیا هم زهٔ درونډ شوم، بیا ئے د سلو سره وتللم، بیا د زرو کسانو سره، نبی علیه السلام فرمائی چه د زرو کسانو هغه تله دومره سپکه شوه چه ډیره پورته لاړه (كَأَنَّهُمْ يَتَنَاثَرُونَ عَلَيَّ)

ګویا که دا خلق په ما باندے راغورزیږی، زهٔ دومره لاندے پاتے شوم او هغوی دومره بره وختل نو بره ملائك ورته وائی نور ئے پریده: (لَوْ وَزَنْتَهُ بِأُمَّتِهِ لَرَجَحَهَا)۔

که دا د تلے په یو چابړی کی واچوے او امت ئے په بل چابړی کی نو په ټول به درونډ شی۔ (سنن الدارمی ١/٩) وسنده صحیح۔

نبی ﷺ فرمائی: ما ته پته ولګیده چه په ما کی دا درونډ والے د کوم ځای نه راغے، زما بدن خو وروکی دے، دومره غټ خو نهٔ دے، زهٔ خو یو عام انسان یم، او دومره درونډوالی ما ته راکوی معلومیږی چه دا دننه باطنی طاقت دے۔

ددے حدیث نه علماؤ دا فائده اخستے ده چه په محمد رسول الله ﷺ کی الله دا دومره درونډ والے په څه وجه اچولے دے؟ دا ئے د نبوت په وجه اچولے دے، نو پکار دا ده چه د

هغه خبرې هر مؤمن درنې وګڼي، داسې به ئې درنې ګڼي لکه څرنګ چه رسول الله ﷺ درونده دې، او هغه خبرې يقيني درنې دي، بعض خلك توحيد، سنت، رفع اليدين، پاينڅې پورته کول معمولي خبرې ګڼي.

يوه ورځ ما ته يو سړې راغې وې وئيل چه فلانې ته زما دپاره د نکاح سفارش وکړه، ما ورته ووئيل: هغه بدعتي دې، زۀ هغه ته سفارش نشم کولے، تا سره د عقيدې غم نشته. يو انسان دې د محمد رسول الله ﷺ د سنت طريقې هيڅ پرواه نۀ لري او هغه ته دې بنه ووېلې شي، دا هيچرې نشي کيدې، د الله د نبي خبره چه په هر چا کې راغله هغه زمونږ ورور دې او که دا پکې نۀ وي نو زمونږ دشمن دې هر څوك چه وي اګرکه زمونږ ډير نزدې سړې وي خو زمونږ محبوب او دوست به نۀ وي. او اګرکه هغه خبره په ظاهره کې د عقل خلاف هم وي خو چه صحيح ثابته وي نو منلې به شي او که بالفرض والتقدير ټول امت ئې هم خلاف وي نو د رسول الله ﷺ د خبرې په خلاف کې امت سپك دې او د هغه خبره درنه ده، نو ددې نه دا معلومه شوه چه يو طرفته د الله د نبي حديث راشي او بل طرفته د خلقو رواج او ضعيفه مسئله نو داسې به نۀ وائې چه اکثر علماء داسې وائي. دا به د مومن خبره نۀ وي، د امت ټول علماء د نبي ﷺ قصداً خلاف نۀ کوي ليکن کله نا کله په امت کې بعض علماوو ته حديث ونۀ رسي نو داسې به نۀ وائي چه زمونږ مذهب دا دې، او زۀ د فلاني امام په مذهب يم، دا حديث دې دا به د بل چا مذهب وي، دا د مؤمن سړي خبره نۀ ده بلکه د يو جاهل يا فاسق خبره ده او کله به کفر ته رسيږي.

نو يوه دا نښه شوه. مخکې نه ئې هم څه نښې ليدلې وې، بَحِيرىٰ الراهب او نورو خلقو هم پرې ګواهي ورکړېده چه دا به نبي جوړيږي او د ابتداء نه دا خبرې آوريدلې شويدي او قريشو کې هم مشهورې دي.

د وحی ابتداء

نبي ﷺ چه کله څلويښتو کالو ته ورسيدو نو په هغه باندې يو حالت شروع شو هغه دا چه نيك نيك خوبونه به ئې ليدل.

د بخاري په يو حديث کې راځي : (فَكَانَ لَا يَرَى الرُّؤْيَا اِلَّا جَاءَ تْ مِثْلَ فَلَقِ الصُّبْحِ)۔
نبي ﷺ چه به کوم خوب ليدلو نو هغه به داسې واقع کيدو لکه سبا چه وچوي او رڼا راشي۔ د نبي عليه السلام په خوب کې به دغسې رڼا وه، ګډوډوالې به پکې نۀ وو، دا حالت د خوبونو ليدلو تر شپږو مياشتو پورې روان وو (په خوب باندې د سړي ډير اطمينان کيږي لکه نبي عليه السلام د نيك خوب په باره کې ډير ارشادات فرمايلي دي: (لَمْ يَبْقَ مِنَ النُّبُوَّةِ اِلَّا الْمُبَشِّرَاتُ) ۔ د نبوت نه اوس صرف نيك خوبونه پاتي دي۔
يعني نبي ﷺ د امت نه وفات شو ليکن مبشرات به باقي وي، د نبي ﷺ نه تپوس وشو چه هغه مبشرات څه شې دې ؟ نبي عليه السلام وفرمايل :

(اَلرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ يَرَاهَا الْمُسْلِمُ اَوْ تُرٰى لَهٗ) (بخاری : ۶۹۹۰)

(نيك خوبونه دي چه بنده ئې خپل ځان دپارهويني يا ئې بل څوك ددۀ دپاره ويني)
بيا به دغه نيك خوب لبيب يا حبيب ته بيانولې شي يعني عقلمند او محبوب خيرخواه ته، غلط سړي ته که خوب بيان شي نو غلطه معنیٰ به درکړي، ځکه هغه به په خوب پوهه شي نو حسد کې به راشي لکه د يوسف عليه السلام د خوب په شان چه ورونه په خوب پوهه شوي وو نو بيا په حسد کې راغلل چه دا به په مونږ مشر کيږي او مونږ به دۀ ته سجده لګوو نو هغه ئې کوهي ته ګوزار کړو۔
بيا خوبونه دليل نۀ دې ليکن يو قسم زيرې دې خاصکر په آخره زمانه کې به مؤمنان خوبونه ډير ويني ځکه چه علماء به ختم شي، د دين دعوت به ختم شي، خلق به ډير پريشانه شي، د کفر او د فساد چرچه به ډيره زياته وي نو د مؤمنانو ايمان به الله تعالیٰ په خوبونو مضبوطوي لکه مخکې د جاهليت په زمانه کې وحی نۀ وه، داسې نښې نښانې به راتللې لکه بعض د هغې نه ذکر شوي، نو داسې به روستو زمانه کې هم کيږي۔
او د هغه چا خوب ډير رشتينې وي چه هغه صادق وي، دروغ چه څوك ډير نۀ وائي يا بالکل دروغ نۀ وائي، ساده خلق چه زړونه ئې پاك وي حسد او کينه پکې نۀ وي، حرام خوري پکې نۀ وي د هغوي خوبونه ډير رشتينې کيږي، او دا د الله تعالیٰ يو نعمت وي چه چا له ئې ورکړي نو پدې وجه رسول الله ﷺ به خوبونه ليدل هغه فرمائي :

(اَلرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ جُزْءٌ مِنْ سِتَّةٍ وَاَرْبَعِيْنَ جُزْءً مِنَ النُّبُوَّةِ) (بخاری : ۶۹۸۹)۔

نیك خود نبوت شپږ څلویښتم جزء دے۔ شپږ څلویښتم ئے ورته وئیلے دے ځکه چه د رسول الله ﷺ د نبوت زمانه درویشت کاله وه او شپږ میاشتی خوبونه وو نو په درویشتو کالو کی شپږ میاشتے شپږ څلویښتم جزء جوړیږی نو دا شپږ څلویښتم جزء یو امتی ته هم ورکیدے شی،

وحی مونږ ته نهٔ کیږی لیکن خوبونه الله تعالیٰ مونږ ته رانصیب کوی، زمونږ ددے امت نیکانو خلقو ته خوبونه ورنصیب کیږی۔ نو نبی ﷺ چه به شپږ میاشتی مزیدار او ښائسته خوبونه لیدل نو پدے زمانه کی به ئے د غار حراء ډیره پابندی کوله تردے چه د رسول الله ﷺ څلویښت (٤٠) کاله او شپږ (٦) میاشتی او دولس (١٢) ورځی عمر پوره شو په قمری حساب سره او په شمسی حساب سره د رسول الله ﷺ نهه دیرش (٣٩) کاله درے (٣) میاشتی او شل (٢٠) ورځی عمر پوره شو۔

(الرحیق المختوم)

(قمری حساب شرعی حساب دے یعنی محرم، صفر ربیع الاول تر آخره۔ او شمسی حساب جنوری فروری وغیره او حمل ثور، جوزا۔ او شمسی حساب بدلیږی رابدلیږی، شمسی حساب استعمالول جائز دی لیکن شرط دا دے چه قمری حساب به نهٔ هیروی) او پدے وخت کی د عیسیٰ علیه السلام شپږ سوه کاله تیر شویدی، داسے دَور دے او نبی علیه السلام باندے دا خوبونه په ربیع الاول کی شروع شوی وو نو د ربیع الاول نه شپږ میاشتی واخله نو دا د رمضان میاشتْ راځی۔

د سیرت کتابونو لیکلی دی چه د رمضان یویشتمه د دوشنبی شپه وه او د اگست میاشتی لسمه ورځ وه (٦١٠ میلادی) کال وو، پدے کی الله سبحانه وتعالیٰ جبریل علیه السلام راولیږلو او محمد رسول الله ﷺ ته ئے وحی وکړه۔

(الرحیق المختوم ص: ٥٣)

(پدے شپه باندے الله تعالیٰ پدے امت باندے د رحم دروازه راکولاوه کړه، وَمَا أَرْسَلْنَاكَ اِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَالَمِيْنَ، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰى هٰذِهِ الرَّحْمَةِ۔

نبی ﷺ فرمائی: (اِنَّمَا اَنَا رَحْمَةٌ مُّهْدَاةٌ)

زهٔ تاسو ته د الله رحمت هدیه کړے شوے یم۔

(مصنف ابن ابی شیبه: ٤٤١/٧) والدارمی (٢١/١)

او د هدیه قبلول پکار دي بیا خاصکر چه د رب العالمین هدیه وي او هغه رد کړي او اخوا دیخوا ئے کړي دا ډیره بد بختي ده، الله تعالیٰ دے مونږ او تاسو ټول ترے بچ کړي آمین!

او بیا دومره ښائسته او ښکلې هدیه وي او خلق ئے نهٔ مني او کافر ورپورې توقې کوي دے نعمت له دیکه ورکوي، او هغه مسلمان چه دا ئے هسے منلې ده خو هیڅ پرواه پرے نهٔ کوي، هغه مسلمان چه دا نبي ئے هسے منلے دے خو ددے په مقابله کې نورې لارې اختیاروي، د بل چا مذهبونه اختیاروي، دا ډیره بد بخته دې۔

کامیاب دے هغه انسان چه دا هدیه ئے قبوله کړه او سمه غاړه ئے ورته ورکړه، مینه ئے ورسره وکړه او سره تابعداري ئے وکړه نو دنیا به ئے هم عزتمنده شي او جنت به هم ورته ملاؤ شي، د الله دوستي په غیر ددے لارے نه نهٔ حاصلیږي، هدایت او عزت په غیر ددے لارے نه په بل څه کې نشته)۔

لیکن دے تاریخ کې ما ته لږ شان نقصان ښکاري ځکه چه دا د یو حدیث خلاف ښکاره کیږي، دا خبره حدیث کې داسے راغلې ده، نبي ﷺ فرمائي:

(أُنزِلَتِ التَّوْرَاةُ لِسِتٍّ مَضَتْ مِنْ رَمَضَانَ وَأُنْزِلَ الإِنجِيلُ لِثَلاثَ عَشْرَةَ مَضَتْ مِنْ رَمَضَانَ وَأُنزِلَ الزَّبُورُ لِثَمَانَ عَشْرَةَ خَلَتْ مِنْ رَمَضَانَ وَأُنْزِلَ الْقُرْآنُ لأَرْبَعٍ وَعِشْرِينَ خَلَتْ مِنْ رَمَضَانَ) (صحيح الجامع: ١٤٩٧)۔

تورات چه نازل شو نو د رمضان شپږ شپې تیرے شوي وے او انجیل چه نازل شو نو د رمضان دیارلس شپې تیرې شوے وے او زبور چه نازل شو نو د رمضان اتلس شپې تیرې وے او قرآن چه نازل شو نو د رمضان څلیریشت شپې تیرے وے۔ او لیلة القدر په جفت شپو کې هم کله نا کله راځي، همیشه په تاك کې نهٔ وي۔

پدے کال چه الله نبي ﷺ ته وحي کوله نو د هغه د عزلت او خلوت درې کاله تیر شوي وو او شپږ سوه لس کاله (٦١٠ء) د عیسیٰ ﷺ تیر شوي وو، د رمضان (٢٤) شپه د دوشنبې شپه دا د لیلة القدر شپه وه۔

الله قرآن کریم کې فرمائي: ﴿إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ﴾۔

بل آیت کې دي: ﴿إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةٍ مُّبَارَكَةٍ﴾ (حم الشورىٰ:٢)۔

مونږ قرآن د لیلة القدر په شپه نازل کړیدے، چه دا مبارکه او د برکاتونه ډکه شپه وه،

نـو رمـضـان غـوره میاشت ده ځکه پدے کی قرآن نازل شویدے، او قرآن کریم هم هغه بهتر کتاب دے چه الله پداسے عزتمنه میاشت او په عزتمنه شپه کی راولیږه چه هغه د لیلة القدر شپه ده چه د څلور اتیا کالو نه زیات فضیلت لري،

د اد الله لـویـه مهربـانـی ده چه انتهائی شکر او قدرئے پکار دے۔ او نبی رالیږل پکی ډیـر لـوی نعمت دے چه پخوانو انبیاء علیهم السلام هم ارمانونه کړیدی چه ارمان دے چه دا مونږ ته ملاؤ شی، د نبی علیه السلام په نبوت کی راتلل څه وړه خبره نهٔ ده۔

د حدیث نه معلومه ده چه موسیٰ علیه السلام دا ارمان کړے وو، عیسیٰ علیه السلام هم کړے، دغسے بـعـضـ نـورو انبیـاء کـرامـو (علیهم السلام) کړے وو کله چه د رسول الله ﷺ صفتونه هـغـوی ته بیـان شوی وو چه روستو به زهٔ داسے ښکلی او عزتمند نبی رالیږم نو هغوی ووئیـل : ارمان دے چه مونږ ددے نبی په امت کی شو۔ لیکن مونږ الله تعالیٰ تیار پکی راوستـی یـو او زمونږ دے خبری ته فکر نشته، نعمت چه چا سم څکلی نهٔ وی هغه ئے پـه خـونـد نـهٔ پـو هیـږی او د اسـلام پـه خوند نهٔ پو هیږی. د اسلام په خوند هغه څوك پو هیږی چه د جاهلیت تریخوالی ئے څکلے وی لکه دا خبره به عمر رضی الله عنه کوله۔

او څـوك چـه اسـلام کـی پیـدا شوے وی او بیا ئے په اسلام کی دومره خواری هم نهٔ ده کـړے، هـغـه د اسـلام پـه خـونـد نهٔ پو هیږی، دا د الله نه وغواړئ چه د محمد رسول الله ﷺ صـحـیـح محبت مو په زړهٔ کی واچوی او کله چه ستا صحیح محبت پیدا شو نو بیا بـه د اسـلام پـه خـونـد پـو هـه شے بیا به بار بار وائے چه اے ربه ! تا له شکر دے چه دا نـعـمت دے مونږ ته نصیب کړیدے، که مونږ د کفر په زمانه کی پیدا وے یا د کافرانو په ملکونو کی پیدا وے او د امریکایانو کافرانو اولاد وے او د سره مو الله، د هغه رسول او د هـغـه کـتـاب نـهٔ پیـژنـدلے او د دهریانو پشان ژوند مو تیرولے څومره تباهي به وے لکه اوس هم ډیر کالجونه او یونیورستیانی د دهریانو او کمیونستو نه ډکی دی)۔

نو نبی علیه السلام پدے شپه باندے نبی وګرځیدو۔

نبی علیه السلام ته د اول وحی راتللو کیفیت

نبی علیه السلام تـه څـرنـګ وحـی راغـلـه؟، نو هغه طریقه په حدیث دعائشه رضی الله عنها

کـی راغلی ده، راځئ چه عائشه رضی الله عنها پریدو چه مونږ ته دا قصه رانقل کړی، هغه فرمائی :

رسول الله ﷺ ته چه اول وحی راتلله نو هغه نیك خوبونه وو، خوب چه به راغے نو د صبا د راختلو په شان به صفا او رڼا وو (یعنی رشتینی به وو)

(ثُمَّ حُبِّبَ اِلَیْهِ الْخَلَاءُ فَکَانَ یَخْلُوْ بِغَارِ حِرَاءٍ فَیَتَحَنَّثُ فِیْهِ)۔

بیا نبی علیه السلام ته خلوت او د خلقو نه جدائی خوښه شوه (زړهٔ ئے الله طرفته مائل شو چه مخلوق پرے خوږ نهٔ لګیدو) نو هغه به غار حراء ته تلو توښه به ئے ځان سره واخسته او چه کله به ئے خپل اهل ته شوق پیدا شو نو کور ته به راغے بیا به ئے توښه واخسته او غار حراء ته به لاړو په هغه غار کی به ئے د الله بندګی کوله ډیرے شپی۔

نو پدے کی نبی ﷺ په یوه شپه کی ناست دے چه جبریل ﷺ ورته وحی راوړه (رسول الله ﷺ ډیر بهادر انسان وو چه یواځی ئے په دغه غار کی وخت تیرولو چه دا یو شاړ غر دے چه انسانان پکی یریږی خاصکر په هغه زمانه کی خو د خلکو کمے هم وو، کله به مسکینان هم ورته راتلل، دهٔ به ورسره احسانات کول او په هغوی به ئے خوراك هم کولو)

بیا پدے حدیث کی دا راځی چه رسول الله ﷺ ته جبریل د انسان په شکل باندے راغے ځکه که په خپل اصل شکل ورته راشی، داسے نهٔ چه د ډیر هیبت د وجه نه مړ شی، روستو به ورته په خپل اصلی شکل کی ښکاره کیدو لیکن اوله کی د انسان په شکل راغے، نو نبی علیه السلام تعجب وکړو چه پدے شپه کی او د انسان راتلل؟! نو رسول الله ﷺ ته ئے وفرمایل: (اِقْرَأْ)۔ (ولوله) هغه وویل: مَا اَنَا بِقَارِئٍ۔

(زهٔ خو قاری نهٔ یم، څه وولیم، زهٔ لوستل نشم کولے، نو بیا ئے ورته وویل :

اِقْرَأْ۔ (وولیه) لیکن ددے اول کرت نه روستو جبریل ﷺ ما نه غاړه واخسته او دومره زور ئے راته راکړو (حَتّٰی بَلَغَ مِنِّی الْجَهْدَ)۔ تردے چه جبریل ﷺ ډیر تکلیف ته ورسیدو۔ یا دا معنیٰ چه زهٔ ئے دومره زور کړم چه ما ته ئے تکلیف راورسولو، سم ئے خوږ کړم د ډیر زور د وجه نه۔ او پدے کی هم حکمتونه دی چه د جبریل ﷺ د سینی دا وحی د الله تعالیٰ رسول ته ورنقل شی، د خپل استاذ سره اتصال او ربط پیدا شی، د استاذ سره

ربط پیدا کول ډیر ضروري دي چه کله د استاذ سره ربط نهٔ وي نو بیا د هغه په خبره هم نهٔ پوهیږي، مقرر او بیان کونکی ته چه په توجه ناست نهٔ وي، بنې خبرې به وشي لیکن تا ته به یوه هم یاده نشي۔

او د نبي ﷺ سنت طریقه هم دا وه چه د ملګرو توجه به ئې پیدا کوله لکه چه کله به ئې بعض صحابه کرامو ته تعلیم ورکولو نو غاړه به ئې ورکوله او اوګی نه به ئې رانیولو، کله به ئې د غوږ نه نیولو، کله به ئې په سر ورته لاس کیخودو، کله به ئې په سینه کې سوك ورکولو، کله به ئې ورله لاس نیولو دا ددې دپاره چه زما خبرې هغه ته ورنقل شي، دا د وحي او د دین د ورنقل کولو یوه طریقه ده۔

بیا ئې راته وویل : (اِقْرَأْ)۔ ولوله۔ ما وویل : (مَا أَنَا بِقَارِئٍ)۔ زهٔ خو لوستل نشم کولے، بیا ئې په غیږ کې کلك ونیولم او ډیر زور ئې راکړو نو په دریم ځل ئې بیا راته وویل : (اِقْرَأْ)۔ ولوله۔ نو ما ورته وویل : (مَا أَنَا بِقَارِئٍ)۔ څه ووایم، دلته معنیٰ دا ده چه ته ما ته څه شے یادوې؟ نو جبریل ته معلومه شوه چه په رسول الله ﷺ کې اُوس استعداد پیدا شو، ددې ملاویدو او د جبریل د زور په وجه په کې استعداد پیدا شو، د مخکې نه ئې په (اِقْرَأْ) حکم کولو سره متوجه کولو لکه ماشوم ته چه وائي چه بچیه سبق وایه، او تکې ئې ورته لا وئیلې نهٔ وي، مخکې نه ورته حکم کوي نو هر کله چه هغه کې تیاري پیدا شوه نو دا آیاتونه ئې ورته ولوستل :

﴿ اِقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِيْ خَلَقَ، ﴿١﴾ خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ، ﴿٢﴾ اِقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ ﴿٣﴾ الَّذِيْ عَلَّمَ بِالْقَلَمِ ﴿٤﴾ عَلَّمَ الْاِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ ﴿٥﴾۔

دا پنځه آیتونه اول نازل شول او دا د قرآن کریم نه اول نازل شوي آیتونه دي چه عالَم ته راغلي دي او د عرش نه اول نازل شویدي او بندګانو ته اول هدایت پدې آیتونو شویدے۔

ددے آیت فوائد :

پدے آیتونو کې دننه ډیرې فائدې دي چه د هغې اجمال دا دے : پدے کې الله د (اِقْرَأْ) نه شروع وکړه چه ولوله، دیته اشاره ده چه سړے چه کمالاتو ته رسیږي نو په لوستلو سره، پدے باندے نهٔ رسیږي چه انسان ګډے بزے څروي یا په دکانونو کې ناست وي او دا دے کمال ته ورسي، نهٔ، بلکه د لوستلو په ذریعه به رسي، څه به لولي

خاصکر د رب العالمین کتاب او د رسول الله ﷺ سنت، په سنت لوستلو به کمال ته رسیږي، علماء ولے کمال ته رسیږي ځکه چه مدرسه کي وخت تیر کړي، لوستل او مطالعه وکړي نو د هغے په وجه الله نورو خلقو ته هدایت وکړي، ددے وجه نه آن پړ، امي انسان کمال والا نۀ وي، کمال والا خلق لوستلو والا وي، ددے وجه نه تعلیم د ټولو عقلاؤ په نیز صحیح شے دے خو خلك د دنیا تعلیمونو ته تعلیم وائي چه انګریزي زدۀ کړي هغه ته تعلیم یافته وائي او چه کتاب او سنت ورته یاد وي هغه ته تعلیم یافته نۀ وائي حال دا چه اصلي تعلیم خو ددے خلکو سره دے۔

﴿ بِاسْمِ رَبِّكَ ﴾ کي اشاره ده چه د الله په نوم باندے شروع پکار ده ځکه د الله تعالیٰ د نوم نه په غیر کار نۀ کیږي۔

خَلَقَ : الله د ټول مخلوق خالق دے، ټول مخلوق هغه پیدا کړے، نو خپل خالق پیژندل پکار دي۔

﴿ خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ ﴾ پیدا کړے ئے دے انسان د ټوټي د وینی نه۔

دلته ئے د وینی ټوټه ځکه ذکر کړه چه د وینی ټوټه په رَحِم کي راجمع وي او د قرآن کریم قراءت هم د سړي په زړۀ کي فضائل او کمالات راجمع کوي، او دا معنیٰ هم پکي پرته ده چه دا قرآن کریم به الله ستا په سینه کي راجمع کوي۔

﴿ اِقْرَأْ وَرَبُّكَ الْاَكْرَمُ ﴾ ولوله رب ستا عزتمند دے۔ دا ددے دپاره وائي چه څوك د الله تعالیٰ کتاب وائي هغه ته عزت ملاویږي، د الله د کتاب په وجه انسان ته دومره عزت ملاویږي چه هغه د بادشاهانو او وزیرانو سره نشته او دا به په آخرت کي ډیر رابنکاره کیږي، الله تعالیٰ به د قرآن کریم قاري ته وائي : ﴿ اِقْرَأْ وَارْتَقِ وَرَتِّلْ كَمَا كُنْتَ تُرَتِّلُ فِي الدُّنْيَا فَاِنَّ مَنْزِلَتَكَ عِنْدَ آخِرِ آيَةٍ تَقْرَأُهَا...... الحديث ﴾

(سنن ابی داود : ۱٤٦٦) والترمذی (۲۹۱٤)۔

قرآن شروع کړه او د جنت په درجو خیژه او په آرام آرام سره لوله لکه څرنګ چه تا په دنیا کي په آرام آرام سره لوستلو، ستا درجه په هغه ځای کي ده چه کوم ځای تۀ آخري آیت لولی)۔

څومره بختور دي هغه خلك چه قرآن ورته یاد وي او بیا ئے په هغے باندے ایمان راوړے وي، شرك پکي نۀ وي او د کبیره ګناهونو نه ځان ساتي، په صغیره باندے

همیشوالے نۀ کوی او وخت په وخت خپل ایمان تازه کوی نو دوی له دے مبارکی وی۔ (زمونږ تجربه دا ده چه شپاړس کاله تعلیم وکړه سروس او وظیفه به درته نۀ ملاویږی، سر وهلی بر وهلی به گرځی، او قرآن چه کوم قاریانو ته یاد وی، الله ئے دنیا کی هم عزتمند کوی، هغوی بیکاره نۀ وی هر وخت هغوی ته کار ملاویږی)۔

﴿اَلَّذِیْ عَلَّمَ بِالْقَلَمِ﴾ : د قلم په ذریعه دا ټول عِلمونه د قرآن کریم نه راوتلی دی، په قرآن کریم او په احادیثو باندے په زرهاو کتابونه لیکلی شویدی دا ټول د وحی او د نبی علیه السلام د عِلم نه راوتلی دی، هر یو عِلم چه گورے نو د قرآن او د حدیث نه به اخستے شوے وی، سائنس، ډاکټری، انجنیری هر یو هنر او ښه کسب د قرآن او د حدیث نه شروع شویدے، که د دین علم واخلے او که د تاریخ او که د سیرت او که هر قسمه علمونه دا ټول د قرآن نه اخستلے شویدی او قلم باندے لیکلے شویدی۔

﴿عَلَّمَ الْاِنْسَانَ مَا لَمْ یَعْلَمْ﴾ : انسان ته ئے هر هغه څه وززده کړل چه مخکی پرے نۀ پو هیدو)۔ نبی علیه السلام ته د وحی نه مخکی څه یاد نۀ وو ﴿وَاِنْ کُنْتَ مِنْ قَبْلِهٖ لَمِنَ الْغَافِلِیْنَ﴾ الله ورله ناشنا علمونه ورکړل او دا امت هم مخکی جاهل وو، په هیڅ نۀ پو هیدۀ، لیکن الله ورته دومره علمونه ورکړل چه د ټولو امتونونه په علم کی مخکی او اوچت او غوره دی او حقیقت ورسره دے۔

رسول الله ﷺ فرمائی : کله چه دا حالت وشو نو گویا که دغه آیتونه زما په زړۀ کی داسے ولیکل شو لکه یو تختئ چه ولیکل شی۔

رسول الله ﷺ باندے چه کله دا آیتونه نازل شو نو دے حالت او منظر ویرولو لیکن دا ځل په نبی ﷺ باندے یره لږه وه، یره پرے هغه وخت زیاته شوه چه کله د غرنه راکوز شو، کور ته راتللو نو په لاره کی جبریل علیه السلام نبی علیه السلام ته په خپل اصلی شکل کی ښکاره شو، نبی علیه السلام فرمائی چه ما بره وکتل، جبریل علیه السلام زۀ په خپل اصلی شکل کی گورم (لَهٗ سِتُّ مِائَةِ جَنَاحٍ وَقَدْ سَدَّ الْاُفُقَ)۔ چه د هغه شپږ سوه وزری دی او د آسمان کناری ئے پټی کړیدی)،

بره هر طرفته جبریل ښکاری نو زۀ دومره هیبت کی شوم چه نۀ مخکی تللی شوم او نۀ شاته نو پدے کی هغه ما ته دا وویل : [اَنْتَ رَسُوْلُ اللهِ حَقًّا وَاَنَا جِبْرِیْلُ]۔

تۀ د الله حق رسول ئے او زۀ جبریل یم)،

پدے ځای کی ئے زۀ مضبوطولم او همدا ئے راته وئیل :
[أَنْتَ رَسُوْلُ اللّٰهِ حَقًّا وَأَنَا جِبْرِيْلُ]۔ تۀ د الله حق رسول ئے او زۀ جبریل یم)۔
بار بار دا خبری ئے راتـه کولے، بیرته زما د واپسئ وخت وو، خدیجه رضی الله عنها پریشانه وه چه د الله نبی ولے رانغلو، دا خو د هغه د راتللو وخت دے نو پدے کی ئے په ما پسی خپل غلامان راولیږل چه لاړ شئ وګورئ چه محمد رسول الله څه شو؟، هغوی غار حراء ته لاړل، بیا مکی ته لاړل لیکن هلته ئے زۀ ونۀ موندلم، بیرته خدیجه رضی الله عنها تـه ورغلل چه هغه خو نشته نو زۀ روستو ساعت کی ورغلم کله چه جبریل زما نه پناه شو، نو ما ته خدیجی (رضی الله عنها) ووئیل چرته وے؟ ما خو تا پسے سړی درلیږلی وو، خـدیـجـه رضـی الله عـنـهـا پـدے پـو هـیـدله چه سړی کی ډیر کمالات دی نو هغے هم انتظار کولو چه څه به کیږی؟
پـدے مینځ کی رسول الله ﷺ ورغلو چه د شا غوښه ئے رپیدله او ډیر د هیبت حالت کـی وو، خـدیـجـه رضـی الله عـنـها تـه ئـے وویل : (زَمِّلُوْنِیْ زَمِّلُوْنِیْ وَفِیْ رِوَایَةٍ : زَمِّلُوْنِیْ وَدَثِّرُوْنِیْ)۔ مـا پټ کړئ او بستره اوکمبل راباندے واچوئ څکه چه چا باندے یره راشی نو هغه ځان پټوی اګرکه خوَلے ترے روانی وی او پدے سره ترے الله یره ختموی۔
په یو روایت کی دی : (يَرْجُفُ فُؤَادُهٗ)۔ د نبی علیه السلام زړۀ رپیدلو۔
او په بل روایت کی دی :(تَرْجُفُ بَوَادِرُهٗ)۔ د شا غوښی ئے رپیدلی،
رسول الله ﷺ بشر او انسان دے رعب پرے راغلے اګرکه ډیر قوی انسان دے، ډیر غټ زړۀ والا دے خو بیا هم د انسان طاقت محدود وی داسے احوال پرے راځی۔
نوخدیجی رضی الله عنها پرے جامه واچوله، پټ ئے کړو :
(حَتّٰی ذَهَبَ عَنْهُ الرَّوْعُ) تردے چه رعب ترے ختم شو۔
(السیرة النبویة لابن کثیر:۱/۴۰۳) و دلائل النبوة للبیهقی (۲/۱۴۸)

د وحی د نزول نه روستو خدیجی ته راتلل او هغی ته خبر ورکول

نـو لږ سـاعـت روستو الله سبحانه وتعالیٰ ترے هغه یره ختمه کړه، راپاڅیدو نو اول ئے خـدیـجی رضی الله عنها تـه خبر ورکړو، هغے ورته وویل چه څه چل درباندے شویدے؟

نبی ﷺ وفرمایل: چه زهٔ په غار حراء کې ناست وم، یو سړي راغې ما ته ئې وویل : (اِقْرَاْ)۔ ولوله...... باقي قصه ئې ورته بیان کړه۔

نبی ﷺ دې ځای کې د عجیب حکمت نه کار اخستې دې چه په کومه طریقه ئې خدیجه رضی الله عنها ته دعوت ورکړو۔

(اول دعوت رسول الله ﷺ چا ته ورکړو اول ایمان پرې چا راوړو؟، په سړو کې اول چا ایمان راوړو او په زنانو کې اول ایمان چا راوړو او دعوت ئې په څه طریقه وکړو ؟ ددې خبرو تفصیل به ان شاء الله روستو بیانیږي)۔

پدې مقام کې بیا په بعض روایتونو کې ورسره داسې زیادت راغلې دې چه نبی ﷺ وفرمایل : زما په زړهٔ کې دا خبره تیره شوه چه داسې نهٔ چه زهٔ لیونې نشم، ناشنا غوندې حالت راباندې راغې، هسې نهٔ چه دماغ مې خراب نشي د خلقو به رانه نفرت وشي، یا دا چه شاعر نشم، شاعري راباندې کولاوه نشي، ځکه چه زما دا دوه قسم خلق د مزاج نه بد لګیدل، ځکه چه شاعران غالباً په خپلو خبرو کې دروغ وائي او بې ځایه صفتونه او مبالغې کوي) نو زړهٔ کې ئې دا تیر شول چه ځان وژنم، داسې نهٔ چه قریش راپسې خبرې وکړي وائي به چه شاعر دې یا به وائي چه لیونی دې،

ما وویل چه ددې غار نه اُوځم او ځان ښکته ارتوم دې دپاره چه ځان په راحت کې کړم، نو پدې کې زهٔ بهر راوتلم چه د غر نه ځان وغورځوم نو جبریل علیه السلام راته په هوا کې ښکاره شو چه قدمونه ئې داسې اوږده کړي وو لکه چه په کرسي باندې ناست وي او د انسان په شکل راته ښکاره شو نو ما ته ئې وویل : (يَا مُحَمَّدُ أَنْتَ رَسُوْلُ اللّٰهِ وَأَنَا جِبْرِيْلُ)۔ اې محمده ! تهٔ یقیناً د الله رسول ئې۔ او دا زهٔ چه تا سره خبرې کوم جبریل یم، درې ځله ئې ورته دا خبره وکړه،

نبی ﷺ فرمائي : ما چه کومه اراده کړې وه هغه ئې رانه هیره کړه، ځکه چه ډیر ناشنا حالت وو چه په هوا کې د انسان ودریدل د هغه زمانې مطابق ډیره ناشنا خبره وه او دومره لوی شخص چه هر طرفته ګورم هغه راته ښکاري۔

(الشفاء بتعریف حقوق المصطفی للقاضی عیاض الیحصبی متوفی ۵۴۴ھ (۱۰۱/۲) ودلائل النبوة للبیهقی (۱۴۸/۲) سیرة ابن اسحاق (۱۰۱/۲)

نبی ﷺ چه کله خپل اصلي حالت ته رابیدار شو نو :(وَأَخْبَرَهَا الْخَبَرَ)

اول خبرئے خدیجه رضی الله عنها ته ورکړو۔ ورسره نبی ﷺ دا خبره زیاته کړه :
(وَاللّٰهِ لَقَدْ خَشِیْتُ عَلٰی نَفْسِیْ)۔

قسم په الله زهٔ په خپل ځان یریږم۔ ددے جملے ډیر مطلبونه بیان شویدی، چا یو مقصد بیان کړے او چا بل مطلب۔ غوره مطلب پکی دا دے چه پدے سره د نبی ﷺ خپلی بی بی ته په حکمت سره دعوت ورکول غرض دے، ځکه که سمدست ورته ووائی چه زهٔ رسول یم، اے خدیجی! ایمان راوړه نو شیطان خو دشمن دے هغه به وسوسه واچوی، نو بی بی به د خپل خاوند نه نفرت وکړی چه زما پدے خاوند څه وشو؟ نو طریقے سره دعوت ورکوی او دیته حکمت وائی چه خبره مکمله کوی لیکن ترتیب سره ئے کوی په خوږو الفاظو سره، حکمت دا نهٔ دے چه انسان غلے کینی۔

نو نبی ﷺ داسے تواضع او عاجزی اختیار کړه چه زما خو په ځان یره پیدا شوه نو خدیجی رضی الله عنها تسلی ورکړه، دارنګه که اول نه ئے هغے ته وئیلی وے چه په ما باندے ایمان راوړه، دا به په هغے تکلیف شوے وے نو ترتیب سره ئے خبر ورکړو چه زهٔ خو په ځان ویریږمه نو هغے ورته ووېل چه مهٔ یریږه الله به تا نهٔ شرموی۔

دویم مقصد د (لَقَدْ خَشِیْتُ عَلٰی نَفْسِیْ) : زهٔ په ځان یریږم هسے نهٔ چه دماغ مے خراب نشی، لیونے نشم ځکه دا خو ډیر ګران کار دے۔ (دا مطلب دومره قوی نهٔ دے)۔

دریم مطلب دا دے چه زهٔ په ځان یریږم که جبریل (ﷺ) بیا راشی او ما ته داسے زور راکوی، زهٔ به مړ شم۔

څلورم مقصد : که الله ما نبی وګرځوی نو د نبوت برداشت کول خو ډیر ګران کار دے، نبوت خوځه تهوقی نهٔ دی، د ټول امت سنبالول او د هغوی تربیت کول او خپل ټول خواهشات د الله دپاره قربانول دی، د شپی او د ورځی ځان ایښول دی لکه روستو به حدیث ذکر کړو چه نبی ﷺ دغسے فرمایلی هم دی۔

نبی ﷺ ته د خدیجی رضی الله عنها د طرفنه تسلی

هرکله چه نبی علیه السلام خپل حالت سیّده خدیجی (رضی الله عنها) ته وړاندے کړو نو اُوس د هغے هوښیارتیا او عقلمندئ ته وګوره، د جاهلیت دَور دے او دومره علم

هم نشته خو هغه ورته ځومره ښائسته تسلي ورکوی، نیکه او عقلمنده ښځه هم د سړی سره د دین په کار کی پوره مدد کوی۔ نو خدیجې رضی الله عنها ووئیل :

(اَبْشِرْ، کَلَّا ! وَاللّٰهِ لَا یُخْزِیْكَ اللّٰهُ اَبَدًا)۔ خوشحاله شه ! هیڅکله داسې نۀ ده، مۀ یریږه قسم په الله، الله به تا هیڅرې نۀ شرموی چه لیونتوب درباندې راولی یا دې پدې حالت کی مړ کړی بلکه الله ستا د عزت اراده کړې ده ځکه تا کی ښائسته عملونه موجود دی او دا د الله قانون دې چه په کوم انسان کی ښکلی او نیك اعمال موجود وی هغه الله نۀ ضائع کوی، الله د نیك اعمالو ملګرې وی هرچا کی چه موجود وی،

(ددې وجه نه د چا سره حسد مۀ کوه چه فلانی ولې دومره ترقی وکړه بلکه تۀ هم د هغه په شان نیك عملونه شروع کړه تا له به هم الله عزت درکړی، د هغه نه نیك اعمال ډیر کړه، په هغه به دې دپاسه کړی ځکه چه الله د اعمالو ملګرې وی خو ډیرو خلقو ته دا لاره نۀ ده معلومه، غلطه لاره اختیاروی)۔

خدیجې رضی الله عنها نبی علیه السلام ته وفرمایل چه تا الله ځکه نۀ رسوا کوی چه تا کی ښائسته عملونه او صفتونه دی او هغه اعمال او صفتونه دا دی:

(اِنَّكَ لَتَصِلُ الرَّحِمَ وَتَحْمِلُ الْكَلَّ وَتَكْسِبُ الْمَعْدُوْمَ وَتَقْرِی الضَّیْفَ)۔

تۀ خپلولی قائموې، (خپلولی قائمول د الله یو ضروری حکم دې، په معمولی خبرو باندې د خپلوانو سره ورانول نۀ دی جائز، زمونږ د مسلمانانو په مینځ کی به هیڅ واقعه نۀ وی راغلی وی نو خپلولی به پریکړی او دشمنی به شروع کړی دا څومره د نقصان خبره ده)۔ دویم کار دا کوې چه تۀ د خلکو نه بوجونه په ځان راوچتوې۔

(کَلّ دې ته وائی چه یو سړې کمزورې دې، د هغه بوج تۀ په ځان باندې را واچوې چه ددۀ خدمت به زۀ وکړم او خرچه به ورله زۀ کوم)۔

او دریم دا چه تۀ فقیر سړی دپاره کسب پیدا کوې، (یو سړې تۀ په کار ولګوې او کار ورله پیدا کړې نو دا هم یو کمال دې لکه ډیرو خلکو کی دا خیرخواهی نشته)۔

او ددې دویم مقصد دا دې چه نورو خلکو کی هغه صفتونه نشته کوم چه په تا کی موجود دی۔ او بل دا چه تۀ میلمه ته میلمستوب ورکوې، (میلمه ته میلمستوب ورکول ډیر ښکلی صفت دې چه د هغه اکرام وکړی، وخت ورله ورکړی دا ټول د میلمه عزت دې، او دا په اسلام کی په مونږ باندې فرض ده چه میلمه کله راشی د هغه اکرام

وکړو، او شریعت دواړو ته طریقه خودلې ده، کور به ته وائی چه د میلمه عزت وکړه او میلمه ته وائی چه تهٔ هم د کوربه ضروریات او ظروفو او وختونو ته ګوره، ترتیب وپیژنه، د بنده مزاج ته وګوره چه کوربه په تا باندے څومره اندازه کی خوشحالیږی، د هغې مطابق تګ راتګ کوه او ډیرئے مهٔ تنګوه۔

(وَتُعِيْنُ عَلٰى نَوَائِبِ الْحَقِّ) (بخاری: ۱/۸)۔

او په چا چه په حق کی مصیبت راشی نو تهٔ د هغه ملګرتوب او مدد کوے۔

(مقصد دا دے چه د یو سړی پلار مړ شو، او دا کمزورے پاتے شو، کار او کسب ئے کولو په هغې کی تاوانی شو، یا جیل ته بوتللے شو، نو ددهٔ سره مدد پکار دے ځکه چه هغه باندے د الله د طرفنه مصیبت راغلے دے نو ددهٔ سره به مدد کوی او په ناروا او باطل کی به مدد نکوی)۔

دا نبوی صفات دی په نبی ﷺ کی دا د مخکی نه هم موجود وو او د نبوت نه روستو خو پکی خامخا موجود وو۔ او دا ښکلی صفتونه تول په سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه کی هم موجود وو لکه چه روستو به راشی ابن الدغنه ویلی وو چه په تا کی دا صفتونه موجود دی نو تا خپل قوم څرنګ د کلی نهٔ وباسی۔

پهٔ عربو کی دا صفتونه د همدردئ ډیر وو او زمونږ په عجمو کی ډیر کم دی۔

د خدیجی رضی الله عنها دے تسلئ ته وګوره، په داسے موقعه کی یو انسان ته تسلی ورکول ډیر لوی اثر لری، پدے وجه رسول الله ﷺ به خدیجه رضی الله عنها د هغې د مرګ نه روسته هم ډیره یاده وله چه دا هغه زنانه ده چه زما په سخت وخت کی پکار شویده۔

د نبی ﷺ ورقه بن نوفل ته بوتلل او د نبوت نه مخکنی مسلمانان

خدیجی رضی الله عنها خو یو تسلی ورکړه او بل کارئے دا وکړو چه ورته ئے وویل چه دلته زما د ترهٔ ځوی دے ورقه بن نوفل ئے نوم دے، هغه له دے بوځم نو نبی علیه السلام ئے د ځان سره راروان کړو او ورقه بن نوفل ته ئے راوستو،

(ورقه بن نوفل یو سړے وو چه ده پۀ زړۀ کی الله تعالیٰ دا خبره اچولې وه چه حق قبلول پکار دی.

په عربو کی د نبی علیه السلام د راتللو نه مخکی یو څو کسان راجمع شول او دا اتفاق ئے وکړو چه زمونږ پلار نیکه چه په کومه لاره روان دی دا خو غلط دی، د کاڼړو، بوتو، د بتانو عبادت کول دا کوم عقل دے؟ نو راځئ چه صحیح دین طلب کړو.

(**فائده :** مونږ هم وایو چه گوره مونږ ته الله تعالیٰ روغ دین راکړیدے، او اوس هم روغ زمونږ مخے ته د ماتی ډوډئ پشان پروت دے، صرف عمل ته ضرورت دے او منل ئے پکار دی او په هغه زمانه کی روغ دین نۀ وو، پریشانه وو چه الله ته به څرنگ ورسیږی)

نو دے کسانو د صحیح او روغ دین طلب کولو چه الله ته پرے ورسیږو او د الله د غضب نه پرے بچ شو، پدے کسانو کی یو زید بن عمرو بن نفیل وو چه د نبی علیه السلام ده سره ملاقات شوے وو د نبوت نه مخکی په بلدح علاقه کی لکه لږ مخکی دا خبره ذکر شوه.

بل ورقه بن نوفل، بل عبید الله بن جحش او قُسّ بن سَاعِده او څه نور کسان وو او مخکی زمانه کی ابوذر غفاری او عَمرو بن عَبَسَه دا هغه کسان وو چه دوی په جاهلیت کی د حق دین تالاش کولو پدے کی دوه درے کسان په مکه کی وو دوی وویل چه صحیح دین به کوم ځای کی وی، نو وے ویل چه شام ښائسته علاقه ده هلته پیغمبران راغلی دی هلته به لاړ شو، د هغه ځای نه کیدے شی صحیح دین راوړو، دا قریش او زمونږ قوم قبیله خو ډیر په گډو وډو روان دی،

دا کسان شام ته لاړل هلته ئے تپوس وکړو چه دینداره خلك دلته څوك دی؟ نو خلکو ورته وویل چه یهودیان دی، هغوی ته ورغلل ورته ئے وویل چه ستاسو مشر څوك دے چه په دین باندے صحیح پوهیږی؟ نو هغوی وویل فلانکے حِبر، یو مُلا ئے ورته وښودۀ چه دا زمونږ یهودی مُلا دے او دا په دین باندے ښۀ عالم دے. نو زید بن عمرو بن نُفَیل ددے نورو ملگرو مشر وو، دۀ به خبره کوله، دا ورغے هغه مُلا ته ئے وویل چه مونږ خو د مکے (حجاز) نه راغلی یو او د صحیح دین طلبگار یو او دا ستاسو دین مونږ ته خلکو خودلے دے چه دا روغ دین دے، دا دین مونږ ته ووایه چه

مونږه دا قبول کړو او پدے باندے روان شو نو هغه یهودی مُلاورته د انصاف خبره وکړه چه : (اِنَّكَ لَا تَدْخُلُ فِيْ دِيْنِنَا حَتّٰى تَأْخُذَ نَصِيْبَكَ مِنْ غَضَبِ اللّٰهِ)۔

زمونږ په دین کی چه راننوزی د الله غضب به درباندے کیږی)۔

ددے چا دا مطلب بیان کړیدے چه زمونږ کی داخل شی نو اول به درباندے څلویښت ورځے غضب کیږی بیا به روستو د غضب نه بچ کیږئ۔

لیکن ظاهر او صحیح معنیٰ دا ده چه هغه د انصاف نه کار واخستو او ورته ئے وویل چه زمونږ دین ګډوډ شویدے که پدے کی راننوتلے نو د الله غضب به درباندے وشی ځکه یهود مغضوب علیهم دی، په هغوی الله تعالیٰ غضب نازل کړیدے، دا دین ئے بدل کړیدے او په ګډوډو روان دی، د الله په مخلوقاتو کی ناکاره مخلوق اسرائیل (یهودیان) دی ورسره انګریزان، یهود او نصاریٰ ټول په دنیا کی شری او ناکاره مخلوق دے.لکه قرآن کریم دا ویلی دی، د مار لړم او شرمښانو، سپو او خنزیرانو نه نه هم ناکاره دی او عجیبه لا دا ده چه زمونږ مسلمانان د دغه شر البریه (ډیر ناکاره مخلوق) نه متأثر دی او لا ترے یریږی لکه زمونږ حکام او محکومین د الله تعلق نۀ لری پدے وجه د دوی نه یره کوی او د دوی تهذیب خپلوی۔

نو زید بن عمرو بن نفیل ورته وویل : (لَا اَفِرُّ اِلَّا مِنْ غَضَبِ اللّٰهِ) ۔ مونږ خو نۀ تښتو مګر د الله د غضب نه۔ هرکله چه ستاسو په دین کی په ننوتو د الله په غضب اخته شو نو بیا څه فائده شوه۔ (فَهَلْ تَدُلُّنَا عَلٰى شَيْءٍ ؟)۔ آیا تۀ بله لاره راخودلے شے؟۔

نو هغه ورته وویل: (لَا أَعْلَمُ اِلَّا أَنْ تَكُوْنَ حَنِيْفًا)۔ ما ته بل دین نۀ دے معلوم مګر د ابراهیم علیه السلام دین دے چه هغه حنیف وو۔ زید بن عمرو وویل حنیف څه ته وائی؟ هغه ورته وویل : ټول دینونه او شرکونه به پریدے او صرف د الله به یو اځے بندګی کوے او دا د ابراهیم علیه السلام دین دے، ابراهیم علیه السلام په توحید باندے راغلے وو، ټول انبیاء علیهم السلام په توحید راغلی وو لیکن دا پکی ډیر مشهو دے امام الحنفاء (د موحدینو مشر) دے۔ توحید دے ته وائی چه د بنده زړه هم الله ته سجده وکړی، دماغ ئے هم وکړی، سترګی او لاسونه او خپی او ټول بدن ئے الله ته متوجه شی او نور مخلوق پریدی چه نۀ چا ته ریا کوی او نۀ چا ته آورول کوی، نۀ حقیقی شرك وکړی او نۀ د دنیا د مال دپاره یو نیك عمل وکړی او نۀ ئے د تنظیم او د حکومت دپاره

وکړی او نهٔ ئے د طاغوت دپاره وکړی صرف د رب العالمین دپاره هر کار کولو ته توحید وائی، که پدے کی یو شی کی فرق راغے نو توحید خراب دے)

بیا دوی چه بهر راووتل خپل مینځ کی ئے مشوره وکړه چه دلته خو مو تپوس وکړو، لاړ به شو بل ځای به هم تپوس وکړو، بل ښه دین به ملاو شی، دیته تحقیق وائی۔ دا خبره هم یادول پکاردی چه څوك جنت ته ځان رسول غواړی نو تحقیق به کوی، زمونږ ډیر مسلمانان پدے وخت کی داسے دی چه لا ابالی دی، بی باکه دی، دا خبره کوی چه هر سړے به خپل کار کوی، دا ډلی تپلی دی، د مولیانو خبری دی، بلکه خپل دکان او کار روزګار ته ځه راځه او مزدوری کوه او پنځه وخته مونځ کوه بس دا کافی ده، نهٔ پدے باندے ښنبل نشته بلکه تحقیق به کوے چه کومه خبره حقه ده او کومه غلطه ده، تحقیق کول د مؤمن سړی صفت دے، جنت حاصلول خو څه ګپ نهٔ دے، تحقیق به کوے، د الله نه به دعاګانے غواړے چه الله ما ته حق رانصیب کړی، د سیدنا حمزه رضی الله عنه په واقعه کی راځی چه دے به د شپے راپاڅیدو، دعا به ئے کوله چه اے الله ! که محمد رسول الله ﷺ په حقه وی نو ما ته ئے رابنکاره کړه)۔

نو زید بن عمرو بن نفیل او د هغه ملګرو تحقیق شروع کړو چا ورته وویل چه دلته نصاریٰ (عیسایان) دی چه دوی ورغلل تپوس ئے وکړو چه ستاسو مشر څوك دے ؟ هغوی وویل: فلانکے پیر، هغه ته ورغلل ورته ئے وویل چه مونږ د مکے نه راغلی یو حق دین طلب کوو، دا ستاسو دین راته چا ښودلے دے ؟ هغه وویل:

(اِنَّكَ لَا تَدْخُلُ فِیْ دِیْنِنَا حَتّٰی تَأْخُذَ بِنَصِیْبِكَ مِنْ غَضَبِ اللّٰهِ وَلَعْنَتِهٖ)۔

که تهٔ زمونږ دین ته داخل شوے نو خپله حصه به واخلے د الله غضب او د هغه د لعنت نه۔ دوه کارونه به دربانذے کیږی نو نصاریٰ او کافران انګریزان ملعون هم دی او الله پرے غضب هم کړیدے۔ نو هغوی ورته وویل :

(وَهَلْ نَفِرُّ اِلَّا مِنْ غَضَبِ اللّٰهِ)۔

مونږ نهٔ تښتو مګر د غضب د الله نه۔ چه زمونږ وسعه کیږی مونږ به ځان د الله د غضب او د لعنت نه ساتو نو بل څه شے راښودلے شے؟ هغه ورته وویل:

(لَا اَعْلَمُ اِلَّا اَنْ تَكُوْنَ حَنِیْفًا)۔

زهٔ ښه نهٔ پیژنم مګر د ابراهیم علیه السلام دین، هغه غوره دین دے په هغے روان شه۔

فائده : ډیر کرته یو سړے په باطله وی خو د خُلے نه ئے حقه خبره راوځی، دلته دوی په غلط دین روان دی او د خُلے نه ئے حقی خبری راوتلی دی، لکه یهودو او نصاراو کی دا مرض وو چه نورو خلکو ته به ئے مسئلی کولے او خپله به ئے پرے عمل نهٔ کولو۔
﴿أَتَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنسَوْنَ أَنفُسَكُمْ﴾ دا به ئے وئیل چه دا رسول حق دے خو خپله به ئے تابعداری نهٔ کوله۔

پدے کی زید بن عمرو بن نفیل مکے ته راغے او په کعبه کی ئے الله ته لاس اوچت کړو چه اے الله ! زهٔ بله لاره نهٔ پیژنم چه تا ته پرے ورسیږم سویٰ ددے نه چه تا ته سجده وکړم، دغه د ابراهیم ؑ دین راته معلوم دے او هغه هم څه نا څه احکام وو۔ او قریشو ته به ئے ویل چه تاسو د ابراهیم ؑ په دین باندے روان نهٔ یئ، زهٔ پرے روان یم، هغه حنیف وو او تاسو مشرکین یئ او دا به ئے ویل چه دا ګډ الله تعالیٰ پیدا کړیدے تاسو ئے ولے د غیر الله په نوم ذبحه کوئ، د شرك رد به ئے هم کولو، خو داسے ډیر زور به ئے نهٔ ورکولو نو کافرانو به ورته څه نهٔ ویل، چه یو سړے دے خبره ئے وکړه تیره شوه۔

پدے کی ورقه بن نوفل د نصرانیت لاره غوره کړه چه نصرانیت آخرنے دین دے او انجیل آسمانی کتاب دے، هغه ئے یاد کړو څکه دا حق کتاب دے، دارنګه تورات ئے زدهٔ کړو او عبرانی ژبه ورته یاده وه، سریانی هم ورته یاده وه، درے ژبی ئے زدهٔ کړے وے، (عبرانی، سریانی، عربی)۔ نو د سریانی او عبرانی ژبی نه به ئے په عربی ژبه کی ترجمانی کوله او د عربی نه به ئے په سریانی او عبرانی کی ترجمه کوله، پخوانے مُلاوو، نو دهٔ ته د نصرانیت دین حق ښکاره شوے وو او په نصرانیت کی موحدین خلكِ پټ پټ موجود وو لیکن په ډیر کم تعداد کی۔

د نبی ؑ نه د ورقه بن نوفل تپوسونه او تسلی

ورقه بن نوفل حق پرست سړے وو نو کله چه رسول الله ﷺ ددهٔ سره ملاؤ شو، هغه ورته تسلی ورکړه او نبی ؑ ته ئے وویل : (هَذَا النَّامُوسُ الَّذِىْ أُنْزِلَ عَلَى مُوسَى)۔

دا تا باندے چه ګوم (رازدار ملائك) جبریل راغلے دے دا په موسیٰ علیه السلام باندے هم الله رالیږلے وو۔ په یو روایت کی دی چه خدیجی ته وواپه :

(فَلْيَثْبُتْ فَإِنَّهُ نَبِيُّ هٰذِهِ الْأُمَّةِ). کلك دې شي ځکه چه دا به ددې امت نبي جوړيږي.
او مخامخ ئې ورته دا خبره وکړه چه په تا خو هغه جبريل راغلې دې کوم چه په موسى عليه السلام باندې راغلې وو او بيا ئې ورته دوه خبرې وکړې:
يو دا چه (يَا لَيْتَنِي فِيهَا جَذَعًا). ارمان دې چه په هغه زمانه کې چه ستا نبوت به خور شي زۀ ځوان او طاقتور وې. (حِيْنَ يُخْرِجُكَ قَوْمُكَ لَأَنْصُرَنَّكَ نَصْرًا مُؤَزَّرًا).
کوم وخت چه ستا قوم به تا د مکې نه وباسي نو ما به ستا داسې کلك مدد کړې وې چه زۀ بـه ستا شا ته ولاړ وې خو ارمان چه زۀ بوډا او کمزورې يم او هغه وخت به زۀ مړ يم کـلـه چه به ستا نبوت خوريږي، ارمان که دغه زمانه زما په ژوند کې راغله نو زۀ به دې کلك مدد وکړم نو دۀ د نبي عليه السلام تائيد وکړو.
فائده : دلتـه ورقـه بـن نـوفـل لوی عالِم دې چه تورات هم ورته ياد دې او انجيل هم، عبراني او سرياني ژبو باندې هم پو هيږي ليکن تکبر ئې ونکړو چه تا ته وحي کيږي او مـا تـه نۀ کيږي پکار دا وه چه ما ته شوې وې او د نبي ﷺ سپکوالې ئې کړې وې چه تا تـه گوره او نبوت ته گوره، امي سړې ئې، داسې ئې ونکړه، الله رب العزت ورله دا لړ تائيد او عاجزي ډيره فائده کې راوستله).
کله چه ورقه دا خبره وکړه نو نبي ﷺ تپوس وکړو چه : (أَوَ مُخْرِجِيَّ هُمْ؟).
آيا دا هم کيدې شي چه دا خلك به ما د مکې نه وباسي؟، زۀ خو دې خلکو ته صادق او اميـن ښـکـارم، زمـا سره امانتونه ږدي، نبي عليه السلام خلکو کې ډير محبوب وو ځکه چه اخلاق ئې هم اوچت وو، وقار ئې زيات وو، کمالات پکې ډير زيات وو نو خلکو ته ډير زيات گران وو نو تعجب ئې وکړو چه آيا دا خلك به ما وباسي؟
ورقه بن نوفل ورته ووئيل: آؤ، (لَمْ يَأْتِ رَجُلٌ بِمِثْلِ مَا جِئْتَ بِهِ إِلَّا عُوْدِيَ).
يـو سـړی نـۀ دی راوړی هـغـه خبرې کومې چه تا راوړی دی (نۀ چه کوم توحيد او حق بيانونې) مگر د هغه سره ضرور دشمني شويده،
(څوك چه حق بيانوي هغه سره به ضرور دشمني کيږي د هغه به دشمنان ضرور وي اوچـه حق دې نـۀ بيانولو نو تول خلك به درته بزرگان ښکاري، تۀ حق صحيح او کلك بيـان کـره دشـمـنـان به دې ډيريږي، کافران او مشرکين او اهل بدع به دې دشمنان شي، ددې نـه دا مـعـلـومـه شـوه چـه د حق پـرسـتـو خـلـکو دشمنان زيات وي او د باطل والو

دشمنان نهٔ وی سوئ د الله نه، د باطل والو دشمن صرف یو الله دے او د اهل حقو الله دوست دے او نور دشمنان ئے ډیر وی او دوستان ئے کم وی۔
نو ورقه نبی ﷺ ته د مخکې نه دا خبره په غوږ کې واچوله چه تا به خلک شړی کله چه تهٔ حق بیان کړے۔
ددے خبرو نه روستو رسول الله ﷺ د ورقه بن نوفل د کور نه واپس راغلو، لږے ورځې روستو ورقه بن نوفل وفات شو ځکه چه ډیر بوډا او کمزورے شوے وو او سترګې ئے هم کمزوری شوے وے او په آخره زمانه کې ړوند شوے هم وو۔
په یو حدیث کې راغلی دی چه عائشه رضی الله عنها د نبی ﷺ نه تپوس وکړو چه ورقه بن نوفل خو ستا تصدیق کړے وو آیا هغه جنتی دے که جهنمی؟ یو روایت کې داسے دی، نبی ﷺ فرمائی چه ما په خوب کې ولیدو:
(وَرَأَیْتُ عَلَیْهِ ثِیَابًا بِیُضًا)۔ ما ولیدو چه په هغه باندے سپینې جامې وے۔
(وَلَوْ کَانَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ لَمْ تَکُنْ عَلَیْهِ الثِّیَابُ الْبِیُضُ) ۔او که هغه جهنمی وے نو په هغه به سپینې جامې نهٔ وے)، دا علامه ده چه دے الله تعالیٰ جنت ته بوتلے دے۔
(سنن الترمذی وفی سنده عثمان بن عبد الرحمن وهو ضعیف ولکن له اسناد جید غیر اسناد الترمذی کما فی الروض الانف ۱/۳۲۹) وصحیح السیرة النبویة للالبانی (۱/۹٤) و حسنه)۔
بل روایت داسے دے: (رَأَیْتُ الْقَسَّ (ای وَرَقَةَ) فِی الْجَنَّةِ)۔
ما ورقه په جنت کې ولیدو۔(مصنف ابن ابی شیبه (۸/٤۳۹)
د نبی ﷺ خوب وحی وی۔
نو ورقه بن نوفل په صحابه کرامو کې داخلیږی، ددے وجه نه حافظ ابن حجر رحمه الله په خپل کتاب «الاصابه فی تمییز الصحابه» کې په اولنو صحابه کرامو کې ذکر کړیدے، یعنی هغه صحابه کرام چه پخوانی مؤمنان دی، صرف پدے لږ تائید او پدے تواضع او عاجزئ باندے چه دهٔ الله رب العالمین ته اختیار کړه او تکبر ئے ونکړو، الله سبحانه وتعالیٰ معاف کړو، نو دا اصول مونږ ته ددے سیرت نه حاصلیږی چه هر چا چه حق خبره وکړه هغے ته عاجزی پکار ده او د هغے منل پکار دی۔کله چه یو مُلاسړے په تکبر کې راشی نو په الله پورے پناه!! کله نا کله یوه حقه خبره به تا ته کیږی نو شیطان به درته وسوسه واچوی او په غیر د څه سبب نه به دے غصه کړی، زړهٔ کې به

دے تکبر راشی ددے کار نه د الله پورے امان طلب کول پکار دی۔

د وحی د بندیدلو زمانه او حکمت

ورقه بن نوفل لږه زمانه روستو وفات شو۔ نبی علیه السلام په همدے حالت کی دے او وحی الله رب العالمین د هغه نه بنده کړه۔

علماء کرام فرمائی چه یا خو ترے دا وحی درے کاله بنده شویده لیکن دا ډیر کمزورے تاریخ دے۔ دویم قول دا دے چه وحی شپږ میاشتی بنده وه۔ دریم قول دا دے چه یو څو ورځی بنده شوے وه۔ ظاهر همدا دریم قول دے چه لږه زمانه وحی بنده وه۔

ددے حکمت دا وو چه کله چرته نبی علیه السلام ته پرله پسے وحی وشی نو د وحی په وجه د پرون تکلیف نه لا په راحت کی شوے نهٔ دے نو که نن پرے بیا وحی راشی بیخی به ئے کمزورے کړی، نفرت به ئے پیدا شی، انسان خو کمزورے دے لکه په ماشوم باندے چه استاذ سبق ورزیات کړی چه سهار او غرمه او مازیګر ئے سبق ته کینولے وی نو د هغه زړهٔ توریږی، لکه بعض د سکولونو استاذان ناپوهه وی ماشوم ته ډیر زیات سبق ورکړی چه دا په یادو یاد کړه نو د هغه ذهن خو وړوکے وی څنګه دومره ډیر سبق یاد کړی، پکار دا ده چه هغه ته لږ لږ سبق وائی او ذ هغوی په ژبه کی ئے ورته وائی۔

دویمه وجه : دا وحی الله ځکه بندوله چه د نبی علیه السلام شوق پیدا شی چه هغه بله ورځ وحی راغلے وه په هغے کی ډیره مزه وه اګرکه تکلیف هم پکی وی، خو زړهٔ رڼا کوی نو پدے وجه مزه هم پکی وی، د جبریل علیه السلام سره چه د سړی ملاقات وشی، نو د انسان زړهٔ بل شان کیږی، نو ددے دپاره چه د نبی علیه السلام شوق پیدا شی او قوت او استعداد پکی پیدا شی وحی څو ورځو دپاره بنده شوه۔

نو د رسول الله ﷺ شوق پیدا شو چه دا څرنګ حالت وو چه وحی راغله او بیا بیرته بنده شوه، نو پدے ډیر شوق کی نبی علیه السلام ډیر پریشانه شو، دومره پریشانه شو چه د ډیرے پریشانئ نه ئے د خودکشئ او د ځان وژلو اراده وکړه۔

(دلته سوال پیدا کیږی چه خود کشی خو ناروا ده نبی علیه السلام خپله فرمائی چه چا ځان مړ کړو اُور کی به همیشه دپاره وی (خَالِدًا مُخَلَّدًا فِيهَا اَبَدًا)

(صحيح البخاري: ۵۷۷۸) نو نبي ﷺ د ځان د وژلو څرنګ اراده وکړه؟

بعض علماء وائي دا روايت کمزورے دے چه نبي ﷺ ځان وژلو۔ ليکن صحيح خبره دا ده چه دا د اسلام ابتدا ده، نبي ﷺ ته ددے مسئلے چه خودکشي حرامه ده لا معلومات نهٔ وو، دا مسائل او احکام شرعيه ورته نهٔ وو بيان شوي، دا خو روستو الله تعالىٰ په هغه باندے دا علمونه راخلاص کړل)

نو پدے وجه ئے دا اراده وکړه چه يو غرته وخيژم او ځان راګوزار کرم، په وحي پسے دومره غمژن وو، نو نبي عليه السلام چه کله غرهٔ ته وختلو، جبريل عليه السلام به ورته ښکاره شو او دا به ئے ورته ويل چه تهٔ د الله حق رسول ئے، نو بيرته به د هغه جوش ښکته شو، ډيرے ورځے دا کار وشو، پدے کي الله سبحانه وتعالىٰ ورته دوباره بيرته وحي وکړه او لړ شان آيتونه د سورة المدثر ورته نازل شو،

د جابر رضي الله عنه په روايت سره رسول الله ﷺ خپله واقعه بيانوي:

چه زهٔ روان وم يو غرته ختلم، په لاره باندے غمژن روان وم، پدے کي ما ته آواز وشو چه ما بره وکتل نو جبريل عليه السلام مے وليدو هغه جبريل چه ما ته په غار حراء کي راغلے وو، هغه ما ته راغے او په هوا کي په کرسۍ باندے ناست دے نو ما ته ئے وحي وکړه:

﴿ يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ، ﴿١﴾ قُمْ، فَأَنْذِرْ ﴿٢﴾ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ، ﴿٣﴾ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ ﴿٤﴾ وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ ﴿٥﴾ وَلَا تَمْنُنْ تَسْتَكْثِرُ ﴿٦﴾ وَلِرَبِّكَ فَاصْبِرْ ﴿٧﴾۔

دا آيتونه نازل شو چه پدے کي الله رب العزت ډير کمال کړيدے، د قرآن په اسرارو او رازونو چه څوك پوهه شي هغه ته به دا معلومه شي چه الله تعالىٰ حق دے، د هغه رسول او د هغه کتاب حق دے،

پدے آيتونو کي دننه رب العالمين خپل نبي ته يو دا امر وکړو چه څادر لرے کړه او پاڅيږه اوس د اُوده کيدو او د راحت زمانه ختمه شوه، موضوع ئے ورته ورکړه چه څه موضوع به بيانوے، تقرير کي به ستا څه موضوع وي؟ موضوع دا ده چه هميشه به د الله لوئي والے، د الله کبرياء بيانوې، بله موضوع به ستا دا وي چه خلکو کي بد اعمال موجود دي، د هغے نه به ئے يروې چه هغه شرك، کفر، تکبر، حسد او تعصب دے، حرام خوړل، قتل وقتال او فسادونه دي، ددے ټولو نه به ئے منع کوې، د بدو اعمالو نه خلك

منع کول او د الله لوئی د خلکو په زړونو کې کینول او د شرك نه خلك بچ كول دا موضوع شوه۔

بل امر ئې ورته دا وکړو چه ته داعي ئې نو خپلې جامې به پاکوې، ولې کچرته جامې دې گنده وي او ته بل ته دعوت ورکوې بیا به ستا دعوت اثر نۀ کوي، ورسره ئې ورته دا خبره وکړه چه خپل نفس به پاکوې، وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ دا معنیٰ هم ده چه عمل خپل جوړ کړه نو تزکیه د نفس به کوې، ځان به دومره پاك کړې چه حسد، بغض او تعصب ستا په سینه کې نۀ وي نو انسان پدې سره انتهائی کمال ته رسي، او رسول الله ﷺ رښتیا پدې باندې عمل کړې وو، په ټول انسانیت کې کامل انسان چه د هغه دپاسه بل کیدې نشي۔

حسان بن ثابت رضي الله عنه به وئیل :۔

خُلِقْتَ مُبَرَّأً مِنْ كُلِّ عَيْبٍ	❁	كَأَنَّكَ قَدْ خُلِقْتَ كَمَا تَشَاءُ
وَأَحْسَنَ مِنْكَ لَمْ تَرَ قَطُّ عَيْنِي	❁	وَأَحْسَنَ مِنْكَ لَمْ تَلِدِ النِّسَاءُ

oته د هر عیب نه پاك پیدا کړې شوې ئې لکه گویا ته د خپلې خوښې مطابق پیدا کړې شوې ئې۔

oستا نه ښائسته زما سترگو چرته نۀ دې لیدلې او ستا نه ښکلی انسان چرته زنانو نۀ دې راوړې۔

نو الله ورته دا امر وکړو چه دغه کمالات ځان کې پیدا کړه۔

﴿ وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ ﴾ : او گناهونه، بت پرستي پریده، یعنې د بت پرستو خلکو نه جدا شه۔

بل حکم ئې دا وکړو چه زیادول به نۀ کوې، داسې به نۀ وائې چه ډیر دعوت مې وکړو بس به وي، سلو او زروته مې وکړو، ډیر تقریرونه مې وکړل اُوس به بس وي، نۀ بلکه څومره چه ستا نه کیدې شي د الله دپاره به ځان ستړې کوې او زیادونه به په الله باندې نۀ کوې چه خپل عمل ډیر گڼړې،

د الله دپاره چه زر کاله زمونږ عمر شي او د شپې او د ورځې ورته په سجده پراته یو او هره ورځ رانه د الله دپاره وینه وځي او بیرته مو الله راژوندی کوي نو بیا هم مونږ د الله تعالیٰ ورو کې شان حق هم نشو ادا کولې، پاتې لا دا چه د یو سړی شل دیرش یا څلویښت

کالـه د الله دپاره خـواری وی دا ډیره کمه ده. د مخلص سړی نښه دا ده چه د الله دپاره به ډیـر زیات عملونه کوی او هغه بهِ ډیر معمولی گڼړی او د ریا کار سړی عادت دا دے چه هغـه وائـی مـا ډیر عبادت وکړو، ډیره خواری مے وکړه، ما د دین ډیر کار وکړو الله تعالیٰ فرمائی دا کار به نهٔ کوے.

﴿ وَلِرَبِّكَ فَاصْبِرْ ﴾ : او د الله دپاره بـه صبر کوے ځکه دا تول کارونه دعوت الی الله او د کـافرانو سره مقابلی او د تول امت تربیت او د مجرمانو مقابلے ډیر گران کار دے هسے په خُـلـه بانـدے یادیړی دا تولے خبرے په صبر باندے حل کیږی خالص د الله دپاره، ولے که د الله دپاره صبر ونکړی، ستا دعوت به خلکو ته ونهٔ رسیږی، د هغه د رضا کولو، د هغه د دین د عام کولو، د هغه د کتاب د عام کولو دپاره به صبر کوے.

ددے نه روستو وحی زاتیزه شوه، پرله پسے به وحی راتلله، وخت په وخت به راتلله.

د وحی اقسام

دے ځای کی به دا خبره بیانه کړو چه نبی ﷺ ته وحی په مختلفو طریقو کیدله بیا د هغه د دعوت زمانی چه دعوت ئے په څه طریقه شروع کړو؟، اول چا ایمان راوړو؟، او په کوم ترتیب ؟ د هغے تفصیل به روستو بیانوو،

خو اُوس به د وحی اقسام او طریقے ذکر کړو.

نبی علیه السلام ته به وحی په مختلفو طریقو کیدله :

(۱) یـوه طـریـقه دا وه چه خوب کی به ورته کیدله. د انبیاء علیهم السلام خوب هم وحـی وی ځـکـه د هغوی زړهٔ نهٔ اُوده کیږی صرف سترگی ئے اُودے وی، په خبرو باندے پـو هـیـږی، زمـونـږ او ستاسو خوب داسے وحی نهٔ ده لکه د انبیاو دِ خوب پشان، البته د وحـی یوه حصه ده، زمونږ او دهغوی په خوب کی فرق دے، د هغوی خوب یقینی وی او زمونږ خوب گمانی وی.

(۲) دویمه طریقه دا ده چه جبریل علیه السلام بـه راغـے په سترگو به ورته نهٔ ښکاره کیدو، په زړه کی به ئے ورته خبره واچوله لکه حدیث کی دی :

(انَّ رُوْحَ الْـقُـدُسِ نَـفَثَ فِيْ رَوْعِيْ اِنَّ النَّفْسَ لَنْ تَمُوْتَ حَتّٰى تَسْتَكْمِلَ رِزْقَهَا، فَاتَّقُوا اللّٰهَ

وَأَجۡمِلُوۡا فِي الطَّلَبِ وَتَوَكَّلُوۡا عَلَيۡهِ، وَلَايَحۡمِلَنَّكُمۡ اِسۡتِبۡطَاءُ الرِّزۡقِ أَنۡ تَطۡلُبُوۡهُ بِمَعۡصِيَةِ اللّٰهِ)

(مصنف ابن ابی شيبة :۸/۱۲۹)۔

روح القدس راغے زما په زړهٔ کې ئے واچول چه یو سړے به نهٔ مری تر هغه وخته پورے چه خپله دوډئ پوره کړی، نو د الله نه ویریږئ چه کار کسب کوئ د حرامو نه پکی ځان وساتئ، ځکه الله تا ته رزق لیکلے دے هغه به درکوی نو هغه د الله نه وغواړئ او حلال کسب وکړئ او په الله باندے توکل وکړئ او پدے خبره باندے پو هه شئ چه کله تاسو نه رزق روستو شی نو د ګناه په طریقه به ئے نهٔ ګټئ، ځکه نهٔ حاصلیږی هغه شے چه د الله سره دے مګر په طاعت د الله تعالیٰ سره)

او په بل روایت کې دی: رزق د انسان پسے داسے راځی لکه څرنګ چه اجلورپسے راځی)۔ (کشف الاستار ۱/٤۷۵)

وخت په وخت به ئے داسے وحی کوله۔

(۳) دریمه طریقه دا وه چه جبریل علیه السلام به د انسان په شکل راغے خاصکر د دِحۡيَةُ الۡكَلۡبِي رضی الله عنه په شکل چه دا یو ښائسته شکل والا صحابی وو، او کله به د یو باندچی په شکل باندے راغے نو پدے وخت کې به کله کله صحابه کرامو هم ولیدو، نبی علیه السلام به ورته وویل دا اُوس چه کوم سړے راغلے وو دا جبریل وو،

خو د اول نه به ئے ځان نهٔ ښکاره کولو لکه په حدیث د جبریل کی راځی چه رسول الله ﷺ په یو مجلس کی ناست وو، یو سړے راغے چه سپینی جامے ئے وے، تك تور ښکلی ویښته ئے وو، د سفر څه نښی نښانی پرے نهٔ ښکاره کیدلے او چا پیژندلو هم نهٔ، د مدینی وسیدونکی هم نهٔ دے او مسافر هم نهٔ دے نو د رسول الله ﷺ نه ئے پنځه تپوسونه وکړل، د اسلام په باره کی د ایمان په باره کی د احسان په باره کی د قیامت په باره کی د قیامت د علاماتو په باره کښے۔

نبی علیه السلام ددے ټولو جوابونه ورکړل چه کله ووتلو نو نبی علیه السلام صحابه کرامو ته وویل چه دا خو جبریل وو، مونږه ورپسے منډه کړه چه وموکتلو ورك شوے وو، نو صحابه کرامو به هم د جبریل سره ملاقات کولو۔

ددینه معلومه شوه چه عام انسانان هم ملائك لیدلے شی خو چه کله هغوی د انسان شکل اختیار کړی۔

(٤) څلورمه طریقه دا وه چه کله کله به جبریل علیه السلام په خپل شکل کی ورته راغلو او وحی به ئے ورته وکړه او دا کار نبی علیه السلام دپاره دوه ځله شویدے لکه دا الله تعالیٰ په سورة النجم کی ذکر کړیدے۔

(٥) پنځمه طریقه دا وه چه جبریل علیه السلام به وحی کوله د سَلْسَلَةُ الْجَرَس (د تلیٔ د غړیدو آواز پشان لکه یو زنځیر چه په کانړی باندے رابنکلے شی) دغسے شرنګار به ئے کولو۔ نبی علیه السلام فرمائی چه دا به په ما باندے ډیر سخت وو، ما به دا آواز نشو برداشت کولے، په رسول الله ﷺ باندے به په ژمی کی هم پدے حالت کی خولے راتللے، او ډیره درنه به وه، سیدنا زید بن ثابت رضی الله عنه فرمائی چه یو ځل رسول الله ﷺ ته وحی کیدله او د هغه ورون زما په خپه باندے پروت وو، نو دومره دروند شو چه نزدے وه چه زما خپه ماته شوے وے، او پدے وخت کی به په نبی علیه السلام باندے بی هوشی راتلله ځکه چه وحی یو ثقیل او درونده شے وو۔

(٦) قسم: کله کله رسول الله ﷺ ته داسے وحی شوے وه چه نبی علیه السلام معراج ته تلے دے او په هغه شپه ورته هلته وحی شویده۔

(٧) او کله براهِ راست الله ورسره خبری کړیدی، الله رب العزت به خبرے کولے او هغه به واوریدلے چه دا قسم وحی د موسیٰ علیه السلام او د آدم علیه السلام سره هم شویده چه په مینځ کی به ئے څه واسطه نۀ وه: ﴿فَأَوْحَىٰٓ إِلَىٰ عَبْدِهِۦ مَآ أَوْحَىٰ﴾۔

دا هم ډیره لویه خبره ده چه بنده د الله خبرے براهِ راست واوری۔

(٨) بعض علماؤ دا خبره هم زیاته کړیده چه کله کله داسے وحی هم ورته کیږی چه الله ورسره مخامخ خبری وکړی او هغه ئے وینی۔ لیکن دا خبره کمزورے ده ځکه رسول الله ﷺ رب العالمین لره په ظاهری سترګو نۀ دے لیدلے، البته د زړۀ په سترګو ئے لیدلے دے وجه دا ده چه الله تعالیٰ ډیر لوی دے، په دنیا کی ئے څوك نشی لیدلے اګرکه د پیغمبرانو په مقدار طاقت لری ځکه چه انسان ډیر کمزورے دے (إِنَّهُ عَلِيٌّ حَكِيمٌ) الله تعالیٰ ډیر اُوچت ذات دے او حکمت والا دے۔

د قرآن کریم او د احادیثو وحی به پدے طریقو سره کیدله۔

نو رسول الله ﷺ ته ددینه روسته پرله پسے وحی شروع شوه چه څه حالت به راتۀ، الله به وحی نازلوله، نبی علیه السلام د الله رسول دے، الله ئے تربیت کوی او هغه ورته

چل ورښائي، ديته گوره الله سبحانه وتعالیٰ د خپل نبي تربيت كوي او نبي عليه السلام د خپل امت تربيت كوي دا څو مره ښكلي او مزيداره فضا ده ليكن دلته تاسو سوچ وكړئ څه مشركين او كافر او د دين دشمنان خلك رالگيږي او څوك چه زيات خيرخواه دي، د جهنم د اُور نه ئې بچ كوي او جنت ته ئې داخلوي، د دنيا او د آخرت عزت ورله وركوي هغوي راپاڅيږي او ددے سرې دشمنۍ ته ودريږي،

او دا د انسانانو عادت دے چه څوك ئې ډير خيرخواه وي او فائده ورله وركوي بس هغه ددے خلكو غټ دشمن دے، ډاكټر يو ماشوم له ستن وهي يا گولۍ وركوي دا ئې ډير خير خواه وي د صحت غم ئې كوي او د مرض نه ورله نجات گوري ليكن دغه ماشوم دے ډاكټر ته كنځلې كوي، لاړے هم ورتوكي او چغې هم وهي او د ډاكټر نوم پرے بد لگي، دغه شان د حق دشمنان خلك دي چه دوي راولگيدل او د رسول الله ﷺ په مقابله كې ودريدل او نبي ﷺ به ورته دعوت وركولو، خير خواهي به ئې ورله كوله۔



د نبی ﷺ د نبوت دوه دورونه

د رسول الله ﷺ د نبوت نه روستو چه کومه زندگی ده د هغې دوه دوره دی، یعنی کله چی الله تعالیٰ ورته وحی وکړه او په ځان باندے پو هه شه چه زهٔ د الله رسول یم او ما ته ډیر غټ کار راوسپارلے شو، د ټول امت د دعوت او هدایت ذمه واری ما ته راوسپارلے شوه، د ټول امت تربیت کول ډیر گران کار دے۔

په بعض روایتونو کی راغلی دی چه خدیجی رضی الله عنها د نبی علیه السلام نه طلب وکړو چه راشه زما خواته راحت حاصل کړه نو نبی ﷺ ورته وفرمایل :
لَقَدْ ذَهَبَ اَيَّامُ النَّوْمِ وَالرَّاحَةِ۔

د خوب او د راحت زمانه ختمه شوه۔ معنیٰ دا ده چه اوس مونږ ته ډیر لوی کار راوسپارلے شو،

ستاسو به تجربه وی چه یو سړے یو ځای کی لږ غوندے مشر وی ځلور پنځه شاگردان د هغه وی، د هغوی تربیت ورته دومره گران وی، په کور کی ورته د دوه درے ماشومانو تربیت مشکل وی پاتے لا دا چه سړی ته کلے او علاقه ورپه غاړه شی او ټول عرب او عجم ورپه غاړه شی دا لا څه کوے چه انسانان او پیریان دواړه۔

نو پدے کی انسان ډیرے مزے نشی اخستلے او راحت او آرام نشی کولے لکه څرنگ چه د جاهلیت د زمانے عادت وو، د شپی قیصی کول بیا اُوده کیدل او سهار ناوخته راپاځیدل او بیا تجارتونه کول او یا په خپلو مجالسو کی گپ شپ ویشتل او د جاهلیت چه کوم غیرتونه دی په هغے باندے خپل ځان وژل دا د هغوی زندگی وه نو دا خبری اُوس ختمے شوے۔

د رسول الله ﷺ د نبوت نه روستو دوه دوره دی (۱) مکی دور (۲) مدنی دور۔

د مکے مکرمے دور دیارلس کاله دے او د مدینی منوری دور لس کاله دے، په مدینه کی رسول الله ﷺ لس کاله تیر کړیدی چه کله یولسم کال شروع شو د هغے په ابتداء کی رسول الله ﷺ وفات شو۔

مکی ژوند ډیر سخت او د مشکلاتو سره مخامخ کیدلو والا ژوند وو او مدینی ته

چه لاړو، هلته د الله په فضل سره څه نا څه راحت راغے، لیکن د رسول الله ﷺ او د مؤمنانو سره د الله تعالیٰ عادت دا دے چه څومره اُوچت مؤمن وی دا حالت به پرے راځی چه یو څه وخت به راحت راشی بیا به تکلیف راشی بیا به هغه تکلیف الله لرے کړی بیا به راحت راشی، ټول ژوند به دغه شان تیریږی، داسے نشی کیدے چه یو سړے په دنیا کی همیشه په راحت کی وی بیا مرګ او بیا سمدست جنت، دا د الله عادت نهٔ دے خاصکر مؤمنانو سره د الله تعالیٰ دا عادت نهٔ دے، د مؤمن چه څومره ایمان مضبوط وی په هغه اندازه به پرے امتحانات راځی، د رسول الله ﷺ ارشاد دے:
(أَشَدُّ النَّاسِ بَلَاءً الْأَنْبِيَاءُ ثُمَّ الْأَمْثَلُ فَالْأَمْثَلُ).

په ټولو خلکو کی سخت مصیبت او امتحاناتو والا انبیاء دی بیا چه څوك انبیاو ته څومره نزدے وی، غوره وی په هغه امتحان راځی.
(يُبْتَلَى الرَّجُلُ عَلَى حَسَبِ دِينِهِ فَإِنْ كَانَ فِي دِينِهِ صُلْبًا اشْتَدَّ بَلَاؤُهُ). که په دین کی سخت او مضبوط وی نو امتحان به ئے زیات وی، مصیبتونه پرے ډیر راځی، کله بدنی او کله د دشمن د طرفنه او کله مالی او کله په اولاد کښے. لیکن پدے امتحان کی الله تعالیٰ سړی ته سزا نهٔ ورکوی بلکه غرض پکی ددے بنده پاکول وی لکه سرهٔ زر چه په اُور کی زرګر اچوی دے دپاره چه صفا شی، بیا پسے څټك راواخلی ټکوی ټکوی ئے تردے چه کالی او بنګړی او والئ او امیلونه ترے جوړ کړی چه بیا پرے زنانه ښائسته ښکاری نو زرګر سروزرو ته غصه نهٔ وی. نو دا د رب العالمین عادت هم دے چه مؤمنان داسے ټکوی راټکوی، یو تکلیف او بل تکلیف پرے راولی ددے دپاره چه پاك شی، ګناهونه ئے ورژیږی، درجه ئے اُوچته شی، د صبر ماده پکی پیدا شی، د صبر ماده پیدا کول پکار دی، صبر خو یو ضروری شی دے.
(وَإِنْ كَانَ فِي دِينِهِ رِقَّةٌ هُوِّنَ عَلَيْهِ)

(صحیح ابن حبان رقم : ۲۹۰۱) واسناده حسن، شعیب الارناوط).

او که د هغه په دین کی نرموالے وی نو هغه سره آسانی کولے شی.
(یعنی اعلیٰ درجه مؤمن نهٔ وی بلکه ضعیف مؤمن وی نو په هغه امتحانات هم سخت نهٔ راځی ځکه که سخت امتحانات پرے راشی بیا د اُسلام نه اَوړی، نو الله تعالیٰ پرے رحمت کوی، سخت امتحان پرے نهٔ راولی. نو بس څومره چه مصائب او ابتلاء

ات ډیر وی هغو مره به درجه اُوچته وی او څومره چه ابتلاء ات کم وی هغومره به درجه کمه وی، ددې وجه نه کله چه امتحان راشي نو ډیر ورته مهٔ خفه کیږه بلکه هغه اسباب اختیار کړه چه په هغې باندې امتحان آسانیږي چه هغه به ان شاء الله روستو بیان شي۔

نو مشکلات په مدینه کی هم وو لیکن د راحت زندگی هم وه تردې چه وفات پرې راغې، او د مکې مکرمې زندگی توله د مشکلاتو نه ډکه وه۔

ددې نه معلومه شوه چه څوك حق دین بیانوی، داسې نهٔ ده چه خلك به د هغه په غاړه کی امیلونه اچوی او ددهٔ اکرام به کوی او هدیې به ورته راروانی وی، نهٔ بلکه خلك به ئې په قِسم قِسم طریقو سره مقابلې کوی او ددهٔ مخنیوی به کوی، بیا چه کله دهٔ صبر اختیار کړو او د الله په دین باندې کلك ودریدو بیا به الله فراخیانی هم راولی لکه دا د الله سبحانه وتعالیٰ طریقه ده۔

د مکی دَور دری حالات او مرحلې

علماء کرامو (رحمهم الله) مکی دَور درې قسمونو او درې مرحلو ته تقسیم کړیدې :

(۱) اوله مرحله : اَلدَّعْوَةُ السِّرِّيَّةُ ثَلَاثُ سَنَوَاتٍ :

درې کاله نبی علیه السلام په پټه دعوت کولو، څلورم کال د نبوت چه کله شروع شو تر لسم کال پورې ئې ښکاره دعوت شروع کړو، میدان ته راووتلو، او د مشرکانو مقابله ئې ښکاره شروع کړه، نو پدې کی پرې ښکاره مشکلات راغلی دی، پدې موده کی به د بهر نه خلك راتلل خو ډیر کم کم، او په ایمان کی به داخلیدل۔

اصل کی مکې والو ته دعوت مقصد وو چه دوی اول ایمان راوړی او د بهر نه لږ لږ خلك راتلل او ایمان به ئې راوړو څکه دا خلك لا سم شوی نهٔ دی، دلته ترتیب برابر شوې نهٔ دې، بهر ته به خلك څنګه لاړ شي۔

نو رسول الله ﷺ به د لسو کالو پورې بهر دعوت نهٔ کولو، لس کاله روسته نبی علیه السلام د مکې نه بهر هم دعوت شروع کړو، بهر علاقو ته هم لږ لږ لاړو، او ملګری ئې ولیږل او د ملګرو لیږلو خاصه طریقه وه، داسې طریقه نهٔ وه لکه اُوس وخت

کی چه بعض خلك کوی بلکه هغه ترتیب به روستو ذکر شی۔

د مکے نه بهر دعوت تر دیارلسو کالو پورے شروع وو، په دیارلسم کال باندے الله رب العالمین امر وکړو چه د مکی نه مدینی ته هجرت وکړه۔ او هغه هجرت ئے څنګه وکړو او مدینه کی څه ترتیب وو؟، روسته به راشی۔

اول دا خبره چه په مکه کی به نبی علیه السلام درے کاله پټ دعوت کولو، په دے درے کالو کی دننه څه کارونه وشول؟، ډیر کارونه وشول بعض د هغینه دا دی:

(دلته دا سوال پیدا کیږی چه نبی علیه السلام په پټه دعوت ولے کولو؟ سره ددینه چه الله پدے قادر دے چه خپل نبی ته غلبه ورکوی، دا خو د الله رسول دے، ولے د چا نه ویریږی؟ جواب دا دے چه نبی علیه السلام د چا نه نهٔ ویریږی لیکن دیته حکمة الدعوة، (یعنی د دعوت حکمت) وائی۔ دلته حکمت دا دے چه که خلك جاهلان وی او تهٔ سمدست خبره ښکاره کړی نو اکثر خلك به دے خلاف شی او لاره به درته بنده کړی، نو طریقه دا ده چه اول دے فردی او انفرادی دعوت شروع شی،

د هر ایمان والا صفت دا دے چه بل ته به د دین خبره کوی، زمونږ ډیرو ملګرو د دعوت نه ځلے بندے کړی دی او په مجالسو کی مقهور یو، مونږ خکته یو او د دنیا خبری راباندے غالبه وی، پکار داده چه یو مؤمن بنده یو مجلس، یو دکان یوه علاقه د خپلو خبرو لاندے راولی، دینی خبری پکی وکړی)۔

نو که نبی علیه السلام مکے والو ته ښکاره په منبر ودریږی ورته ووائی چه اے مکے والو! تاسو په غلطه یئ او زهٔ د الله رسول یم راشئ ما ومنئ، یا د هغوی په څټ توره کیدی چه دا به منئ دا ډیره سخته خبره وه، دا هغوی نهٔ برداشت کوله نو رسول الله ﷺ ورته طریقه جوړه کړه چه انفراداً پټ پټ دعوت ئے شروع کړو، یو ملګری پسے به ورغے چه په هغه کی به ئے خیر لیدهٔ، هغه ته به ئے خبره وکړه، چا کی چه به خیر وو او اخلاق به پکی وو هغه پسے به ورتللو،

د نبی علیه السلام دا طریقه مونږ ته هم اختیارول پکار دی، د الله سبحانه وتعالیٰ قانون دا دے چه خپل دین ته هغه څوك راولی چه په هغه کی د مخکی نه خیر وی، جاهلیت زمانه کی چه به په چا کی د مخکی نه خیر وو او دومره شری انسان به نهٔ وو، نو الله به دین ته راوستو، کوم انسان چه به د جاهلیت په زمانه کی شری او فاسد او

ورانکارے وو، الله به ددے خپل دین نه محرومولو،

اوس هم د الله تعالیٰ عادت دا دے چه کوم کسان شریان دی، ډیر ضدیان دی که مُولیان وی او که عوام، الله ئے په حق نهٔ پو هه کوی، همدغسے په جاهلیت کی پراتهٔ وی او کومو انسانانو کی چه لږ شانته خیر دے، فائده او انابت پکی دے، الله تعالیٰ هغوی قرآن او حدیث ته راولی، د توحید عقیده ورنصیب کړی، د اهل حدیث توب عقیده ورنصیب کړی، دا د الله رب العالمین نعمت دے، هسے ګپ شپ نهٔ دے چه الله تهٔ موحد کړے او د سلفیت عقیده ئے درنصیب کړه او د قرآن او حدیث عقیده ئے درنصیب کړه دا وړه خبره مهٔ ګنړه دا ډیر لوی دولت دے، ډیر لوی شۓ دے !! د الله شکر پدے باندے وباسه۔ زما خپل عادت دا دے چه زهٔ کوم خلك وینم چه هغوی دا عقیده قبوله کړیده، زهٔ وایم چه په دوی کی الله خیر لیدلے دے، صحیح ده چه بعض غلط عملونه به هم پکی وی، ګیره به ئے خریلی وی، یا به بله بد اخلاقی پکی وی، مګر د الله خوښ شویدے ځکه ئے صحیح عقیدے ته راوستے دے، ددے نورو عملونو اصلاح به هم ورله وکړی، په یو غلط عمل باندے دا بیخی غورځول نهٔ دی پکار چه یو تن ووائی چه فلانکی د قرآن او حدیث دعوه کوی اوبد عمل هم کوی، صحیح ده د بد عمل سره ورله بغض وکړه مګر د عقیدے قدر ئے وکړه۔

نو الله به حق ته هغه خوك راوستو چه په چا کی به د مخکی نه څه نا څه خیر موجود وو۔ لکه حدیث کی راغلی دی :

(خِيَارُهُم فِي الْجَاهِلِيَّةِ خِيَارُهُم فِي الْإِسْلَامِ إِذَا فَقِهُوا) (بخاری: ۳۳۵۳ ومسلم)۔

څوك چه په جاهلیت زمانه کی غوره وو نو هغه په اسلام کی هم غوره دی کله چه دوی په دین پو هه شی او حق طرفته راشی)۔

قرآنِ کریم کی الله تعالیٰ داسے فرمایلی دی :

﴿ اَللّٰهُ يَجْتَبِيْٓ اِلَيْهِ مَنْ يَّشَآءُ وَيَهْدِيْٓ اِلَيْهِ مَنْ يُّنِيْبُ ﴾ (الشوریٰ:۱۳)۔

الله غوره کوی (دین طرفته ئے راکاږی) چا له چه ئے خوښه شی او هدایت هغه چا ته کوی چه په چا کی انابت وی)۔

انابت معنیٰ : حق ته میلان کول چه ضد او عناد پکی نهٔ وی، هغه انسانان چه هغوی کی ضد او عناد او تکبر وو هغوی ته الله تعالیٰ هدایت ونکړو او کومو انسانانو

کی چه ضد او عناد او تکبر نهٔ وو هغوی ته الله هدایت وکړو۔
بیا په مکه کی رسول الله ﷺ ولے دعوت کولو؟ بهر به وتلے وے، هلته به ئے دعوت کولے؟ وجه دا ده چه مکه مرکز دے، قانون دا دے چه مرکز کله جوړ شی په هغے کی د سرې دپاره ځای پیدا شی، یو متعلق پیدا شی چه انسان هغے ته لاس وراچوی چه دلته لږ شانته کلك شی بیا بهر دعوت آسان وی، او که بهرچرته ملګری پیدا شی او مکه د شرك او کفر نه ډکه وی او مرکز د کفر په لاس کی وی نو هیڅ کار به نهٔ کیږی، پدے وجه مرکز جوړول پکار دی۔ مکه مکرمه خو د ټول عالَم مرکز دے، بیت الله پکی دے، د ټولو انسانانو د راجمع کیدو ځای دے، الله پاك خپلو بندګانو ته امر کړیدے چه حج وکړئ، بیت الله ته راشئ۔
لکه دا طریقه الله تعالیٰ د موسیٰ علیه السلام سره هم کړے وه چه موسیٰ علیه السلام کله نبی شو دا ئے ورته ونهٔ وئیل چه ته لاړ شه په بنی اسرائیلو کی د دعوت کار کوه بلکه دا ئے ورته ووییل چه اول فرعون ته ورشه۔ فرعون ته ئے ولے ولیږلو؟
ددے وجه نه چه دا فرعون ظالم او جبار دے او بنی اسرائیل ئے په لاس کی نیولی دی که هغه په عوامو کی دعوت کوی، نو هغه ئے ورته نهٔ پریدی، هغه په خلکو پابندیانی لګوی چه ددهٔ خبره مهٔ آورئ، ټول خلك د هغه تابع دی، او بل طرفته کچرته دا سرے مائله شی ټول خلك به ایمان راوړی، که مائله نشو خلکو ته به خو دعوت ورسیږی، خلك به فکر وکړی چه فرعون سره هم دا خبرے شروع دی، نود فرعون نه ئے ځکه شروع وکړه،
بیا ددے دا مقصد نهٔ دے چه اول به اسمبلئ ته ځی، لکه بعض ملیان دا خبره کوی چه اول به اسمبلئ ته ځے ځکه چه موسیٰ علیه السلام اول د فرعون اسمبلئ ته ورغلے دے، دا خبره سراسره غلطه ده، اسمبلئ ته به ددے دپاره نهٔ ځے چه هغوی سره رکنیت واخلے بلکه هغوی ته به دعوت ورکوے او هغوی به منع کوے۔داسے د دعوت دپاره د کافرانو مرکز، ګیرجی او شراب خانی ته هم ورتللے شی، او دوی چه اسمبلئ ته ورځی نو اول ووتونه وکړی په هغے باندے ځان بی دینه کړی، د جمهوریت په ګند کی ورتیر شی او بیا وائی مونږ د دین خدمت کوو، د هر ګمراه سره ملګرتیا د دوی کار وی، هر چا ته بنه وائی، دا کوم دین دے ؟!

نو ځکه نبی علیه السلام اول د مرکز نه شروع وکړه او پدې کې به د الله سبحانه وتعالیٰ نورهم ډیر رازونه او حکمتونه وي، الله په خپلو کارونو ښه علم لري۔

اول دعوت او اولني مسلمانان

اوله مومنه خدیجه رضی الله عنها

نو رسول الله ﷺ انفرادي او فردي دعوت شروع کړو، اول ئې خپلې بي بي خدیجې رضی الله عنها ته دعوت ورکړو، په ټولو انسانانو کې اول چه چا ایمان راوړیدے هغه د نبی علیه السلام بي بي خدیجه رضی الله عنها ده، دا د اولې ورځې نه مؤمنه شوه کله چه نبی علیه السلام دے ته وویل چه ما ته وحی وشوه، زهٔ په ځان ویریږم، هغې ورته تسلي ورکړه چه مهٔ یریږه، الله رب العالمین به تا ددے امت نبي ګرځوي۔
(اِنِّیۡ لَاَرۡجُوۡا اَنۡ تَکُوۡنَ نَبِیَّ هٰذِهِ الۡاُمَّةِ)
(زما امید دے چه تهٔ به ددے امت نبي ئے)، هوښیاره عقلمنده ښځه وه۔
دا فائده مخکې مونږ وئیلې وه چه اول دے دین ته کمزورو خلکو او زنانو غاړه ورکړې ده، لکه په اسلام کې اوله شهیده سمیه رضی الله عنها وه چه د الله د دین د خاطره شهیده شوه، او فرعون اوله هغه زنانه (ماشطه) شهیده کړه چه هغه د فرعون وینځه وه او د هغه د لورګانو سر به ئې ګمنزولو او په موسیٰ علیه السلام باندې ئې ایمان راوړے وو، او د هغې بچې ئې ګرم کړاهي ته ور وه غورزول نو اول کمزوري خلك الله دین ته راوړستلي دي، ځکه په دے خلکو کې عاجزي او خشوع ډیره وي، غټانو خلکو کې تکبر ډیر وي نو الله تعالیٰ هغوي خپل دین ته ډیرنهٔ پریدي، دغه شان بعض مُلیانو او کالجیانو کې تکبر وي په منطق او فلسفه او عصري علومو باندې تکبر کوي نو ډیر پکې د صحیح دین نه محرومه شي۔ والعیاذ بالله۔

د سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه اسلام

دا د نبی علیه السلام د مخکې زماني نه یار او ملګرے وو، د رسول الله ﷺ نه دوه

کاله کشر وو، تقریباً د هغه همزولے حسابیږي او دا هم ډیر ښکلي سړے وو او ډیر اخلاقي وو، او په جاهلیت کي هم د احساناتو والا وو او د رسول الله ﷺ سره په سفر او حضر کي ملګرے وو چه هغه ته ئے دعوت ورکړو، هغه سمدست ایمان راوړو،
ابوبکر ﷛ ته صدیق په دے وجه وئیلے کیږي چه اول تصدیق دۀ کړیدے۔
نبی ؑ فرمائي:
(مَا عَرَضْتُ قَوْلِیْ عَلٰی اَحَدٍ اِلَّا کَانَتْ لَهٗ کُدُوَةٌ اِلَّا مِنْ اَبِیْ بَکْرٍ)۔
ما هیچا ته خپل دعوت نۀ دے پیش کړے مګر د هغه دپاره روستوالے او تردد وو او شك ئے کړیدے چه دا به څنګه خبري وي؟، نو په ایمان راوړو کي ئے روستوالے کړیدے سویٰ د ابوبکر صدیق نه، چه دۀ ته ما دعوت ورکړیدے نو دۀ هیڅ تردد او شك نۀ دے اختیار کړے او سمدست ئے وئیلي دي چه (أَنْتَ رَسُوْلُ اللّٰهِ حَقًّا)۔ تۀ د الله حق رسول ئے، أَشْهَدُ أَنْ لَّا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ۔
سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه هغه لوی شخصیت دے چه الله سبحانه وتعالیٰ ورله دا عزت ورکړیدے،
یوه ورځ د سیدنا ابوبکر صدیق او د سیدنا عمرفاروق رضی الله عنهما په څه خبره بحث شو، پدے کي ابوبکر صدیق ورته لږ سخته خبره وکړه، او د هغه طریقه دا وه چه کله به ئے سخته خبره وکړه نو معافي به ئے طلب کوله، نرم مزاج ئے وو، نو عمر رضی الله عنه ورته ووئیل، تا ته ښښنه نۀ کوم۔
په نیکانو خلکو باندے د هرچا وس بر وي، ابوبکر ورته ووئیل: زۀ به رسول الله ﷺ ته لاړ شم شکایت به وکړم، نبی علیه السلام ته ورغے، شکایت ئے وکړو چه عمر ته مے خبره وکړه، معافي ترے غواړم معافي راته نۀ کوي، عمر رضی الله عنه هغه مجلس ته روسته ورغے، نبی علیه السلام ترے اعراض وکړو، مخ ئے ترے واړولو، سختو خبرو کولو سره ئے هغه ته ووئیل: (هَلْ أَنْتُمْ تَارِکُوْنَ لِیْ صَاحِبِیْ)۔
آیا تاسو ما ته دا یو ملګرے پریدئ او که نۀ؟)، دا یو ملګرے خو ما ته لږ پریدئ، دۀ سره خو لږ احسان وکړئ۔ ابوبکر رضی الله عنه پو هه شو چه رسول الله ﷺ عمر ته غصه کیږي نو سیدنا ابوبکر وویل چه: یَارَسُوْلَ اللّٰهِ لَأَنَا کُنْتُ أَظْلَمَ)۔
یارسول الله ظلم ما کړیدے، بیا هم نبی ؑ همدغسے غصه وو نو د هغه ورځے نه

روستـه سیـدنا ابوبکر صدیق ﷛ تـه هیـڅـا تـکـلیف نۀ دے ورکړے، مؤمنانو به ورته سختـه خبره نـۀ کـوله ځکه رسول الله ﷺ به په هغه ننګ کولو او د هغه دفاع به ئے کوله۔

سیدنا ابوبکر صدیق ﷛ کی الله رب العزت ډیر ناشنا صفات اچولی وو۔

یـو روایت کـی راغلی دی: د اسلام درے سوه شپیته اخلاقه او صفاته دی چه د هغے نـه یو خصلت په چا کی راغلو الله به ئے جنت ته بوځی، یعنی په هر مسلمان کی چه د هغه خویونه یو خوئی وی جنت به د هغه ځای وی،

نـو ابـوبـکـر صـدیـق ډیـر اُوچـت همت لرلو، وے ویل یا رسول الله ! په دغه درے سوه شپیتـو کـی به ما کی کومه نیکی وی او که نۀ؟، غرض ئے دا وو چه که ما ته نبی علیه السلام څه ووائی چه تـا کـی دومره شتـه او دومـره نشتـه چه زۀ د هغے د حاصلولو کـوشش وکـړم (اوګـوره د ابـوبـکـر همت ته، زمونږ پشان سست انسان نۀ وو چه وائی مونځ اودس کوم دا مے بس دے، بلکه په هره نیکی پسے منډه وهی)۔

نبی علیه السلام ورته وفرمایل: (قَدْ جَمَعَ اللّٰهُ لَكَ ذٰلِكَ جَمْعَاءَ)۔

الله رب العزت تا کی دغه ټول صفتونه راجمع کړیدی۔

(پدے حدیث کی اګرکه سنداً کلام شته لیکن حدیث د مسلم ئے تائید کوی)

پـدے وجـه د رسول الله ﷺ نه روستو په امت کی غوره انسان سیدنا ابوبکر صدیق رضـی الله عـنه وو، نو هغه انسان ته به الله تعالیٰ څومره سزا ورکوی چه ابوبکر صدیق غـونـدے سـړی تـه بـد رد وائـی، د کـفـر نسبتـونه ورته کوی لکه شیعه ګان پرے لعنت وائی۔ لعنهم الله۔

د سیدنا علی ﷛ اسلام قبلول

نبی عـلیـه الـسـلام د ابـو طـالـب نـه عـلی رضی الله عنه اخستے وو، علی د ابو طالب ځوی دے، نبی عـلیـه الـسـلام بـه د هـغـه تربیت هم کولو او خرچه به ئے هم پرے کوله ځـکـه چـه رسول الله ﷺ سره پدے وخت کی د خدیجی رضی الله عنها د وجه نه څه نا څه مال پیدا شویدے۔ ددے حکمت دا وو چه نبی علیه السلام د علی د ترۀ ځوی دے او ددۀ پـه کـور کـی اُوسیـدو نـو چـه نبی عـلیـه الـسـلام دعوت ورکړو، سمدست ئے ایمان

راوړو، د نبی علیه السلام په خبره کی ئے شك وَنکړو، د هغه د اخلاقو نه متأثر وو، د ترهٔ خوی هم دے، د اخلاقو نه ئے هم متاثر دے او مشر هم دے او ددهٔ تربیت هم کوی نو په ماشومانو کی اول سیدنا علی رضی الله عنه ایمان راوړو، د علی رضی الله عنه نور ډیر ورونه دی لکه طالب، عقیل، جعفر چه دوی لا ایمان نهٔ وو راوړے، روستو زمانه کی عقیل او جعفر رضی الله عنهما دواړو ایمان راوړو، او طالب ایمان رانهٔ وړو او د کفر په حالت کی وفات شو،.نو طالب او ابو طالب دواړه پلار او ځوی په کفر کی لاړل او د دوی په کور کی نورو زنانو روسته ایمان راوړو۔

د زید بن حارثه ﷺ اسلام

دریم نمبر دعوت ئے زید بن حارثه ته وزکړو چه دا د رسول الله ﷺ آزاد کړے شوے غلام وو او نبی علیه السلام متبنیٰ (د ځلے وئیلے شوے ځوی) هم جوړ کړے وو، متبنیٰ هغے ته وائی چه څانله ئے د ځوی په ځای نیولے وی۔ دهٔ هم سمدست ایمان راوړو، دا څلور کسان اولنی مؤمنان دی چه په اوله ورځ ئے ایمان راوړیدے، اول اسلام ته دوی سبقیت او مخکی والے کړیدے، او دا ډیر لوی فضیلت وی چه سړے حق ته اول راشی، داسے مهٔ وایه چه حق ته به روستو راشو کله چه خلك زیات شی بلکه دین ته به سمدست راځے ځکهٔ کیدے شی چه تا باندے مرګ راشی او تهٔ به وائے چه زهٔ سوچ کوم بیا به کفر کی لاړ شے، ددے وجه نه په حق قبلولو کی به مشوره هم نهٔ کوے بلکه چه په حق باندے پوهه شوے او یقین درته راغلو نو سمدستی د هغے منل پکار دی۔ که د چا جنت، د آخرت بنه کیدل او د الله رضا پکار وی نو دغه طریقه ده۔

بیا پدے کی اختلاف دے چه پدے څلورو کسانو کي اول چا ایمان راوړو؟، ظاهره دا ده چه په زنانهٔ ؤ کی اول خدیجی رضی الله عنها ایمان راوړو، او په ماشومانو کی سیدنا علی بن ابی طالب ﷺ او په غټانو کی سیدنا ابوبکر صدیق ﷺ او په غلامانو کی اول سیدنا زید بن حارثه رضی الله عنه دے تولو په اوله ورځ ایمان راوړیدے، ډیر بختور دی، ﴿وَالسَّابِقُونَ الْأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنصَارِ﴾ کی داخل دی۔ دغه اسلام ته سابقین دی، د اسلام ابتدائی بزغلی دی، او دا څلور اولنی اهل چدیث دی۔

فائده: د نبی علیه السلام په زمانه کی احناف، شوافع، مالکیه، حنابله، ماتریده، اشاعره، دیوبندیان، بریلیان یو هم نهٔ وو او د الله فضل دی اهل حدیث موجود وو، ټول صحابه کرام مؤمنان، مسلمانان، اهل سنت او اهل حدیث دی ځکه چه رسول الله ﷺ خبره وکړه او دے کسانو واوریدله نو عمل ئے پرے شروع کړو او په غیر د چون وچرا نه ئے ومنله، حدیث راغے او دا کسان ئے اهل شو نو اهل حدیث شول، اهل الحدیث څه ته وائي؟، د رسول الله ﷺ خبره منونکی او په هغے باندے ایمان راوړونکی او په هغے باندے د عمل کوشش کونکی دغه اهل حدیث دی، دا صفتونه چه هر چا کی وی که عرب وی که عجم بس هغه اهل حدیث دے، اهل حدیث او مسلمانان یو شے دے، اهل حدیث د یو بیل تنظیم اوډلے نوم نهٔ دے چه جدا امیر او امام به ئے وی بلکه د اهل حدیثو امام محمد رسول الله ﷺ دے او ډله او تنظیم ئے اسلام او کتاب او سنت دی، که څوك کتاب او سنت منی لیکن ددے سره ئے نورے عقیدے پیدا کړی وی چه د کتاب او سنت خلاف وی دا به اهل حدیثو اهل سنتو کی داخل نهٔ وی۔

د سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه دعوت او د هغه په لاس د خلکو په اسلام کی داخلیدل

سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه په خپل کار باندے پو هه شو چه څه به کوو؟، مونږ خو دډیر خیر خبرے نه خبر شو، خزانه مو مونده کړه، الله رب العزت مونږ ته په تیارهٔ کی دننه یوه رڼا راکړه، په شاړ میدان کی ئے خزانه راکړه، د ډیرے تندے په وخت کی ئے یخی اُوبه راکړے او د بربنډ والی په حالت کی ئے ښکلی جامه راکړه، ځکه د جاهلیت په وخت کی د حق ملاویدو دغه مثالونه دی۔

الله مونږ ته خپل نبی محمد رسول الله ﷺ راولیږو نو پدے خیر کی ځان سره نور خلك شریکول پکار دی نو سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه په اوله ورځ باندے شروع شو نورو خلکو ته ئے دعوت ورکولو چه دلته یو شخص راغلے دے، محمد رسول الله، تاسو ئے پیژنئ، دا د الله رسول گرځیدلے دے، وحی ورته شویده، راشئ ایمان پرے راوړئ، د ټولو خلکو نه پدے خیر کی رامخکی شئ۔

ابوبکر صدیق رضی الله عنه نرم سړے وو، د خلکو سره ئے تعلقات ډیر وو او تاجر هم وو، د خلکو سره به ئے احسانات هم کول نو خلکو کی ډیر محبوب وو، نو خبرے به ئے په خلکو اثر کولو،

پدے وجه سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنهٔ یوځو کسانو ته دعوت ورکړو چه په هغوی کی ئے خیر لیدلو او نرم اخلاقه خلك دے نو ټولو په غیر د تردد او شك نه ایمان راوړو، د هغے نه یو سیدنا عثمان بن عفان الاموی رضی الله عنه دے چه په خلفاء راشدینو کی دریم خلیفه دے او د رسول الله ﷺ زوم هم دے، د نبی علیه السلام دوه لونړه ئے د یو بل نه پس په نکاح کی راغلے وے۔

بل دعوت ئے سیدنا زبیر بن العوام الاسدی﷛ ته ورکړو چه دا د نبی علیه السلام د ترور ځوی دے، دا هم په عشره مبشره ؤ کی داخل دے، یعنی هغه لس صحابه کرام چه په دنیا کی ورته په یو مجلس کی د جنت زیرے ورکړے شویدے، دارنګه سیدنا سعد بن ابی وقاص الزهری رضی الله عنه چه دا د نبی علیه السلام په ماما ګانو کی راځی او په عشره مبشره کی داخل دے، دوی ته هم د جنت زیرے ملاو شوے (او دوی ته چه د جنت زیرے ورکړے شوے وو نو دا څه په حلواء خوړلو نهٔ او نهٔ په مالدارئ او ډیر تجارت بلکه پدے خلکو کی څه کمالات موجود وو چه د هغے د وجه نه د جنت زیری ورته ورکړے شوی وو)۔

سیدنا طلحه بن عبید الله التیمی﷛ هم د سیدنا ابوبکر صدیق﷛ په لاس ایمان راوړو، دا هم په عشره مبشره کی داخل دے او دهٔ ته به په دنیا کی ژوندے شهید وئیلے کیدو، او سیدنا عبد الرحمن بن عوف الزهری﷛ هم ایمان راوړو دا اته کسان بیخی ابتدائی مسلمانان دی چه دوی د اسلام بزغلی او بنیاد دے او د اسلام ستنی دی۔

د دوی پسے روستو ددے امت امین سیدنا ابو عبیده عامر بن الجراح﷛ ایمان راوړو چه دا د بنو الحارث بن فِهر نه دے، دهٔ ته رسول الله ﷺ ددے امت امین وئیلے دے۔

بیا سیدنا ابوسلمه بن عبد الاسد المخزومی هم ایمان راوړو چه دا د ابوجهل د قوم نه یو سړے دے او ددهٔ بی بی ام سلمه رضی الله عنها هم ایمان راوړو۔

دغه شان ارقم بن ابی الارقم المخزومی هم ایمان راوړو چه څه د ابوبکر صدیق په دعوت او څه همداسے ایمان راوړو۔

دارنګه عثمان بن مَظعُون الجُمَحِی ؓ هم ایمان راوړو چه دا د بنو جُمَح قبیلے نه دے۔او د هغه دواړو ورونو سیدنا قُدَامَه بن مظعون او سیدنا عبد الله بن مظعون رضی الله عنهما ایمان راوړو۔

پدے کی سیدنا بلال بن رباح الحَبَشِی رضی الله عنه مشهور صحابی دے، دا د حبشو نه دے او د اُمَیّه بن خَلَف مشرك غلام وو، د کافرو عادت دا وو چه خلك به ئے نیول او په زوره به ئے ترے غلامان جوړول، ظلم به ئے کولو، بلال بن رباح جنتی صحابی دے، ډیر افضل صحابی دے، د رسول الله ﷺ مؤذن دے چه قیامت کی به د رسول الله ﷺ نه جنت ته مخکی روان وی د خادم په شکل لکه خادم چه مخکی روان وی پدے وجه مخکی ځی چه دا به مسجد ته مخکی راتللو۔

صحیح حدیث کی راغلی دی چه رسول الله ﷺ د بلال نه تپوس وکړو چه زهٔ کله هم جنت ته تلے یم، په خوب کی یا په ویښه :

(اِلَّا سَمِعْتُ خَشْخَشَتَكَ أَمَامِيْ) (مسند احمد وابن خزيمة)۔

(مګر زهٔ ستا د خپو کشارے خپلے مخے ته آورم نو تهٔ څه عمل کوے؟ هغه وویل یا رسول الله ! ما څه خاص عمل نهٔ دے کړے چه زما په نیز د ډیر امید والا وی مګر دا چه زهٔ کله بے اودسه شم او بیا اودس وکړم:

(اِلَّا صَلَّيْتُ بِذٰلِكَ الطُّهُوْرِ مَا كُتِبَ لِيْ أَنْ أُصَلِّيَ) (بخاری : ۱۱۴۹)۔

مګر زهٔ د اوداسه نه روستو مونځ کوم څومره چه ما له په تقدیر کی لیکلے شوے وی، (دوه یا څلور یا شپږ رکعته نفل وی او که فرض، او کله چه اذان وکړم، د اذان نه روستو دوه رکعاته کوم۔

(د هر اذان او د اقامت په مابین کی او د هر اودس نه روستو دوه رکعاته کول دیته تحیة الوضوء وائی، د اوداسه نه روستو دوه رکعاته کول ډیر بهتر عمل دے)۔

نبی ﷺ ورته وفرمایل: (بِهِمَا)۔ تهٔ پدے عمل زما نه جنت ته مخکی روان ئے۔

او ددے یو حکمت دا هم علماؤ وئیلے دے چه نبی علیه السلام نه څکه جنت ته مخکی شوېدے چه الله د چا عمل او خواری نهٔ بربادوی، یو انسان به ادنیٰ وی چه خواری کوی الله ئے خواری نهٔ ضائع کوی بل سرے به اُوچتی مرتبی والا وی خو د هغه خواری به کمه وی نو هغه ته به پدے عمل کی نشی رسیدلے نو علماء فرمائی چه

بلال څکه د نبي علیه السلام او ټولو صحابه کرامو نه مخکې جنت ته داخلیږي چه مسجد ته به مخکې راتللو، مؤذن وو۔

دلته دا فائده واوره چه د الله په نیز اعتبار ایمان او عمل صالح لره دے نهٔ نسبونو او بنائست له، علماؤ لیکلي دي چه د بلال د نیکه نوم په تاریخ کې چرته نهٔ دے معلوم، بلکه داسے لیکلے کیږي (بلال بن رباح مؤذن رسول الله ﷺ)۔ او د تاریخ په عامو کتابونو کې داسے نشته چه بلال بن رباح بن فلان بن فلان۔ د نیکه نوم ئے چا ته نهٔ دے معلوم، ورك نسب ئے دے او حال دا چه رب العالمین ورته څومره فضیلت ورکړے نو نسب له اعتبار نشته چه زهٔ قریشي یم، عربي یم، زهٔ پښتون یم، زهٔ فلاني یم، دے له اعتبار نشته ایمان او عمل صالح ځان کې راوله۔

پدے وخت کې سیدنا بلال ﷺ ایمان راوړو او خباب بن الارت التمیمي ﷺ او سیدنا عبد الله بن مسعود ﷺ او سیدنا عبیدة بن الحارث بن المطلب ﷺ ایمان راوړ وچه دا د نبي کریم ﷺ د ترهٔ څوي دے، دارنګه سیدنا سعید بن زید بن عمرو بن نفیل العدوي ﷺ او د هغه بي بي سیده فاطمه بنت الخطاب العدوي چه د سیدنا عمر فاروق ﷺ خور ده- ایمان راوړو،

د سیدنا علي ﷺ ورور سیدنا جعفر بن ابی طالب ﷺ او د هغه بي بي اسماء بنت عُمیس رضی الله عنها او خالد بن سعید بن العاص الاموي ﷺ او د هغه بي بي امینة بنت خلف الخزاعیه رضی الله عنها او بیا د هغه ورور عمرو بن سعید بن العاص الاموي ﷺ ایمان راوړو او بیا نُعَیم بن عبد الله النَحام العدوي ﷺ ایمان راوړو،

او داسے نورو کسانو ایمان راوړو چه بعضے علماو څلویښتو پورے شمارلي دي چه په دے ابتدائي ورځو کې دیرش څلویښتو کسانو ایمان راوړو۔ او دا مذکوره کسان ټول قریش دي او په قریشو کې د مختلفو قبیلو نه شمار دي۔ صرف عبد الله بن مسعود الهُذَلي او بلال بن رباح الحبشي پکې قریشي نهٔ دي۔

دارنګه د قریشو نه علاوه کسانو کې عبد الله بن جحش الاسدي رضی الله عنه او د هغه ورور ابو احمد بن جحش او مسعود بن ربیعة القاري او صهیب بن سنان الرومي او عمار بن یاسر العَنسي او د هغه پلار یاسر او عامر بن فُهَیرة رضی الله عنهم اجمعین ایمان راوړو۔

او د زنانو نه د ابوبکر صدیق ؓ لور اسماء بنت ابی بکر الصدیق رضی الله عنها ایمان راوړو.
د عباس رضی الله عنه بی بی ام الفضل لبابة الکبریٰ بنت الحارث الهلالیة رضی الله عنها ایمان راوړو. او د حبشو نه ام ایمن (برکه) چه د رسول الله ﷺ حاضنه وه، ایمان راوړو.
دا خلك اولنی مسلمانان دی چه دوی تقریباً (۱۳۰) کسانو ته رسیږی خو څه کسان ډیر مخکی او څه د هغوی پسے دی. (الرحیق المختوم ص: ٥٦)

د زید بن حارثه د غلام کرځیدو واقعه او د هغه فضائل

د زید بن حارثه مختصر تاریخ پدے ځای کی دا دے چه په غلامانو کی دا اول مؤمن دے چه ایمان ئے راوړیدے، زید بن حارثه د خپلے مور سره د خپلو ماماګانو کورته روان وو چه هغوی ته ئے بنو کلب قبیله وئیله. نو د عربو دا صفت وو چه ډاکے به ئے ډیرے کولے، یو بانده حمله او بل بانده حمله نو پدے کی دا زنانه او دا خوی په لاره کی ونیولے شو. څوك وائی چه په کلی باندے ئے حمله کړے وه خو ظاهر دا ده چه په لاره کی ونیولے شو، مور ئے ورله بیرته پریښوده، هغه کورته لاړه او زید بن حارثه ئے پټ کړو او غلام ئے ترے جوړ کړو
(په اسلام کی د غلامئ نظام شته چه کافر په جنګ کی ونیسی او غلام ترے جوړ کړی، دا به ددهٔ د کفر سزا وی چه دهٔ د الله غلامی نهٔ کوله نو الله ئے د خپلو غلامانو غلام کوی لیکن په جاهلیت کی به عربو په ظلم سره د آزادو نه غلامان جوړول، حافظ ابن القیمؒ دا معنی ادا کړیده:

هَـرَبُـوا مِنَ الرِّقِ الَّـذِیْ خُـلِقُـوْا لَـهٗ	فَبُـلُـوْا بِـرِقِ الـنَّـفْـسِ وَالشَّیْـطَان

فرمائی: عام انسانان د الله د غلامئ نه وتښتیدل چه دے له پیدا وو نو اخته شو په غلامئ د نفس او د شیطان باندے. چه د الله غلامی نهٔ کوی نو بیا به د شیطان او د نفس غلام کیږی.
نو زید بن حارثه ئے د یو ځای نه نقل کړو بل ځای ته بیا د هغه ځای نه ئے بل ځای ته

نقل کړو نو پټ ئے کړو مکے ته نزدے یو بازار (سوق حُباشه) ته ئے راوستلو، مکه کی ئے دلته په چا بانـدے خـرڅ کـړو، بیا حکیم بـن حزام رضی الله عنه د خپلے ترور (دپلار خورخدیجه رضی الله عنها) دپاره واخستو نو د خدیجی رضی الله عنها لاس ته راغے، د هغے غلام وو، پدے وخت کی لا اسلام نـهٔ دے مـوجود شوے، نوکله چه خدیجی رضی الله عـنها د رسول الله ﷺ سره نکاح وکړه نو خدیجی دا غلام نبی علیه السلام تـه هبـه کړو چه دا غلام ستا شو، د نبی علیه السلام سره ئے محبت وو، نو خپل خاوند ته ښځه هدیه ورکوی او خاوند ئے خپلے ښځے ته ورکوی۔

پـدے کـی د زیـد بـن حارثه پلار او وروړ او ترهٔ (کعب) د هغه پسے ګرځی چه زمونږ نه هـلك ورك شـوے دے، کـومو ظالمانو تښتولے دے او پټ کړے ئے دے تردے چه چا ورته وویـل چـه ستاسو دغـه هـلك په مکه کی دے، د چا سره دے؟ په تپوسونو تپوسونو مـکے ته راغلل، مکه ئے کی تپوس وکړو چه دلته د زید بن حارثه په نوم باندے زمونږ یو غلام چا نیولے دے، دا به د چا سره وی؟ چا ورته وویل چه هغه خو د محمد سره دے، نبی ﷺ پدے وخت کی نبی شوے نهٔ دے، د نبوت نه مخکی زمانه ده، پدے وخت کی حارثه او کعب راغلل نبی ﷺ تـه ئے وویل چه زمونږ داسے بچے دے او ظالمانو مونږ نه نیولے دے، ستا کور کی مونږ ته ښودلے شویدے که تهٔ مونږ سره دا پریدے؟

د سیرت د بعـض روایتـونو نه معلومیږی چه مونږ به پیسے هم درکړو۔ نبی علیه السلام اخلاقی انسان وو، د نبوت نـه مـخکی د هغه اخلاقو ته وګوره، هغه ورته ووئیـل بالکل صحیح ده، زهٔ به ئے درسره پریدم لیکن خبره دا ده چه ستاسو دے ماشوم تـه بـه اختیار ورکړو که تاسو سره تللو بالکل زما د طرفه به څه مانع نهٔ وی، هیڅ پیسے بـه درنـه نهٔ اخلم، ځی دے، او که چرته ما سره پاتی کیدهٔ نو تاسو به پرے زور نهٔ کوئ نو هغوی ورتـه وویـل جزاك الله خیـرا دا خو د انصاف خبره دے وکړه، د هغوی زړه کی دا راتلله چه دا څنګه کیدے شی چه زمونږ بچے دے وی او په غلامئ کی دے پاتے کیږی، د هغوی دا یقین وو چه اختیار ورکړے شو مونږ سره به ځی،

نـو پـدے کـی ئے زید راطلب کړو، د هغه نه ئے تپوس وکړو دا پیژنے؟ هغه وویل دا یو مے پلار او بل مے ترهٔ دے، دوی تا پسے راغلی دی، ستا اختیار دے که ما سره پاتے کیږے او کـه د دوی سره ځے؟ نـو زیـد رضـی الله عـنـه ته الله تعالیٰ د خیر اراده کړے وه نو هغه

وویل چه داسے کور چه زهٔ پکی یم دا په نصیب ملاویږی، زهٔ ډیر خوش قسمته یم چه ستا کور ته راغلے یم، زهٔ د پلار او ترهٔ سره نهٔ ځم، پدے کور کی زهٔ خوشحاله یم، پلار او ترهٔ ئے تعجب وکړو چه پدے سرې باندے څه چل شویدے؟،

هغوی لاړل لیکن ځای ئے معلوم کړو او پدے باندے هم پوهه شو چه زمونږ بچے په ښه حالت کی دے، نو تسلی ئے وشوه او څه نا څه خوشحالی ورته ورسیده او غم ئے ختم شو، د نبی علیه السلام ددهٔ سره هسے هم محبت وو، د ډیر محبت د وجه نه ئے هغه متبنیٰ وګرځولو چه هرکله دا ما غوره کوی نو دا به زما متبنیٰ وی، یعنی دا به زما د ځوی پشان وی، او د عربو عادت دا وو چه یو غلام ته به ئے وویل چه تهٔ زما ځوی شوے، نو د ځوی پشان معامله به ئے ورسره کوله، میراث به ئے هم ورکولو، د هغه نه به ئے هم اخستلو، ښځه به ئے ورله وکړه کله چه به هغه وفات شو نو د هغے سره به ئے نکاح حرامه ګنړله لکه انګور سره چه نکاح حرامه وی نو زید ته به زید بن محمد وئیلے کیدو۔ نو رسول الله ﷺ بهر را اوتو د قریشو یوه ډله ناسته وه هغوی ته ئے وویل چه تاسو خبر شئ چه ما زید خپل ځوی وګرځولو او دا ډیره لویه مرتبه ده چه یو غلام د قریشی او د محمد رسول الله ﷺ پشان سرې ځوی وګرځی نو دا ډیر لوی عزت هغه ته ملاو شو، بیا چه کله اسلام راغے، سورة الاحزاب کی الله تعالیٰ دا واقعه ذکر کړه او دا رسم او قانون ئے ختم کړو،

د پنځم کال د هجرت پورے دا د نبی ﷺ ځوی یادیدو، زید رضی الله عنه تقریباً د ځلویښتو کالو نه زیات د نبی علیه السلام ځوی حسابیدو، نو الله تعالیٰ دا قانون ختم کړو چه پداسے متبنیٰ باندے به د خپل ځوی حکم نهٔ جاری کیږی،

(اُوس دا د ځوی پشان ګنړل او د ځوی احکام پرے جاری کول ګناه ده، د بعض خلکو بچی نهٔ کیږی، او د یو تن ډیر بچی وی نو هغه خپل یو بچے دغه بی اولاد شخص ته ورکوی دا طریقه غلطه ده او په اسلام کی نشته دے بلکه پدے کی یو قسم ظلم دے، هغه ماشوم د تیو ماشوم وی، مور ورله پئ نهٔ ورکوی، هغه له بازاری پئ ورکوی، نو صحت ئے هر وخت خراب وی، د بچی خو په خپله مور باندے حق دے چه یو کال دوه کاله به تے ورکوی البته چه کله قوی وی مخکی د دوه کالو نه ئے هم پریکولے شی۔

دے کی بل نقصان دا دے چه که دا بچے غټ شی نو د دغه ښځے ستر ترے واجب دے

کله چه ددهٔ د محارمونه نهٔ وی، نو پردے هلك وی، ستر ترے نهٔ کوی، ددهٔ د لونړو سره تاویږی راتاویږی، او ددے نه نور هم ډیر فسادونه پیدا کیږی، طریقه دا ده چه د چا بچی نهٔ وی صبر به کوی او د بل چا نه به بچی نهٔ اخلی د نبی علیه السلام د عامو بیبیانو بچی نهٔ دی پیدا شوی صرف د ماریه قبطیه او د خدیجی رضی الله عنها نه پیدا شویدی۔او هغوی یو بل ته بچی نهٔ دی ورکړی)۔

سیدنا زید بن حارثه رضی الله عنه د نبی علیه السلام سره ډیره موده وو، بیا ئے ورله د خپل پلار وینځه ام ایمن رضی الله عنها په نکاح ورکړه چه دا د نبی علیه السلام د پلار نه په میراث کی پاتے شوے وه او د هغے نه اسامه بن زید پیدا شو، رسول الله ﷺ د اسامه او زید او ام ایمن درے واړو سره ډیر محبت کولو او دارنګه د هغه د بچو او نسل سره ئے ډیر محبت کولو، روستو به بعض روایتونه راشی چه نبی علیه السلام به زید او د هغه ځوی اسامه په جهادونو کی امیر ګرځولو ځکه چه دوی په جهادونو کی ډیر تکړه وو چه ابوبکر، عمر، عثمان او علی رضی الله عنهم به ئے رعیت وو او زید بن حارثه به ئے امیر وو، دا زمونږ د اسلام کمال دے چه غلام مشر کوی ځکه اهلیت له اعتبار ورکوی۔

نو دے کسانو ایمان راوړو او عام قریش لا خبر نهٔ دی، هسے لږ لږ به خبریدل خو دومره پرواه د هغوی نهٔ وه وجه دا ده چه په مکه کی مخکی هم داسے دینداره خلك لکه زید بن عمرو بن نفیل او قُسّ بن ساعده او ورقه بن نوفل تیر شوی وو چه هغوی به هم دا خبرے کولے نو د دوی هم دا ګمان وو چه نبی علیه السلام یو نیك سړے دے، نیکے خبرے کوی مونږه ئے څه کوو، او بل رسول الله ﷺ هم لا سختی نهٔ وه شروع کړے، مشرکینو ته ئے دا نهٔ وو وئیلی چه تاسو په غلطه یئ او شرك او کفر کوئ۔نو ځکه خبرے زور نهٔ اخستو، خو کله به ئے ډیو ملګری سره خبره کوله او کله د بل سره نو پدے طریقے سره ډیر ملګری تیار شول، د الله سبحانه وتعالیٰ په فضل سره یو وړوکے غونډے جماعت جوړ شو۔



په مکه کې د ابتدائي صحابه کرامو رضی الله عنهم کارونه

د مسلمانانو ددې جماعت کار څه وو؟ نو دوی به دوه درې کارونه کول چه هغه زمونږ دپاره فائده مند دي او اسلام همیشه ددې خبرې دعوت کوي۔

یو کار د هغوی دا وو چه د مانځه پابندی به ئې کوله، الله رب العزت حکم راولیږه، دوه مونځونه ئې فرض کړل او باقي ئې نفل وګرځول، د سهار او د مازیګر مونځ۔ لکه دا خبره الله په قرآن کې ذکر کړه: ﴿وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوْبِ﴾ (ق:۳۹)۔ یعنې د نمر د راختلو نه مخکې او د پریوتونه مخکې مونځ کوه)،

نو صحابه کرامو به پدې باندې ډیر په سختئ سره عمل کولو لکه قرآن کریم ئې صفت کړیدې چه ﴿تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا﴾۔ هر وخت به په مانځه ولاړ وو، نفلونه او عبادتونه د هغوی کار وو، او د الله بندګي په انسان کې اُوچت صفت دې چه داسې قسم عبادتونه اُوس د امت نه ورك دي، د شپې عبادتونه به ئې کول، اُوس خو د دنیا د خواهشاتو د وجه نه فرض مونځونه هم قضاء وي او د سهار مانځه نه پس سمدست ودهٔ کیږي، خپل خوب پوره کوي او عبادت قطعه کوي دا لوی تاوان دې بلکه د صحابه کرامو پشان عبادتونو له لږ زور ورکول پکار دي، په عبادتونو سره د الله ربط او تعلق قائمیږي اوکله چه د الله تعالیٰ سره ربط اوتعلق قائم شي نو په دشمن باندې غلبه آسانه وي او چه دَ الله سره تعلق نهٔ وي په دشمن باندې بیا غلبه نهٔ راځي۔

ددې لنډ مثال دا دې چه د کافرانو همیشه دا کوشش دې چه د مسلمان او د الله تعالیٰ په مابین کې تعلق کټ کړي نو بیا دا کافر په مسلمان غلبه بنه کولې شي اوکله چه د مسلمان د الله تعالیٰ سره تعلق وي نو بیا د الله تعالیٰ او د کافر جګړه ده، مسلمان په مینځ کې هسې واسطه ده ددې وجه نه د کافرو کوشش دا دې چه مسلمان بې حیاء کړي، سودونه عام کړي، مسلمانان د خپل دین نه غافل کړي، د الله د ذکر نه ئې واړوي، د قرآن د تعلق نه ئې محرومه کړي پدې باندې د کافرو سخت کوشش شروع دې او کله چه د بنده تعلق د الله تعالیٰ سره وي نو بیا پرواه مهٔ کوه۔

﴿وَلَنْ [illegible] ـهُ لِلْكَافِرِيْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ سَبِيْلًا﴾ (النساء:۱٤۱)۔

کافر هیڅکله په مؤمن باندې غلبه نشي کولې که چرته هغه د ایمان په حالت کې پاتې شي. او دا یقیني خبره ده او اټله فیصله د رب العالمین ده.

کله چه دوه مونځونه فرض شول نو جبریل علیه السلام راغلو او نبي علیه السلام ته ئې د اَودس طریقه وخودله او کله چه ئې استنجاء وکړه نو یو چونګ اُوبه ئې راواخستې او خپل خبنتګ باندې ئې چنړکاؤ کړې لکه دا یو سنت عمل دې چه د اَودس یا د استنجاء نه روستو خپل خبنتګ ته چنړکاؤ وکړې پدې کې ډیر حکمتونه دي یو دا چه پدې سره شکونه او شبهات ختمیږي، او پدې سره د فرج او د عورت شهوت کنټرول کیږي لکه نبي علیه السلام به چه کله د لوټي نه اَودس وکړو نو باقي پاتې اُوبو نه به ئې څه وڅکلې پدې کې حکمت دا دې چه پدې سره د خیټې شر دفعه کیږي او د نبي علیه السلام طریقه ده نو ضرور به پکې خیر وي.

دویم کار: د صحابه کرامو دویم کار تزکیة النفس (د خپل ځان پاکول) وو ځکه چه د نفس مثال د شاړ پټې دې یا شاړ کنډر دې، یا مثال ئې د کندو دې چه ګندونه، ازغي پکې ولاړ وي، دا صفا کول پکار دي، د نفس نه به د حسد او بُغض او تعصب او تکبر بیماري لرې کړې او د مسلمانانو سپك والې به د ځان نه وباسې، بخل او بد خواهي به ختمه کړې، شك او شبهات به ختم کړې، غفلت او د الله او د رسول د محبت کمې به لرې کړې، نو دا یو ضروري شې دې چه اُوس مونږ عامو مسلمانانو پریښې دې او مونږ د مقصد په خلاف په نورو څیزونو کې لګیدلي یو.

﴿قَدْ أَفْلَحَ مَنْ زَكّٰهَا﴾ (الشمس:۹) الله فرمائي: یقیناً هغه سړې کامیاب دې چه خپل ځان ئې پاك کړو او هغه انسان مقصد ته ونهٔ رسیدو (ناکام شو) چه خپل نفس ئې ګمراه او ګنده پریښودو.

نو د صحابه کرامو دویم کار دا وو چه خپل نفس به ئې پاکولو، چه د الله دوستان جوړ شي. ﴿وَهُوَ وَلِيُّهُمْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ﴾ (الانعام:۱۲۷).

الله به د هغه چا سره دوستي کوي چه نیك اعمال پکې وي.

الله تعالیٰ فرمائي:

﴿اَلَا اِنَّ اَوْلِيَاءَ اللّٰهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ، الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ﴾ (یونس:۶۳).

زما دوستان هغه کسان دی چه ایمان راوړی او تقویٰ پکی وی۔

حسن بصری رحمه الله فرمائی : اِنَّ الرَّجُلَ كَانَ يُسَافِرُ لِأَخْذِ الْخَصْلَةِ وَالْخَصْلَتَيْنِ سَنَةً اَوْ سَنَتَيْنِ)۔ زمونږ په زمانه کی به یو سړی د یو صفت یا دوه صفتونو د زدهٔ کولو دپاره یو کال یا دوه کاله سفر کولو۔

په یو استاذ کی به یو صفت وو نو د هغه سره به ډیره شو دے دپاره چه د هغه نه مثلاً د صبر طریقه زدهٔ کړی، د بل استاذ نه به ئې شکر یاد کړو، د بل نه به ئې خشوع او عاجزی، د بل نه جود او سخا، د بل نه د یقین زیاتوالے زدهٔ کولو۔

قرآن کی دی : ﴿قَدْ أَفْلَحَ مَنْ زَكّٰهَا﴾ (الشمس:٩) ﴿قَدْ أَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى﴾ (الاعلیٰ: ١٤) ﴿وَمَنْ تَزَكّٰى فَإِنَّمَا يَتَزَكّٰى لِنَفْسِهٖ﴾ (فاطر:١٨) ﴿وَذٰلِكَ جَزَاءُ مَنْ تَزَكّٰى﴾ (طه:٧٦) ﴿اَلَّذِيْنَ تَتَوَفّٰهُمُ الْمَلَائِكَةُ طَيِّبِيْنَ﴾ (النحل:٣٢) - ﴿طِبْتُمْ فَادْخُلُوْهَا﴾ (الزمر:٧٣)۔

په قرآن کریم کی د تزکیه ډیر الفاظ ذکر دی او دے ته ترغیب ذکر شوید ے۔ او الله رب العالمین په مونږ باندے دا شرط لګولے دے چه د صحابه کرامو په شان ایمان به راوړئ۔ ﴿فَإِنْ آمَنُوْا بِمِثْلِ مَا آمَنْتُمْ بِهٖ فَقَدِ اهْتَدَوْا﴾ (البقره:١٣٧)۔

کچرته دے مشرکانو ګمراهانو کافرو داسے ایمان راوړو لکه څنګه چه تاسو راوړیدے نو دوی په هدایت باندے روان دی۔ اوکه ستاسو په شان ایمان ئې رانهٔ وړو نو خامخا دوی په مخالفت کی دی د حق نه او په غلطه لار روان دی۔

نو د زندګئ یو ضروری مقصد دا دے چه د ځان نه ګنده صفات لرے کول۔ او دا په یو ځل نهٔ کیږی، د یو یو به مستقل علاج کوے، علماء فرمائی:

(اِنَّمَا الصَّبْرُ بِالتَّصَبُّرِ وَالْحِلْمُ بِالتَّحَلُّمِ) ۔ صبر چه زده کوی په لږ لږ صبر کولو باندے زدهٔ کیږی او حلم په لږ لږ سره زده کیږی۔ او دویمه جمله په مرفوع حدیث د ابودرداء رضی الله عنه کی په شعب الایمان کی او شیخ البانی په سلسله (٣٤٢) کی ذکر کړیده۔ وفی الحدیث : وَمَنْ يَتَصَبَّرْ يُصَبِّرْهُ اللّٰهُ ۔ (بخاری)

(٣) او **دریم کار** د صحابه کرامو په دغه زمانه کی دا وو چه دعوت الی الله به ئې کولو خلق به ئې الله طرفته رابلل، هر ملګری چه به کوم دوست لرلو هغه ته به ئې دعوت ورکولو، پته به ورتللو چه محمد (ﷺ) د الله رسول شویدے، مونږ ورسره ملګری شوی یو، تهٔ هم زمونږ سره ملګرے شه، پدے کی خیر دے، د پلار ئیکه چه

کومه لاره ده دا غلطه ده، تا ته معلومه ده چه دې کې دا دا نقصانات دي، هغه به ئې ورته وښودل او دا خو یقیني خبره ده چه حق د فطرت مطابق دې، خلك غافل او اُودهٔ وي چه دعوت ورته ورکړې شي راویښ به شي چه دا خو رشتیا قبلول پکار دي۔

نو پدې کې به ډیرو کسانو ایمان راوړو ځکه چه دعوت ضرور اثر لري۔ که مونږ او تاسو قرآن او حدیث ته دعوت شروع کړو نو د الله په فضل سره به په یوه ورځ کې ډیر خلق حق ته راواوړي لیکن ددې مادې مونږ او تاسو کې کمې دې او ددې څه غم او فکر او درد راسره نشته۔

او دا درې واړه کارونه په انسان کې ډیر ښائسته صفتونه پیدا کوي۔

مؤمنانو به پټ پټ دعوت کولو ځکه چه د مشرکانو د طرفنه ډیره سخته یره او خوف او خطر وو، سختو دشمنانو سره مخامخ شوي وو۔

د دوی دوه تربیت کونکي وو یو رب العالمین چه هغه به ورته وخت په وخت حِکمونه راليږل قرآن به نازلیدو چه داسې وکړه او داسې مهٔ کوه او الله چه د چا تربیت کوي هغه جماعت او ډله او هغه خلك به ولې نهٔ جوړیږي په هغوی کې به کمال ولې نهٔ پیدا کیږي او دویم مُرَبّي د صحابه کرامو محمد رسول الله ﷺ وو، نبی علیه السلام به ورله تربیت کولو؛ د تربیت طریقه دا وه چه د هغوی ایمانیات ئې جوړول، اخلاق او اعمال برابرول، د دنیا د ژوند تیرولو طریقه به ئې ورخودله۔ زمونږ د زماني پشان مُلیان او مقررین نهٔ وو چه څوك یو شی کې بحث کوي او څوك د غلط سیاست او جمهوریت خبرې کوي پدې سره تربیت څرته کیږي؟!۔

په مکی سورتونو کې عام د تربیت خبرې دي چه اې خلکو! آخرت راروان دې، په آخرت به ئې د خلکو ذهن جوړولو، جنت حق دې، په هغې کې ستاسو دپاره مزې دي، جهنم ډیر سخت ځای دې، د مشرکانو او کافرانو دپاره تیار شویدې، ایمان والو ! تاسو ترې ویریږئ، خپل اعمال برابر کړئ، او د دنیا زهد او بی رغبتی به بیانیدله چه دا معمولی زندگی ده، ختمیدو والا ده، ددې تکلیف هم همیشه نهٔ دې او اصل خبرې د مرګ نه روستو شروع کیږي، د هغې تکلیف هم همیشه او راحت ئې هم همیشه دې، او ورسره د انبیاؤ علیهم السلام او د هغوی د قومونو واقعات به د تسلئ دپاره بیانندل۔

نو پدے طریقه به د صحابه کرامو تربیت کیدو ، په ابتداء کی لږ لږ کسان تیاریدل لکه قرآن کریم کی ئے مثال د فصل سره ورکړیدے چه اول کی تیغ راپیدا شی بیا لږ لږ غټیږی تردے چه پوره ښی او په خپله پونډئ باندے ودریږی نو صحابه کرام به وخت په وخت ډیریدل او اکثر به هغه خلك دین ته راتلل چه غریبانان کمزوری به وو، لکه د انبیاء علیهم السلام تابعدار همداسے خلق وی ځکه چه دے خلکو کی عاجزی او خشوع او تواضع ډیره وی او د الله دا کارونه ډیر خوښ دی،

که اُوس څوك غواړی چه زۀ د نبی علیه السلام په تربیت کی راشم نو د هغه سنت اُوس موجود دی او د الله قرآن موجود دے پدے دے ځان جوړوی، قرآن ته ډیر کینه، د هغے تلاوت کوه او په هغے کی تدبر او سوچ کوه، درسونو او وعظونو کی کینه ان شاء الله څه ناڅه تربیت به دے کیږی څومره چه تا کی خیر وی د هغے په اندازه به ستا تربیت کیږی او که د وعظ او نصیحت او د قرآن د درسونو نه جدا وے بیا به درکی غلط صفتونه او بد اخلاقیانی پیدا کیږی۔

۲- د مکی دور دویمه مرحله : جهری دعوت

درے کاله دا پټ دعوت وچلیدو ددے نه روستو دویمه مرحله شروع شوه هغه تر لسم کال د نبوت پورے وه۔

دویمه مرحله کی اَلدَّعْوَةُ الْجَهْرِيَّة (ښکاره دعوت) شروع شو، نبی علیه السلام میدان ته راووتو او صحابه کرام هم لږ لږ راښکاره شول، هغوی ډیرځان نۀ ښکاره کولو خو لږ لږ راښکاره شو، او دا ډیره سخته مرحله وه وجه دا وه چه په پټ دعوت کی مشرکانو چا ته څه نۀ وئیل، دا به ئے وئیل چه نبی علیه السلام یو نیك سړے دے ښے خبرے کوی، خو معمولی شان خطره ورته پیدا شوے وه، خو ډیره پرواه ئے نۀ کوله، بعض کسانو به دا کار هم ډیر بد ګڼړلو خو کله چه نبی علیه السلام د کفر او د شرك ښکاره او سخت رد او مقابله شروع کړه نو مشرکانو هم راسخته کړه،

قانون دا دے چه کله حق په حرکت کی راشی نو باطل په انتهائی حرکت کی راځی، ډیر زور کی راځی، خو چه باطل څومره خوزیږی هغومره به زر ختمیږی او څومره چه

باطل غلبے وی په قلاره وی هغه به زر نهٔ ختمیږی دا تجربه دے هر انسان وکړی، د حق غټ دشمن زر ختمیږی او کوم خلك چه پرواه نهٔ لری، نهٔ په حق او نهٔ په باطل، په خپله نظرئیه روان وی، د چاپه هیڅ خبره پروا نهٔ لری، نو دا باطل په خلکو کی ډیره موده پورے پاتی وی، زمونږ پدے زمانه کی باطل ولے نهٔ ختمیږی د هغے یوه وجه همدغه ده چه حق په زورورتیا او شجاعت سره صفا بیان شوے نهٔ دے۔

او دویمه وجه دا ده چه دا باطل والا بے پرواه دی، که تهٔ پرے هرڅو مره رد وکړے چه دا بابا دے څه نشی کولے، او اماماں د دین علماء کرام دی، رسولان نهٔ دی او دا تهٔ چه په کوم مذهب روان ئے دا غلط دے نو هغه ته غصه نهٔ ورځی، نو د بی غیرتو خلکو نه الله باطل نهٔ وباسی او د غیرتیانو نه باطل زر اُوځی، نو څه کسانو ته الله تعالیٰ هدایت وکړی او بعض کسان الله تعالیٰ هلاك کړی۔

د نبی علیه السلام قریشو ته دعوت

کله چه دا آیت نازل شو: ﴿ وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ ﴾ (الشعراء:٢١٤)۔

اے نبی ! خپل نزدے خپلوان ویروه۔

او په سورة الشعراء کی الله تعالیٰ دا آیت ولے رالیږلے دے؟، د هغے ډیر رازونه دی یو دا دے چه پدے سورت کی الله سبحانه وتعالیٰ د ایمان فائدے بیان کړیدی، څوك چه ایمان راوړی الله تعالیٰ هغه ته نجات ورکوی او څوك چه تکذیب او کفر وکړی هغه به هلاك کیږی، د هغے دپاره مثال واقعه د موسی علیه السلام د اول نه تر آخره پورے بیان کړیده، دغه شان د نوح علیه السلام، د ابراهیم علیه السلام او د لوط او هود علیهما السلام واقعات هم)، چه دے ته گوریٔ او پدے طریقه تهٔ او ستا ملگری دے دعوت کوی او د نهٔ منونکو انجام به ددے قومونو په شان گرځی، دے دپاره چه نبی علیه السلام او د هغهٔ ملگری د اول نه په دعوت کی په بصیرت باندے شی۔

نو نبی علیه السلام اول نزدے خپلوان چه بنو هاشم او بنو المطلب دی راجمع کړل دے دپاره چه دوی ته خبره وکړی پدے کی ابولهب د مخکی نه ورانکارے او مُفسد انسان وو، د رسول الله ﷺ ترهٔ دے خو په خته کی ئے فساد اغږلے شویدے، سره د

بنائست او مالداریٔ او د ډیرو بچو نه او د قریشي توب نه الله تعالیٰ روستو زمانه کی مردار کړو۔

کله چه نبی علیه السلام ته دوی راجمع شول چه دا ټول پنځه څلویښت کسان وو نو ابولهب وویل چه دا د یو پلار بچي تا ته راجمع شویدی، (فَتَكَلَّمْ وَدَعِ الصُّبَاةَ) خبرې کوه او دا صابیان د ځان نه لرې کړه، : فَإِنَّهُ لَا طَاقَةَ لِبَنِي أَبِيكَ بِالْعَرَبِ قَاطِبَةً)۔

ستا د پلار دا بچي (خپلوان) د ټولو عربو مقابله چرته کولې شي؟ چه ټولو عربو ته سر ورته کړي او د هغوی مقابله شروع کړي او ډیرنه بدې ردې ئې ووېلې، او دا ئې ووېل چه ما هیڅوك داسې نهٔ دې لیدلې چه د پلار بچو ته ئې دومره شر راوړې وي څومره چه تا راوړو، او خپلوانو ته ئې ووېل چه دا سړې ونیسئ او بندی ئې کړئ ځکه چه عرب به راشي او حمله به درباندې وکړي، دا سړې به درله مړ کړي نو په خپل لاس ئې بند کړئ۔

نو دې ظالم ټول مجلس ونیولو او بل چا ته ئې د خبرو موقعه ورنکړه، رسول الله ﷺ پدې مجلس کې یوه خبره هم ونکړه،

راجمع کړې دهٔ وو او مجلس بل چا ونیولو، د الله نبي حکیم انسان وو، الله ورله ډیر حکمت ورکړې وو، هغه ځکه خبره نهٔ کوله چه موقعه نهٔ وه، کله کله خبره په موقعه باندې فائده کوي او بې موقعې خبره فائده نهٔ کوي نو مجلس بیرته خور شو او خلك پاخیدل، هیڅ خبره ونشوه، صرف ابولهب پکې خپلې باطلې او د حق خلاف خبرې وکړې، نبی علیه السلام خو د خپل دعوت نه نهٔ بندیدو ځکه چه د الله تعالیٰ حکم دې ورته چه دا خلك ویروه،

نو یوه ورځ بیا نبی علیه السلام دا خپلوان راجمع کړل او نبی علیه السلام سمدست خبره شروع کړه ابولهب هم پکې ناست دې :

(إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، أَحْمَدُهُ وَأَسْتَعِينُهُ، وَأُؤْمِنُ بِهِ وَأَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ)۔

زهٔ د الله حمدونه وایم د هغه نه مدد غواړم او په هغه باندې ایمان راوړم او په هغه باندې ځان سپارم، توکل کوم او دا ګواهي ورکوم چه الله یواځې دې هیڅ شریکان ورسره نشته)۔ نو دا مسئله په هغوی باندې بده لګیدله او بیا ئې ووېل اې زما خپلوانو! : (إِنَّ الرَّائِدَ لَا يَكْذِبُ أَهْلَهُ)۔ یو سړې چه د قافلې نه مخکې ولیږلې شي د

معلومات دپاره نو هغه خپل اهل ته دروغ نهٔ وائی، هغه چه ووائی چه فلانی ځای کی اُوبه دی نو هغه دروغ نهٔ وائی، خپل قوم نهٔ تباه کوی۔

د عربو دا عادت وو چه قافلې به ئے په شاړو صحراوونو کی لیږلے او څه کسان به ئے مخکی لیږل چه هلته وګوری اُوبه شته او که نهٔ او څه دشمن خو مخے ته ندے ناست۔

نو نبی علیه السلام وفرمایل زهٔ هم ستاسو دپاره دغه شان یم، تاسو ته دروغ نهٔ بلکه حقیقت وایم۔ (وَاللّٰهِ الَّذِیْ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ، اِنِّیْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَیْکُمْ خَاصَّةً وَّاِلَی النَّاسِ عَامَّةً)۔

قسم په هغه الله چه نشته حقدار د بندګئ سویٰ د هغه نه زهٔ الله تعالیٰ تاسو ته خصوصی رالیږلے یم اے زما خپلوانو!۔او عامو انسانانو ته هم د الله رسول یم۔

(واللّٰهِ لَتَمُوْتُنَّ کَمَا تَنَامُوْنَ وَلَتُبْعَثُنَّ کَمَا تَسْتَیْقِظُوْنَ)۔

او قسم په الله چه تاسو به خامخا مرئ لکه څنګه چه تاسو اُودهٔ کیږئ (یعنی دا ئے ورته مثال ورکړو چه لکه څنګه چه په تا خوب راځی نو دغسے به دربانده مرګ هم راځی) او تاسو به دوباره راژوندی کیږئ لکه څنګه چه تاسو د خوب نه راپاڅیږئ یعنی د قیامت په ورځ به تاسو بیرته راپورته کیږئ لکه څنګه چه تاسو سهر کی راپاڅیږئ دا ئے مثال دے۔ پدے وجه نبی علیه السلام د اُوده کیدو په وخت دا دعا ښودلے ده: (اَللّٰهُمَّ بِاسْمِكَ اَمُوْتُ وَاَحْیَا)۔ اے الله! ستا په نوم باندے مرم او بیا به راژوندے کیږم، او سهر چه راپاڅیږی نو دا دعا به وائی:

(اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَحْیَانَا بَعْدَ مَا اَمَاتَنَا وَاِلَیْهِ النُّشُوْرُ)۔

شکر دے هغه ذات لره چه زهٔ ئے راژوندے کړم روستو د هغے نه چه زهٔ ئے وژلے وم (ځکه خوب د مرګ پشان دے) او داسے ورځ به بیا راشی چه مونږ به د قبر نه پاڅیږو او الله ته به ورځو پدے ځای کی ورته دا مثال ورکړو چه لکه څنګه د خوب نه راپاڅیږئ نو دغسے قیامت حق دے په هغے کی به راپورته کولے شئ۔

(وَلَتُحَاسَبُنَّ بِمَا تَعْمَلُوْنَ وَاِنَّهَا الْجَنَّةُ اَبَدًا اَوِ النَّارُ اَبَدًا)۔

بیا به تاسو سره حساب کیدلے شی په هغه عملونو چه تاسو ئے کوئ، بیا دوه خبرے دی یا به همیشه جنت ته داخلیدل وی یا به همیشه اُور ته داخلیدل وی)

دا څو مره لنډ او ښکلے دعوت دے، جامع دعوت دے چه نبی علیه السلام په جامع او لنډو الفاظو کی بیان کړو، د الله حمد او ثناء ئے وویله، د توحید کلمه ئے وویله، د رسالت

دعوت ئے ورکړو چه زۀ د الله رسول یم، زما تابعداری به کوئ، ورسره ئے دا خبره بیان کړه چه قیامت حق دے، د اعمالو حساب به کیږی او جنت او جهنم حق دے، کله چه دا خبره د چا په ذهن کی پریوځی هغه ته ټول کارونه آسانیږی چه رشتیا مرګ حق دے او قیامت راځی او جنت او جهنم حق دے د هغے دپاره به بیا خواری کوی۔

نو ابو طالب راودانګل او وے وئیل چه ډیرے ښی خبرے دے وکړے۔

(مَا أَشَدَّنَا تَصْدِيقًا لِحَدِيْثِكَ)۔ ستا د خبری مونږ ډیر تصدیق کوو۔ (وَمَا أَحْلَى كَلَامَكَ)۔ او ستا خبره ډیره خوږه ده او تۀ خبرے کوه زۀ به دے مدد کوم او زۀ به دے شا ته ولاړ یم، ستا حفاظت به کوم، صرف دومره ده:

(غَيْرَ أَنَّ نَفْسِيْ لَا تُطَاوِعُنِيْ عَلٰى فِرَاقِ دِيْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ)۔

زړۀ راته وائی چه د پلار (عبد المطلب) دین مۀ پریده، یعنی زۀ به دے شا ته ولاړ یم خو صرف دومره ده چه د عبد المطلب دین درته نشم پریښودلے، دا هغه د جاهلیت غیرت دے چه د دین په خلاف کیږی دیته بی ځایه غیرت وائی۔

بعض خلك وائی زۀ غیرتی یم او داسے غیرت کوی چه د اسلام خلاف وی، پښتو ئے راتینګه کړی وی، وائی زۀ پښتون یم، خو اصل ننګ او غیرت دا دے چه سړے په دین باندے عمل وکړی۔

پدے کی ابو لهب راودانګل او وے وئیل : (هٰذِهٖ وَاللّٰهِ السَّوْءَةُ)۔

قسم په الله دا د عیب او خفګان خبرے دی چه تاسو ئے کوئ، دا به د توحید او د رسالت خبرے کوئ او تاسو به ددۀ ملګرتوب او مدد کوئ دا خو تاسو د عیب خبرے وکړے، د عربو مقابله څوك کولے شی؟۔

(حاصل دا چه نبی علیه السلام د هغوی غوږونو ته دا خبره ور اُورسوله چه د توحید او رسالت او د قیامت عقیده حقه ده) ۔پدے کی ابو طالب اعلان وکړو چه زۀ دے ملګرے یم، مدد به دے کوم ترڅو پورے چه مونږ ژوندی یو (لیکن ایمان ته تیار نۀ یم) تا ته چه کوم حکم کیږی هغه جاری ساته۔

نبی علیه السلام پو هه شو چه زما دعوت څه نا څه فائده وکړه، خلکو ته خبره ورسیده، ابو طالب راسره شاته ودریدو، الله رب العالمین دا حکم کړے وو چه خپلوان ویروه نو نبی علیه السلام دا کار وکړو۔

د صفا په غونډۍ

او بیا ئے عامو قریشو ته دعوت شروع کړو چه کوم ددهٔ نسبیان دی او وړاندے خپلوان دی، نبی علیه السلام د صفا غونډۍ ته وختلو، آواز ئے وکړو لکه دا د عربو عادت وو چه آواز به ئے کولو یا صباحاه! اے خلکو! راحاضر شئ په تاسو باندے حمله وشوه، په سهار کی په تاسو باندے دشمن راغے، په عربو قومونو به حملے ډیرے کیدلے نو یو سړی به چه دشمن ولیدهٔ دا آواز به ئے وکړو (یَا صَبَاحَاهُ)، کله به ئے هغے سره دا کارکولو چه جامی به ئے ویستلی ځکه چه ځان بربنډول هغوی ته گناه نهٔ ښکاره کیده، او دغه آواز به ئے وکړو او نبی علیه السلام خو دا کار نهٔ کولو چه جامی وباسی ځکه دا د اسلام خلاف کار وو او نبی علیه السلام کی ډیره حیاء وه،

لیکن مثال ئے ورکړو: (وَاِنِّیْ اَنَا النَّذِیْرُ الْعُرْیَانُ)۔ زهٔ تاسو ته بربنډ یره درکونکے یم لکه څنگه چه هغه سړے د دشمن په راتگ جامی وباسی هغه د قوم دپاره ډیر مخلص وی نو زهٔ هم ستاسو دپاره دغه شان ښکاره مخلص یم، نو پدے کی یوه ډله د هغه آواز کونکی تابعداری وکړی چه دا سړے رشتیا وائی، خپل سامان ځان سره واخلی او په قلاره روان شی او په بل طرف باندے روان شی، د شپی مزل کوی چه سهار کیږی نجات ورته حاصل شوے وی او د نجات ځای ته رسیدلے وی او بعض کسان د هغه تکذیب وکړی چه هسے دروغژن دے، د چا زمونږ سره څه کار دے چه په مونږ باندے حمله کوی نو هغوی پدے ځای باندے پاتی شی او په خوب کی پراتهٔ وی پدے کی دشمن راورسیږی او د تولو بیخکندی وکړی، دوی مړهٔ کړی او ښځی او ماشومان تړے بوځی۔ زما مثال دغه دے۔

نو نبی علیه السلام په یو حدیث کی دغه مثال ورکړیدے چه زهٔ چه دے امت ته راغلے یم، زهٔ مخلص داعی یم، غټ دشمن څه شے دے؟، د الله عذابونه او د هغه حساب دے چه تاسو سره کیدو والا دے، تاسو که زما خبره ومنله، په قلاره قلاره مو پدے دین باندے عمل شروع کړو نو نجات به درته ملاو شی۔ او چا چه زما خبره ونهٔ منله او په خپل کور کی په غفلت کی ناست وی تردے چه مرگ به ورته راشی او جهنم به ئے ځای

وی۔ ﴿مِمَّا خَطِيئَاتِهِمْ أُغْرِقُوا فَأُدْخِلُوا نَارًا﴾۔

پس د مرگ سره سمدست اُور ته داخل شو۔

نبی علیه السلام د صفا په غونډۍ ودریدو

(نو دلته دوه قسمه حدیثونه دی یو دا چه نبی علیه السلام دے قومونو ته آواز وکړو یا بنی فِهر، اے بنی فِهر! دا د قریشو یوه قبیله ده، یا بنی کعب بن لُؤی، یا بنی عَدِی تاسو راشئ (بُطُوْن مِنْ قُرَيْشٍ)۔ د قریشو څه قبیلو ته ئے آواز وکړو،

نو صحیح حدیث کی راغلی دی چه کله دوی دا آواز واوریدو نو د چا چه وسعه کیده خپله راغے او چه د چا وسعه نهٔ کیده نو خپل څوی یا غلام ئے ولیږلو چه تهٔ لاړ شه چه محمد (علیه الصلاة والسلام) څه وائی، څه واقعه ده؟ هغوی چه کله راجمع شول، رسول الله ﷺ دلته دوه خبرے وکړے یو دا چه:

(لَوْ أَنِّي أَخْبَرْتُكُمْ أَنَّ خَيْلًا بِالْوَادِيْ تُغِيْرُ عَلَيْكُمْ أَفَأَنْتُمْ مُصَدِّقِيَّ)۔

که چرته تاسو ته خبر درکړم چه دلته دشمن دے پدغه کنده کی راروان دے په تاسو باندے حمله کوی نو آیا تاسو به زما تصدیق وکړئ؟ هغوی ووئیل: مونږ به خامخا ستا تصدیق کوو۔ (مَا جَرَّبْنَا عَلَيْكَ إِلَّا صِدْقًا)۔ مونږ تا باندے صرف د رشتیاؤ تجربه کړے ده چه ستا د خُلے نه صرف رشتیا راوځی، نو ستا خبره به څنګه دروغژنه شی نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل، حاصل د حدیث دا دے چه ما یو بل دشمن لیدلے چه هغه تاسو نهٔ دے لیدلے هغه ما ته الله راښودلے دے هغه دا دے:

(إِنِّي نَذِيْرٌ لَّكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيْدٍ)۔

د الله یو سخت عذاب په تاسو راروان دے، د هغے نه مخکی زهٔ راغلے یم، تاسو له خبر درکوم چه هغه درباندے نازلیږی د هغے نه ځان خلاص کړئ۔ او د هغے نه ځان په ایمان راوړو، توحید منلو سره خلاصیږی نو کلمه لا اله الا الله ووایئ او زما رسالت ومنئ چه محمد د الله رسول دے نو کله چه تاسو توحید، رسالت او قیامت ومنلو نو تاسو نه دشمن واوړیدو یعنی د عذاب نه بچ شوئ او بیا څه اعمال خودلے شویدی هغه ځان ته واچوئ، دغه اعمال د زغرو په مثال دی، نو د عذاب نه به بالکلیه خلاص شئ ترڅو چه انسان کی ایمان نهٔ وی، عمل صالح نهٔ وی تر هغه وخته پورے د الله د اُور نه نشی بچ کیدلے، دا یقینی فیصله ده که څوک ئے منی او که نهٔ۔

دویم نبی علیه السلام خاص خاص نو مونه یاد کړل چه یا عباس! ځان د اُور د جهنم نه خلاص کړه، خپله ترور ئے راغوښتے وه هغے ته ئے وویل:

(یَا صَفِیَّةُ بِنْتَ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ عَمَّةُ رَسُوْلِ اللّٰهِ ! لَا أُغْنِیْ عَنْكِ مِنَ اللّٰهِ شَیْئًا)۔ اے صفیه! زۀ ستا نه د الله تعالیٰ عذاب نشم دفع کولے۔ خپلې لور فاطمے ته ئے آواز وکړو:

(سَلِیْنِیْ مَا شِئْتِ مِنْ مَالِیْ، أَنْقِذِیْ نَفْسَكِ مِنَ النَّارِ، فَاِنِّیْ لَا أَمْلِكُ لَكِ ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا وَّلَا أُغْنِیْ عَنْكِ مِنَ اللّٰهِ شَیْئًا) ۔ اے فاطمے ! ما نه زما د مال چه څه غواړے وغواړه، خو ځان خپل د اُور نه بچ کړه ځکه چه زۀ ستا دپاره د ضرر او د فائدے اختیار نۀ لرم او د الله تعالیٰ د عذاب نه ستا دپاره هیڅ اختیار نۀ لرم.

(یَا بَنِیْ فِهْرٍ أَنْقِذُوْا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ فَاِنِّیْ لَا أَمْلِكُ لَكُمْ مِنَ اللّٰهِ شَیْئًا)۔

یا بنو فهر ! تاسو هم خپل ځانونه د اُور نه خلاص کړئ، ما سره اختیار نشته چه زۀ تاسو د الله د عذاب نه خلاص کړم۔ زۀ رسول یم خو د الله په عذابونو کی زما واك نشته، زما کار دعوت او تبلیغ او دین رسول دی او ستاسو پوهه کول زما کار دے، تاسو به ځان خپله بچ کوئ۔ دغه شان آوازونه ئے بنی کعب، بنی مره، بنی قصی، بنی عبد مناف، بنیٰ عبد شمس، بنی هاشم او بنی المطلب ته وکړل۔

په بعضے حدیثونو کی داسے الفاظ دی چه ټولو قریشو ته ئے وویل:

(یَا مَعْشَرَ قُرَیْشٍ ! اِشْتَرُوْا أَنْفُسَكُمْ مِنَ اللّٰهِ)۔

اے د قریشو ډلے ! ځانونه واخلئ د الله نه په ایمان او په نیك عمل سره۔ چا چه ایمان راوړو او نیك عمل ئے کولونو دۀ ځان د الله نه واخستو، د هغه د عذاب نه ئے ځان بچ کړو،

زۀ نور څه اختیار نۀ لرم: (اِلَّا أَنَّ لَكُمْ رَحِمًا سَأَبُلُّهَا بِبِلَالِهَا)۔

صرف دا چه ستاسو خپلولی شته، د خپلولئ لحاظ به زۀ ساتم،

د کافر سره به هم سړے خپلولی قائموی، د هغوی کره به تګ راتګ کیږی او تحفه او صدقه او هدیه به ورکوی خدمت به ئے کوی لیکن په زړۀ کی به ورسره محبت نۀ لری، د هغه د کفر او د شرك د وجه نه به ورسره بغض ساتی، او چه مسلمان وی او بیا کافر شوے وی (العیاذ بالله) نو د هغه سره به د سرۀ خبرے نۀ کوی، راشه درشه به ورسره نۀ کوی، څه شے به ورته نۀ ورکوی، هغه سره به پوره بائیکاټ کوی۔ دغه مخکنے

قانون د اصلي کافر په باره کې دے چه صله رحمي به ورسره ساتي، ښه سلوک به ورسره کوي او مرتد انسان سره ښه سلوک کول نشته۔

نبي علیه السلام چه دا بیان وکړو نو پدے کې ابولهب هم حاضر شویدے چه دا یو شیطان سړے وو، ددهٔ په لاس کې یو کانړے وو او دائے وویل :

(تَبًّا لَكَ سَائِرَ الْيَوْمِ أَلِهٰذَا جَمَعْتَنَا؟)۔

هلاک شے، ټوله ورځ تباه شے، آیا تا مونږ دے خبرے دپاره راجمع کړو؟)۔ دا خو څه خبرے نهٔ دی چه تا وکړے، مونږ وئیل چه څه غټے خبرے به کوي، تا خو څه خبرے ونکړے، دا د قبر خبره او د حشر خبره، د جهنم او د ایمان خبره بعض خلکو ته هسے ګپ ښکاره کیږي لکه دے زمانه کې د عامو کافرو مزاج همدا دے، دنیا ورته ډیر لوی شے ښکاري۔

او کانړےئے راواخستو او نبي علیه السلام ئے پرے ووهلو پدے موقعه کې هغوی ته هم دا دعوت وشو او دا خبره ختمه شوه۔

نبي علیه السلام چه د حق دعوت ښکاره کړو او ابولهب ورله مقابله شروع کړه پدے کې الله د خپل نبي دفاع وکړه سورة اللهب ئے راولیږلو:

﴿ تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ ﴾ ۔ الله دے ابولهب تباه کړي (الله ورته ښیرے وکړے) د هغه لاسونه دے الله تباه کړي چه دا لاسونه ئے زما په نبي باندے اُوچت کړل او یقیناً دے تباه شو۔ الله رب العزت په رشتیا تباه کړو چه ذ دنیا نه ئے بې ایمانه بوتلو او مردارئے کړو، دا د الله غیرت وو چه په خپل نبي باندےئے وکړو۔

د رسول الله ﷺ ددے دعوت دغه آوازونه د مکے په اطرافو کې لا کړنګیدل چه لږ وخت روستو الله تعالیٰ بل آیت راولیږلو په سورة الحجر کې :

﴿ فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ ﴾۔

اے زما نبي ! صفا بیان وکړه په هغه څه چه تاته پرے امر کیږي او د مشرکانو نه اعراض وکړه)۔

د اعراض معنیٰ دا ده چه د مشرکانو پرواه مهٔ کوه، اعراض دیته نهٔ وائي چه دعوت ورته مهٔ کوه بلکه معنیٰ دا چه د دوي پرواه مهٔ لره، دوي دے کنځلي او رد بد وائي او فسادونه او وراني دے هم کوي خو تهٔ خپل کار جاري ساته۔ طریقه د دعوت دا ده چه تهٔ

خپل کار جاري ساته ولې که ته د خلکو د خبرو مقابله کوې چه هغه دا وئیلي، زهٔ ورپسې ورځم چه دا خبره دې ولې کړېده او بیا بل پسې ورځې نو مقصد او دعوت به درنه پاتې شي ځکه د خلکو خُلې ځوك نشي بندولې، پدې کې د صبر نه کار اخستل ضروري دي۔

نو الله رب العالمین پدې آیت کې ډیر بلاغت اچولې دې، فَاصْدَعْ، صَدْعْ اصل کې چَولو ته وائي، یعنی داسې بیان وکړه چه د مشرکانو زړونه پرې وچوي،

یو خو داسې بیان وي چه سړې وائي چه دا هم جائز دي او دا هم جائز دي، دا ټول حق دي، تهٔ خپل عمل کوه زهٔ به خپل عمل کوم دا خو څه دعوت نهٔ دې دا خو هسې ګپ دې، کله وائي د نبي علیه السلام ډیرې طریقې دي، الله په امت کې تقسیم کړېدې ځوك په یو عمل کوي او ځوك په بل عمل کوي داسې دعوت خو به زنانه هم وکړي، دا خو څه دعوت نهٔ دې، دعوت دیته وائي چه د مشرك او کافر او مبتدع سړي زړهٔ پرې وچوي، د هغه کفر او شرك او بدعت او ګمراهي رابنکاره کړه۔

دې آیت کې دومره بلاغت دې چه یو اعرابي (بانډه چې کله هم قرآن نهٔ وو آوریدلې) کله ئې چه دا آیت واوریدو نو د اُوښې نه راکوز شو او په سجده پریوتو، چا ورته ووېل چه ولې ؟ هغه ووئیل: أَسْجُدُ لِقَائِلِ هٰذِهِ الْآيَةِ۔

ددې آیت چه کوم ویونکې دې، زهٔ هغه ته سجده کوم۔

ځکه پدې آیت کې دومره کمال او فصاحت پروت دې چه دا ما مجبوره کوي چه زهٔ سجده وکړم۔ عرب په فصاحت او بلاغت باندې ډیر ښه پوهیدل۔

نو دا آیت چه کله نازل شو نبي علیه السلام نور هم میدان ته راووتلو، اُوسه پورې ئې د مشرکانو دومره عیبونه نهٔ وئیل نو ددې آیت نه روستو ئې عیبونه بیانول شروع کړل چه د مشرکانو باطل معبودان هیڅ نشي کولې، دغه بتان بیکاره دي، دا په خپل لاس باندې جوړ شویدي او دا چه ځوك د الله او د بندګانو ترمینځ د نزدیکت سبب او واسطه ګنړي نو دغه شرك دې۔ ﴿مَا نَعْبُدُهُمْ اِلَّا لِيُقَرِّبُوْنَا اِلَى اللّٰهِ زُلْفٰى﴾۔ مشرکانو به وئیل چه مونږ ددې بتانو پدې وجه عبادت کوو چه دوي مونږ الله ته نزدې کوي)۔

نو نبي علیه السلام د شرك او کفر د بیخکندئ دپاره خبرې شروع کړلې خو ښه ادب سره، کنځلې او بد رد او فحش الفاظ به ئې نهٔ وئیل، چه ګوره سوچ وکړئ چه یو شے تهٔ

په خپل لاس وتراشي، پوزه او لاسونه او خپې ورله جوړې کړې او بيا ئې په يو ځای کې کېدې او بيا ورځې د هغه صفائي هم کوې او خدمت ئې هم کوې او بيا هغه ته سجدې کوې او تا لـه ئې دومره کـار ونکړو پدې باندې څه کوې، پدې کې څه کمال دې ؟ او دا کارونه چه څوك کوي هغه مشرك دې، هغه به جهنم ته ځي۔

نبي علـيـه الـسـلام بـه د دوی مـجـلـسـونـو تـه ورتللو او دوی باندې به ئې د الله تعالیٰ کتاب لوستلو او دا به ئې ورته وويل: ﴿يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ﴾۔

اې قـومـه زمـا ! بندگي وکړئ د الله تعالیٰ نشته ستاسو دپاره بل معبود سوئ د هغه نـه) او رسول الله ﷺ بـه د هغوی مخامخ د کعبې په خوا کې د ورځې عبادت هم کولو، هغوی به ورته کتل، او د هغه دعوت قبوليت خلکو کې حاصل کړو، يو يو تن به د الله تعالیٰ په دين کې داخليدو۔

د حق دعوت د بندولو دپاره د مشرکانو مشوره

نـو هـرکـلـه چه خبرې سختې شوې نو مشرکان دې وخت کې انتهائي په غصه کې راغـلـل لـکـه اُور چه ورتـه واچـوې۔ عـربـو کـې دا عادت وو چه تکبر پکې زيات وو او غيـرت کـې راتلل او هغوی ته چه د عقل د کمزورتيا نسبت وکړې سخت غصه کېږي خاصـکـر ڈ نبي عليه السلام په زمانه کې چه کوم مشرکان کافران وو هغه ډېر سخت وو ځـکـه رسـول الله ﷺ باندې ډېرې سختې تيرې شويدي، په خُله باندې خو دا خبرې آسـانـې وئـيـلـې کېږي خو چه کله موقعه په سرې باندې راشي بيا پته لگېږي چه سړې څومره پريشانه کېږي، زړهٔ به دې مرئ ته راورسيږي چه اې الله ! ستا مدد به کله راځي چه ددې خلکو نه مونږ خلاص شو۔

نـو هـغـوی دا سوچ وکړو که دا سړې مونږ دلته داسې پريدو نو څو نقصانات دي يو دا چـه مـلـگـری ئې ډېرېږي او زمونږ چه کوم د پلار او نيکه دين ذې هغه ختموی، زمونږ رسم او رواج ختـمـوی، ملگری به ئې ډېر شي، زمونږ رسم او رواج او دين به ختم شي۔ بل نقصان دا دې چه دا مونږ ته بې عقله وائي حال دا چه مونږ کې داسې مشران دي لکه ابوجهل صيب چه هغوی ورته ابوالحکم وئيلو دلته اميه دې، وليد دې، عاص بن

وائل السهمی، اُبی بن خلف او فلان او فلان دے دا عام غټان مشرکان بنه پوهېږي او که دا وړوکے کشر هلك؟، ددهٔ عقل دے کامل وي او ددے غټانو عقل دے ناقص وي؟ دے د مشرانو بې عزتي کوي۔

دریم نقصان دا دے چه: وَعَابَ دِيْنَنَا)۔ دا زمونږ د دین عیبونه بیانوي۔

څلورم نقصان دا دے چه زمونږ پلار او نیکه ته د بې وقوفو نسبت کوي چه تاسو او ستاسو پلاران گمراهان وو۔ ﴿ أَنْتُمْ وَآبَاؤُكُمُ الْأَقْدَمُوْنَ ﴾

نو دا خبرے مونږ نشو برداشت کولے۔

بل نقصان دا دے چه که مونږ ددے سړي تابعداري وکړو نو ددے مطلب خو دا جوړیږي چه زمونږه ټوله مشري ختمه او په دهٔ پسے به روان یو، ددهٔ په اشاره به کینو پاڅو، خپل واك او اختیار به مو نهٔ وي۔

بله دا چه دا مونږ ته لا اله الا الله کلمه وائي یعنې توحید راته بیانوي ددے مقصد خو دا دے چه ټوله بت پرستي به ختموو او درے سوه شپیته بتان چه کعبه کې پراتهٔ دي دا به ټول ختمیږي نو دوی د نبي علیه السلام په دعوت بنه پوهه شوي وو، او اکثر انسانان د خپل پلار نیکه طریقه او رسم او رواج پریښودل نشي برداشت کولے دا ورته د الله او د رسول د حکم په مقابله کې لوی شے ښکاري، هغه ئې کلك رانیولے وي۔

ابوطالب ته وفد راتلل

نو دوی سوچ وکړو چه دے سړي سره به څه کوو؟ ددهٔ خو سمدستي علاج نشي کیدے ځکه چه سړے خو ډیر قیمتي دے، اخلاقو نه ډیر اُوچت او وقار والا انسان دے، خلکو کې په نیکئ باندے مشهور دے نو ددهٔ په مقابله کې مونږ له څه پروگرام پکار دے؟۔ نو مشرانو ووئیل چه لاړ به شو ددهٔ ترهٔ ابو طالب ته د هغه نه به مطالبه وکړو چه دا سړے غلے کړي، نو خبره به ختمه شي او که هغه منع نکړو بیا به نور علاجونه گورو

نو پدے کې ابو طالب ته یو وفد راغے، هغه ته ئې ووئیل چه ستا وراره دا خبرے شروع کړیدي، لکه چه تا ته پته ده، تهٔ هم زمونږ په دین باندے ئې، دا زمونږ د پلار نیکه د

دین بد وائی او هغه ټولے خبرے ئے ورته وکړے چه په کومو باندے دوی صبر نشو کولے، نو دا سړے مونږ ته راکړه چه مونږه ئے قتل کړو تا به هم ترے خلاص کړو او مونږ به هم ترے خلاص شو او یا ئے منع کړه چه دا خبرے بس کړی؟

نو ابو طالب ورته ووئیل چه پدے خبره کی به فکر او سوچ وکړو او مشرکان ئے په ډیره نرمئ سره واپس کړل او نرمے خبرے ئے ورته وکړے.
رَدَّهُمْ رَدًّا جَمِيْلًا وَقَالَ لَهُمْ قَوْلًا رَقِيْقًا).

ښائسته طریقے سره ئے ولیږل او نرمے خبرے ئے ورته وکړے خو بیا هم پدے باندے کار ونشو ځکه د هغوی مقصد حاصل نشو ځکه چه د دوی مقصد ددهٔ وژل یا منع کول وو او دواړه کارونه ونشو.

نو پدے مینځ کی یوه بله واقعه راغله. مشرکینو د حق دعوت، د اسلام د دعوت د بندولو دپاره مختلفے طریقے استعمالولے د سیرت نه معلومیږی چه تقریباً پنځلس طریقے ئے استعمالولے چه دا حق ځنګه بند کړی چه هغه به روستو بیان شی.

د دعوت د بندولو طریقی

۱- نبی علیه السلام باندے غلط نومونه کیخودل :

نبی علیه السلام چه کله ښکاره دعوت شروع کړو او دلته په مکه کی جګړه او انتشار جوړ شو او دلته د حج ورځے رانزدے شوے، مشرکینو سوچ وکړو چه که چرته د بهر نه خلك راشی او دا شخص (نبی علیه السلام) ورسره ملاو شی او دعوت ورته ورکړی نو ددهٔ دعوت به په بهر دنیا کی خور شی نو زمونږه بیخ کندی به وشی، نو ددهٔ په باره کی یوه مشوره کوو کله چه عام عرب راځی نو مونږ به ورته یوه خبره کوو چه مختلفے خبرے ورته ونکړو ولے که مختلفے خبرے کوو نو هغوی به بیا زمونږ تکذیب وکړی.

نو د مکے مشرکان ټول ولید بن مغیره ته راجمع شو، دا په دوی کی ډیر هوښیار او حکیم او عقلمند وو او ډیر مالداره هم وو او د رنګ نه هم ښائسته وو، ډیر کمالات پکی وو خو دومره وه چه الله ورته ایمان نهٔ وو ورنصیب کړے، د دغه عظیم نعمت نه

محروم وو۔ دوی چه هغه ته ورجمع شو هغه ته ئے ووئیل چه دا حاجیان راروان دی او د نبی علیه السلام په باره کی به خبریږی، راځئ چه یوه خبره جوړه کړو نو دوی ووئیل چه ته ئے ددۀ په باره کی یوه خبره وکړه، ولید ووئیل چه زۀ به آورم تاسو ووایئ نو دوی ووئیل چه ددۀ په باره کی به وایو چه دا کاهن دے ټول به ورته په اتفاق سره کاهن وایو چه اے عربو ! ددۀ خبره مۀ آورئ، دا کاهن دے،

(کاهن ترویتی ته وائی چه د راتلونکی زمانے خبرونه بیانوی چه صبا به دا کیږی اوبله ورځ به دا، بیا کله هغه شان وشی او کله ونشی او د کاهنانو طریقه همدغه وه کله ئے خبره رشتیا شی او کله نۀ، د کاهن ټولے خبرے دروغ وی سوئ د هغه خبرے نه چه هغه ئے د پیریانو نه آوریدلی وی او پیریانو د ملائکو نه آوریدلی وی لکه حدیث کی راځی چه ملائك کله په آسمان کی خبرے کوی او کله په وریځ کی خبرے کوی، نو دا پیریان ئے زر رانقل کړی او دے کاهن ته ئے ووائی۔

ملائك کله دا پیریان د ستورو په رڼا او لمبه باندے وولی، وے سیزی او کله بچ شی خبره راورسوی او بیا خلکو ته ووائی صبا به باران کیږی، په رشتیا هغه باران وشی او سل خبرے ورسره نورے دروغ یوځای کړی)

نو دوی ووئیل دۀ ته به کاهن وایو نو ولید ورته ووئیل : کاهن خو ورته نشو وئیلے ځکه چه د کاهنانو هغه دمونه مونږ ته معلوم دی او د هغوی هغه عقدونه او غوټی وراچول، هغه دروغ مونږ ته معلوم دی، دا خو هغه سړے نۀ دے که داسے ووایئ نو خلك به مو تکذیب وکړی خلك به درته دروغژن وائی۔

بعضو ووئیل کاهن به ورته نۀ وایو، شاعر به ورته وایو چه شعر پړے راکولاو شویدے او په شعر باندے خلك گمراه کوی۔ ولید ووئیل چه شاعر هم ورته نشو وئیلے ځکه چه شعرونه مونږ ټول پیژنو، ډیر اقسام دی، رجز، هزج، قریض، مقبوض، بسیط، مبسوط او دا ټول انواع مونږ پیژنو نو دا خو شاعر هم نۀ دے، ددۀ خبرے د شعر په شکل نۀ دی، که تاسو ورته شاعر ووایئ عرب به ددۀ خبروته غوږ کیدی نو تاسو به دروغژن شئ ځکه دا خو شعر نۀ دے،

نو چا ووئیل چه ساحر به ورته وایو چه جادوگر دے۔ ولید ووئیل چه دا خو ساحر هم نۀ دے ځکه ساحران خو چُپونه کوی، تارونو ته غوټے ورکوی۔ او دا ځیزونه خو دۀ کی

نشته په سحر خو دا رد کوی۔ چا ووئیل چه لیونی به ورته وایو چه دماغ ئې خراب شوی دی ځکه لیونی شل کارے وی، هر شي کي کار لري، دا هم لیونے دے، شپه او ورځ ئې په ځان یوه کړے ده، یو سره ملاویږی بل سره ملاویږی، خپل عزت هم پدے باندے ورکوی، د خلکو کنځلے هم برداشت کوی، دا خبره هغوی چرته نۀ وه لیدلے چه د الله په دین به څوك دومره قربانی ورکوی، د دین قربانی هغوی نۀ وه لیدلے ځکه هغوی به وئیل چه لیونی به ورته وایو،

(د مشرکانو عادت دا دے چه اهل حقو ته لیونی وائی ځکه دوی په دین باندے قربانی ډیره ورکوی ﴿غَرَّ هٰؤُلَآءِ دِيْنُهُمْ﴾ نو ولید ووئیل چه دا خو لیونے هم نۀ دے، د لیونی هغه وسوسے، ګډے وډے خبرے، د هغه دماغ بندیدل دا خو په دۀ کي نشته، دۀ ته مونږه لیونے هم نشو وئیلے۔

نو هغوی ووئیل تۀ راته رایه راکړه چه څه ووایو؟ نو ولید ووئیل لږ وخت ما ته راکړئ چه زۀ سوچ وکړم ددۀ په باره کي چه څه ورته ووایو، کورته لاړو یا په دغه ځای کي ئې سوچ وکړو، د ډیر سوچ نه روسته ئې هغوی ته دا رایه ورکړه چه دۀ ته ساحر وئیل پکار دی:

(اِنِّیْ أَرٰی أَقْرَبَ الْقَوْلِ فِیْهِ أَنَّهٗ سَاحِرٌ)۔

جادوګر به ورته وایو، وجه دا ده چه د جادو په وجه باندے هم ښځه د خاوند نه جدا کیږی، پلار د بچی نه جدا کیږی او اثر پکي وی او ددۀ په خبرو کي هم دومره اثر دے چه پلار ئې ایمان راوړی، د بچو نه جدا وی او که بچی ئې ایمان راوړی د پلار نه جدا وی، که ښځه ایمان راوړی د خاوند نه جدا وی، که خاوند ایمان راوړی د ښځے نه بے پرواه وی۔ بس دا خبره به کوو چه دا جادوګر دے او د مکے په مختلفو لارو کي به کینو چه ګله حاجیان راځی هغوی ته به خبر ورکوو چه دلته په مکه کي یو سړے پیدا شویدے، که په تا باندے ئې جادو وکړو، ښځه به درنه جدا کړی، پلار به درنه جدا کړی، څنګه دے خوښه ده د جادوګر خوا ته ورځے او که نۀ؟ ځان ترے وساته، نو پدے طریقه به خلك ددۀ نه واوری او خلك به ددۀ نه خبر نشی او دعوت به ئې ناقص پاتی شی او پدے مکه کي به دننه ورك شی،

د الله په مقابله کي لګیا دی یوه لاره جوړه وی نو تول پدے باندے متفق شو نو الله

رب العزت د دوی په باره کې دا آیتونه نازل کړل خصوصاً د ولید په باره کې:

﴿اِنَّهٗ فَكَّرَ وَقَدَّرَ، فَقُتِلَ كَیْفَ قَدَّرَ، ثُمَّ قُتِلَ كَیْفَ قَدَّرَ، ثُمَّ نَظَرَ، ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ ثُمَّ اَدْبَرَ وَاسْتَكْبَرَ، فَقَالَ اِنْ هٰذَاۤ اِلَّا سِحْرٌ یُّؤْثَرُ، اِنْ هٰذَاۤ اِلَّا قَوْلُ الْبَشَرِ، سَاُصْلِیْهِ سَقَرَ، وَمَاۤ اَدْرٰىكَ مَا سَقَرُ، لَا تُبْقِیْ وَلَا تَذَرُ، لَوَّاحَةٌ لِّلْبَشَرِ﴾ (المدثر: ۱۸/۲۵)۔

(یعنی دهٔ فکر وکړو چه د قرآن په باره کې څه ووایو او (نَظَرَ وَبَسَرَ) دیته وائی چه وې کتل نبی علیه السلام ته یا د هغه خبرو ته او بیائې تندې راتریو کړو لکه سړې چه سوچ کوی، دماغ داسې راونیسی فکر کوی چه زهٔ دا خبره دماغو کې راولم بیائې د قرآن کریم په باره کې ووئیل چه دا جادو دې، دا د انسانانو خبری دی، الله نهٔ دی رالیږلی نو الله تعالیٰ ورته په دغه سورت کې دومره غصه کړیده چه زهٔ به دا سقر ته بوځم او سقر داسې ځای دې چه نهٔ سړې ژوندې پریدی او نهٔ ئې مړ پریدی، نهٔ هډوکې پریدی او نهٔ غوښه پریدی، په هغې باندې نولس ملائك مقرر دی)۔

نو دوی د نبی علیه السلام نه د حاجیانو د بندولو دپاره دا طریقه اختیار کړله، لیکن د الله قانون دا دې چه سړې د چا سره حسد کوی، الله رب العزت هغه سړی له چه هغه سره حسد کیږی نور عزت ورکوی۔

وَاِذَا اَرَادَ اللّٰهُ نَشْرَ فَضِیْلَةٍ	❁	طُوِیَتْ اَتَاحَ لَهَا لِسَانَ حَسُوْدٍ

(کله چه الله د چا د فضیلت خورولو اراده وکړی کوم چه پټ وی نو د حسد ګر ژبه ورله راپیدا کړی)۔

د نبی ﷺ نه دومره خلك خبر نهٔ وو، مشرکینو به خبرول چه دلته یو سړې پیدا شویدې، جادوګر دې چه خواله ورنشئ، نو هر سړی به کوشش کولو چه ورشی او وګوری چه نبی ﷺ څنګه سړې دې، څنګه شاعر، څنګه جادوګر دې؟، خلك چه به راغلل او نبی ﷺ به ئې ولیدو نو ویه ئې وئیل چه دا خو صحیح سړې دې، ایمان به ئې راوړو، نو د ایمان راوړو دپاره خلکو ته لاره کولاوه شوه او مشرکین پدې خبره نهٔ پوهیدل۔

د ضِمَاد بن ثعلبه ازدی (رضی الله عنه) اسلام راوړل

دا واقعه روستو په صفحه (٤۹٦) کې ذکر ده هلته نه ئې دلته راوړه۔

روستو بـه نورے قصے راشی چه د بهر ملکونو نه به خلك راتلل او ایمان به ئے راوړو لـکـه طـفـیـل بـن عمرو الدوسی (رضی الله عنه) روستو زمانه کی راغلے دے، هغه سره هم مشرکانو دا چل کړیدے او هغه ایمان قبول کړیدے۔

د سیدنا طفیل بن عمرو الدَوسیؓ د اسلام ناشنا واقعه

سیدنا طـفـیـل بن عمرو الدَوسی (رضی الله عنه) د دَوس قبیلے مشر وو او دا قبیله په یمـن کـی وسیدلـه چه ددے قبیلے په یمن کی خپل حکومت وو لکه چه دا د عربو طریقه وه چه د هرئے قبیلے خپل خپل حکومت وو۔

دۀ هم پـه خـپـلـه قبیـلـه بـانـدے پـه یمن کی حکومت کولو، او ددۀ به ډیره تابعداری کیـدلـه او خپـل عوام ئے ډیر تابعدار وو، طفیل بن عمرو یو هوښیار او عقلمند سړے وو او شاعـر هم وو او په په دغه زمانه کی به د شاعر هم ډیر زیات عزت وو او په خلکو کی به مشهور وو او خلکو به ورله خبره هم منله۔

طـفـیـل بن عمرو په (۱۱) یولسم کال د نبوت د عمرے یا د حج په اراده مکے ته راروان شو، ظاهره دا ده چه حج دپاره مکے ته راغلے وو کله چه قریش ددۀ د راتلو نه خبر شو نو هغوی سره یره پیدا شوه چه چرته دا سړے ایمان رانۀ وړی نو دوی به د مخکی نه د حق د مـقـابـلـے دپـاره چلونه جوړول او باطل دعوت به ئے شروع کړو دے دپاره چه څوك حق قبـول نـکـړی نو قریشو به تهمتونه او بهتانونه لګول چه ددے سړی خوا ته ورنشی دا خـو سـاحـر دے یـا صـابـی دے لکه چه دا مرض د هغه زمانے نه شروع دے چه په اوسنۍ زمانه کی هم دا مرض د حق په مخالفینو کی موجود دے۔

فائده: دا خبره الله ډیره بـده ګنړی چه څوك صد عن سبیل الله کوی یعنی خلك د الله د دین نه اړوی او دا د جهنمی انسان صفت دے او دا انسان د الله ډیر غټ دشمن وی)۔

قـریـش چـه کـلـه خبر شو چه طفیل بن عمرو مکے ته راروان دے نو دوی څه کسان مـقـرر کـړل چـه تاسو ددے سړی استقبال ته ورشئ نو دوی ورغلل د طفیل بن عمروئے ډیر احترام وکړو او ډیر سلامونه ئے پرے واچول چه مخکی ئے ورله کله داسے کار نۀ وو کړے، مشرکینو ورته وویل چه طفیله! تۀ خو زمونږ دے کلی ته راغلے خو زمونږ پدے

کلي کي يو سړي پيدا شويدے چه د هغه کار دا دے چه (قَدْ شَتَّتَ أَمْرَنَا وَفَرَّقَ جَمَاعَتَنَا) ـ زمونږ کار ئے تس نس کړو او زمونږ اتفاق او ډله ئے جدا جدا کړه او ډير انتشار او فساد ئے پيدا کړو۔ ددے سړي خبرے داسي دي لکه د جادو په شان (يُفَرِّقُ بَيْنَ الرَّجُلِ وَأَبِيهِ وَبَيْنَ الرَّجُلِ وَأَخِيهِ وَبَيْنَ الرَّجُلِ وَزَوْجَتِهِ)۔

د سړي او د هغه د پلار او د سړي او د هغه د ورور او د سړي او د هغه د ښځے ترمينځ جدائي راولي نو دا سړے جادوګر دے چه خبره دے ورله واوريده اثر دربانديے کوي، مونږه ئے خو بے اتفاقه او ګډوډ کړي يو خو په تا او ستا په قوم بانديے يريږو چه دا مصيبت په مونږ راغلے دے چرته په تاسو رانشي نو ته داسے وکړه چه خبرے هم ورسره مه کوه او خبرے ئے آوره هم مه ځکه که خبرے دے ورله واوريدے نو اثر دربانديے کوي، نو طفيل بن عمرو وائي چه دوي ما پورے انبنتي وو تردے چه ما کلکه اراده وکړه چه ددے سړي خبرے نه آورم ځکه ددهٔ په خبرو کي شر او فساد دے او دا خلك زما خير خواه دي نو دومره کلك عزم او اراده مے وکړه چه په غوږونو کي مے مالوچ کيښودل چه چرته ددے نبي خبره وانهٔ ورم،

پدے وخت کي زهٔ مکے ته داخل شوم بيا د طواف دپاره مسجد حرام ته لاړم چه ومے ليدل همدغه سړے محمد رسول الله (ﷺ) په مسجد حرام کي ولاړ دے د کعبے په خوا کي مونځ کوي، زهٔ لاړم د هغه په خوا کي ودريدم او په غوږونو کي مے مالوچ اينبي وو نبي عليه السلام په مانځه ولاړ وو او قرآن ئے په زوره لوستلو ددے مالوچو سره سره ددهٔ دا خبرے (تلاوت) الله رب العزت زما غوږ ته راورسولے چه کله مے بعض آيتونه واوريدل نو هغه په ما ښه ولګيدل ځکه چه څه کنځلے نهٔ وے ځکه د مکے مشرکانو به دا ويل چه زمونږ آلهو ته کنځلے کوي۔

(**فائده**: لکه اوس وخت کي هم خلك وائي چه دا خلك امامانو ته کنځلے کوي او نهٔ ئے مني چه کله څوك راشي د اهل حقو، اهل حديثو خبرے واوري نو هغه پوهه شي چه دوي خو کنځلي نهٔ کوي نو د هغه باطل پرستو خبرے ورته دروغ ښکاره شي)۔

نو طفيل بن عمرو وائي چه ما وويل چه دا خبرے خو څه بدے خبرے نهٔ دي نو ځان مے ملامته کړو چه طفيله! تهٔ خو يو هوښيار او شاعر او عقلمند سړے ئے، دا مالوچ دے ولے غوږ کي اينبي دي قسم په الله چه ښه خبره خو د بدے خبرے نه زهٔ پيژنم که دا

سړے ښے خبرے کوی قبولے به ئے کړم او که غلطے خبرے کوی، په زوره ئے راباندے نشی منلے بیرته به ئے ورته واپس کړم، نۀ به ئے منم نو مالوچ مے لرے کړل.

(**فائده**: سړے چه حق ته رسیږی د هغے طریقه دا ده چه حق واوره ښه په تفصیل سره او ښه سوچ پرے وکړه چه ښه خبره وه قبوله ئے کړه او که غلطه درته ښکاره شوه مۀ ئے منه).

طفیل فرمائی چه پدے وخت کی ما د خپلو غوږونو نه مالوچ لرے کړل او قرآن مے واوریده.

بعض روایتونو کی دا راغلی دی چه په دغه ځای کی ئے ایمان راوړو، لیکن ظاهر دا ده چه نبی علیه السلام د مونځ نه فارغ شو او ما هم طواف پوره کړو، نبی علیه السلام خپل کور ته لاړو نو زۀ هم ورپسے لاړم نو دا خبره مے ورته وکړه چه زۀ مکے ته د عمرے یا د حج په نیت راغلے وم او دے مشرکینو ما ته وسوسے راواچولے او ما په غوږونو کی مالوچ کیښودل چه ستا خبرے وانۀ ورم چه کله ما ستا نه آیتونه واوریدل زۀ ډیر متأثره شوم، تۀ کومے خبرے ته دعوت ورکوے هغه ما ته بیان کړه؟.

رسول الله ﷺ ورته د اسلام دعوت ورکړو چه کلمه د توحید ووایه زما د رسالت گواهی وکړه، د قرآن کریم آیتونه ئے ورته ولوستل، نو په دغه ځای کی طفیل بن عمرو الدوسی رضی الله عنه ایمان راوړو، د توحید او د رسالت او د حق گواهی ئے ورکړه چه أَشْهَدُ أَنْ لَّا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ،

او دا ئے ووئیل چه دا خو ډیرے ښائسته خبرے دی پدے کی څه عیب دے چه دا مشرکین خلك ددے نه اوړی.

داسے خلك به د ایمان په خوند ډیر پوهیدل څکه د تیرے نه به رښا ته راووتل، سمدست به ئے په زړۀ کی انقلاب پیدا شو او د الله هم پرے نظر وو، داسے بندگانو سره به ئے سمدست امداد کولو.

کله چه طفیل بن عمرو الدوسی (رضی الله عنه) حق ومنلو. مشرکینو کی دا خبره خوره شوه چه دۀ هم دا خبره ومنله نو مشرکین ډیر زیات خفه شو چه دا څه بی عقله سړے دے چه د خپل قوم نه راغلے او د قوم مشر دے او په غیر د سوچ او فکر نه په محمد (علیه الصلاة والسلام) باندے ایمان راوړی.

سیدنا طفیل ؓ څه زمانه دلته مکه کی وو بیا خپل کلی ته تللو،
نو دهٔ وویل چه ایے د الله رسوله ! زهٔ به څه کوم؟ نو رسول الله ﷺ ورته وویل چه ته خپل قوم اسلام ته راوبله نو طفیل وویل : (اِنِّیُ رَاجِعٌ اِلَیۡهِمۡ وَاِنِّیُ مُطَاعٌ فِیۡهِمۡ)۔
زهٔ خپل قوم ته ورځم او زما قوم زما تابعداری کوی زما خبره منی زه هغوی ته ورځم چه د اسلام دین ته ئے راوبلم،
طفیل بن عمرو وویل چه ایے د الله رسوله ! ته د الله نه وغواړه چه زما دپاره یوه نښه راکړی چه قوم زما خبره ومنی نو رسول الله ﷺ ورته دعا وکړه،
پدیے کی طفیل بن عمرو د حج نه فارغه شو او خپل کلی ته لاړ او ډیر لوی دولت ئے د ځان سره یوړو چه هغه د اسلام دولت وو چه الله سبحانه وتعالیٰ یو سړیے په اسلام باندیے مشرف کړی دا ډیره لویه خبره ده او د جاهلیت د تیارونه ئے را اوباسی،
طفیل بن عمرو چه کله خپل قوم ته ورنزدیے شو الله تعالیٰ ورله دا نښه ورکړه چه د تندی نه ئے رڼا ختله داسے رڼا ئے کوله لکه بلپ یا بیټری چه لګیدلی وی دا د ایمان رڼا وه چه بهر رابښکاره شوه، زړهٔ کی دننه رڼا وی نو کله هغه رڼا مخ ته رانقل شی لکه دا رڼا د مؤمن سړی په قبر کی هم وی، په آخرت کی به هم ورسره وی۔
﴿ یَسۡعٰی نُوۡرُهُمۡ بَیۡنَ اَیۡدِیۡهِمۡ وَبِاَیۡمَانِهِمۡ﴾ (الحدید :۱۲)۔
دا رڼا ځان سره پیدا کول پکار دی۔
نو طفیل وویل دعا وکړه چه ایے الله ! دا رڼا زما د مخ نه جدا کړه بل ځای کی ئے ورګرځوه څکه زهٔ یریږم چه زما (مشرکان) قوم به وائی چه دا مُثله ده (هسے نهٔ چه دا خلك ووائی چه دا سړیے بل دین ته اوړیدلے او د پلار نیکه دین ئے پریښیے دیے نو ځکه ئے شکل بدل شو) نو الله تعالیٰ ورله دعا قبوله کړه نو رڼا د هغه امسا او چابك ته نقل شوه، په غیر د مسالو او سیلو نو نه به د هغه د چابك نه رڼا تلله پدیے باندیے به ئے د شپے مزل کولو۔ داسے واقعات د ډیرو صحابه کرامو راغلی دی چه په خپل ځای کی به ذکر شی ان شاء الله تعالیٰ۔
طفیل بن عمرو چه کله لاړو نو اول د خپل پلار او د خپلے ښځے سره ملاو شو، هغوی ته ئے وویل : (کَلَامِیُ عَلَیۡکُمۡ حَرَامٌ حَتّٰی تُؤۡمِنُوۡا بِاللّٰهِ وَحۡدَهٗ)
زما خبرے په تاسو حرامے دی زهٔ به تر هغه وخته پورے تاسو سره خبرے ونکړم تردے

چه تاسو یواځې په الله ایمان راوړئ او په اسلام کې داخل شئ۔ نو هغوی ورته وویل صحیح ده ستا خبره به مونږ ومنو خو اسلام څه شے دے؟

طفیل ورته وویل چه کلمه د توحید به وواییٔ، د رسول الله ﷺ د رسالت او نبوت گواهي به ورکړئ او پدے حق دین کې به داخل شئ او باطل معبودان به پریدئ نو پلار ئے هم زر ایمان راوړو۔ او ښځے پکې دا خبرے وکړے چه دلته زمونږ یو بت دے هغه هم څه نشی کولے؟ نو دهٔ ورته وویل چه دا هم څه نشی کولے هیڅ اختیار نهٔ لری نو ښځه ئے هم مسلمانه شوه،

بیا طفیل بن عمرو خپل قوم ته دعوت ورکړو ددهٔ په لاس ابو هریره رضی الله عنه ایمان راوړو چه په شپږم کال د هجرت کې هغه بیا مدینے ته راغلے دے او ایمان ئے ښکاره کړیدے، سیدنا طفیل بن عمرو رضی الله عنه د سیدنا ابو هریره رضی الله عنه په شان محدث، مُفتي او د دین خادم پیدا کړو، طفیل خپل قوم ته دعوت ورکولو لیکن قوم خبره نهٔ منله۔

(**فائده**: سیدنا طفیل بن عمرو رضی الله عنه خو مخکې وئیلی وو چه قوم زما خبره مني، لیکن هغه ئے په جاهلیت کې منله اُوس نهٔ څکه دا تجربه ده چه کله تهٔ خپل قوم ته حق پیش کړے نو بیا به تهٔ هغه پخوانے سرے نهٔ ئے بلکه بدل به ورته ښکاره کیږے مخکې به دے صفتونه کوی چه مشر دے، شیخ دے، عالِم دے خو چه حق دے قبول کړو بیا به درپسے قسماقسم تهمتونه لگوی)۔

یو حدیث کې راغلی دی چه طفیل بن عمرو رضی الله عنه نبی علیه السلام ته واپس راغے چه اے د الله نبی! تهٔ دعا وکړه چه الله رب العزت دَوس قبیله تباه کړی څکه حق نهٔ مني، د حق تابعداری نهٔ کوی نو نبی علیه السلام اَودس وکړو د خلکو خیال شو چه اُوس به ښیرے کوی او دَوس قبیله به تباه کیږی۔

نو نبی علیه السلام وفرمایل: (اَللّٰهُمَّ اهْدِ دَوْسًا وَّأْتِ بِهِمْ)

اے الله! دَوس قبیلے ته هدایت وکړه چه په اسلام کې داخل شی او اسلام ته ئے راوله۔

نبی علیه السلام به سمدست ناخاپی ښیرے نهٔ کولے هغه به هغه وخت ښیرے کولے چه کله به یو تن ضدی عنادی ضرری کافر شو، د ښیرو خپل وخت وی۔

ددے نه روسته طفیل لاړو او خپل قوم ته ئے دعوت ورکړو چه اویا کورنیو ایمان

راوړو او هغه ټول ئے د خندق غزا نه روسته مدینے ته راوستل او د رسول الله ﷺ سره ئے ملاو کړل پدے طریقه به اسلام خوریدو چه زیات کسانو ته الله د اسلام د قبلولو توفیق ورکړو۔

طفیل بن عمرو الدوسی په اسلام کی ډیرے مجاهدی کړیدی، د الله د دین دعوت به ئے هم کولو او جهاد به ئے هم کولو او دا دواړه کارونه ټولو مسلمانانو له ضروری دی۔

سیدنا طفیل بن عمرو الدوسی د نبی علیه السلام د وفات نه روسته د سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه په دورِ خلافت کی د یمامه په جنګ کی چه د مسیلمة الکذاب او د هغه د ملګرو سره جهاد شروع شو نو دے پکی شهید کړے شو۔ رضی الله عنه وارضاه۔

سیدنا طفیل رضی الله عنه هغه انسان وو چه په خپله مشرئ کی ئے ابتدائی حق قبول کړو دا ئے ونهٔ وئیل چه زهٔ مشر یم زهٔ څنګه حق قبول کړم؟ څکه په مشرانو کی د تکبر ماده وی خو دهٔ کی دا کار نهٔ وو بلکه انابت والا انسان وو نو الله رب العزت هم دهٔ ته ډیر عزت ورکړو او ددهٔ په لاس ډیرو خلکو ایمان راوړو چه د هغے اجر به هم دهٔ ته ورکول کیږی څکه څوك چه چا ته د حق دعوت ورکړی او هغه ئے قبول کړی نو الله سبحانه وتعالیٰ د هغه د نیك عمل اجر داعی ته هم ورکوی او دا ډیره اوچته خبره او صدقه جاریه ده چه مونږ له هم دغسے کار پکار دے او دعوت ته ملا تړل پکار دی۔

نو د طفیل بن عمرو اسلام قبلول د حق د خوریدو سبب شو او د مکے نه بهر خلکو ایمان راوړو او دا د اسلام دپاره لویه کامیابی وه او رسول الله ﷺ پدے باندے ډیر خوشحاله شو چه د قوم سردار ایمان راوړو۔

مقصد دا چه مشرکینو دا کوشش کولو چه د الله د نبی نه خلك واړوی خو الله سبحانه وتعالیٰ به د هغوی په دعوت باندے ملګری نور ډیرول۔

۲- د حق دعوت د بندولو دپاره د ټوقو او استهزاء طریقه اختیارول

پدے طریقه سره مشرکان انتهائی تنګ شول چه ددے پیغمبر دعوت وخت په وخت خوریږی، ددے مخنیوے پکار دے، نو دوی نورے طریقے د حق د مقابلے دپاره اختیار

کړې چه د هغې اختصار دا دې چه دوی ووئیل چه دا سړې خو د خپل دعوت نه نهٔ ایساریږی نو راځئ ددهٔ او ددهٔ د ملګرو پورې به ټوقې کوو، دا مشوره ئې وکړه۔

(کله سړې د ټوقو نه تنګ شی کیدې شی پدې باندې دا دعوت پریدی)

نو ددې لپاره ئې کسان مقرر کړل چرته چه به ئې نبی ﷺ لیدو ټوقې به ئې ورپورې کولې، مؤمنان چه به ئې ولیدل هغوی پورې به ئې استهزاء او ټوقې کولې (او کله چه یو انسان پورې ټوقې کیږی هغه له ډیره غصه ورځی او داسې کیږی چه په زمکه ننوزی)،

نو د الله نبی چه به ئې ولیدو داسې به ئې وئیل:

﴿أَهٰذَا الَّذِىْ بَعَثَ اللّٰهُ رَسُوْلًا﴾ (فرقان: ٤١)۔

آیا دا سړې الله رسول راولیږلو، یو غریب سړې پلار ئې هم پخوا مړ دې، مور هم ئې پخوا مړهٔ ده، یتیم دې او مال هم ورسره نشته، دهٔ ته وګوره او نبوت ته۔

﴿أَهٰذَا الَّذِىْ يَذْكُرُ اٰلِهَتَكُمْ﴾ (الانبياء: ٣٦)۔

آیا دا هغه سړې دې چه زمونږ باباګانو (معبودانو) ته کنځلې کوی، هر وخت باباګانو پسې شویدې۔

پدې حالت کې ډیره موده تیره شوه لیکن حق دننه زړهٔ ته پریوتې دې، د الله دین او توحید په ټوقو باندې څوک چرته پریدی، که مشرك او مبتدع هر څومره د اهل حقو پسې ټوقې او استهزاء وکړی نو هغه ئې نهٔ پریدی، د صحابه کرامو په ایمان کې به وخت په وخت نور زیادت راتللو څکه تربیت به ئې کیدلو۔

(په هره زمانه کې چه څوك حق قبول کړی قسماقسم ټوقې ورپورې کیږی، څوك به وائی امامان نهٔ منی، څوك به وائی چه دعا نهٔ منی او کله به وائی بی ادبه دی)۔

۳- طریقه : د حق دعوت غلط بیانول او د هغې شکل بدلول

هرکله چه پدې طریقه کار ونشو نو دوی بله اراده وکړه چه یو بل کار ورسره کوو چه د دعوت مخه پدې سره ونیولې شی او مکه بیرته زوړ حالت ته وګرځی او په ظلماتو او تیارو کې بیرته راګیره شی هغه دا چه خلکو ته به ددهٔ دعوت غلط ښکاره کوو څکه دا خو وائی ما ته د الله د طرفنه وحی کیږی او زهٔ د الله رسول یم او ددهٔ خبرې خو ډیرې

مزیداری دی، د جنت او د جهنم خبرے کوی نو ددۀ دعوت به په بل شکل کی ښکاره کړو (لکه دا همیشه د باطل پرستو طریقه ده چه تۀ به یوه مسئله کوے خلك به ئے درله ورانه کړی په بله لهجه به ئے بیانه کړی،

نو مشرکانو به د نبی علیه السلام د وحی او دعوت او د صحابه کرامو د دعوت په باره کې داسے خبره کوله چه دیے سړی ته وحی نۀ ده شوے بلکه دا اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ دی یعنی دا د پخوانو خلکو قیصی دی، خپله خو خط ورله نۀ ورځی بلکه

﴿ اِكْتَتَبَهَا فَهِيَ تُمْلٰى عَلَيْهِ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا﴾ (الفرقان:٥)۔

په چا باندے ئے لیکلی دی او بیا د شپے او د ورځے مکه کی یو نصرانی غلام دے هغه راځی او پدے نبی باندے دغه قصے لولی او هغه ته ئے یادوی۔ صبا او بیگاه، نو دا حقے خبرے نۀ دی، د الله د طرفنه نۀ دی دا خو هرڅوك جوړولے شی او کله به ئے دا وئیل:

﴿ لَوْ نَشَاءُ لَقُلْنَا مِثْلَ هٰذَا﴾ (الانفال: ٣١)۔

که مونږه وغواړو داسے خبرے مونږه هم جوړولے شو)؛ دا کتاب جوړول خو څه گرانه خبره نۀ ده، او کله کله به ئے هغه ته نور نور نسبتونه کول

﴿ اِنْ هٰذَا اِلَّا اِفْكُ نِ افْتَرَاهُ﴾ (الفرقان: ٤)۔ دا خو دروغ دی چه دۀ د ځان نه جوړ کړیدی)، نو دوی ته به ووئیل شو چه تاسو هم دغسے دروغ جوړ کړئ نو دوی به وئیل :

﴿ وَاَعَانَهٗ عَلَيْهِ قَوْمٌ آخَرُوْنَ﴾ ۔ نور خلك راغلی دی او هغوی ورسره مدد کړیدے)

نو قرآن ته به ئے کله د دروغو نسبت کولو او کله به ئے ورتّه نسبت د اساطیر الاولین (د پخوانو قصو) کولو او کله دٔ افتراء نسبت چه دا ئے د ځان نه جوړ کړیدے او کله به ئے ورته د سحر نسبت کولو چه دا جادو دے د خلکو مینځ کی اختلافات پیدا کوی، ښځه د خاوند نه جدا کوی او خاوند د ښځے نه،

دا واقعی خبره ده چه جدا کول به ئے کول، دے کتاب کی دا کمال دے چه باطل پرست د حق پرست نه جدا کوی نود ډیرو عوامو خلکو ذهن به پدے باندے خراب شو چه دا خو رشتیا جادو دے، هسے د گپ خبری دی، هیڅ حقیقت نۀ لری، خلکو کی دا متل مشهور دے (چه رشتیا راځی دروغو به کلی وران کړی وی)،

کله چه د دروغو خبرو په زړۀ کی ځای ونیولو او خلکو کی خوارۀ شول نو چه بیرته صفا فضاء راځی نو په هغے به ډیره زمانه لگی۔

اُوس هم ډیر خلك د حق په خلاف ډیرے پروپیګنډے کوی کله وائی چه دا مسئلے د مُولیانی دی، خلك سپوږمئ ته وختل او دوی لا په خپلو اختلافاتو کی لګیا دی، کله وائی چه د امامانو په مابین کی چه کوم اختلافات دی دا ټول حق دی، کله وائی چه زمونږ مذهب ښه او غوره دے او امام صاحب په هغه حدیثونو عمل کړیدے چه روستو راغلی دی او اهل حدیث په هغه حدیثو عمل کوی چه مخکی زمانه کی پرے رسول الله ﷺ یوه ورځ عمل وکړو او بیا منسوخ شول، خلکو ته دا قسم دروغ وائی او د دعوت شکل بدلوی۔

یو مُلا بیان کولو چه وګورئ امام صاحب غوره دے که ددے زمانے ملا، امام صاحب تابعی دے، صحابه ئے لیدلی دی، مجتهد دے چه هغه د قرآن او حدیث تشریح وکړه هغه به غوره وی او که د خوارلسمے صدئ یو مُلاچه هغه په یوه روپئ باندے خرڅیږی او د هغه دعوت ټول د روپو او پیسو دپاره دے، تقویٰ هم پکی نهٔ وی، مجتهد هم نهٔ وی نو ددهٔ فتویٰ او تشریح مونږ ومنو او که د امام صاحب؟

نو پدے سره د عوامو ډیر ذهن خرابیږی حال دا دے چه دا د اهل حقو دعوت ورانول دی، مونږ دا نهٔ دی وئیلی چه اے خلکو ! په مونږ پسے راشئ، زهٔ یم او ما ومنئ، او زهٔ اُوچت سړے یم، بلکه مونږ وایو چه د محمد رسول الله ﷺ پسے روان شئ، د رسول الله ﷺ حدیث د امام صاحب دپاره مهٔ ورانوئ، او د امام صاحب نه نبی علیه السلام غوره او افضل دے، د امام ابوحنیفه رحمه الله نه سیدنا ابوبکر صدیق، سیدنا عمر فاروق، سیدنا عثمان غنی، سیدنا علی المرتضیٰ، سیدنا ابو هریره رضی الله عنهم په ډیروچندونو غوره دی هغوی چه څه وئیلی دی هغوی پسے لاړ شئ، د امام صاحب خبره که د قرآن او حدیث موافق وی د هغے تابعداری هم کوه او وے منه، که د امام صاحب خبره د قرآن او حدیث خلاف وه یا چا وروسته تړلے وه نو هغه پریده (لکه په فقه حنفی کی وروسته ډیرے خبرے تړلے شویدی) مونږ داسے هیڅ کله نهٔ وایو چه امام صاحب شاته ګوزار کړه غلط سړے ئے وګڼړه اوکنځلے ورته وکړه بلکه د هغه شان په خپل ځای منلے شویدے لیکن اعتبار مسئلو لره دے چه کله دا د قرآن او حدیث موافق وی نو د هغے تابعداری به لازمه وی برابره ده که تابعی سره وی او که د روستو امامانو سره وی، او د هرے مسئلے تحقیق کوه، د قرآن او حدیث سره ئے برابروه نو بیا

پرے عمل کوه او که همداسے د یو عالِم په هره خبره پسے روان شوے نو هغه به خطاء شوے وی نو تهٔ به هم په خطاء روان شے، گمراه به شے نو دا څومره ښکاره عقیده ده.

کله کله دوی دعوت داسے خرابوی چه دا دروغ خوارهٔ کړی چه دوی ائمه ؤ ته کنځلے کوی حال دا چه د ائمه و چه مونږ څومره قدر او عزت کوو هغومره ئے دا مقلدین نهٔ کوی، امامانو وئیلی دی چه زمونږ تقلید مهٔ کوئ او ترڅو پورے چه زمونږ دلیل مو نهٔ وی پیژندلے تر هغه پورے زمونږ په خبره فتوی ورکول حرام دی، لیکن مقلدین ددے خپلو امامانو نه بغاوت کوی!!.

غرض دا چه دا د مشرکینو طریقه وه، دعوت ورانول او د دعوت شکل بد ښکاره کول، زمونږ استاذانو پسے به خلکو دا خبره کوله چه دوی اولیاء نهٔ منی، هغوی به دا وئیل چه ددوی عبادت مهٔ کوئ، دے اولیاو ته سجدے مهٔ کوئ، د دوی نه څهٔ نهٔ کیږی او د دوی په نوم نذر او منښته مهٔ کوئ نو دوی به وئیل چه دوی اولیاء نهٔ منی، که دوی ته ووئیلے شی چه د سنت او فرضونه روسته په جمعه سره دعاء نشته، د الله نبی نهٔ ده کړے، که څانله څانله ئے څوك کوی خیر دے، نو دوی وائی چه دوی دعاء نهٔ منی، مونږ وایو د دعا نه انکار خو کفر دے لیکن د دعا دپاره پیغمبری طریقه پکار ده.

نو مشرکانو به دغه طریقه ډیره زمانه جاری وساتله چه د حق شکل به ئے بد ښکاره کولو، دیته قرآن کریم ﴿وَيَبْغُونَهَا عِوَجًا﴾ وئیلے دے، یعنی د کافرانو طریقه دا ده چه دوی لټوی د الله په لار کی کوږوالے. د الله لاره او د هغه دین کوږ او بد رنگ ښکاره کوی. نو دوی دا طریقه ډیره زمانه وکړه لیکن پدے باندے څه داسے خاص کار ونشو.

٤- د دعوت د بندولو څلورمه طریقه :- د حق په مقابله کی باطل دعوت شروع کول

دوی ووئیل چه دا سړے خو ددے دعوت نه نهٔ منع کیږی نو دوی بله طریقه دا اختیار کړه چه د حق په مقابله کی ئے د گمراهئ دعوت شروع کړو

(لکه اهل حق یوه مدرسه جوړه کړی نو باطل پرست د هغے مقابل کی مدرسه جوړه کړی، د قرآن درس یو ځای کی شروع کړی نو دوی د هغے په مقابل کی د قرآن

درس شروع کړی لکه اُوس د بدعتیانو دا طریقه ده چه یوه زمانه پورے درس وکړی خو بیا ختم شی ځکه دغه درس او مدرسه د الله د رضا دپاره نۀ وی بلکه د حق د مقابلے دپاره وی، سنت د رسول الله ﷺ یو ځای کی بیانیږی خلك د هغے مقابله شروع کړی یو کال دوه کاله مقابله وی بیا ختمه شی ځکه د باطل دعوت د الله دپاره نۀ وی)۔

نو مشرکینو هم دا ووئیل چه راځئ چه مونږ هم ددے په مقابل کی دعوت شروع کړو چه خلك زمونږ په دعوت باندے روان شی او د دوی دعوت له نۀ ورځی،

دے له به څوك څه پروګرام وکړی؟، دۀ ته خو کتاب ورځی او مونږ سره کتاب نشته، نو دوی ووئیل چه په مونږ کی یو هوښیار سړے دے، نضر بن الحارث، ددۀ په باره کی راځی: (کَانَ رَجُلًا رَحَّالًا) سفرونه به ئے ډیر کول۔ کله به ایران ته تللو کله به عراق ته او کله شام ته، مختلفو ملکونو باندے ګرځیدلے وو،

نضر بن الحارث الجُمَحِی یو غلیظ کافر دے، د قرآن کریم ډیر غټ او سخت دشمن دے، الله تعالیٰ قرآن کریم کی ډیر آیتونه ددۀ په رد کی رالیږلی دی، څوك چه د قرآن کریم مقابله کوی هغه خلك د الله ډیر سخت بدی شی، نضر بن الحارث په طائف کی وسیدلو، نو مشرکین وربسے لاړل او د هغه ځای نه ئے راوستلو چه مولوی صاحب راشه مونږ یو کار کوو ستا نه یو کار اخلو، نو دۀ ورته ووئیل: صحیح ده، تاسو باندے داسے مصیبت راغلے دے چه ددے مصیبت علاج نشئ کولے نو څه چل به وکړو، نو پدے متفق شو چه ددے نبی د دعوت په مقابله کی بل دعوت شروع کول پکار دی، دا مهم او دا کار ئے نضر بن الحارث ته حواله کړو۔

نو نضر بن الحارث د شام او عراق او ایران نه د قیصو کتابونه راوړی وو، د اسفندیار او د رُستم او د مِهران او نوشیروان پخوانو بادشاهانو قیصے پکی وے او دۀ ته خطونه ورتلل۔ نو دۀ شروع وکړه، کوم ځای کی به چه نبی علیه السلام خلك راجمع کړل، قرآن به ئے ورته شروع کړو او دعوت به ئے ورته کولو،

او د رسول الله ﷺ په دعوت کی تهول د ایمان بالغیب خبرے وے چه اے خلکو! دا حق ومنئ، اُوس پکی ډیر تکلیف دے، نۀ پکی یوه روپئ شته او نۀ پکی فی الحال څه راحت شته، صرف د زړۀ راحت پکی دے او ددے په مقابله کی به الله تعالیٰ تاسو ته د مرګ نه روستو جنت درکړی او د اُور نه به مو بچ کړی او الله به درنه رضا کیږی، تهول د

غیبو خبرے وے، ظاهره کی پکی هیڅ مادیات او دنیا نۀ وه او دا ډیر عجیب دعوت وو، چا چه به قبول کړو سمدست به ئے په زړۀ کی ننوتلو او دغه ډیر اُوچت مؤمنان وو چه چا په غیر د مادیاتو نه دا دعوت قبول کړے وو۔

نـو د رسول الله ﷺ ددے دعوت نه روستو به نضر بن الحارث داسے وکړل چه د هغه خلکو پسے به ورغلو کوم ته به چه نبی علیه السلام نوے او تازه دعوت ورکړے وو او هغه کسان به ئے راجمع کړل او هغوی ته به ئے ووئیل چه راځئ زۀ هم درته قیصے کوم لکه چه محمد (علیه السلام) تاسو ته قیصے وکړے، نو دے به کیناستو او قیصه به ئے شروع کړه چه د اسفندیار قیصه داسے وه او نوشیروان با چا دا کړی وو او دائے کړی وو، دغسے دروغژنے قیصے به ئے ورته کولے، او بیا به ئے وئیل:

(بِمَاذَا مُحَمَّدٌ أَحْسَنُ حَدِيْثًا مِنِّيْ)۔

محمد (علیه السلام) زما نه په څه ښائسته خبرو والادے۔ (هُوَ يُحَدِّثُكُمْ بِأَسَاطِيْرَ وَأَنَا أُحَدِّثُكُمْ بِأَسَاطِيْرَ) ۔ هغه هم درته قیصے کوی او زۀ هم درته قیصے کوم۔ غرض ئے دا وو چه د نبی علیه السلام دعوت سپك ښکاره کړی او د هغے مقابله وکړی۔

﴿وَقَالُوْا أَسَاطِيْرُ الْأَوَّلِيْنَ﴾ ۔ او وئیـل به کافرانو، (نضر بن الحارث وغیره) چه دا خو د پخوانو خلکو قیصی دی چه دا نبی ئے بیانوی، دۀ کی څه کمالی خبره ده، زۀ هم داسے قیصے بیانوم۔

د نـضـر بـن الـحـارث په مجلس کی یو بل کار دا وو چه هغه وینځی ساتلی وے،مُغَنِّيه (سرودگره او ټنگ ټکور والا وینځه) نو هلکان هلکان به ئے خپلے حُجرے ته راوستل او بیا به ئے وینځے ته ووئیل چه پدے هلکانو شراب وڅکه او ورته وگډیږه نو هغے به ورته گډا وکړه او اشعار به ئے هم ورته ووئیل او د هلکانو خو داسے مجلس خوښ وی چه کله ایـمـان دننـه پـه زړۀ کـی نـۀ وی موجود، نو پدے مجلس کی به ئے د هغوی ذهن گډوډ کړو، او کـوم انسـانان چه به الله غوښتل چه حق ته راشی هغه به حق ته راتلل او څوك چه به الله نۀ غوښتل چه حق ته راشی نو هغه به ئے واړول، نو د حق په قبلولو کی اول کـی دغـه شـان تـرخـے خبرے راځی او سخت امتحانات په انسان راځی، د الله نه به ډیر سخت مدد غواړے۔ (الرحیق المختوم ص : ۸۸)

نو نضر بن الحارث به وئیل چه زما مجلس غوره دے او که د محمد (ﷺ) مجلس؟

تاسو وګورئ محمد (رسول الله ﷺ) تول د یادو خبرے کوی چه دا چل به وشی او دا چل به وشی او زما مجلس کی شراب دی، ښځے دی۔ په سورة لقمان کی الله تعالیٰ دا مضمون ډیر په ښکلی او تفصیلی انداز سره بیان کړیدے۔

﴿ الم تِلْكَ آيَاتُ الْكِتٰبِ الْحَكِيمِ هُدًى وَّرَحْمَةً لِّلْمُحْسِنِيْنَ﴾۔

اول کی ئے د قرآن اهل بیان کړیدی چه هغه خلك دی چه د مانځه پابندی کوی، زکاة ورکوی، او په آخرت باندے یقین لری، الله دے خلکو ته هدایت کړیدے، قرآن هغه چاته هدایت کوی چا کی چه د احسان ماده وی، احسان دے ته وائی چه د سړی د زړهٔ نظر په الله باندے لګیږی چه زما په سر باندے بره یو لوی رب ولاړ دے، بیا مؤمنانو ته وائی چه ځان کی د احسان صفت پیدا کړئ نو تاسو به د اسلام نه نهٔ اوړئ، په اسلام به کلك شئ، څوك به مو نشی ګمراه کولے، بیا روستو فرمائی :

﴿ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْتَرِیْ لَهْوَ الْحَدِيْثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّيَتَّخِذَهَا هُزُوًا أُولٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ﴾۔(لقمان آیت: ٦)

حاصل مطلب : بعض خلك د لهویاتو او بی فائدے خبرو پسے روان دی، بے ځایه قیصے خلکو ته بیانوی دے دپاره چه خلك د الله تعالیٰ د لارے نه واړوی دا هم جاهلان دی او څوك چه ورته ناست دی هغه هم جاهلان دی او د الله د آیتونو پورے توقے کوی نو الله فرمائی زهٔ به داسے عذاب ورکړم چه سم به ئے ذلیله کړم، عذاب مهین : سپکونکے عذاب به ورکړم، الله چه وائی زهٔ به ئے سپك او رسوا کړم نو بیا به ورله څوك عزت ورکړی؟!۔

﴿ وَإِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ آيٰتُنَا وَلّٰى مُسْتَكْبِرًا كَاَنْ لَّمْ يَسْمَعْهَا كَاَنَّ فِیْ اُذُنَيْهِ وَقْرًا فَبَشِّرْهُ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ﴾۔

کله چه قرآن په دهٔ باندے لوستلے شی نو داسے تکبر وکړی ګویا که چه آوریدلے ئے نهٔ دے او په غوږونو کی ئے بوج دے، دردناك عذاب د داسے خلکو انتظار کی دے۔

دغه نضر بن الحارث او د هغه ملګری دغه کسان دی چه خلك به ئے د الله د دین نه په لهویاتو باندے اړول۔

علماء فرمائی چه هر هغه کتاب، اخبار، مجله (جریده) ناول چه څوك ئے ډیر زیات ګوری او د الله د کتاب د تلاوت نه ئے غافل کړی او د هغے د درس نه غافل شی نو د نضر

بن الحارث کافر سره دا انسان مشابه دے، دا ډیره د خطر خبره ده او د قیامت د علاماتو نه هم ده۔

یو صحیح حدیث کی راغلی دی: [وَيُقْرَأُ فِي الْقَوْمِ الْمُثْنَاةُ]۔

(طبرانی، والحاکم: ۸۸۱۰ وسنده صحیح)۔

په آخره زمانه کی به خلك قرآن پریدی او خلکو چه کوم کتابونه لیکلی وی هغه به وئیلے کیږی او د هغے نه به وعظ او نصیحت کیږی، خلك به دغه کتابونه لولی او قرآن به ئے شا ته غورځولے وی۔

نو وګورئ چه دا د آخری زمانے د علاماتو نه ده چه قرآن به خلك پریدی، د نورو کتابونو نه به وعظونه او تعلیمونه کوی او دیته به تعلیم وائی، ددے حدیث مصداق بالکل رشتینی شویدے، بعض خلکو د فقهاو کتابونه دومره لازم کړیدی چه قرآن ئے شاته غورځولے دے، بعض مفتیانو صرف یو څو کتابونه رانیولی دی چه صرف د هغے نه فتوے ورکوی لکه رد المحتار، قاضیخان، هدایه وغیره او بعض بزرګانو فضائل اعمال او فضائل صدقات د زکریا او بعضو احیاء العلوم د غزالی لازم کړیدی، د دغه کتابونو نه تعلیم کله نا کله جائز دے او د هغے مطالعه جائز ده لیکن دا داسے لازم او فرض ګڼړل چه د هغے نه همیشه تعلیم کوی او د قرآن درس نهٔ کوی، د قرآن ترجمے ته نهٔ کینی او د فضائل اعمال د تعلیم همیشه پابندی کوی، که زمونږ په خُله دا خبره ورانه ښکاره کیږی نو د خپل ځان سره سوچ وکړه۔

د ترمذی په یو روایت کی سوچ وکړه: (وَمَنِ ابْتَغَى الْهُدٰى فِيْ غَيْرِهٖ أَضَلَّهُ اللّٰهُ)

څوك چه د الله د کتاب نه په غیر په نورو کتابونو کی هدایت لټوی الله به ئے ګمراه کړی۔ پدے روایت کی سنداً ضعف دے حارث الاعور ضعیف دے۔ لیکن ددے معنیٰ په بل صحیح حدیث د الجامع الصغیر کی داسے راغلے ده چه نبی ﷺ فرمائی:

(وَأَنَا تَارِكٌ فِيْكُمْ ثَقَلَيْنِ كِتَابَ اللّٰهِ فِيْهِ الْهُدٰى وَالنُّوْرُ مَنِ اسْتَمْسَكَ بِهٖ وَأَخَذَ بِهٖ كَانَ عَلَى الْهُدٰى وَمَنْ أَخْطَأَهُ ضَلَّ) (الجامع الصغیر: ۲۲۳۱)۔

زهٔ په تاسو کی دوه درانهٔ څیزونه پریدم یو د الله کتاب چه پدے کی هدایت او رڼا پرته ده څوك چه پدے منګولے لګوی او دا رانیسی نو دے به په هدایت باندے وی او څوك چه ددے نه خطا شو هغه ګمراه شو)۔

نو الله فرمائی چه د قرآن سره تعلق جوړکړئ، دا بې ځایه خبرے مهٔ کوئ، د لهو الحدیث (فضول خبرو) او ګپونو نه ځان وساتئ، نورے قیصے مهٔ کوئ، پدے وخت کی سیدیانی راوتلی دی د خلکو تولے زندګیانی ئے تباه کړے دا ټول په لهو الحدیث کی داخل دی۔ خو بندګانو ته عقل صرف الله ورکولے شي نهٔ بل څوك۔

مقصد دا چه مشرکینو پدے باندے هم څه زمانه تیره کړه، د حق په خلاف به دا قیصے کیدے، کله چه مشرکین د نضر بن الحارث د قیصو نه تنګ شول نو وے وئیل چه دا څه ګپ شپ دے او د محمد خبری د عقل او د سړیتوب دی، نو پدے طریقه هم کارونشو نو مشرکان حیران شول چه څه کول پکار دی؟

۵- د حق د مخنیوی دپاره پنځمه طریقه- سمجوته کول

د سیرت په کتابونو کی راځی چه دوی بله طریقه دا اختیار کړه چه په دار الندوه (د دوی د پارلیمان ځای) کی راجمع شو چه دا محمد (ﷺ) راغلے دے، ددهٔ مقابلے مونږ په مختلفے طریقو وکړے خو کار نهٔ کیږی، ددهٔ سره څه بله طریقه اختیاروو، راځئ داسے به وکړو چه انصافی شان خبره ورسره وکړو نو نبی ﷺ ئے راطلب کړو هغه ورله راغے۔

بعضو روایتونو کی دا دی چه مسجد حرام کی ئے دا پروګرام جوړ کړو او بعضو کی دی چه دا په دار الندوه کی وو۔ نو دار الندوه هم مسجد حرام ته نزدے وه پدے کی څه اختلاف نشته،

دوی د نبی علیه السلام نه دا مطالبه وکړه چه زمونږ او ستا ترمینځ ډیر زیات اختلافات راغلل او مونږ هر قسم کوشش وکړو ستا د دعوت د ودرولو دپاره نو راځه چه د عدل او د انصاف نه کار واخلو، عدل او انصاف مونږ ته دا ښکاری:

(هَلُمَّ نَعۡبُدُ اِلٰهَكَ یَوۡمًا وَتَعۡبُدُ اٰلِهَتَنَا یَوۡمًا) .

راځه، مونږ به ستا د اله یوه ورځ عبادت کوو په توحید سره او تهٔ به یوه ورځ زمونږ د آلهو عبادت کوے۔

یعنی اسلام او کفر به شریك روان وی، مونږ ته هم بد مهٔ وایه او ستا هغے ته به مونږ بد نهٔ وایو۔ قرآن کی دي: ﴿وَدُّوۡا لَوۡ تُدۡهِنُ فَیُدۡهِنُوۡنَ﴾ (القلم:۹)۔

دوی غواړی چه تهٔ سست شے نو دوی هم درته سستیږی)۔

پدے طریقه خو به خلك راشی او څه ساعت به تیر شی لیکن بره الله ناراضه کیږی۔ نو نبی علیه السلام ددے خبرے نه بیخی انکار وکړو نو هغوی ترے بیا مطالبه وکړه :

(هَلُمَّ نَعْبُدُ اِلٰهَكَ اُسْبُوْعًا وَتَعْبُدُ آلِهَتَنَا يَوْمًا)۔

راځه مونږ به ستا د اله یوه هفته عبادت کوو او تهٔ به زمونږ د آلهو صرف یوه ورځ عبادت کوے۔ نبی علیه السلام دا خبره هم رد کړه چه دا هیڅکله نشی کیدے چه زهٔ د غیر الله عبادت وکړم دا خو شرك دے بیا ئے ووئیل :

(هَلُمَّ نَعْبُدُ اِلٰهَكَ سَنَةً وَتَعْبُدُ آلِهَتَنَا يَوْمًا)۔

مونږ به ستا د اله پوره کال عبادت کوو او تهٔ زمونږ د آلهو یوه ورځ عبادت کوه، نبی علیه السلام دا خبره هم رد کړه چه دا خو امکان نهٔ لری چه زهٔ شرك وکړم نو الله رب العالمین دا آیتونه راولیږل:

﴿وَلَوْلَا اَنْ ثَبَّتْنَاكَ لَقَدْ كِدْتَّ تَرْكَنُ اِلَيْهِمْ شَيْئًا قَلِيْلًا﴾ (الاسراء:٧٤)

اے نبی! که تهٔ ما په دین باندے مضبوط کړے نهٔ وے نو نزدے وه چه تهٔ به لږ شان دوی ته مائل شوے وے، د هغوی تائید دے کړے وے د خپلو مشکلاتو د دفع کولو دپاره،

کله یو تن باندے مشکلات زیات شی نو د دین څه خبرے پریدی، لکه زمونږ ددے زمانے ډیر خلك د عوامو د ډیرے د وجه نه د دین ډیرے مسئلے پټوی، د مدرسے نه به یو نیم سل دوه سوه کسان فارغ شی، ډیر لږ به د دین دعوت شروع کړی نور به په عوامو کی ورك شی ځکه چه هغوی د خلکو نه یریږی، د سنت اعمال د هغوی د وجه نه پریدی، په لږو باندے الله تعالیٰ دا فضل کړے وی چه د چا پرواه نهٔ لری نو الله خپل نبی ته فرمائی که تهٔ کافرانو ته لږ مائله شوے وے :

﴿وَاِذًا لَّاَذَقْنَاكَ ضِعْفَ الْحَيَاةِ وَضِعْفَ الْمَمَاتِ﴾ (الاسراء:٧٥)

په دغه وخت کی به خامخا مونږ تا ته دوچنده عذاب د دنیا او دوچنده عذاب د مرګ نه پس درکړے وے)۔

د کافرانو په یوه خبره منلو باندے انسان ته دوچنده عذاب ملاویږی، په اسلام کی د چا سره سمجوته نهٔ کیږی۔

٦- د مشرکانو آخری طریقه د دعوت د بندولو دپاره وهل دی

نو مشرکان حیران شو چه یوه خبره هم فائده نهٔ ورکوی، اُوسه پورے په خُلے سره مقابله کوو مګر دا خلك نهٔ منع کیږی لیکن دے خُله ئے ناشنا طریقه اختیار کړه چه دا خلك بغیر د ډانګی نه نهٔ سمیږی نو د مؤمنانو د وهلو اراده ئے وکړه۔ نو پدے باندے ئے کلکه مشوره وکړه چه د چا چه کوم خپلوان دی هغه دے ونیسی او وهل ټکول دے ورکړی او کوم کسان چه وینځے او غلامان دی نو د هغے وهل د ټول قوم دپاره جائز دی که خپل غلام وی او که د بل غلام وی نو مشرکینو د اضطهاداتو لاره اختیاره کړه چه مونږ به ایذاء (ضرر) ورکوو پدے سره به د دوی بله لاره نهٔ وی نو سم به شی، نو چه د تکلیف څومره وسعه موکیږی دے مسلمانانو ته ئے ورکوئ او څومره چه ظلمونه کولے شئ نو دریغ پکی مهٔ کوئ، مشرکین د الله نه نهٔ یریدل نو دا کارئے شروع کړو۔نبی علیه السلام ته ئے هم تکلیفونه ورکول شروع کړل او صحابه کرامو ته هم،صرف دومره وه چه کوم خلك آزاد وو، هغوی ته ضرر کم وو ځکه آزاد خلك خپل پلار، ترهٔ، ماما لری، قوم لری، پدے وجه هم ورته دومره څه نشی وئیلے۔ مشرکانو کی دا غیرت هم وو چه په خپلوانو به ئے څه نا څه غیرت کولو نو یو الله رب العزت د هغوی لږ شان حفاظت پدے کولو۔

په عربو کی یو رواج وو چه هغه ددے مسلمانانو دپاره څه نا څه فائده مند وو چه هغے ته به ئے عقدِ اَمان وئیلو، یو سړے به مظلوم وو، خلکو به وهلو ټکولو، ظلم به ئے پرے کولو نو هغه به لاړو یو کافر ته به ئے ووئیل چه ما ته امان راکړه، زهٔ ستا په جِوار او پناهئ کی داخلیدل غواړم، نو د هغه به پکی دا کار وشو چه خلکو ته به ئے خپل نوم او شهرت ښکاره کړو، خلکو ته به راغے اعلان به ئے وکړو چه اے خلکو! خبردار، فلانکی د فلانکی ځوی زما په پناهئ کی داخل شویدے، دهٔ ته به هیڅ هم نهٔ وایئ، دهٔ ته که چا ضرر ورکړو نو دا ضرر ما ته دے نو پدے وجه به د هغه مظلوم حفاظت وشو، او ددهٔ به شمله اُوچته شوه چه فلانی ته فلانی پناهی ورکړیده که دهٔ ته څوك څه ووائی بیا به د هغه بی عزتی وشی او هغه خو ډیر شریف سړے دے، نو دیته عقدِ جوار

او عقدِ امان وائی۔

مسلمانان د بعض کافرانو په دغسے پناهئ کی داخل شوی وو لکه روستو راځی چه سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه چه هجرت کولو نو د یو کافر ابن الدغنه په پناهئ کی داخل شوے وو، مشرکانو به ورته څه نشو وئیلے ځکه هغه به ورته پناهی ورکوله او کومو کسانو ته چه به چا پناهی ورنکړه او د چا په جِوار کی به نهٔ وو نو هغوی تهولو ته به ډیر ضررونه ورکول کیدهٔ، د هغوی تهولو مشر محمد رسول الله ﷺ وو، د نبی ﷺ صرف د الله حفاظت وو، هغه موجود وو او په ظاهری اسبابو کی د ابو طالب حفاظت وو چه دا د قریشو مشر وو، د هغه د خاطره ئے ورته څه نشو ویلے او بل دا چه محمد رسول الله ﷺ ته الله تعالیٰ تقویٰ ورکړے وه، یو عزت او وقار او شهامت ئے ورکړے وو نو داسے با وقاره او متقی او با عزته انسان ته څوك داسے نشی کولے چه په آسانئ سره ضرر ورکړی، ډیر بی حیاء سړے به وی چه هغه ته ضرر ورکړی نو محمد رسول الله ﷺ په درے حفاظتونو کی محفوظ وو، یو د الله حفاظت، دویم د ابو طالب او بل په هغه کی تقویٰ او ایمان وو۔ لیکن تاسو وګورئ مشرکین دومره بی حیاء وو چه ددے باوجود ئے هم د نبی ﷺ څومره بی عزتی کړیده او هغه ته ئے تکلیفونه رسولی دی چه د یو مسلمان د هغے په یادولو باندے زړهٔ دردیږی۔

د مشرکانو نبی ﷺ ته قسماقسم تکلیفونه

مشرکانو د حق په مقابله کی قسم قسم دیوالونه وهل او الله سبحانه وتعالیٰ د هغه بنکلی دین نه چه د آسمان نه الله تعالیٰ د بندګانو د هدایت دپاره رالیږلے وو چه انسانان د اور نه بچ شی او جنت ته داخل شی نو دا خبره په کافرو باندے ډیره بده لګیده،

د امت دشمنان، د خپل ځان دشمنان او د خلکو دشمنان د هغوی کوشش دا وو چه د نبی علیه السلام دا دعوت بند شی، دا رسالت او پیغام خلکو ته ونهٔ رسیږی څومره چه د هغوی وسعه کیدله هغوی کوششونه کول چه د حق مخه ونیسی او دا پروګرام د هغه وخت نه راروان دے او د قیامته پورے به جاری وی، د ابوجهل وارثان به دا کوشش کوی چه د الله دین ختم کړی او د محمد رسول الله ﷺ تابعدار به سختے

تیروی او مشکلات به برداشت کوی، د هغې نه روسته به الله تعالیٰ حق له په هره زمانه کې غلبه ورکوی څو مره چه اهل حق په حق باندې ولاړ وی ځکه دا د رب العالمین طریقه ده چه حق همیشه دپاره تضحیات (قربانیانی) غواړی، د قربانۍ نه په غیرحق نهٔ خوریږی، د اسلام طبیعت دا دې چه ځان کې به مکمل دین راولې، سختې او مشکلات به تیروې، داسې په مزو باندې نهٔ کیږی چه سړی باندې دې نعمتونه وی او په دهٔ کې دې پوره دین راشی، داسې نشی کیدې، لړه شان سخته تیرول ضروری دی۔

د مشرکانو قسم قسم ارادې وې چه د الله دین ختم کړی څه مخکې بیان شوې څه روستو راځی یو د هغې نه دا وه چه مشوره ئې وکړه چه نبی ﷺ او د هغه ملګروته به ضرر ورکوو، د وهلو، شرمولو او کوم قسم تکلیف چه مو وسعه کیږی هغهٔ به ورته ورکوی، د نبی علیه السلام د حفاظت درې اسباب هُم وو لیکن ددې سره سره بعض بی حیاء خلکو چه د هغوی سردار ابولهب وو نبی ﷺ ته ښکاره تکلیفونه ورکول۔

نبی علیه السلام به د عُکاظ او دَ ذو المَجَاز میلو ته د دعوت دپاره ورتللو نو دې به پسې لاړو او خلکو ته به ئې ووئیل چه ددهٔ خبره مهٔ منئ: (اِنَّهٗ صَابِیٌ کَذَّابٌ)۔

دا سړې صابی شویدې او دروغژن دې او یواځې به ئې پدې اکتفاء نهٔ کوله بلکه کاڼړی به ورسره وو او په هغې باندې به ئې ویشتلو۔

سیدنا طارق المحاربی رضی الله عنه یو صحابی دې هغه فرمائی چه ما نبی علیه السلام ولیدو چه د ذو المجاز او عکاظ په میلو کې روان وو، یو سړې ورپسې وو، دهٔ به خلکو ته دعوت ورکولو او هغه به د شا ته نه ویشتلو، دا به ئې وئیل چه ددهٔ خبره مهٔ منئ دا صابی شویدې او دروغژن دې او ما ولیدو چه په کاڼړو باندې ئې ویشته چه د پنډۍ مبارکو نه ئې وینې روانې وې، د ابولهب دلاسه دا تکلیفونه د اولې ورځې نه رسیدلې وو، د صفا په غونډۍ ئې چه خلک راجمع کړل دهٔ په کې بد رد ووئیل چه تو له ورځ دې ستا دپاره هلاکت وی تا مونږ دې مسئلو دپاره راجمع کړو۔

دا دومره ضرری انسان وو چه د نبی علیه السلام دوه لوڼړه رقیه او ام کلثوم ابولهب خپلو دوه ځامنو (عُتْبَه او عُتَیْبَه) له کړې وې، چه کله رسول الله ﷺ د حق دعوت شروع کړو نو ابولهب خپلو بچو ته ووئیل چه دا لوڼړه ورته طلاقې کړئ، د محمد لوڼړه زهٔ په کور کې نهٔ منم۔ نو دا دواړه ئې پریښودې ودونه ئې لا نهٔ وو شوی، دا دیرې

صالحه او نیك عمله جینکئ وې نو الله رب العزت د دغه مشرکانو د نکاح نه بچ کړې او بیا ئې داسې یو پاك انسان ته په نکاح ورکړې چه هغه سیدنا عثمان بن عفان ﷺ وو د یو بل نه پس. یوه وفات شوه بله ئې په نکاح واخسته.

سیدنا عثمان یو جنتي صحابي دې، الله نهٔ غوښتل چه دا پاکې زنانه د مشرکانو په نکاح کې راشي او دا په هغه وخت کې په نکاح شوې وې چه رسول الله ﷺ ته وحی نهٔ وه شوې، گنې د مشرك سره د یوې پاکې زنانه نکاح نهٔ کیږی نو د رسول الله ﷺ د لونړو طلاقول هم یو تکلیف وو، د نبي علیه السلام ځوی وفات شو چه عبد الله رضی الله عنه د هغه نوم وو، او د نبي علیه السلام د نبوت نه روستو وفات شوې وو، نو ابولهب پدې باندې ډیره خوشحالي وکړه، خپلو ملګروته ئې زیرې ورکړو چه خوشحاله شئ (مُحَمَّدٌ صَارَ أَبْتَرَ). محمد میرات دې، بچي ئې نهٔ پاتې کیږی، لاړو بنیاد ئې ختم شو. ددهٔ په مرګ سره به قصه توله ختمه وی، او نورو مشرکینو هم دا خبره کړې وه چه محمد ابتر (میرات) دې نو الله سورة الکوثر راولیږو:

﴿إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ، إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ﴾

ما تا لره کوثر درکړو نو تهٔ مونځ کوه او خاص د الله دپاره قرباني ذبح کوه یقیناً ستا دشمن به لنډې بوچې وی، میرات او ذلیله به وی، ددهٔ نسل به الله نهٔ پریدی.

ددې نه معلومیږی چه څوك د محمد رسول الله ﷺ د ذات سره دشمني کوی یا د هغه د سنت سره دشمني کوی دا به الله تعالیٰ ضرور ذلیله کوی، دا قرآني فیصله ده.

ابتر هغې ته وائی چه د هغه نسل نهٔ پاتې کیږی، ذلیله ورك انسان وی او دا صحیح ده چه مشرکین الله تعالیٰ ورك کړل، ذلیله ئې کړل، هیڅوك مدح او صفت کونکی ئې نشته او د محمد رسول الله ﷺ آوازونه د دنیا په هر ګوټ کې د غرونو په سرونو کې وئیلې کیږی اذان کې هر ځای وئیلې شي: (وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ).

کله چه انسان په مسجد حرام کې په بره چهت کې ناست وی او اذان شروع شي او دا فکر وکړی چه دا هغه علاقه وه چه پدې کې به ابوجهل او د دین دشمنان وو او نبي علیه السلام او صحابه کرام به ئې نهٔ پرینبودل چه اذان وکړی، مونځ وکړی اُوس هغه یو کافر هم نشته او د محمد رسول الله (ﷺ) آوازونه کیږی، نوم ئې یادیږی، صفتونه ئې کیږی، الله رب العزت هغه کافر چه محمد رسول الله ﷺ ته ئې ضررونه ورکول

داسې ذلیله کړل.

په دې ضرر رسونکو کې د ابولهب ښځه ام جمیل هم وه چه دې به د الله نبي ته ضررونه ورکول، لاره کې به ئې ورته اغزي اچول، دروازه کې به ئې ورته اچول، ډیره بد زبانه، کنځل ماره ښځه وه، او د ښځې د شر نه سړې ډیر تنګیږي ځکه چه څه ورته وئیلې هم نهٔ شي چه یو څپیړه ورکړي، نوام جمیل به شرونه پیدا کول او ګاونډ کې هم وسیدله، د الله نبي ددینه هم ډیر تنګ وو، د ابولهب ښځه ام جمیل بنت حرب وه چه د ابوسفیان رضی الله عنه – چه روستو ئې ایمان راوړدې خور وه.

کله چه دا سورت نازل شو: ﴿تَبَّتْ یَدَا أَبِيْ لَهَبٍ وَتَبَّ﴾

نو پدې کې الله د دغه ښځې تذکره هم وکړه چه ابولهب هم تباه او ددهٔ ښځه حمالة الحطب ده یعنې ابولهب ډیر مالداره وو خو د بخل د وجه نه به ئې ښځې د غر نه لرګی راوړل. یا مطلب دا دې چه بارونکې د لرګو پدې وجه وه چه لرګي ئې راجمع کول او مسلمانانو ته به ئې لاره کې د تکلیف ورکولو دپاره اچول.

بل تفسیر دا دې چه حمالة الحطب، یعنې چغلۍ والا وه چه د نبي ﷺ او د کفارو ترمینځ به ئې چغلي کوله، او په انسانانو کې دا یو فسادي او ناکاره صفت دې، چا کې چه د چغلۍ صفت وي، الله ئې جنت ته نهٔ پریدي، نبي ﷺ فرمائي :

[لَا یَدْخُلُ الْجَنَّةَ نَمَّامٌ] (مسلم: ۱٦۸).

جنت ته چغلخور انسان نهٔ داخلیږي. چه د فساد پیدا کولو دپاره د یو خبره بل ته او د بل بل ته وړي، د مسلمانانو ترمینځ بغض پیدا کوي دا به جنت ته نهٔ ځي ترڅو چه ددې ګناه نه ئې په دنیا کې توبه نهٔ وي وستلې.

یوه ورځ نبي علیه السلام په مسجد حرام کې ناست وو، سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه هم ورسره وو پدې کې دا زنانه راغله او په موټي کې ئې کانړي نیولي وو، اراده ئې وکړه چه محمد رسول الله ﷺ پرې وولي، دا چه کله رانژدې شوه الله سبحانه وتعالیٰ ددې نظر واخستهٔ چه په رسول الله ﷺ باندې ئې نظر نهٔ لګیدو، صرف ابوبکر رضی الله عنه ئې لیدهٔ، تپوس ئې وکړو: (أَیْنَ صَاحِبُكَ، إِنَّهٗ قَدْ هَجَانَا)

ستا ملګرې څه شه؟ ما ته خبر رارسیدلې دې چه هغه زمونږ هجوه او بدي بیان کړې ده، شعرونه ئې وئیلي دي او په شعرونو کې ئې زما بدي بیان کړیده.

ابوبکر صدیق ﷛ ورته ووئیل : (اِنَّهٗ لَایَنْطِقُ بِالشِّعْرِ وَلَایَتفَوَّہُ بِہٖ)

تا ته پته نشته چه هغه هیڅکله شعر نشی وئیلے او چرته ئے د شعر الفاظ وئیلی هم نهٔ دی۔ هغے وویل : (اِنَّکَ لَمُصَدِّقٌ)

تهٔ د هغه تصدیق کوے، قسم په الله که زهٔ ئے وینم، زهٔ به ئے پدے کانړی وولم او بیا ئے دا شعر جوړ کړو چه که هغه شاعر وی، زهٔ هم شاعره یم۔

قَـلَيْـنَـا وَ أَمْـرَهٗ عَـصَـيْـنَـا	مُـذَمَّـمٌ أَبَـيْـنَـا وَدِيْـنَـهٗ

مونږ د مذمم (بدی وئیلے شوی) نه انکار کوو، او دهٔ د دین نه مونږ ته خوښ نهٔ دے او دهٔ د حکم نافرمانی کوو۔

مشرکینو به محمد رسول الله ﷺ ته مُذَمَّم وئیلو، محمد به ئے ورته نهٔ وئیلو وجه دا وه چه د محمد معنیٰ ده د ښکلی صفتونو خاوند۔ نو هغوی به ورته دا نوم نهٔ اخستلو بلکه مذمم به ئے وئیلو، یعنی بد او ناکاره انسان چه د هغه بدی وئیلے شویوی۔ (والعیاذ بالله)۔

نبی علیه السلام فرمایلی دی چه الله زما نه د مشرکینو کنځلے اړوی، ځکه چه دوی مذمم ته کنځلے کوی او زهٔ خو محمد یم۔

شیخ الاسلام ابن قیم رحمه الله یوه فائده لیکلے ده چه دا بعینه میراث د روسته امت مسلمه هم دے، ددے باطل پرستو مبتدعینو او خوارجو او غلطو عقیدو والو طریقه دا ده چه نیکانو او موحدینو ته بل نوم کیدی هغے ته بیا کنځلے کوی لکه هغه زمانه کی به نیکانو ته مُجَسِّمه وئیل کیدل ځکه د الله صفات ئے منل، بعض زمانو کی به ئے ورته حشویه وئیل او حشویه ته به ئے کنځلے کولے، نابته (نوی پیدا شوی) به ئے ورته وئیل۔ انګریزانو محمد بن عبد الوهاب رحمه الله د صحیح سلفی دعوت په وجه د پلار په نوم بد نام کړو چه دا وهابی دے او بیا ځوك چه د هغه پشان په صحیح عقیده روان وی هغه ئے په وهابیانو بد نام کړل حال دا چه هغوی اهل السنة اهل الحدیث دی۔

الغرض ام جمیل ډیره ضرر ورکونکے وه، نبی علیه السلام ترے ډیر په تکلیف کی وو، د نبی علیه السلام په ګاونډ کی ځلور کسان وو چه هغه ته به ئے ضررونه ورکول یو پکی ابولهب وو، یو حکم بن ابی العاص بن امیه چه دا د مروان پلار وو، (مروان بن

الحکم)۔ دارنګه ابوالاشد الجُمَحی چه نوم ئے ګلَدَه وو، او عقبه بن ابی معیط وو، دوی به نبی علیه السلام ته په ګاونډ کی سخت ضررونه ورکول۔

یو حدیث کی راځی چه نبی علیه السلام به په مانځه ودریدو، د هغه د کور دیوالونه ټیټ وو، او کله به دروازه هم کولاوه نو دوی به راتلل او په نبی علیه السلام به ئے ګندونه وراچول۔

کله به ئے ګډه ذبحه کړه د هغے رَحِم او کولمی او ګندګی به ئے راوړل او په نبی علیه السلام به ئے ور وغورزول، کله چه به د نبی علیه السلام په کور کی کتهوئ باندے وه دوی به پټ راغلل او په کتهوئ کی به ئے د ګډے رَحِم ور واچولو، داسے ضرری خلك وو، کله به ئے ورته په دروازه کی ګندګی واچوله نو رسول الله ﷺ به دغه ګندګی په یو ډکی باندے راواخسته او ګوزار به ئے کړه او آواز به ئے وکړو۔

(يَا بَنِيْ عَبْدِ مَنَافٍ! أَيُّ جِوَارٍ هٰذَا) اے بنی عبد مناف! دا کوم ګاونډتوب دے چه تاسو ئے ما سره کوئ؟!، د ګاونډتوب لحاظ خو وکړئ، مشرکینو به د ګاونډ ډیر لحاظ کولو، ډیر سرې توب پکی وو، لیکن د نبی علیه السلام په مقابله کی ترے دا سرې توب ختم شوے وو ځکه دا د باطل پرستو طریقه ده چه د قانون ډیر سخت پابند وی خو د مؤمنانو او صحیح عقیدے والو په باره کی بیا د قانون پرواه نهٔ ساتی۔

ابوجهل نبی علیه السلام ته وئیلی وو چه تهٔ به مونځ نهٔ کوے، مسجد حرام ته مهٔ راځه، دلته مونځونه مهٔ کوه، یوه ورځ ئے نبی علیه السلام زلیدهٔ چه په مانځه ولاړ دے، ابوجهل ورته ووئیل چه تهٔ ما نهٔ وے منع کړے چه دا مونځ مهٔ کوه؟

ابوجهل ته د الله په بندګئ او سجدو باندے غصه ورتلله دا دلیل دے چه څوك چا ته په مانځه باندے غصه کیږی دهٔ کی د ابوجهل صفت دے، څوك چه د سنت مطابق مونځ کوی او یو سړی ته پدے باندے غصه ورځی چه دا ولے کوی؟ نو دهٔ کی هم د ابوجهل صفت دے۔

په سورة العلق کی ددهٔ په باره کی ډیر آیتونه نازل دی:

﴿ أَرَأَيْتَ الَّذِيْ يَنْهٰى عَبْدًا إِذَا صَلّٰى ﴾۔

آیا تا لیدلے دے هغه کس چه منع کوی زما بنده د مانځه نه۔

﴿ أَرَأَيْتَ إِنْ كَانَ عَلَى الْهُدٰى أَوْ أَمَرَ بِالتَّقْوٰى ﴾۔

آیا تا سوچ کړیدے چه که دا پیغمبر په هدایت روان وی او په تقویٰ باندے امر کوی۔
﴿ أَرَأَيْتَ إِنْ كَذَّبَ وَتَوَلَّى أَلَمْ يَعْلَمْ بِأَنَّ اللَّهَ يَرَى ﴾
آیا تا لیدلی، کله چه دے د حق تکذیب کوی او اړیدونکے وی، آیا دا نهٔ پو هیږی پدے چه الله دهٔ لره وینی۔

یوه ورځ ابوجهل زمونږ خوږ نبی کریم ﷺ لره د مرئ او گریوان نه راونیولو، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: ﴿ أَوْلَى لَكَ فَأَوْلَى ثُمَّ أَوْلَى لَكَ فَأَوْلَى ﴾۔

الله به دے تباه کوی او بیا به دے تباه کوی او بیا به دے تباه کوی څلور څله ئے ورته دا خبره وکړه۔ ابوجهل غصه شو او ډیره غلیظه ناکاره خبره ئے وکړه، کنځل ئے وکړل او وے وئیل: (لَاتَسْتَطِيْعُ أَنْتَ وَلَارَبُّكَ أَنْ تَفْعَلَا شَيْئًا)

تهٔ او ستا رب ددے طاقت نهٔ لری چه ما ته څه ضرر راکړئ۔

(وَاللهِ اِنِّیْ لَأَعَزُّ مَنْ مَشٰی بَيْنَ جَبَلَيْهَا) قسم په الله! په مکه کی ددے دوه غرونو ترمینځ چه څوك روان دی پدے ټولو کی زهٔ عزتمند یم۔ ما ته څوك څه نشی وئیلے۔

ابوجهل ډیر جبار انسان وو، رسول الله ﷺ فرمائی:
(فِرْعَوْنُ هٰذِهِ الْأُمَّةِ)

ددے امت فرعون ابوجهل دے۔ دا ډیر غلیظ او انتهائی سخت کافر وو، رسول الله ﷺ او مؤمنانو ته ډیر ضرر ورکونکے وو لکه د بعضو قصو نه روستو معلومیږی۔

حدیث کی راځی یو ځل ابوجهل خپلو ملگرو ته وویل چه آیا محمد ستاسو په مینځ کی مخ خړوی (یعنی مونځ کوی؟) نو هغوی وویل: آؤ، نو دهٔ وویل: قسم دے په لات او عزیٰ باندے: (لَئِنْ رَأَيْتُهُ لَأَطَأَنَّ عَلٰی رَقَبَتِهٖ وَلَأُعَفِّرَنَّ وَجْهَهُ)

که ما چرته ولیدو چه سجدے کوی نو خامخا به پدے څټ باندے ورته ورخیژم او مخ به ورله د خاورو سره ککړوم۔

(پدے باندے ورته غصه ورتلله چه دے یواځی الله ته ولے سجده لگوی او زمونږ په شان کار ولے نهٔ کوی، شرك ولے نهٔ کوی)،

پدے کی رسول الله ﷺ په مانځه ولاړ وو، ابوجهل راغے ددے دپاره چه په رسول الله ﷺ باندے وروخیژی او په څټ ورته خپے کیدی نو ابوجهل ته داسے شکلونه ښکاره شول چه هغه ئے په منډو کړو، خلکو ورته ووئیل چه اے ابوالحکم! څه چل دے؟ تا

خو اراده کړے وه چه زۀ به ئے وهم او په ښت به ورته ورخیژم؟ نو ابو جهل ووئیل :
(اِنَّ بَیْنِیْ وَبَیْنَهٗ لَخَنْدَقًا مِنْ نَارٍ وَهَوْلًا وَاَجْنِحَةً)

زما او د هغه ترمینځ یوه ژوره کنده وه چه اُور پکی روان وو او ما د یرے حالت ولیدو او وزرے مے ولیدے)، الله سبحانه وتعالیٰ ورته دا ښکاره کړل۔

نبی علیه السلام وفرمایل :
(لَوْدَنَا مِنِّیْ لَا اخْتَطَفَهُ الْمَلَائِکَةُ عُضْوًا عُضْوًا) (رواه مسلم:۷۲۴۳)

که چرته دے ما ته نزدے راغلے وے (او زما په ښت ئے خپه ایښے وے) نو ملائکو به اندام اندام کولو سره تښتولے وے۔

لیکن الله پدے طریقه نۀ مردارولو څکه چه بیا به ئے خلکو عزت کولے چه ډیر مظلوم مړ دے بلکه الله رب العزت ددۀ د تکبر ماتولو دپاره په دوه ماشومانو باندے په جنګ بدر کی هلاك کړو۔ او الله تعالیٰ همیشه د غتو کافرانو سره دا کار کوی چه په کمزورو او ظاهری وړو خلکو باندے ئے مرداروی۔ اُوس هم د الله نه امید دے چه د کفر دا سُپر طاقت به الله تعالیٰ ددے کمزورو مجاهدینو په لاس باندے صفر طاقت جوړوی او دا وخت لرے نۀ دے ان شاء الله تعالیٰ۔

دغه شان نورو مشرکانو به د رسول الله ﷺ پورے خندنئ او توقے کولے او اشارے به ئے ورته کولے۔

عقبه بن ابی معیط هم پدے ضرر رسولو کی ډیر رُول ادا کړے وو،

یوه ورځ رسول الله ﷺ په مسجد حرام کی په سجده پروت وو نو دے ظالم د اُوښ لری او پریوانونه راوړل او د هغه په ښت ئے واچول او مشرکین د خندا نه په یو بل باندے پریوتل، پدے کی فاطمه رضی الله عنها راغله هغه ئے ترے لرے کړل او مشرکینو ته ئے ښیرے او بدے ردے وکړے او نبی علیه السلام هم ورته ښیرے وکړے۔

سیدنا عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی : ما یو یو ولیدل چه الله تعالیٰ په بدر کی هلاك کړل۔

او د ابولهب څوی عتبه یا عتیبه (باختلاف الروایتین عند اهل السیر) ته ئے ښیرے وکړے چه په دۀ باندے یو سپے ستا د سپو نه مقرر کړه نو الله په یو سفر کی دے په یو زمری باندے مات کړو۔

د مشرکانو عوامو مسلمانانو ته تکلیفونه ورکول

هرچه عوام مسلمانان وو په هغوی باندے خو ډیر تکلیف وو، وجه دا وه چه رسول الله ﷺ خو یو ډیر شریف انسان دے، بل د قوم مشر هم دے، او بل ابو طالب هم ورسره ملګرے وو او د الله له طرفه ئے هم حفاظت کیدو۔ خو عوامو مسلمانان ته هم ډیر زیات تکلیفونه وو ځکه عوامو مسلمانانو کی دوه قسمه خلك وو، یو هغه وو چه قوم کی به ئے څوك مشر لرلو، د مشرانو د قبیلے نه به وو نو ابوجهل به ورپسے ورغلو او هغه به ئے بی عزته کړو، وبه ئے شرمولو چه تا ایمان ولے راوړیدے، ؟ د پلار او نیکه لاره دے پریښے ده، په اسلام کی تا څه لیدلی دی، پدے کی څه خیر دے ؟ او ملامتیا به ئے پرے ووئیله چه د پلار نیکه لاره دے ولے پریښے ده؟

او که تاجر به وو، خبر به ئے ورته ورکړو چه زهٔ به خلکو ته ووایم چه تا نه به څوك مال نهٔ اخلی، دوکان به دے کوته شی، کاروبار به دے ختم شی۔ او که چرته داسے جاه او مشریٔ والا به وو هغه ته به ئے وئیل رعیت او ملګری به دے کم شی لکه دے وخت کی خلك وائی ووټونه به دے کم شی، ستا رعیت ستا شاګردان به درنه زهٔ واړوم، ستا به بیا څوك عزت نکوی، دا مشری به دے ختمه شی، مشران خلك په مشریٔ ډیر خفه کیږی، مالدار خلك په مال ډیر خفه کیږی او تاجران په تجارت، هر چا ته به ئے د هغوی مطابق خبره کوله۔

(لکه زمونږ پدے زمانه کی بعض مبتدعینو مُلیانو وئیلی وو چه تاسو د قرآن اوحدیث براهِ راست تابعداری مهٔ شروع کویٔ، اهل حدیث کیږیٔ مهٔ، وجه دا ده چه بیا به څوك ستاسو شاګردیٔ له نهٔ راځی، څوك به درته نهٔ کینی، فائده به دے کمه شی، جمات ته به دے څوك نهٔ راځی، په پخوانیٔ زړه طریقه باندے عمل کویٔ، ملګری به دے ډیر وی۔ مونږ وایو دا ټولے شیطانی وسوسے دی چه د حق د رکاوټ دپاره پیدا کیږی بلکه حق بیانوه الله تعالیٰ د حق والا ملګرے دے، او حق والا الحمد لله ډیر دی، ورځ په ورځ زیاتیږی۔

بلـه دا کـه تـا تـه څوك رانغلل نو ستا ذمه واری فارغه ده، یو تن دوه تنانو ته چه خبره

ورسیده هم تهٔ به د الله تعالیٰ په دربار کی معذورتے چه اے الله ! مونږ حق بیانولو، صحیح خبره موکوله لیکن دے بندګانو کی خیر نهٔ وو، نهٔ به راتلل، لکه ډیر داسے انبیاء علیهم السلام تیر شویدی چه یو ملګرے هم ورسره نشته،

رسول الله ﷺ فرمائی : ما داسے انبیاء علیهم السلام د معراج په شپه ولیدل (وَالنَّبِيَّ وَلَيْسَ مَعَهُ أَحَدٌ) چه یو ملګرے ئے هم نهٔ وو۔

الغرض دا چه ابوجهل به د مشرانو پسے ګرځیدو چه تهٔ هم اوریدلے ئے ؟ که چرته ضعیف سړے به وو، شرافت به ئے په قوم کی نهٔ وو، د عوامو خلکو نه به وو نو خپله به ئے هم ضرر ورکولو، وهل ټکول به ئے ورکول او نورو خلکو ته به ئے هم وئیل چه تکړه شئ دا ووهئ۔

(پدے زمانه کی هم دا طریقه ده چه یو سړے حق قبول کړی دوی ورپسے د شپے ګشت شروع کړی چه تا د ځان نه ولے وهابی جوړ کړے دے، خلك به درپسے خبرے کوی، دا چل به وشی او هغه به وشی، څوك به درسره معاملات، تجارت نهٔ کوی، مړی به درله نهٔ خښبوی، جنازے له به دے څوك نهٔ راځی)۔

نو عوامو مسلمانانو ته کوم چه کمزوری وو ضررونه رسول شروع شو۔

یو په هغوی کی سیدنا بلال رضی الله عنه دے، بلال رضی الله عنه د امیه بن خلف الجُمحی غلام وو د هغه په لاس کی وو، دا د حبشو نه راغلے وو، بلال بن رباح چه د نیکه نوم ددهٔ معلوم نهٔ دے، دهٔ چه کله ایمان راوړو نو مشرکینو ورته ووئیل چه محمد رسول الله ﷺ بانـدے کفـر وکـړه او د لات او د منات عبادت شروع کړه، هغه به ددینه انکار کولو نو دوی به د هغه په غاړه کی پړے واچولو او د مکے په کوڅو کی به ئے راښکلو، او ماشومانو ته به ئے ورکړو چه دا راکاږئ تردے چه پړی د هغه په مرئ کی اثر کړے وو۔

او بل ضرر ئے دا ورکولو چه د مکے مکرمے زمکه انتهائی ګرمه ده نو هغے ته به ئے په غرمه کی ویستلو او په ګرمو شږو به ئے څملولو او بربنډ به وو او ډیر کرت به ئے هغه ورِے کولو او لوږے او تندے به ئے پرے تیرولے ددے ډپاره چه دا به پرے اثر وکړی او د حق نه به واوړی او د تهولو نه سخته دا وه چه په ګرمو شږو به ئے څملولو (د مکے مکرمے کوم حاجیان چه تللی وی هغوی ته معلومه ده، انتهائی تیزه ګرمی ده او دا

زمکه انتهائی داسے گرمیږی لکه د تبئ په شان) نو په شړو کې به ئې واچولو او غته گټه به ئې پرې په خیټه کیخوده او تر هغه وخته پورې چه به نمر سوړ شوے نهٔ وو، دا به پروت وو۔ او تردے چه ددهٔ د ملا د وازدو او خولو نه به دغه گټې یخې شوے۔

دے سختئ ته وگوره چه خلکو د الله د دین دپاره دومره سختی تیری کړیدی، مونږ خو لږه گرمی نشو برداشت کولے او دهٔ به پدے سخته گرمئ کې د اَحَد اَحَد نعرے وهلے یعنی الله یو دے یو دے، یعنی تاسو پدے تکی خفه کیږئ نو زهٔ وایم چه الله یو دے، چا بلال ﷺ ته ووئیل: (مَا یَحمِلُكَ عَلٰی قَوْلِكَ أُحَد) تا به د اَحَد اَحَد تکی ولے وئیلو؟

نو هغه ووئیل، ما داسے خبره کتله چه مشرکان پرے ډیر خفه کیږی چه هغه ورته ووایم نو ما بله کلمه ونهٔ لیدله په غیر ددے نه چه اَحَد (الله یو دے) او د الله په یو والی دوی ډیر خفه کیدل نو ما پدے سره دوی ته درد رسولو ځکه مے اَحَد اَحَد وئیلو دوی به وئیل چه د محمد رسول الله ﷺ تابعداری پریده، د لات او منات او عزیٰ بندگی شروع کړه او ما به وئیل چه احد احد۔

سیدنا ابوبکر ﷺ د بلال ﷺ ملگرے او همزولے او د هغه په لاس ئې ایمان راوړے وو، یوه ورځ سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه پرے ورتیر شو او بلال رضی الله عنه ته دا تکلیفونه وو چه په گرمئ کې پروت وو نو امیه ته ئې اول ووئیل:

(اَمَا تَتَّقِی اللّٰهَ فِیْ هٰذَا الْمِسْکِیْنِ ؟)۔

آیا ددے مسکین په باره کې د الله تعالیٰ نه نهٔ یریږے؟۔ هغه ورته ووئیل: دا خو تاسو خراب کړیدے۔ (اسلام ته به دوی فساد وئیلو)

نو امیه ووئیل که تهٔ پرے دومره خفه ئې نو تهٔ ئې واخله؟

سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه ورته ووئیل: آو، زما سره یو تور قوی او چالاك غلام دے او ستا په دین دے (کافر دے) دا به پکې درکړم او دا مونږ ته پریده نو هغه ئې اُمیه ته ورکړو او د هغه نه ئې بلال رضی الله عنه واخستو او آزاد ئې کړو۔

پدے آزادولو کې فائده دا وه چه یو سړے به آزاد وو، هغه ته به څه نا څه تکلیف کم وو او که غلام به وو هغه ته به تکلیف زیات وو، یو سړے خپل کور لری علاقه کې خپل دکان لری، خپل کار لری او یو سړی هسے مسافر سړے دے، پدے دواړو کې ډیر فرق وی، مسافر سړی ته ډیر تکلیف وی او چه خپل ځای لری، آزادی لری، هغه ته

دومره تکلیف څوك نشي ورکولے۔ بلال رضی الله عنه آزاد شو،

سیدنا عمر فاروق ﷛ به فرمایل: (أَبُوبَكْرٍ سَيِّدُنَا وَأَعْتَقَ سَيِّدَنَا)

ابوبکر زمونږ سردار دے او زمونږ سردار (بلال) ئے آزاد کړیدے)، د ډیر عزت د وجه نه به ئے دواړو ته سرداران وئیل۔

سیدنا عثمان بن عفان ﷛ چه کله ایمان راوړو نو ددهٔ یو ترهٔ وو دا به ئے د کجورو په یو بزکی (پوزی) کی بند کړو او د لاندے نه به ئے ورته لوګے کولو چه هغه انتهائی تریخ لوګے وو، په هغے کی به ګرمی هم وه او سترګی او خُله هرڅه به ئے ورله ترخه کول او دا کار به ئے وخت په وخت کولو چه تا ایمان ولے راوړو؟۔

سیدنا مصعب بن عمیر ﷛ ایمان راوړو په مکه کی دا مالداره ځوان وو، مورئے هم مالداره وه، ښائسته جامے به ئے اغوستلے، قیمتی عطر به ئے لګول، او ښائسته ځوان وو چه کله ئے ایمان راوړو نو مورئے ورسره ورانه کړه او دا ئے ووئیل چه تهٔ نبی علیه السلام پریده هغه نهٔ پریښودو، نو هغے ترے خپلے جامے هم واخستے، او خپلے پیسے او مال ئے ترے هم واخستو، وړے ئے کړو تردے چه دے ته ئے مجبوره کړو چه مدینے ته ئے هجرت وکړو، مصعب بن عمیر د اولنو مهاجرینو نه دے چه مدینے ته تللے دے، د هغه د څرمنے نه به داسے پوستکی اوریدل لکه څنګه چه د مار نه پوستکی اوځی دا د ډیرے غریبئ او د لوږے د وجه نه۔

او بیا په غزوهٔ اُحد کی شهید شو، صرف یوه شړئ ورسره وه، صحابه کرام وائی که مونږ به ورله مخ پټ کړو خپے به ئے ښکاره شوے او که خپے به مو ورله پټے کړے سر به ئے ښکاره شو، دومره غربت حالت کی وفات شو، نبی علیه السلام وفرمایل: په خپو ورته سرګړے واچوئ او سر ورله پټ کړئ څکه د مړی بدن پټول پکار دی۔

د الله د دین دپاره ئے پرله پسے سختئے تیرے کړے او د الله د نعمتونو نه ئے دومره څه ونهٔ خوړل، تول ئے آخرت ته یوړل۔

روستو به راشی چه خباب بن الارت رضی الله عنه به وئیل چه بعض صحابه کرامو خو تول اجر آخرت ته یوړو او مونږ ته خو الله په دنیا کی هم د هغے بعضے بدلے راکړے۔

دارنګه په نورو صحابه کرامو قسم قسم مصیبتونه راغلی وو، ابوفُکیهه رضی الله عنه د ازد قبیلے نه وو نوم ئے اَفلح وو او د بنی عبد الدار قبیلے غلام وو، د هغه په خپه

کی بـه مشرکانو زنځیر واچولو او بربنډ به ئې کړو په سخته ګرمئ کی به ئې د مکې په کوڅو کی راښکلو او ماشومان به ورپسې وو او ملا باندې به ئې ورته غټه ګټه کیښوده تـردې چـه هغه به په ځان نهٔ پوهیدو، همدا عذابونه عذابونه وو تردې چه حبشو ته ئې دویـم هـجرت وکړو، یو ځل مشرکانو د خپې نه ترلې وو او په زمکه ئې راښکلو تردې چه پـه غـرمو کـی ئـې پـه یو ځای کی ئې وارتولو او مرئ او ساه ئې ورله خفه کړه تردې چه د هغـوی ګمان راغې چه مړ شو نو سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه پرې ورتیر شو نو وائې خستو او د الله دپاره ئې آزاد کړو۔ (رضی الله عنهما)

خباب بن الارت رضی الله عنه یو صحابی دې دا هم د ام انمار بنت سباع الخزاعیه په نـوم بـانـدې د یوې زنانه غلام وو، هغې زنانه به خلکو ته ووئیل چه دا زما غلام ووهئ نـو خـلك بـه ورپسې راتـلل او هغه به ئې وهلو ټکولو، کله به ئې ترې ویښته ویستل او کـلـه بـه ئې ورله څټ کړولو او په ګرمو شړو به ئې اچولو۔ خپلې مالکې به اُور بل کړو او وسپـنـه بـه ئې تـوده کړه او بیا به ئې ددهٔ د شا او د سر پورې نیوله دې دپاره چه په محمد (رسول الله ﷺ) باندې کفر وکړی لیکن د هغه ایمان به پدې سره نور هم زیاتیدو۔

او ډیـره سختـه ئې پـرې پـه هـغه وخت تیره کړې وه چه کله مشرکانو اُور بل کړو او سکـروټـې جـوړې شـوې او خبـاب رضـی الله عـنـه ئې راوستو او په هغې باندې ئې دپاسه څملولو او په خیټه باندې به ئې مشرکین کیناستل او یا به ئې پرې غټې ګټې کیښودې، هـغـه وختـه پـورې بـه دا پـدې سکروټو باندې پروت وو ترڅو چه به دا سکروټې ددهٔ په وینو او چربی (وازدو) مړې شوې نهٔ وې۔

د هـغـه د شا په وینو زو باندې به سکروټې مړې شوې، بیا به ئې پرېښودو۔ خباب بن الارت رضی الله عنه به کله صحابه کرامو ته خپله شا ښکاره کړه چه هغه به زخمی او قُطی قطی شوې وه او وئیـل به ئې چه دا د مشرکینو دلاسه شوې ده،

دومره سخت عذابونه مؤمنانو ته د الله د دین دپاره رسیدلی دی، دا هغه صحابه دی چـه دوی دین مونږ ته رارسولی دی، او دومره سختې ئې تیرې کړیدی، الله تعالیٰ دې ورته بی حده زیات نعمتونه او بدلې ورکړی آمین۔



د زنانو قربانی

درې څلور زنانه وې چه وینځې وې نهدیه او د هغې لور، زِنّیره او اُم عُبَیس او د بَنِي الْمُؤَمِّل وینځه، دې څلورو زنانو ایمان راوړې وو نو مشرکینو به وهلې تکولې او ضرر به ئې ورته رسول.

پدې کې زنیره رضی الله عنها رومئ وه، د رومیانو نه وه او د بنی عبد الدار وینځه وه، ځینې وائي د بنو مخزوم وینځه وه، ابوجهل به دې ته ډیر زیات عذابونه ورکول. دې چه کله ایمان راوړو په سترګو ړنده شوه، مشرکینو خاصکر ابوجهل وویل : أَصَابَهَا اللَّاتُ وَالْعُزّٰى. لات او عزیٰ ووهله.

ودې لیده چه بل دین ته واوړیدله سترګې ئې ترې واخستې او که نهٔ.

دا د مشرکانو همیشه عادت وی چه یو مؤمن باندې کله تکلیف راشي نو وائي چه ودې لیده اولیاؤ پسې به ئې خبرې کولې ځکه دا کار پرې وشو، حال دا چه مؤمن باندې کله مصیبتونه وی او کله راحت وی دا خو دلیل ددې نهٔ دې چه دا بابا ووهلو.

ابراهیم علیه السلام وئیلي وو چه که ما ته تکلیف راورسیږی دا به الله ما له لیکلې وی، داسې به نهٔ وایې چه باباګانو ووهلو، ما ته ستاسو باباګان هیڅ ضرر نشي راکولې:

﴿وَلَا أَخَافُ مَا تُشْرِكُونَ بِهِ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ رَبِّي شَيْئًا، وَسِعَ رَبِّي كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا﴾
(الانعام: ۸۰) نو دا خبره به نهٔ کوئ بلکه دا خو د الله د طرفه مقرر وی.

نو زنیره رضی الله عنها ورته جواب کی وویل : قسم په الله تاسو دروغ وایئ لات او عزیٰ نهٔ چا ته ضرر رسولې شي او نهٔ فائده، دا د الله تعالیٰ د طرفنه دی او زما رب پدې قادر دې چه ما ته بیرته نظر راواپس کړی نو په دغه شپه باندې زنیره رضی الله عنها د الله تعالیٰ نه سوال وکړو چه اې الله ! ما نه د مشرکانو دا خبره واوره چه دوی وائي دا لات او عزی ووهله، نو الله ورته سترګې بیرته راواپس کړې.

د الله طاقت ته وګورئ انسان چه ړوند شي بیرته نهٔ بنه کیږی لیکن الله رب العزت هغې ته د هغې سترګې بیرته واپس کړې، داسې کرامت ئې ورله ورکړو، د الله د ذات نه ئې دعا طلب کړه، د نیکانو خلکو داسې وخت کی دعا ډیره بنه قبلیږی.

مگر قریشو ددې باوجود هم، د الله قدرت نهٔ منلو او وې وئیل چه : دا هم د محمد د جادو نه یو قسم دې۔ هر کله چه ابوبکر صدیق رضی الله عنها دا ولیده چه دومره په عذابونو کی اخته ده نو دا ئې واخسته او د الله دپاره ئې آزاده کړه۔

(اسد الغابة لابن الأثير الجزری ۱/۱۳۵٦)

اُم عُبَیْس د بنو زُهره ؤ وینځه وه دې چه کله اسلام راوړو نو مشرکانو به ورته سزاګانی ورکولې خاصکر ددې مولیٰ (مالك) اسود بن عبد یغوث ځکه چه دا د رسول الله ﷺ په ډیرو سختو دشمنانو کی وو او په هغه کسانو کی وو چه د رسول الله ﷺ پورې به ئې توقې کولې۔

یوه وینځه وه د بنی عمرو بن المؤمل د بنی عدی قبیلې نه نوم ئې (لَبِیْبَه) وو نو عمر بن الخطاب به ورته سزاګانی ورکولې ځکه چه دې په دغه وخت کی په زمانه د شرك کی وو۔ نو دومره به ئې ووهله چه عمر به ترې ستړې شو بیا به ئې پریښودہ او دا به ئې ورته وویل چه قسم په الله د ستړي والی د وجه نه مې پریښودلې، نو هغې به ورته ویل : کَذٰلِكَ یَفْعَلُ بِكَ رَبُّكَ۔ (دغه شان کار به ستا رب ستا سره کوی) بیا ترې دا ابوبکر صدیق واخسته او آزاده ئې کړه۔

(السیرة الحلبیة ۱/٤۸۲) والسیرة النبویة عرض ووقائع ۱/۲۳۳)

نهدیه او د هغې لور دواړه د بنی عبد الدار قبیلې د یوې ښځې وینځې وې دوی چه کله اسلام راوړو نو دوی ته هم ډیرې زیاتی سزاګانی ورسیدلې لیکن دوی د الله تعالیٰ دپاره برداشت کړې۔ او خپلې مالکې به ورته وئیل چه قسم په الله زهٔ به ستا د سزا نه نهٔ جدا کیږم مګر دا چه ستا بعض صابیان راشی او تا زما نه واخلی، نو ابوبکر صدیق رضی الله عنه راغې او دا ئې ترې واخسته (الرحیق المختوم) امتاع الاسماع (۹/۱۱۳)

او عامر بن فهیره رضی الله عنه ته به دومره عذاب ورکړې شو تردې چه هغه به بی حواسو شو، د وهلو د وجه نه به په خبرو به نهٔ پوهیدو۔

دا اوه کسان (یعنی بلال او عامر بن فهیره او دا پنځه وینځې) ابوبکر صدیق رضی الله عنه واخستل او د الله دپاره ئې آزاد کړل،

هغه خپل پلار (ابو قحافه) پدې کار ملامته کړو او دا ئې ورته وویل چه تهٔ کمزوری غلامان اخلې او هغه آزادوې که تا قوی خلك آزاد کړی وې نو ستا به پکار شوی وې

صبا به ستا ملا ته ولاړ وي، هغه ورته وويل: د دوی په آزادولو کی زما يو مقصد دے (يعنی زما د الله تعالیٰ د مخ او رضا اراده ده)۔ نو پدے باره کی دا آيتونه نازل شو:
﴿وَسَيُجَنَّبُهَا الْأَتْقَى الَّذِي يُؤْتِي مَالَهُ يَتَزَكَّى﴾ (اللیل: ۱۷)

(زر دے چه ددے اُور د جهنم نه به وړاندے کړے شی هغه شخص چه مال دے دپاره ورکوی چه ځان پاك کړی)

د يو كور درے كسان وو چه هغوی ايمان راوړے وو، ياسر رضی الله عنه، د هغه ښځه سميه رضی الله عنها او د هغه ځوی عمار رضی الله عنه۔ دا درے واړه د ابوجهل د قوم بنو مخزوم په غلامیٔ کی وو، دوی ته هم د الله د دين دپاره ډير زيات تكليفونه وركړے شوی وو۔ د الله عادت دا دے چه دا مظلومان او كمزوری خلك پدے كافرو باندے وهی، دے دپاره چه دا كافر الله صبا له اُور ته بوځی نو د الله حجت به پرے قائم وی او هغه مظلومانو باندے لړه سخته تيره كړی جنت ته ئے داخل كړی او بل طرفته پدے كافر حجت قائم كړی چه دا ظلم دے ولے كړے دے؟ اُوس به اُور ته ځے،

د بعض دشمنانو كافرانو د لاس نه الله د كفر كار زيات اخلی پدے طريقه دے د جهنم اُور دپاره تياره وی، د سخت عذاب اراده ئے ورته كړے وی)۔

ابوجهل به دا درے واړه هم دغسے گرمیٔ ته ويستل او وهل ټكول به ئے او عذابونه به ئے وركول تردے چه ياسر رضی الله عنه په دے عذاب عذاب كی شهيد شو۔

رسول الله ﷺ به په دوی باندے تيريدو او هيڅ به ئے نشو كولے، صرف دا خبره به ئے ورته كوله: (صَبْرًا يَا آلَ يَاسِرٍ! فَإِنَّ مَوْعِدَكُمُ الْجَنَّةُ)۔

اے د ياسر كورنیٔ! صبر كویٔ يقيناً ستاسو د وعدے ځای جنت دے)

سميه رضی الله عنها ته ابوجهل (عَلَيْهِ لَعْنَةُ اللهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِيْن) ووئيل په محمد رسول الله ﷺ باندے كفر وكړه، هغے انكار وكړو ځكه چه ايمان ئے د زړهٔ كومی ته رسيدلے وو نو دهٔ به ورته پيغور وركولو:

(إِنَّكِ آمَنْتِ لِأَجْلِ الرِّجَالِ) تا ايمان ددے دپاره راوړيدے چه د محمد (رسول الله ﷺ) د سړو سره ملگرے كيدل غواړے)

يعنی ستا سړی خوښ دی ځكه دے ايمان راوړو او دغه شان نورے ناكاره كنځلے به ئے ورته كولے ځكه چه ابوجهل ډير فاحش او بد زبانه انسان وو۔

په بعض تاریخي روایتونو کې راغلي چې یوه ورځ ورته دومره غصه شو چې سمیه رضي الله عنها ئې د دوه اُوښانو پورې دیو یو پښې نه وتړله او هر یو اُوښ ئې جدا جدا طرفونو ته روان کړو او خپله نیزه ئې راواخسته او د هغې نه ئې جامې ویستلې او په شرمګاه کې ئې ووهله نو په دې حالت کې شهیده شوه. (رضي الله عنها وارضاها)

ددې وجه نه سمیه رضي الله عنها ته په اسلام کې اوله شهیده وئیلې شویده، چه د الله د دین دپاره ئې سخته تیره کړه، فرعون هم اوله زنانه شهیده کړه چه د هغې نوم ماشطه وه او د هغې دوه بچي ئې اور ته اچولي وو.

عمار بن یاسر ﷺ ئې راونیولو، هغه ته ئې تکلیفونه ورکول، وهلو ټکولو به ئې او دا به ئې ورته وئیل چه شا به په محمد (رسول الله ﷺ) پسې خبرې وکړه، د هغه وخته پورې به دې پرېدو نهٔ ترڅو چه تا هغه پسې څه ردې بدې نهٔ وی وئیلي او زمونږ د لات او عزیٰ صفت دې نهٔ وی کړې. نو عمار بن یاسر د نابرداشته تکلیفونو په وجه لږې شان خبرې وکړې، بعض صحابه کرام راغلل او وې وئیل یارسول الله! عمار خو کافروته تسلیم شو ځکه مشرکینو وهلو هغه د کفر خبره وکړه. نبي علیه السلام د سیدنا عمار رضي الله عنه تائید وکړو او وې فرمایل: (مُلِیَٔ مِنَ الْاِیْمَانِ اِلٰی مُشَاشِهٖ)

عمار بن یاسر (رضي الله عنه) د ایمان نه داسې ډك شویدې چه ایمان ئې د هډوکو سرونو ته رسیدلې دې). هغه هیڅکله کفر نهٔ کوی هرڅومره سخته چه پرې راشي.

پدې کې سیدنا عمار بن یاسر رضي الله عنه راغې، رسول الله ﷺ سره مُلاو شو، وې فرمایل: یا رسول الله! زهٔ کافر شوې یم، ما خو د کفر خبره کړیده؟

نبي علیه السلام ورته وفرمایل: (اِنْ عَادُوْا لَكَ فَعُدْ)

که دوی دربانده بیا زور وکړي او عذاب درکوي، تهٔ بیا هم داسې خبره کولې شې. دیته اکراه وائي.

الله رب العزت دا آیت ددهٔ په باره کې نازل کړو:

﴿مَنْ كَفَرَ بِاللّٰهِ مِنْ بَعْدِ اِیْمَانِهٖۤ اِلَّا مَنْ اُكْرِهَ وَقَلْبُهٗ مُطْمَئِنٌّۢ بِالْاِیْمَانِ وَلٰكِنْ مَّنْ شَرَحَ بِالْكُفْرِ صَدْرًا فَعَلَیْهِمْ غَضَبٌ مِّنَ اللّٰهِ﴾ (النحل:۱۰۶)

چا چه کفر وکړو په الله باندې روستو د ایمان د هغه نه نو په دهٔ باندې به د الله غضب وی او لوی عذاب به ورکوی مګر په چا باندې چه زور وشي او زړهٔ کې ئې دننه ایمان

وی دغه کسان گنهگار نهٔ دی)۔
اکراه دیته وائی چه تا څوك وژنی، لاس درنه پریکوی، داسې تکلیف درکوی چه تهٔ هغه نشې برداشت کولې، تا له دوه طریقې جائز دی یو دا چه پدې کافرو ځان شهید کړې او کلمه د کفر ورته ونهٔ وائې اګرکه تا مړ کړی او دا ډیر اُوچت شهادت دے چه د کافرو باطل په ظاهر کی هم ونهٔ منی۔
نبی ﷺ وفرمایل: شرك مهٔ کوه (وَاِنْ قُتِلْتَ اَوْ حُرِّقْتَ) اګرکه څوك تا مړ کړی یا دې وسیزی۔
دویم رخصت او اجازت دے چه هغوی ته د کفر کلمه ووایه چه زهٔ ستاسو ملګرے یم، زهٔ مسلمان نهٔ یم، لیکن زړهٔ کی به ستا دننه ایمان وی چه کله د دوی د عذاب نه خلاص شوې او د امن ځای ته راغلې بیرته به په خپل ایمان باندے عمل شروع کوې خو په دغه کلمه د کفر به تهٔ خفه هم یې او په هغه ځای کی به یې وائې چه کوم ځای کی ډیر تکلیف او سخت ضرورت وی چه د هغې نه بغیر هیڅ چاره نهٔ کیږی، د دنیا د مال متاع دپاره به نهٔ وی۔
غرض دا چه مشرکینو نبی علیه السلام او صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین ته قسم قسم تکلیفونه ورکړی وو چه هغه واقعات انسان وګوری نو زړهٔ یې درد کوی چه دے خلکو باندے څومره سختی تیری شویدی او دا څومره عجیب ایمان دے چه دے زړهٔ ته دننه پریوتے دے، نهٔ پکی پیسے شته او نهٔ پکی ظاهراً کوم راحت شته او نهٔ په کی د دنیا مال متاع شته او دومره تکلیفونه ورته رسیږی او بیا هم په دین باندے کلك ولاړ وی، ددې څه عجیب اسباب دی چه هغه به روستو بیان شی چه دے صحابه کرامو ولے دومره صبر کولو؟
ددے یو وجه دا وه چه د ایمان په حلاوت او خوند باندے پوهه شوی وو، کله چه سړے د ایمان په خوند پوهه شی، د هغه په زړهٔ کی د الله کامل محبت پریوزی او صحیح او مضبوط ایمان یې په الله باندے جوړ شی نو ددے خبرو پراه نهٔ ساتی، د کافرو د جیلونو او نهٔ د هغوی د وهلو پرواه لری او نهٔ د هغوی د وسلے پرواه لری، دنیا ورته معمولی شے ښکاره شی او ایمان ورته ډیر لوی ښکاره شی۔
مونږ ته دنیا لویه ښکاره شویده، دکان به مو خراب شی، کاروبار به مے خراب شی،

جیل تـه بـه لاړ شم او په زندان کې به مې وخت ځنګه تیریږي، جیل ورته داسې ښکاري لکه جهنم حال دا چه جیل دومره شې نهٔ دې، د الله عذاب جدا دې او د انسان جدا دې، د انسان عذاب دومره سخت نهٔ دې لکه د الله د عذاب پشان لیکن د الله تعالیٰ نه عافیت غوښتل ضروري دي او کله چه مصیبت راشي بیا ورته صبر پکار دې۔

دار الارقم د مسلمانانو مرکز جوړیدل

دا تکلیفونه مسلمانانو ته ورسیدل پدې کې نبي علیه السلام د یو حکمت نه کار واخستو چه د دعوت دپاره ئې یو مرکز جوړ کړو (دار الارقم) ارقم رضی الله عنه پخوانې مسلمان وو، ددهٔ کور د صفا غونډۍ شا ته واقع وو، نبي علیه السلام به ملګرو ته وئیل چه تاسو به خپل ایمان نهٔ ښکاره کوئ او خلکو ته دعوت ښکاره مهٔ ورکوئ وجه دا ده چه ددې کافرو نه مونږ ته ډیر تکلیف رسیږي، که تاسو ایمان او اعمال راښکاره کړئ نو دا کافر مو نهٔ پریږدي، ضررونه درکوي. او زهٔ به ښکاره دعوت او ښکاره اعمال کوم۔

نو رسول الله ﷺ به ښکاره مونځ هم کولو او دعوت به ئې هم ښکاره کولو په کومه طریقه چه به ئې کول پکار وو کله په پټه او کله په ښکاره۔

او مؤمنانو خپل احوال پټ کړي وو، نبي علیه السلام به ښکاره د مؤمنانو سره ملاویدو هم نهٔ، نو دوی له ئې یو ځای مقرر کړو چه هلته راځئ او هلته به ایماني او دیني خبرې کوو او د نفس تزکیه او تربیت به هلته کوو، ښکاره ئې ځکه نهٔ کول چه بیا مشرکان مینځ ته راوتل او دا کسان ئې نهٔ پریښودل۔

﴿وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَسْمَعُوا لِهَٰذَا الْقُرْآنِ وَالْغَوْا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُونَ﴾

(حم السجدة: ٢٦)۔

کافرو به وئیل چه قرآن مهٔ آورئ او شور پکې جوړ کړئ دې دپاره چه ملګري ئې خبره وانهٔ وري۔

نو نبي علیه السلام به ئې خپلو ملګرو ته نهٔ پریښودو او ملګري ئې هغه ته نهٔ پریښودل نو رسول الله ﷺ به په دار ارقم کې پټ د هغوی سره ملاویدو (جهاد ئې نهٔ شروع کولو ځکه چه لا حکم نهٔ وو راغلې دارنګه مسلمانان کمزوري وو، د جهاد

برداشت ئے نشو کولے ځکه جهاد خو صرف جګړے ته نۀ وائی بلکه د الله دین غالبه کول وی، نو اول به ځانله د امن قرارګاه جوړه کړے او د هغے نه به جهاد کوے دا د رسول الله ﷺ د جهاد اصول وو۔

که نبی علیه السلام د دوی سره ښکاره ملاویدلے نو بیا جنګ شروع کیدو لکه یو ځل داسے وشول چه صحابه کرام به بهر شاړو ته وتلل، هلته به ئے د الله عبادت کولو نو یو وړوکے جماعت (څلور پنځه کسان) په صحراء کی ناست دی، عبادت کوی پدے کی مشرکین پرے ورتیر شو چه دا څه کوئ؟ صحابه کرامو ورته ووئیل: مونږ دلته عبادت کوو نو مشرکینو کنځلے وکړے نو سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه چه پدے وخت کی ئے ایمان راوړے وو هغه ته غصه ورغله یو مشرك ئے پدے مخ ووهلو او سپیړمه ئے پرے ماته کړه او دا اولنئ وینه وه چه په اسلام کی توی شوه۔

(سیرت ابن اسحاق)

نو که داسے مقابله زیاته شی نو بیا ددے نه نور اختلافات ډیریدل او که چرته دا اختلافات ډیر شی نو مسلمانان ختمیدل ځکه مسلمانان کمزوری وو نو نبی علیه السلام دا حکمت اختیار کړو چه دا ملګری ئے پټ کړل او د دوی سره به ئے پټ ملاقات کولو۔

د مشرکانو د یهودو نه ددے نبی په باره کی تپوسونه

پدے کی ناشنا واقعه راغله چه مشرکینو د رسول الله ﷺ د دعوت د مخنیوی دپاره خپل مینځ کی دا مشوره وکړه چه ددے سړی دعوت خو روان دے او دے ددے کار نه نۀ ایساریږی او ملګری ئے وخت په وخت ډیریږی داسے کوو چه څو ددے یهودیانو نه تپوس کوو ځکه دا کتابیان دی، د پخوانو کتابونو علم ورسره دے، ددے سړی په باره کی به مونږ ته څه ووائی چه دا رشتیا پیغمبر دے او که دروغژن دے ؟ چه حقیقت معلوم کړو۔ نو دوی دوه درے کسان ددے کار دپاره منتخب کړل چه تاسو مدینے ته لاړ شئ هلته یهود وسیږی او د هغوی ملیان دی د هغوی نه تپوس وکړئ،

نو دوی مدینے ته ورسیدل او د یهودیانو نه ئے تپوس وکړو چه زمونږ په کلی کی یو سړے پیدا شویدے محمد ئے نوم دے، د نبوت دعویٰ کوی او داسے داسے مسئلے کوی،

د الله توحيد بيانوي، د آخرت خبرے كوي، د نبي عليه السلام چه كوم دعوت وو هغه ئے ورته ذكر كړو نو تاسو ددۀ په باره كي څه وايئ؟

نو د يهودو مليانو ورته درے اعتراضه وخودل، ورته ئے ووئيل چه داسے وكړئ چه درے تپوسونه ترے وكړئ كچرته د دغه درے سوالونو جواب ئے دركړو نو دا به نبي وي، تابعداري ئے پكار ده او كه د هغے جواب ئے درنكړو نو دا به نبي نۀ وي، دروغژن به وي. هغوي ووئيل چه دا خبره خو د انصاف ده، كوم دي؟ نو هغه درے تپوسونه دا وو:

(۱) د اصحاب كهف په باره كي ترے تپوس وكړئ چه څه هلكان په پخوا زمانه كي ورك شويدي د هغوي خبر مونږ ته بيان كړه.

(۲) د روح په باره كي ترے تپوس وكړئ چه د انسان په بدن كي دا روح دے، ددے مونږ ته وضاحت وكړه كه ډير وضاحت ئے وكړو نو دا به نبي نۀ وي او كه بيخي ئے درته څه ونۀ وئيل هم نبي به نۀ وي او كه اجمالي شان خبره ئے وكړه نو دا به نبي وي ځكه د روح په باره كي څوك تشريح نشي كولے چه دا څنګه شے دے او بالكل ترے انكار هم څوك نشي كولے چه دا نشته او هيڅ شے نۀ دے دا هم كم علمي ده.

(۳) دريم تپوس دا چه يو بادشاه پخوا زمانه كي تير شويدے، مشرق او مغرب ته تلے دے، اول مغرب بيا مشرق ته تلے دے، او جنوب او شمال ټوله دنيا كي ګرځيدلے دے ددے سړي واقعه راته بيان كړه. يعني ذو القرنين.

مشركينو دا سوالونه مكے ته راوړل، خپلو مشرانو ته ئے دا خبره وكړه چه د يهودو مُليانو خو مونږ ته دا خبره وكړه، مشركانو محمد (رسول الله ﷺ) راطلب كړو چه دلته راشه، نبي عليه السلام به په ډيره جلتئ سره ورتللو چه كيدے شي دے خلكو څه فكر كړے وي او زما په باره كي ورته څه رايه ښكاره شوي وي او الله ورته د ايمان توفيق وركړي نو نبي عليه السلام ورغلو، هغوي ورته ووئيل چه مونږ ستا نه درے تپوسونه كوو، كه د هغے جواب دے راكړو تۀ د الله حق پيغمبر ئے، تابعداري به دے وكړو او كه جواب دے رانكړو نو تۀ به دروغژن ئے، خپل دعوت به بندوے؟، نو دوي ترے تپوس وكړو چه اصحاب الكهف څوك دي، د ذو القرنين او د روح په باره كي ئے تپوسونه وكړل.

نبي عليه السلام ووئيل چه زۀ به تاسو ته صبا جواب دركوم. د الله امتحان وو، د

نبی علیه السلام نه ان شاء الله وئیل هیر شو، رسول الله ﷺ د الله ډیر زیات او غټ ذاکر وو چه د هغه نه په دنیا کی لوی ذکر کونکے بل نشته خو امتحان چه کله راشی نو ان شاء الله ترے هیره شی۔

د نبی علیه السلام گمان دا وو چه صبا له به وحی کیږی مگر چه صبا شو وحی الله راونهٔ لیږله، په بله ورځ هم رانغله، په دریمه، څلورمه، پنځمه هم رانغله، مشرکانو خنداگانے شروع کړے چه سرے خو مو په ډیرو بنه اعتراضونو کی راگیر کړو، مونږ سره ئے خو وعده کړے وه چه صبا به جواب درکړم او صبا خو ئے جواب رانکړو، دا څومه ورځ شروع ده او جواب نهٔ ملاویږی۔

بعض روایتونو کی دی چه څلویښت ورځے تیرے شوے، څلویښتو ورځو پورے الله وحی نهٔ نازلوله، الله غنی ذات دے، هیڅ ته ئے ضرورت نشته دے، که څوك ایمان راوړی، رادے وکړی او که نهٔ ئے راوړی نو نهٔ دے راوړی، د الله پرے څه!۔

نبی علیه السلام ډیر زیات پریشانه شو چه ما خو د دوی سره وعده کړے وه چه زهٔ به جواب درکوم او دا خو وحی ما ته نازله نشوه او مشرکین خندا او استهزاگانے کوی او زما وعده کی خلاف هم راغے نو نبی علیه السلام ته ډیره پریشانی ورسیده او مشرکینو دا خبره هم وکړه : (قَدْ وَدَّعَهُ شَيْطَانُهُ)

شیطان به پرے اُوسه پورے کیناستلو اوس ورله هغه هم نهٔ راځی۔

نو الله رب العزت سورة الضحیٰ نازل کړو :

﴿ وَالضُّحٰى وَاللَّيْلِ اِذَا سَجٰى مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلٰى ﴾۔

چه پدے کی د نبی علیه السلام عظمتِ شان بیان شو چه اے زما نبی ! تهٔ خپل رب نهٔ ئے پریښودے او نهٔ درسره هغه بغض لری، تهٔ همغه شان محبوب ئے خو ددے وحی په روستوالی کی د الله حکمتونه وو یو دا چه تا ان شاء الله نهٔ وه وئیلے، نو د دغه وجے نه وحی روستو شوه۔

بله دا چه په مشرکینو باندے امتحان کول مقصد دے، او په سورة الکهف کی الله پاك خپل نبی ته داسے ادب ورکړو :

﴿ وَلَا تَقُوْلَنَّ لِشَيْءٍ اِنِّيْ فَاعِلٌ ذٰلِكَ غَدًا اِلَّا اَنْ يَّشَاءَ اللّٰهُ ﴾ (الکهف:۲۳)

ډیر ښکلے ادب ئے ورته ورکړو چه تهٔ کله هم یوه خبرے کوی چه زهٔ به دا کار صبا له

کوم نو ان شاء الله پکی وایه۔

اکثر انسانان د الله نه غافل دی، ان شاء الله لفظ د هغه په خُله کی نهٔ وی، داسے به وائی ((دربه شم، در روان یم، دوه بجے به در ورسو، صبا مازیگر به دا کار کوم))

او ان شاء الله پکی نهٔ وائی نو ځکه ئے الله تعالیٰ کار هم سرته نهٔ رسوی، او مؤمن سړے چه کله ان شاء الله پریدی نود هغه ډیر کار خرابیږی او الله ورته سزا ورکوی او ډیر فاسقان ئے نهٔ وائی نو الله ورله دومره سزا نهٔ ورکوی وجه دا ده چه هغه دپاره ئے د آخرت سخت عذابونه تیار کړیدی۔ بیا ان شاء الله به یواځے په خُله نهٔ وائی بلکه په زړهٔ کی به هم وائی۔ د ان شاء الله معنیٰ ده : که د الله د ذات اراده وه نو دا کار به کیږی۔ او په زړهٔ کی به دا خبره تیره کړی۔ په ان شاء الله سره د انسان په ایمان کی پوره والے راځی او کار به ئے هم کیږی۔

په یو حدیث کی دی چه سلیمان علیه السلام مجاهد پیغمبر وو، هغه یوه ورځ ووئیل چه زما نوی بیبیانی دیٔ په بعض روایتونو کی راځی چه سل ښځے ئے وے (پیغمبرانو له الله ډیرے بیبیانی جائز کړیدی) نو سلیمان علیه السلام ووئیل چه زهٔ بیگاه له ټولو بیبیانو ته نزدے کیږم او کال چه تیریږی هریو به یو یو بچے راوړی نو سل مجاهدین به پیدا شی، هره ښځه به یو فارس او شهسوار راوړی (يُجَاهِدُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ) چه د الله په لار کی به جهاد کوی۔

(د انسان چه سل بچی وی او ټول مجاهدین وی دا خو لوی کمال دے، ډیر بچی پیدا کول ددے دپاره پکار دی چه مجاهدین زیات شی او ډیر بچی ددے دپاره ښه وی چه مړ شو نو هم ستا دپاره فائدہ ده، الله به دے پرے جنت ته داخل کړی او که ژوندی پاتی شی یا خو به طالب العلم وی یا به مجاهد وی یا به د الله د دین په بله شعبه کی استعمالیږی لیکن پدے شرط چه تربیت به ورله کولے شی، هسے پو ډریان به ترے نهٔ جوړوی، د بچو تربیت ضروری شے دے، هسے بچی زیاتول او هغوی په وانړو او ډیرانو کی پریښودل یا آزادی ورکول چه ویډیو گیمونه کوی او کیبلے گوری ددے زیاتول مطلوب نهٔ دی)۔

نو سلیمان علیه السلام ته ملائکو ووئیل چه ان شاء الله ووایه، خو هغه زیات مصروف وو، د ډیر مصروفیت په وجه د ملائکو خبره ئے وانهٔ وریده ان شاء الله ترے هیره شوه۔

(کله د ډیر مصروفیت په وجه د سړي نه خبره هیره شي، نبي دے خو خبره ترے هیریږي)

ان شاء الله ئے چه کله ونهٔ وئیله نو ټولو بیبیانو سره ملاو شو او په آخر کي یو هم بچے رانهٔ وو سوی د یوے بي بي نه چه د هغے بچے پیدا شو هغه هم ناقص وو۔

نبي علیه السلام وفرمایل : قسم په الله ! که سلیمان علیه السلام ان شاء الله وئیلے وے الله به ورله سل بچي ورکړي وے (کُلُّهُمْ فَارِسٌ یُجَاهِدُ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ) هر یو به شاهسوار وے او د الله په لار کي به ئے جهاد کولے د ان شاء الله دومره برکت وو۔

نو الله سورة الکهف نازل کړو چه دا یو ښکلے سورت دے پدے سورت کي څه اشارات ئے وکړل، قرآن داسے کتاب دے چه یو پکي ظاهري قیصے او واقعات او مسئلے دي او یو پدے کي اشارات دي، نبي علیه السلام فرمائی: د قرآن یو ظاهر دے بل باطن۔ ظاهر قرآن خو ښکاره خبرے دي، زر معلومیږي او باطن کي ئے پټو پټو خبرو ته اشارات وي چه داسے وکړئ او داسے مهٔ کوئ او واقعاتو ته پکي اشارات وي چه د فلانی پشان کار وکړئ او د فلانی پشان نهٔ او د اد قرآن کریم د علومو نه ده چه الله رب العالمین ئے په بعضو خلکو راکولاووی۔

نو سورة الکهف الله راولیږلو چه د مشرکانو د دغه خبرو جواب ئے هم ورته ورکړو چه د اصحاب الکهف واقعه واورئ، دے واقعه کي دننه بے شماره فائدے په مشرکینو باندے ردونه دي او د ذو القرنین واقعه ئے هم ورته ذکر کړه او دارنګه د روح په باره کي جواب ئے ورته په سورة بني اسرائیل کي ذکر کړو۔

او په سورة الکهف کي ئے نبي علیه السلام ته دا خبره کړیده چه دوی ته ووایه چه تاسو ددے خبرو تپوس کړیدے که الله دا واقعات رانهٔ ولیږي نو ددے نه غوره کتاب ئے ما له راکړیدے، دغه دے پکي نهٔ وي۔

یو مشرك ما نه یو تپوس وکړي او ما د هغے جواب ونکړو ددے خو دا مطلب نهٔ دے چه زما مذهب غلط دے، دین او اسلام مے غلط دے، دا جواب دے نهٔ وي زما نور دین ته وګوره څومره کامل دین دے۔

که مشرکانو ته الله دا جوابونه نهٔ وے ورکړي هم د الله دین صحیح او حق دے دا خو څه اشکال نهٔ دے چه تاسو ئے پیدا کوئ،

او دا د اُوسنئ زمانے د بدعتیانو طریقه هم ده چه په اهل حقو دا اعتراض کوی چه الله اکبر وښایئ چه دا فرض دے که سنت او که واجب۔ دارنګه سبحانك اللهم به په جهر وائی او که په پټه به ئے وائی، دے کی حدیث راوښایه، خلك پدے متأثره کوی چه بس د امام صاحب مذهب کی داخل شئ او قرآن او حدیث پریدئ ځکه چه پدے کی ټول دین نشته العیاذ بالله ولا حول ولا قوة الا بالله)۔

نو په سورة الکهف کی الله تعالیٰ اشاره کوی چه اصحاب کهفو خود شرك نه تیښته کړے وه او اے مشرکانو! تاسو د هغوی په باره کی تپوس کوئ او د هغوی عقیدے ته نهٔ ګورئ چه هغوی خو ستاسو د شرك نه تنګ راغلی وو۔

او بله فائده دا وه چه هغوی د الله د دین دپارهٔ هجرت کړے وو، علاقه ئے پریښے وه نو اے مؤمنانو! په مکه کی تاسو ته تکلیف او مشقتونه ډیر رسیږی نو تاسو هم هجرت وکړئ لکه څنګه چه اصحاب کهفو کړے وو۔ دارنګه ذو القرنین هجرت کړے وو د الله د دین د دعوت دپاره، هغه د نورو مومنانو سره مدد کولو، تاسو هم لاړ شئ حبشو ته هلته نیك بادشاه او نیکان خلك دی الله به ستاسو حفاظت وکړی،

او ددے سره ئے سورة الزمر راولیږلو چه په هغے کی ئے وفرمایل:

﴿قُلْ يَا عِبَادِ الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا رَبَّكُمْ لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا فِي هَٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ وَأَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةٌ﴾ (۱۰)

اے زما بندګانو چه ایمان مو راوړیدے! د خپل رب نه ویریږئ، دپاره د هغه کسانو چه نیکی ئے کړیده او کلمه د توحید ئے وئیلے ده پدے دنیا کی ښائسته ژوند دے او زمکه د الله تعالیٰ فراخه ده) او په سورة العنکبوت کی ئے هم وفرمایل:

﴿يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ أَرْضِي وَاسِعَةٌ فَإِيَّايَ فَاعْبُدُونِ﴾ (العنکبوت: ۲۶)

اے زما بندګانو! زما زمکه فراخه ده نو هر ځای چه یئ نو زما بندګی وکړئ۔ او ورسره د رزق تذکره ئے وکړه، که تاسو وایئ چه څه به خورو، رزق به د کوم ځای نه پیدا کوو نو الله وفرمایل چه ډیر حیواناتو ته الله تعالیٰ روزی ورکوی نو تاسو ته به ئے هم درکوی، د صبر او د توکل نه کار واخلئ۔

دین ډیر اُوچت شے دے ددے د حفاظت دپاره به خپل کلے، علاقه او ملك پریدے لکه تهٔ په یو ځای کی په فتنه کی اخته کیږے یا په دین باندے عمل نشے کولے نو د هغه

ځای نـه بـه هجرت کوے، چا سره چه د الله د دین قدر او قیمت وی نو هغه د هجرت په قدر پو هیږی۔

نو پدے آیتونوکی غرض دا وو چه تاسو د مکے نه هجرت وکړئ ووځئ۔

حبشو ته هجرت

نـو ددے نـه روستـو نبی عـلیـه السلام خپلو ملگرو ته ترغیب ورکړو چه هجرت ته تیـار شـی، د نبـوت څـلورم کال شروع دے ددے په مینځ او آخر کی د کافرانو ظلمونه او تـکـلیـفـونه کمزوری وو بیا ورځ په ورځ او میاشت په میاشت مضبوطیدل تردے چه د پـنـځم کـال نیمائی کی انتهائی سختئ ته ورسیدل او په صحابه کرامو باندے د مکے زمـکـه تـنـگـه شـوه، بیـخئ گوزاره گرانه شوه نو رسول الله ﷺ د دغه آیتونو د مخه خپـلـو مـظلـومـو کـمـزورو مـلـگرو ته حکم وکړو چه حبشو ته هجرت وکړی چه ددے دردناك عذابونونه په امان کی شی۔

او نبی علیه السلام خپله نهٔ وتلو ځکه چه هغه د الله اجازے ته منتظر وو لیکن نورو مـومـنـانو ته ئے ووئیل چه تاسو لاړ شئ او حبشو ته هجرت وکړئ ځکه چه رسول الله ﷺ تـه مـعـلو مه وه چه د حبشو بادشاه اصحمه چه نجاشی ورته وائی یو عادل بادشاه دے د هـغـه پـه خوا کی په چا باندے ظلم نهٔ کیږی نو خپلو ملگرو ته ئے حکم وکړو چه خپل دین د فتنو نه وتبنتوی،

نـو د رجب پـه میاشـت کی پـه پـنـځم کال د نبوت کی د صحابه کرامو رومبنئ ډلے حبشـو تـه هجرت وکړو چه دوی دولس کسان سړی او څلور زنانه وے چه مشرئے سیدنا عـثـمـان بـن عـفـان رضـی الله عـنـه وو او د هغه سره د رسول الله ﷺ لور رقیه رضی الله عنهـا هـم وه چـه ددے دواړو په باره کی رسول الله ﷺ وفرمایل : دا اولنے کور دے چه د الله په لاره کی ئے هجرت کریدے روستو د ابراهیم او لوط علیهما السلام نه)۔

او نور هم بنکلی او قوی مسلمانان پکی شامل وو، دوی د شپے هجرت وکړو، حبشو تـه روان شـو، یـریدل چه قریش به مو ونیسی او سخت عذاب به راکړی نو ځکه ئے پټ هجرت وکړو کله چه ساحل البحر (د دریاب غاړے) ته ورسیدل، نو دوه تجارتی کشتئ

روانے وے، دا کسان ئے حبشو ته بوتلل۔

مشـرکین چه خبر شو سمدست ورپسے روان شو او د درباب غاړے پورے ورپسے لاړل چه دا مونږ نیسو او سخته سزا ورله ورکوو،

هـجـرت تـه ئے هم نۀ پریښودل، دومره غلیظ کافر وو، داسے ئے ونۀ وئیل چه ځي دي، خپـل کـار دے کـوی۔ دوی د فرعونیانو په شان غټ کافر وو، فرعونیانو د بنی اسرائیلو پسے منډه ووهله چه دا ولے زمونږ نه تښتی نو ورپسے راروان شول، بنی اسرائیل ترے په درباب پورے وتل، د فرعون سترګے پټے وے نو هغه ورپسے درباب کی ورګډ شو تردے چه الله تعالیٰ غرق کړو، دیته ئے نۀ کتل چه دا درباب چا دوی ته ودرولو؟ او دولس لارے ورتـه چا جوړے کړے؟ او دا د غرونو پشان اُوبه ولاړے دی، که دا راباندے راروانے شی، یو تـن هم پکی د عقل او مشورے والا نۀ وو، نو الله پرے اُوبه راګوزار کړے او ټول ئے جهنم ته ورسول۔)

د مکے مشـرکانـو هـم د فرعون پشان منډے تړړے وهلے لیکن صحابه کرام ترے الله تعالیٰ په امن او امان کی حبشو ته ورسول او هلته ئے د سکون او د آرام ژوند تیرولو۔

د مسلمانانو سره د مشرکانو سجده او د مهاجرینو راواپس کیدل

پـدے میـنـځ کـی یـوه بله واقعه راغله د نبوت پنځم کال وو په رمضان کی رسول الله ﷺ یـو ځـل په قریشو باندے قرآن کریم ولوستۀ، قریشو ددے نه مخکی ښکاره قرآن نۀ وو آوریدلے، ضد ئے کولو،

(او اکثـر خـلـك چـه د حق پرستو پسے خبرے کوی ددے وجه دا وی چه هغوی چرته د حق پرستـو حق نـۀ وی آوریدلے او تحقیق ئے نۀ وی کړے او بل طرفته د باطل پرستو خبرے آوری نـو زړونـه ئے د ګـنـد نـه ډك وی، ضـدی تـرے جـوړ شی، بیا هدایت ته نۀ راځی)

نـو نبـی عـلیه السلام اراده وکړه چه دے خلکو ته د الله کتاب واوروی کیدے شی چه اثـر پـرے وکـړی نو قریش په مسجد حرام کی راجمع وو (د هغوی مجلس همدا وو چه دلته به ئے ګپ شپ ویشتلو)

نو رسول الله ﷺ دوی ته سورة النجم ولوستهٔ په ډیر ښکلی آواز او ښائسته انداز او په ډیر اوچت اخلاص سره خاصکر په هغه باندے قرآن نازل هم وو او اعلیٰ درجه تقویٰ هم پکی ده ، دا څومره ښه اثر کوی، او د الله په کتاب کی هسے هم اثر شته دے نو دے سورت ددے خلکو غوږونه وکړنګول او د دوی ضد او عناد ئے په مینځ وچولو
او پدے مجلس کی صحابه کرام هم دی او مشرکین هم۔

حدیث کی راغلی دی چه پیریان هم راغلی وو۔ هرکله چه نبی علیه السلام دا سورت آخر ته ورسولو او په آخری آیت کی ئے د سجدے آیت ولوستلو :
﴿فَاسْجُدُوا لِلّٰهِ وَاعْبُدُوا﴾ تاسو الله ته سجدے وکړئ او د هغه بندګی وکړئ)۔

نو رسول الله ﷺ په سجده پریوتو، صحابه کرامو هم سجده وکړه، پیریانو هم وکړه او مشرکانو هم مجبوره او بی اختیاره شو او الله ته ئے سجده وکړه څکه چه هغوی هم الله منلو، صرف یو بوډا (اُمیه بن خلف) پکی ونکړه څکه چه ډیر تکبر پکی وو هغه خاوره راواخسته او د خپلو ملګرو د موافقت دپاره ئے په تندی پورے راښکله او وے وئیل: (یَکْفِیْنِیْ هٰذَا) زما دپاره دا کافی ده)، دا زما سجده شوه، د الله د بندګئ نه دومره متنفره وو۔

سیدنا عبد الله بن مسعود رضی الله عنه وائی : زهٔ هم پدے مجلس کی حاضر وم : (لَقَدْ رَأَیْتُهٗ بَعْدُ قُتِلَ کَافِرًا) روستو زمانه کی ما دغه شخص ولیدو چه د کفر په حالت کی قتل کړے شو۔ الله ورله د ایمان توفیق ورنکړو۔

په دے کی حکمت دا دے چه دجاهلیت او د شرك په زمانه کی څوك ضرری او بی ادبه کافر وی، د الله څه لحاظ نهٔ کوی نو الله ورله د ایمان توفیق هم نهٔ ورکوی، الله رب العزت د توحید او د رسول الله ﷺ د سنتو او د حق توفیق هغه چا ته ورکوی چه مخکی نه په هغه کی څه نا څه نرمی وی او څه اخلاق او څه سریتوب پکی وی، اُوس هم دا قانون دے چه څوك ډیر ضرری، بی ادبه، بد اخلاقه انسان وی هغه الله تعالیٰ د خپل دین او د توحید او د سنت نه محروموی او کوم انسانان چه لږه ګوزاره کوی هغوی ته الله تعالیٰ هدایت ورکوی)۔

کله چه دا سجده وکړے شوه نو په خلکو کی مشهوره شوه چه د قریشو مشرکینو ایمان راوړو څکه د نبی علیه السلام نه ئے قرآن واوریدو او په سجده باندے پریوتل۔

دلتـه دوه کارونـه وشـول یـو کار دا وشـو چـه قـریشو باندے لړزان ولګیدۀ چه دا خو مونږه قرآن واوریدۀ او بیا د نبی علیه السلام د خبرے د وجه نه مو الله ته سجده وکړه، دا خـو مـونږه ددۀ سره موافق شـو، او کـوم مشـرکان چه دے مجلس کی حاضر نۀ وو هغـوی پرے د هر طرف نه ملامتیا او ردونه شروع کړل چه تاسو خو هغه کار وکړو چه دا نبی به مو ترے منع کولو، ددۀ نه مو قرآن واوریدو نو دوی د لوی چیلنج سره مخامخ شو دائے وویل چه خلك به راته وائی چه صابیان شو، نو ددے دپاره څه علاج پکار دے، دا په مونږ باندے څه وشو؟،

نـو مشـرکین پدے سجده باندے خفه وو او د قرآن په آوریدو هم خفه وو، نو د ځان نه ئے دا تهمت لرے کولو چه خلك راته صابیان ونۀ وائی او خلکو کی دا مشهوره نۀ شی چه دے کسانو ایمان راوړیدے نو یو دروغ ئے جوړ کړل چه مونږه ځکه قرآن واوریدو او سجده مـو وکـړه چـه دے پیغمبر زمونږ د باباګانو صفت کړیدے پدے وجه مونږ الله ته سجده وکړه، کچرته دۀ زمونږ د باباګانو صفت نۀ وے کړے نو مونږ هم سجده نۀ کوله، دۀ وئیلی دی : (تِلْكَ الْغَرَانِيْقُ الْعُلٰى وَاِنَّ شَفَاعَتَهُنَّ لَتُرْتَجٰى)

ذغـه ستـاسـو معبودان خـو د ډینـګـانو پشان اُوچت دی (غرانیق جمع د غِرْنِیق ده ډینګ تـه وائـی دا یـو اوچت مارغۀ دے) او د دوی د سفارش امید کیدلے شی، تاسو ئے بندګی کوئ)۔

نـو دے خبرے ته وګوره چه مشرکانو په نبی علیه السلام باندے دروغ ووئیل د خپل ځان د پـاکـئ دپاره چه مونږ خو ددۀ ملګری شوی نۀ یو بلکه دۀ زمونږ د آلهو صفت کړیدے۔

(دا قسم تهمتونه همیشه د باطل پرستو په مناظرو او بحثونو کی کتلے شئ)

دویـم کـار دا وشـو چـه حبشـو تـه خبر ورسیدۀ چه مشرکینو ایمان راوړیدے او دلته د مهاجرت (هجرت) زندګی ده او هلته مکے والا مؤمنان شویدی پکار ده چه مکے ته لاړ شو نـو دوی بیـرتـه مـکے طرفتـه را روان شـو، درے میاشتی ئے هلته تیرے کړے وے، رجب، شعبان، رمضان، او په څلورمه میاشت (شوال) کی بیرته راغلل، کله چه مکے تـه رانـزدے شـول، نـو اصل خبر ورته معلوم شو چه مشرکان همغسے داړه ماران دی او هغوی خو ایمان نۀ دے راوړے او دا خو غلط خبر خور شویدے،

نو بعض کسان بیرته حبشو ته واپس شول چه مشرکین راباندے خبر نشی، نوخوارانو ته ډیر تکلیف ورسیدۀ او څه کسانو اراده وکړه چه بیرته واپس نشو تللے او د چا نه به امان واخلو (لکه دا د هغه زمانې عادت وو مخکې ذکر شویدے) نو جواب ئے ولیږلو چه فلانی کافر دے راشی مونږ ته دے امان راکړی، او څه کسان همداسے په پټه داخل شو چه هیڅوك ئے په ځان خبر نکړل۔

(معلومه شوه چه کله یو داسے کفری قانون وی چه د اسلام خلاف نۀ وی نو د هغے نه څه وخت پورے فائده اخستلے شی، او که د اسلام خلاف وی نو د هغے نه فائده اخستل به هم غلط وی)۔

هرکله چه دغه صحابه کرام مکے ته په امان کی داخل شو نو چا ورته دومره سخته سزا ورنکړه، ولے که چرته په غیر د امان نه داخل شوی وے خلکو به وژلی وے چه تاسو چرته تښتیدلی وئ او سختے سزاگانے به ئے ورکړی وے۔

پدے مابین کی مشرکینو مومنانو ته تکلیفونه نور هم زیات کړل ځکه چه د ځان نه ئے دا تهمت لرے کولو چه مونږ ایمان والا نۀ یو چه خلکو ته معلومه شی چه دوی په محمد رسول الله ﷺ باندے ایمان نۀ دے راوړے نو ډیر ظلمونه به کیدل۔

دارنگه قریشو ته دا خبره هم ډیره گرانه شوه چه دے مسلمانانو سره نجاشی بادشاه ډیر ښائسته سلوك او ښائسته گاونډتوب کړیدے۔

حبشو ته دویم ځلی هجرت

نو نبی علیه السلام بله چاره نۀ موندله سوئ ددے نه چه خپلو ملگرو ته دوباره حکم وکړی چه حبشو ته هجرت وکړی نو حکم ئے وکړو چه هجرت وکړئ لیکن دا ځل هجرت ډیر سخت وو ځکه مخکی اولنے هجرت چه حَبشے ته کیدلو مشرکینو ته پته نۀ وه اُوس خو مشرکینو ته پته ولگیده چه دا صحابه وځی او هجرت کوی نو سخته مراقبه ئے د هغوی کوله، په لارو کی به هغوی ته کیناستل

نو پدے وخت کی د هجرت کړئ نوره فراخه شوه درے اتیا (۸۳) سړی او (۱۸) زنانه هجرت ته تیار شول (که پدے کی عمار بن یاسر شمار شی ځکه چه د هغه په باره کی

شك دے) او د شپے د مکے نه په یوه او په بله لاره ووتل، لږ لږ به وتل دے دپاره چه کافر راباندے پوهه نشي، داسے په غرونو او په پټو پټو لارو باندے روان شو،

(مشرکین دا هم نۀ برداشت کوی چه مومن دے بل ځای ته لاړ شي او په امن باندے زندګی تیره کړی، دا د مشرکینو همیشه دپاره عادت دے چه حق خو نۀ برداشت کوی خو دے برداشت کولو ته هم نۀ وی تیار چه مومنان دے آرام ژوند تیر کړی)۔

ددے صحابه کرامو نه لس کسان مخکی لاړل بیا وروستو جعفر بن ابی طالب رضی الله عنه ووتلو او بیا پرله پسے صحابه کرام ووتل نو دادرے اتیا سړی او اتلس زنانه حبشو ته ورسیدل، ډیره پاکه نخبه (منتخبه ډله) ده، الله رب العالمین په قرآن کریم کی د هغوی ډیر صفتونه کړیدی :

په سورة النحل کی فرمائی:

﴿ وَالَّذِينَ هَاجَرُوا فِي اللَّهِ مِنْ بَعْدِ مَا ظُلِمُوا لَنُبَوِّئَنَّهُمْ فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً ﴾ (النحل : ٤١)۔

او هغه کسانو چه د الله دپاره ئے هجرت وکړو پس د هغے نه چه په دوی باندے ظلم شویدے خامخا مونږ به په دنیا کی دوی ته ښائسته ژوند ورکړو۔

نو الله تعالیٰ ورله ښائسته ژوند ورکړو، په حبشو کی په امن وامان سره وسیدل، نجاشی بادشاه یو نیك سړے وو، د مخکی نه ښه سړے وو، سړیتوب پکی وو، نو دوی ته ئے ډیره ښه میلمستیا ورکړه۔

د قریشو چل د مهاجرینو د واپس کولو دپاره

پدے کی مشرکین چه کله خبر شو چه صحابه کرام حبشو ته رسیدلی دی او هلته په امن وامان کی ژوند تیروی او د الله بندګی کوی نو دوی دا برداشت نکړے شو چه مومنان په امن کی ژوند تیر کړی،

(دا خبره یاد ساتل پکار دی چه مشرك سړے موحد سړے په خپل جمات کی هم نۀ برداشت کوی، اګرکه د موحد خپل مسجد وی بلکه د دنیا په هغه سر کیَ چه څوك د حق خبره کوی هغه ئے دشمن وی، دوی د حق وجود نۀ منی)

نو د مکے مشرکینو په خپل مینځ کی مشوره وکړه چه په څه طریقه د دغه صحابه

کرامو امن خراب کړو او بیرته ئے مکے ته راولو چه مشرکین عذابونه ورکړی نو پدے بانـدے ئے مشـوره راغـلـه چه دوه کسان به تیار کړو چه ډیر چالاکه او تکړه او ښائسته کسان وی او په خبره پو هیږی، او نجاشی ته به ئے ولیږو،

نو یو ئے عمرو بن العاص (رضی الله عنه) چه روستو مسلمان شویدے، دا ډیر عقلمند هوښیار او تجربه کار سړے وو، من دهاء العرب (د عربو د بهادرو او چالاکو) نه وو۔ او بل عبد الله بـن ابی ربیـعـه چه دا هـم هـوښیار سړے وو (دا هم روستو مسلمان شویدے) دا ئے تیار کړل او په مکه کی چه کومه ښه هدیه وه هغه ئے تیاره کړه چه نجاشی بادشاه او د هغه ګورانو او وزیرانو ته ئے ولیږی،

پـه مـکـه کـی قـیـمـتـی شـے څـرمنے وے، دوی به د څرمنو کار کولو، نو ښه او قیمتی څـرمـنـی ئـے څـان سره د بادشاه او د هغه د فوجیانو او ګورنرانو دپاره واخستی، د مکے مشـرکـانـو ورته دا خبره وښودله چه تاسو لاړ شئ نو د نجاشی بادشاه سره به سمدست نـهٔ مـلاویـږئ بلکه د نجاشی وزیران او اعلیٰ افسرانو سره ملاؤ شئ او دا څرمن به اول هغوی ته ورکړئ او دا خبره به ورته وکړئ چه ستاسو دے مُلك ته څه خلك راغلی دی : [اِنَّـهٗ قَدْ ضَوٰی اِلٰی اَرْضِ الْمَلِكِ غِلْمَانٌ سُفَهَاءُ الْاَحْلَامِ قَدْ تَرَكُوْا دِيْنَ آبَائِهِمْ وَلَمْ يَدْخُلُوْا فِيْ دِيْنِ الْمَلِكِ وَلَمْ يَدْخُلُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ وَجَاءُوْا بِدِيْنٍ مُبْتَدَعٍ]۔

(الدرر فی اختصار المغازی والسیر ۱/۱۳۲)

هـلکان شان بیوقوفه عقلونو والا دی د خپل پلار نیکه دین ئے پریښے دے او د بادشاه پـه دیـن کـی هـم نهٔ دی داخل او نهٔ ستاسو په دین کی داخل دی۔ د هیچا په دین کی نهٔ دی داخل او یو نوے دین ئے راویستے، په یو مذهب هم نهٔ دی روان، نوے مذهب ئے جوړ کړے دے،

(بعینهٖ د همدغه کفارو خبره اوس هم باطل پرست کوی چه دا اهل حدیث یے مذهبه دی، نوے دین ئے راویستے)

نـو د نـجـاشـی وزیـرانـو او افسـرانو ته به ووائی چه پدے خبره کی مونږ سره ملګری شی او هـغـه کـسـان بـه نهٔ راغواړی، ولے که چرته د هغوی نه بادشاه خبره واوری بیا به خبـره ورانیـږی، د هـغـوی خبـره بـه نهٔ آوری، همداسے دے مونږ له راکړی چه مونږه ئے څان سره بوځو۔ (فَاِنَّ الْقَوْمَ اَعْلٰی بِهِمْ عَيْنًا وَّاَعْلَمُ بِمَا عَابُوْا عَلَيْهِ)۔

خکـه قوم پـه دوی ښـه پـو هیږی او د قوم سترګے دوی تـه اُوچتی دی)، د دوی پـه نقصاناتـو او عیبـونـو بانـدے ښه پو هیږی نو دا د وه کسان لاړل حبشو ته او د نجاشی بادشاه د وزیرانـو سره مـلاؤ شـول او هغه هدیه ئے ورته ورکړه او ورته ئے ووئیل چه دا کسان چه راغلـی دی دا مـونږ تـه راکړئ په هغه طریقه ئے ورته خبر ورکړو څنګه چه ورته مشرانو وئیلی وو،

نـو عـمرو بن العاص او عبد الله بن ابی ربیعه اول د دوی سره ملاو شو او صبا له بیا د نجاشـی بـادشاه سره ملاو شو، نجاشی ته ئے هغه هدیه ورکړه او هغه قبوله کړه بیا ئے ورتـه ووئیـل چـه ستـاسو دے علاقے ته څه هلکان راغلی دی، د خپل پلار نیکه دین ئے پریښے دے، پـه نـوی دیـن کـی داخل شویدی، فسادیان او شریان دی، مونږ د خپل قوم اشـرافـو رالیـږلی یو چه دا کسان تهٔ مونږ ته واپس راکړه ځکه چه قوم په هغوی بانـدے ښـه پـو هیـږی نـو نـجاشی بادشاه ته د هغه وزیرانو ووئیل چه ښه خبره کوی، دا کسان ورله ورکړه، فسادیان دی چه خپل ملك ته ئے بوځی مونږ پرے څه کوو؟،

مـګـر نـجاشـی بـادشاه انصاف دار وو، غصه شو او وے وئیـل چه ولے ئے ورکړم ؟ دوی زمـا عـلاقے ته راغلی دی او زهٔ ئے په نورو خلکو غوره کړے یم، په ما باندے ئے ښه ګمان کـړیـدے چـه دے بـه مـونږ سره احسان کوی او زهٔ ئے تاسو ته درکړم او ظلم ورسره وکړم هیـڅـکـلـه داسے نشـی کیـدے، زهٔ دوی تـاسـو تـه هیڅکله نشم درکولے ترڅو چه ما د هغـوی خبره آوریدلی نهٔ وی، که چرته د هغوی خبره ما واوریده او دغه شان شریان وو نـو بیـا بـه ئے درکړم او که چرته شریان نهٔ وو نو بیا به پدے علاقه کی وسیږی هیڅوك ورته څه نشی وئیلے،

نـو دا دوه کسـان ویـریـدل چه کـار خـو خـراب شو۔ نو په دغه صحابه کرامو پسے ئے سړے ولیږهٔ چه راحاضر ئے کړی۔ نو د صحابه کرامو متکلم سیدنا جعفر بن ابی طالب رضـی الله عنـه وو، دوی پـه خپـل مینـځ کـی مشـوره وکړه چه مونږه بیرته قریشو ته واپـس کـوی نو چه بادشاه ته ورشو څه به وایو ؟ نو فیصله ئے دا وکړه چه رشتیا به وایو، د الله نبی چه مونږ ته کوم تعلیم راکړیدے، کومه عقیده او نظریه ئے راښودلے ده، د هغے اظهـار بـه کـوو چـه هرڅه وشو، وی به، حق به وایو، الله رب العزت زمونږ ملګرے دے، دوی چـه کـلـه راطلب کړے شول نو سیدنا جعفر بن ابی طالب رضی الله عنه چه راغے

نجاشي بادشاه ته ئے سجده ونکړه نو د قریشو دے دوه کسانو ووئیل چه وګورئ څومره بے ادبه دی، بادشاه ته سر نۀ خکته کوی،

کله چه دوی نجاشي بادشاه ته راداخل شول نو دوی دا کلمه ووئیله: (أَلَا إِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ هُمُ الْغَالِبُوْنَ) (صرف د الله تعالیٰ ډله همدا به غالبه وی)۔

نو د صحابه کرامو دے خبرے په بادشاه باندے ډیر رعب راوستلو۔

سیدنا جعفر رضی الله عنه ته نجاشي بادشاه متوجه شو چه ستا د قوم دا کسان راغلی دی او دا خبره کوی چه تاسو خپل دین پریښے دے نو تاسو ولے دے علاقے ته راغلی یئ؟ سیدنا جعفر رضی الله عنه ورته په ډیر دلسوز انداز کی ووئیل :

مونږ یو ذلیله قوم وو، د کانړو، ونو او بتانو عبادت مو کولو

(وَنَأْكُلُ الْمَيْتَةَ وَنَأْتِي الْفَوَاحِشَ وَيَأْكُلُ الْقَوِيُّ مِنَّا الضَّعِيفَ، وَنُسِيءُ الْجِوَارَ)۔

او مونږ به مردارے خوړلے او بی حیائی به مو کوله او قوی سړے به رالګیدو ضعیف او کمزورے سړے به ئے خوړلو، او بد ګاونډیتوب به مو یو بل سره کولو، (ګاونډیانو ته به مو ضرر ورکولو، ظلمونه به مو کول یعنی ټول نقصانونه او خباثتونه ئے ورته ذکر کړل)،

پدے کی الله رب العالمین مونږ ته یو نبی راولیږۀ چه مونږ هغه پیژنو، د هغه نسب پیژنو، د هغه قوم د هغه ټول احوال صدق او امانتداری پیژنو نو هغه مونږ ته دعوت راکړو: [أَنْ نَعْبُدَ اللّٰهَ وَحْدَهٗ] چه د یو الله بندګی وکړو او بی حیائی پریدو، شراب خوری، سود، یوبل باندے ظلم پریدو،

(وَأَمَرَنَا بِصِدْقِ الْحَدِيثِ وَحُسْنِ الْجِوَارِ)

او مونږ ته ئے په رښتیا وئیلو او په ښائسته ګاونډیتوب سره حکم کړے)،

د یتیمانو سره احسان کوئ، امانت ادا کوئ، دا ټول ښه اعمال او اخلاق ئے راښودلی کوم چه په اسلام کی دی۔

سیدنا جعفر رضی الله عنه ورته دا ټول ذکر کړل بیا ئے ووئیل چه زمونږ قوم راولګیدو مونږ ته ئے ووئیل چه تاسو توحید پریدئ او بیرته ئے شرك، بی حیائی، فساد او بد اخلاقئ ته واپس کولو نو مونږ ډیر تنګ شو ستا خوا ته راغلو، ستا ګاونډیتوب مو غوره کړو ځکه ستا ښهِ اخلاق راته معلوم وو [وَرَجَوْنَا أَنَّا لَا نُظْلَمُ عِنْدَكَ] او زمونږ

دا امید وو چه په مونږ باندې به ستا په خوا کې څوك ظلم ونكړي۔

نجاشي بادشاه چه دا خبرې واوريدلې، ډير اثرئې پرې وكړو ځكه چه جعفر رضى الله عنه يو عزتمند صحابي د نبي عليه السلام د ترۀ ځوى ډير فصيح انسان وو او ډير جوش او جذبې سره ئې دا خبرې وكړې نو په نجاشي بادشاه ئې ډير ښه اثر وكړو نو نجاشي ووئيل چه تاسو سره څه وحي شته ؟

سيدنا جعفر رضى الله عنه ورته ووئيل آؤ، شته، نجاشي بادشاه د هغې د وينا مطالبه وكړه او نجاشي خپل مُليان هم راغوښتي وو، هغوى خپل كتابونه كولاؤ كړي وو، خپل كتابونه ئې كتل نو جعفر رضى الله عنه اعوذ بالله او بسم الله ووئيله او سورة مريم ئې شروع كړو۔ (په سورة مريم كې د انبياء عليهم السلام واقعات دي، د مريم رضى الله عنها واقعه ده

﴿ كٓهٰيٰعٓصٓ ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ عَبْدَهٗ زَكَرِيَّا اِذْ نَادٰى رَبَّهٗ نِدَاءً خَفِيًّاO قَالَ رَبِّ اِنِّىْ وَهَنَ الْعَظْمُ مِنِّىْ وَاشْتَعَلَ الرَّأْسُ شَيْبًا وَّلَمْ اَكُنْۢ بِدُعَائِكَ رَبِّ شَقِيًّا﴾ ......الى آخر الآيات﴾ ۔﴿ وَاذْكُرْ فِى الْكِتٰبِ مَرْيَمَ اِذِ انْتَبَذَتْ مِنْ اَهْلِهَا مَكَانًا شَرْقِيًّاO فَاتَّخَذَتْ مِنْ دُوْنِهِمْ حِجَابًا فَاَرْسَلْنَا اِلَيْهَا رُوْحَنَا فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرًا سَوِيًّا﴾

چه د صحابي آواز وي او بيا د دعوت مقام وي او په جذبې او خوږ آواز سره ئې وائي نو ددې به څومره اثر وي فكر وكړه!۔ نو په نجاشي باندې دومره اثروشو چه وې ژړل، او دومره ئې وژړل چه ګيره ئې هم په اوښكو لمده شوه او كوم مُليان چه ناست وو هغوى هم وژړل تردې چه هغه كتابونه ئې لامده كړل،

او بيا نجاشي ووئيل : اِنَّ هٰذَا الَّذِىْ سَمِعْتُ وَالَّذِىْ جَاءَ بِهٖ عِيْسٰى لَيَخْرُجُ مِنْ مِشْكَاةٍ وَاحِدَةٍ) دا ما چه څه واوريدل دا او هغه چه عيسىٰ عليه السلام كومه وحي راوړې وه دا دواړه د يوې طاقچې نه راوتلي دي)۔ معلوميږي چه انجيل هم د الله وحي ده او دا تاسو سره چه كوم كتاب دې دا هم د الله وحي ده او هغه مشركانو ته ئې ووئيل:

(اِنْطَلِقَا، فَلَا وَاللّٰهِ لَا اُسْلِمُهُمْ اِلَيْكُمَا وَلَا يَكَادُوْنَ)

چه تاسو دواړه پاخيږئ روان شئ او ستاسو هديه نۀ قبلوم دا ځان سره واخلئ دوى زۀ هيڅكله تاسو ته نۀ سپارم او نۀ داسې كيدې شي۔

او مؤمنانو ته ئې ووئيل چه تاسو په امن كې وسيږئ، تاسو ته هيڅوك څه ښنې

وئیلے که چا درته څه ووئیل زۀ ذمواریم۔ فَأَنْتُمْ شُيُوْمٌ فِي الْأَرْضِ)
تاسو پدے زمکه کی په امن یئ۔ (مَنْ سَبَّكُمْ غَرِمَ)
څوك چه تاسو ته کنځلی وکړی زۀ به ترے تاوان اخلم، درے ځله ئے ورته دا ووئیل:
(مَا أُحِبُّ أَنَّ لِيْ دَبْرًا مِنْ ذَهَبٍ)
که څوك ما له ستاسو په مقابله کی د سروزرو غر راکړی زۀ هغه نۀ قبلوم،
(داسے نۀ لکه ددے زمانے د غلطو حُکامو پشان چه امریکایان ورته ووائی چه دا ډالر واخلئ او مسلمانان مونږ ته راکړئ نو دوی ئے سمدست ونیسی او ورئے کړی، د یو څو روپو د خاطره مسلمانان په کافرو خرڅوی، دا څومره لویه بد اخلاقی ده او د سړی توب خلاف کار دے)۔
نو صحابه کرام بیرته خپلو خپلو ځایونو ته واپس شول او دغه مشرکان هم واپس شول نو یو ځای کی هغوی دمه وکړه، د شپے عمرو بن العاص او عبد الله بن ابی ربیعه مشوره وکړه چه ددے صحابه و د بوتللو دپاره څه بله حیله او چل جوړول پکار دی۔
ام سلمه رضی الله عنها چه ددے قصے راویه ده (او دا هم د خاوند سره حبشو ته تلے ده او بیا روستو زمانه کی د رسول الله ﷺ بی بی گرزیدلے ده) وائی چه عمرو بن العاص سخت وو او عبد الله بن ابی ربیعه لږ نرم وو، عمرو بن العاص ووئیل، صبا زۀ بیا نجاشی له ورځم لَأَسْتَأْصِلَنَّ خُضْرَائَهُمْ۔ د دوی بیخ ګندی کومه،
عبد الله بن ابی ربیعه ورته ووئیل : (لَاتَفْعَلْ فَإِنَّ لَهُمْ أَرْحَامًا وَإِنْ كَانُوْا قَدْ خَالَفُوْنَا)
دا کار مۀ کوه ځکه دا خلك زمونږ خپلوان دی اګرکه په دین کی ئے زمونږ نه مخالفت کړیدے، د خپلولئ لحاظ پکار دے۔
عمرو بن عاص ووئیل، نۀ، زۀ نجاشی ته ورځم، صبا له ئے بیا د نجاشی نه د ملاقات طلب وکړو چه زمونږ یوه خبره پاتے ده، دا دواړه چه ورغلل بیا ئے ورته دا ووئیل چه دا کسان راغلی دی عیسیٰ علیه السلام ته کنځلے کوی، ستاسو نبی او مشر ته رد بد وائی، دوی راوغواړه او د هغه په باره کی ترے تپوس نه وکړه۔
(د کافرو همیشه دا عادت وی چه دروغ او تهمتونه لګوی) نو نجاشی بادشاه بیا دا صحابه کرام راطلب کړل،
ام سلمه رضی الله عنها فرمائی: په مونږ باندئ داسے حالت کله هم نۀ وو راغلے، نو

صحابه کرامو بیا مشوره وکړه چه څه به کوو، شاید چه مونږ نه د عیسیٰ علیه السلام په باره کې تپوس کوي، نو مشوره ئې وکړه چه رشتیا به وایو کوم چه مونږ ته الله تعالیٰ په قرآن کریم کې او نبي علیه السلام د هغه په باره کې وئیلې دي که پدې کې هر څه راپیښیږي صفا خبره به کوو، بیا ئې جعفر رضی الله عنه راوغوښتو او ملګري راغلل، دا ځل ډیر خفه وو چه څه چل وشي نو نجاشي ترې تپوس وکړو چه تاسو د عیسیٰ علیه السلام په باره کې څه وایئ؟

نو سیدنا جعفر رضی الله عنه ووئیل : مونږ د عیسیٰ علیه السلام په باره کې هغه خبره کوو کوم چه رب العالمین او د هغه رسول وئیلې ده او هغه دا ده چه :

هُوَ عَبْدُ اللّٰهِ وَرَسُوْلُهٗ وَرُوْحُهٗ وَكَلِمَتُهٗ أَلْقَاهَا اِلٰى مَرْيَمَ الْعَذْرَاءِ الْبَتُوْلِ)

عیسیٰ علیه السلام د الله بنده او د هغه رسول دے او د هغه روح او کلمه ده چه هغه مریم ته ئې راګوزار کړے چه د هغې خاوند نۀ وو او په غیر د خاوند نه ترې بچے پیدا شو، (یعني عیسیٰ علیه السلام الله تعالیٰ په غیر د پلار نه پیدا کړیدے)

نو زمونږ د هغه په باره کې دا عقیده ده چه د الله بنده ئې ګڼړو او د هغه رسول ئې ګڼړو، بے پلاره الله پیدا کړیدے د الله د قدرت نښه ده او معجزه ده،

ام سلمه رضی الله عنها فرمائي : دا خبره ئې چه وکړه نجاشي بادشاه ښه متأثره شو نو یو ډکے ئې د زمکے نه راواخستۀ او وے وئیل :

(وَاللّٰهِ مَا عَدَا ابْنُ مَرْيَمَ مَا قُلْتُمْ هٰذَا الْعُوْدَ)

قسم په الله ! تاسو چه د عیسیٰ علیه السلام په باره کې څه ووئیل ددے نه د یو ډکي په مقدار اخوا نۀ دے. هغه د الله بنده دے او د الله ځوی نۀ دے.

نو پدے کې دا ملیان او اساقفه غصه شول کوم چه ناست وو او پوزے ئې وچتے کړے ځکه د هغوی عقیده دا وه چه عیسیٰ علیه السلام د الله ځوی دے. نو نجاشي ورته ووئیل: (وَاِنْ نَخَرْتُمْ) اګرکه تاسو پوزے وچتوئ او تکبر هم کوئ خو خبره همدغه شان ده لکه چه دوی ووئیله، یعني که تاسو ئې منئ او که نۀ ئې منئ خو حقیقت همدا دے، په حق باندے کلك ودریدل ضروري خبره ده نو دوی ته ئې ووئیل چه تاسو لاړ شئ، آزاد په زمکه کې ګرځئ او مشرکین ئې واپس کړل په ډیر بد حالت سره.

الرحیق المختوم والروض الانف (۲/۱۱۳) و سیرة ابن هشام)

نو ام سلمه رضی الله عنها فرمائی چه مونږ ډیر په خوشحالئ کی ژوند تیرولو۔ او ام حبیبه رضی الله عنها هم د دوی سره تلے وه۔

روستو زمانه کی چه کله د نبی علیه السلام مرض الوفات وو، بیمار وو نو ام سلمه او ام حبیبه رضی الله عنهما د نبی علیه السلام په خوا کی ناستے وے دواړو یوه قیصه شروع کړه چه مونږ حبشو ته تلی وو مونږ د نصاراؤ یو عبادت خانی ته ننوتو چه ډیره ښائسته وه، ګلکاری پکی ډیره زیاته شوے وه (ګلکاری په عبادت خانو کی د مشرکینو طریقه وه لکه بعض خلکو پرے ډیرے پیسے لګولی وی او بی ځایه ډیر ښائست ئے پیدا کړے وی لکه اکثر د بریلیانو جماتونو کی داسے وی دا د نصاراو سره مشابهت دے)۔

بل دا چه تصویرونه ئے پکی لګولی وو (د هغوی دا عادت وو) نو رسول الله ﷺ پدے بیماریٔ کی سر را اُوچت کړو او وے فرمایل :

(لَعَنَ اللّٰهُ الْيَهُوْدَ وَالنَّصَارٰى اِتَّخَذُوْا قُبُوْرَ اَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ)۔

الله دے په یهود او نصاراؤ لعنت وکړی چه دوی د خپلو انبیاؤ د قبرونو نه جماتونه جوړ کړیدی یعنی د انبیاء او د صالحینو د قبرونو نه مسجدونه جوړوی۔

په بل لفظ ددے روایت کی دی :

(اُولٰئِكَ اِذَا مَاتَ فِيْهِمُ الرَّجُلُ الصَّالِحُ بَنَوْا عَلٰى قَبْرِهٖ مَسْجِدًا)۔

دے کسانو کی به چه کله نیک سړے مړ شو نو د هغه په قبر باندے به ئے جمات جوړولو (یعنی په جمات کی ئے خښوی یائے اول خښ کړی بیا پرے روسته جمات جوړ کړی)، دا د یهود او نصاراو طریقه دے امت ته هم رانقل شویده، مسلمانان ځان ته وائی او په جماتونو کی به ئے قبرونه وی، د دیوبندیانو او بریلیانو عامو جماتونو کی دا طریقه ده چه ملا یا متولی د جمات مړ شی په مسجد کی ئے خښ کړی)

نو ام سلمه او ام حبیبه رضی الله عنهما دواړه حبشو ته تلے وے او بیا ئے نبی علیه السلام ته هغه احوال بیان کړل، ام سلمه رضی الله عنها بیا مدینے ته هجرت وکړو نو خاوند ئے وفات شو، بیا نبی علیه السلام په نکاح واخسته دے دپاره چه اکرام ئے وشی ورنه د رسول الله ﷺ ورته ضرورت نهٔ وو۔



د ام حبیبه رضی الله عنها سره د نبی علیه السلام نکاح

د ام حبیبے رضی الله عنها قصه دا وه چه دا د خپل خاوند عبید الله بن جحش سره حبشو ته تلے وه نو هلته ئے خاوند د نصاراو نه متأثره شو، د دنیا د متاع نه متأثره شو او بیرته کافر شو۔

(پدے کی دا نکته ده چه کله یو سړے د کافرو ملك ته لاړ شی او د هغوی پشان چال چلن او لباس اختیار کړی نو غالباً کافر شی، زمونږ ډیر مسلمانان ورونه ددے علاقونه یورپ ملکونو ته لاړ شی، هلته زناکار، شرابیان، د مونځ پریښودونکی شی، ډیر پکی کافر شی، لږ کسان به داسے وی چه هغه به په خپل دین باندے کلك ولاړ وی. دکافرانو ملکونو ته سفر کول حرام دی مگر د تجارت او د لږ وخت دپاره تلل جائز دی، هلته که دیره شوے نو خرابیږے که تهٔ خراب نشے، بچی او ښځه دے خرابیږی؛ د کافرو دعوت دا دے چه په دیوالونو لیکی چه یو کے، استریلیا، کنیډا او نورو ملکونو ته لاړ شئ تعلیم حاصل کړئ، د دوی مقصد دا وی چه ستاسو دا بچی بوځی او هلته ئے کافر کړی، راتلونکے نسل درله خرابوی، یو مسلمان بوځی، هلته ئے کافر کړی بیرته ئے راولی د ووټونو په ذریعه ئے د مسلمانانو بادشاه کړی، لیکن زمونږ په مسلمانانو کی د دین دپاره غیرت نشته، والله المستعان ولا حول ولا قوة الا بالله)۔

مقصد دا دے چه عبید الله بن جحش هلته کافر شو، ښځے ته ئے دعوت ورکړو چه تهٔ هم راشه کافره شه، ام حبیبه رضی الله عنها ورته ووئیل چه مونږ په رسول الله ﷺ باندے ایمان راوړیدے، زمونږ ایمان څه تقلیدی ایمان نهٔ دے، بلکه مونږ په بصیرت سره ایمان راوړیدے نو مونږ دا حق دین د خواهشاتو د وجه نه نشو پریښودے، نو خاوند ئے په دغه حالت د کفر کی هلته مړ هم شو، وګوره د الله دپاره ئے هجرت هم کړیدے، بیا هم مرتد شو دا د انسان نقصان وی چه د الله تعالیٰ د حدودو پابندی نهٔ کوی څکه داسے کار پرے وشی)۔

نو نبی علیه السلام د ام حبیبه رضی الله عنها د اکرام دپاره چه دا بو ډئ زنانه ده– په دے پسے ئے جواب ولیږو چه تا زهٔ په نکاح اخلم (دائے څکه په نکاح اخسته چه نبی

علیه السلام ددے اکرام او عزت کولو ځکه د نبی علیه السلام سره نکاح داسے ده لکه جنت ته داخلیدل ځکه چه د نبی علیه السلام په نکاح کی چه کومه زنانه راشی هغه جنتیٔ وی نو نبی علیه السلام د هغے سره احسان کوی او بله دا چه ددے زنانه خاوند هم وفات شو او دا بیا هم په ایمان باندے کلکه پاتے ده)

نو نجاشی ته ئے خط ولیږلو چه ام حبیبه ما ته په نکاح راکړه، نجاشی بادشاه ام حبیبه رضی الله عنها نبی علیه السلام ته په نکاح ورکړه او څلور زره درهمه مهرئے ورله مقرر کړو بیا د شُرَحبیل بن حَسَنَه صحابی سره ئے په کشتیٔ کی کینوله او مدینے ته ئے راولیږله او نبی علیه السلام دے سره د خیبر د غزا نه په واپسیٔ کی وادۀ وکړو سنه (۷) محرم الحرام۔ (الرحیق المختوم)

دا ډیره غیرتی زنانه وه، د ابوسفیان لور وه، روستو د صلح حدیبیه په زمانه کی چه کله ابوسفیان مدینے ته ددے کور ته راننوتو چه د خپلے لور سره ملاقات وکړی ځکه چه ډیره موده شویده چه د خپلے لور سره ئے ملاقات نهٔ دے شوے نو بستره پرته وه ام حبیبه رضی الله عنها ترے هغه بستره اُوچته کړه،

ابوسفیان ورته ووئیل، بچیه ! دا دے ولے اُوچته کړه، بسترے سره دے مینه ده او که ما ته غوره بستره راچوے؟ هغے ورته ووئیل چه دا د رسول الله ﷺ بستره ده او تهٔ یو مشرك نجس ئے، ستا دپاره دا مناسب نهٔ دی چه تهٔ د رسول الله ﷺ په بستره کینے، خپل پلار ته ئے داسے خبره وکړه حال دا چه دا د پلار نه اته نهه یا لس کاله جدا شوے وه او اُوس ئے ورسره ملاقات وشو۔ یوه زنانه چه دومره زمانه د خپل پلار نه جدا وی، څومره مینه او شوق به ئے ورسره وی۔ نو ابوسفیان غصه شو او ورته ئے ووئیل :

(لَقَدْ أَصَابَكِ بَعْدِیْ شَرٌّ)

ما نهٔ چه تهٔ راجدا شوے ئے، تهٔ شریٔ شوے، تا کی شر راغلے دے،

(الرحیق المختوم والسیرة الحلبیة ۳/ ۷) والسیرة النبویة لابن کثیر (۳/ ۵۳۰)

مؤمنانو موحدینو ته هر وخت باطل پرست او مشرکین شریان وائی۔ ددے واقعے سره دا خبره مطابق وه پدے وجه دلته ضمناً بیان شوه۔



قریش د مسلمانانو عذاب زیاتوی - او ابوطالب ته وفد ورتلل

نو عمرو بن العاص او ملګرې ئې د حبشو نه مکې ته واپس راغلل، مشرکین حیران شول چه کارخو نهٔ کیږی، مسلمانان هلته په امن کی دی، د الله بندګی کوی او ښه حالت ئې دې، خوشحاله خوشحالی ده، د هغه ځای نه مسلمانانو څه اشعار هم وئیلی وو او دې مشرکینو ته ئې رالیږلی وو چه که تاسو مونږ ته تکلیفونه راکول، الله پاك په مونږ باندې ښه حالت راوستو، ښائسته او فراخه ځایونه ئې راکړل او تاسو سره به الله تعالیٰ ګوری او سزاګانې به درکوی۔

پدې مابین کی مشرکینو بیا هم مشوره وکړه چه دا کسان خو هلته لاړل، نبی علیه السلام بیا لګیا دې په مکه کی دعوتونه کوی او ملګری ئې وخت په وخت ډیریږی راجمع شو، ابوطالب له بیا ورغلل چه اُوس ورسره آخرنئ خبره کوو چه دا سړې مونږ ته راکړه او مونږ ته ئې پریده، نو مشرانو ورته ووئیل چه دا ورارهٔ دې منع کړه، زمونږ د پلارانو عیبونه وائی، زمونږ د آلهو عیبونه وائی او مونږ ته بې عقله وائی، مونږ ته ئې ډیر ضرر راکړو، زمونږ دین ته غلط وائی؟،

ابوطالب ورته ووئیل چه زهٔ به خپل ورارهٔ راوغواړم، ستاسو مخامخ به ورسره خبره وکړم۔ ابوطالب هم پدې وخت کی لږ نرم شوې وو، رسول الله ﷺ ئې راطلب کړو چه وې کتل دا مشرکان د قولو او شملو سره ناست دی،

ابوطالب ورته ووئیل دا ستا د قوم اشراف او مشران راغلی دی، ستانه دا مطالبه کوی چه تهٔ د دوی د آلهه ؤ د عیب بیانولو نه کینه، دا خبرې نورې مهٔ کوه ځکه چه ډیرې معرکې او جګړې جوړې شویدی او دې علاقه کی انتشار دې نو نبی علیه السلام پوهه شو چه ابوطالب تر اُوسه زما مدد کولو، کلك راسره ولاړ وو، اُوس دا هم سست شو، ځکه تکلیفونه ډیر ور ورسیدل نو تنګ شوې به وی،

نبی علیه السلام ورته وفرمایل چه زهٔ د دوی نه یوه خبره غواړم چه که چرته دوی ومنله نو د عربو بادشاهان به شی او د عجمو کافرانو نه به ورله جزیه راځی او د عربو مشری به ورته ملاو شی نو ابوجهل پدې کی ناست وو، هغه ووئیل :

(وَأَبِیْكَ وَعَشَرُ أَمْثَالِهَا) داسې خو به مونږ لس خبرې درله ومنو چه مشرې راته ملاویږی،

(مشری د دوی ډیره خوښه وه، ددې وجه نه خو د حق په دشمنئ کی مردار شو)

نو نبی علیه السلام ورته وفرمایل: زۀ ستاسو نه دا غواړم چه تاسو دا کلمه ووائی:

(تَقُوْلُوْنَ : لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ وَتَخْلَعُوْنَ مَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ)

لا اله الا الله کلمه ووایئ او هغه معبودان پریدئ د کومو چه د الله نه سوی تاسو بندګی کوئ) پدې کی عزت دې د توحید اقرار وکړئ. نو دوی لاسونه وپړقول، بیا ئې وویل: اې محمده (ﷺ) آیا تۀ غواړې چه ټول معبودانو نه یو معبود جوړ کړې؟ ستا خبره خو ډیره ناشنا ده. ابوجهل ووئیل روان شئ، دې د خپلې خبرې نه نۀ قلاریږی نو د خپل پلار نیکه په دین باندې روان شئ تردې چه الله تعالیٰ ستاسو او ددۀ ترمینځ فیصله وکړی بیا خوارۀ شول. او د دوی په باره کی دا آیت نازل شو:

﴿وَانْطَلَقَ الْمَلَأُ مِنْهُمْ أَنِ امْشُوْا وَاصْبِرُوْا عَلٰى آلِهَتِكُمْ اِنَّ هٰذَا لَشَیْءٌ یُّرَادُ﴾ (ص : ٦)

(او روان شوه یوه ډله د دوی نه د مجلس د ابوطالب نه او دا ئې وویل چه کلك شئ او صبر وکړئ په خپلو معبودانو، یقیناً دا (توحید) یو داسې شې دې چه زمونږ نه ئې مطالبه کیدې شی)

دا نبی زمونږ نه توحید غواړی، ټول آلهه یو کوی، دا خبره مونږ نشو منلې.

او په دغه مقام کی نبی علیه السلام وفرمایل کله چه ورته قریشو ووئیل چه که مشری غواړی مشری به ورکړو، که مال غواړی ټول به ورته راجمع کړو، که جینئ غواړی د هر چا لور چه خوښوی دربه ئې کړو خو د توحید مسئله مۀ کوه په دغه وخت کی نبی علیه السلام وفرمایل:

(وَاللّٰهِ لَوْ وَضَعُوا الشَّمْسَ فِیْ یَمِیْنِیْ وَالْقَمَرَ فِیْ یَسَارِیْ مَا تَرَكْتُ هٰذَا الْأَمْرَ حَتّٰى یُظْهِرَهُ اللّٰهُ أَوْ أَهْلِكَ فِیْهِ)

قسم په الله! که دوی نمر زما په ښی لاس کی او سپوږمئ په ګس لاس کی کیږدی (یعنی ما د ټولې دنیا مالك هم کړی، د آسمان مالك مې کړی پاتې لا د زمکې) نو زۀ دا خبره نۀ پریدم تردې چه الله به دا دین غالبه کوی (حَتّٰى تَنْفَرِدَ سَالِفَتِیْ) تردې چه زما څټ جدا شی یعنی مړ شم، یا به الله په دنیا کی خپل دین قائم کړی،

دیته عزم مؤکد وائی، همیشه دپاره به د حق په بیانولو کی کلکه اراده لرے چه که ما سره څوك ملګرے کیږی او که نهٔ زهٔ به د حق بیان کوم، که ما سره څوك موافقت کوی او که نهٔ زهٔ به د الله د دین چه ما ته څنګه امر وی دعوت کوم۔ د نبی علیه السلام عزم څومره مضبوط وو او څومره کارئے وکړو اُوسه پورے اسلام باقی دے چه مونږ او تاسو ددے ښکلے اسلام نه فائدے اخلو، والله چه دومره خوند په اسلام کی دے لکه سړے چه جنت کی ناست وی)۔

نو نبی علیه السلام د دوی نه راپاڅیدو او سترګے ئے د اُوښکو نه لمدے شوے نو ابوطالب پوهه شو چه زما ورارهٔ خفه شو نو ورته آواز ئے وکړو چه اے ورارهٔ! وایه څه چه ستا خوښه وی (فَوَاللّٰهِ لَا أُسْلِمُكَ لِشَيْءٍ أَبَدًا)

(قسم په الله! زهٔ تا هیڅ شی ته نهٔ سپارم یعنی مشرك هم تا ته څه نشی وئیلے خو زهٔ ستا په دین روان نهٔ یم او بیا ئے اشعار ووئیل: ۔

وَاللّٰهِ لَنْ يَّصِلُوْا إِلَيْكَ بِجَمْعِهِمْ	❀	حَتّٰى أُوَسَّدَ فِي التُّرَابِ دَفِيْنَا
فَاصْدَعْ بِأَمْرِكَ مَا عَلَيْكَ غَضَاضَةٌ	❀	وَابْشِرْ وَقَرَّ بِذَاكَ مِنْكَ عُيُوْنَا
وَدَعَوْتَنِيْ وَعَرَفْتُ أَنَّكَ نَاصِحِيْ	❀	وَلَقَدْ صَدَقْتَ وَكُنْتَ ثَمَّ أَمِيْنَا
وَعَرَضْتَ دِيْنًا قَدْ عَرَفْتُ بِأَنَّهٗ	❀	مِنْ خَيْرِ أَدْيَانِ الْبَرِيَّةِ دِيْنَا
لَوْلَا الْمَلَامَةُ أَوْ حَذَارُ مَسَبَّةٍ	❀	لَوَجَدْتَنِيْ سَمْحًا بِذَاكَ مُبِيْنَا

o قسم په الله! دا خلك تا ته هیڅ ضرر نشی درکولے اګرکه ټول راجمع شی تردے چه زهٔ په خاوروکی خخ کړے شم۔

o تهٔ خپل دین ښکاره بیانوه په تا باندے به هیڅ تکلیف نهٔ وی او خوشحاله وسیږه او پدے باندے خپلے سترګے یخے ساته (زما به تا سره مدد وی)۔

o او تا ما ته دعوت راکړو او ما ته معلومه ده چه تهٔ زما خیر خواه ئے، او یقیناً تهٔ رشتینی او پدے مقام کی امانت ګرئے۔

o او تا ما ته داسے دین پیش کړو چه ما ته معلومه ده چه هغه د مخلوقاتو په دینونو کی د ټولو نه غوره دین دے،

o (خو) که د خلکو ملامتیا او د کنځلو نه یره نهٔ وے نو تا به خامخا زهٔ موندلے وے چه ستا دین ته به مے ښکاره غاړه ورکړے وے۔

کله چه ابو طالب دا خبره وکړه نو د نبی ﷺ تسلی وشوه۔

د مشرکانو بله دسیسه - او بیا ابوطالب ته ورتلل

مشرکان بیا غصه کی راغلل چه نهٔ ئے مونږ ته راکوی او نهٔ ئے ددے دعوت نه منع کوی، دهٔ سره څه چل وکړو، ابو طالب پرے مړ کړو او که نور څه چل وکړو؟۔

نو بله مشوره او مساومه او عقد ئے وکړو چه راځئ پدے قریشو کی به ښائسته هلك وګورو نو د عماره بن الولید په نوم یو ښائسته او ښکلے او مالداره او د نسب په لحاظ اُوچت او د دنیا په لحاظ ډیر زیات کمالاتو والا یو شخص ئے پیدا کړو چه دا به ابو طالب ته ورکړو او ددهٔ په بدله کی به مونږ ته محمد (علیه السلام) راکړی نو مړ به ئے کړو او عماره به د ابو طالب ځوی شی۔

پدے مابین کی ابو طالب ته ورغلل او هغه ته ئے بیا ووئیل چه تا له مونږ یوه بله خبره راوړے ده، تهٔ خو زمونږ خبرے نهٔ منے، دا خبره خو راله ومنه !،

ابو طالب ورته ووئیل څه خبره دهٔ؟ مشرکینو ورته ووئیل چه عماره بن الولید به درکړو دا به ستا ځوی شی، ددهٔ نسب هم ستا شو او ددهٔ دیت او میراث او هرڅه ئے ستا شو، دا به ستا نه میراث وړی او تهٔ به ئے ددهٔ نه وړے، ستا د ورارهٔ پشان به شی، مونږ به ئے بیخی مطالبه نهٔ کوو او محمد (ﷺ) خو ستا په دین هم نهٔ دے، دے مونږ ته راکړه، مونږ به ستا دپاره ددهٔ نه کافی شو، مونږ به ئے ختم کړو، لانجه به ختمه شی۔

نو ابو طالب ورته ووئیل چه دا څومره بی انصافه خبره ده
(تُعْطُوْنَ اِبْنَكُمْ أَغْذُوْهُ لَكُمْ)۔

تاسو خپل ځوی ما له راکوئ، زهٔ به ورله ډوډئ ورکوم، زهٔ به ئے درله غټوم
(وَأُعْطِيْكُمْ اِبْنِيْ تَقْتُلُوْنَهٗ ؟ هٰذَا وَاللّٰهِ مَا لَا يَكُوْنُ أَبَدًا)

او زهٔ به خپل ځوی درکړم تاسو به ئے وژنئ؟، قسم په الله ! دا کار هیچرے نشی کیدے)۔

دا څومره ظلم دے، پردے بچے خو د چا بچے کیږی نهٔ، دا خو یو غلط نظام دے چه خلك وائی بچے مے درله درکړو، دا اسلامی طریقه نهٔ ده۔

مطعم بن عدی ورته ووئیل چه دا قوم د انصاف خبره کوی ویے منه۔ ابو طالب ورته ووئیل دا خو د انصاف خبره نهٔ ده بلکه د ظلم خبره ده، تا اراده کړیده چه ما شرمویے او دا قوم په ما باندیے غالبه کول غواړیٔ نو تاسو چه څه کول غواړیٔ ویے کړیٔ، لاس مو خلاص۔

ابو طالب ورته پدیے ځای کی غصه شو چه دا خبره درسره زهٔ نشم منلیے۔

د رسول الله ﷺ د مرګ اراده - او نور واقعات

پدیے کی مشرکینو ووئیل چه ابو طالب یوه خبره هم نهٔ منی، داسے کوو چه محمد (رسول الله ﷺ) پخپله وژنو، د خلکو دیے لاس خلاص وی، اتفاق پدیے راغیے چه ددهٔ د قتل نه په غیر کار نهٔ کیږی بس دیے ته آخر خبره ورسیده۔

ډیر کرت د اهل حقو د وژلو دپاره کوششونه کیږی، او خلك پریے پیسے هم مقرروی اګرکه کار هغه کیږی چه الله ئے غواړی، ددیے نه د الله طاقت معلومیږی نو مشرکینو اراده وکړه چه نبی علیه السلام قتل کړی نو پدیے کی قسم قسم واقعات راغلل۔

۱- **واقعه** : یوه واقعه دا راغله چه نبی علیه السلام په مسجد حرام کی وو، عقبه بن ابی معیط راغیے رسول الله ﷺ ئے د مریٔ نه ونیولو او په غړیٔ کی ئے ورله څادر واچولو، پلوابنهٔ ئے ورکړه، خپله پلیته خپه ئے پریے دپاسه کیښوده او څادر ئے رابنکلو تردیے چه د نبی علیه السلام ساه مبارکه ئے دومره خفه کړه چه سترګے ئے راووتلے، دومره تکلیف ئے ورته ورکړو نزدیے وه چه وژلے ئے ویے خو د الله رسول ته دا امر نهٔ وو چه تهٔ پریے ورودانګه او قتل ئے کړه۔ ابوبکر صدیق رضی الله عنه راغیے او عقبه ئے د د دواړو اُوګو نه ونیولو او د نبی علیه السلام نه ئے دیکه کړو او دا ئے ووئیل: آیا تاسو هغه سړیے وژنیٔ چه هغه وائی رب زما الله دیے؟۔ عروه بن الزبیر د سیدنا عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه نه تپوس وکړو چه ما ته هغه سخت تکلیف ذکر کړه چه مشرکانو رسول الله ﷺ ته رسولے وو؟ نو هغه ورته دا واقعه ذکر کړه۔

(الرحیق المختوم ص: ۷۸)

۲- **واقعه** :۔ او دویمه واقعه دا راغله چه د ابولهب ځوی عُتیبه شام ته د تجارت

دپاره تللو نو د ابولهب په مشوره د نبی علیه السلام خوا ته راغلو او هغه ته ئے سختے کنځلے وکړے او د نبی علیه السلام قمیص ئے وشوکولو او کانړی باندے ئے ویشتو او لاړے ئے هم پرے توکړے مګر په نبی علیه السلام باندے ونهٔ لګیدلے او دا ئے ووئیل:

(أَنَا أَكْفُرُ بِالنَّجْمِ إِذَا هَوٰى، وَبِالَّذِيْ : ثُمَّ دَنَا فَتَدَلّٰى)۔

زهٔ په سورة النجم کافر یم، او په (ثم دنا فتدلی) کفر کوم، دا نهٔ منم،

دا د ابولهب هغه ځوی وو چه دهٔ مخکی د رسول الله ﷺ لور طلاقه کړے وه، او دلته ئے دا فسادونه وکړل۔

نو نبی علیه السلام ورته ښیرے وکړے (اَللّٰهُمَّ سَلِّطْ عَلَيْهِ كَلْبًا مِنْ كِلَابِكَ)

اے الله! په دهٔ باندے ستا د سپو نه یو سپے مسلط کړه)، نو دا چه کله شام ته د قریشو د څه کسانو سره د تجارت دپاره لاړو کله چه د شام (زرقاء) علاقے ته ورسیدو، هلته د قافلے مینځ کی د خپلو ملګرو سره پروت وو، (ځکه چه دا یریدلو چه دا ښیرے به راباندے لګیږی) نو پدے وخت کی یو زمرے راغلو، عام خلك ئے بوئی کړل چا ته ئے څه ونهٔ وئیل نو دهٔ ته راورسیدهٔ نو دهٔ چغه کړه چه زهٔ محمد ووژلم، هغه اګرکه په مکه کی دے خو زهٔ ئے قتل کړم ځکه چه هغه راته ښیرے کړیدی، زمری په هغه ورودانګل او د مرئ نه ئے ونیولو او ذبحه ئے کړو او سر ئے ورله پریکړو۔

څوك چه نبی ته ضرر ورکړی یا د هغه د سنتو سره دشمنی کوی الله تعالیٰ ورسره داسے کار کوی۔ په هغه ځای کی خلکو ته هم معلومه شوه چه دا نبی حق دے ځکه ئے ښیرے داسے زر ولګیدے بیا هم هغے خلکو ایمان نهٔ راوړو، عُتیبه د نبی علیه السلام د قتل اراده کړے وه ځکه ئے ورته ښیرے وکړے۔

۳- واقعه : بله واقعه دا راغله چه ابوجهل ووئیل چه زهٔ دا سړے (محمد) قتلوم ځکه چه دا د خپل کار نه نهٔ قلاریږی، که تاسو ما د بنو عَبد مناف نه خلاصوئ او که نهٔ خو زما نور صبر ختم دے، دا زهٔ ختموم او رسول الله ﷺ به همدغسے د خپل عادت مطابق مونځ کولو او د حجر اسود او د رکن یمانی ترمینځ به په مانځه ولاړ وو، سجده کی وو چه ابوجهل لاړو یو دومره لوی کمر ئے راواخستو چه په ډیر تکلیف سره ئے اوچتولے شو اراده ئے وه چه زهٔ دا کمر ورته په سر ګوزار کړم نو ختم به شی ځکه د نبی علیه السلام سجده ډیره اُوږده وه،

دهٔ چه دا کمر راواخستو خلك ورته گوري، انتظار کوي چه اُوس به ئې وژني، چه کله رانزدې شو نو کمرئې وغورځولو او منډه ئې کړه او تلك زيړ شو، شونډې ئې وچې شوې، مشركينو ورته ووئيل څه چل درباندې وشو؟ هغه ووئيل : زما مخې ته داسې يو غټ اُوښ راغې چه ما هيچرته دومره غټ نهٔ وو ليدلې، ډيره غټه خُله، لويه مرئ او غټ سر ئې وو چه يوه لويه بلا وه نزدې وه چه زهٔ ئې تول تير کړې وې.

الله سبحانه وتعالیٰ ورته دا ښکاره کړو.

بل حديث کې دي : نبي عليه السلام فرمائي : (ذَاكَ جِبرِيلُ)

دغه جبريل عليه السلام وو، که چرته دا راغلې وې نو جبريل عليه السلام به ټوټې ټوټې کړې وې ليکن الله رب العزت په ملائکو نهٔ وژلو ددې دپاره چه نوم او عزت ئې ونشي، بلکه د کمزورو خلکو د لاسه ئې وژلو چه بې عزته شي،

نو د نبي عليه السلام حفاظت الله تعالیٰ د ابوجهل نه وکړو چه دا معجزه وه چه الله رب العزت کله د خپلو بندګانو حفاظت په ملائکو کوي کله چه نور اسباب ختم شي او دا واقعي خبره ده چه کله به يو کمزورې سړې وي ملائك به ورته شاته ولاړ وي، هغه به ئې دفاع کوي، خبره به ورله جوړوي، ملائك به ورته خبره ښائي، د حق پرستو سره الله سبحانه وتعالیٰ ملائك راليږي يو تن به وي او د هيچا نه به نهٔ يريږي.

٤- **واقعه** : بله واقعه دا راغله، عبد الله بن عمرو بن العاص رضی اللہ عنہ فرمائي :

قريش په حِجرِ اسماعيل کې راجمع وو (دا د کعبې په خوا کې ځاى دې، حطيم هم ورته وائي د کعبې يوه حصه ده چه لس پنځلس کسان پکې ځائيږي) دوى ناست دي (او زهٔ هم په دغه مجلس کې حاضر وم)، دا ئې ووېل چه مونږ خو محمد ته ډير صبر وکړو دومره صبر مونږ هيچا ته نهٔ دې کړې، بل ځوك خو مونږ سمدست وژنو او دې د مرګ نه پاتې شو، نو پدې کې رسول الله ﷺ راغې حجر اسود ئې ښکل کړو او طواف ئې شروع کړو او په دوى باندې په حالت د طواف کې راتير شو

نو دوى ورپسې ورپاځيدل تکليف ئې ورکولو، کنځلې او ردې بدې ئې ورته ووئيلې دې دپاره چه نبي عليه السلام ته ضرر ورکړي، د رسول الله ﷺ په مخ مبارك کې دا خبره ښکاره شوه، ليکن د الله رسول ورته څه ونهٔ وئيل، په دويم چکر کې پرې بيا راتير شو نو دوى ورته بيا کنځلې او ردې بدې ووئيلې نو دا په مخ د رسول الله ﷺ کې وپيژندلې

شوے (یعنی مخ مبارك ئے متغیر شو خفه شو پدے خبرو) په دریم کرت چه په طواف کی راتاؤ شو دوی ورته کنځلے کولے نو نبی علیه السلام ورته ووئیل :

(يَا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ ! أَمَا وَالَّذِىْ نَفْسِىْ بِيَدِهٖ لَقَدْ جِئْتُكُمْ بِالذَّبْحِ)۔

اے د قریشو ډلے ! قسم په هغه ذات چه زما نفس د هغه په لاس کی دے یقیناً ما تاسو ته ذبح راوړیده۔

یعنی تاسو ددے خپل فساد نه نهٔ منع کیږئ ما تاسو ته ذبح راوړے ده، ما نه خلاصیدلے نشئ ځکه رسول الله ﷺ ته د مخکی نه د جهاد امر وو چه تهٔ به د الله په لار کی قتال کوے خو لږ صبر وکړه چه وخت ئے راشی، نو نبی علیه السلام ورته ووئیل چه زهٔ به تاسو ذبح کوم که ایمان مو رانهٔ وړو،

(مشرکینو پدے خبره پورے هم توقے کولے روستو د هجرت په واقعه کی راځی چه دوی ته دا یاد وو چه مونږ ته محمد (علیه السلام) وئیلی وو چه زهٔ به تاسو ذبح کوم۔ دوی ووئیل دا به مونږ کله ذبح کوی او حال دا چه دا ددهٔ د مرګ شپه ده)۔

کله چه نبی علیه السلام دوی ته ووئیل چه زهٔ به تاسو ذبح کوم نو په مشرکینو ډیر هیبت او یره راغله او سرونه ئے ښکته کړل لکه ګویا که چه په سرونو ئے مارغان ناست وی۔ (الرحیق المختوم ص:۷۸)

په یو روایت کی راځی چه نبی علیه السلام خاوره راواخسته او د دوی په سرونو باندے ئے واچوله او دا خاوره چه په چا هم ولګیده هغه په بدر کی مردار شو او هدایت ورته ونکړے شو۔ نو د نبی علیه السلام دے خبرے په مشرکینو باندے ډیر بد اثر وکړو او دوی ورته ووئیل چه تهٔ خو حلیم وے، تا خو به داسے خبرے نهٔ کولے، نبی علیه السلام ته ئے نرمے خبرے شروع کړے،

(دوی خپله ورسره سختی کوله او هغه ته وائی چه تهٔ خو ښه سړے وے او تا له نهٔ ده پکار چه داسے خبرے وکړے، تهٔ خو صادق او امین ئے)۔

پدے کی چه شپه تیره شوه نو سوچ ئے وکړو چه دا مونږ څه چل وکړو، مونږ ورته رد بد ووئیل او چه کله هغه یوه خبره سخته وکړه نو مونږ ترے هیبت کی شو او بیرته مو ورته نرمے خبرے وکړے او د هغه صفت مو وکړو چه تهٔ خو صابر او امین وے نو صبا له چه راغے نو سم پرے وردانګو او وژنو ئے، نو صبا له چه نبی علیه السلام راغے نو دوی

تهولو ورودا: ګكل او په نبي عليه السلام باندے ئے د وهلو شروع وكړه او واقعةً د هغه د قتل اراده ئے وه۔

عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فرمائي: زۀ ولاړ وم، هيڅ مے نشو كولے، ځكه رعب او يره ډيره زياته وه (دا خو هسے په خُله وئيلے كيږي كله چه موقعه راشي بيا پته لګي، داسے حالت چه په چا راشي د هغه زړۀ مړئ ته راخيژي)۔

مشركين په وهلو شروع دي، عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه فرمائي:

ما يو سړے وليدو چه رسول الله ﷺ ئے د غاړے او د مرئ د ځادر نه نيولے وو او رابنكلو ئے نو پدے كي سيدنا ابوبكر صديق رضي الله عنه خبر شو هغه راغے يو مشرك ئے د اوږے نه ونيولو شاته ئے ګوزار كړو، بل مشرك ئے ونيولو هغه ئے هم شاته ګوزار كړو او ژړل ئے او دا ئے وئيل: ﴿أَتَقْتُلُونَ رَجُلًا أَنْ يَقُولَ رَبِّيَ اللَّهُ﴾۔

آيا تاسو هغه سړے وژنئ چه هغه وائي زما رب الله دے او الله طرفته دعوت وركوي، د رجل مؤمن په شان خبره ئے وكړه چه هغۀ فرعون ته وئيلي وو چه تاسو هغه شخص وژنئ چه هغه وائي زما رب الله دے۔

مشركانو نبي عليه السلام پرينبودو او په ابوبكر صديق ئے شروع وكړه چه تۀ په دۀ ننګ كوے، د ابوبكر صديق لور اسماء رضي الله عنها فرمائي چه د ابوبكر صديق اوږدے اوږدے ځنړے وے، سهار كي ئے غټ غټ وينبته وو چه مازيګر شو سرئے پاك ختلے وو مشركينو ترے ټول وينبته ويستلي وو او ابوبكر ئے دومره وو هلو چه شكل ئے ورله بدل كړو بيا ابوبكر صديق بے هوشه شو بيا زنانه راغلے ابوبكر صديق ئے اُوچت كړو او كور ته ئے يوړو، د مازيګره پورے په ځان نۀ پوهيدو، او مازيګر چه كله په هوش كي راغے نو اول ئے دا تپوس وكړو چه أَيْنَ رَسُولُ اللَّهِ؟ رسول الله ﷺ چرته دے؟،

(دے ته محبت وائي، داسے نۀ وائي چه دا څنګه دين دے چه مونږ ته پكي سختے او تكليفونه او پريشاني رسيږي)،

چا ورته ووئيل نبي عليه السلام ښه دے۔ نو ابوبكر صديق ووئيل زۀ هغه وخته پورے نۀ په آرام كيږم ترڅو چه مے نبي عليه السلام ليدلے نۀ وي، زنانو بوتللو، سرو بوتللے هم نشو ځكه چه يره ډيره سخته وه نو كله ئے چه د هغه سره ملاقات وشو نو په آرام شو نو د نبي عليه السلام په خلاف او د هغه د مرګ دپاره قسم قسم كوششونه

شوي وو۔

عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه فرمائي: دا هغه سخت تکليفونه وو چه ما د قريشو نه وليدل چه نبي عليه السلام ته ئے ورسول۔

د الله د زمري سيدنا حمزه رضي الله عنه اسلام

پدے خړه او د تکليف والا فضاء کي يوه بريښنا راښکاره شوه چه لاره ئے روښانه کړه چه هغه د الله د زمري سيدنا حمزه رضي الله عنه اسلام وو دۀ د نبوت د شپږم کال په آخر کي اسلام راوړو او مشهوره دا ده چه دا د ذي الحجے مياشت وه۔

او ددے واقعه دا وه چه ابوجهل ددے هرڅه باوجود بيا هم د خپلے بے عقلئ نه نۀ ايساريدو نبي عليه السلام د صفا غونډئ خوا کي روان وو نو ابوجهل ورته کنځلے وکړے او کانړے ئے راواخستو او د نبي عليه السلام سرئے پرے ويشتلو او وينې ئے پرے راماتے کړے، (د مرګ حمله ئے پرے ونکړه ځکه چه د ابو طالب نه يريدو او بل ئے الله حفاظت کولو ليکن زړۀ کي ئے خو دا وه چه کله به ئے وژنو، موقعه ئے کتله)

نو پدے وخت کي يو څو کسانو ته الله تعالیٰ هدايت وکړو يو د هغے نه د الله زمرے سيدنا حمزه رضي الله عنه وو،

دے پدے ورځ ښکار له تلے وو او دے مشرك وو، کله چه واپس راغے يوے زنانه ورته په لاره کي ووئيل چه تۀ خبرئے چه ابوالحکم يعني ابوجهل ستا د وراره سره څه وکړل؟ دا زنانه د عبد الله بن جُدعان وينځه وه چه دا په مکه کي مالداره سرے وو او د صفا په خوا کي ئے کور وو او دے زنانه دا ټول حالت ليدلو۔

هغه ووئيل: څه ئے وکړل؟ هغے ووئيل : کنځلے ئے ورته وکړے او په سر باندے ئے ووهلو، وينې ئے پرے راماتے کړے نو سيدنا حمزه رضي الله عنه ته غيرت ورغے او غصه شو (ځکه چه دا په قريشو کي ډير غيرتي او ناز والا وو، کله کله قومي او ملکي غيرت هم د سړي دپاره فائده مند شي)۔

او په غصه کي سيده لاړو هيڅا ته ئے نۀ کتل ابوجهل ته ورغے، ابوجهل په مسجد حرام کي ناست وو او د بنو مخزوم قبيلے خلك هم ورسره وو، ابوجهل ته ئے همغه شان

کنځلې وکړې، کاڼړې ئې راواخستو، ابوجهل ئې ویشتلو او سر ئې ورله مات کړو۔

نو بنو مخزوم راپاڅیدل حمزه ئې نیولو او وژلو ئې نو ابوجهل ورته ووئیل چه دا پریږدئ، دۀ ته څه مه وایئ ځکه چه ما دده وراره ته ډیرې سختې خبرې کړیدی (دا د ابوجهل هوښیارتیا وه چه ماحول راته خراب نشي نو د خپل ځان تکلیف ئې هم برداشت کړو، کافرو ته دا قسم چلونه ډیر یاد وی)

خیر دے که زۀ دۀ ووهلم، مقصد ئې دا وو چه هسے نۀ چه حمزه چرته په هغه باندے ایمان رانۀ وړی۔

نو حمزه رضی الله عنه ورته ووئیل : (یَا مُصَفِّرَ اِسْتِهٖ! تَشْتِمُ ابْنَ أَخِیْ وَأَنَا عَلٰی دِیْنِهٖ؟)۔ اے هغه سړیه! چه تۀ همیشه دستونه کوے هر وخت دے کوناتی زیړ نیولی دی، تۀ زما وراره ته کنځلې کوے او زۀ هم د هغه په دین یم؟، څه ستا لاس دے خلاص، کله چه دا خبره ئې وکړه کورته لاړو۔ چه شپه شوه سوچ ئې وکړو چه ما څنګه ووئیل : وَأَنَا عَلٰی دِیْنِهٖ (چه زۀ دده په دین یم)، د نبی علیه السلام دین خو زمونږ خوښ نۀ دے، د خُلے نه مے دا خبره ختلې ده چه زۀ د هغه په دین یم اُوس به څه کوم؟ که د هغه په دین کیږم نۀ نو خبره او وعده مے کړیده او دا خو ډیر د شرم خبره ده چه خپله خبره بیرته واخلم او که دین اسلام قبلوم نو د هغه دین خو مے خوښ نۀ دے ځکه زمونږ د پلار نیکه خلاف دین دے، د عبد المطلب خلاف دین دے،

پدے کی حیران شو چه یا الله اُوس به څه کوم؟!

نو پدے وخت کی مے الله تعالیٰ ته التجاء او زاری وکړه چه اے الله! تۀ زما رب ئې او زما مالك ئې دا محمد (علیه السلام) چه زما وراره دے که دا په حقه وی او صحیح دین ئې راوړے وی نو زما زړۀ دیته کولاؤ کړه او که غلط دین ئې راوړے وی نو زمونږ ترے نفرت پیدا کړه نو حمزه رضی الله عنه فرمائی چه شپه لا تیره نۀ وه چه اسلام زما زړۀ ته دننه ورننوتو، الله سبحانه وتعالیٰ ددے دعا د وجه نه ما ته هدایت وکړو۔

(د هدایت د قبلولو طریقه دا ده چه ضد به نۀ کوے، دعا به غواړے چه اے الله! که دا خبره حقه وی ما پرے پوهه کړه او که حقه نۀ وی نو زما نفرت ترے پیدا کړه)

الله سبحانه وتعالیٰ چه سیدنا حمزه رضی الله عنه اسلام ته راوستو نو مسلمانان پرے ډیر خوشحاله شو ځکه دا یو ځوان او پهلوان سړے وو، دین ته پرے ډیره ترقی

مـلاؤ شوه او په غیرت او بهادرئ او کلکوالی سره اسلام ته راداخل شو ترڅو چه د دین اسلام د اُوچتولو دپاره په اُحد کی شهید هم شو۔ رضی الله عنه۔ د الله رسول ورته د الله تعالیٰ او د هغه د رسول زمرے وئیلے دے۔

د اسلام بله شمعه بلیدل - اسلام د عمر رضی الله عنه

د سیدنا حمزه رضی الله عنه د اسلام نه درے ورځے روستو الله تعالیٰ یو بل نعمت راوستو چه هغه د مخکنی نه ډیر لوئ وو او پدے سره ډیره رڼا راغله هغه دا چه سیدنا عمر بن الخطاب رضی الله عنه ایمان راوړو، دا شپږم کال د نبوت وو چه ددے کال آخری ورځے وے د ذی الحجے میاشت وه۔

د عمر رضی الله عنه په اسلام راوړلو مشرکین ډیر سخت خفه شول، ملائے ماته شوه او ایمان والو ته پرے ډیر زیات عزت حاصل شو۔

عمر رضی الله عنه چه ایمان راوړو په مشرکینو یو ذلت راغلو چه دا خو یو قیمتی انسان زمونږ د ډلے نه لاړو او د مسلمانانو په جماعت کی داخل شو،

ددے وجه نه سیدنا عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی : عمر رضی الله عنه چه کله ایمان راوړو نو مونږ ته ډیر عزت ملاو شو

(مَا كُنَّا نَقْدِرُ أَنْ نُصَلِّيَ عِنْدَ الْكَعْبَةِ حَتَّى أَسْلَمَ عُمَرُ)

مونږ پدے قادر نهٔ وو چه د کعبے په خوا کی مونځ ښکاره وکړو ترڅو چه عمر اسلام راوړو۔

سیدنا صهیب بن سنان الرومی رضی الله عنه فرمائی:

(لَمَّا أَسْلَمَ عُمَرُ ظَهَرَ الْإِسْلَامُ وَدُعِيَ إِلَيْهِ عَلَانِيَةً)

هرکله چه عمر فاروق اسلام راوړو نو اسلام ښکاره شو او ښکاره ورته دعوت شروع شو)، خلکو به ورته ښکاره دعوت ورکولو چه اے خلکو ! راشئ اسلام کی داخل شئ۔ (وَجَلَسْنَا حَوْلَ الْبَيْتِ حِلَقًا)۔

او د بیت الله په خوا کی مونږ د حلقے په شکل کیناستو، مخکی نشو کیناستلے بل کار دا وشو: (وَطُفْنَا بِالْبَيْتِ) او مونږ د کعبے نه طواف شروع کړو۔

(وَانْتَصَفْنَا مِمَّنْ غَلَظَ عَلَيْنَا)

چا چه به مونږ سره سختي کوله مونږ به څه نا څه بدله هم اخستلې شوه د عمر د اسلام په وجه.

(وَرَدَدْنَا عَلَيْهِ بَعْضَ مَا يَأْتِيْ).

او چا چه به څه خبره وکړه نو څه نا څه جواب به مو هم ورکولې شو.

سیدنا عمر فاروق رضي الله عنه څلویښتم مسلمان دے، ددۀ نه مخکې نهه دیرشو کسانو ایمان راوړے دے په شپږو کالو کې دغه معمولي شان خلك تیار شویدي. او دا عدد خو ډیر کم دے لیکن بیا هم د نوح علیه السلام د زمانې په نسبت پدے اُمت کې خیر ډیر دے چه هغه نهه نیم سوه کاله دعوت کې اویا (۷۰) کسانو یا اوه (۷) کسانو ایمان راوړے وو بنا بر اختلاف روایت.

سیدنا عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د سیدنا عمر فاروق رضي الله عنه نه تپوس وکړو: (لِمَ سُمِّيْتَ الْفَارُوْقَ؟) تاته فاروق ولې وئیلې کیږي؟ نو عمر رضي الله عنه ورته وفرمایل چه ما کله ایمان راوړو ما رسول الله ﷺ ته ووئیل:

(أَلَسْنَا عَلَى الْحَقِّ إِنْ مِتْنَا أَوْ حَيِيْنَا؟)

آیا مونږ په حق نۀ یو، که مونږ مړه یو یا ژوندي یو؟ نبي علیه السلام راته وفرمایل:

(بَلٰى وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ إِنَّكُمْ عَلَى الْحَقِّ إِنْ مُتُّمْ أَوْ حَيِيْتُمْ)

ولې نه، قسم په هغه ذات چه زما نفس د هغه په لاس کې دے یقیناً تاسو په حق یئ که ژوندي یئ او که مړه، نو ما وویل:

(فَفِيْمَ الْاِخْتِفَاءُ؟ وَالَّذِيْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَنَخْرُجَنَّ)

نو بیا مونږ ولې پټ ناست یو؟ قسم په هغه الله چه تۀ ئې په حق سره رالیږلې ئې خامخا به مونږ بهر ته ووځو)، دا پټ عملونه ولې کوو، ځئ چه د مشرکینو مینځ کې دین اسلام ښکاره کړو، مونږ ته هیڅوك څه نشي وئیلې،

د نبي علیه السلام هم دا خبره خوښه شوه چه دعوت ښکاره شي. نو د صفا غونډۍ د لاندې د سیدنا ارقم رضي الله عنه یو کور وو چه دا د رسول الله ﷺ د تعلیم ځای او په اسلام کې اولنۍ مدرسه دغه کور وو)

نو عمر رضي الله عنه فرمائي چه مونږ راووتلو او دوه صفونه مو جوړ کړل په اولنی

صف کی (سیدنا) حمزه رضی الله عنه دے او ملګری ورسره دی او په دویم صف کی عمر رضی الله عنه دے او رسول الله ﷺ ورسره دے، په لاره باندے د مسلمانانو د خپو نه داسے دُوړی روانی وی لکه څنګه چه وړهٔ په یوه ژرنده یا میچنه کی کیږی او هغه دوړه کوئ تردے چه مونږ مسجد حرام ته راننوتو، مشرکینو چه کله حمزه ته او ما ته وکتل نو په هغوی باندے دومره غم راغلو چه دومره غم ورته کله هم نهٔ وو راغلے (ځکه کفر د اسلام غلبه نهٔ غواړی، د مسلمانانو ډیروالے او د هغوی طاقت اُوس هم کافران نهٔ شی برداشت کولے او پخوائے هم نهٔ غوښتهٔ، دا د کفارو طریقه ده چه حق مغلوبه کول، د مسلمانانو په یو ځای جمع کیدل او د هغوی طاقت په هره زمانه کی کافران نهٔ غواړی، ددے وجه نه د مسلمانانو د افتراق او د جداکولو او یو بل باندے د بدګمانه کولو اُوس هم د کافرو یوه دسیسه شروع ده).

نو په کافرو باندے ډیر سخت رعب راغے نو پدے ورځ باندے رسول الله ﷺ ما ته فاروق نوم کیښودهٔ چه ستا د وجه نه الله پاك د حق او د باطل فرق راوستلو.

سیدنا عمر الفاروق رضی الله عنه هغه صحابی دے چه بعض علماء ورته مرادِ رسول وائی، د رسول الله ﷺ مراد دے یعنی رسول الله ﷺ ددهٔ د اسلام اراده کړے وه او نور صحابه کرام مُریدین دی، دوی اراده کړے وه چه په رسول الله ﷺ باندے ایمان راوړی او ملاقات ورسره وکړی.

د سیدنا عمر الفاروق رضی الله عنه د ایمان د راوړو اسباب او وجوهات

د سیدنا عمر رضی الله عنه د اسلام راوړو مختلف واقعات دی

(۱) یو دا چه نبی علیه السلام دعا کړے وه :

(اَللّٰهُمَّ أَعِزَّ الْإِسْلَامَ بِأَحَبِّ الرَّجُلَيْنِ إِلَيْكَ : بِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ اَوْ بِأَبِیْ جَهْلِ بْنِ هِشَامٍ).

اے الله ! د دوه سړو نه چه کوم تا ته ډیر محبوب وی په یو سره اسلام مضبوط کړه او د ایمان توفیق ورکړه. یو په عمر بن الخطاب باندے یا په ابوجهل بن هشام باندے چه ددهٔ نوم عمرو بن هشام وو.

دا دواړه په علاقه کی قوی او مشران کسان وو پدے کی چه یو کس اسلام راوړی نو

اسلام ته پرے عزت ملاویږي۔

دلته دے خبرے ته فکر پکار دے چه الله تعالیٰ څنګه تقدیر لیکلے وی همغسے کار کیږي نبی علیه السلام د خولے نه داسے دعا وختله چه یو پکی مسلمان کړی، داسے ئے ونهٔ وئیل چه اے الله! دواړو ته اسلام نصیب کړه، ځکه چه الله تعالیٰ د ابوجهل په تقدیر کی هدایت لیکلے نهٔ وو نو الله ورته د ګمراهئ اسباب برابرول د ابوجهل د ظلم او د هغه د بد عملئ د وجه نه۔

نو پدے کی عمر رضی الله عنه د الله تعالیٰ خوښ او محبوب وو ځکه ورته الله تعالیٰ د هدایت توفیق ورکړو، د جاهلیت په زمانه کی د الله محبوب وو، د الله خوښ وو ځکه چه روستو ورله د ایمان توفیق ورکوی۔

ددے نه دا معلومه شوه چه د سیدنا عمر بن الخطاب رضی الله عنه سره د الله تعالیٰ مینه ده او د رسول الله ﷺ هم ورسره محبت وو څوك چه د سیدنا عمر رضی الله عنه سره دشمنی لری هغه د الله هم دشمن او د رسول الله هم دشمن دے لکه شیعه ګان د الله او د رسول دواړو دشمنان دی۔

د اَعِزَّ الْاِسْلَامَ نه دا فائده معلومه شوه چه کله د یو سړی په وجه اسلام ته طاقت او فائده ملاؤ شی یو تن داسے وئیلے شی چه د فلانی عالِم په وجه اسلام عزتمند شو، دا د اسلام ښه والے دے چه یو سړے دیته راننوزی او عزتمند شی معلومه شوه چه اسلام کی کمال دے ځکه ئے پدے سړی کی کمال پیدا کړو۔ دویم دا چه کافر ته د هدایت دعا کول جائز دی او کله چه په یو سړی باندے ښه ګمان لری نو هغه ته د ایمان دعا کولے شی۔

(۲) د عمر رضی الله عنه د اسلام دویمه وجه:

د سیرت په یو روایت کی دی چه هغه مفسرینو هم په تفسیر د سورة الحاقه کی نقل کړیدے: عمر رضی الله عنه فرمائي چه یوه ورځ زما د کور نه بهر شپه راغله د څه حاجت د وجه نه پدے کی زهٔ مسجد حرام ته د شپے راغلم، مسجد حرام کی ما نبی علیه السلام ولیدهٔ چه د شپے راغلے دے، عبادت کوی

(نبی علیه السلام به د شپے عبادت دپاره مسجد حرام ته راتللو سره د هغے نه چه په هغے کی به بتان پراتهٔ وو او بتانو ته به مخامخ نهٔ ودریدهٔ او عبادت به ئے کولو ددے نه

دا فائده معلومیږی چه د مسجد نبوی او مسجد حرام د خصوصیاتو نه دا ده او دارنګه د بیت المقدس هم چه که هلته شرك هم کیږی تۀ به عبادت نۀ پریدے که هلته بدعت هم کیږی تۀ به مسجد حرام، مسجد نبوی او مسجد اقصیٰ نۀ پریدے او د بدعت او شرك نه به ځان ساتے ځکه چه په حدیث کی ددے دریے مساجدو فضیلت راغلے ډے او دے ته په سفر کولو کی اجر خودلے شویدے۔

په خلاف د نورو مساجدو چه کله په هغے کی شرك او بدعت پیدا شو چه د هغے په وجه تۀ خرابیږے یا دے مونځ خرابیږی نو دا مسجد به پریدے او بل ته به ځے، مسجد کی چا مړی خښ کړو، ددے مسجد هغه رونق هرڅه ختم شو، پدے کی مونځ نۀ کیږی او که د مسجد حرام او مسجد نبوی نه مقبره هم جوړه شوه هلته مونځ کیږی دا د هغوی خصوصیت دے ددے وجه نه د خلکو هغه اعتراض ختم شو چه تاسو وایئ چه مسجد کی قبر وی هلته مونځ نۀ کیږی نو په مسجد نبوی کی چه د رسول الله ﷺ قبر دے،

د هغے خو یو جواب دا دے چه قبر د رسول الله ﷺ بهر دے په مسجد کی دننه داخل نۀ دے او کوټه د عائشه رضی الله عنها د مسجد نه بهر ده، اګرکه روسته دغه کوټه خلکو په مسجد کی داخله کړی وی خو د مسجد نبوی عزت پدے نۀ ختمیږی)۔

نبی علیه السلام مسجد حرام ته راغے عبادت ئے کولو، د الله بندګی ئے کوله، عمر رضی الله عنه وائی چه ما ووئیل چه دے سړی ته غوږ ایږدم چه دا څه وائی؟، دا ورته ناشنا ښکاره کیدله، د شپے عبادت او ودریدل او ځان ستړے کول، یو سړے چه په دین کی دننه ننوتلے نۀ وی هغه ته د دین مسئلے ناشنا ښکاره کیږی،

نو ما ووئیل چه که زۀ داسے مخامخ ورشم نبی علیه السلام به ویریږی چه عمر مے وژنی که څه کوی ؟ نو مونځ او تلاوت به پریدی نو زۀ به څه وانۀ ورم۔ نو زۀ د کعبے په بل طرف راتاؤ شوم او په غلاف کی دننه ننوتم او پټ پټ راغلم نبی ﷺ ته مخامخ ودریدم، تیارۀ وه نبی علیه السلام زۀ نۀ لیدم، چه ما غوږ کیخودو نبی ﷺ سورة الحاقه لوستله ما ته ډیر سخت تعجب راغے چه دا خو ډیر ښائسته کلام دے

(ځکه عرب په عربیت باندے پوهیدل او فصاحت او بلاغت نه ښه خبر وو او قرآن کریم کی خو ډیر کمالات دی)

فرمائی چه ما تعجب وکړو چه څومره ښائسته تالیف ئې دے، څومره ښکلے طریقے سره خبرې دی، نو ما ووئیل چه دا سړے شاعر دے په دهٔ باندے د شعر مَلَکه کولاوه شویده، په بعض سړی باندے ملکه کولاوه شی نو دړے نه ئې مُقفٰی (قافیه دار مربوط) کلام راوځی نو نبی علیه السلام دا آیتونه ولوستل :

﴿ وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَاعِرٍ﴾ دا قرآن د شاعر وینا نهٔ ده)، عمر رضی الله عنه فرمائی چه ما ووئیل چه دا محمد (علیه السلام) خو غټ کاهن دے چه زما په زړهٔ پوهه شو چه زما زړه کی دا خبره تیره شوه چه دا شاعر دے نو دهٔ سمدست نفی وکړه۔

(کاهن دیته وائی چه د راتلونکی زمانے د احوالو خبر ورکوی، د خلکو د زړونو خبرے بیانوی۔ کهانت یو ناروا او حرام عمل دے، نبی علیه السلام فرمائی :

(مَنْ أَتٰی كَاهِنًا فَصَدَّقَهٗ بِمَا يَقُوْلُ فَقَدْ كَفَرَ بِمَا أُنْزِلَ عَلٰی مُحَمَّدٍ ﷺ)۔

(څوك چه کاهن ته راشی او د هغه د خبرے تصدیق وکړی نو یقیناً دهٔ کفر وکړو په هغه کتاب چه په محمد رسول الله ﷺ نازل شویدے) ځکه چه دهٔ د الله صفت مخلوق ته ورکړو چه هغه ئې عالِم الغیب وګڼړو او همدے ته شرك وئیل کیږی)۔

مقصد دا چه سیدنا عمر رضی الله عنه وفرمایل : زما زړهٔ کی راغلل چه دا خو کاهن دے نو نبی علیه السلام روستو آیت ولوستلو :

﴿ وَلَا بِقَوْلِ كَاهِنٍ قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ﴾۔

(دا قرآن د کاهنانو وینا نهٔ ده، تاسو ډیر کم عبرت اخلئ)۔

﴿ تَنْزِيْلٌ مِنْ رَّبِّ الْعَالَمِيْنَ﴾۔ د الله رب العالمین د طرفه رالیږلے شوے کتاب دے)۔

نو عمر رضی الله عنه فرمائی چه کله ما دا خبره واوریدله زما زړهٔ کولاؤ شو او د ایمان نُور پکی ورننوتو، د اسلام تخم پکی وکرل شو لیکن بیا هم د جاهلیت تقلید زاباندے غالب وو، د پلار او د نیکه د دین نه متأثره وم

(ځکه چه د پلار نیکه په دین باندے سړے څلویښت پنځوس کاله تیر کړی د هغے سمدست پریښودل گران وی، یو دین پریښودل او بل نوی دین کی ورداخلیدل ډیر گران کار دے۔ ددے وجه نه دا تشدد دے چه څوك یوه ورځ دعوت وکړی او سړے په اوله ورځ مسلمانوی او د اعلیٰ درجه ایمان مطالبه ترے کوی نو هغه چرته په یوه ورځ کی سمیدے شی؟)

پدے وخت کی عمر ﷛ لا پورہ مسلمان شوے نۀ دے د زړہ نہ ئے لا پوستکے زائل شوے نۀ دے، نو عمر رضی الله عنه پدے کی کور تہ لاړو او زړۀ کی ئے دا راغلل چہ زۀ محمد رسول الله ﷺ وژنم چہ خلك ترے خلاص کړم او قریش ھسے ھم ورتہ پہ غصہ وو، ھر وخت بہ ئے وئیل چہ دا نبی وژنو۔ لیکن الله رب العزت حق ذات دے، د یو کس د مرگ ډیرے ارادے بہ کیږی لیکن الله د ھغہ د طرفنہ دفاع کوی لکہ چہ الله فرمائی :

﴿اِنَّ اللّٰهَ يُدَافِعُ عَنِ الَّذِيْنَ آمَنُوْا﴾ (الحج :۳۸)۔

(یقیناً الله تعالیٰ د مؤمنانو د طرفنہ دفاع کوی)، د ھغوی حفاظت کوی، دا د الله د وجود دلیل دے چہ یو انسان تہ بہ ټول غشی متوجہ وی او نۀ بہ مړ کیږی دا ولے ؟ دا ځکہ چہ الله ئے پہ شا ولاړ دے)۔

نو عمر رضی الله عنه توره راواخستہ، غاړے تہ ئے واچولہ او ځی د نبیٔ علیه السلام د مرگ پسے، پدے کی نُعَیم بن عبد الله النَّحَّام العَدَوِی رضی الله عنه ورسرہ ملاو شو بعض وائی د بنو زھرہ یا د بنی مخزوم نہ ورسرہ یو سړے پہ لارہ کی ملاو شو، چرتہ روان ئے اے عمرہ ؟ ھغہ ووئیل: زۀ دے محمد (ﷺ) پسے ځم (اَلَّذِیْ صَبَأَ)۔

ھغہ تن چہ صابی شویدے، چہ خلك ترے خلاص کړم۔ ھغہ ورتہ ووئیل : تۀ بہ د بنی ھاشم او بنو زھرہ ؤ نہ څنگہ خلاص شے کلہ چہ تا محمد (ﷺ) قتل کړو؟

نو عمر ورتہ وفرمایل : (مَا أَرَاكَ اِلَّا صَبَوْتَ) تۀ ھم داسے ښکارے لکہ چہ صابی شوے ئے او ھغہ دین دے پریښے دے پہ کوم چہ تۀ وے۔ نو ھغہ ورتہ ووئیل : زۀ بہ تا تہ ددے نہ ډیرہ د تعجب خبرہ دروښایم ھغہ دا چہ :

(اِنَّ خَتَنَكَ وَاُخْتَكَ قَدْ صَبَوَا وَتَرَكَا دِيْنَكَ الَّذِىْ اَنْتَ عَلَيْهِ)۔

یقیناً ستا اَوښی او خور اسلام راوړے دے او ھغہ دین ئے پریښے دے پہ کوم دین چہ تۀ ئے)۔

نو د خپل کور غم دے وکړہ۔ (کہ دا سړے مسلمان وی نو ددۀ غرض دا وو چہ عمر ئے د نبی علیه السلام نہ منع کړلو او کہ مسلمان نۀ وی لکہ ځینی وائی چہ دا د بنو مخزوم نہ وو نو بیا ئے مقصد دا دے چہ اول دے دا خپلوان ختم کړہ، د خپلے خور او د اَوښے (سعید بن زید رضی الله عنه) غم وکړہ چہ دا جنتی صحابی دے)

نو عمر رضی الله عنه فرمائی: زۀ چہ ھغوی پسے ورغلم ما د بھر نہ تلاوت واوریدو

او د خباب بن الارت رضی الله عنه آواز مې واوریدو چه دهٔ مخکې ایمان راوړے وو او دوی دواړو ته ئے سبق وئیلو،

(نبی علیه السلام دا خپل ملګری د مخکې نه مقرر کړی وو چه یو بل ته تربیت او تعلیم ورکړی)۔

خباب بن الارت چه کله د عمر آواز واوریدو، د کور په یو طرف کې پټ شو (د عمر هیبت زیات وو) او د عمر خور فاطمه بنت الخطاب رضی الله عنها دغه صحیفه د قرآن پټه کړه چه په هغې کې سورة طه لیکلے شوے وه، نو عمر چه راننوتو تپوس ئے وکړو: (مَا هٰذِهِ الْهَيْمَنَةُ؟) ـ دا څه پټے خبرے مو کولے؟ ـ هغوی ووئیل خپل مینځ کې مو خبرے کولے نو عمر ورته ووئیل: تاسو څه خبرے کولے، شاید چه تاسو صابیان شوی یئ؟ نو اوښی ورته ووئیل: (يَا عُمَرُ! أَرَأَيْتَ اِنْ كَانَ الْحَقُّ فِيْ غَيْرِ دِيْنِكَ ؟)

(خبر راکړه که چرته حق ستا د دین نه علاوه په بل دین کې وی؟)

هغه به مونږ نهٔ قبلوو او تا پسے به روان یو، نو عمر ﷺ غصه شو (نیکانو خلکو کې تیزی ډیره وی او دا د پاکو خلکو مزاج وی چه هغوی بیخی منافقت نهٔ قبلوی)

نو عمر رضی الله عنه ورودانګل او هغه ئے راغملولو او په وهلو ئے شروع وکړه پدے کې ئے خور راغله چه د خپل خاوند نه دفاع وکړی عمر ئے ونیولو او را ئے ښکلو دے دپاره چه خپل خاوند ترے خلاص کړی نو عمر رضی الله عنه لاس وچت کړو او خپله خور ئے په څپیړه ووهله چه پوزه ئے ورله ماته کړه او وینی پرے راماتے شوے۔

په بعض روایاتو کې راغلی دی چه: خور ئے غصه وشوه او وے ویل: (نَعَمْ قَدْ أَسْلَمْنَا، وَآمَنَّا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ فَاصْنَعْ مَا بَدَا لَكَ) آؤ، مونږ مسلمانان شوی یو او مونږ په الله او په رسول باندے ایمان راوړیدے، څه چه دے خوښه وی وکړه۔

(الروض الانف ۲/۱۱۹)

پدے کې عمر رضی الله عنه چه د خپلے خور وینے ولیدلے، نو لږه غصه ئے سړه شوه، حیاء ورغله او پښیمانه شو، کیناستو خور ته ئے ووئیل چه دا تاسو سره چه کومه صحیفه ده او تاسو هغه لوستله هغه ما ته راکړئ چه زهٔ ئے ولولم؟ نو خور ئے ورته ووئیل: مونږ دا تا ته نهٔ درکوو ځکه چه تهٔ پلیت سړے ئے،

(دا هم د هغه خور وه د عمر په شان غیرتی وه)

بیائے وویل : ﴿ لَا یَمَسُّهٗ اِلَّا الْمُطَهَّرُوْنَ﴾ قرآن کریم پاك خلك راخلي۔
(د تاریخ ددے روایت نه معلومیږي چه قرآن کریم دے بے اودسه سړے نۀ راخلي او دا راجح قول دے اګرکه پدے کی د علماؤ اختلاف شته دے، فقهي مسئله ده لیکن بے اَودسه سړے به قرآن له ګوتے نۀ وروړي د اکرام او د عزت د وجه نه)
نو خورئے ووئیل چه تۀ قرآن ته ګوتے نشے وروړے، ورشه غسل وکړه بیا به ئے درکړو نو عمر رضی الله عنه لاړو غسل ئے وکړو،
د بعض روایاتو نه معلومیږي چه خور ورته وویل چه مونږ ستا نه پدے صحیفه باندے ویریږو چه تۀ به ئے وشوکوے؟ نو عمر قسم وکړو چه ما ته ئے راکړئ زۀ ئے بیرته درکوم۔ نو خورئے ددۀ په اسلام کی طمعه پیدا شوه نو دائے ورته وویل چه لاړ شه غسل وکړه، عمر فاروق وائی چه قسم په الله ما د شرك ذلت په دغه ورځ وپیژندو نو لاړو غسل ئے وکړو او راغے نو خور ورته صحیفه ورکړه په هغے کی ئے سورة طه لیکلے وه نو اول ئے (بسم الله الرحمن الرحیم) ولوستل (ځکه چه عمر کاتب او لوستونکے وو) نو عمر ووئیل: اَسْمَاءٌ طَیِّبَةٌ طَاهِرَةٌ) دا خو ډیر پاك او ښکلی نومونه دی بیا ئے ﴿ طٰهٰ مَا اَنْزَلْنَا عَلَیْكَ الْقُرْآنَ لِتَشْقٰی اِلَّا تَذْكِرَةً لِّمَنْ یَّخْشٰی﴾ تر دے چه ﴿ اِنَّنِیْ اَنَا اللّٰهُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنَا فَاعْبُدْنِیْ وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِیْ﴾ (طه : ١٤) پورے ئے دا آیتونه ولوستل۔
بیائے ووئیل: (مَا أَحْسَنَ هٰذَا الْكَلَامَ وَأَكْرَمَهٗ؟!)۔
دا څومره ښائسته او عزتمند کلام دے۔
[دُلُّوْنِیْ عَلٰی مُحَمَّدٍ؟]۔
ما ته محمد (رسول الله ﷺ) راوښایئ زۀ ورځم۔
پدے کی خباب بن الارت رضی الله عنه چه دا خبره د عمر واوریده نو د کوټی نه راښکاره شو او وے وئیل : (اَبْشِرْ یَا عُمَرُ ! بِدَعْوَةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ لَیْلَةَ الْخَمِیْسِ فِیْكَ)۔
اے عمره تۀ خوشحاله شه، تا ته زیرے دے چه د پنجشنبے په ورځ تا ته رسول الله ﷺ دعا کړے وه چه اَللّٰهُمَّ أَعِزَّ الْاِسْلَامَ بِأَحَبِّ الرَّجُلَیْنِ اِلَیْكَ بِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ أَوْ بِأَبِیْ جَهْلِ بْنِ هِشَامٍ)۔
اے الله ! تۀ اسلام ته عزت ورکړه په دے دوه کسانو کی چه تاسو ته کوم یو خوښ وی په عمر بن الخطاب یا په ابوجهل باندے)۔

نو زما امید دے چہ تا تہ الله هدایت کوی، تۀ خوشحاله شه او دا ډیره لویه خبره ده چه یو سړی ته الله تعالیٰ د اسلام هدایت وکړی، د کفر د تیارے نه راوځی او په اسلام کی داخل شی، د جنت لاره او د الله د رضا اختیاروی دی۔

نو عمر فاروق ته خباب بن الارت رضی الله عنه د رسول الله ﷺ ځای وروښودو چه د صفا غونډئ خوا ته د ارقم رضی الله عنه په کورکی دے نو عمر رضی الله عنه راروان شو، د دار ارقم دروازے ته راغلو، دروازه ئے ووهله پدے کی یو مسلمان راروان شو چه د دروازے په چاودی کی ئے وکتل نو عمر دے چه توره ئے غاړے ته اچولے ده، هغه واپس شو او ملګرو ته ئے ووئیل چه عمر (رضی الله عنه) دے او توره ورسره ده، داسے نۀ چه جنګ له راغلے وی نو د الله زمری حمزه ﷛ ووئیل: (وَعُمَرُ؟) عمر څوك دے؟، راپریدئ دروازه ورته کولاوه کړئ:

(اِنْ كَانَ جاءَ يُرِيْدُ خَيْرًا بَذَلْنَاهُ لَهُ وَاِنْ كَانَ جَاءَ يُرِيْدُ شَرًّا قَتَلْنَاهُ بِسَيْفِهِ)

که د خیر اراده ئے وی مونږ به ورته ورکړو او که د شر اراده ئے وی نو په خپله توره به ئے قتل کړو۔ (سیدنا حمزه رضی الله عنه هم یو پهلوان سړے وو ځکه ئے داسے خبره وکړه)،

نبی علیه السلام پدے وخت کی په کوټه کی دے وحی ورته کیدله کله چه وحی ختمه شوه نبی علیه السلام وفرمایل: راپریدئ چه راشی نو عمر راننوتو نبی علیه السلام د نورو ملګرو نه مخکی خپله ورغے (فَأَخَذَ بِمَجَامِعِ ثَوْبِهِ وَحَمَائِلِ السَّيْفِ) نو د ګریوان او د توری د کاټیٔ د ځای نه ئے ونیولو او داسے حرکت ئے ورکړو

(د نبی علیه السلام عادت مبارك دا وو چه کله به ئے چا ته د هدایت تلقین کولو یا به ئے علم ورنقل کولو نو د سړی نه به ئے کله غاړه اخستله او کله به ئے پرے لاس ایښودلو لکه جبریل علیه السلام د نبی علیه السلام سره داسے کار کړے وو نو دلته هم نبی علیه السلام عمر فاروق لره داسے وخوزولو دے دپاره چه تیار شی)

او ورته ئے ووئیل:

[أَمَا أَنْتَ مُنْتَهِيًا يَا عُمَرُ حَتّٰى يُنْزِلَ اللّٰهُ بِكَ مِنَ الْخِزْيِ وَالنَّكَالِ مَا نَزَلَ بِالْوَلِيْدِ بْنِ الْمُغِيْرَةِ]۔

تۀ د خپل شرك او ګناهونو نه نۀ منع کیږے تر دے چه الله به دربانده شرمنده ګی او سخت عذاب نازل کړی لکه څنګه ئے چه په ولید بن مغیره بانده نازل کړے وو (چه

یوه دانه ئې پرې راخیژولې وه او د هغې په ذریعه ئې مردار کړې وو)

او نبي علیه السلام ددې نیولو نه روستو دا هم وفرمایل:

[اَللّٰهُمَّ أَعِزَّ الْإِسْلَامَ بِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ]۔

اې الله ! پدې عمر بن خطاب باندې تهٔ اسلام مضبوط کړه نو پدې وخت کې د عمر رضی الله عنه زړهٔ ته اسلام ورننوتلو او وې وئیل:

[أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰـهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ]

زهٔ ګواهي کوم چې د الله نه سوئ بل معبود نشته او محمد (ﷺ) د الله بنده او رسول دې۔ شرك ختم او ایمان ئې راوړو، نو مسلمانان دومره خوشحاله شو چې :

[فَكَبَّرَ النَّاسُ تَكْبِيْرَةً سَمِعَهَا أَهْلُ الْمَسْجِدِ]

مسلمانانو د الله اکبر آوازونه وکړل تردې چې د مسجد خلکو واوریدل چې دا څه چل وشو۔

صحابه کرام فرمائي چې کله عمر فاروق ایمان راوړو نو مونږ عزتمند شو۔

سیدنا عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمائي: [مَا زِلْنَا أَعِزَّةً مُنْذُ أَسْلَمَ عُمَرُ]۔

کله چې عمر بن الخطاب ایمان راوړو نو د هغه ورځې نه مونږ ډیر عزتمند شو۔

لکه حدیث کې هم دا راغلي دي چې ترڅو پورې عمر رضی الله عنه ژوندې وي نو فتنې به نهٔ وي او ددهٔ په شهادت باندې به فتنې راکولاوې شي۔ نو عمر ډیر برکتي انسان وو، الله تعالیٰ د خیر او د فائدو نه ډك کړې وو۔

هرکله چې سیدنا عمر رضی الله عنه ایمان راوړو نو هغه فرمائي چې ما د ملګرو نه تپوس وکړو چې د رسول الله ﷺ په قریشو کې غټ دشمن څوك دې ؟

نو ما ته چا ووئیل چې ابوجهل دې، نو زهٔ هغه پسې لاړم دروازه مې ورته وټکوله، ابوجهل رابهر شو (چې دا د عمر فاروق ماما هم دې او عمر ئې خورئې دې)، ابوجهل ډیر خوشحاله شو وې وئیل: [مَرْحَبًا وَأَهْلًا يَا ابْنَ أُخْتِيْ]۔

مرحبا دي تا ته اې خوریه په خیر راغلې۔مَا جَاءَ بِكَ؟۔ څه خبرې راوستلې؟۔

نو عمر رضی الله عنه ورته ووئیل: چې زهٔ تا ته د یوې خبرې خبر درکوم چې (إِنِّيْ أَسْلَمْتُ)۔ یقیناً ما ایمان راوړیدې پدې خبره چې لا اله الا الله وان محمد رسول الله۔ محمد علیه السلام د الله رسول دې نو ابوجهل ورته سمدست ووئیل: قَبَّحَكَ اللّٰهُ وَقَبَّحَ

مَـا جِئْتَ بِهٖ) ۔ الله دے تـا هـم هـلاك كـړي اوكـومـه خبره چه تا راوړے ده دغه دے هم الله هلاكه كړي) نو دروازه ئے بنده كړه او زما نه ئے منډه كړه۔

ابـن جـوزي رحـمـه الله ذكـر كـړيـدي چـه كـلـه بـه يـو سړي ايمان راوړو نو ابوجهل به رانيولو او وهلو به ئے او عذاب به ئے وركولو او عمر ﷺ فرمائي چه ما نه وتښتيدو،

سيـدنـا عـمـر رضي الله عنه فرمائي : بيا زهٔ خپل ماما عاص بن هشام پسے لاړم هغه تـه مـے هـم ووئيـل چـه مـا ايمان راوړيدے هغه هم وتښتيدو او دروازه ئے ځان پسے بنده كړه، دا د عمر رضي الله عنه د شجاعت او بهادرئ نښه ده۔

نـو پـدے كـي مـے بيـا تپـوس وكـړو چـه په مشركينو كي غټ نمام (چغلخور) سړے څـوك دے؟ چـا تـه راوويـل چـه جَـمِيـل بن مَعْمَر الجُمَحي دے چه دا په قريشو كې ډير زيات اَنْقَلُ الْحَدِيْث (خبره ډير نقل كونكے) دے، زهٔ هغه ته ورغلم، هغه ته مې ووئيل چه مـا خـو اسلام راوړيدے نو هغه هيڅ ونهٔ ويل او سيده مسجد حرام ته روان شو او په تيز آواز بـانـدے ئے اعلان وكړو چه (يَـا قُـرَيْشُ ! اِنَّ عُمَرَ قَدْ صَبَأَ) ۔ اے قـريشـو ! عمر صابي شويدے)۔ زهٔ ورپسے روستو ورروان وم نو ما ووئـيـل: كَذَبَ وَاللّٰهِ اِنِّيْ اَسْلَمْتُ)۔

دے دروغ وائي قسم په الله زهٔ مسلمان شوے يم۔

(ددے خبرے نه معلوميږي چه څوك تا ته ووائي چه تهٔ وهابي شوے ئے، يا غير مقلد شـوے ئے نـو تـهٔ بـه ورتـه وائـے چـه نـهٔ زهٔ د كـتـاب او سنت تابع شوے يم، زمونږ دعوت وهـابيتـوب تـه نهٔ دے بلكه زمونږ دعوت قرآن او سنت، اسلام او ايمان ته دے او د اهل حديث نـوم چـه مـونږ اخلو ددے دپاره چه امتياز راشي د نورو بدعتيانو نه نو اهل حديث توب څه بل شے نهٔ دے بلكه د همدغه كتاب او سنت د تابعدارئ نوم دے، او دا د يو تنظيم نوم نهٔ دے بلكه د يوے عقيدے او مسلك نوم دے، هرڅوك چه پدے روان وي هغه اهل حديث دے)۔

نـو سيـدنـا عمر رضي الله عنه هم دا خبره وكړه چه زهٔ صابي نهٔ يم بلكه ما خو اسلام راوړيدے۔

ثمامه بن اثال رضي الله عنه ته ملګرو ووئيل چه تهٔ صابي شوے هغه ووئيل:

(مَا صَبَوْتُ وَلٰكِنِّيْ اَسْلَمْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ)۔

زهٔ صابي شوے نهٔ يم بلكه ما د رسول الله ﷺ سره اسلام راوړيدے)۔

نوکله چه دغه جمیل بن معمر آواز وکړو نو په عمر باندے ټول مشرکین خبر شو، عامو کسانو ورسره جنګ شروع کړو ځکه یو کس دوو ورسره جنګ نشو کولے، دهٔ هم ورسره جنګ شروع کړو تردے چه عمر ستړے شو او کیناستو او قریشو ته ئے ووئیل چه څه مو خوښه وی وکړئ قسم په الله ! که مونږ درے سوه کسان برابر شو، دا مکه به یا مونږ پریدو یا به ئے تاسو پریدئ)۔

عمر رضی الله عنه کور ته لاړو، پدے کی قریشو ووئیل چه دا سړے مونږ نه روغ لاړو ددهٔ وژل پکار دی ځکه نور کسان ایمان راوړی او خرابیږی نو مشرکینو وریسے دومره لوی لښکر راویستلو چه د مکے کندے د هغې نه ډکے شوے،

نو عمر رضی الله عنه باندے د انسانی طبیعت مطابق په کور کی یره راغله چه دومره قوم راروان دے، توری ورسره دی او زهٔ یواځے یم، پدے کی عاص بن وائل السهمی چه د عمر رضی الله عنه په جاهلیت زمانه کی د حلفاو نه وو، د عمر کور ته راغلو، هغه ته ئے ووئیل چه ولے یریږے؟ هغه وائی ما ورته ووئیل چه دا ستا قوم راځی او ما وژنی نو عاص بن وائل ووئیل : ولے دے وژنی ؟ ما ووئیل: ځکه چه ما اسلام راوړیدے نو هغه راته تسلی راکړه او وے وئیل: (لَا سَبِيْلَ اِلَيْكَ)۔ غم مهٔ کوه ستا خوا له نشی راتلے۔ دا خبره چه هغه وکړه زهٔ په امن کی شوم ځکه د عربو قانون او عادت دا دے چه کله چا ته امن ورکړی نو څوك په هغه باندے حمله نشی کولے)

نو عاص بن وائل د عمر د کور نه راووتو او د خلکو سره ملاؤ شو چه دا کندے ترے ډکے وے، دهٔ ورته ووئیل : کوم خوا ځئ ؟ هغوی ووئیل : د خطاب ځوی پسے ورځو چه صابی شویدے۔ هغه ورته ووئیل : هغه طرفته لاره نشته (یعنی ما هغه ته امن ورکړیدے) نو خلك د هغه نه واپس شو۔

په روایت د ابن اسحاق کی دی : چه دا خلك داسے واپس شو لکه ګویا که جامه د سړی نه ویستلے شی۔

د قریشو د رسول الله ﷺ سره د نرمئ طرز اختیارول

د نبوت د شپږم کال په آخر کی د عمر فاروق رضی الله عنه او د حمزه رضی الله عنه

په ایمان راوړو ډیر تغیر پیدا شو، د ظلم او د کفر چه کومې ډیرې وریځې وې په هغې کې تغیر پیدا شو او څه نا څه رڼا راغله او لږ معمولي غوندې آسانی راغله،

او قریشو چه مسلمانانو ته کوم عذابونه ورکول د هغې د نشې نه رابیدار شول او د رسول الله ﷺ او د مسلمانانو سره ئې په معامله کې بل طرز اختیارکړو چه کیدې شي په نرمئ سره کار وشي،

مشرکینو بکل الامکان کوشش کولو چه د نبي علیه السلام دعوت بند کړي، ځکه چه توحید په هغوی باندې ډیر بد لګیدو، د الله د یو والي خبرې په مشرکانو خلکو ډیرې بدې لګې، د دین خبرې کافران نۀ برداشت کوي، د دنیا په هغه سر کې به وي د دین خبرې نۀ برداشت کوي په هغوی باندې داسې لګیږي لکه بمونه، بې حیائي به بهر کیږي څوك به پرې نۀ خفه کیږي او په مسجد کې به سنت عمل وشي خلك به پرې خفه وي)،

خو اُوسه پورې دا کوشش د دوی په عذابونو او تکلیفونو ورکولو سره وو لیکن په هغې کار ونشو نو اُوس ئې د دنیا د څیزونو پیش کولو سره دعوت بندول غوښتل چه کیدې شي چه پدې سره دا دعوت بند شي او حال دا چه دا مسکینان خبر نۀ وو چه د الله د دین د دعوت مخې ته دا ټوله دنیا د ماشي د وزر برابره هم نۀ ده نو دوی پدې مراد کې نا امیده او ناکامه شو۔

نو پدې کې یوه ورځ رسول الله ﷺ په مسجد حرام کې یواځې ناست دې او د مشرکینو عادت دا وو چه هغوی به په مسجد حرام کې ناست وو ګپ شپ به ئې لګولو، قرآن کریم کې ځکه راځي چه دا مشرکان بیت الله کې څه وائي خو شپیلي وهي او لاسونه ټهوي د دوی بل کار نۀ وو سوا د ګپ شپ نه۔

مشرکین په مسجد حرام کې ناست دي ګپ شپ لګوي پدې کې د مشرکینو یو مشر دې عتبه بن ربیعه (کَانَ سَیِّدًا فِیۡ قَوۡمِهٖ)۔

دا په خپل قوم کې سردار وو، دۀ دې مشرکانو ته وویل چه ستاسو خوښه نۀ ده:
اَلَا اَقُوۡمُ اِلٰی مُحَمَّدٍ فَاُکَلِّمَهٗ)۔

چه زۀ دې محمد ته ودریږم او څه خبرې ورسره وکړم: لَعَلَّهٗ یَقۡبَلُ بَعۡضَهَا ۔ شاید چه زمونږ بعضې خبرې به قبولې کړي (فَیَکُفُّ عَنَّا) هغه به زمونږ نه بند شي، مونږ به د

هغه نه بند شو مونږ پسے به خبرے نۀ کوی او مونږ به هغه پسے خبرے نۀ کوو، پس دا لانجه به ختمه شی، مشرکینو وویل راځئ چه ورشو دا خو زمونږ مقصود دے۔

(دا خبره د جملے معترضے په ډول واورئ چه کله حق بیانیرږی نو کافران او مبتدعین خلك ئے نۀ منی، وائی به زمونږ پرے یقین نشته، دا دروغ دی چه لږه زمانه سرے په حق کلك ودریږی نو بیا وائی چه صحیح ده دا دے هم وی لیکن دومره ده چه زمونږه لاره غوره ده، زمونږ دین غوره دے او دغه به هم وی خو منسوخ شان خبری دی چه لږه زمانه دعوت سرے نور وکړی او په حق ودریږی نو بیا وائی چه ټیك ده دا دواړه غوره دی او جائز لارے دی آخره کی بیا دیته راشی چه صحیح ده دا ستاسو طریقه غوره او افضله ده خو مونږ څه چل وکړو اُوس د معاشرے نه مونږ مجبوره یو، د رسم او رواج نه مجبوره یو، د پخوا زمانی نه مونږ دا دین پدغه طریقه چلولے دے اُوس ئے څنګه پریدو، نو خوشبین ترے جوړ شی او بیا په آخره کی دیته راورسیږی چه صحیح ده دا ستاسو خبره غوره ده تاسو پرے عمل کوئ مونږ درته هیڅ هم نۀ وایو، مهربانی وکړئ مونږه پریدئ آخر کی دفاعی شکل اختیار کړی چه مونږ ته څه مۀ وایئ)

نو مشرکین دے زمانه کی دے حالت ته رارسیدلی دی چه دا نبی مونږه اُوس پریدی په څه طریقه سره د دوی دا دعوت بند کړو دا هله کیږی چه په حق باندے سړے کلك ولاړ وی او چه په حق باندے کلك نۀ وی او معمولی غوندے حادثه راشی او بیا حق پریدی نو دا نقصان دے)

نو مشرکینو دے خپل مشر (عتبه) ته وویل چه ځه ورشه۔

عتبه لاړو او د رسول الله ﷺ خوا کی کیناسته او دا ئے ورته وویل :

(یَا مُحَمَّدُ اِنِّیْ اَعْرِضُ عَلَیْكَ اُمُوْرًا تَنْظُرُ فِیْهَا لَعَلَّكَ تَقْبَلُ بَعْضَهَا)۔

اے محمده! زۀ په تا باندے څه خبرے پیش کوم چه تۀ په هغے کی وګورے شاید چه تۀ به بعضے قبولے کړے او د هغے د وجه نه به زمونږ ترمینځ صلحه راشی څکه :

(اِنَّكَ قَدْ اَتَیْتَ قَوْمَكَ بِاَمْرٍ عَظِیْمٍ فَرَّقْتَ بِهٖ جَمَاعَتَهُمْ وَسَفَّهْتَ بِهٖ اَحْلَامَهُمْ وَعِبْتَ بِهٖ اٰلِهَتَهُمْ وَدِیْنَهُمْ وَكَفَّرْتَ بِهٖ مَنْ مَضٰی مِنْ اٰبَائِهِمْ)۔

تا دے خپل قوم ته ډیر لوی کار راوړیدے (مونږ له دے لوی کار کتلے دے) هغه دا چه ددے خبری په وجه تا زمونږ د مکے والو ترمینځ اختلاف او جدائی راوستله حال دا چه

مونږ یو خلك وو
(دلته د سوچ خبره ده اختلاف چا پیدا کړے وو او نسبت ئے چا ته وکړو؟، د اختلاف په معنیٰ نهٔ پوهیدل)
او ددے په وجه دے د خپل قوم بیوقوفی وکړه چه دا بی وقوفه دی نهٔ پوهیږی او د دوی د آلهـهٔ عیبونه او بدی دے ووئیله چه دا هیڅ نشی کولے دا بیکاره دی او د عبادت لائق نهٔ دی او د دوی پلار نیکه ته دے کافر ووئیل حال دا چه دوی کافر وو لیکن دوی نهٔ منل چه کافر دی۔
نبی علیه السلام ورته وفرمایل: (قُلْ یَا اَبَا الْوَلِیْدِ اُسْمَعُ)، اے ابوالولیده ! خبره کوه زهٔ به ئے آورم۔ هغه وویل:
(فَاِنْ کُنْتَ تُرِیْدُ بِهٰذَا الْاَمْرِ مَالًا جَمَعْنَا لَكَ مِنْ اَمْوَالِنَا حَتّٰی تَکُوْنَ اَکْثَرَنَا مَالًا)
که تهٔ اراده لرے پدے کار باندے (پدے دین بیانولو) د مال د راجمع کولو نو مونږ به درله خپل مالونه راجمع کړو تردے چه تهٔ به په مونږ تولو کی ډیر مالداره شے، (خودعوت پریده) (وَاِنْ کُنْتَ تُرِیْدُ بِهٖ شَرَفًا سَوَّدْنَاكَ عَلَیْنَا حَتّٰی لَا نَقْطَعُ اَمْرًا دُوْنَكَ)
او که ستا غرض د دین په بیانولو شرافت او مشری وی نو مونږ به دے خپل مشر جوړ کړو ستا د مشورے نه په غیر به مونږ هیڅ کار نهٔ کوو ستا په فیصله به زمونږ فیصله وی۔ (وَاِنْ کُنْتَ تُرِیْدُ بِهٖ مُلْکًا مَلَّکْنَاكَ عَلَیْنَا)
او که تهٔ بادشاهی غواړے نو مونږ به دے خپل بادشاه کړو،
(وَاِنْ کَانَ هٰذَا الَّذِیْ یَاْتِیْكَ رِئْیًا تَرَاهُ لَا تَسْتَطِیْعُ رَدَّهٗ عَنْ نَفْسِكَ طَلَبْنَا لَكَ الطِّبَّ وَبَذَلْنَا فِیْهِ اَمْوَالَنَا حَتّٰی نُبَرِّئَكَ مِنْهُ)
او که دا شخص چه تا ته راځی پیرے او جنی وی چه تهٔ طاقت نهٔ لرے د هغه د واپس کولو او په تا ناست وی نو مونږ به ستا دپاره علاج وګورو (یو طبیب او ډاکټر به درله وګورو چه هغه به ستا علاج وکړی) او مونږ به په هغے کی مالونه خرچ کړو تردے چه تا به د هغه نه جدا کړو۔
(فَاِنَّهٗ رُبَّمَا غَلَبَ التَّابِعُ عَلَی الرَّجُلِ حَتّٰی یُدَاوٰی مِنْهُ)۔
ځکه دا پیرے کله کله په سری باندے کینی او د سری دماغ خراب کړی، هغه پرے غالب شی او انسان ورته کمزورے شی، نو کیدے شی چه په تا باندے پیرے ناست وی

تهٔ مجبوره ئے او ددے د وجه نه به دا دین بیانوے۔

پدے خبرو کی تا ته کومه خبره وی هغه مونږ ته وکړه مونږ به درله هغه کار وکړو خو دا دعوت پریده؟۔

تردے چه عتبه د خپلو خبرو نه فارغ شو نبی علیه السلام ترے دا ټولے خبرے واوریدے ورته ئے وفرمایل: (أَفَرَغْتَ يَا أَبَا الْوَلِيدِ) اے ابو الولیده تهٔ فارغه شوے؟،

هغه وویل: آؤ زهٔ فارغ شوم نو نبی علیه السلام ورته وویل: (فَاسْمَعْ مِنِّيْ) اُوس زما خبره هم واوره۔

(نو ددے نه دا معلومه شوه چه د کافر او د اهل بدعو خبره آوریدل هم پکار دی داسے به ورته نهٔ وائے چه زهٔ ستا خبره نهٔ آورم، د هغه خبره به مکمله واوری بیرته به ورله په صحیح طریقی سره جواب ورکړی، د خبرے په مینځ کی دے که ورودانګل د هغه زړهٔ به تش شوے نهٔ وی نو دا دمحاوری او د مجالسی طریقه نهٔ ده بلکه طریقه دا ده چه د بل سړی کومه خبره او غصه ده، پریده چه هغه خپله خبره وکړی چه زړهٔ ئے تش شی او ذهن ئے فارغه شی او غصه ئے ختمه شی بیا ورته خبره وکړه، چه ذهن ئے فارغه نهٔ وی نو خبره ورته مهٔ شروع کوه ځکه بیا خبره ضائع کیږی دا اصول پیژندل ډیر ضروری دی، نبی علیه السلام دے کافر ته دا ونهٔ وئیل چه زهٔ ستا خبره نهٔ آورم تهٔ کافر ئے اول ایمان راوړه بیا به خبره آورم)۔

نو نبی علیه السلام ورته وفرمایل: تهٔ هم اُوس ما ته غوږ کیده نو نبی علیه السلام ورته قرآن شروع کړو، د نبی علیه السلام طریقه دا وه چه هغه به په قرآن کریم سره دعوت ورکولو، اعوذ بالله او بسم الله ئے ووئیله او بیا ئے سورت فصلت شروع کړو:

﴿ حٰمٓ تَنْزِيْلٌ مِّنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، كِتٰبٌ فُصِّلَتْ اٰيٰتُهٗ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا لِّقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ، بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا فَأَعْرَضَ أَكْثَرُهُمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُوْنَ ...... ﴾

دا سورت ئے شروع کړو (یو د رسول الله ﷺ وینا ده او بل د قرآن کریم مزه ده چه په هغے کی خومره خوند او لذت به وو، او بیا د دعوت په شکل او د نبی علیه السلام په جذبه وئیل شوی وو نو دا خومره خوارهٔ وو)

دا آیتونه ئے ورته وویل چه پدے آیتونو کی الله تعالیٰ د قرآن کریم متعلق خبره کړیده چه څوك د قرآن نه اعراض کوی د هغوی بدی ئے بیان کړیده، او دا دعوت ئے

ورکړیدے چه اے خلکو ! د الله د کتاب نه مخ مۀ اړوئ، پدے کی چه کومے عقیدی او اعمال دی دا خپل کړئ، دا چه کومه نظریه درکوی دا صحیح لاره ده، دا سورت ئے لوستلو تردے چه دے آیت ته ورسیدو:

﴿فَإِنْ أَعْرَضُوا فَقُلْ أَنْذَرْتُكُمْ صَاعِقَةً مِثْلَ صَاعِقَةِ عَادٍ وَثَمُودَ﴾۔

(یعنی که دے مشرکانو مخ واړولو او دا قرآن ئے نۀ منلو نو اے زما رسوله ! تۀ ورته ووایه چه زۀ تاسو ته یره درکوم د عادیانو او ثمودیانو د عذاب په شان)۔

عادیان الله تعالیٰ په هوا باندے تباه کړی وو او ثمودیان ئے په چغه او زلزله باندے نو هغه شان عذابو نه به دریاندے راشی۔

پدے کی عُتبه ویریدو ځکه د رسول الله ﷺ په باره کی د دوی یقین وو چه دا پیغمبر حق دے او ددۀ دا خبرے صحیح خبری دی نو پاڅیده او د رسول الله ﷺ په خُله مبارکه باندے ئے لاس کیښودو چه بس کړه، الله ته وګوره او رَحِم (یعنی خپلولئ) ته وګوره۔ وجه دا وه چه د الله د عذاب نه ویریدو چه دا صاعقه چرته په مونږ باندے نازله نشی۔

الله رب العزت چه کومه دهمکی ورکړی ده دا عبث نۀ ده، د قرآن کریم نه چه سړے فائده اخلی نو د قرآن د دهمکیانو نه به یریږی، الله بندګانو ته دهمکی ورکوی چه زۀ به تاسو سره ګورم، ﴿ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴾

ددے آیتونو په خوند به هله پو هه شے چه ځان ته مُتوجه شی چه الله مونږ بندګانو ته وائی چه تاسو به قبر ته راځئ او که نۀ، زۀ به درسره ګورم۔

کله چه دے مشرك دا دهمکی او زورنه واوریده نو روان شو۔ د مشرکینو خوا ته چه ورغلو هغوی وویل: (وَاللهِ لَقَدْ جَاءَكُمْ بِغَيْرِ الْوَجْهِ الَّذِي ذَهَبَ بِهِ)

قسمْ په الله په کوم مخ باندے چه دا سړے تلے وو په هغه مخ باندے دا سړے رانغلو، د سړی شکل بدل شویدے داسے نۀ چه په دۀ باندے ئے چرته جادو نۀ وی کړے (ځوك چه به مسلمان شو نو دوی به وئیل چه جادو پرے کړے شویدے)

پدے کی چه دا راغے هغوی ورته وویل : (مَا وَرَاءَكَ يَا أَبَا الْوَلِيدِ؟)۔

څه احوال دی اے ابوالولیده؟ نو هغه وویل : ما خو د هغه خبری واوریدے:

(إِنِّي سَمِعْتُ قَوْلًا مَا سَمِعْتُ مِثْلَهُ قَطُّ وَاللهِ مَا هُوَ بِالشِّعْرِ وَلَا بِالسِّحْرِ وَلَا بِالْكَهَانَةِ)

قسم په الله چه هغه نهٔ شعر دے، نهٔ جادو دے او نهٔ کهانت دے) ځکه دا درے واړه خبری مونږ پیژنو :

[فَوَاللّٰهِ لَيَكُونَنَّ لِقَوْلِهِ نَبَأٌ عَظِيمٌ]

قسم په الله ددهٔ د قول دپاره به یو لوی خبر وی)۔

ددے به ډیر لوی انجام راوځی زهٔ درته خبر درکوم اے خلکو ! [خَلُّوْا بَيْنَهٗ وَبَيْنَ الْعَرَبِ فَاعْتَزِلُوْهُ]۔ دا پیغمبر او دا عرب پریدئ او تاسو ترے جدا شئ، په دهٔ باندے ایمان هم مهٔ راوړئ او جنګ هم ورسره مهٔ کوئ : [فَاِنْ يَّظْهَرْ عَلَيْهِ الْعَرَبُ فَقَدْ كُفِيْتُمُوْهُ بِغَيْرِكُمْ]

(که دا عرب خلك په دهٔ باندے غالبه شو او دے ئے ختم کړو (ځکه هغوی هم ددهٔ خلاف دی) نو بل څوك به ستاسو د طرفنه کافی شی)، ستاسو په ځای به هغوی کار وکړی ځکه ستاسو هم دا اراده ده چه دا سړے ختم شی نو بل څوك به ئے درله مړ کړی

[وَاِنْ يَّظْهَرْ عَلَيْهِمْ فَمُلْكُهٗ مُلْكُكُمْ وَعِزُّهٗ عِزُّكُمْ]

او که دا پیغمبر په هغوی باندے غالبه شو او ملکونه او علاقے ئے ونیولے نو ددهٔ بادشاهی ستاسو بادشاهی ده او ددهٔ عزت ستاسو عزت دے)۔

په قوم کی چه یو سړی ته عزت ورکړے شی پدے سره ټول قوم عزتمند ګرځی لکه په قرآن کریم کی الله تعالیٰ نبی علیه السلام او قریشو ته خطاب کړیدے :

﴿ وَاِنَّهٗ لَذِكْرٌ لَّكَ وَلِقَوْمِكَ وَسَوْفَ تُسْئَلُوْنَ﴾ (الزخرف:٤٤)

دا قرآن ستا دپاره هم شرافت دے او ستا د قوم (قریشو) دپاره هم شرافت دے)۔

یو معنیٰ پدے آیت کی دا ده چه دا قرآن خو د عزت کتاب دے دا خلك ولے ایمان نهٔ راوړی، دا څومره عزت ما قریشو ته ورکړیدے چه رسول مے پکی راولیږه هغه ته مے وحی وکړه چه تهٔ عالَم ته خبر ورکړه او دا د یو قوم دپاره ډیر لوی عزت دے که څوك په عزت پوهیږی، په یو قوم کی یو عالِم پیدا شی دا هم د هغه قوم عزت دے که هغوی پرے پوهه شی، یو قوم کی یو مجاهد یو واعظ یو حافظ د قرآن پیدا شی نو دا د هغوی عزت دے خو ډیر خلك پدے عزت باندے نهٔ پوهیږی)۔

نو دے عُتبه وویل چه دے پیغمبر ته څه مهٔ وایئ داسے کتاب ترے ما واوریدو چه ددے به خامخا یو لوی خبر او لوی انجام راوځی۔

نو هغوی جاهلان خلك وو ځان ئے په خبره نهٔ پوهه کولو د ضد د وجه نه اګر که

هوښيار ډير زيات وو ليکن ضد پکې وو او ضد او تکبر او عناد سړے ډير تباه کوی نو دے قوم ووېل: (سَحِرَكَ وَاللّٰهِ بِلِسَانِهٖ) قسم په الله په تا باندے دے سړی په ژبه سره جادو کړيدے)، دماغ ئے درله ګډوډ کړيدی۔ نو عتبه ووېل:

(هٰذَا رَأْيِيْ فِيْهِ فَاصْنَعُوْا مَا بَدَا لَكُمْ)

دا زما رايه ده ددهٔ په باره کی تاسو له مے درکړه نوره ستاسو خپله خوښه ده)۔

او دا رايه د نبی ﷺ هم خپله خوښه وه کله چه صلح د حديبيه وه نبی ﷺ دے قريشو ته جواب ورولېږه چه تاسو ما سره نور جنګونه مهٔ کوئ ما دے نورو کافرو ته پريدئ که زهٔ چرته په هغوی باندے غالب شوم بيا ستاسو خوښه ده چه زما دين کی داخليږئ او که نهٔ داخليږئ نو خپل فکر وکړئ او که زهٔ غالبه نشوم او زهٔ ئے ووژلم نو ستاسو چه کوم مقصد دے هغه به هسے هم پوره شی نو تاسو ولے زما مقابله کوئ او ځان خرابوئ او د حق مقابله کوئ، نبی عليه السلام هم دا خبره آخره کی کړے وه۔

دا د نبی عليه السلام د دعوت يوه طريقه وه چه د يو قوم د هدايت دپاره ئے مختلفے طريقے اختياری کړيدی،

د نبی عليه السلام دا سيرت زمونږ دپاره رهنما او لاربنودونکے دے۔

پدے باندے هم کار ونشو هغوی ته معلومه شوه چه نبی عليه السلام نهٔ مال غواړی، نهٔ شرافت، نهٔ مشری او بادشاهت۔ او نهٔ پرے څه پيريان ناست دی۔

(دا د دوی هسے خبرے وے، انبياء عليهم السلام د مال جمع کولو دپاره نهٔ راځی بلکه انبياء عليهم السلام باندے الله تعالیٰ خيراتونه او زکاتونه حرام کړی وی د هغوی په بچو باندے حرام کړی وی او د هغوی ميراث ئے هم حرام کړے وی چه د دوی ميراث به بچو ته نهٔ پاتی کيږی، د انبياء عليهم السلام نه چه کوم مال پاتی شی هغه به بيت المال ته ځی دا به د عامو مسلمانانو شريك وی او د ميراث خورو به نهٔ وی دا ولے الله داسے کوی؟ ددے وجه دا ده چه د خلکو په زړونو کی دا شبهه رانشی چه دا نبی خو د مال د جمع کولو دپاره راغلے وو او ښه ګټه ئے ځان له او بچوله وکړه، نو بيا ددے وجه نه په نبوت اعتراض راځی نو الله رب العزت هيڅ قِسم لکه د يو مچ د کيناستلو په اندازه داغ هم په نبوت نهٔ پريدی، نبوت بيخی صفا ساتی چه شبهه نهٔ وی ځکه چه د قيامت په ورځ الله تعالیٰ دا بندګان راګيروی او اُور ته ئے بوځی نو د الله تعالیٰ سره به ډير

مضبوط دلیل وی ﴿ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى اللَّهِ حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ﴾
پیغمبران چه الله راولیږي د خلکو دلیل ختم شو، د انسانانو دلیل بیخي نشته چه د الله دربار کې مونږ پیش کړو چه اے الله مونږ بالکل نهٔ پو هیدو یا په نبي باندے زمونږ دا اعتراض وو، هیڅ اعتراض د هیڅ یو بنده نشته نو که الله تعالیٰ ئے اُورته بوځي په حقه به ئے بوځي ځکه الله رب العزت انبیاء رالیږلي دي او خاصکر محمد رسول الله ﷺ او معجزات ئے ورله ورکړيدي لکه د هغے بیان به راشي ان شاء الله تعالیٰ)۔
مشرکینو کلکه مشوره وکړه چه محمد رسول الله (ﷺ) وژنو، د وژلو نه په غیر دا سرے نهٔ پریدو،
الله فرمائي : ﴿ أَمْ أَبْرَمُوا أَمْرًا فَإِنَّا مُبْرِمُونَ﴾ (الزخرف:۷۹)۔
(بلکه دوی خبره مضبوطه کړه نو مونږ هم خپل کار مضبوطوو)۔
دا مضبوطه مشوره د دوی د مخکې نه وه چه وژل ئے پکار دي، د هجرت په واقعاتو کې هم راځي چه دوی د مرګ ډیر کلك عزم کړے وو، هلته ئے خاص کسان د مرګ دپاره مقرر کړل او دلته ئے خاص کسان نهٔ وو مقرر کړي بلکه چه هر چا مړ کړو۔
پدے کې ابو طالب ویریدو چه دا مشرکین چه د قتل اراده لري داسے نهٔ چه دا ورارهٔ راله مړ نکړي هغه پرے الله مهربانه کړيدے او د نبي علیه السلام حفاظت ئے کولو، پنځه ځلو یبنت یا څه دپاسه کاله حفاظت ئے ورله کړيدے،
ابو طالب لګیا دے مشرك دے د محمد رسول الله ﷺ حفاظت کوي ځکه هغه ویریدو چه دا مشرکان غلطے ارادے لري، ابو جهل کاڼړي راخستي دي، غوښتل ئے چه نبي علیه السلام په سر وولي لیکن الله تعالیٰ ئے حفاظت وکړو۔
عمر رضي الله عنه توره راخستے وه او د نبي علیه السلام د قتل پسے راوتلے وو اګر که بیا ئے اسلام راوړو۔ عقبه بن ابی معیط د نبي علیه السلام په مرئ مبارکه کې څادر اچولے وو او راکاږي راکاږي مرئ ئے ورله دومره خفه کړه چه نزدے وه چه وژلے ئے وے، دا ټول احوال ابو طالب لیدل نو خپل خپلوان ئے راجمع کړل (بنو هاشم او بنو المطلب ئے راجمع کړل۔ (هاشم او مطلب ورونه وو د دواړو بچي ئے راجمع کړل)
او پدے زمانه کې دا ډیره غټه کورنئ وه۔ نو ابو طالب ورته وویل چه تاسو ما سره داسے ودریږئ لکه څنګه چه زهٔ کلك ولاړ یم او ددے پیغمبر حفاظت راسره وکړئ او

خپل جوارِ عربی (د عربو پناهي ورکول) هغه ما سره اختیار کړئ ځکه چه دا قوم رالګی او دا سړے وژنی ځکه چه زمونږ د کور نه د یو سړی مطالبه کوی چه مونږ ته ئے راکړئ چه مړ ئے کړو او مونږ ئے ورته په خپل لاس ورکړو نو دا ځو مره د شرم خبره ده، څه غیرتی خبری ئے ورته وکړے، پدے کی هغوی ټولو د ابو طالب سره اتفاق وکړو چه صحیح ده مونږ ستا ملګری یو پدے چه د محمد رسول الله (ﷺ) حفاظت به کوو څوك به ددهٔ خوا ته نهٔ شی راتللے ترڅو چه مونږه مړهٔ نهٔ یو،

الله تعالیٰ ورته په زړونو کی دا غیرت واچولو، پدے کورنئ کی ډیر کافر دی او لږ پکی مسلمانان دی کافرو هم دا وویل چه مونږ به ئے حفاظت کوو او ایمان والو هم دا وویل چه د الله د وجه نه به ئے حفاظت کوو، کافرو د الله د وجه نه نهٔ کولو چه ګنے د الله نه ویریږی یا د آخرت اراده لری بلکه د قومیت او د عربیت د قانون د وجه نه او د خپلولئ د غیرت د وجے نه ئے دا کار کولو، پدے کی ابولهب ترے جدا شو چه زهٔ خو درسره پدے خبره کی نهٔ ملګرے کیږم، زما محمد (رسول الله ﷺ) کلك دشمن دے، دا لاړو د نورو قریشو ملګرے شو او دا نور که کافر دی او که مسلمانان خو چه د رسول الله ﷺ په خپلوانو کی راځی یعنی بنو هاشم دا ټول ددهٔ سره ودریدل۔

د ظلم او زیاتی معاهده

نو مشرکینو ته معلومه شوه چه ابو طالب دا کار وکړو او خلك د نبی علیه السلام سره ودریدل نو د هغوی اول د قتل اراده وه خو دلته ئے بله اراده وکړه، د قتل اراده ئے پټه وساتله او د دوی سره ئے بله فیصله وکړه او هغه دا چه مُحَصَّب علاقے ته لاړو (چه اُوس ورته عزیزیه وائی، مکه مکرمه کی د غره شاته چه کومه علاقه مِنیٰ ته نزدے ده، دیته خَیْفِ بنی کنانه، وادی محصب هم ورته وائی) دوی لاړل هلته جمع شو، اجتماع ئے وکړه او هلته ئے دا خبره وکړه چه ابو طالب ته تاسو وګورئ ددے سړی حفاظت کوی، اُوس ئے دا خپل خپلوان هم راجمع کړل او هغه ئے هم ځان سره ودرول او مونږ له دا نبی نهٔ راکوی چه قتل ئے کړو مونږه ترے دا مطالبه هم وکړه هغه دا یوه خبره هم نهٔ منی، راځئ چه ددے سړی سره مقاطعه وکړو، عزیز ولی، وروری ورسره ختمه کړو،

ددے زمانی د حُکامو او سیاسی خلکو د اصطلاح مطابق اقتصادی پابندی هم پرے لگوو،

(اقتصادی پابندی لگول او خپلولی پریکول دواړه گران کارونه دی چه په کلی کی د سړی خپلوان او د کلی والا د سړی سره ورانه کړی پلار، ځوی، ورور د سړی سره ورانه کړی او مقابله شروع کړی دا ډیره سخته خبره ده او بیا اقتصادی پابندیٔ کی د سړی خرچے هم کمے شی خوراك څکاك ئے کم شی او لوږه او تنده پرے راشی پداسے وخت کی تینگیدل ډیر گران دی، په نیکانو خلکو دا مصائب ډیر زیات راځی او دلته ئے پدے مشرکینو ورسره هم راوستلی دی ځکه دوی د نبی علیه السلام ملگری دی، پدے ملگرتوب کی په هغوی هم امتحان راغے)،

پدے کی چه د دوی اتفاق راغے نو دوی یوه صحیفه (کاغذ) ولیکلو، د هغے د کاتب (لیکونکی) نوم بغیض بن عامر بن هاشم ووچه دا بغیض په رشتیا بغیض (مبغوض) وو، د الله مبغوض راولگیدو قلم او کاغذ ئے راواخستو او دغه صحیفه ئے ولیکله او د مشرکینو شروط ئے ولیکل نو نبی علیه السلام چه کله خبر شو هغه ورته ښیرے وکړے (او داسے وخت کی ښیرے داسے ظالم ته جائز وی) نو الله پاك د هغه لاس شل کړو ځکه دهٔ د مسلمانانو په مقابله کی دا غلطه صحیفه لیکلے وه۔

(ددے نه دا معلومیږی چه د قرآن او حدیث او اهل حقو په خلاف کتابونه لیکل ډیر ظلم دے، سړے مړ شی لیکن هغه ظلم ئے باقی پاتی وی او خلك د هغه غلطو کتابونو نه غلطے فائدے اخلی نو ددے سزا به هغه ته رسیږی، دے امت کی ډیر خلك داسے تیر شویدی، هر سړے نیك نهٔ دے تیر شوے، ډیر ناکاره خلك تیر شویدی، غلط کتابونه ئے لیکلی دی د هغے په وجه ډیر امت گمراه کیږی، هغه کتابونه گوری، هغه مطالعه کوی نو دغه سړے ځان له د غرونو په مقدار گناهونه جمع کړی د داسے حالت نه الله پورے امان غواړه چه تهٔ مړ شے او تا پسے گناهونه روسته لیکلے کیږی۔

حدیث کی دی : [مَنْ سَنَّ سُنَّةً سَيِّئَةً]۔ د ناروا بنیاد مهٔ اږده۔

نو دے بَغیض ته رسول الله ﷺ ښیرے وکړے لاس ئے خو شل شو لیکن صحیفه ئے مخکی لیکلے وه نو په دغه کاغذ کی دا خبرے لیکلے شوے وے :

[أَنْ لَّا يَقْبَلُوا مِنْ بَنِيْ هَاشِمٍ صُلْحًا] د بنو هاشمو نه به صلحه بالکل نهٔ قبلوو که

هغوی مونږ سره صلحه کوی مونږ به ئے ورسره نهٔ کوو۔
[وَلَا تَأْخُذُهُمْ بِهِمْ رَأْفَةٌ حَتّٰی یُسْلِمُوْهُ لِلْقَتْلِ]۔
په دوی مونږ شفقت هم نهٔ کوو اګرکه د لوږې او تندی او اقتصادی پابندیانو د وجه نه مره کیدل تردې چه رسول الله ﷺ مونږ ته راوسپاری د قتل دپاره)۔
نو بیا به ورسره صلحه کوو چه دا ئے ترخو نهٔ وی راکړې مونږ به په دوی شفقت هیڅکله نهٔ کوو۔
او زمونږ ورانه به د دوی سره پدې طریقه وی چه: [أَنْ لَّا یُنَاکِحُوْهُمْ]۔ نکاح به د دوی سره نهٔ کیږی، خور لور به نهٔ ورکوو او نهٔ ئے ترې کوو،
دویمه دا ده: [وَلَا یُبَایِعُوْهُمْ]۔ بیع وشراء به ورسره نهٔ کوو، نهٔ به ترې څه اخلو او نهٔ به ئے پرې خرڅوو۔ دریمه دا چه: [وَلَا یُجَالِسُوْهُمْ]۔ په یو مجلس کی به ورسره نهٔ کینو۔
[وَلَا یُخَالِطُوْهُمْ] په یو ځای کی به ورسره شریك نهٔ کینو، یو پروګرام کی به ورسره نهٔ یو ځای کیږو او د یو څپر د لاندې یا یو کور کی کیناستل به ورسره نهٔ کیږی همدې ته مخالطت وائی۔
[وَلَا یَدْخُلُوْا بُیُوْتَهُمْ]۔ د هغوی کورونو ته به نهٔ ورداخلیږی۔ [وَلَا یُکَلِّمُوْهُمْ]۔
او خبرې به هم ورسره نهٔ کوو، تردې چه مونږ ته رسول الله ﷺ د قتل دپاره راکړی۔
دا شروط ئے ولیکل ډیرې سختی پابندیانی وې او مشرکین ډیر ضدیان خلك وو چه په یوه خبره به کلك ودریدل بیا به پرې ولاړ وو،
(مخکی داسې وخت وو چه چا به حق مسلك ومنلو نو خلکو به ورته وویل: عزیز ولی به درسره پریدو، جنازی ته به څوك نهٔ درځی، دا د مشرکینو طریقه به ئے اختیاروله، اوس الحمد لله اهل حق دومره ډیر شویدی که چا ته جواب هم ونکړی په سلهاؤ خلك به دې جنازی ته راشی، لږه زمانه مخکی دا خلك ډیر کم ښکاره کیدل اوس د شمار نه وتلی دی)
نو مشرکینو دغه پابندیانی ولګولې او دا صحیفه ئے ویوړه او په کعبه مشرفه کی ئے دننه زوړنده کړه او دا د نبوت د اوم کال ابتداء وه د محرم میاشت وه۔



په شعب ابی طالب کی د بنو هاشمو درے کاله محاصره او قید

رسول الله ﷺ او ابو طالب لاړل مجبوراً په شعب ابی طالب کی دیره شو ځکه چه دلته ورسره نۀ څوك کینی، نۀ ورسره تعلق ساتی، نۀ څه بیع او شراء کوی او ځای ئے بدل کړو،

(شعب ابی طالب په مکه کی د غره شا ته یوه کنده ده د مِنیٰ او د مکے ترمینځ د ابطح (خوړ) مخامخ ده) په هغے کی دیره شو، هغه کسان هم ورسره وو چه مؤمنان وو او کوم چه مشرکان وو او د نبی علیه السلام خپلوان وو هغه هم ورسره وو،

دوی ددے ځای نه بهر راوتلے هم نشو ځکه چه یره هم وه، بیع شراء هم ورسره چا نۀ کوله او خبری هم ورسره چا نۀ کولے تردے چه په نبی علیه السلام او د هغه په ملګرو دومره فقر او لوږه راغله چه د ډیرے لوږی د وجه نه به ئے پاڼری خوړلے، څرمنی به ئے خوړلے او د زنانهٔ او د ماشومانو آوازونه به لرے خلکو آوریدل د ډیرے لوږی د وجه نه، دومره تکلیف او لوی امتحان پرے راغے، او دا امتحان د درے کالو پورے مسلسل روان وو، ابو طالب هم په ډیر تکلیف کی وو او دوی به نۀ راوتل مګر صرف په اشهر الحرم (په عزتمنو میاشتو) کی (یعنی ذی القعده، ذی الحجه محرم الحرام او رجب)

په دے میاشتو کی به هغوی دعوت هم کولو بهر نه چه به کوم حاجیان راتلل هغوی ته به ئے دعوت هم کولو په لوږه کی به هم هغوی دعوت کولو اُوس خو مسلمانانو باندے که لږ تکلیف راشی ورۀ ګران شی بیا ورسره د سیر وړو غم وی، نۀ ورسره د آخرت غم وی، نۀ د قبر، نۀ د اسلام د غلبی غم وی دا ډیر غلط صفت دے او دا د منافقانو صفت دے۔ په اُحُد غزا کی رسول الله ﷺ ته تکلیف دے صحابه کرام شهیدان کیږی نو منافقانو سره د خپل ځان غم وو :

﴿وَطَائِفَةٌ قَدْ أَهَمَّتْهُمْ أَنْفُسُهُمْ﴾ (آل عمران :۱۵٤)۔

یوه ډله وه چه هغوی سره صرف د خپل ځان فکر وو) چه مونږ صرف بچ شو نبی علیه السلام به هم خپل کار کوی او نور مؤمنان به هم خپل کار کوی۔

الله په هغه خلکو رد کوی چه صرف د خپل ځان او د خپلے خیټے غم ورسره وی۔

حال دا چه دا وره خبره ده، خیتیه به الله مروی، که په سل زره روپئ بورئ ورهٔ شی هم الله به ئے مونږ ته راکوی هیڅ غم مهٔ کوه، الله د رزق وعده کړیده)۔

مقصد دا چه د لوږے او د فقر او فاقې د وجه نه به په دین کی سرے تغیر نهٔ راولی چه دینی پروګرامونه خراب کړی اګرکه زمونږ اقتصاد کمزورے هم شی، دجال چه کله راشی د هغه په زمانه کی به ډیر سخت امتحان راشی، د الله په دین به بیا کلکیږی نو مسلمانانو صحابه کرامو بیا هم دعوت جاری ساته، د الله بندګی به کیدله، د ملګرو تربیت به کیدو،)

نبی علیه السلام پدے تکلیف کی تقریباً درے کالو پورے وو،

پدے کی بعض مشرکان د نبی علیه السلام خپلوان وو دوی به پټ پټ د شپے طعامونه دوی ته ورلیږل یو په هغوی کی حکیم بن حزام (رضی الله عنه) وو چه روسته ئے ایمان راوړیدے، دهٔ به خپلے ترور خدیجے رضی الله عنها ته غنم د شپے وروليږل څکه د مشرکینو نه ویریدل څکه چه وعده شوے وه چه هیڅ به هم نهٔ ورلیږو، پدے کی ابوجهل پدے لار روان وو هغه به دا ځارنی ډیرے کولے څکه دا ډیر غلیظ کافر وو، هغه ورته وویل: دا تهٔ چیرته ورے؟، معلومیږی چه محمد او د هغه ملګرو ته ئے ورے نو حکیم بن حزام ورته وویل: دا زهٔ ترورته ورم۔

ابوجهل ووئیل: نهٔ به ئے ورے، قسم په الله زهٔ به تا په مکه کی خلکو ته وشرموم، هغه وویل: ورم به ئے، پدے باندے جنګ شو، ابوالبختری په نوم باندے یو مشرك راغے خلاص ئے کړل نو ابوالبختری ورته وویل: خیر دے دا دے ویسی دا ئے د ترور طعام دے هغے ته ئے لیږی، مګر ابوجهل (لعنه الله) نهٔ پریښودو آخر دا چه د ابوالبختری او د ابوجهل بحث شو او یو بل ته ئے کنځلے وکړے نو ابوالبختری د اُوښ یوه جامه راواخسته او ابوجهل ئے پرے وو هلو او زخمی ئے کړو۔

السيرة النبوية لابن كثير ۲/٤٧)

یو بل مشرك (هشام بن عمرو العامری) به هم دا کار کولو چه د شپے به ئے طعام شعب ابی طالب ته ورلو، دهٔ به په اُوښ باندے طعام واچولو کله چه به د شعب ابی طالب خولے ته راننزدے شو نو د اُوښ د سر نه به ئے واګے لرے کړے او په یو طرف به ئے وو هلو هغه به بنو هاشم او بنو المطلب طرفته ورغلو نو هغوی به ترے دغه سامان

ځانله کوز کړو۔ (السيرة النبوية)

نبی علیه السلام او د هغه ملګرو چه به دخپل ځان دپاره څه شے اخستل پدے ځلورو میاشتو کی به ئے اخستل او د مکے نه بهر به وړاندے تلل او هلته به ئے اخستل ځکه مشرکینو پرے په مکه کی شے نۀ خرڅولو لیکن مشرکینو به دا کار ورسره کولو چه کله به د بهر نه قافله راروانه وه او هغوی سره به غله وه نو مشرکین به ددے مؤمنانو نه مخکی وروتل نو مومنانو چه به اخستل هغوی به پرے ګرانه کړه مثلاً چه مؤمنانو به ترے په لس روپۍ اخستل نو هغوی به وئیل مونږ ته ئے په پنځلس راکړه نو هغوی به خامخا په پنځلس خرڅولو نو دوی به په هغه ځای کی هم وړانے کولو، دومره سختۀ ئے پرے راوستلے وه، پدے سختۀ او تکلیفونو کی وو تردے چه الله سبحانه وتعالیٰ آسانی راوستله۔

﴿اِنَّ مَعَ الْعُسْرِ یُسْرًا﴾ د تکلیف نه روسته آسانی راځی۔

د ظالمانه صحیفے او معاهدے ختمیدل

پدے کی دوه کارونه وشو یو د نبی علیه السلام معجزه ښکاره شوه او دویم دا چه د بعضی مشرکانو په زړونو کی الله سبحانه وتعالیٰ شفقت واچولو اول ددے مشرکینو شفقت دا وو چه هشام بن عمرو بن ربیعه العامری په نوم مشرك په زړۀ کی دا راغلل چه دلته مونږ خوراکونه او مزے کوو او دغه بنو هاشم او بنو المطلب د لوږی نه مری دا خو مونږ ډیره غلطه فیصله کړیده، دا ورانول غواړی،

اُوس داسے یو سړے چه د پوره قوم په مقابل کی را وځی دا خو ډیره ګرانه ده نو هغه د شپے په پټه وګرځیدو او ځان له ئے کسان پیدا کړل نو لاړو زهیر بن ابی امیه المخزومی چه دا یو مشرك وو او د ابو طالب خوریی وو، ددۀ مور عاتکه د ابو طالب خور وه او د عبد المطلب لور وه،

دۀ ته ئے دا وویل:

(یَا زُهَیْرُ، أَرَضِیْتَ أَنْ تَأْکُلَ الطَّعَامَ وَتَشْرَبَ الشَّرَابَ وَأَخْوَالُكَ بِحَیْثُ تَعْلَمُ؟)۔

اے زهیره! آیا تۀ پدے خوشحاله ئے چه تۀ دلته طعامونه خورے او څکل کوے او

ستا ماماګان تا ته معلوم دي چې په څه حالت کې دي؟ هغوی د لوږې نه مړه شول او تږي مړي کوي؟ نو هغه وویل: زۀ څه وکړم؟: (وَيُحَكَ إِنَّمَا أَنَا رَجُلٌ وَاحِدٌ؟).
خوار شي زۀ خو یو سړی یم، یو کس به څه وکړي؟
نو هشام بن عمرو ته معلومه شوه چې دا سړي هم پدې کار باندې خفه دې خو رایه ئې ورله معلوموله چې سخت دې که نرم، عرب ډیر هوښیار خلك وو، دا هوښیارتیا د هغوی نه یادول پکار دی، سمدست به سړی ته خبره نۀ وړاندې کوي، د هغه د اړولو راړولو او د هغه د رائې او د نظریې او د عقیدې د معلوملو نه روسته به ورته خبره کوي که داسې نۀ وه او د اول نه دې ورته خبره وکړه نو خبره به درنه ورانه شي.
نو دې زهیر وویل: زۀ یو سړی یم که ما سره بل کس ملګرې شي (لَقُمْتُ فِي نَقْضِهَا). زۀ به پاځیږم دا صحیفه او وعده به ماته کړم. نو هغه وویل: (قَدْ وَجَدْتَ رَجُلًا) ملګرې دې وموندہ، هغه وویل: څوك دې؟ هشام وویل: زۀ یم. زهیر ورته وویل: (اِبْغِنَا رَجُلًا ثَالِثًا). دریم کس پکار دې چې لږ ډیر شو نو پدې کې هشام لاړو په معطم بن عدی پسې، مطعم بن عدی یو مشر مشرك سړې وو په عربو کې او خصوصاً په مکه کې، هغه له ورغې هغه ته ئې وویل: چې دا بنو هاشم او بنو المطلب زمونږ خپلوان دی (او د عربو خوئی دادې چې د خپلولئ لحاظ ساتی) داسې د رقت او نرمئ خبرې ئې ورسره وکړې مونږ دلته مزې کوو او په هغوی باندې هلته تکلیف دې، او دا مونږ څومره ظلم کړیدې چې د قریشو سره پدې ظلم کې ملګری شوی یو.
مطعم بن عدی وویل: زۀ یو سړې یم بل ملګرې پیدا کړه نو هشام ورته وویل: بل ملګرې شته هغه وویل: څوك دې؟ هشام ورته وویل: زهیر دې. هغه وویل: دریم طلب کړه هغه وویل: دریم خو زۀ یم نو مطعم وویل: څلورم هم پیدا کړه نو هشام لاړو ابو البختری بن هشام پسې چې دا هم لږ نرم مشرك وو هغه ته ئې هم دا خبره وکړه چې زمونږ ددې خلکو سره خپلولی ده او په دوی ظلم کیږی دا ولې داسې کیږی؟
نو ابو البختری وویل: زۀ خو یو سړې یم، زۀ به څه وکړم؟. پدې باندې څوك خبرې کولو والا شته چې مونږ سره مدد وکړي؟.
هشام ورته وویل: مطعم بن عدی او بل زهیر بن ابی امیه دې او زۀ هم درسره یم نو هغه وویل: اِبْغِنَا خَامِسًا. پنځم کس هم طلب کړه نو هشام لاړو د زمعه بن اسود بن

المطلب بن اسد پسے ورغلو هغه سره ئے خبره وکړه او هغه ته ئے د بنو هاشمو خپلولی او حقوقـونـه ذکـر کـړل. هغه ووېل: دا تاسو چه ما کومے خبرے ته رابلئ آیا پدے باندے څوك ملګرے شته ؟ هشام ورته ووېل: آؤ، بیا ئے ورته د دغه کسانو نومونه واخستل.

نـو دا پـنـځـه کسان حَجُون علاقے ته لاړل (کوم ځای کی چه مقبره ده) په هغه ځای کـی ئے لـوظ وکـړو او اتـفـاق ئے وکـړو چـه دا صـحـیفه به مونږ شکوو او ماتوو به ئے، د قریشو خلاف کوو، هرڅه چه وشو شوی به وی ځکه دا د ظلم فیصله شوېده

(کله کله الله تعالیٰ د ظالم او کافر نه د دین کار واخلی،

اِنَّ اللّٰهَ لَیُؤَیِّدُ هٰذَا الدِّیْنَ بِالرَّجُلِ الْفَاجِرِ) د فاجر او کافر نه کله دین ته فائده ورسوی نو د کافر نه هم فائده اخستل جائز دی خو چه هیڅ قید او شرط پکی نهٔ وی).

زهیر بن ابی امیه ووېل: متکلم به زهٔ یم، اول به زهٔ خبره کوم.

نـو کله چه سهار شو دوی خپلو مجلسونو ته لاړل، مشرکین به په مسجد حرام کی ناست وو ګپ به ئے ویشتلو ځکه وزګار خلك وو څه کار به ئے نهٔ وو همدغه فسادونه او شرونـه بـه ئے کار وو، سړے چه وزګار شی دا شرونه او فسادونه ترے صادرېږی ځکه الله تـعـالـیٰ خپـل بندګان مصروفه کړېدی که دا ټول بندګان وزګار وے نو تا به دنیا کی ډېر فسادونه لیدلی وے)

نـو پدے کی زهیر بن ابی امیه المخزومی یو ښائسته شان جوړه اغوستے وه، د بیت الله نه ئے طواف وکړو او راغے آواز ئے وکړو په مسجد حرام کی :

(یَـا أَهْلَ مَکَّةَ !، أَنَأْکُلُ الطَّعَامَ وَنَلْبَسُ الثِّیَابَ وَبَنُوْ هَاشِمٍ هَلْکیٰ، لَا یُبَاعُ وَلَا یُبْتَاعُ مِنْهُمْ؟ وَاللّٰهِ لَا أَقْعُدُ حَتّٰی تُشَقَّ هٰذِهِ الصَّحِیْفَةُ الْقَاطِعَةُ الظَّالِمَةُ).

اے مـکـے والـو! آیا مونږ به خوراك څکاك کوو او جامے به اغوندو او بنو هاشم هلاك شو، د هـغـوی سـره اخستـل خـرڅـول نـهٔ کېږی قسم په الله ! که زهٔ کینم تر هغه وخته پورے چه دا د ظلم او د قطع رحمیٔ صحیفه مونږه شکولی نهٔ وی.

ابوجهل دلته موجود وو د مسجد په یو طرف کی وو هغه ووېل :

(کَذَبْتَ، وَاللّٰهِ لَا تُشَقُّ) تا دروغ ووېل قسم په الله دا به نهٔ شوکېږی، پدے کی زمعه بن اسود راودانګل هغه ووېل : (أَنْتَ وَاللّٰهِ أَکْذَبُ، مَا رَضِیْنَا کِتَابَتَهَا حَیْثُ کُتِبَتْ).

قسم په الله تهٔ ډېر دروغژن ئے، دا چه کله لیکلے کېده مونږ پدے راضی نهٔ وو).

پدے کی چه کوم څیزونه لیکلے شوی دی په هغے مونږ اقرار نهٔ کوو،

ابو البختری ووئیل: (صَدَقَ زَمعَةُ، لَا نَرضٰی مَا کُتِبَ فِیهَا وَلَا نُقِرُّ بِهٖ).

زمعه رشتیا وائی، مونږ نهٔ یو راضی په هغه خبرو چه په صحیفه کی لیکلے شویدی او نهٔ پرے اقرار کوو.

مطعم بن عدی ووئیل: (صَدَقتُمَا وَکَذَبَ مَن قَالَ غَیرَ ذٰلِكَ).

تاسو دواړو رشتیا ووئیل او څوك چه ددے نه سویٰ بله خبره کوی هغه دروغژن دے.

نَبرَأُ اِلَی اللّٰهِ مِنهَا وَمِمَّا کُتِبَ فِیهَا)

مونږ الله ته براء ت کوو د دغه صحیفے نه او د هغه خبرو نه چه پدے کی لیکلے شویدی.

هشام بن عمرو هم دغسے خبره وکړه. مطعم بن عدی مشر سړے وو دهٔ چه دا خبره وکړه نو ابو جهل لږ ذلیله او ښکته شو، بیائے ووئیل:

(هٰذَا أَمرٌ قُضِیَ بِلَیلٍ، وَتُشُورِ فِیهِ بِغَیرِ هٰذَا المَکَانِ).

دا خبره د شپے نه فیصله شویده او ددے ځای نه سویٰ په بل ځای کی پدے باندے مشوره شویده.

کله چه دوی اراده وکړه چه دا صحیفه رالری کړی نو ابو طالب د مسجد په یو طرف کی ناست وو دلته الله تعالیٰ د رسول الله ﷺ یوه معجزه ښکاره کړے وه او هغه دا چه نبی علیه السلام ته الله تعالیٰ خبر ورکړو چه په کعبه کی چه دننه کاغذ زوړند دے هغه صحیفه باندے الله چینجے لګولے دے چه دے چینجی دا کار کړیدے چه دا کاغذ ئے تهول خوړلے دے، د دوی د ظلم خبرے ئے خوړلی دی صرف د الله تعالیٰ نوم نه ئے پکی پریښی دی دا د الله ناشنا د قدرت او د وجود نښه ده او د نبی علیه السلام معجزه ده، مشرکینو به بسم الله پدے طریقه لیکله: (بِاسمِكَ اللّٰهُمَّ). دا لفظ پکی موجود وو او په کوم ځای کی چه د الله لفظ لیکلے وو هغه موجود وو.

نبی علیه السلام دا خبر ابو طالب ته ورکړو چه زهٔ تا ته خبر درکوم چه په کعبه کی چه دننه کوم کاغذ دے په هغے باندے چینجی لګیدلے دے او هغه ئے خوړلے دے، ابو طالب د شعب ابی طالب نه راووتلو او لاړو مسجد حرام ته هغه ناست دے او دا واقعه راغله پدے کی ابو طالب مشرکانو ته ووئیل چه ما ته مے ورارهٔ یوه خبره کړیده که

چرتـه دروغـژن وی نو زۀ دا ورارۀ تاسو ته درکوم مړے کړئ او که رشتینی وی نو تاسو ولے مونږ سره دا ظلم کوئ او دا خپلولی کټ کوئ،

هغـه خبر دا دے چه په کعبه کی دننه کوم کاغذ دے هغه چینجی خوړلے دے ټول ئے ختم کـړیدے صرف د الله نـوم ئے پـریښے دے حال دا چه نبی علیه السلام کعبی ته په درے کـالـه کی راغلے نۀ دے او نۀ چا د کعبے دروازه کولاوه کړیده ځکه هغے ته به جرنده (قُلف) پروت وو او نبی علیه السلام په خط هم نۀ پو هیدو بلکه په حروفو نۀ پو هیدو۔

نـو مشـرکینـو وویـل: دا خبـره خو دے ډیره ناشنا وکړه چه دروازه ئے کولاوه کړه هغه کـاغـذ ئے راواخستـو ټـول خوړلے شوے وو صرف د الله نو مونه پکی وو ځنګه چه نبی عـلیـه السـلام خبر ورکړے وو همغه شان وه یو خو هغه کاغذ وشکول شو د دغه پنځه مشرکانو د وجه نه،

او دویـم د نبی عـلیـه السلام معجزه هم پدے کی ښکاره شوه مشرکان ښه پو هه شو چه دا حق رسول دے دومـره بیشـماره دلائل ورته د نبی علیـه السلام د نبوت وخت په وخـت راښـکـاره کـیـدل لیـکـن دوی ضد او عـناد کولو، ضد او عناد سړے همیشه تباه کوی نو هغوی په ضد کی راغلل،

نـو وے وئیـل چه دے محمد (ﷺ) سـره خـو ډیر تـریـخ جادو دے چه په زمکه ئے هم کولے شی او په آسمانو نو ئے هم کولے شی او دا د مشرکینو عادت دے چه که هر څومره لـویـه معجزه به ئے ولیدله نو هغے ته به ئے د جادو نسبت کولو لکه کله چه د نبی علیه الســلام پــه اشاره ســره سپوږمئ دوه ځـای شوه نو دوی وویـل دا جـادو دے۔ لکـه الله فرمائی: ﴿ اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ وَاِنْ يَّرَوْا آيَةً يُّعْرِضُوْا وَيَقُوْلُوْا سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ ﴾۔

مشـرکیـنـو داسـے نـۀ وئیـل چـه دا د الله قدرت دے او دا رسول حق دے او سحر نۀ دے لیکن انکار او ضد ئے کولو او ایمان ئے نۀ راوړو۔

نـو دلتـه دا فائده وشوه چه نبی علیه السلام او د هغه ملګری آزاد شو او د شعب ابی طـالـب نـه راووتل، مشرکینو ورسره قطع رحمی ختمه کړه بیرته خبرے اترے، بیع شراء شروع شو لیکن مشرکین په خپل دین کلك ولاړ وو همغه شان ئے د نبی علیه السلام د قتـل اراده لرله او د حق تابعداری ئے نۀ کوله دا حق دعوت ئے نۀ پرېښوده چه دا دے په دنیا کی خور شی۔

ابوطالب ته د مشرکانو آخری وفد ورتلل

پدے کی هغوی یو وفد تیار کړو چه ابو طالب ته ئے ورلیږی او دا آخرنے وفد وو دا ئے ځکه تیار کړو چه مشرکینو وویل چه ابو طالب اتیا کالو ته رسیدلے دے او ناجوړه دے او خاصکر د شعب ابی طالب قید هم کمزورے کړیدے نو بیماریانی پرے راغلی دی که صبا ته مړ شی او مونږه ئے دا ورارهٔ وژنو نو عرب به راپورے خاندی چه کله ئے ترهٔ موجود وو څه ئے ورته نشو وئیلے د هغه نه ویریدل او چه کله ئے ترهٔ مړ شو نو اُوس ئے مړ کړو بیا به راپسے خللك خبرے کوی راځئ چه د اُوس نه دا خبره ختمه کړو.

پدے وفد کی پنځه ویشت کسان وو، ابوجهل بن هشام، عتبه بن ربیعه، شیبه بن ربیعه، امیه بن خلف او ابوسفیان بن حرب د نورو اشرافو د قریشو سره دا ټول پکی وو.

ابو طالب پدے وخت کی ناجوړه وو او بوډا هم وو او درے کاله حصار او جیل هم خراب کړے وو ځکه دا درے کاله د جیل زندگی وه.

(لکه څنګه چه سیدنا یوسف علیه السلام په جیل کی وخت تیر کړیدے څوك وائی څلویښت کاله جیل ئے خوړلے دے نو دغه شان زمونږ رسول الله ﷺ هم درے کاله جیل تیر کړیدے، د جیل زندگی په انبیاء علیهم السلام او صالحینو باندے راغلے ده د حق په نشر او اشاعت کی دا حالتونه راځي دا څه بعیده خبره نهٔ ده دا سختے به راځی دا د پخوا نه شروع دی، د حق سره الله تعالیٰ دا سختی لیکلی دی).

دا وفد ورغے ابو طالب ته ئے وویل چه تهٔ زمونږ مشرئے او تا ته دا مرض او مصیبت رسیدلے دے او مونږ په تا باندے یریږو او تا ته معلومه ده چه زمونږ او ستا د ورارهٔ ترمینځ اختلاف راروان دے نو ته دا ورارهٔ منع کړه دا دے زمونږ سره کار نهٔ لری مونږ به ددهٔ سره کار نهٔ لرو، دا دے زمونږ نه بند شی مونږ به ددهٔ نه بند شو، دا دے زمونږ دین او مونږ به ددهٔ دین پریدو، تهٔ زمونږ دپاره او ددهٔ دپاره شرطونه ولګوه، شرطونه مونږ تا ته دروسپارل، تهٔ زمونږ نه څه خبرے ددهٔ دپاره واخله او څه ددهٔ نه زمونږ دپاره واخله خو چه زمونږ څه اتفاق راشی او دا دعوت بند شی او مونږ پسے دا خبرے نهٔ کیږی.

زمونږ نه څه خبرے د هغه دپاره واخله چه که زمونږ نه څه پیسے غواړی، زمکه

غوا‌ړي يا بل څه.

ابو طالب ناجوړه وو پدې کې نبي عليه السلام ئې راطلب کړو چه راشه، هغه ته ئې وويل: دا ستا قوم دې راغلي دي ستا نه مطالبه کوي تهٔ د دوی او د دوی د آلهه ؤ عيبونه وائې، ددينه بند شه دوی به ستا سره کار نهٔ لري، تهٔ د دوی سره کار مهٔ لره خپل عبادت څانله کوه.

نبي عليه السلام ورته وويل: إِنِّيْ أُرِيْدُ مِنْهُمْ). زهٔ د دوی نه اراده لرم.

بل روايت کې راځي: (أَلَا أَدْعُوْهُمْ يَا عَمِّ إِلٰى مَا هُوَ خَيْرٌ لَّهُمْ؟) . آيا زهٔ دوی نهٔ رابلم اې تره هغه خبرې ته چه د دوی دپاره غوره ده (إِلٰى كَلِمَةٍ تَدِيْنُ لَهُمُ الْعَرَبُ).

داسې خبرې ته چه عرب به د دوی تابع شي او عجم به ورته جزيه ادا کړي، دوی دې ايمان راوړي دا يوه کلمه دې ووائي، عجم به ورله جزيه راوړي او عرب به ئې ټول تابع شي، الله به ورله مشري ورکړي (څکه قانون دا دې چه څوك د الله په توحيد ودريږي او ابتداءً ودريږي هغوی ته الله تعالىٰ په دنيا کې مشري او عزت ورکوي).

نو مشرکين حيران شو چه دا به څنګه خبره وي چه مونږ ته پرې دومره عزت ملاويږي؟ نو ابوجهل وويل: (مَاهِيَ ؟ وَأَبِيْكَ لَنُعْطِيَكَهَا وَعَشَرَ أَمْثَالِهَا) هغه کومه خبره ده ؟ قسم دې چه يوه خبره څه چه لس به درله ومنو چه عرب زمونږ تابع کيږي او عجم پرې جزيه راکوي دا خو مزې دي نو نبي عليه السلام ورته وفرمايل :

(تَقُوْلُوْنَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ، وَتَخْلَعُوْنَ مَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ مِنَ الْأَنْدَادِ).

د لا اله الا الله کلمه ووايئ او دا کوم انداد او شريکان چه تاسو نيولي دي دا پريدئ دا شرك دې، دا د کاڼو او بوتو عبادتونه پريدئ.

پدې کې مشرکانو يو بل ته وکتل چه دا سړې د خپل دعوت نه نهٔ اوړي، دا نهٔ منع کيږي څئ لاړ شئ، بيا ئې وويل: اې محمده ! ستا اراده ده چه ټول آلهه ؤ نه يو اله جوړ کړې ستا خبره خو ډيره عجيبه ده.

الله د دوی ددې حالت نه داسې تعبير کړيدې، فرمائي :

﴿ وَانْطَلَقَ الْمَلَأُ مِنْهُمْ أَنِ امْشُوْا وَاصْبِرُوْا عَلٰى آلِهَتِكُمْ إِنَّ هٰذَا لَشَيْءٌ يُّرَادُ، مَا سَمِعْنَا بِهٰذَا فِي الْمِلَّةِ الْآخِرَةِ إِنْ هٰذَا إِلَّا اخْتِلَاقٌ﴾ (ص :٧).

روان شوه يوه ډله د دوی نه (د مجلس د ابو طالب نه) او وې ويل چه خوارهٔ شئ او په

خپله عقیده باندے کلك شئ (خپل آلهه مضبوط راونیسئ) دا (توحید) یو شے دے چه زمونږ نه ئے اراده کیږی، مونږ دا خبره په روستنی مذهب کی نهٔ ده آوریدلے، نهٔ دی دا مگر دروغ جوړ شویدی)۔

د آیت مطلب دا دے چه متأخرینو دا فیصله نهٔ ده کړے، د متأخرینو په مذهب کی دا نهٔ دی راغلی چه د یو اله بندگی دے وکړے شی، نبی علیه السلام ته ئے په دغه وخت کی ساحر کذاب هم وویلو چه دا جادوگر او دروغژن دے۔


﴿اِنَّ هٰذَا لَشَیۡءٌ عُجَابٌ﴾

دا خو ډیره ناشنا خبره ده چه د الله توحید به مونږ منو او دا خپل آلهه به پریدو، د الله توحید پرے بد لگیدو او ناشنا خبره ورته ښکاره کیدله او الله دا عالَم خپل توحید او یو والی له پیدا کړیدے چه یو ائی د الله بندگی به کوی، دے مقصد له دا کائنات پیدا دی چه دا پکی نهٔ وی نو پدے کائناتو باندے بیا الله پاك څه کوی۔

نو مشرکینو دغه مرکزی او اساسی مسئله نهٔ منله هغوی پاڅیدل او وے وئیل چه مونږ به ددهٔ سره گورو۔

رسول الله ﷺ پدے حال کی لگیا دے خپل دعوت جاری ساتی او مشرکین هم په خپل ضد او عناد کی پراتهٔ وو او د حق مخالفت ئے کولو په مکه کی به لږو او کمو کسانو ایمان راوړو، هغه کسانو به ایمان راوړو چه ډیر صبر او اُوچت بصیرت به ئے لرلو او ښائسته عقل به ئے لرلو ځکه چه په دغه وخت کی ایمان راوړل تکلیف ته ځان وړاندی کول وو، د دنیا د مفادونه په کی هیڅ شے نهٔ وو سوا د تکلیفونو او زحمتونو نه نو په ډیر بصیرت به خلکو ایمان راوړو چه بصیرت به ئے نهٔ لرلو هغه خلکو ایمان نشو راوړلے پدے وجه ډیرو لږو کسانو ایمان راوړے وو۔

پدے کی په نبی علیه السلام باندے عام الحزن (د غم کال) راغے۔



عام الحزن - د غم کال

د ابوطالب مرګ

په لسم کال د نبوت باندې په نبي علیه السلام باندې دوه غمونه راغلل پدې وجه نبي علیه السلام دیته د عام الحزن یعنی د غم کال نوم کیښودو یو د دغه غمونو نه (مَوْتُ أَبِيْ طَالِب) د ابوطالب مرګ وو، ابوطالب اتیا کالو ته رسیدلے وو، مرضونو کمزورې کړې وو او خاصکر د شعب ابی طالب هغه جیل چه په هغې کې ئې درې کاله سختې لوږې او تکالیف تیر کړل چه کله د شعب ابی طالب نه راووتل یعنی د جیل نه راووتل شپږ میاشتې روسته وفات شو،

په محرم کې راوتلي وو او په رجب کې ابوطالب مړ شو او دا لسم کال د نبوت وو۔

په صحیح حدیث کې راغلي دي: کله چه د ابوطالب مرض سخت شو او نبي علیه السلام پوهه شو چه سړے مړ کیږي، زړهٔ کې ئې شفقت راغلو چه دے د دنیا نه د کفر په حالت کې لاړ نشي او الله ورله د ایمان توفیق ورکړي نو ډیر به ښه وي،

(الله سبحانه وتعالیٰ غفور رحیم ذات دے یو سړے اتیا کاله په کفر کې تیر کړي او بیا ایمان راوړي نو الله سبحانه وتعالیٰ ورله دا ایمان قبلوي او د هغې اجر ورله ورکوي او داسې کارونه شویدي)۔

نبي علیه السلام د دعوت دپاره ورغے چه آخرني زندګي ده چه زهٔ ورله د ایمان دعوت ورکړم، د الله نبي چه کله ورغلو چه وې کتل نو د مکې د مشرکینو دوه کسان ددهٔ نه مخکې رارسیدلي دي چه یو ابوجهل دے چه دا د کفر غټ داعي سرکرده کافر دے او بل عبد الله بن ابی امیه چه دا هم د قریشو سردار (مشر) دے او د ګمراهۍ داعي دے، دا دواړه ناست دي۔

نبي علیه السلام چه رانښوتو هغه مهم ځایونه دوي نیولي وو، د الله نبي وړاندې کیناستو هغه ته ئې نزدې ځای ورنکړو مقصد د دوي دا وو چه داسې نهٔ چه پدې وراړهٔ ئې شفقت راشي او ایمان پرې راوړي۔

(د غلطو ملګرو دا نتیجه وي چه د خیر نه انسان محرومه کوي)

نو پدے کې د الله رسول د وړاندے نه خپل ترۀ ته دعوت ورکړو او ورته ئے وویل:

[يَا عَمِّ ! قُلْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ كَلِمَةً أُحَاجُّ لَكَ بِهَا عِنْدَ اللّٰهِ]۔

اے ترۀ ! لا اله الا الله کلمه ووایه، زۀ به د الله په دربار کې دا په دلیل کې ستا دپاره پیش کوم چه اے الله زما تره جهنم ته مۀ بوځه، ما ته خو یوه داسے خبره او دلیل راکړه چه زۀ دے پرے د الله د عذاب نه خلاص کړم، مطلب ئے دا وو چه دا کلمه ووایه زۀ به ستا دپاره سفارش کوم، ځکه د کافر دپاره سفارش نشم کولے هغه چُپ شو۔

نبی علیه السلام بار بار دعوت ورکولو نو پدے کې ابو جهل او عبد الله بن ابی امیه وویل : يَا أَبَا طَالِبٍ ! تَرْغَبُ عَنْ مِلَّةِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ؟) اے ابو طالبه ! تۀ د عبد المطلب د دین نه اعراض کوے؟۔د پلار نیکه لاره دے ډیره غوره ده چه هغه پریښږدے۔

(پدے کې د دغه شیطانانو دعوت هم شروع وو او د رحمٰن دعوت هم شروع وو هر وخت انسان ته دغه دوه دعوتو نه متوجه وي، رحماني دعوت هم شروع وي او شیطاني هم شروع وي دا غښتې امتحان وي دا په هر وخت کې وي چه څوک کوم یو دعوت قبلوي؟ اُوس پدے وخت کې هم مونږ او تاسو ته دوه دعوته متوجه دي رحماني دعوت هم شته او شیطاني دعوت هم۔ عوام خلك الله تعالیٰ په لوی امتحان کې اچولي دي یو عالِم ئے توحید او سنت طرفته دعوت کوي او بل ملا ئے شرك او د الله او د رسول مخالفت طرف ته دعوت کوي، تۀ په امتحان کې پروت ئے چه کومه لاره غوره کوے نو انسانان الله همدغه شان امتحان کې اچوي)۔

نو ابو طالب هم په دغه امتحان کې پروت وو دا دواړه کسان ورپسے انښتي وو تردے چه آخرنۍ خبره ابو طالب دا وکړه : (آخِرُ مَا كَلَّمَهُمْ بِهِ أَنْ قَالَ: عَلٰى مِلَّةِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ)

زۀ مړ کیږم په ملت د عبد المطلب۔

د پلار او مشرانو لاره نشم پریښودلے، پدے حالت کې دۀ ساه ورکړه او مړ شو د دنیا نه لاړو۔

دۀ ولے ایمان نۀ راوړو؟ ددے یوه وجه دا وه چه دۀ د جاهلیت غیرت کولو او غیرتونه دوه قسمه دي یو جاهلي غیرت دے او بل اسلامي غیرت دے، اسلامي غیرت دا دے چه د الله په حکم غیرت وکړي او دا هر مؤمن له پکار ده چه هغه کې دے غیرت وي،

بی غیرتـه د الله خـوښ نـهٔ وی. دویـم د جاهلیت غیرت دے، هغه دا چه سړے په باطل باندے ولاړ وی او په هغے باندے غیرت کوی او پرے کلکیږی او وائی چه زهٔ پښتون یم، زهٔ خپله خبره نشم پریښودلے پدے باندے کلك ودریږم خپل سر پدے باندے ورکوم لکه بعض خلك داسے وائی.

د جاهلیت غیرت د الله سبحانـه وتعالیٰ نهٔ دے خوښ، نو بی ځایه غیرتونه نهٔ دی پکار.

ابو طالب د جاهلیت غیرت وکړو چه خلك به راپسے خبرے کوی چه د پلار نیکه لاره ئے پریښودله او دا به ئے هم وئیل چه زهٔ د قریشو د زنانو د خبرو نه یریږم چه هغوی به وائی چه په آخرکی په خپل ورارهٔ او په کشر هلك پسے روان شو او د پلار نیکه لاره ئے پریښوده، خـلك به وائی. د خلك به وائی تهکی د وجه نه ډیر انسانان گمراه شو، خلك بـه راپورے خاندی، خـلك دے دومره وخـاندی چه زړهٔ ئے تش شی، د چا به څه وکړی خپل ځان غرقول نهٔ دی پکار.

د مؤمن صفت دا دے چه ﴿ وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَائِمٍ﴾ (المائدة:٥٤).

د چا د مـلامتیـا نه یره نهٔ کوی. تـوله دنیا دے وخاندی چه الله رب العزت رضا شی. دے خبرے تـه فکر کوه ډیر کرت چه زمونږ عملونو کی نقصان راځی او د الله حکمونه پریښودل کیږی هغه پدے خبره چه خلك به وائی، خلك به وخاندی، او په رسم او رواج باندے عمل کوی که دا نهٔ کوم خلك به خاندی.

نو ابو طالب ایمان رانهٔ وړو د ابوجهل خبره ئے ومنله د جاهلیت غیرت ئے وکړو.

دویـمه وجـه دا وه چه ایمان ئے ځکه رانهٔ وړو چه خلك به وائی چه د اُور نه ویریدو، دا هـم د هغـه د جـاهلیت غیـرت وو چه انسان د اُور نه نهٔ یریږی نو ځان تباه کوی، د اُور نه یره د الله بـنـدگـی ده، دا غیـرت دے دا سـړیتـوب دے چـه بنده د الله د اُور نه ویریږی، الله فرمائی: ﴿ فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ﴾ (بقره: ٢٤).

ویـریږئ د هغـه اور نـه چـه خشـاك د هغے به انسانان او کاڼری وی او کافرانو لره تیار شویدے). چه د اُور نه کافران نهٔ یریږی.

د الله د اُور نه یریدل د مؤمنانو صفت دے، الله فرمائی :

﴿ وَالَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا اصْرِفْ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَ إِنَّ عَذَابَهَا كَانَ غَرَامًا، إِنَّهَا سَاءَتْ مُسْتَقَرًّا

وَّمُقَامًا﴾ (الفرقان: ٦٥)

اے الله! مونږ د عذاب د جهنم نه وساتے، ځکه دا خو ډیر غټ تاوان دے۔ یقیناً دا اُور بد ځای د آرام او بد ځای د اوسیدو دے)۔ که لږ ساعت له ورشي او که همیشه دپاره ورشي تباهي ده۔ مومنان د الله نه دعا طلب کوي:

﴿وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ﴾ ـ اے الله! مونږ د اُور نه وساتے، ایمان والا همیشه دا دعاګانی کوي۔ لکه قرآن کریم کی الله تعالیٰ د مؤمنانو د زړهٔ کیفیت دا بیان کړیدے چه د اُور نه به یریږي۔ د الله د اُور نه چه څوك نهٔ یریږي د هغه بیا علاج نهٔ کیږي)

نو ابوطالب ددے دوه وجو نه په کفر مړ شو د شیعه ګانو مذهب دا دے چه هغوی ابوطالب مسلمان ګنړي او په خپلو کتابونو کی ئے لیکلی دی چه تاریخ ظلم کړیدے چه ابوطالب ته کافر وائی، تاریخ هغوی زمونږ د نبی علیه السلام حدیثونو ته وائی، ابوطالب هغوی مسلمان او مؤمن ګنړي، ابوطالب علیه السلام ورته وائی، دا د کفر عقیده ده چه څوك دا وائی چه ابوطالب مؤمن دے او ایمان ئے راوړیدے۔ دا د قرآن او د حدیث خلاف عقیده ده)۔

دویم یو بل مُلایوه غلطه نظریه او عقیده لیکلے ده چه د انبیاء علیهم السلام پلاران نیکونه هیڅکله کافر کیدے نشي، د نبی علیه السلام نه د آدم علیه السلام پورے دا ټوله سلسله د نسب مؤمنان دی، دا خبره امام سیوطی رحمه الله کړیده۔

(امام سیوطی په نهمه صدئ کی تیر شویدے او دا وائی چه د نبی علیه السلام پلار هم مسلمان وو او نیکه ئے هم مسلمان وو، همداسے ورځه تر آدم علیه السلام پورے ټولو ایمان راوړیدے په ﴿وَتَقَلُّبَكَ فِي السَّاجِدِينَ﴾ آیت کی ئے دا تفسیر کړیدے۔

او دا یوه غلطه عقیده ده، کله یو سړے په ډیر محبت کی ورننوزی نو بیا د حدودو نه هم واوړی اګرکه محبت ښه شے دے لیکن د حدودو نه تیریدل نهٔ دی پکار، هغه د نبی علیه السلام د وجه نه د هغه مور او پلار مسلمانان ګنړلی دی حال دا چه پدے کی ایمان والا تیر شویدی د معد بن عدنان نه مخکی لیکن د هغه نه روسته اکثر په شرك کی تیر شویدی دا حدیث دلیل دے په کفر د پلار او نیکه د نبی علیه السلام باندے چه دهٔ وویل: زهٔ په ملت د عبد المطلب باندے مړ کیږم، که عبد المطلب د ایمان په حالت کی مړ وے بیا خو به دا هم مؤمن وے۔ او حدیث کی صفا راځی:

[اِنَّ أَبِیُ وَأَبَاكَ فِي النَّارِ] نبی علیـه السلام یو اعرابی ته وویل چه زما او ستا پلار په اُور کی دی ځکه دواړه په شرك کی تلی دی، (رواه مسلم رقم : (٥٢١)

ددے وجه نه مونږ به د الله د نبی سره ډیر زیات محبت لرو خو مره چه زمونږ نه کیدے شی، دا فرض ده په مونږ، هغه سړے مومن نهٔ دے چه د نبی علیه السلام سره ئے محبت نهٔ وی لیکن د حدودو نه به تجاوز نهٔ کوی،

«د خرهٔ مینه لغته وی»

چه یو سړے د چا سره مینه کوی او د هغه خبرو له لتَی ورکوی۔

ددے حدیث نه مونږ ته دا فائدے راوځی چه د جاهلیت غیرت نه به ځان ساتی۔ د الله د دین د خاطره به ځان سپك او ذلیله کړی،

نبی ﷺ فرمائی : [وَمَا زَادَ اللَّهُ عَبُدًا بِعَفُوٍ اِلَّا عِزًّا وما تَوَاضَعَ أَحَدٌ لِلّٰهِ اِلَّا رَفَعَهُ اللّٰهُ]۔

نـهٔ دے زیاتـی کـړے الله تعالیٰ یو بنده لره په معافی کولو د هغه سره (بل چاته) مگر عزت او یو تن الله تعالیٰ ته عاجزی نهٔ ده کړے مگر الله تعالیٰ پورته کړیدے)۔

(صحیح مسلم: ٦٧٥٧)

تا لـه چا ضـرر درکړو او تـا هغه ته معافی وکړه تا ته خو به ځان بی عزته بی غیرته ښکاری لیکن الله به تا له عزت درکړی، چا چه عاجزی وکړه الله به ئے اُوچت کړی۔

کـلـه چـه د الله دپاره یـو کـار وی نـو پدے کی عزت دے او د جاهلیت د غیرت نه ځان وساتـه، ابـو طالب ځان ونهٔ ساته نو هلاك شو د کفر په حالت کی لاړو مړ شو، الله ورله د ایـمـان تـوفـیـق ورنـکـړو مـخکی دا فائده مونږ وئیلے وه چه ابو طالب د پنځه څلویښت کـالـو نـه زیات د رسول الله ﷺ حفاظت کړے وو او پدے کی ئے ځان جیل ته ورکړے وو لیـکـن نبی عـلیه السلام ئے تکلیف ته نهٔ دے ورکړے، ځان ئے وړے کړیدے لیکن د الله نبی ئے نـهٔ دے وږے کـړے او بیـا هـم ورلـه الله د ایمان توفیق نـهٔ ورکوی حال دا چـه الله سبحانه وتعالیٰ د نیك عمل بدله هرچا له ورکوی، خو دهٔ له ئے ورنکړه،

ددے وجـه دا وه چـه د ابـو طالب دا خدمت د الله د مخ د خاطره او د هغه د رضا دپاره نهٔ وو، د الله پـه مـخ بـانـدے ددهٔ نـظر نهٔ لگیدو، د الله رضا ددهٔ مد نظر نهٔ وه، د الله رضا دهٔ ته څه لویه خبره نهٔ ښکاره کیده ځکه پرے دا حالت راغلو،

کـه ددے انسان پـه زړه کـی یـوه ورځ د ورځو نه دا راغلی وے چه الله زما نه رضا شی

هغه ذات چه زما خالق، رازق او زما رب دے ددے نبي خدمت د هغه د رضا دپاره کوم نو الله به د ایمان توفیق هم ورکړے وے ان شاء الله لیکن هسے د عربیت، د قومیت او د مشرئ د جه نه ئے د نبي علیه السلام حفاظت کولو،

که یو سړے د دین غټ غټ کارونه هم کوی خو صرف د ملك د وجے نه چه ملك آزادوم، د پارټئ د وجه نه ئے وکړی، د غصے او د غیرت د وجه نه ئے وکړی او په الله باندے ئے نظر نهٔ لګی نو دا عملونه ئے برباد دی کله نا کله یو انسان نه ډیر عملونه کیږی لیکن الله تعالیٰ ئے په فکر کې هم نهٔ وی نو داسے عملونه د الله په دربار کې نهٔ قبلیږی، ددے وجه نه همیشه هر عمل چه سړے کوی د هغے دپاره مخکې نیت ضروری دے۔ [اِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ]۔ او دا نیت به مخکې کوے چه دا زهٔ د دغه الله دپاره کوم)۔

مقصد دا چه ابو طالب مړ شو او الله ورله د ایمان توفیق ورنکړو دا ډیره لویه خبره ده چه انسان د دنیا نه د کفر په حالت کې لاړ شی ځکه چه هیڅ علاج ئے نهٔ کیږی که یو انسان ګناه وکړی د هغے علاج کیږی ځکه توبه به اُوباسی۔

[لَقَدْ قَطَّعَ خَوْفُ الْخَاتِمَةِ ظُهُوْرَ الْمُتَّقِيْنَ]۔

د متقیانو ملاګانی د خاتمی یرے ماتی کړے۔

متقیان وائی چه مونږ سره به څه کیږی؟، مونږ به د ایمان په حالت کې الله ته ورشو او که نهٔ؟، د ایمان په حالت کې چه کله دنیا نه لاړے بیا یے غمه شه، الله درباندے نقد رحم کوی)۔

ابو طالب پدے حالت د کفر کې مړ شو نبي علیه السلام ډیر سخت خفه وو لیکن دا مسئله ورته نهٔ وه معلومه چه د مشرك دپاره ښښنه غوښتل روا دی او که نهٔ نو نبي علیه السلام لاړو مسجد حرام ته روان شو ډیر غمژن وو او دا ئے وویل:

(لَأَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ مَا لَمْ أُنْهَ عَنْهُ)۔

زهٔ به ستا دپاره تر هغه وخته پورے ښښنه غواړم ترڅو چه زهٔ الله پاك منع کړے نهٔ یم)۔

نبي علیه السلام چه کله استغفار کولو نو الله تعالیٰ دوه آیتونه راولیږل په قرآن کریم کې یو آیت په سورة القصص (٥٦) کې راځی:

﴿ اِنَّكَ لَا تَهْدِیْ مَنْ اَحْبَبْتَ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَهْدِیْ مَنْ يَّشَاءُ وَهُوَ اَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِيْنَ ﴾

اے زما نبی تهٔ هدایت نشی کولے هغه چا ته چه تهٔ د هغه هدایت سره مینه لرے لیکن الله تعالیٰ هدایت کوی چا ته ئے چه خوښه شی او هغه ښه پوهه دے په هدایت والو باندے) هغه د هدایت اهل خلك پیژنی،

د حبشو نه به یو سړے راولی تور سړے به وی، غلام به وی او هدایت به ورته ورنصیب کړی ځکه د هغه زړهٔ الله وینی چه په دهٔ کی اهلیت دے، یو سړے به قریشی وی، ښه سور سپین به وی، اُوچت نسب والا به وی او د محمد رسول الله ﷺ سره به وی او ډیر خدمت به ئے هم کړے وی او دهٔ ته به د ایمان توفیق نهٔ ورکوی ځکه الله تعالیٰ زړه ته گوری چه دا لائق د ایمان نهٔ دے، دا لائق د الله د محبت او د هغه د تعظیم نهٔ دے، هدایت والا الله پیژنی، مشرکینو به ویل: دا څنگه کمزوری خلك مؤمنان دی او مونږ عقلمندو خلکو ته دے کافر وئیل کیږی، الله رب العزت وفرمایل: چه زهٔ شکر گذار پیژنم۔ ﴿ أَلَيْسَ اللَّهُ بِأَعْلَمَ بِالشَّاكِرِينَ ﴾ آیا الله شکر گوزار نهٔ پیژنی څه ؟!۔

دے زمانه کی هم د خلکو دغه عادت دے چه کمزوری او امیان خلك به وی الله تعالیٰ به ورته ډیر ښائسته هدایت وکړی، په حق باندے به کلك ولاړ وی او بل طرفته غټ ملا به وی، لوی پټکے به ئے په سر کړے وی، منطق به ورله ښه ورځی او الله سبحانه وتعالیٰ به ورته د حق عقیده نهٔ وی ورنصیب کړی بلکه په شرك یا په بدعت کی به پروت وی، په تقلید کی به پروت وی، د حق دشمن به وی او د بدعت پرچار به کوی، نو سره د علم نه د حق دشمن شو، الله به ورته هدایت نهٔ کوی ځکه چه الله تعالیٰ ئے زړه پیژنی چه پدے کی مرداری او گند پروت دے، دا د ایمان لائق زړهٔ نهٔ دے)۔

دویم آیت په سورة التوبه کی نازل شو (سورة التوبه مدنی سورت دے لیکن دا آیت پکی مکی دے): ﴿ مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَنْ يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ وَلَوْ كَانُوا أُولِي قُرْبَى مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ ﴾ (آیت: ۱۱۳)۔

(نهٔ دی جائز نبی او ایمان والو دپاره چه مشرکانو له بخښنه وغواړی اگرکه هغوی ئے خپلوان هم وی پس ددے نه چه دوی ته ښکاره شوه چه دوی جهنم والا دی)۔

یعنی د کفر په حالت کی مړه شول اُوس ورله بښنه مهٔ غواړه، ښښنه په هغه وخت کی غوښتل پکار دی چه ژوندے وی نو د هدایت سوال ورله وکړه چه الله ورته هدایت وکړی خو چه د کفر په حالت کی لاړو هغه د الله دشمن دے، الله ئے نهٔ ښښی۔ الله وائی:

زۀ ئے نۀ ببښم چـه تـۀ الله ته وائے چه اے الله ته ئے وبښه نو ددے معنیٰ دا ده چه اے الله دا خپل قانون دے وران کړه او الله خو خپل قانون نۀ ورانوی۔

دا آیت چه کله نازل شو نو د الله نبی بند شو، ببښنه ئے ورله نۀ طلب کوله۔

صرف دا خبره ده چه که یو سړے یو نیك عمل وکړی،که مؤمن وی نو الله تعالیٰ په دنیا او په آخرت دواړو کی بدله ورکوی او که کافر وی هغه نیك عمل وکړی نو جنت خو ورله نۀ ورکوی مګر په دنیا ګی بدله ورکوی او په آخرت کی ورله عذاب سپکوی، د کفارو په کفر کی هم تفاوٰت (فرق) دے۔

نبی علیـه السلام نه د هغه ترۀ سیدنا عباس (رضیَ الله عنه) (چه دا ډیر نیك سړے وو) دا تپوس وکړو چه اے د الله رسوله ! ابو طالب تـه (چـه ستا ترۀ دے) تا څه فائده ورکړے ده [فَإِنَّهُ كَانَ يَحُوطُكَ وَيَغْضَبُ لَكَ] هغه به ستا حفاظت کولو او ستا دپاره به غصه کیدو او د مشرکانو نه به ئے تۀ خلاصولے، آیا تا څه فائده ورکړیده او که نۀ؟

نو نبی علیـه السلام وفرمایل: آؤ ما ورله دا فائده ورکړیده چه دا د جهنم په غټه کنده کی پروت وو زما د شفاعت په وجه الله راوخیژولو او (فِي ضَحْضَاحٍ مِنَ النَّارِ) په نرم او کم اور کی دے۔ (وَلَوْلَا أَنَا لَكَانَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ) (بخاری ومسلم)

او کـه زۀ نۀ وے نو دے به د جهنم په لاندے طبقه کی وے ځکه مشرك دے، زما د وجه نه الله د هغه غټ اُور نه راویستلو۔

او په یو بل روایت کی راځی چه پداسے اُور کی به وی چه څپلئ به ورته الله تعالیٰ د اُور نه اچولی وی او تر پړکو پورے به په اور کی پټ وی (يَغْلِي مِنْهُمَا دِمَاغُهُ)

د هغے د وجه نه به ددۀ دماغ جوش وهی او خوټ کیږی به او دا په ټولو خلکو کی ادنیٰ عذاب والا دے او دے به دا ګمان کوی چه د ټولو خلکو نه زما سخت عذاب دے او دا واقعی ده چه د انسان په خپه کی وړوکے ازغے هم لاړ شی نو وائی چه د ټولے دنیا دردونه په ما راغلی دی۔

چه د سړی خپی په اور کی وی او دماغ ئے ترے خوټ کیږی د هغه به څه حال وی، په جهنمیانو کی آسان عذاب ددۀ دے، نو سخت عذاب به څنګه وی؟!۔

په یو بل روایت کی راځی :

(لَعَلَّهُ تَنْفَعُهُ شَفَاعَتِي يَوْمَ الْقِيٰمَةِ، فَيُجْعَلُ فِي ضَحْضَاحٍ مِنَ النَّارِ تَبْلُغُ كَعْبَيْهِ)

امید دے چه هغه ته به زما سفارش د قیامت په ورځ ورسیږی نو د ډیر سخت اُور نه به راوځی او په نرم اُور کی به واچولے شی خپے به ئے تر گیټو پورے په اُور کی وی۔

(صحیح ابن حبان : ٦٢٧١) الرحیق المختوم ٩٢/١)

دا ددے نیك عمل د وجه نه چه د نبی علیه السلام خدمت ئے کړیدے نو پدے وجه به ئے عذاب سپك وی لیکن شرك پکی دے نو د شرك د وجه نه د اُور نه نشی خلاصیدلے۔

نو د رسول الله ﷺ د وینا مطابق ابو طالب جهنمی دے څوك چه هغه ته مؤمن وائی هغه نۀ قرآن منی او نۀ حدیث۔ یا څوك چه ابو طالب ته پیغمبر وائی نو دا د قرآن او حدیث نه منکر دے دا د شیعه گانو مذهب دے، د هغوی ټول دین غلط دے په ټولو اصولی مسئلو کښی په باطله روان دی، د الله تعالیٰ په باره کی ئے عقیده غلطه ده، د قیامت، د رسول الله ﷺ او د صحابه کرامو په باره کی ئے عقیده غلطه ده۔

د خدیجی رضی الله عنها وفات

په لسم کال د نبوت یوه حادثه دا راغله چه ابو طالب وفات شو۔

او بله حادثه دا راغله چه د نبی علیه السلام یوه محترمه بی بی خدیجة الکبریٰ رضی الله عنها وفات شوه چه دا پدے کال کی د ابو طالب د مرگ نه دوه میاشتے روسته د رمضان په میاشت کی وفات شوه او دا مشهور تاریخ دے اگرکه په بعضے تاریخونو کی دا راغلی دی چه درے ورځے روستو وفات شوه۔

خدیجه رضی الله عنها هغه بی بی ده چه نبی علیه السلام ئے خپله صفت کړیدے۔ (آمَنَتْ بِیْ حِیْنَ کَفَرَ النَّاسُ) خدیجی په ما باندے ایمان راوړے وو په هغه وخت کی چه خلکو په ما باندے کفر کړے وو۔ اول ایمان دے راوړیدے۔

(وَصَدَّقَتْنِیْ حِیْنَ کَذَّبَنِی النَّاسُ) او دے په هغه وخت کی زما تصدیق کړے وو چه نورو خلکو زما تکذیب کړے وو او ما ته به ئے د دروغو نسبت کولو۔

(وَأَشْرَکَتْنِیْ فِیْ مَالِهَا حِیْنَ حَرَمَنِی النَّاسُ)

او زۀ ئے په خپل مال کی شریك کړے وم په هغه وخت کی چه نورو خلکو زۀ

محرومه کړے وم، چا څه نهٔ راکول، هیڅ مددئے راسره نهٔ کولو بلکه دشمن ئے گنړلم۔

(وَرَزَقَنِي اللّٰهُ وَلَدَهَا)

او الله تعالیٰ ما ته تهول بچي ددے نه راکړیدی۔ د نبی علیه السلام ټول اولاد د خدیجي رضی الله عنها نه پیدا شویدی سوئ د ابراهیم علیه السلام نه چه هغه د ماریه قبطیه نه پیدا دے۔

نبی علیه السلام د پنځه ویشتو کالو په عمر وو چه دا ئے په نکاح واخسته او خدیجه رضی الله عنها د څلویښتو کالو په عمر وه۔

عائشه رضی الله عنها بهٔ کله کله دا وئیل چه تهٔ د هغه زنانه صفت او تذکرے کوے چه هغه زړهٔ ښځه وه حمراء الشدقین وه (یعنی زنانه چه بوډئ شی وښکی ئے سرهٔ شی یعنی زینت او ډول ئے ختم شي) او د هغے نه الله غوره درکړی دی۔

نبی علیه السلام وفرمایل: (أَلَا إِنَّهَا كَانَتْ وَكَانَتْ) هغه خوبیله زنانه وه په هغے کی خو ډیر کمالات وو د خدیجي د کمالاتو نه دا راغلی دی چه نبی علیه السلام غار حراء کی ناست وو، عبادت به ئے کولو نو خدیجي ﷞ به کله کله طعام هلته وروړلو نو جبریل علیه السلام راغے نبی علیه السلام ته ئے وویل:

(هٰذِهٖ خَدِیْجَةُ قَدْ أَتَتْكَ بِطَعَامٍ وَشَرَابٍ فَاقْرَأْهَا مِنْ رَبِّهَا السَّلَامَ)

دا خدیجه راروانه ده طعام او اُوبه تاله راوړی کله چه راشی نو د الله د طرفه پرے سلام ووایه۔

دا څومره لوی شان دے چه د رب العالمین د طرفه په یو انسان باندے سلام رالیږل کیږی چه ستا دپاره دے سلامتیا وی د الله د طرفه، په دنیا کی چه بنده دپاره سلامتیا نازله شی دا څومره د خوشحالئ او سعادت خبره ده، الله تعالیٰ به دے له څنگه مزیداره سلامتیا ورکوی په دنیا، په قبر او په حشر کی د مخکی نه پرے الله تعالیٰ سلام وائی۔

(وَبَشِّرْهَا بِبَيْتٍ فِي الْجَنَّةِ مِنْ قَصَبٍ لَا صَخَبَ فِيهَا وَلَا نَصَبَ)۔

او دے ته زیرے ورکړه په یو کور په جنت کی چه د ملغلرو نه به جوړ وی چه نهٔ به پکی شور وی او نهٔ به په هغے کی ستړی والے وی۔

خدیجي ته دنیا کی د الله سلام راغلے دے او دنیا کی ورته د جنت زیرے راغلے دے، بهترینه عقلمنده مالداره، هوښیاره زنانه وه، پکار دا ده چه د هغے سره مونږ محبت

وکړو ځکه زمونږ د نبي بي بي ده او زمونږ مور ده او دويمه دا چه زمونږ د نبي سره ئې ډير مددونه کړيدي پداسې وخت کې چه بل چا ورسره مدد نۀ کولو،

دا هم د الله تعالیٰ فضل دے چه سړي ته داسې ښځه ورکړي چه په دعوت کې، د دين په مجاهده کې د سړي سره مددگاره وي او تسلي ورته ورکوي، بهر سړے تنګ شي کور ته راشي هغه ورله تسلي ورکړي خوشحاله شي او چه يو سړے بهر تنګ شي او کور کې هم تنګ شي نو چرته به لاړ شي او چه غلطه ناکاره بد اخلاقه ښځه وي چه کورته ننوځي په جنګ جګړه به واوړي نو بيا د سړي زندګي ډيره تنګيږي لکه د سورة الطلاق نه معلوميږي۔

خديجه رضی الله عنها وفات شوه او په مکه مکرمه کې په جنت المعلیٰ کې خښنه شوه چه هلته ئې قبر مشهور دے۔

پدے وخت کې د رسول الله ﷺ بله بي بي نۀ وه۔

هرکله چه ابو طالب وفات شو او بيا ورپسے د هغه د راز ملګرے هم وفات شوه نو په رسول الله ﷺ باندے غمونه راپنډ شو او بيا همداسې د قوم د طرف نه هم پرله پسے غمونه شروع شو ځکه چه قريشو رسول الله ﷺ ته د ابو طالب د ژوند په وخت کې هم تکليفونه ورکول مګر کله چه هغه وفات شو نو قريشو د الله رسول ته ضررونه او تکليفونه نور هم زيات کړل مشرکين رامخې ته شو ځکه ابو طالب دوی ته يو ديوال او مانع وو او هغه اُوس ختم شو او د الله نبي ته ئې قسم قسم ضررونه شروع کړل څومره ئې چه وسعه کيده، د مخکې نه تيز شو ځکه مشرکينو کې شر ډير زيات وو

(که نۀ وی داسې شريان خلك په يو وخت کې د خپل شر دپاره څه منډه تړه ووهي مګر بيا په قلاره کيني، خو د نبي عليه السلام مرتبه اُوچته وه نو پدے وجه دشمنان ئې هم ډير سخت وو) نو نبي عليه السلام ته ئې قسم قسم تکليفونه رَسَوِل تردے چه د سيرت په کتابونو کې راغلي دي چه نبي عليه السلام يوه ورځ په لاره روان وو، بعضو سفهاؤ (بيوقوفو خلکو) خاوره راواخسته او د نبي عليه السلام د سر په مينځ کې ئې واچوله، د هغه د سپکولو دپاره۔

نبي عليه السلام کورته راننوتو او خاورے ئې د سر نه دُوړيدلے نو يوه لور ئې راپاځيدله د نبي عليه السلام د سر نه ئې خاورے وينځلے او ژړل ئې (ځکه زنانه ؤ کې رقت او نرمي

ډیره وی)۔ نو لور ئے ورته وویل چه اے پلاره! تا سره دا خلك څه كوی؟

نبی ﷺ ورته وویل: (يَا بُنَيَّةُ لَا تَبْكِي فَإِنَّ اللَّهَ مَانِعٌ أَبَاكِ)

اے بچیه! مهٔ ژاړه یقیناً الله به ستا د پلار حفاظت کوی)، هغه دین چه الله ما له راکړیدے هغے ته به الله غلبه ورکوی، خیر دے که اوس دا خلك ظلمونه کوی۔ نو دا قسم جراءت او زړورتیا مشرکانو ته پیدا شوه د ابو طالب د مرګ نه روسته۔

نبی علیه السلام دا هم وفرمایل:

(مَا نَالَتْ مِنِّي قُرَيْشٌ شَيْئًا أَكْرَهُهُ حَتّٰى مَاتَ أَبُوطَالِبٍ)

(ما ته قریشو دومره تکلیف نهٔ وو راکړے څو مره ئے چه د ابو طالب د مرګ نه روستو راکړو)

یعنی نبی ﷺ د خپل ترهٔ پسے هم ډیر زیات خفه وو، د یو غم نه بل غم یادیږی۔

نبی علیه السلام دومره غمژن شو ترڅو چه د خپل قوم د هدایت او د ایمان راوړو نه نا امیده شو او طائف ته لاړو په دے امید چه هلته به خلك دا دعوت ومنی او ایمان به راوړی، یا به ورته هغوی ځای ورکړی او د قوم په خلاف به ئے مدد وکړی مګر هلته هم نا امیده شو هغوی ورته د خپل قوم نه هم زیات تکلیفونه او ضررونه ورکړل او نا امیده ترے راواپس شو چه هغه واقعه به لږه روستو بیان شی۔

مشرکان یواځے نبی علیه السلام ته نهٔ بلکه د هغه ملګروته ئے هم ضررونه ډیر کړل او تکلیفونه ئے ورکول نو پدے کی یو کار دا وشو چه ابوبکر صدیق رضی الله عنه هجرت وکړو او بل کار دا وشو چه نبی علیه السلام طائف ته لاړو۔

د ابوبکر صدیق رضی الله عنه هجرت

سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه په مکه مکرمه کی وسیدو او د مشرکینو دلاسه په پریشانئ او تکلیفونو کی وو ځکه چه ابوبکر صدیق مالداره هم وو، په علاقه کی مخوریز هم وو، ډیر خوش اخلاقه هم وو نو خلك به ورته ډیر راجمع کیدل د هغه د ښائسته اخلاقو د وجه نه لیکن مشرکینو ډیر زیات تنګ کړو دومره ئے تنګ کړو چه د نبی علیه السلام نه ئے اجازه واخسته چه زهٔ به هجرت وکړم؟

نبی علیه السلام اجازه ورکړه چه لاړ شه هجرت وکړه، هغه هجرت وکړو د مکے نه روان شو د حبشو اراده ئے وه تردے چه برك الغماد علاقے ته ورسیدو چه دا د مکے نه دریاب طرفته یوه علاقه ده چه د پنځو شپو د مسافت په اندازه ده یمن طرفته ده۔ او ځینی وائی چه دا په یمن کی یو ښار دے)

(معجم البلدان د یاقوت ۱/۳۹۹)

او خپل محبوب رسول الله ﷺ ئے په مکه کی پریښودو، ددے دپاره لاړو چه هلته به د الله بندګی وکړی او کیدے شی چه هلته د دین څه کار وکړی او چونکه نبی علیه السلام د الله تعالیٰ د حکم تابع وو نو هغه ته لا د هجرت کولو حکم نهٔ وو نو هغه په مکه کی پاتے شو۔

سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه چه کله برك الغماد علاقے ته ورسیده نو هلته قاره علاقه ورته وائی د هغے یو مشر (ابن الدغنه) ورسره ملاؤ شو نو د ابوبکر نه ئے تپوس وکړو: (أَيْنَ تُرِيْدُ؟) چرته روان ئے؟، ابوبکر مشهور سړے وو څکه تجارتونه به ئے کول، شام ته به تلو راتلو۔ نو هغه ورته وویل:

(أَسِيْرُ فِي الْأَرْضِ وَأَعْبُدُ رَبِّىْ فَإِنَّ قَوْمِىْ قَدْ أَخْرَجُوْنِىْ)

په زمکه کی ګرځم او د الله بندګی کوم څکه زهٔ خپل قوم راوستلے یم، ما نهٔ پریدی۔

ابن الدغنه ورته وویل: (مِثْلُكَ لَا يَخْرُجُ وَلَا يُخْرَجُ) ستا په شان سړی له پکار نهٔ دی چه د کلی نه اُوځی او نهٔ وویستلے شی۔ دا ظالمان تا څنګه وباسی او بیا ئے د ابوبکر صدیق صفتونه بیان کړل کوم چه خدیجی رضی الله عنها د رسول الله ﷺ بیان کړی وو، ابوبکر صدیق رضی الله عنه کی هغه صفات وو کوم چه رسول الله ﷺ کی موجود وو۔ دا دواړه داسے وو لکه د یو لاس ګوتی خو نبی علیه السلام ته الله تعالیٰ نبوت ورکړے وو او دهٔ ته ئے نبوت نهٔ وو ورکړے۔

ابن الدغنه یو کافر دے هغه ابوبکر ته وائی چه تا کی خو دا ښکلی صفات دی:

(إِنَّكَ لَتَحْمِلُ الْكَلَّ) تهٔ خو په ځان باندے د خلکو بوجونه راباروے۔

(وَتُعِيْنُ عَلٰى نَوَائِبِ الْحَقِّ) او تهٔ د خلکو سره مددونه کوے په هغه حوادثو کی چه په خلکو باندے په حق کی راغلی وی (وَتَقْرِئُ الضَّيْفَ) او خلکو ته میلمستیا ورکوے۔

(وَتَکْسِبُ الْمَعْدُوْمَ) او کوم صفتونه چه په تا کی موجود دی هغه په نورو خلکو کی نشته، دویم مقصد دا چه ته غریبو او فقیرانو دپاره کارو کسب پیدا کوے۔
دا ډیر ښکلے صفتونه دی چه سړے د خلکو بوجونه په ځان راباروی، میلمه ته میلمستیا ورکوی، د چا کار کسب نهٔ وی هغه ورله پیدا کوی، او چا باندے چه مصیبت راغلے وی هغه سره مدد کوی دا اعلیٰ صفتونه دی، زمونږ په دے وخت کی مسلمان سره د خپل ځان غم وی چه زهٔ ښه شم زما کور دے وی، زما کار دے وی، که ګاونډی د لوږے نه مړ کیږی ددهٔ پرواه نهٔ وی، که غریب لس میاشتی ګرځی او کار وکسب ئے نهٔ وی ددهٔ پرے څه پرواه نهٔ وی دا بد اخلاقی ده په مونږ ټولو کی موجوده ده اِلَّا مَنْ رَحِمَ رَبُّكَ۔
پکار دا ده چه ستا خپل کار شته بل دپاره کار وګوره ستا په خُله باندے یو کار کیږی هغه وکړه، ستا په مشوره یو کار کیږی هغه وکړه، یو کار کسب ورله پیدا کړه، میلمنه ته میلمستوب ورکړه، بوج په ځان راواړوه، چا باندے مصیبت راغلے دے په حق کی د هغه مدد وکړه۔ که خپله څه نشے کولے بل چا ته وواېه چه تهٔ مالداره ئے، دهٔ سره دا کار وکړه پکار دا ده چه مؤمن کی دا صفتونه موجود وی خو افسوس دے چه دا ادب مونږ ته چا نهٔ دے راکړے او خپل هغه ایمانی حرکت هم دومره نشته دے، الله سبحانه وتعالیٰ ته لکه څنګه چه د هغه په حکم عمل کول خوښ دی نو همدارنګه چه څوك د الله په بندګانو شفقتونه کوی هغه ئے هم ډیر خوښ وی۔
حدیث کی دی نبی علیه السلام فرمائی: (أَحَبُّ الْأَعْمَالِ إِلَى اللّٰهِ سُرُوْرٌ تُدْخِلُهٗ عَلٰى مُسْلِمٍ) بهترین عمل دا دے چه په یو مسلمان سړی خوشحالی ورننه کړی۔
(أَوْ تَکْشِفُ عَنْهُ کُرْبَةً) یا د هغه نه یو تکلیف او مصیبت لرے کړے۔
(أَوْ تَقْضِی عَنْهُ دَیْنًا) یا تهٔ د هغه نه قرض لرے کړے۔
(اَوْ تَطْرُدُ عَنْهُ جُوْعًا)۔ یا د هغه نه لوږه لرے کړے۔

(واسناده حسن، الطبرانی فی الکبیر السلسلة الصحیحة للالبانی رقم: ۹۰۶)

پدے عمل باندے الله تعالیٰ ډیر خوشحالیږی او انسان ته ډیر غټ اجر ورکوی ځکه دا افضل الاعمال کی داخل دے چه په ټولو عملونو کی بهترین عمل د مسلمان خوشحالول دی۔

او پدې باره کې ډېر احادیث دي ـ يو حديث کې دي:

(مَنْ نَفَّسَ عَنْ مُؤْمِنٍ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ الدُّنْيَا نَفَّسَ اللّٰهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيٰمَةِ)

چا چه د يو مؤمن نه تكليف لرې كړو د دنيا د تكليفونو نه نو الله پاك به ترې د آخرت د تكليفونو نه تكليف لرې كړي۔

(صحیح مسلم: ۷۰۲۸ باب فضل الاجتماع علی تلاوۃ القرآن وعلی الذکر)

يو سړې غمژن دې تا ترې غم لرې كړو نو د آخرت د غټ غم نه به دې الله خلاص كړي دا ډيره لويه خبره ده، دا ماده ځان كې پيدا كړه، حاجت الله پوره كوي خو ته به ورله منډه ووهې دا ډير اُوچت عمل دې۔ قرآن او حديث چه وګورې نيم به تقريباً پدې كې وي چه د مخلوق سره احسانات كول او د هغوي حاجتونه پوره كول بهتر عمل دې)

نو سيدنا ابوبكر صديق رضى الله عنه كې دا ټول ښكلي صفتونه وو

نو ابن الدغنه ورته ووېل: ته څنګه اوځې او خلك تا څنګه وباسي۔

(فَارْجِعْ فَاعْبُدْ رَبَّكَ بِبِلَادِكَ فَأَنَا جَارٌ لَكَ)

خپلې علاقې ته واپس شه او د خپل رب بندګي كوه زۀ به ستا دپاره (د قريشو نه) پناهي واخلم۔ تا ته به څوك څه نۀ وائي۔ نو سيدنا ابوبكر صديق رضى الله عنه خوشحاله شو چه صحيح ده چه په خپل كلي كې سړې عبادت او بندګي كولې شي او څوك ورته څه نۀ وائي نو د ابن الدغنه سره بيرته مكې ته راستون شو،

كله چه مكې ته راغلل ابن الدغنه د مكې په اشرافو مشرانو وګرځيدو نو هغوي ته ئې ووېل چه ابوبكر خو ډير اوچت سړې دې (مِثْلُهٗ لَا يَخْرُجُ وَلَا يُخْرَجُ) ددۀ په شان سړې مناسب نۀ ده چه خپله اوځي يا ويستلې شي څكه په ابوبكر كې دا صفات دي هغه صفتونه ئې قريشو ته ذكر كړل نو دا خو يو قيمتي سړې دې تاسو دا ولې د كلي نه وباسئ؟، پريدئ چه د خپل رب بندګي كوي زۀ ورله پناهي وركوم۔

نو قريشو ووېل چه صحيح ده زمونږ له طرفه ددۀ دپاره پناهي ده خو زمونږ يو شرط دې هغه دا چه دې به ښكاره قرآن نۀ لولي بلكه په خپل كور كې به ئې دننه وائي او عبادت به هم پټ په خپل كور كې كوي او ښكاره تلاوت به نۀ كوي۔

(وَلَا يَسْتَعْلِنُ بِالصَّلَاةِ وَلَا الْقِرَاءَةِ فِيْ غَيْرِ دَارِهٖ)۔

د كور نه علاوه په بل ځاى كې به ښكاره مونځ او قرائت نۀ كوي۔ دا كوم كتاب چه

دوی ته د الله د طرفه رالیږل شوی دے دغه کتاب به ښکاره نهٔ وائی۔
(فَاِنَّا نَخْشٰی اَنْ یَفْتِنَ نِسَاءَ نَا وَاَبْنَاءَ نَا) ځکه مونږ پدے باندے یریږو چه زمونږ زنانه او اولاد به گمراه شی ځکه دا ئے خپل دین ته اړوی (ځکه په قرآن کریم کی کشش دے مونږ خو نشی گمراه کولے لیکن زمونږ ماشومان به گمراه شی مونږ ځکه نشی گمراه کولے چه مونږ په خپل دین کلك ولاړ یو)۔
ابن الدغنه ابوبکر ته وویل چه ما درله پناهی اخستے ده خو د قریشو دا یو شرط دے چه خپل کور کی دننه عبادت کوه ابوبکر صدیق دا شرط ومنلو چه صحیح ده۔
سیدنا ابو بکر صدیق رضی الله عنه په مکه کی په امن سره ژوند تیرولو او قریشو ورته څه نهٔ ویل ځکه چه ابن الدغنه (ملك صاحب) ورله پناهی اخستے ده نو ابوبکر صدیق به قرآن دننه په کور کی لوستلو د قرآن سره ئے ډیر محبت هم دے، ابتدائی کتاب هم دے او مسلمانان پدے مسلمانان شوی هم دی، زړونه ئے هم صفا دی، د قرآن ډیر لذت او حلاوت (خوند) وو چه دے خلکو اخستلو،
یوه ورځ د سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه په ذهن کی راغله چه دا قرآن زهٔ دننه وایم نو پکار ده چه بهر ئے ولولم نو د خپلے دروازے مخے ته ئے بهر مسجد جوړ کړو،
(داسے چبوتره شان مسجد ئے جوړ کړو او دا جوړول جائز دی چه کله صحراء وی او د چا ملکیت پکی نهٔ وی او چا ته ضرر هم نهٔ وی پداسے ځای کی مسجد جوړولے شی لکه امام بخاری هم دا خبره کړیده)۔
نو سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه به په دغه مسجد کی مونځ کولو او قرآن به ئے پکی لوستلو او د ابوبکر په زړه کی الله تعالیٰ ډیر زیات رقت او نرمی اچولے وه۔ او دا د الله فضل وی چه بعض بندگانو ته ئے نصیب کړے وی۔ د سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه زړه دومره نرم وو چه کله به ئے قرآن شروع کړو:
(لَا یَمْلِكُ عَیْنَیْهِ) د خپلو سترګو اختیار به ئے نهٔ لرلو، اُوښکے به ترے بهیدلے۔
(وَکَانَ رَجُلًا بَکَّاءً) ۔ او ژړیدونکے انسان وو، په هغه کی دا کمال وو چه هر وخت به په هره خبره هغه ته ژړا ورتلله، او دا د الله فضل وی چه چا ته داسے زړه ورکړی، زمونږ زړونه د سندان په شان کلك دی او عربو کی دا د زړه د نرمئ صفت ډیر دے خاصکر په صحابه کرامو کی خو ډیر زیات وو)

نو ژړا به ئے کوله نو پدے کی به د مشرکانو زنانه او ماشومان راتلل او دۀ ته به ودریدل او تعجب به ئے کولو چه دا څه کوی؟! پدے خو نۀ پو هیدل چه څوك به داسے وی چه داسے بندگی به کوی او د الله تعالیٰ نه به یریږی او د هغه د یریدے د وجه نه به ژړا کوی هغوی به تعجب کولو او زنانه او ماشومانو به د ابوبکر صدیق رضی الله عنه سیل کولو۔

پدے کی مشرکانو ته بیا خطره پیښه شوه، په خپل مینځ کی ئے مشوره وکړه چه زمونږ زنانه او ماشومان ځی او ابوبکر ته ودریږی دا خو د جادو کتاب دے اثر به پرے وکړی او ایمان به راوړی نو په خپلو کورونو کی به راته غم جوړ شی نو پدے کی ابوبکر صدیق ئے ددے نه منع کړو او دا ئے ورته وویل چه دا قرآن دننه وایه لیکن هغه نۀ وئیلو،

نو مشرکینو ابن الدغنه پسے جواب ولیږه چه تۀ راشه هغه ئے د یمن نه بیا راوستو هغه چه راغے هغه ته ئے وویل چه یا خو په ابوبکر باندے هغه شرط پوره کړه چه دننه کور کی دے قرآن وائی نو ستا وعده مونږ نۀ ماتوو او کچرته دننه قرآن نۀ وائی نو مونږ د ښکاره قرآن اجازه نۀ ورکوو۔

(په خپل جُمات کی هم پرے پابندی لگوی چه دا به نۀ وائی، او دا ددے باطل پرستو طریقه ده چه خپل مسجد کی به درباندے لاوډ سپیکر بندوی، ستا خوا له به څوك راځی په هغه به پابندی لگوی چه دلته به نۀ ورځے اگرکه هغه به ستا نه ډیر لری وی)۔

نو ابن الدغنه راغلو ابوبکر ته ئے وویل چه یا خو داسے وکړه چه د هغه شرط مطابق کار کوه، دننه کور کی قرآن لوله نو تا ته به څوك څه نشی وئیلے کچرته ښکاره قرآن لولے نو ما ته خپل جوار (د پناهئ ذمه واری) واپس راکړه چه زۀ ئے قریشو ته ورکړم ځکه که تا ته څوك تکلیف درکړی نو عربو کی به زۀ مشهور شم پدے چه ما یو سړی له پناهی ورکړے ده او خلکو هغه ته ضرر ورکړیدے نو زما هغه جوار به مات شی خلکو کی به غلط مشهور شم، د خپل نوم او شهرت دپاره دا خبره کوی۔

ابوبکر صدیق رضی الله عنه ورته وویل: اِنِّیٓ اَرُدُّ اِلَیْكَ جِوَارَكَ ۔ زۀ تا ته د پناهی خپله ذمه واری واپس درکوم۔ (وَاَرْضٰی بِجِوَارِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ)۔

زۀ د الله په پناهئ باندے راضی او خوشحاله یم۔ (صحیح بخاری : ٢٢٩٧)

نو هغه عهد او امان چه ختم شو نو پدے کی قریش بیا آزاد شو ابوبکر ته ئے تکلیفونه ورکول او په هغه ځای کې ئے مانځه ته نهٔ پریښودو،

ابن اسحاق د عبد الرحمن بن قاسم بن محمد رحمه الله نه نقل کوی چه هرکله ابوبکر صدیق رضی الله عنه د ابن الدغنه د جوار نه ووتو نو ابوبکر کعبے طرفته راروان وو په لاره کی ورته د قریشو یو بیوقوف راووتو او په سر کی ئے ورله خاورے واچولے نو په لاره کی پرے ولید بن المغیره او عاص بن وائل راتیر شو، ابوبکر صدیق ورته وویل : آیا تهٔ دے بیوقوف ته نهٔ گورے چه دا څه کوی ؟ هغه ورته وویل : دا تا په خپل ځان باندے پخپله کړیدی، او ابوبکر صدیق به الله تعالیٰ ته شکایت کولو :

(اَیْ رَبِّ مَا أُحلَمَكَ ، اَیْ رَبِّ مَا أُحلَمَكَ، اَیْ رَبِّ مَا أُحلَمَكَ !) (البداية و النهاية ٣/٩٥)

اے ربه زما ! تهٔ څومره صبرناك ئے، څومره صبرناك او حليم ئے!۔

د نبی ﷺ هجرت طرفته اشارات

پدے زمانه کی رسول الله ﷺ وفرمایل : ما ته په خوب کی ستاسو د هجرت کور خودلے شویدے، ما په خوب کی ښوره ناکه شړلنه زمکه ولیده چه کجورے پکی زیاتی ولاړی دی او د دوه خوړونو ترمینځ واقع ده (یعنی مدینه طِیبَه) نو هرکله چه رسول الله ﷺ دا خبره ذکر کړه نو پدے کی ډیرو صحابه کرامو دغه مدینے ته هجرت شروع کړو او بعض هغه کسان چه حبشو ته ئے هجرت کړے وو هغوی هم مدینے ته هجرت وکړو۔

پدے کی سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه هم د قریشو ددے تکلیفونو نه تنگ راغلے وو نو دهٔ هم د هجرت اراده وکړه نو نبی علیه السلام ورته وفرمایل: (عَلٰی رِسْلِكَ) ۔ په آرام شه، هجرت مهٔ کوه دلته اُوسیږه زما د الله تعالیٰ نه امید دے چه ما ته به د هجرت امر وکړی نو بیا به دواړه شریك ملگری شو او هجرت به وکړو نو ابوبکر وویل :۔

(هَلْ تَرْجُوْ ذٰلِكَ بِأَبِیْ اَنْتَ؟) اے د الله رسوله ! آیا ستا هم دا امید شته چه تهٔ به هجرت وکړے، زما پلار دے ستا نه قربان شی؟)۔

زمونږ خو دا گمان نهٔ دے چه تهٔ به مکه پریدے نو نبی علیه السلام وفرمایل: آؤ،

(زما هم دا امید دے چه ما ته به الله تعالیٰ امر کوی) نو سیدنا ابوبکر وویل :
(اَلصُّحبَةَ يَارَسُولَ اللّٰهِ ؟)۔
اے د الله رسوله ! ما به د ځان سره ملګرے کوے یواځے لاړ نشے۔ نو نبی علیه السلام ورته وفرمایل : (اَلصُّحبَةَ) بالکل به ته زما ملګرے ئے۔
پدے سفر کی به ما او تا دواړه ملګری یو نو دا خبره چه نبی علیه السلام وکړه، ابوبکر وژړل، عائشه رضی الله عنها فرمائی :
مونږ پدے مجلس کی ناست وو زما دا ګمان نهٔ وو چه څوك به د خوشحالئ نه ژاړی نو ما د خوشحالئ نه هم ژړا ولیدله چه ابوبکر دومره خوشحاله شو چه وے ژړل چه ما د الله رسول ځان سره ملګرے کوی،
(انتهائی قربان انسان وو ابوبکر ته پدے وجه دومره لویه مرتبه په امت کی حاصله شوه، افضل الامة دے، د نبی علیه السلام نه روسته بهترین انسان دے دا دومره کمال چه دهٔ ته ورکړے شویدے دا هسے په لوبو باندے نهٔ یا په خوراك څکاك یا د جامو یا د مالدارئ په وجه نهٔ وو بلکه د زړه د کیفیت د وجه نه دا کمال ورته حاصل شوے وو، د زړه د محبت او توقیر د وجه نه چه د الله د نبی سره ئے انتهائی محبت وو او د هغه توقیر (احترام) ئے په زړه کی وو او د الله د دین دپاره ئے قسم قسم قربانئ ورکولے او ډیر ښائسته صفتونه د خیر پکی وو پدے وجه ورته دا فضیلتونه تول ملاؤ شوی وو)۔
ابوبکر صدیق دوه اُوښان ساتلی وو او د هجرت دپاره ئے تیار کړی وو څلور میاشتی ئے هغے ته ګیاه ورکوله، (اخرجه البخاری ۲۲۹۷) ۔
رسول الله ﷺ ته ئے وویل چه دا یو اُوښ مے تا له درکړو او دا یو زما شو نبی علیه السلام ورته وویل: (بِالثَّمَنِ) په پیسو به ئے درنه اخلم، ابوبکر وویل: هسے ئے درکوم یارسول الله، هغه وویل: نهٔ پیسے به درکوم۔
(پیسے ولے ورکوی سره ددے نه چه هغه په هسے ورکولو خوشحالیدو؟ وجه دا ده چه د الله د دین دپاره د نبی علیه السلام خپل مال هم ولګیږی، یو سړے هجرت وکړی تول په پردی مال باندے، یا جهاد وکړی په پردی مال باندے نو اجر به الله ورکړی خو نیمګړے اجر، اصل هجرت او اصل جهاد دا دے چه خپل مال ولګوی خپل ګاړے مصرف کړی۔ زمونږ اکثر جهادونه داسے دی چه د بل نه چنده او پیسے غواړو پکار ده

چه د الله د دین دپاره زمونږ ځان هم قربان شي او مال هم قربان شي او په میاشت کې به ځان باندې څه حصه چنده مقرره کړو د هغه د دین د غلبې دپاره، هر یو مالدار او غیر مالدار به په ځان باندې څه خاص حصه مال ومنې نو ډیر مال به جمع کیږی او د جهاد کار به روان وی، نو په لږ وخت کې به کفر مغلوب شي لیکن د دنیا دا محبت زمونږ زړونو ته دننه ننوتلے دے او زړونه ئے سم رانیولی دی).

الغرض دا چه سیدنا ابوبکر صدیق ډیر تکلیفونه او مصیبتونه برداشت کړل آخر دا چه خپل ملك او محبوب وطن ئے هم پریښودو او د رسول الله ﷺ سره شریك ئے مدینې طیبې هجرت وکړو.

د سوده رضی الله عنها سره د نبی ﷺ نکاح


لسم کال د نبوت دے د شوال میاشتے آخرنۍ ورځې دی چه پدے کې نبی علیه السلام یو بل کار وکړو هغه دا چه د ام المؤمنین سوده رضی الله عنها سره ئے نکاح وکړه،

دا اولنۍ بی بی وه روسته د خدیجې رضی الله عنها نه چه نبی علیه السلام په نکاح اخستې وه، د هغې د خاوند نوم سکران بن عمرو وو او د خپلې بی بی سره ئے حبشو ته هجرت کړے وو دا دواړه د حبشو مهاجرین وو، هلته چه لاړو نو خاوند ئے وفات شو، په هجرت او په اسلام کې وفات شو نو نبی علیه السلام د سوده رضی الله عنها د عدت د تیریدو نه روسته خِطبه (جرگه) وکړه، د هغې د پلار زمعه نه ئے مطالبه وکړه چه ما ته ئے په نکاح راکړه نو نبی علیه السلام ته ئے په نکاح ورکړه،

(دا خلك اگرکه مشرکان وو خو په باب د نکاحونو کې د هغوی آسانی وه او بله دا چه نبی علیه السلام د ډیرو ښائسته صفاتو والا او ښائسته نسب والا وو اگرکه دین ئے بدل هم وو نو خلکو ورته خوږ لور په نکاح ورکوله).

سوده رضی الله عنها پخوانۍ مؤمنه وه چه رسول الله ﷺ په نکاح واخسته څه زمانه روسته چه نبی علیه السلام عائشه رضی الله عنها په نکاح واخسته نو سوده رضی الله عنها خپل نمبر عائشه رضی الله عنها ته ورو بښلو او دا ئے وویل چه اے د الله

رسوله ! ما مهٔ طلاقوه زهٔ دا غواړم چه د قیامت په ورځ د نبی علیه السلام په نکاح کی راپاڅیږم او ستا د بیبیانو په نوم راپاڅیږم او دا ډیره لویه خبره ده چه د یوې زنانه په باره کی دا وویل شی چه د محمد رسول الله ﷺ زوجه ده، د تولو مؤمنانو مور ده، دا ډیر لوی منقبت دے چه چا ته ورکړے کیږی پدے قدر باندے ایمان والا پوهیږی نو نبی علیه السلام په خپله نکاح کی باقی پریښوده۔



د مکی دور دریمه مرحله : بهر دعوت کول

د نبی علیه السلام طائف ته سفر

پدے لسم کال په نبی علیه السلام باندے یوه بله واقعه دا راغله چه نبی علیه السلام د دعوت دپاره طائف ته تللے وو چه دا د نبی علیه السلام د مکی ژوند د مراحلو نه دریمه مرحله ده چه د مکے نه بهر دعوت خورول۔

د نبوت نه روسته یو پټ دعوت وو درے کاله، بیا دویمه مرحله : ښکاره دعوت د مکے مشرکانو ته، دریمه مرحله د مکے نه بهر دعوت چه دا مرحله د لسم کال نه روسته شروع شوه اول رسول الله ﷺ طائف ته سفر کړیدے هلته لاړو کیدے شی چه دا خلك ایمان راوړی او ثقیف یوه غټه قبیله ده چه دوی ایمان راوړی نو اسلام به عام شی او په دنیا کی به خور شی، دنیا دار الاسباب ده نبی علیه السلام هم اسبابو پسے ګرځیدو او الله رب العزت هم د اسبابو مطابق کارونه کوی، نبی علیه السلام به ذو المجاز او عکاظ میلو کی د پخوا نه چغے وهلے چه :

(اَلَا رَجُلٌ یَحْمِلُنِیْ اِلٰی قَوْمِیْ فَاُبَلِّغَ کَلَامَ رَبِّیْ فَاِنَّ قُرَیْشًا قَدْ مَنَعُوْنِیْ اَنْ اُبَلِّغَ کَلَامَ رَبِّیْ)۔

اے خلکو ! تاسو کی څوك سړے نشته چه ما خپل کلی او قوم ته بوځی او زما په شا باندے ودریږی چه زهٔ د خپل رب کلام ورسوم، د الله رسالت او پیغام ورسوم ځکه چه قریشو زهٔ ددے نه منع کړے یم چه زهٔ د خپل رب کلام ورسوم۔

هرچا به جواب ورکولو چه خپل قوم تا له پناهی نهٔ درکوی نو مونږ به څه پناهی درکړو، د قریشو مقابله به څوك وکړی، د عربو مقابله به څوك وکړی۔

د نبی علیه السلام خپل کلی ته بوتلل دا خو تولو مصیبتونو ته غاړه ورکول وو، تولو مصیبتونو ته د ډهال په شان ودریدل وو، اقتصادی پابندیانی به درباندی لګیږی او د تولو عربو او عجمو به دشمن کیږی، د بادشاهانو به دشمن کیږی قسم قسم مصیبتونه به برداشت کوے، دا فضیلت الله سبحانه وتعالیٰ انصارو له ساتلے وو، د مدینے انصارو کی خیر ډیر زیات وو، دا خیر الله تعالیٰ هغوی له ورکړو۔

رسول الله ﷺ به دا دعوت کولو چه ما به څوك بو نهٔ ځی چه زهٔ هغوی ته دعوت

ورکړم او د الله قرآن ورته ورسوم چا به د هغه ملګرتوب نۀ کولو ځکه چه غټ مصیبت ورته رسیدلو،

نبي علیه السلام د مکے خلکو ته دعوت ورکړو هغوی ونۀ منلو تردے چه مکے والا ورته دومره په قهر شو چه د مکے نه ئے ویستلو مجبوراً۔

په مکه کی ئے په یو ځای کی هم نۀ پریښودو چه نبي علیه السلام چرته کیني یا ډېره ولګوی، یا دے په کور کی آرام وکړی نو نبي علیه السلام د مکے مشرکانو د کلي نه په وتلو مجبور کړو نو نبي علیه السلام خو هجرت نۀ کوی لیکن لاړو طائف ته د دعوت په نیت باندے چه د طائف خلك زما سره ملګری شی د قریشو مقابله به پرے وکړم نو نبي علیه السلام ددے ځای نه طائف ته لاړو او د طائف او د مکے ترمینځ شپیته میله مزل دے چه تقریباً نوی پنځه نوی کیلومیټره جوړیږی۔ او دا ټول مزل د الله رسول پیاده وکړو، نۀ ورسره اس وو، نۀ ورسره اُوښه وه او یو ملګرے ورسره زید بن حارثه رضی الله عنه وو چه دا د نبي علیه السلام غلام وو بیا ئے آزاد کړے وو، خدیجي رضی الله عنها ورکړے وو، ډیر ښکلے انسان وو پخوانے مؤمن دے د سیدنا ابوبکر صدیق او علی او خدیجي رضی الله عنهم په شان او دا د الله یو فضل وو چه دۀ ته ئے ورنصیب کړے وو۔

دوی دواړه طائف ته پدے نیت باندے روان شو چه طائف والا به ایمان راوړی او د قریشو مقابله کی به ودریږی دا داسے وتل نۀ دی لکه اُوسنی بعض په نوم تبلیغ والا چه اوځی چه هغوی ددینه دلیل نیسی چه ددینه سه روزه یا چهله ثابتوی دا طریقه روسته جوړه شویده۔ نبي علیه السلام مطلق دعوت دپاره وتلے دے داسے لری سفرئے هم نۀ دے کړے او ډیرے سفرئے نۀ دی کړی صرف دا یو سفرئے د دعوت دپاره کړیدے هغه هم داسے دعوت دے چه ځان سره ملګری پیدا کوی، نورے سفری نبي علیه السلام د جهاد دپاره کړیدی،

دا طریقه ناروا نۀ ده چه څوك یوه ورځ یا درے ورځے بلے علاقے ته د دعوت دپاره لاړ شی لیکن ددے التزام به نۀ کوی چه څوك ددے التزام کوی دا لازموی چه سه روزه، چهله لګول ضروری دی او کمے زیاتے ورته بد ښکاری نو دا بیا بدعت دے او که څوك ئے نۀ لازموی یوه ورځ یا دوه ورځے یا چهله لګوی او د دعوت کار کوی او په هغے کی

دننه نور خرافات نهٔ بیانوی او بدعات ورسره نهٔ ملگری کوی نو دا بیا د مصالح مرسله ؤ د قبیلې نه دی، عمل پرے جائز دے۔

نبی علیه السلام طائف ته لاړو۔ د دعوت حکمت دا دے چه په علاقه کی کوم مشران خلك وی او د هغوی د لاس نه لاندے عوام وی پکار ده چه اول دعوت مشر ته ورکړل شی او که چرته عوام آزاد وو او د مشر په لاس کی نهٔ وو بیا به عوامو ته اول دعوت ورکوی۔ نبی علیه السلام اول بادشاهانو ته دعوت نهٔ دے ورکړے اول ئے په عوامو کی کار کړیدے، اول ئے په مکه او مدینه او ددے چارچاپیره خلکو کی کار وکړو بیا ئے روسته بادشاهانو ته خطونه ولیږل او موسیٰ علیه السلام اول فرعون ته دعوت ورکړو وجه دا ده چه د فرعون په لاس کی ټول مصر قبضه او ژرنده وو او په عوامو باندے ئے حکومت کولو نو که فرعون صحیح شوے وے ټول مصر صحیح کیدو او که چرته ئے عوامو کی کار شروع کړے وے نو فرعون ئے مخه نیوله او دلته نبی علیه السلام هم دا طریقه اختیار کړه چه مشرانو پسے ورغلو۔

د ثقیف قبیلے درے مشران وو د عمرو بن عمیر الثقفی خامن وو، (۱) عَبۡدِیَالِیۡل (۲) مسعود (۳) او حبیب۔ دا درے واړه ورونه د علاقے مشران وو نو نبی علیه السلام اول دوی ته ورغلو او د دوی سره ئے ملاقات وکړو او په یو ځای کی ورسره کیناستو، هغه مشرانو ورته وویل چه د څه دپاره راغلے ئے؟ نبی علیه السلام ورته وویل:

زهٔ ددے دپاره راغلے یم چه توحید ومنئ او شرك پریدئ الله سبحانه وتعالیٰ به ستاسو دنیا او آخرت ښائسته کړی، اسلام ئے ورته پیش کړو هغوی ته ئے وویل: چه په ما قرآن نازل شویدے۔ (د نبی علیه السلام د دعوت طریقه دا وه چه قرآن به ئے لوستلو) نو قرآن ئے پرے ولوستلو، د ایمان دعوت ئے ورته ورکړو او دا ئے ورته وویل چه ما سره ودریږئ د قریشو په مقابله کی او د اسلام مدد وکړئ الله رب العزت به عرب او عجم ستاسو تابع کړی نو پدے کی هغه یو کس وویل:

(هُوَ یَمۡرُطُ ثِیَابَ الۡکَعۡبَةِ (اَیۡ یُمَزِّقُهَا) اِنۡ کَانَ اللّٰهُ اَرۡسَلَكَ)

ما به د کعبے غلاف شوکولے وی که الله تعالیٰ تهٔ رالیږلے ئے!!۔

هغه بل وویل: (اَمَا وَجَدَ اللّٰهُ اَحَدًا غَیۡرَكَ)۔

آیا الله ستا نه غیر بل څوك نهٔ موندلو چه تهٔ ئے رالیږلے۔

هغوی دا خیال کولو چه رسول به داسې څه بل شے وی، د مشرانو نه به وی او مالداره به وی یا به د ملائکو نه وی حال دا چه د الله عادت دا دے چه انسانانو کی د هغوی د جنس نه رسول رالیږی همدغه شخص انسانی رسول رالیږی خو د الله چه خوښ شی په هغه کې ښکلے صفات وی هغه الله نبی ګرځوی نو دوی د الله رسول ﷺ سپك وګڼړلو،

دریم وویل: (إِنْ كُنْتَ رَسُوْلًا فَأَنْتَ أَشَدُّ خَطَرًا مِنْ أَنْ أَرُدَّ عَلَيْكَ الْكَلَامَ!).

که ته رسول ئے نو بیا زهٔ دا بده ګڼړم چه په تا باندے خبره درواپس کړم ستا خطر بیا ډیر دے چه زهٔ ستا خبره رد کړم دا خو تباهی ده.

(وَإِنْ كُنْتَ كَذَبْتَ عَلَى اللّٰهِ فَمَا يَنْبَغِيْ أَنْ أُكَلِّمَكَ).

او که تا په الله دروغ وئیلی وی نو زهٔ نهٔ خوښوم چه تا سره خبرے وکړم.

بل روایت کی داسےدی چه: (فَأَنْتَ أَحْقَرُ فِيْ عَيْنِيْ مِنَ الْكَلِمَاتِ)

تهٔ زما په سترګو کی ډیر سپك ئے ددینه چه زهٔ دے ستا سره خبرے وکړم.

دا خبره ددهٔ په وران نیت وه، که وران نیت ئے نهٔ وے تحقیق به ئے کړے وے چه دا رسول دے او که نهٔ دے اوله کی د سړی شك وی نو سمدست لازمه نهٔ ده چه ایمان راوړی بلکه معجزه به طلب کوی.

د نبی علیه السلام نه به ئے معجزه طلب کړے وے چه ستا څه معجزه ده څنګه رسول ئے ؟مونږه څنګه ومنو چه تهٔ د الله رسول ئے؟، د دلیلونو تحقیق به ئے کړے وے. د الله رسول به ورته معجزه ښودلے وے نو ایمان به ئے راوړے وے لیکن دوی د ورانئ دپاره خبره وکړه چه که تهٔ رسول ئے ستا خطر ډیر دے او که تهٔ دروغژن ئے خبرے درسره نهٔ کوم. نو څوك چه د خبرے تحقیق نهٔ کوی دغه شان به ګمراه پاتی کیږی.

نو دے درے وارو دا خبره په ډیره غلطه طریقه سره رد کړه نو نبی علیه السلام ورته وفرمایل: (أَمَّا إِذَا فَعَلْتُمْ مَا فَعَلْتُمْ فَاكْتُمُوْا عَنِّيْ) کله چه تاسو دا کار وکړو (زما اجابت مو ونکړو) نو داسے وکړئ چه دا خبره بل چا ته مهٔ ښکاره کوئ.

بعض روایتونو کی دا دی چه قریشو ته ئے مهٔ ښکاره کوئ هغوی ته حال مهٔ وایئ چه مونږ د محمد رسول الله (ﷺ) داسے خلاف وکړو لیکن دوی دا خبره د نبی علیه السلام ونهٔ منله خلکو ته ئے اعلان وکړو چه ددهٔ مقابله وکړئ.

بعض روایتونو کی دی چه نبی علیه السلام طائف کی لس ورځی تیری کړے، نورو ډیرو مشرانو ته ورغلو هیڅا ئے خبره ونۂ منله خلکو کی مشهور وو چه دلته یو سړے دے او صابیتـوب خـوروی، د پـلار نیکه اصلی دین درله خرابوی او بل دین خوروی او هغے ته دعوت ورکوی

(لـکـه دا د اُوسنو باطل پرستو طریقه هم ده چه یو حق پرست قرآن او حدیث شروع کړی خلکو کی به خورهٔ کړی چه دلته یو وهابی راغلے دے، وهابیتوب خوروی، د پلار نیکه دین ختموی، حنفیت او تقلید ختموی دا قصے به شروع شی ستاسو به دا تجربه شـوی وی، ډیر کـرت بـه داسـے کـار شروع وی او شیطان دا خبره خوروی د خلکو زړونو کی ئے اچوی اګرکه تۀ ځان ته وهابی صابی نۀ وائے خو شیطان به د خلکو په زړونو کی اچـوی چـه دا سړے خراب دے دا ستاسو دین خرابوي دا مو د پلار نیکه د اصلی دین نه اړوی)۔

پـدے کـی د طائف مشـرانو سفهاء او کم عقلو غلامانو ته وویل چه ددے نبیٰ مقابله وکـړئ، نبی علیه السلام او زید بن حارثه رضی الله عنه د طائف نه د راوتو اراده وکړه او ډیر غمژن وو د پریشانئ حالت کی راووتل، د طائف خلکو ورته دوه صفه جوړ کړل دے طرف ته هم او بل طرفته هم او په کاڼړو باندے ئے ویشتل او کنځلے ئے هم ورته کولے او چغے ئے پسے وهلے،

(هـائـے افسـوس !! دے خـلـکـو د دومره لوی هستیٔ دا میلمستوب وکړو؟ حال دا چه عـرب په میلمستوب کی ډیر تکړه وو لیکن حق د سختو سره د مخامخ کیدو والا شے دے، حـق داسـے شے نۀ دے چه خلک به امیلونه غاړے ته دراچوی، په حق کی انسان ته الله تعالیٰ جنت ورکوی، الله درنه رضا کیږی لیکن اوله کی دے بنه پرے تکوی د خلکو خبرے به درپسے کیـږی خـلـک به دریاندے سلام هم نۀ اچوی، دا به ستاسو تجربه کی راغلی وی چه یو ځای کی به یو غټ عالِم موجود وی یو وړوکے چنړے یو امی سړے به جَـمـعـے مانځه ته مخکی کوی او هغه عالِم به نۀ مخکی کوی ځکه چه په دۀ باندے د هـابیتـوب فـتـویٰ ده۔ یـو سړی راتـه ووېـل چـه یـو ځای ته لاړم یو ماشوم ئے جَمعے ته مـخـکی کړو او زۀ ئے مخکی نۀ کړم؟! ما ورته ووېل وجه دا ده چه په تا باندے د قرآن او حدیث لیبل لګیدلے دے او د دوی قرآن او حدیث نۀ دے خوښ)۔

الغرض: نبی علیه السلام د طائف خلکو په کانړو ویشتو چه د هغه عراقیب او پوندے او پونډئ په وینو سرے شوے، (عراقیب د ګیتهو نه شا ته پلے، پټ ته وائی)
سیدنا زید بن حارثه رضی الله عنه به د نبی علیه السلام حفاظت کولو هغه ئے په سر باندے ویشتو هغه هم زخمی شو،
دغه کم عقلان ظالمان ورپسے راروان وو او نهٔ ئے پریښودو تردے چه نبی علیه السلام درے میله وړاندے لاړو نو هلته د عتبه او شیبه (چه د ربیعه ځامن وو) یو باغ وو، دا د قریشو دوه کسان وو مشهور کافران دی (په بدر کی اول مردار شویدی)،
د هغوی باغ دے (مکے والو به کله د مکے نه بهر زمکے ځان دپاره اخستلے) نو نبی علیه السلام او زید بن حارثه دغه باغ ته مضطر (مجبور) شو نو هغے ته ورننوتل نو طائف والا ترے راواپس شول نو نبی علیه السلام په دغه باغ کی لږ شان راحت وکړو، دیوال ته ئے تکیه ولګوله د انګورو یو بوټی د سوری لاندے کیناستو ډیر خفه او پریشانه وو ځکه دعوت ئے هم چا قبول نکړو او هغه ته ئے هم ضرر ورسولو او بی عزتی ئے ورله هم وکړه۔
نو نبی علیه السلام په دغه ځای کی الله ته ډیر د زړه د جوش نه التجاء (او زاری) وکړه او دعاء ئے وکړه په سیرت کی هغه دعا راغلے ده،
(اَللّٰهُمَّ اِلَيْكَ أَشْكُوْ ضُعْفَ قُوَّتِيْ وَقِلَّةَ حِيْلَتِيْ وَهَوَانِيْ عَلَى النَّاسِ، يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ، أَنْتَ رَبُّ الْمُسْتَضْعَفِيْنَ، وَأَنْتَ رَبِّيْ، اِلٰى مَنْ تَكِلُنِيْ؟ اِلٰى بَعِيْدٍ يَتَجَهَّمُنِيْ؟ أَمْ اِلٰى عَدُوٍّ مَلَّكْتَهُ أَمْرِيْ؟ اِنْ لَمْ يَكُنْ بِكَ عَلَيَّ غَضَبٌ فَلَا أُبَالِيْ؟ وَلٰكِنْ عَافِيَتُكَ هِيَ أَوْسَعُ لِيْ، أَعُوْذُ بِنُوْرِ وَجْهِكَ الَّتِيْ أَشْرَقَتْ لَهُ الظُّلُمَاتُ، وَصَلَحَ عَلَيْهِ أَمْرُ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ مِنْ أَنْ تُنْزِلَ بِيْ غَضَبَكَ أَوْ يَحِلَّ عَلَيَّ سَخَطُكَ، لَكَ الْعُتْبٰى حَتّٰى تَرْضٰى وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِكَ)
اے الله! زهٔ تا ته د خپل قوت کمزورتیا او د چل د کموالی او په خلکو باندے د سپکیدو شکایت کوم اے ډیر رحم کونکیه د رحم کونکو نه! تهٔ د کمزورو رب ئے او تهٔ زما رب ئے، تهٔ ما چا ته سپارے؟ هغه وړاندے انسان ته چه زما بیعزتی کوی او ما ته تندے تریو کړی؟ یا مے دشمن ته کار سپارے؟ که ستا په ما باندے غضب نهٔ وی نو زما د خلکو په مصیبتونو هیڅ باك نشته لیکن ستا عافیت زما دپاره ډیر فراخه دے، ما ددے مصیبتونو نه بچ وساته، پناه غواړم په رڼا د مخ ستا هغه چه تیارے ورسره روښانه

کیږی او د دنیا او د آخرت کارونه ورسره برابریږی ددے نه پناه غواړم چه ستا غضب او ستا غصه په ما باندے نازله شی، تا ته زمونږ رجوع ده او نشته منع کول د گناه او طاقت ورکول په نیکئ مگر په تا باندے دی)

داسے ښکلے دعاگانی ئے وکړی چه دے دعا په آسمانونو باندے اثر وکړو، په ټوله دنیا ئے اثر وکړو داسے قوی او مضبوطه دعا وه، ولے به داسے نهٔ وی چه د رسول الله ﷺ زړه نه دعا راوځی، د زړهٔ د جوش نه چه کومه دعا وشی هغه ضرور قبلیږی،

او بیا چه داسے اخلاص حالت سره وی بیا د الله ددین دپاره وشی صرف دٔ خپلو خواهشاتو دپاره نهٔ نو داسے دعاگانی الله سبحانه وتعالیٰ زر قبلوی نو د الله تعالیٰ مددونه راښکاره او شروع شو۔

پدے کی هغه دوه کسان چه دا باغ ئے وو یعنی عتبه او شیبه د دوی پرے شفقت راغے چه دا خو زمونږ د کلی او د وطن سړے دے او په دهٔ باندے داسے تکلیفونه دی چه خلك ئے بی عزتی کوی نو دوی خپل یو نصرانی غلام چه عَداس ئے نوم وو راوغوښتو او هغه ته ئے ووئیل چه د انگورو یو غونچك وشوکوه او دغه سړی ته ئے ویسه کوم چه په باغ کی ناست دے نو نبی علیه السلام هغه قبول کړو،

(د کافر هدیه هم په داسے وخت کی قبلولے شی او دا جائز ده چه دین ته پرے ضرر نهٔ رسیږی او حربی کافر نهٔ وی نو د هغه نه یو شے اخستلے شی)

نو نبی علیه السلام چه هغے ته لاس وروړاندے کړو داسے ئے ووئیل: (بِسْمِ اللهِ)۔

(او دا ادب دے چه سړے طعام خوری نو مخکی به بسم الله وائی او آخر کی به الحمد لله وائی هسے د غوایانو په شان خوراك به نهٔ کوی چه پرے ورودانگی وے خوری)۔

گله چه نبی علیه السلام (بسم الله) ووئیله نو د عتبه او شیبه غلام تعجب وکړو او وے وئیل چه ددے علاقے خلك خو دا تهکی نهٔ استعمالوی؟ نبی علیه السلام ترے تپوس وکړو چه تهٔ د کوم ځای ئے ؟ او ستا کوم دین دے ؟ هغه ووئیل: زهٔ نصرانی یم او په موصل کی د نِیْنَویٰ علاقے اوسیدونکے یم چه دا په عراق کی یو کلے دے۔

نبی علیه السلام ورته وفرمایل : (مِنْ قَرْيَةِ الرَّجُلِ الصَّالِحِ يُوْنُس بْنَ مَتّٰى)

د هغه نیك سړی د کلی نه ئے چه هغه یونس بن مَتّی علیه السلام دے؟۔

د یونس علیه السلام د کلي نوم نَینوئ وو۔
نو عداس غلام په نور تعجب کې پریوتو وې وئیل:
(وَمَا يُدْرِيكَ مَا يُونُسُ بْنَ مَتّى؟)۔
تا ته څه معلومه شوه چه یونس بن متی څوك دے؟ (هغه خو څوك نۀ پیژني دا تاریخ دے وخت کې نۀ دے موجود او دے عربو ته خو دا خبرے نۀ دي معلومے دا ته د کوم ځای نه وائے؟) نبي علیه السلام وفرمایل:
(ذٰلِكَ أَخِيْ، كَانَ نَبِيًّا وَأَنَا نَبِيٌّ)
هغه خو زما ورور دے هغه هم نبي وو او زۀ هم نبي یم)۔
(دا د دعوت یوه طریقه ده چه په خبرو اترو کې سړے پوهه کړي، د هر سړي د ذهن مطابق خبره کول پکار دي، نبي علیه السلام چه به دعوت ورکولو داسے به نۀ ووچه سړے په تکلیف کې کړي)
نو عداس شروع شو د نبي علیه السلام سر او لاس او خپے ئے ښکلولے۔ د نبي علیه السلام د اکرام او عزت د وجه نه۔
پدے کې چه عتبه او شیبه وکتل نو یو بل ته ئے وویل:
(أَمَّا غُلَامُكَ فَقَدْ أَفْسَدَهُ عَلَيْكَ)
غلام ئے درله خراب کړو، (سړے به پرے ایمان راوړي او چه ایمان ئے راوړو نو خراب شو)۔
عداس چه واپس راغے نو عتبه او شیبه چه دده مالکان وو تپوس ئے ترے وکړو چه دا تا څه کول چه د دغه سړي سر او خپے او لاسونه دے ښکلول؟ نو عداس ورته وویل:
(يَا سَيِّدِيْ مَا فِي الْأَرْضِ شَيْءٌ خَيْرٌ مِنْ هٰذَا الرَّجُلِ، لَقَدْ أَخْبَرَنِيْ بِأَمْرٍ مَا يَعْلَمُهُ إِلَّا نَبِيٌّ)۔
په مخ د زمکه ددے سړي نه غوره انسان نشته دے ما ته ئے د داسے خبرے خبر راکړو چه هغے باندے صرف نبي پوهیږي نو ما ته پته ولګیده چه دا د الله نبي دے۔
(د هغوی ذهن ته هم دا خبره ددے غلام په وجه ورسیدله چه دا په مخ د زمکه غوره انسان دے)۔
پدے کې عتبه او شیبه بیرته خپل غلام ته دعوت ورکړو:
(وَيْحَكَ يَا عَدَّاسُ لَا يَصْرِفَنَّكَ عَنْ دِيْنِكَ فَإِنَّ دِيْنَكَ خَيْرٌ مِنْ دِيْنِهٖ)

خوار شے اے عداسه ! دا سړے تا د خپل دین نه وانهٔ ړوی ځکه ستا دین ددهٔ د دین نه غوره دے)۔

یعنی په خپل نصرانیت دین باندے کلك شه اسلام ته مهٔ ځه ۔

(د باطل والو دا طریقه ده چه کفرئے خوښ وی د اسلام په مقابله کی، یو سړے دے هندو، شیعه او مرتد شی پدے خوشحاله وی خو چه حق ئے قبول کړو او سنت طریقو باندے ئے عمل شروع کړو پدے به خفه وی او دا به نهٔ برداشت کوی دا زمونږ پدے زمانه کی تجربه وشوه، که یو سړی ګیره خریله، د فسق او فجور کارونه ئے کول نو ډیر ملّیان پرے خفه نهٔ وی لیکن که یو سړی په سنت طریقه عمل شروع کړو بیا به ورته وائی چه شرئے شروع کړو، اماماں نهٔ منی، بی ادبه شوی خراب شویدی،

یو ملګری واقعه بیان کړه چه نوښار علاقه کی مے مونځ کولو په یو مسجد کی ږنو هغه امام خپلے کمرے ته وغوښتلم چه دا عمل مهٔ کوه دا خو منسوخ دی دا اسلام کی نشته نو ما چه ورته دلائل بیان کړل هغه وویل: دا اول وخت کی وو بیا ختم شو نو د باطل والو طریقه دا ده چه حق نهٔ برداشت کوی)۔

پدے کی نبی علیه السلام د دغه باغ نه راووتلو او زید بن حارثه رضی الله عنه هم ورسره وو ډیر غمژن او زړه ماتے واپس مکے طرفته راروان وو، بطن نخله علاقے ته چه راورسیدل (چه دا د مکے نه د یوے شپے په اندازه مزل باندے واقع دے) نو هغے کی نبی علیه السلام لږه دمه او آرام وکړو او یو څو ورځے پکی پاتی شو دلته السیل الکبیر په نوم باندے ځای کی خلق آرام کوی دا اوس د نجد (ریاض) او طائف والو میقات هم دے، ددے ځای نه د حج یا عمرے دپاره احرام تړی۔

نبی علیه السلام دلته یو څو ورځے پاتی شو دے دپاره چه مکے ته په داخلیدو کی څه ترتیب جوړ کړی، مکے ته هم نشی داخلیدلے ځکه چه مشرکینو په ظلم سره راویستلے وو او مکے ته ئے بیرته نهٔ پریښودو نو دلته نبی علیه السلام آرام وکړو د راتلونکی وخت دپاره ئے ترتیب جوړولو۔

په بطن نخله کی رسول الله ﷺ ته د پیریانو راتلل

نو پدے ځای کی دوه کارونه وشو

(١) یو دا چه نبي علیه السلام ته الله تعالیٰ پیریان راوستل۔
په حدیث د صحیحینو کی راغلي دي چه نبي علیه السلام فرمائي: زهٔ په مانځه ولاړ وم او د سهر مونځ وو، زید بن حارثه هم ورسره وو، ددینه مخکی الله سبحانه وتعالیٰ پیریان د آسمان نه بند کړي وو، مخکی به پیریان آسمان طرفته ختل او د ملائکو خبرو ته به ئے غوږ نیولے وو هغه خبرے به ئے کاهنانو ته زاوړلے یو کاهن ته به ئے خبره وکړه چه صبا به باران کیږي هغه به دا خبره وکړه چه باران به کیږي اوسل به ئے ورسره دروغ ملګري کړل خلکو به د هغه تصدیق کولو،
نو د نبي علیه السلام د نبوت د حفاظت دپاره الله پاك د آسمان نه پیریان او شیطانان بند کړل دا چه هلته ځي ملائك ورته په انتظار ناست وي او د اُور شغلي ورسره وي هغوي پرے ولي نو شیطانانو خپل مینځ کی مشوره وکړه چه
﴿أَشَرٌّ أُرِيدَ بِمَن فِي الْأَرْضِ أَمْ أَرَادَ بِهِمْ رَبُّهُمْ رَشَدًا﴾ (الجن: ١٠)
یا خو په زمکه باندے عذاب راځي او یا خو الله د څه خیر اراده کړیده) چه مونږ آسمان ته نهٔ پریدی، دے دواړو کارونو کی به یو شے وي نو مشر ورته وویل :
(فَاضْرِبُوا مَشَارِقَ الْأَرْضِ وَمَغَارِبَهَا)
لاړ شئ تهوله دنیا مشرق او مغرب پورے وګرځئ ددے وجه معلومه کړئ (خلك وائي پیریانو ته غزنی څه دے) پیریان په آسانئ سره ګرځي او الوځي رالوځي په لږ وخت کی ډیر لرے رسیږي۔
نو پیریان تقسیم شو چه پدے علاقو کی به ګرځو او ددے معلومات به کوو چه دا څه وجه ده چه الله تعالیٰ مونږ آسمان ته نهٔ پریدی؟ نو پدے کی د شام یو څو پیریان د نصیبین علاقے وسیدونکي اوه کسان هغه پدے ځای مقرر شوي وو چه تاسو به مکه مکرمه او د حجاز علاقے ګورئ نو دوي راروان وو چه په سهر وخت کی بطن نخلے ته راورسیدل نو وے لیدل چه نبي علیه السلام او د هغه ملګري په مانځه ولاړ دي او قرآن لولي نو دوي تعجب وکړو چه پدے شاړ میدان کی دا کسان ولاړ دي نو دوي ورته رانږدے شو او یو بل ته ئے وویل چه غلي شئ چُپ شئ دے خبرے ته غوږ کیدئ چه څه چل کیږي، کله چه هغوي قرآن واوریدو نو دا پیریان ډیر بنه خلك وو سمدستي پرے قرآن کریم اثر وکړو او ایمان ئے راوړو،

نبی علیه السلام ته ئے لا خبر هم نهٔ دے ورکړے چه مونږ په تا ایمان راوړیدے۔
د الله نبی خبر نهٔ دے او دا خلك راغلی دی، ایمان ئے راوړیدے، قرآن ئے واوریدلو پدے کی دا پیریان خپل قوم ته بیرته واپس شو او حال ئے وویلو او خپل مینځ کی ئے دلته هم دا خبره وکړه (وَاللّٰهِ هٰذَا) قسم په الله دا هغه شے دے چه تاسو ئے د آسمان نه منع کړی یئ، دا سرے قرآن وائی او دا آخری حق رسول دے۔
پدے کی دوی لاړل خپل قوم ته ئے دعوت ورکړو چه یو نبی پیدا شویدے د هغه تابعداری وکړی چه الله تعالیٰ هغه په خپل کتاب کی رانقل کړیدے فرمائی:
﴿ يَا قَوْمَنَا اِنَّا سَمِعْنَا كِتَابًا اُنْزِلَ مِنْ بَعْدِ مُوْسٰى مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ يَهْدِیْ اِلَى الْحَقِّ وَاِلٰى طَرِيْقٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝ يَا قَوْمَنَا اَجِيْبُوْا دَاعِيَ اللّٰهِ وَآمِنُوْا بِهٖ يَغْفِرْ لَكُمْ مِنْ ذُنُوْبِكُمْ وَيُجِرْكُمْ مِنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ﴾ (احقاف :۲۹/۳۱) ۔
(اے قومه زمونږ ! مونږ یو کتاب واوریدو چه د موسیٰ علیه السلام نه روسته نازل شویدے تصدیق کونکے دے د هغه کتابونو چه ددے نه مخکی دی، حق طرفته هدایت کوی او نیغه لاره ښائی، اے قومه زمونږ : ددے داعی (محمد رسول الله ﷺ) خبره ومنئ او په دهٔ باندے ایمان راوړئ، الله به ستاسو گناهونه معاف کړی او د دردناك عذاب نه به مو وساتی)۔
پدے لړ ساعت کی پیریانو خبره واوریده او په مقصد باندے پوهه شو، د قرآن عظمت ئے هم په زړهٔ کی پریوتو الله سبحانه وتعالیٰ ورته کامل هدایت وکړو۔
په سورة الجن او سورة احقاف کی الله سبحانه وتعالیٰ مشرکینو او ددے امت مجرمانو ته دا پیغور ورکوی چه گوره پیریان شر والا خلك دی هغوی ډیر زر ایمان راوړی او قرآن پرے اثر کوی او تاسو عرب یئ او قرآن ستاسو په ژبه دے او دا پیغمبر ستاسو قومی هم دے او بیا هم ایمان نهٔ راوړئ هغه ادنیٰ مخلوق خبره منی چه شر هم پکی زیات دے او تاسو د خیر والا ځان گنړئ او بیا هم ایمان نهٔ راوړئ او خبره نهٔ منئ لکه ډیر خلك به د علم او هوښیارتیا دعوے کوی او حق به نهٔ منی او نهٔ ئے قبلوی دا خومره ظلم او زیاتے کوی۔
پیریانو چه دا دعوت وکړو نبی علیه السلام روسته خبر شو چه پیریان ما ته راغلی وو او ایمان ئے راوړیدے او قرآن ئے آوریدلے دے او سورة الجن نازل شو ۔

﴿ قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِنَ الْجِنِّ فَقَالُوا إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا، يَهْدِي إِلَى الرُّشْدِ فَآمَنَّا بِهِ وَلَنْ نُشْرِكَ بِرَبِّنَا أَحَدًا...... ﴾۔

نبی علیه السلام ددے آیتونو په نازلیدو سره خبر شو چه ما ته پیریان راغلی دی۔

پدے آیتونو کی دیته اشاره ده چه اے زما نبی ! زما دین رسوه، دعوت کوه که پدے خلکو باندے ئے اثر ونکړو په بل چا باندے به ئے وکړی، الله تعالیٰ دعوت هیڅکله نهٔ ضائع کوی، دا د الله تعالیٰ اُصول دی چه د چا خواری نهٔ ضائع کوی،

که دے کلی والا ایمان نهٔ راوړی وړاندے کلی والا به ئے راوړی،

دارنګه که انسانانو ایمان رانهٔ وړو پیریان خو به ئے راوړی، یو سړے دے دا نهٔ وائی چه زهٔ دے مسجد کی لګیا یم او ما ته څوك نهٔ دی ناست، یا کم کسان دی زما خبره څوك نهٔ آوری، نهٔ بلکه ستا خبره الله تعالیٰ آوری او ددے دپاره به خلك پیدا کړی او هغوی به ئے قبوله کړی نو اخلاص پکار دے الله تعالیٰ د انسان د زړهٔ جذبی ته ګوری، دیته هم نهٔ ګوری چه یو سړے ډیر ښه فصیح او بلیغ تقریر وکړی بلکه که په سړی کی فصاحت او بلاغت نهٔ وی او د زړه درد ورسره وی او په اخلاص سره دعوت کوی او حق بیانوی الله سبحانه وتعالیٰ خلکو کی هغه راولی، د دعوت اصول دا دی چه زړه کی به درد ساتی چه دا خلك الله په حق پوهه کړی او د الله تعالیٰ دین په دنیا کی عام شی دا درد وساته که تا له په فصاحت او په بلاغت او ښائسته طریقے سره تقریر نهٔ درتلو او د زړهٔ درد درسره وو نو الله په هغے کی برکت اچوی۔

او پدی آیتونو کی دا خبره هم اشارةً معلومه شوه چه اے نبی! که طائف والو خبره ونهٔ منله نو نورو خلکو ومنله نو نبی ﷺ ته تسلی شوه چه ستا خبره ضائع نشوه۔

او پدے کی دا اشاره هم وه چه اے نبی ! الله تعالیٰ به ستا دین پوره کوی او تا سره به غیبی مدد کوی۔

دویم غیبی مدد او تسلی

د رسول الله ﷺ سره دویم غیبی مدد دا وشو،

په حدیث د بخاری کی راغلی دی چه عائشه رضی الله عنها نبی علیه السلام ته

وفرمایل : آیا په تا باندې د جنګِ اُحد د ورځ نه بله سخته ورځ راغلې ده؟
رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: ستا د قوم نه ما ته ډیر زیات تکلیفونه رارسیدلی دی او ډیر سخت تکلیف ما ته په ورځ د عقبه باندې راورسیدو کله چه ما خپل ځان په عبدیالیل بن عبد کُلال باندې پیش کړو لیکن هغه زۀ ما خبره ونۀ منله نو زۀ په خپله مخه روان شوم- او ډیر غمژن وم- زۀ بیدار نشوم مګر زۀ په قرن الثعالب علاقه کی وم. (یعنی زۀ چه کله د طائف نه راواپس شوم او قرن الثعالب ته راورسیدم چه اُوس ورته قرن المنازل وائی (او دا د ریاض او نجد والو دپاره میقات دے دیته السیل الکبیر هم وائی لکه مخکی ذکر شو).
نو ما چه سر پورته کړو نو ناڅاپه زما د سر دپاسه وریځ راغله چه په ما باندې ئې سورے وکړو نو ما چه وکتل په هغې کی جبریل علیه السلام وو نو ما ته ئې آواز وکړو :
چه یقیناً الله تعالیٰ ستا د قوم خبره واوریده کومه ئې چه تا ته وکړه او کوم غلط جواب ئې چه تا ته درکړو او یقیناً الله تعالیٰ تا ته ملك الجبال (د غرونو ملائك) راولیږو دے دپاره چه تۀ ورته د خپلې خوښې مطابق حکم وکړې. نو د غرونو ملائك ما ته آواز وکړو او سلام ئې راباندې واچولو......
(الله تعالیٰ په کائناتو باندې جدا جدا ملائك مقرر کړیدی، په باران، په وریځو په هوا ګانو، په غرونو، د انسانانو په مرګ، په رحِم کی په پیدائش، په رزقونو ملائك مقرر دی چه دا نظام الله تعالیٰ چلوی په واسطه د ملائکو او هغوی ته حکمونه کوی او دا د الله تعالیٰ د قدرت او عظمت او کمال نښه ده)
بیا ئې ووېل چه زۀ الله تعالیٰ مقرر کړے یم او تا ته ئې رالیږلے یم چه :
(اِنۡ شِئۡتَ اَنۡ اُطۡبِقَ عَلَیۡهِمُ الۡاَخۡشَبَیۡنِ)
که ستا خوښه وی زۀ به په دوی باندې د مکې دواړه غرونه رایوځای کړم (اخشبین په مکه کی دوه غرونه دی یو ته جبل ابی قُبَیۡس وائی او بل ته قُعَیۡقِعان) او مکې والا به هلاك کړم څکه چه دے قوم تۀ ایستلے ئې.
خلك دا بیانوی چه دا خبره ئې د طِائف والو په باره کی وکړه خو د روایت د ظاهر نه دا معلومیږی چه دا د مکې والو په باره کی ده نو پدې کی نبی علیه السلام ورته وفرمایل : دا کار دے ونکړې شی، زۀ د دوی هلاکت نۀ غواړم بلکه (کچرته دا خلك

ظالمان او ضدیان دی) زما امید دے چه الله رب العالمین به روسته د دوی نه د دوی د شاګانو نه داسے خلك (اولاد) پیدا کړی ﴿مَنْ یَّعْبُدُ اللّٰهَ وَحْدَهٗ لَایُشْرِكُ بِهٖ شَیْئًا﴾ چه هغه به یواځی د الله تعالیٰ بندګی کوی د هغه سره به هیڅ قسم شریکان نهٔ جوړوی۔

نبی علیه السلام د الله په توحید باندے مئین وو، د الله رب العزت سره ئے بی حده مینه وه، د الله رب العزت دپاره ورته دا هرڅه آسان وو۔ الله تعالیٰ د بندګانو نه پدے خوشحالیږی چه د هغه بندګی کوی، نبی علیه السلام پدے رضا کیدو چه خیر دے زما وینه دے توی شی، زهٔ دے تکلیف کی شم خو چه د الله بندګی وشی، الله تعالیٰ ټول عالَم ددے دپاره پیدا کړیدے چه د الله بندګی وشی، دغه مقصود دے، مرګ، د دنیا عزت، بادشاهی حاصلول دا مقصود نهٔ دے۔

دا د نبی علیه السلام ډومره ښکلے اخلاق پدے ځای کی راښکاره شو، ډومره رحیم پیغمبر دے چه قوم ورسره زیاتی کوی، په کانړوئے ولی او د کلی نه ئے شړی او هغه وائی چه دا قوم دے نهٔ هلاکیږی او صبر دے ورته وکړے شی معاف دے کړے شی او دا د رسول الله ﷺ اُوچت اخلاق او صبر دے،

پدے کی مونږ ته دا سبق رازده کوی چه تاسو به هم داسے صبر کوئ، اُوچت اخلاق دا نهٔ دی چه زړهٔ مو څه غواړی هغه وکړو۔

او پدے واقعے سره د نبی علیه السلام تسلی هم وشوه چه د الله د طرفه زما دومره تپوس کیږی او ملائك رالیږل کیږی او پیریانو هم ایمان راوړو نو یو قسم خوشحالی رسول الله ﷺ ته حاصله شوه، د تکلیف مقابله کی چه کله خوشحالی او تسلی راشی هغه تکلیف ئے هیر شی۔

نبی علیه السلام دلته (په قرن الثعالب، سیل کبیر کی) لس یا پنځلس ورځے تیرے کړے اراده ئے وه چه بیرته مکے ته راواپس شی او دوباره د الله د دین دعوت په ډیر کوشش او بهادرئ سره وکړی نو پدے موقعه کی ورته زید بن حارثه رضی الله عنه وفرمایل:

(کَیْفَ تَدْخُلُ عَلَیْهِمْ وَقَدْ أَخْرَجُوْكَ؟)

تهٔ به څنګه مکے ته ورشے او حال دا چه تهٔ خو قریشو راویستلے ئے؟۔

نبی علیه السلام وفرمایل: ((اے زیده! تهٔ چه کوم خیال کوے یقیناً الله تعالیٰ به ددے دپاره ضرور مَخرج (لاره) او کشادګی راولی او یقیناً الله تعالیٰ به د خپل دین مدد کوی او

خپل رسول به غالبه کوي»

او بیا رسول الله ﷺ راروان شو مکې ته نژدې درې میله فاصله په اندازه د مِنیٰ په خوا کې غار حراء ته د زید بن حارثه رضی الله عنه سره راغلو، د نبوت نه مخکې هم نبي ﷺ پدې غار حراء کې وخت تیر کړې وو۔

مکې ته نشو داخلیدې ځکه مشرکینو په اتفاق سره دا مشوره کړې وه چه محمد (ﷺ) په مکه کې نورنهٔ پریدو، د ابو طالب د مرګ نه روسته مشرکینو رسول الله ﷺ په مکه کې نهٔ پریښودو او نبي علیه السلام طائف ته د دعوت دپاره تلې وو۔

پدې کې نبي علیه السلام یوه طریقه اختیاره کړه چه د عربو د جاهلیت یو قانون وو چه هغه قانون د اسلام سره متصادم نهٔ دې، د اسلام سره مقابله نهٔ خوري بلکه د اسلام سره سمون خوري لکه یو سړي نه غلاوشي او د طاغوت پولیس ته ووائي چه زما نه چا غلا کړیده تهٔ راشه زما دپاره منده تړه ووهه نو پدې باندې انسان نهٔ ګنهګاریږي ځکه تا باندې ظلم شویدې او تهٔ د یو ظالم نه د خپل حق حاصلولو دپاره د بل ظالم نه هم مدد اخستې شې دا جائز دي، هغه وخت کې داسې خلکو ته فیصلې وروړل ناروا دي چه کله د شریعت او د قرآن او د حدیث خلاف فیصلې کیږي، د ظلم فیصلې کیږي)۔ .

نو د عربو قانون د جِوار وو یعني یو سړي ته به ئې امن او پناهي ورکوله لکه مخکې مونږ ددې په باره کې وئیلي وو چه صحابه کرامو ته به کله تکلیف سخت شو نو هغوي به هم پناهي حاصلوله۔

پدې کار کې د مشرانو فائده دا وه چه هغه به پدې فخرکولو چه ما فلانی سړي ته پناه ورکړیده دا به د هغه عزت وو نو هغه شخص ته به چا څه نشو وئیلې او ددې مظلوم فائده به پکې دا وه چه هغه به د خلکو د ظلم نه خلاص شو، د وهلو ټکولو نه به خلاص شو، د حفاظت یو ځای ته به لاړو۔

نبي علیه السلام مکې ته جواب ولیږو چه هلته أخنس بن شریق یو منافق او کافر انسان وو هغه پسې ئې جواب ولیږلو (چه دا د علاقې مشر او مخوریز سړې وو او د خُلې نه ډیر چالاکه وو) دهٔ ته ئې ووئیل چه ما ته پناه راکړه زهٔ مکې ته درداخلیږم، اخنس بن شریق جواب ولیږه چه زهٔ پناهي ځکه نشم درکولې چه زهٔ د خزاعه قبیلې نه یم، زهٔ د

قریشو حلیف یم، د قریشو د قوم نه نهٔ یم، د هغوی سره مے صرف قسم کړیدے (حِلُف یو قانون وو چه پردے سړے به راغے او دے قوم کی به ئے ځان داخل کړو او پدے باندے به ئے قسم وکړو چه زهٔ به ستاسو مدد کوم او تاسو به زما مدد کوئ هغه به بیا بل چا ته پناهی نشوه ورکولے)

نو اخنس بن شریق وویل: (اِنَّ الْحَلِیْفَ لَایُجِیْرُ عَلَی الْقَوْمِ)

حلیف د هغه قوم په خلاف چا ته پناهی نشی ورکولے۔

نو اخنس بن شریق خو د پناهی ورکولو نه پدے طریقه انکار وکړو۔

بیا نبی علیه السلام سهیل بن عمرو ته جواب ولیږه (چه دا روسته مؤمن شویدے او ډیر ښائسته مسلمان ترے جوړ شوے وو) چه ما له پناه راکړه۔

سهیل بن عمرو جواب ورولیږه چه زهٔ د بنو عامر نه یم او قریش د بنو کعب نه دی او قانون دا دے :(اِنَّ بَنِیْ عَامِرٍ لَایُجِیْرُوْنَ عَلٰی بَنِیْ کَعْبٍ)

بنو عامر د بنو کعب په خلاف پناهی نشی ورکولے۔

(**فائده** : دے خبرے ته فکر وکړه چه نبی علیه السلام حق رسول دے، د الله مدد ورسره دے، د ټولو کائناتو مالك ورسره دے او ظاهری اسباب لټوی ځکه چه د الله تعالیٰ دا عادت نهٔ دے چه معجزانه طریقے سره خپل نبی بچ کړی ځکه بیا خو به په زور باندے خلك ایمان راوړی بیا خو به امتحان نشی ددے وجه نه نبی علیه السلام هم الله امتحان کی اچوی او کافر هم اچوی او صحابه کرام هم اچوی)

نو دا دواړه ددے خیر نه محروم شو۔

بیا نبی علیه السلام د مُطعم بن عدی پسے جواب ولیږو (چه دا په قریشو کی مشر وو د خانه کعبی په صحیفه ماتولو کی ئے هم منډه وهلے وه) چه ما ته پناه راکړه زهٔ مکے ته داخلیږم؟۔ نو مطعم وویل : (نَعَمْ) آؤ، زهٔ درله پناهی درکوم،

جواب ئے ولیږو چه راځه نو نبی علیه السلام او زید بن حارثه دواړه رراوان شو نو پدے کی مطعم بن عدی اسلحه واغوسته او خپلو ځامنو او نمسو ته ئے (چه تقریباً پنځلس کسان وو) امر وکړو چه توری راواخلی نو دوی توری راواخستلے د نبی علیه السلام نه گیر چاپیره ودریدل، دا ټول مشرکان دی خو د نبی علیه السلام حفاظت ئے کولو ځکه دا د هغوی قانون دے په خپل قانون عمل کوی۔

دوی د رسول الله ﷺ په حفاظت کی ودریدل او هغه ته ئے وویل : چه راداخل شه نبی علیه السلام مکے ته ننوتو او کعبے ته ورغلو او طواف ئے وکړو او د مطعم بن عدیٔ کسان ورته د حفاظت دپاره گیر چاپیره ولاړ وو،

د ابوجهل کور کعبے ته نزدے وو نو هغه دا حالت ولیدو چه مطعم بن عدی رسول الله ﷺ پسے روسته روان دے نو ابوجهل تپوس وکړو اے مطعمه أَمُجِيرٌ أَنْتَ أَمْ مُتَابِعٌ -مُسْلِمٌ؟) ـ آیا تا محمد (رسول الله ﷺ) ته پناهی ورکړیده او که تابعداری ئے کوے (مسلمان شوے ئے؟) مطلب دا دے چه که تابعداری دے کړی وی (په اصطلاح) چه تا هم د دغهٔ دهشتگردو په لیست کی داخل کړو او که پناهی دے ورکړی وی چه په خپل قانون عمل وکړو۔

نو مطعم وویل:(لَا بَلْ مُجِيرٌ) نهٔ تابعدار نهٔ یم بلکه صرف پناهی مے ورکړیده۔

نو ابوجهل وویل: (قَدْ أَجَرْنَا مَنْ أَجَرْتَ)

مونږ هم هغه چا ته پناه ورکوو چه تا چا ته پناه ورکړه۔

مطعم بن عدی په قریشو کی آواز وکړو اے قریشو ! ما محمد (ﷺ) ته پناهی ورکړیده نو هیڅوك دے د هغه بدی نهٔ وائی۔

(مطعم بن عدی د رسول الله ﷺ تابعداری نهٔ کوله بلکه د شرك په حالت کی مړ شویدے، د عظیم خیر نه محروم شویدے، لیکن د نبی علیه السلام سره ئے دا احسان کړے وو، پدے وجه د رسول الله ﷺ دا خیر یاد وو نو کله ئے چه د بدر په میدان کی اویا مشرکان ونیول نو په دغه ځای کی رسول الله ﷺ وفرمایل :

(لَوْ كَانَ مُطْعِمُ بْنُ عَدِيٍّ حَيًّا ثُمَّ كَلَّمَنِيْ فِيْ هٰؤُلَاءِ النَّتْنٰى لَتَرَكْتُهُمْ لَهٗ)

(که مطعم بن عدی ژوندے وے بیا ئے ما سره ددے بد بویه خلکو په باره کی خبره کړے وے نو ما به د هغه دپاره پریښی وے)

ځکه چه هغه ما سره دا احسان کړے وو یو دا چه زهٔ ئے مکے ته داخل کړے یم او ماله ئے پناه راکړے وه او بل ئے د ظلم په صحیفه شکولو کی مدد کړے وو۔

نو که مطعم سفارش کړے وے ما به قبول کړے وے۔

(ددینه دا معلومیږی چه کافر درسره احسان کړے وو تهٔ ورله بدله ورکولے شے ځکه مسلمان به په اخلاقو کی د کافر نه کم نهٔ وی چه هغه درسره اخلاق چلوی او تهٔ ورسره

ظلم کوے دا هم صحیح نهٔ ده، هغه دربانده صحیح سلام اچوی، او تهٔ غلط جواب ورکوے، دا اخلاق نهٔ دی، محبت به ورسره نهٔ کوے ځکه زمونږ دشمنان دی لیکن ظاهری سلام جواب به صحیح ورکولے شی)

نو مطعم بن عدی رسول الله ﷺ ته وویل: چه اے محمده ! راداخل شه، نبی علیه السلام مکے ته راداخل شو او مسجد حرام ته راغلو او حجر اسود ئے ښکل کړو او طواف ئے شروع کړو او بیا ئے د مقام ابراهیم په خوا کی دوه رکعاته مونځ وکړو او بیا کور ته واپس شو او مطعم بن عدی او د هغه بچی ورته د وسلو سره ګیر چاپیره ولاړ وو تردے چه هغه کور ته داخل شو۔

په بعض روایاتو کی راځی: هرکله چه ابوجهل دا حالت ولیدو چه د نبی علیه السلام نه د مطعم ځامن تاؤ دی حفاظت ئے کوی نو د نبی علیه السلام پسے ئے مسخرے وکړے او وے وئیل: (لِمَ لَمْ تَنْزِلْ كَوْكَبَةٌ مِنَ الْمَلَائِكَةِ لِحِفْظِهِ؟)

ملائکو یوه ډله ددهٔ د حفاظت دپاره ولے نهٔ کوزیږی چه دا ځان ته نبی وائی نو ملائك دے ئے حفاظت وکړی، حال دا چه په پناهئ کی بندګانو ته محتاج دے۔

او بله مسخره ئے دا وکړه وے وئیل: (هٰذَا نَبِيُّكُمْ يَا بَنِيْ عَبْدِ مَنَافٍ ؟)

اے بنی عبدمناف ! دا ستاسو نبی دے ؟!) یعنی چه د بندګانو مدد ته محتاج دے۔

(الاسراء والمعراج لمحمد الغزالی ص: ٨)

پدے طریقه رسول الله ﷺ مکے ته رانږتو دے دپاره چه د اسلام او د الله تعالیٰ د پیغام په رسولو کی بیرته کوشش شروع کړی نبی علیه السلام لا پدے جهاد کی شروع وو چه پدے کی د اسراء او د معراج قصه راغله۔

د اسراء او معراج واقعه

پکښے وخت کی الله سبحانه وتعالیٰ نبی علیه السلام ته یو بل عجیب زیرے راولیږه هغه دا دے چه الله سبحانه وتعالیٰ رسول الله ﷺ د زمکے ته آسمانو نو ته بوتلو معراج ئے پرے وکړو (مقصد دا وو چه تا د الله دپاره سخته تیره کړه مشکلات دے برداشت کړل اوس داسے سفر دربانده کوم چه هیڅ بشر او هیڅ ملائك هم نهٔ دے کړے)

دا واقعه د اسراء او معراج پدے موقعه راغلے وه لکه د تاریخ د ظاهر نه معلومیږی۔

اسراء هغه سفر ته وائی چه د مسجد حرام نه مسجد اقصیٰ پورے د شپے شوے وو۔ او معراج بیا هغه سفر ته وائی چه د مسجد اقصیٰ نه شروع وو او د اُوو (۷) آسمانونو نه پورته پورے شوے وو او بیرته مسجد حرام باندے ختم شوے وو۔دا دواړه قصے الله تعالیٰ په قرآن کریم کی په سورة الاسراء او سورة النجم کی ذکر کړیدی۔

معراج او اسراء ناشنا سفر وو، زمونږ ددے امت دپاره پکی الله ډیر خیر اچولے دے چه پدے باندے ایمان راوړل او پدے باندے خوشحالی کول د مؤمن شان دے، الله رب العزت دغه عزت مونږ ته راکړو۔

دا واقعه مشهوره ده لیکن مونږه ئے د فائدی دپارہ ذکر کوو:

نبی علیه السلام په خپل کور کی وو،

په بعض روایتونو کی راځی چه د ام هانیء رضی الله عنها په کور کی وو چه دا د نبی علیه السلام د ترهٔ لور وه او د علی رضی الله عنه خور وه یوه بوډئ ښځه وه،

نبی علیه السلام به ځای بدلولو رابدلولو، نو د هغے په کور کی وو د شپے عبادت دپاره راپاڅیدو او د ام هانیء رضی الله عنها د کور نه مسجد حرام ته راغے، د شپے به رسول الله ﷺ مسجد حرام ته راتللو ځکه دا د عبادت ځای دے، مسجد حرام کی عبادت ډیر غوره دے، نفل وی او که فرض۔

نو نبی علیه السلام به د تهجدو دپاره مسجد حرام ته تللو چه تهجد ئے وکړل بیا په حطیم کی اُودهٔ شو (حطیم د خانه کعبی خوا کی یو ځای دے دیته حِجر هم وائی)

پدے کی الله سبحانه وتعالیٰ جبریل علیه السلام راولیږه نبی علیه السلام بین النوم والیقظة (یعنی د خوب او د بیداریٔ ترمینځ) وو، د پیرشانیٔ حالت کی وو چه جبریل علیه السلام راپاڅولو۔

نبی علیه السلام فرمائی: ډیر خوب هم نهٔ وو راغلے او ډیر ویښ هم نهٔ وم، زهٔ جبریل (علیه السلام) راپاڅولم او ما ته ئے وویل چه تا زهٔ په سفر باندے بوځم۔

نبی علیه السلام فرمائی: چه اول خوئے زما د سینی آپریشن وکړو (او د نبی علیه السلام د سینے دا آپریشن ډیر کرته شوے وو)

نبی علیه السلام فرمائی: زما د سینے نه واخله تر مراق البطن (د نامه نه لاندے)

حصے پورے زما خیټه په چاړه باندے څیرۍ کړه او زما په ګُلمو کی چه څه وو یعنی انسانی خوراك او انسانی صفات دا ټول ئے ترے ویستل بیخی ئے صفا کړل دے دپاره چه بره لاړ شی، بیا ئے د سرو زرو یوه کاسه راوړه چه د حکمت او ایمان نه ډکه وه۔
(حکمت او ایمان معنوی امور دی لیکن الله ورله یوه جُثه ورکړه او د هغے نه ئے کاسه ډکه کړه) او زما په سینه کی ئے راواچوله نو زما سینه د ایمان نه ډکه شوه،
ایمان ئے ورله نور هم زیات کړو، ځکه چه نبی ﷺ بل عالَم ته ځی او بل عالَم ته چه ځی د هغے دپاره خپل طاقت پکار دے لکه انسان چه د مور د خیټی نه دنیا ته راځی الله تعالیٰ ورته طاقت ورکړی څرمن ورله مضبوطه کړی بیا ئے دنیا ته راوباسی)
بیا ئے د نبی ﷺ هغه زخم وګنډلو الله سبحانه وتعالیٰ زر په جلتئ باندے ښه کړو،
انس بن مالك رضی الله عنه فرمائی چه مونږ به د رسول الله ﷺ د هغه آپریشن ځای لیدو چه د ګنډلو اثر به پرے معلومیدو۔
کله ئے چه دا حکمت او ایمان پکی واچولو نو د زمزم په اوبو باندے ئے وینځلو نو نبی علیه السلام فرمائی : یو حیوان ئے راوستلو چه هغے ته بُراق وائی (براق د بَرق نه اخستے شوید ے بَرق بریښنا ته وائی مقصد دا چه د بریښنا په شان تیز به وی)
نبی علیه السلام د هغے تشریح داسے کوی: (دُوْنَ الْبَغْلِ وَفَوْقَ الْحِمَارِ) چه دغه بُراق د قچر نه وړوکے او د خر نه لږ غټ وو، تك سپین وو دا هغه براق دے چه الله تعالیٰ نورو انبیاؤ ته هم پرے سفری ورکړیدی۔ (ابن ابی شیبه)
نبی علیه السلام فرمائی : ما ته جبریل (علیه السلام) وویل چه پدے بُراق سور شه چه زۀ کله سور شوم نو هغه براق لتے وهل شروع کړل، سوریدلو ته نۀ ودریدو۔
حدیث کی راځی چه کله جبریل علیه السلام براق ته وویل په آرام شه!
(فَوَ اللّٰهِ الَّذِیْ لَا اِلٰـهَ اِلَّا هُوَ مَا رَکِبَكَ خَیْرٌ مِنْ مُحَمَّدٍ صَلَّی اللّٰهُ علیهِ وسلَّمَ)۔
قسم په هغه ذات چه د هغه نه سویٰ لائق د بندګئ نشته په تا باندے د محمد (ﷺ) نه غوره هیڅ انسان نۀ دے سور شوے۔ (په تا باندے چه نور کوم انبیاء علیهم السلام سوارۀ شویدی هغوی د محمد رسول الله ﷺ درجے ته نشی رسیدے)۔
حدیث کی راځی چه کله دا خبره جبریل علیه السلام وکړه نو : (فَارْفَضَّ عَرَقًا) پدے خبره باندے د هغه بُراق نه خولے روانے شوے، د رسول الله ﷺ د نوم په اوریدو

سره پرېږه رعب راغې، د الله نبي ته الله تعالىٰ ډېر عزت ورکړے وو.

نبي عليه السلام فرمائي: زهٔ پدے براق سور شوم، عجيب کار دا وو چه دومره په جلتئ سره روان وو چه يو قدم به ئے دلته ايښودلو او بل قدم به ئے په هغه ځاى په کوم ځاى چه به ئے نظر لګيدو لکه د بجلي د کرنټ يا لکه د برېښنا په شان روان وو.

نبي عليه السلام فرمائي: په لږ ساعت کې ئے مونږ بيت المقدس ته ورسولو (چه د مکے مکرمے نه د بيت المقدس پورے ډېر مزل دے چه په تګ راتګ باندے تقريباً مياشت يا زيات لګيږي) نو مونږه ئے بيت المقدس ته ورسولو چه دے ته د مسجد حرام او د مسجد نبوي نه روستو الله تعالىٰ ډېر عزت ورکړيدے.

هلته ئے ولے بوتللو ؟ پدے واقعه د اسراء کې ډېر اشارات او فائدے او حکمتونه دي يو خو پدے کې د نبي عليه السلام يوه معجزه ښکاره کول وو،

بل نبي عليه السلام ته عزت ورکول، د هغه زړه ته يقين ورکول او خوشحالي ورکول وو نو ورسره دے ته اشاره ده چه دا بادشاهي د رسول الله ﷺ به د مکے نه خوريږي او په شام به واقع کيږي لکه پخوانو کتابونو کې الله تعالىٰ ليکلي وو :

(وَمُلْكُهُ بِالشَّامِ)

د نبي عليه السلام بادشاهي به په شام باندے وي، يعني دا علاقے به هم ورته الله تعالىٰ فتح کوي او اشاره وه ديته چه يهوديان خو اُوس دلته اوسيږي ليکن الله تعالىٰ به دا يهود ددے علاقے نه اُوباسي او دا به د مسلمانانو لاس ته راشي لکه د سيدنا عمر بن الخطاب رضي الله عنه په زمانه کې داسے وشو.

او اشاره وه چه بيت الله هم مقدسه او عزتمنه زمکه ده او بيت المقدس هم مقدسه زمکه او د عزت والا کور دے، بيت المقدس د مسلمانانو اولنئ قبله وه،

د مسلمانانو درے جماتونو ته الله تعالىٰ يو زياتي فضيلت او خصوصيت ورکړيدے، مسجد حرام، مسجد نبوي او مسجد اقصىٰ يعني بيت المقدس او باقي نور ټول جماتونه په فضيلت کې يو برابر دي.

بيت المقدس ته الله تعالىٰ نبي عليه السلام بوتللو او هغه براق ئے په يو کمر پورے وتړلو چه نورو انبياؤ عليهم السلام به هم هغے پورے اسونه تړل، جبريل عليه السلام او نبي عليه السلام په يوه سورلئ هلته لاړل.

او په دے کی د حدیثونو نه معلومیږی چه هلته الله تعالیٰ انبیاء راجمع کړی وو چه یو لاکهـ څلیریشت زره زیات یا کم ټول انبیاء ئے راجمع کړی وو، دا ناشنا خبره ده،

د معراج واقعـه هم د ایمان بالغیب سره تعلق لری لکه ددینه اُوس روسته معلومیږی، انبیاء علیهم السلام ئے پس د مرګ نه راژوندی کړی دی او دا برزخی امور دی چه پدے باندے څوك نهٔ پوهیږی، بیت المقدس کی به ډیر خلك وو خو پدے باندے نهٔ دی پوهه شوی، دا واقعه چا نهٔ ده لیدلے صرف نبی علیه السلام لیدله او دا ډیره ناشنا اجتماع وه یو لاکهـ څلیریشت زره زیات یا کم پیغمبران یو ځای ته راغونډ شویدی دا په یو ځای باندے چرته هم په مخ د زمکه ندی راجمع شوی په غیر د بیت المقدس نه چه پدے یوه ورځ الله پاك ټول راجمع کړل،

ددے وجه نه ناشنا خبره ده چه داسے مونځ چرته په زندګئ کی ندے کړے شوے او داسے اجتماع چرته د آدم علیه السلام د زمانے نه تر قیامته پورے نهٔ ده جوړه شوے، هغه دا اجتماع ده چه صرف د انبیاؤ نه جوړه شویده او عام خلك پکی نشته او ټول په یو مانځه کی شریك ولاړ دی دا ډیره خوږه او مزیداره اجتماع وه، هغه بندګان چه الله تعالیٰ غوره کړیدی هغه ئے نبی علیه السلام ته راجمع کړیدی پدے کی سیدنا آدم علیه السلام، سیدنا نوح علیه السلام سیدنا ابراهیم او سیدنا موسیٰ او سیدنا عیسیٰ علیهم السلام موجود دی۔

نو پدے کی رسول الله ﷺ ته امر وشو چه تهٔ مخکی شه او جَمعه ورکړه، نبی علیه السلام فرمائی: زهٔ ئے مخکی کړم دوه رکعاته مونځ مے ورته وکړو، ظاهر دا ده چه دا نفل مونځ دے، ددے نه معلومیږی چه دا نبی امام الانبیاء دے اګرکه د ټولو نه روستو راغلے دے لیکن الله تعالیٰ دومره عزت ورکړیدے چه ټولو انبیاؤ ته امامت ورکوی او انبیاء ئے ورله مقتدیان کړیدی، د هغوی عزت په خپل ځای باندے دے،

د قیامت په ورځ باندے به اول خبرے محمد رسول الله (ﷺ) کوی او شفاعت به هم کوی او ټول پیغمبران به ددهٔ د جنډے لاندے وی، نبی علیه السلام فرمائی :

(آدَمُ فَمَنْ دُوْنَهٗ تَحْتَ لِوَائِیْ) (ترمذی : ٣٦١٥)

آدم علیه السلام او د هغه نه روستو ټول انبیاء به زما د جنډے د لاندے وی،

پدے کی رسول الله ﷺ دوه رکعاته مونځ وکړو۔

پدے وخت کی بعض باطل پرست وائی چه دغه پیغمبرانو فاتحه خلف الامام وئیلے وه او کـه نـهٔ ؟ دا خبـره یـو ظالم لیکلے ده۔ مونږ الزاماً جواب کوو چه سبحانك اللهم او التـحیات ئے وئیـلے وه، که نهٔ ؟۔ نو دوی چه کوم جواب ورکوی هغه به زمونږ جواب هم وی۔

باقی ددے مسئلے د تفصیل مقام جدا دے، دے خبرو ته ضرورت نشته،

دوه رکـعاته مونځ ئے کړیدے خنګه چه د الله خوښه وه، نبی علیه السلام ته الله تعالیٰ د وحی په ذریعـه وربښودلی وو چه څنګه ئے کړے وو هغسے به ئے کړے وو په هغے کی زمـونږ کـار نشته، نبی علیه السلام چه کوم حکمونه کړیدی په هغے عمل پکار دے، بـعض خلکو دا کوشش کړیدے چه صحیح دین وران کړی او د رسول الله ﷺ نه خلك واوړوی او د یـو عـالِم پسے روان شی، غټ بد بخته خلك زمونږ پدے امت کی موجود دی۔

نبی علیه السلام چه دوه رکعاته وکړل نو بیا الله رب العزت په نبی کریم ﷺ باندے امتحان وکړو،

د صحیحینو په حدیث کی راځی چه دوه لوښی ئے راوړل او په یو بل حدیث کی دی چه درے لوښی ئے راوړل۔ (بخاری : ۳۸۸۷ باب المعراج)

ظـاهـر دا ده چه درے لوښی ئے راوړل امتحان دے په یو لوښی کی شراب پراته دی، په بل لوښی کی عسل (شهد) او په بل لوښی کی پئ دی۔

نبی عـلیـه السـلام تـه ئے وویـل چه په دے کی یو واخله، او استعمال ئے کړه، د نبی علیه السلام په زړه کی الله تعالیٰ واچول نو پئ ئے راواخستل۔

جبریـل عـلیـه السـلام ورتـه وفـرمـایـل چه ښه کار دے وکړو چه پئ دی راواخستل (هُدِيتَ اِلَى الْفِطْرَةِ) تـا تـه هـدایت وکړے شو فطرت طرفته، زړه او فطرت دے برابر دے چه تهٔ پدے فطرت روان ئے ستا امت به هم پدے فطرت روان وی،

(أَمَا اِنَّكَ لَوْ أَخَذْتَ الْخَمْرَ غَوَتْ أُمَّتُكَ)

کهٔ تا چرته شراب راخستی وے نو امت به دے ګمراه کیدلو)، داسے ئے ورته ونهٔ ویل چه تـهٔ ګـمـراه کیـدلے څـکـه یـو خوئے د نبی علیه السلام ادب کولو او بل دا چه شراب په هغه وخت کی حلال وو او نبی علیه السلام د نبوت نه مخکی زمانه کی هم شراب نهٔ

وو ځـکـلـي او نـۀ ئې ورته زړۀ شو ې دے او نۀ ورته مائله شويدے ځکه شراب خبيث شے دے اګرکه دغه وخت کې حرام نۀ وو نو نبي عليه السلام شراب راوانخستل، شهد هم ښه شے دے شفاء پکې ده ليکن په پيو کې فائده ډيره ده، نبي عليه السلام هغه وڅکل پدے کې اشاره وه چه نبي عليه السلام په فطرت روان دے او امت هم په فطرت دے ددے وجه نه پدے امت کې د پخوانو امتونو په نسبت توحيد او ايمان والا خلك ډير دي، دا امتحان پرے وشو او رسول الله ﷺ پکې کامياب شو،

تر دے ځاى پورے کارونو ته اسراء وائي چه الله تعالىٰ په قرآن کريم کې پدے آيتونو کې ذکر کړيده، الله فرمائي:

﴿ سُبْحَانَ الَّذِىٓ اَسْرٰى بِعَبْدِهٖ لَيْلًا مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اِلَى الْمَسْجِدِ الْاَقْصَى الَّذِىْ بٰـرَكْنَا حَوْلَهٗ لِنُرِيَهٗ مِنْ اٰيٰتِنَا اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ۝ ﴾.

حاصل ترجمه: پاکې ده هغه ذات له چه خپل بنده محمد رسول الله (ﷺ) ئې د شپے په څه حصه کې د مسجد حرام نه مسجد اقصى ته بوتللو هغے زمکے ته چه الله پکې برکات اچولي دي، څه دپاره ئې بوتللو ددے ډير حکمتونه دي يو دا چه دے نبي ته مونږ د خپل قدرت او د عظمت او د خپل کمال نښې وروښايو دا ولے؟ ددے دپاره چه يقين ئې مضبوط شي)،

قانون دا دے چه انبياء عليهم السلام ته الله تعالىٰ ډير اُوچت يقين او ايمان ورکوى ددے دپاره چه دا په امت باندے ډير اثر وکړي، کله چه خپل يقين مضبوط نۀ وي په بل به اثر څه وکړي. الله تعالىٰ نبي عليه السلام ته ډير اوچت يقين ورکړو، په سترګو باندے ئې ورته دا خبرې ښکاره کړے ددے وجه نه څوارلس سوه کاله وشو او حال دا چه د هغه حديثونه اوس هم په مؤمنانو باندے اثر کوي او د قيامته پورے به دا اثر وي د الله په فضل سره ان شاء الله تعالىٰ، دا د هغه د يقين د وجه نه ځکه چه هغه دا خبرے د يقين نه راويستلي دي.

بيا د دغه ځاى نه جبريل ؑ نبي کريم ؑ لره روان کړو، په کومه طريقه ئې بوتللو؟ نو په احاديثو کې راغلي دي چه د لاس نه ئې زۀ ونيولم بيا اخوا پته نۀ لګي چه په څه باندے کينولے وو او د لاس نه ئې نيولے وو او که همداسے ئې نيولے روان کړے وو ددے تشريح په احاديثو کې نۀ ده راغلے او د بنده ذهن هم هغے ته نۀ رسيږي،

نبی علیه السلام جبریل علیه السلام ځان سره واخستو او بره آسمانو نو ته ئے په لږ ساعت کی ورسولو لکه د بجلئ کرنټ په شان چه دلته بټن ووهی د دنیا په هغه سر کی به بجلی ولګیږی دا د هغې مثال دے، داسے زرئے وخیژولو حال دا دے چه دا ډیرے مزلی دی د آسمان پورے د سوونو کالو مزل دے لیکن الله ته هیڅ شی ګران نۀ دے دا د تعجب خبره نۀ ده چه هغه د یو کار اراده وکړه بیا تعجب نۀ وی،

نبی علیه السلام آسمان ته وختلو، آسمان د دنیا د بادشا هئ په شان نۀ دے چه هرڅوك به ورننوزی او څه تپوس به نۀ وی، بلکه د پابندئ بادشا هی ده۔

نو جبریل علیه السلام چه د ملائکو مشر دے هغه اجازه طلب کړه ورئے ټك ټك کړو ځکه آسمان کی الله تعالیٰ دروازی پیدا کړیدی او په هغې باندے ملائك ولاړ دی، نۀ شیطانان ورتللے شی، نۀ څوك بے اجازته ورتللے شی او نۀ ترے څوك بنکته راتللے شی، هر شے په اجازه باندے دے نو دروازه ئے ووهله، تپوس ئے وکړو چه څوك دے ؟ نو هغه وویل جبریل۔

(معلومه شوه چه خپل نوم به اخلی داسے به نۀ وائی چه زۀ یم، دا لفظ استعمالول غلط دی، زۀ یم خو هر سړے دے، نبی علیه السلام به دا بده ګڼله چه ووائی زۀ یم، خپل نوم واخله، بعضو خلکو ته خپل نوم اخستل بد بنکاری، دا بے ادبی ګڼړی)۔

نو د جبریل نه تپوس وشو چه څوك درسره شته ؟ هغه وویل: آؤ شته، د دروازے څوکیدار ملائك تپوس وکړو چه څوك دے ؟ جبریل وویل : محمد رسول الله (ﷺ) دے۔ هغه تپوس وکړو : (ءَ اُرسِلَ اِلَیهِ ؟) آیا تۀ الله هغه پسے لیږلے ئے ؟

(یعنی په خپله طبع دے راوستے دے او که د الله په حکم سره ؟ که په خپله طبع وی نو مونږ اجازه نۀ درکوو او که د الله حکم وی بیا صحیح ده لکه پدے روایت کی ظاهر مطلب هم دا دے)۔

په حدیث کی راځی: دروازه کولاوه شوه مونږه اول آسمان ته دننه ورننوتلو، الله رب العالمین آسمانونو ته یو څو انبیاء علیهم السلام راوستلی وو، په اول آسمان کی مونږ ولیدل چه یو غنم رنګے سړے دے چه ډیر اوږد دے چه شپیته ګزه اوګد وو په شرعی ګز، (شرعی ګز د ګوتو د سرونو نه تر څنګلے پورے وی)

ددے سړی ښی طرف ته واړه ماشومان بچی دی او ګس طرف ته ئے هم ماشومان دی

نو نبی علیه السلام فرمائی: ما د جبریل علیه السلام نه تپوس وکړو چه دا څوك دے ؟ ما ته ئے ووېل : (هٰذَا أَبُوكَ آدَمُ) دا خو ستا پلار آدم علیه السلام دے۔ ورشه سلام پرے واچوه نبی علیه السلام فرمائی: زهٔ ورغلم سلام مے پرے واچولو، نبی علیه السلام ورته ووېل: السلام علیکم ورحمة الله نو هغه جواب ورکړو :

(وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ مَرْحَبًا بِالْإِبْنِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ)

مرحبا دی وی نیك څوی او نیك نبی ته۔ بیا ما تپوس وکړو چه دا خواکی ماشومان څوك دی؟ هغه ووېل: ددهٔ د بچو ارواح دی، الله سبحانه وتعالیٰ راجمع کړېدی، (دائے هم یو ناشنا خبره نبی علیه السلام ته خودلے ده لکه بطور مثال چه یو سړے ویډیو ته ګوری)۔

پدے کی آدم علیه السلام چه ښی طرفته وګوری وخاندی او چه ګس طرفته وګوری وژاړی۔

جبریل علیه السلام ورته ووېل: دائے بچی دی، ښی طرف والا جنتیان دی او ګس طرف والا اُور والا دی چه ښی طرفته وګوری خوشحاله شی چه دا بچی به مے جنت ته ځی او چه ګس طرف ته وګوری نو په ژړا شی چه دا اُور والا دی جهنم ته روان دی او پدے خفه کیږی چه اُور ته روان دی اګرکه کافر یا مجرمان دی ځکه پلار په خپلو بچو درمند کیږی، آدم علیه السلام په خپلو نیکانو بچو باندے خوشحاله دے او په خپلو بدانو بچو ژاړی۔

نبی علیه السلام فرمائی: چه دلته ما یو څو عجیب احوال نور ولیدل یو حالت مے دا ولیده چه په دغه ځای کی د وینو زوو نهر دے پدے کی دننه څه کسان لامبو وهی او ډیر هیبتناك حالت کی دی، (نهر کی سړے وی نهرئے وړی او بیا د وینو زوو بدبویه نهر وی نو څومره به سړے پریشانه وی)،

هغوی چه کله غاړے ته راوځی ملائك ورته بهر ولاړ دے د اُور کاڼړے ورسره دے په خُله باندے ئے وولی بیرته ئے هغه نهر ته واپس کړی بیا چه راوځی نو بیائے په دغه طریقه باندے ولی نو ما تپوس وکړو دا څه دی ؟ نو ما ته ووېل شو چه :

(هٰؤُلَاءِ أَكَلَةُ أَمْوَالِ الْيَتَامٰى)

دا خلك د یتیمانانو مالونه خوړونکی دی۔ نو څوك چه د یتیمانانو مالونه خوری په

برزخ کې به د دوی دا قسم عذاب وی چه کله د قیامت ورځ راشی بیا به ورسره الله تعالیٰ خپل حساب کوی نو نبی علیه السلام فرمائی:

یوه بله ډله مې ولیدله چه ډیر غټ کسان دی د کوټو په شان او خیټې ئې دومره غټې شوی دی لکه د کوټې په اندازه او دننه پدې خیټو کې ئې ماران اوړی راوړی او ښکاری نو دا حال چه ما ولیده تعجب مې وکړو او بل دا دې چه د فرعونیانو چه کوم عذاب دې چه سهار ماښام اُورته پیش کولې شي. ﴿اَلنَّارُ یُعْرَضُوْنَ عَلَیْهَا غُدُوًّا وَّعَشِیًّا﴾

دا فرعونیان راروان دی او ددې غټ خیټو کسانو دپاسه خپې اړدی او په هغوی باندې ورتیریږی او اُورته ځی او چه بیرته راځی هم په دوی باندې دپاسه تیریږی او دوی په داسې بد حالت کې دی چه دا خیټې ئې پړسیدلې دی او ماران پکې اوړی راوړی ما تعجب وکړو نو جبریل علیه السلام راته وویل:

(هٰؤُلَاءِ اٰکَلَةُ الرِّبَا) دا ستا د امت سود خوارهٔ دی، سودونه خوری (د دوی به په برزخ کې دا حال وی چه خیټه کې الله ورله ماران پیدا کړی دی دا عذاب واقعی دې چه الله به دا عذاب ورکوی یو انسان دې پدې باندې لږ سوچ وکړی چه قبر کې سرې پروت وی او یولس ماران په دهٔ باندې شروع وی څه ئې په ژبه نښتی وی څه په سترګو څه په خیټه دا به څومره هیبتی حالت وی، همیشه دپاره به په دې کې پروت وی، کال هم نهٔ دوه هم نهٔ شل هم نهٔ آن تر قیامته پورې. دا ټوله دنیا وما فیها دې ستا شي خو په دغه کې یوه ورځ هم نشي تیرولې)

دریمه طبقه: بل مې دا ولیدل چه څه کسان دی د هغوی مخې ته طعام پروت دې او یو طرفته ډیر مزیدار لذیذ او خوندور او خوشبویه طعام دې او بل طرفته ګنده او بد بویه طعام پروت دې، دوی رامنده وهی دغه پاك طعام پریدی او دغه ګنده خوری او ددې خُلې نه ئې بدبوئی روانه ده نو ما تعجب وکړو چه دا څه دی؟ جبریل ما ته وویل: دا کسان زناکار دی دا هغه خلك دی چه الله پاك ورله حلاله ښځه ورکړې ده او ورکوی ئې او دې د هغوی خوا ته نهٔ ورځی، د هغې طلب نهٔ کوی او زناګانو پسې ګرځی دا د دوی حال دې چه لذیذ طعام ورته ملاویږی او هغې نه ځان ساتی او حرامو پسې ګرځی نو دغسې عذاب به الله تعالیٰ ورکوی.

څلورم مې بله طبقه د زنانهٔ ولیدله چه د سینو نه زوړندې وی او داسې تالئ ورله

ورکولے شي. ما تعجب وکړو چه دا څه حال دے؟ ما ته ووېل شو چه دا هغه زنانه دي چه په خپلو خاوندانو باندې ئے پردي بچي راداخل کړي دي؛ ددے معنیٰ دا ده چه پردي بچي دي او دوي ئے نسبت ځان ته کړيدے چه دا زما نه پيدا دي لکه بعضِ خلکو به دا کار کولو چه يو ماشوم به د زِنا نه پيدا وو هغے به راواخستو او خپل بچے به ئے وګرځولو او دا ډير غلط کار دے چه پردے بچے خپل بچے وګرځوي نو يو خو به ميراث وړي بل ستر او پرده به تري نۀ کوي، دا نقصان پکې دے، قرآن کريم کې په يو آيت کريمه کې ددينه منع هم راغلے ده: ﴿وَلَا يَأْتِينَ بِبُهْتَانٍ يَفْتَرِينَهُ بَيْنَ أَيْدِيهِنَّ وَأَرْجُلِهِنَّ﴾

دے آيت کې يو تفسير دا دے چه پردي بچي نه به خپل بچي نۀ جوړوي لکه څنګه چه يوه زنانه زنا وکړي بچي د بل چا نه پيدا وي او دا ئے راواخلي او وائي چه زما ددے خاوند نه پيدا دے.

پدے حديث او آيت کې دا خلك هم داخل دي چه په زنا سره د يوے زنانه نه بچے پيدا شو او نسبت ئے خاوند ته کوي نو دا ډيره غټه مجرمه ده د الله په نيز. نو دا کار به د هغه سره کيدلے شي.

نبي عليه السلام فرمائي: الله تعالىٰ ته پدے اول آسمان کې دا احوال راوښودل.

ددينه روسته بيا زه د جبريل عليه السلام سره دويم آسمان ته روان شوم وختلو هلته هم ورتك تك کړے شو ملائکو تپوس وکړو چه څوك ئے؟ هغه ووېل: جبريل يم، تا سره څوك شته؟

هغه ووېل: آؤ، ملائك ووېل څوك دے؟ جبريل ووېل: محمد رسول الله (ﷺ) دے، هغه ملائك ووېل: (وَهَلْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ؟)

آيا ته هغه ته ليږلے شوے ئے كه په خپله طبعه دے راوستے دے؟

جبريل ووېل: زۀ ورپسے ليږلے شوے يم، دروازه ئے کولاوه کړه او دا ئے ووېل چه په تا باندے ما ته امر کړے شويدے چه زۀ به دروازه کولاووم، محمد رسول الله (ﷺ) دننه ورغلو هلته دويم آسمان کې د دوه نورو پيغمبرانو سره ملاقات وشو يو عيسىٰ عليه السلام دے بل يحيىٰ عليه السلام چه دا دواړه خپل مينځ کې ترورزيان وو (د خالے ځامن وو) او ځوانان پيغمبران وو، عيسىٰ عليه السلام په خپل شکل باندے ژوندے وو او يحيىٰ عليه السلام وفات دے ليکن هغه ځاى نه الله راژوندے کړيدے او دلته ئے راوستلے دے د يحيىٰ عليه السلام برزخي

زندگی ده او د عیسیٰ علیه السلام حقیقی زندگی ده.

نبی علیه السلام د عیسیٰ علیه السلام شکل بیانوی فرمائی : چه ما ولیدو چه درمیانه سړے وو او آیښته د هغه اوږده وو، کوړئ کوړئ وو او رنګ ئے سور والی ته مائل وو چه سر به ئے ښکته کړو د ویښتو نه به ئے داسے خوله روانه وه ګویا که اوس د حمام نه راوتلے دے چه په تولیه باندے سر وچ نۀ کړی، اُوبه ترے روانی دی، ښائسته با وقاره سړے دے، ما ته ووېل شو چه دا دواړه پیغمبران دی سلام پرے واچوه، ما پرے سلام واچولو دواړو جواب راکړو نو دائے ووېل : (مَرْحَبًا بِالْأَخِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ)

مرحبا دے وی په نیك ورور او نیك عمله نبی باندے، سترګی مشی ئے وکړه د هغے نه روسته دریم آسمان ته وختلو هلته د یوسف علیه السلام سره ملاقات وشو په همدغه طریقه،

نبی علیه السلام فرمائی : ما یوسف علیه السلام ولیدو : فَإِذَا هُوَ قَدْ أُعْطِيَ شَطْرَ الْحُسْنِ) چه هغه ته د دنیا نیمائی ښائست ورکړے شوے وو لکه ښائست چه دوه حصے تقسیم شویدے نیم یوسف علیه السلام ته ورکړے شویدے او نیم باقی نورو انسانانو ته، الله رب العزت ورله دومره جمال او ښائست ورکړے وو یو خو پکی معنوی جمال هم وو ځکه نبی دے، الله ورله حکمت ورکړے دے او ظاهری شکل هم ورله الله ښائسته ورکړے وو، دومره ښکلی سړے چه څوك وینی دهشت او یره پرے راځی او په ځان نۀ پوهیږی قرآن کریم ځکه دا تعبیر کړیدے چه یوسف علیه السلام هغه زنانو ولیده نو لاسونو کی ئے چه کومے چړے وے په هغے باندے ئے لاسونه پریکړل او (قَطَّعْنَ) ئے مشدد صیغه راوړه (وَقَطَعْنَ) ئے په تخفیف سره ونۀ ویل چه یو ځل ئے لاس زخمی کړو بلکه معنیٰ ئے ده بار بار ئے لاسونه پریکړل او په ځان باندے نۀ پوهیدلے، کله کله په انسان باندے دا کار کیږی چه ډیر اُنس کی لاړ شی په ځان باندے نۀ پوهیږی، لکه یو صحابی په غشی ولګیده او په ځان نۀ پوهیده همداسے په مانځه ولاړ وو، خو زمونږ حس خراب شویدے پدے باندے مونږ نۀ پوهیږو.

بیا څلورم آسمان ته لاړو هلته د بل نبی ادریس علیه السلام سره ملاقات وشو بیا پنځم آسمان ته وختلو هلته د هارون علیه السلام سره ملاقات وشو شپږم آسمان ته چه وختلو هلته د موسیٰ علیه السلام سره ملاقات وشو او اوم آسمان ته چه وختلو

هلته د ابراهيم عليه السلام سره ملاقات وشو، تولو باندے به ئے سلام اچولو او هغوی به ورته مرحبا وئيله او ددهٔ د نبوت اقرار به ئے كولو۔

علماء فرمائی : د نبی عليه السلام ملاقات د پيغمبرانو سره ددے حروفو مطابق وشو : (أَعْيَاهُمَا)۔ يعنى آدم، عيسىٰ او يحيى دواړه، يوسف، ادريس، هارون، موسىٰ او ابراهيم عليهم السلام۔

نبی عليه السلام فرمائی: موسىٰ عليه السلام پداسے شكل وو چه غنم رنګے، اُوږد او نرے سړے وو چه غوښه د هغه ډيره نهٔ وه داسے وو لكه په شونډه باندے چه چلك لګولے وی، غصه شانته حالت كی وو، موسىٰ عليه السلام غصه ناك پيغمبر وو، ايښته د موسىٰ عليه السلام كوړئ كوړئ وو لكه د حبشو په شان، لكه ګويا كه دا د شَنُوءَ ه قبيلے د سړو په شان دے۔

نبی عليه السلام فرمائی : زهٔ چه كله د شپږم آسمان نه اُوم آسمان ته روان شوم او د هغه نه تير شوم نو موسىٰ عليه السلام وژړل، ورته وويل شو: ولے ژاړے؟ هغه وويل:
(أَبْكِىْ لِأَنَّ غُلَامًا بُعِثَ بَعْدِىْ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِهٖ أَكْثَرُ مِمَّنْ يَدْخُلُهَا مِنْ أُمَّتِىْ)

پدے وجه ژاړم چه يو هلك دے زما نه روستو نبی شويدے او د هغه د امت نه به زما د امت په نسبت ډير خلك جنت ته داخليږی۔

(نبی عليه السلام ته ئے غلام (يعنى هلك) وويلو حال دا چه نبی عليه السلام پدے وخت كی پنځه څلويښت يا پنځوس كالو ته رسيدلے وو وجه دا ده چه د عربو عادت دا دے چه دومره عمر والا انسان ته هم غلام وائی)

(د موسىٰ عليه السلام ددے امت سره څه ضد نهٔ وو بلكه په خپل امت باندے ئے شفقت راغلے وو ارمان دے چه زما امت هم جنت ته ډير داخل شی مګر ددے وجه دا ده چه دے امت كی خير زيات دے او په بنی اسرائيلو كی خير كم وو،

نو نبی عليه السلام فرمائی : زهٔ د هغه نه بره وختلم اوم آسمان ته هلته د ابراهيم عليه السلام سره ملاقات وشو، ابراهيم عليه السلام : أَشْبَهُ النَّاسِ بِصَاحِبِكُمْ۔
هغه په شكل كی زما په شان وو،

(ابراهيم عليه السلام هم اوږد وو د آدم عليه السلام په شان او په يو روايت كی دی : (شَيْخٌ جَلِيْلٌ مَهِيْبٌ) يو بوډا لوی شان او هيبت والا انسان وو) ما په هغه باندے سلام

واچولو، هغه جواب راکړو،

نبي علیه السلام فرمائي: ما د معراج په شپه ابراهیم علیه السلام ولیدو چه نو ما ته ئې ووېل: اے محمد! زما ستا امت ته سلام ووایه او دا خبر ورته ورکړه چه جنت مزیداره او پاکے خاورے والا دے او خوږو اُوبو والا دے او دا یو شاړ میدان دے او ددے بوټي (او کرونده) : (سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ) وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ) کلمات دي۔ (صحیح الجامع (۱۲۱۳) و(۳٤٦۰) والترمذی (۳٤٦۲)

بیا زهٔ جبریل علیه السلام د اوم آسمان نه پورته سدرة المنتهیٰ ته بوتللم،

(سِدره د بېرے ونې ته وائي منتهیٰ ورته پدے وجه وائي چه د مخلوق انتهاء او اختتام دغه ځای پورے کیدلے شي اخوا هیڅ مخلوق نشي تللے، ملائك او جبریل علیهم السلام هم د دغه ونې نه اخوا نشي تللے (لَایُجَاوِزُهَا عِلْمُ عَالِمٍ)

د هیچا علم د هغې نه بره نهٔ ورتیرېږي)۔ او د بندګانو عملونه دغه ځای ته ورخیژي او د الله رب العالمین د طرفه د عرش نه بره چه کوم حکمونه نازلیږي نو ملائك ئې د دغه ځای نه اخلي او په آسمانونو او زمکه کې نافذ کیږي او دا یو خپل حد او ممنوعه علاقه ده چه اخوا انسانان، پیریان او ملائك نشي تللے۔

د بېرۍ په ونه کې الله ډیر برکات اچولي دي، قرآن کریم کې ئې هم الله صفت کړیدے چه جنت کې به دا ونې وي او طبي لحاظ سره په بېره کې ډیرے فائدے دي په شانو کې د بېرۍ شات غوره دي ځکه پدے ونه کې الله ډیر کمال اچولے دے۔

پدے ځای کې الله تعالیٰ خپل نبي ته خپل قدرتونه وښودل،

نبي علیه السلام فرمائي چه د دغه بېرۍ داني ما ولیدلے نو د هَجَر علاقے د منګو په مقدار ئې یوه یوه دانه وه او پاڼړۍ ئې دومره غټے وې (کَـآذَانِ الْفِيْلَةِ) لکه د هاتیانو د غوږونو په مقدار باندے وے۔ پدے کې الله سبحانه وتعالیٰ پدے ونه باندے د چمك او ډول رنګونه راواچول۔

نبي علیه السلام فرمائي: (فَغَشِيَهَا اَلْوَانٌ مَا اَدْرِيْ مَا هِيَ؟)

(په هغه ونه باندے څه رنګونه الله راواچول لکه د سروزرو او سپینو زرو رنګونه چه زهٔ نهٔ پوهیدم چه څه وو، لکه د فَرَاشُ الذَّهب (د سرو زرو پتنګانو) په شان وو،

نبي علیه السلام فرمائي: کله چه ما دا حالت ولیدو نو زما رنګ بدل شو، نبي علیه

السلام د ټول مخلوق نه ډیر فصیح او بلیغ وو او خبرو او تعبیر ورته ډیر آسان وو لیکن نبي علیه السلام فرمائي چه زۀ هم دا طاقت نۀ لرم چه د هغې حسن او جمال بیان کړم دومره ډول په کې الله اچولے وو، پدې کې حکمت دا وو چه الله خپل نبي ته د خپل قدرت ناشنا نښې ورونبائي۔

نبي علیه السلام فرمائي: (مَرَرْتُ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِيْ بِالْمَلَإِ الْأَعْلٰى وَجِبْرِيْلُ كَالْحِلْسِ الْبَالِيْ مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ) (مجمع الزوائد ۱/۷۸ وسنده صحيح)

زۀ پدې شپه کې د ملائکو په مجلس راتیر شوم نو ما جبریل ولیدو چه د الله تعالیٰ د ېرې د وجه نه داسې وړوکے شوے وو لکه بزکے چه زوړ شوے وي او یو ګوټ ته پروت وي، د الله تعالیٰ عظمت او د هغه خشیت پرے داسے نازل شوے وو، دومره لوی مخلوق هم الله تعالیٰ ته دومره عاجزي کوي۔ پدې وخت کې جبریل علیه السلام نبي علیه السلام ته خپل اصلي شکل ښودلے وو لکه قرآن کریم کې راغلي دي۔

(رسول الله ﷺ جبریل علیه السلام په خپل اصلي شکل سره دوه ځل لیدلے دے په عامو اوقاتو کې به رسول الله ﷺ د انسان په شکل سره لیدو،

نبي علیه السلام فرمائي: ما ولیدۀ: (لَهٗ سِتُّ مِائَةِ جَنَاحٍ قَدْ سَدَّ الْأُفُقَ)

چه د هغه شپږ سوه وزرے وے او د آسمان کنارے ئے پټے کړے وے چه بعض وزرے ئے په مشرق کې لګیدلے او بعض په مغرب کې، نبي علیه السلام چه کله مکه کې وو نو پدے شکل ئے لیدلے وو، او الله فرمائي:

﴿وَلَقَدْ رَاٰهُ نَزْلَةً اُخْرٰى عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰى﴾

د سدرة المنتهیٰ د ونې په خوا کې چه کومه بادشاهي ده په دغه ځای کې نبي علیه السلام جبریل علیه السلام په خپل شکل باندے دویم ځلي ولیدو، د هغه حسن او د هغه ښني وزرے او د هغه ښائست او غتوالے ئے ولیدۀ، نبي علیه السلام فرمائي:

(عَلَيْهِ سِتُّمِائَةِ جَنَاحٍ يَنْتَثِرُ مِنْ رِيْشِهِ التَّهَاوِيْلُ : الدُّرُّ وَالْيَاقُوْتُ)

(ابو نعیم و البیهقی و الخصائص للسیوطی ۱/۴۰۸) الإسراء للالبانی : (۹۹) و سنده حسن،

د هغه شپږ سوه وزرے وے چه د هغې د بڼرکو نه ملغلرے او یاقوت دوېدل۔

او په روایت د احمد (۱/۴۰۷) کې ورسره دا ذکر دي: چه د هر وزر نه بل وزر پورے د مشرق نه تر مغرب پورے فاصله وه۔ (وسنده حسن)۔

په بل روایت کې دي چه نبي علیه السلام جبریل لره ولیدو چه د وریښمو جوړه ئې اغوستې وه او د آسمان نه تر زمکې پورې فاصله ئې ډکه کړې وه۔

(احمد (٣٩٤و٤١٨) والترمذی٣٢٨٣) بسند صحیح۔

دا ددې لپاره چه دا واسطه ده وحي وړي راوړي چه تعارف ئې ورسره وشي چه دا څوك ونۀ وائي چه جبریل به ئې نۀ وي لیدلې او چا به دوکه کړې وي نو نبي علیه السلام خپل استاذ لیدلې وو او د هغه خبرې ئې پیژندلې، نو رسول الله ﷺ دا ناشنا ننبه ولیده چه عالَمي او ډیره لویه ونه او په هغې باندې چه الله سبحانه وتعالیٰ کوم حسن او کمالات راښکاره کړل دا ئې هم ولیدل د جبریل علیه السلام عاجزي ئې هم ولیدله۔

بیا الله رب العالمین په خپل قدرت سره بره وخیژولو او جبریل علیه السلام لاندې پاتې شو ځکه چه هغه ته الله تعالیٰ اخوا نوره اجازه نۀ وه ورکړې،

(دا زمونږ د خوږ نبي کریم ﷺ عزت وو چه په ملائکو باندې هم غوره دې، ملائك الله تعالیٰ دغه ځای ته نۀ دي رسولي او رسول الله ﷺ ئې هغه ځای ته پورته کړو، نبي علیه السلام فرمائي: بیا ما صَرِيفُ الاقلام (د قلمونو د لیکلو کشارې) واوریده چه ملائك لیکل کوي ځکه غټه بادشاهي روانه ده، الله امر کوي او ملائك د هغې سفیران دي، خبرې اخلي او لیکي او بیا ئې په لاندې مخلوق باندې نافذ کوي او یو بل ته د هغې تعلیم ورکوي چه دا کار کول پکار دي او دا نۀ۔

د الله ډیره لویه بادشاهي ده دا مونږ ته چه څه ښکاري دا ډیره لږه ده او د الله تعالیٰ دومره غټه بادشاهي ده چه زمونږ ذهن ورته نۀ دې رسیدلې، سائنسدانان وائي: دنیا سل درجې واخله نو د هغې یوې درجې ته زمونږ ذهن ورسیدلې دې نهه نوي درجې پاتې ده پاتې لا د هغې حقائق معلوم ول۔

الله تعالیٰ فرمائي: ﴿فَلَا أُقْسِمُ بِمَا تُبْصِرُوْنَ وَمَا لَا تُبْصِرُوْنَ﴾ (القلم: ٣٩)

(زۀ قسم کوم په هغه څیزونو چه تاسو ئې وینئ او په هغه څه چه تاسو ئې نۀ وینئ) غټ نظام د الله روان دې۔

﴿سُبْحَانَ الَّذِىْ خَلَقَ الْأَزْوَاجَ كُلَّهَا مِمَّا تُنْبِتُ الْأَرْضُ وَمِنْ أَنْفُسِهِمْ وَمِمَّا لَا يَعْلَمُوْنَ﴾ (یس:٣٦)۔

(پاکي ده هغه ذات لره چه هر شې ئې جوړئ پیدا کړیدې که هغه د زمکې ګیاهګانې

دی او که د انسانانو نفسونه دی او که هغه څیزونه دی چه انسانانو ته نهٔ دی معلوم) داسے بادشاهی شته چه بندګانو ته معلومه هم نهٔ ده۔

نبی علیه السلام فرمائی: ما په دغه ځای کی بیت المعمور ولیده، بیت المعمور هغه آباده کوټه، د الله کور دے چه الله سبحانه وتعالیٰ بره د ملائکو دپاره پیدا کړیدے د هغوی د حج ځای دے لکه په دنیا کی الله تعالیٰ بیت الله الحرام پیدا کړیدے چه هغه د مسلمانانو د حج ځای دے، بندګان هغه ځای ته ورځی، الله پدے باندے د بندګانو نه خوشحالیږی او حکم ئے ورته کړیدے چه هلته به راځی دا ستاسو د محبت ننبه ده، بیت الله ته په زندګئ کی یو کرت حاضری ورکول فرض دی او بار بار ورتلل غوره خبره ده نو دغه شان الله تعالیٰ د بیت الله دپاسه په آسمانونو کی یو ځای پیدا کړیدے چه نبی علیه السلام فرمائی: هره ورځ د طواف دپاره هغے ته اویا زره ملائک حاضریږی د هغے نه طواف کوی او دا اویا زره چه ورداخل شی بیرته په ژوند کی تر قیامته پورے د دوی نمبر نهٔ راځی ځکه چه د الله تعالیٰ ملائک ډیر زیات دی، په ټولو مخلوقاتو کی زیات عدد او شمار د ملائکو دے۔ قرآن کریم کی الله فرمائی:

﴿ وَمَا يَعْلَمُ جُنُودَ رَبِّكَ إِلَّا هُوَ﴾ (المدثر:٣١)

ستا د رب لښکرے صرف الله تعالیٰ ته معلومی دی۔

جبریل علیه السلام د ملائکو مشر دے هغه ته هم دا معلومه نهٔ ده چه ملائک څومره دی میکائیل او بل ملائک ته هم معلومه نهٔ ده چه ملائک څومره دی؟۔

په یو حدیث کی ئے صرف اندازه دا راغلی ده چه موسیٰ علیه السلام د الله نه تپوس وکړو چه اے الله! آسمانونو کی تا سره څوك دی؟ هغه وفرمایل: ملائك دی، موسیٰ علیه السلام وویل: وَكَمْ هُمْ يَا رَبِّ؟) د دوی شمیر څومره دے؟ الله وفرمایل: اِثْنَا عَشَرَ سِبْطًا)۔ دا دولس قبیلے دی لکه چه انسانانو دولس قبیلے وی۔

(وَكَمْ عَدَدُ كُلِّ سِبْطٍ؟)۔ اے الله! د هرے قبیلے څومره شمار دے؟ نو الله رب العزت جواب ورکړو عَدَدَ التُّرَابِ)۔ د خاورو او دشګو په اندازه۔

(كتاب العظمة لابی الشيخ ٢/٧٤١)

د دنیا شګے او خاورے او په هغے کی څومره ذرات دی دا څوك شمارلے شی؟ دا صرف د یوے قبیلے اندازه ده، په دنیا کی ددے په شمار باندے هیڅوك قادر نهٔ دے۔

د معراج پدے واقعه کي الله تعالىٰ نبی علیه السلام ته داسے عجیب تاریخ او ناشنا خبرے وښودلے چه هغه مونږ او تاسو ته بیانیږی لکه انسان چه بل عالَم کی وی۔ نو د بیت المعمور لیدل او د ملائکو ورداخلیدل او بیرته راوتل ئے ولیدل۔

نبی علیه السلام فرمائی : الله ما ته جنت او جهنم هم راوښودل، پدے سفر کی نبی علیه السلام جنت هم په خپلو سترګو لیدلے دے ځکه جنت الله تعالىٰ همدلته پیدا کړیدے قرآن کریم کی الله تعالىٰ د هغے پته داسے ورکړیده :

﴿عِنۡدَهَا جَنَّةُ الۡمَاۡوٰی﴾ سدرة المنتهىٰ ته چه انسان ورسیږی د هغه ځای نه روسته جنت شروع کیږی، د هر ملك خپل بارډر وی د هغه ځای نه هغه ملك شروع کیږی۔ نو دارنګه د جنت بارډر د سدرة المنتهىٰ نه شروع کیږی، د دغه ځای نه جنت ته لاره تلے ده، الله رب العزت جنتونه ډیر غټ مخلوق پیدا کړیدے چه وخت په وخت ئے الله تعالىٰ مونږ ته یادوی، نبی علیه السلام هم فرمائی: جنت کی سل درجے دی :

(مَا بَيۡنَ الدَّرَجَتَيۡنِ كَمَا بَيۡنَ السَّمَاءِ وَالۡأَرۡضِ)

د یوے درجے نه بلے درجے ته دومره مسافه ده لکه د آسمان نه تر زمکے پورے)،

او دا ډیره لویه فاصله ده نو سل کرته د زمکے نه آسمان ته وخیژه د جنت یوه یوه درجه دومره لویه ده، نو د جنت آخر سر ډیر لرے دے، د جنت فردوس په سر باندے الله تعالىٰ خپل عرش ایښے دے، جنة الفردوس ته الله تعالىٰ ښائسته چهت ورکړیدے چه هغه د الله تعالىٰ عرش دے نو د بندګانو او د الله تعالىٰ په مابین کی ډیر لرے والے دے، الله سبحانه وتعالىٰ د ذات په لحاظ سره ډیر اُوچت دے ددے وجه نه د بندګانو رسیدل هغه ته نۀ کیږی الله ته الجبار وائی، د هغه زور او د هغه د طاقت د وجه نه هغه ته څوك ګوتے نشی وروړلے، خواله نشی ورتللے، لیکن هغه د علم او طاقت په لحاظ د مرئ د رګ نه ډیر نزدے دے، بلکه تا خپله شا نۀ ده لیدلے او الله رب العزت ته ستا هر رګ رګ، هډوکے هډوکے، ریشه ریشه وینه وینه، ذره ذره دا هر څه الله ته مخامخ دی او تصرف پکی کوی څنګه چه وغواړی، الله رب العزت ټول مخلوق ته په یو ځل په هر وخت کی متوجه دے، د هغوی خبرے آوری هغوی ته ګوری،

سائنسدانان هم وائی چه ددے کائناتو دپاسه یو طاقت شته چه هغه دا کائنات کنټرول کوی او دے له کرنټ ورکوی، که دغه طاقت دا کائنات پریدی نو دا نظام به

دَرْهم بَرْهم شي او خراب به شي لکه الله هم فرمائي:
﴿اِنَّ اللّٰهَ يُمْسِكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ اَنْ تَزُوْلَا﴾ (فاطر:٤١)
الله هغه ذات دے چه آسمانونه زمکه ئے خپل لاس کی نیولی دی، دے ته ئے نهٔ پریدی چه زائل شي او که آسمان او زمکه د خپل ځای نه وخوزیږی نو د الله نه سوی هیڅوك طاقت نشته چه دا نظام راتینګ کړی).
الغرض دا چه نبی علیه السلام فرمائی: ما جنت ولیدو او په جنت کی چه ما نظر واچولو نو اکثر فقراء خلك مے پکی ولیدل، غریبانان خلك جنتیان وو، جهنم ته هم الله سبحانه وتعالیٰ وربنکاره کړم
(چه دا د زمکے نه لاندے دے لیکن د الله په طاقت باندے هغه ځای ئے هم ورته رابنکاره کړو، او الله پدے قادر دے دا د ایمان بالغیب سره تعلق لری پدے باندے به ایمان لرے او دے ته به تسلیمیږے)
جهنم کی چه ما وکتل اکثر وسیدونکی پکی بنځے وے، کافر خو هسے هم ورځی لیکن اکثره پکی زنانه وے، مسلمانانے بنځے هم ورتللے.
(یوه ورځ نبی علیه السلام زنانو ته بیان کی دا وفرمایل چه ما تاسو په جهنم کی زیاتے ولیدئ نو زنانو تپوس وکړو چه اے د الله رسوله !دا څه وجه ده ؟ نبی علیه السلام وفرمایل: تُكْثِرْنَ اللَّعْنَ وَتَكْفُرْنَ الْعَشِيْرَ)
تاسو لعنتونه او بنیرے زیاتے کوئ او د خاوند ناشکری کوئ،
په یو بل روایت کی دی :(لَوْ اَحْسَنْتَ اِلٰى اِحْدَاهُنَّ دَهْرًا ثُمَّ رَأَتْ مِنْكَ شَيْئًا قَالَتْ مَا رَأَيْتُ مِنْكَ خَيْرًا قَطُّ) تهول عمر به ورسره احسان کوے خو چه یوه ورځ درنه خفه شوه نو وائی به ما درنه هیڅ خیرنهٔ دے لیدلے) نو پدے حدیث کی سوچ وکړه چه بنځه د خاوند په ناشکرئ اُورته ځی چه هغه لا دومره مُنعم هم نهٔ دے نو د الله په ناشکرئ سره به د هغے څه حال وی ؟ او بله وجه ئے د زنانو جهنم ته د داخلیدو دا ذکر کړه چه تاسو دوکے والا یئ.
(مَا رَأَيْتُ مِنْ نَاقِصَاتِ عَقْلٍ وَدِيْنٍ أَذْهَبَ لِلُبِّ الرَّجُلِ الْحَازِمِ مِنْ اِحْدَاكُنَّ)
دین مو کمزورے عقل مو کمزورے دے، او د یو هوښیار سړی عقل بوځئ او هغه باندے چل کوئ)، (بخاری و مسلم)

زنانه به په ابتداء کې په جهنم کې ډیرې وې بیا روسته زمانه کې چه کله الله وغواړي ګنهګار مؤمنان به د جهنم نه راوباسي بیا به په جنت کې ښځې ډیرې وي، نو روسته زمانه کې به ښځې په جنت کې ډیرې وې ځکه چه جنت کې خپلې پیدا شوې زنانه هم ډیرې دي.

نبی علیه السلام فرمائی: زهٔ بیا جنت ته داخل شوم نو په هغې کې د ملغلرو خیمې او ګنبدونه وو او د هغې خاورې مُشك وې.

بیا نبی علیه السلام فرمائی: ما د جهنم خزانچی چه نوم ئې مالك دې ولیدو چه دا د جهنم جیلر او خازن دې هغه جیلیان سنبالوی، الله په جهنم باندې مقرر کړیدې لکه قرآن کریم کې راغلي دي چه جهنمیان به مالك ته آواز وکړي چه ستا رب دې په مونږ باندې د مرګ فیصله وکړي چه ایسته ختم شو او عذاب راباندې نهٔ وي، د الله نه زمونږ دپاره دا وغواړه هغه به جواب نهٔ ورکوي، زرکاله روسته به جواب ورکړي چه: ﴿اِنَّكُمْ مٰكِثُوْنَ﴾ (الزخرف: ٧٧) ـ تاسو به دې جهنم کې (همیشه) اُوسیږئ.

نبی علیه السلام فرمائی: ما مالك ولیدو چه تندې ئې راتریو کړې وو، شکل ئې ناشنا وو، تازه ګی پرې نهٔ ښکاره کیده د غصې په حالت کې وو. جبریل ما ته ووېل: چه په دهٔ باندې سلام واچوه نو ما چه پرې سلام اچولو نو مالك په ما باندې په سلام کې رامخکې شو. اخرجه مسلم (٢٧٨) الاسراء والمعراج للشیخ الالبانی ص: ٨)

نبی علیه السلام فرمائی: ما د معراج په شپه څلور نهرونه ولیدل چه دا نهرونه د سدرة المنتهیٰ په بیخ کې وو: (نَهْرَانِ ظَاهِرَانِ وَنَهْرَانِ بَاطِنَانِ) دوه نهرونه ظاهر چه دنیا ته راغلي دي او دوه نهرونه باطن چه جنت ته تلي دي. دنیا کې دوه نهرونه یو دریائے نِیل او بل فُرات دې، نیل په مصر کې دې او فُرات په عراق کې دې.

دا معنیٰ نهٔ ده چه دا دواړه په یوه ناوه باندې د جنت نه رابهیږي بلکه دا یو مثال وو چه الله سبحانه وتعالیٰ خپل نبی ته وښودو چه ستا نبوت او ستا امت به هغه ځای ته رسیږي کوم ځای ته چه دا اُوبه رسیدلي دي او باطني نهرونه جنت کې وو.

نبی علیه السلام دا ناشنا ناشنا او ښکلي ښکلي حالات ولیدل.

کله چه یو بنده جهنم په خپلو سترګو وینی چه خلك په کې پراته دي سوزیږي او جنت وینی چه په هغې کې باغونه او میوه جات او هر قسم نعمتونه وي نو ددهٔ به

څو مره یقین زیاتیږي دیته عین الیقین وائي ددې وجه نه هغه ته به بیا تړوله دنیا هیڅ نهٔ ښکاره کیږي، که مصیبت راځي هغه مصیبت به ورته هیڅ شې نهٔ ښکاري،

د الله دپاره چه هر څو مره شبګیري کوي، چه هرڅو مره سختیانې پرې راشي، هر څو کرت راشي دا خبرې ورته معمولي ښکاري دا ټول عملونه چه کیږي د یقین په بنیاد کیږي، څو مره چه د انسان یقین مضبوط وي هغو مره به عمل ورته آسان وي او چه یقین کمزورې وي نو دوه رکعته مونځ به هم نشي کولې ډیر انسانان داسې دي چه فرض مونځ په خپل کور کې هم نشي کولې جَمعه لا په خپل ځاې پریده۔ ددهٔ په الله باندې دومره ایمان هم نهٔ وي۔

بعض خلك د معراج په واقعه کې د الله په رسول باندې دروغ بیانوي د هغې نه ځان ساتل پکار دي بعضې خلکو دا دروغ جوړ کړیدي چه نبي علیه السلام الله تعالیٰ ته وویل چه په پخوانو امتونو کې حکیمان خلك وو زما په امت کې به څوك وي ؟ الله تعالیٰ ورته وویل: ستا په امت کې به امام (ابوحنیفه) صاحب وي، بعض تقلیدي فتاوو والو دا قصې په خپلو فتاوو کې لیکلې دي، د امام ابوحنیفه رحمه الله په باره کې ئې دومره غلو وکړه چه دغه ځاې ته ئې هم اُوچت کړو، شیعه ګانو د سیدنا علي رضي الله عنه په باره کې وئیلي دي چه د علي تذکره د معراج په شپه هم شویده، صوفیه ؤ په کې غزالي صاحب خیژولې دې چه د هغه تذکره هم هلته وشوه۔

بیا الله رب العالمین خپل نبي ځان ته وخیژولو، د احادیثو نه معلومیږي چه الله سبحانه وتعالیٰ دهٔ ته نزدې شو او دا ئې ځان ته رانزدې کړو۔

بعضو روایتونو کې دي :(أُدْنُ مِنِّيْ)۔

ما ته رانزدې شه او په حدیث د اسراء کې دي :

(وَدَنَا لِلْجَبَّارِ رَبِّ الْعِزَّةِ) (بخاري ٧٥١٧ ومسلم)۔

الله رب العزت ته ورنزدې شو، خبرې اترې ئې ورسره وکړې۔ الله سبحانه وتعالیٰ ته رانزدې کیدل د متشابهاتو نه دي، حقیقت ئې الله ته معلوم دې۔ ددهٔ سره ملاقات په څه طریقه وشو؟ صحیح دا ده چه ملاقات په خبرو اترو طریقې سره وشو او په سترګو باندې لیدل ونشو ځکه نبي علیه السلام بَشر دې، انسان دې هغه ته الله تعالیٰ دا طاقت نهٔ دې ورکړې چه په دنیا کې الله تعالیٰ وینې۔

دا خبره غلطه ده چه دواړه یو کمرے ته ننوتل او یوبل ته (العیاذ بالله) ورغاړے وتل، دا د گمراهانو خبری دی۔

د نبی علیه السلام نه خپله دے باره کی تپوس وشو (ابو ذر رضی الله عنه تپوس وکړو) چه یا رسول الله ! تا الله لیدلے دے ؟ هغه وفرمایل : (نُوْرٌ اَنّٰی اَرَاهُ)

هغه خو نور دے زه دا طاقت نهٔ لرم چه زهٔ ئے وینم۔ (صحیح مسلم: ٤٦١)

یا ذا چه نور زما مخے ته د هغه د لیدو نه مانع واقع شو۔ (علامه مازریؒ)

نبی ﷺ فرمائی: (حِجَابُهُ النُّوْرُ) الله مخے ته پردے اچولی دی او هغه د رڼا دی (لَوْ كَشَفَهُ لَأَحْرَقَتْ سُبُحَاتُ وَجْهِهِ مَا انْتَهٰى إِلَيْهِ بَصَرُهُ مِنْ خَلْقِهِ) (صحیح مسلم: ٢٩٣)

که الله دا پردے لری کړی نو د هغه د مخ پلوشے به هغه مخلوق وسیزی کوم ځای ته چه د الله نظر رسیږی۔

لکه د بجلئ کرنټ دومره تیز دے چه که تارونو ته پلاسټك وانچوی نو که څوك گوتے وروړی یا په دیوال باندے وی نو هغه به د کرنټ د وجه نه وسوزوی، دغه شان الله هم خپل ځان ته پردے مخے ته راوستی دی چه انسانان ئے نشی لیدلے۔

دا حدیث رسول الله ﷺ ددے دپاره وئیلے دے چه د الله رب العالمین په باره کی د بندگانو ښکلے تصور پیدا شی چه الله تعالیٰ زمونږ دومره ښائسته او دومره طاقت والا دے۔

موسیٰ ﷺ الله پاك ته وویل: اے الله ! ما ته خپل ځان راوښایه ؟ ډیر شوق او ډیر محبت دے، خبرے دے آورم او لیدل نهٔ کیږی نو الله تعالیٰ ورته وفرمایل: دا طاقت په تا کی نشته ستا د وس نه بهر خبره ده۔

بیا ددے څه حکمت دے چه الله د بندگانو نه خپل ځان پټ ساتلے دے؟

نو ددے ډیر حکمتونه دی یو دا چه دا د الله تعالیٰ د عُلُو او لوی والی او اوچتوالی تقاضا ده څومره چه انسان اُوچتیږی هغومره غائبیږی، څوك ئے ډیر نشی لیدلے او عام سړی سره هر سړے ملاقات کولے شی او چه څومره ئے مرتبه اُوچتیږی نو هر سړے ورسره ملاقات نشی کولے چه انسان نه وزیر جوړ شی بیا بادشاه نو ملاقاتونه ئے کم شی او چه ملائك وی د هغه سره بیخی ملاقات نشی کیدے مگر شاذ او نادر کله نا کله کیږی نو چه بره الله ته خبره لاړه شی نو بیا د هغه مثال نشته د هغه سره بندگان د

ملاقات طاقت نهٔ لري.

دويمه وجه دا ده چه انسانان او مخلوق الله رب العزت كمزوري پيدا كړيدي، دا كمزوري مخلوق دا نشي كولې چه دومره طاقتور ذات سره ملاقات وكړي،

نو د نبي عليه السلام د الله تعالىٰ سره د پردې نه اخوا ملاقات وشو او براهِ راست ئې ورسره خبرې اترې وشوې چه مينځ كي بل ملائك واسطه نهٔ وه، دا ډيرې مزيدارې او خوږې او د محبت نه ډكې خبرې وې چه په احاديثو كي د هغې نه دوه درې زيرې رانقل شويدي :

(١) يو زيرې پكي دا دې چه نبي عليه السلام ته ئې مونځونه وركړل چه دا واخله په تا او ستا په امت باندې دا مونځونه لازم شو.

(٢) دويم الله رب العالمين د سورة بقرې آخري دوه آيتونه وركړل د خپلې خزانې نه چه دا ډير قيمتي او د فضيلتونو نه ډك آيتونه دي په احاديثو كي ئې ډير فضائل راغلي دي، سيدنا علي رضي الله عنه فرمائي: يو سړي دِې ايمان راوړي او عقل دې پكي وي او دا دوه آيتونه دِې ددهٔ نه پاتي كيږي، دومره خوارهٔ او مزيدار آيتونه دي او پدې باندې الله د بنده نغده دعا قبلوي.

او په يو حديث كي دي چه چا دا دوه آيتونه په شپه كي ولوستل دا به ورله كافي شي. (بخاري: ٤٠٠٨ ومسلم: ١٩١٤)

زمونږ د روحانيت د كمزور والي د وجه نه دا خبرې مونږ ته وړې ښكاره كيږي ورنه دا ډيره لويه خبره ده چه د الله خبرې دې د خزانې نه راواخستلې شي او بندګانو ته وركړې شي هغه خزانه چه د عرش نه لاندې ده.

(٣) دريمه خبره ورته دا وركړې شوه :(وَغَفَرَ لِأُمَّتِهِ الْمُقْحِمَاتِ)

الله سبحانه وتعالىٰ دې امت ته كبيره ګناهونه معاف كړل، مخكني دوه نعمتونه هم لوي وو ليكن دا ډير لوي نعمت دې، هغه ګناهونه ورته معاف شو چه د جهنم د اُور سبب دې او جهنم ته ئې داخلوي نو كومو انسانانو كي چه توحيد وي او د الله په ذات باندې صحيح عقيده وي مشرك نهٔ وي په هغوي كي دا عقيده وي چه محمد رسول الله ﷺ د الله حق پيغمبر دې، يقين ئې په ځاى باندې دې او ددهٔ نه چرته ګناه وشوه او د توحيد په حالت كي د دنيا نه لاړو نو د الله د ذات نه ډير اميد دې چه دهٔ ته به الله ښننه

کوی دا ډیره لویه خبره ده،

دا د محمد رسول الله ﷺ یو برکت دے چه الله دے امت ته ورکړیدے او د الله یوه مهربانی ده چه پدے امت باندے ئے کوی۔

دے قسم حدیثونو ته احادیث الرجاء وائی یعنی د امید او خوشحالئ حدیثونه، لکه بعض حدیثونه د ویری وی انسان نا امیدئ ته نزدے کوی، ددے حدیثونو دا مطلب نهٔ دے چه مونږ به کبیره ګناهونه کوو هسے ئے هم الله ببنبی، نهٔ بلکه دا یوه وعده ده لکه پلار بچی ته وائی که ته زما بی ادبی وکړے هم زهٔ به تا ته څه نهٔ وایم نو ددے مطلب دا نهٔ وی چه دا بچے به رالګیږی په رشتیا به د پلار بی ادبی کوی بلکه دا د یو محبت اظهار وی چه هغه ئے کوی۔ نو دا درے ډیر لوی نعمتونه ذی۔

علماء فرمائی: چه ددے واقعے نه د مانځه ډیر لوی اهمیت معلومیږی چه الله رب العالمین وریسے خپل نبی پورته وخیژولو او نور احکام ئے هغه ته خکته راوړل دا د الله د طرفنه یوه خصوصی هدیه ده نو مونځ ډیر اوچت عمل دے۔

په قرآن کریم کی الله تعالیٰ مونځ اته اتیا (۸۸) کرته ذکر کړیدے په دے کی ډیر تاکید ته اشاره ده، مونځ چه څوك پریدی دا مسلمان نشی کیدے او لوی بد بخته دے، د الله او دبنده ترمینځ یو کنکشن او د تعلق قائمولو ښائسته ذریعه ده، د مونځ هره کلمه او هر حالت نیکی نیکی ده ډیر لوی قیمتی شے دے چا ته چه مونځ لوی شے ښکاری نو دهٔ ته نور دین لوی ښکاری او چا ته چه مونځ سپك ښکاری نو دین ورته سپك ښکاری۔

بیا نبی علیه السلام الله تعالیٰ سره خبرے وکړے څومره چه مناسبه وه بیا د هغه ځای نه الله تعالیٰ په ډیر نورانی حالت کی رارخصت کړو چه په یو ناشنا کیفیت کی دے، اوم آسمان ته راغے بیا شپږم ته راغے نو په موسیٰ علیه السلام باندے ورتیر شو۔

نبی علیه السلام فرمائی: موسیٰ علیه السلام زما نه تپوس وکړو:

(مَاذَا فَرَضَ اللّٰهُ عَلٰى اُمَّتِكَ؟)۔ الله تعالیٰ ستا په امت څه فرض کړل؟

نبی علیه السلام فرمائی: ما ورته وویل: الله رب العزت لوی عبادت راکړو چه پنځوس مونځونه ئے زما په امت فرض کړل، نو ما ته موسیٰ علیه السلام مشوره راکړه چه پنځوس مونځونه ډیر ګران دی ستا امت ئے نشی کولے لاړ شهٔ الله رب العزت ته سوال وکړه چه دا مونځونه کم کړی، نو نبی علیه السلام په خپل امت باندے ډیر

شفقت کونکے مهربان وو اگرکه د الله نه ورله حیاء هم ورتلله مگر د شفقت د وجه نه ئے جبریل علیه السلام ته وکتل د هغه نه ئے مشوره اخستله هغه ورته اشاره وکړه چه صحیح ده نو بیرته واپس شو۔ بعض خلك وائی په دعا باندے واپس شو یعنی په دغه ځای کی ئے دعا وکړه دا خبره غلطه ده ځکه په روایت د بخاری کی راغلی دی چه جبریل علیه السلام ئے ځان سره ملگرے کړو بیرته بره لاړو :

(فَعَلَا بِهِ اِلَى الْجَبَّارِ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى) تردے چه هغه ځای ته ئے پورته کړو چه کوم ځای کی الله تعالیٰ د هغه ملاقات کولو، نو نبی علیه السلام د الله نه دعا طلب کړه چه اے زما ربه ! زما امت باندے آسانی راوله زما امت ددے طاقت نۂ لری، نو الله رب العالمین ورته وویل : لس مونځونه درته معاف شو بیا چه دغه آسمان ته راکوز شو،

موسیٰ علیه السلام ورته وویل : څو مره ئے کم کړل؟

نبی علیه السلام ورته وفرمایل چه لس ئے کم کړل موسیٰ علیه السلام وویل:

څلویښت هم زیات دی، ستا امت ددے طاقت نۂ لری واپس لاړ شه، نبی علیه السلام به سوچ کولو چه دا خو رشتیا چه زما امت ددے طاقت نۂ لری بیا لاړو الله تعالیٰ ته ئے سوال وکړو نو لس نور کم شو دیرش پاتے شو،

بیا موسیٰ علیه السلام ته راغے هغه به دا مشوره ورکوله چه دا زیات دی او رسول الله ﷺ به واپس تللو بیا ئے پرے لس کم کړل شل پاتے شو بیا ئے واپس ولیږلو بیا لس نور کم شو لس پاتے شو، موسیٰ علیه السلام ورته وفرمایل: دا لس مونځونه هم ستا په امت باندے زیات دی واپس لاړشه نبی علیه السلام بیا لاړو د الله نه ئے سوال وکړو نو الله ورته پنځه نور کم کړل صرف پنځه مونځونه پاتے شو،

رسول الله ﷺ بیا موسیٰ علیه السلام ته راغے نو هغه بیا مشوره ورکړه چه دا پنځه مونځونه هم زیات دی، زما په امت باندے ددے نه کم فرض شوی وو، نو هغوی ددے نه کمزوری شو او پریښودل نوستا امت خو ډیر کمزوری بدنونو او زړونو او سترگو او غوږونو والا دی واپس لاړ شه۔

(یعنی په بنی اسرائیلو باندے څلور مونځونه فرض وو لکه په نورو صحیح روایتونو کی دا خبره ذکر ده خلکو کی چه دا مشهوره ده چه په بنی اسرائیلو پنځوس مونځونه فرض وو دا خطاء خبره ده)

پخوانو امتونو باندے د ماسخوتن مونځ نهٔ وو صرف څلور مونځونه وو او ماسخوتن مونځ ددے امت خصوصیت دے۔

نبی علیه السلام فرمائی: الله تعالیٰ دے امت ته پدے وجه غوره والے ورکړو چه دوی ته ئے د ماسخوتن مونځ ورکړو، د مونځ مثال داسے دے لکه یو مشر چا ته وائی چه تا ته ما د ملاقات وخت درکړو مخکنو امتونو ته ئے څلور وختونه ورکړی وو چه الله ورته دروازه کولاوه کړے وه راځئ ملاقات کوئ او دے امت ته ئے په ماسخوتن مونځ سره زیات فضیلت ورکړو۔

نو رسول الله ﷺ وفرمایل : الله ته بار بار ورغلم (حَتّٰی اسْتَحْیَیْتُ) ما ته حیاء راغی چه خپل رب ته همداسے ورځم او مونځونه پرے کموم (لٰکِنْ أَرْضٰی وَأُسَلِّمُ) لیکن زهٔ پدے راضی کیږم او خپل رب ته تسلیمیږم بس زما امت به دا کوی،

الله سبحانه وتعالیٰ ورته په زړه کی واچوله چه نور واپس نشی، رسول الله ﷺ یو قدر والا انسان دے د خبرو موقعه پیژنی۔ نو پدے کی الله رب العزت ورته آواز وکړو :

(أَمْضَیْتُ فَرِیْضَتِیْ وَخَفَّفْتُ عَنْ عِبَادِیْ)

ما خپله فریضه نافذه کړه او په خپلو بندګانو مے آسانی راوستله او وعده ئے دا وکړه چه ستاسو په پنځه مونځونو باندے به د پنځوسو مونځونو اجر درکوم، دا د الله څومره مهربانی ده چه عمل لږ او اجر ډیر ورکوی نو یقین والو لره به پنځه مونځونه څومره خوند ورکوی څکه یو مونځ په لس باندے حساب شو۔

بیا رسول الله ﷺ د آسمانونو نه راکوز شو۔

په بعضِ روایتونو کی راغلی دی چه نبی علیه السلام پدے واپسئ کی الله رب العزت یأجوج مأجوج طرفته بوتللے دے او هغوی ته ئے دعوت ورکړیدے، یأجوج ماجوج انسانان دی مخکی مونږ وئیلی وو، د یافث بن نوح علیه السلام اولاد دی، الله رب العزت پدے زمکه کی په یو ځای کی بند کړیدی یوه دروازه وه هغه ورته ذو القرنین بنده کړیده او الله رب العالمین دوی د خلکو نه پټ ساتلی دی چه کله قیامت ته وخت نزدے شی نو هغه دیوال به مات شی او دوی به راوځی او د خلکو مقابله به کوی قرآن هم پدے ګواه دے او حدیثونه په دے باره کی بے شماره راغلی دی، نبی علیه السلام ورغلو او هغوی ته ئے دعوت ورکړو یاجوج ماجوج بی دعوته نهٔ دی پاتی څکه

ئے الله جهنم ته بوځی، د رسول الله ﷺ دعوت خور شویدے بیا ئے هم خبره نهٔ ده منلے او دا دعوت وخت په خت الله خوروی په څه ذریعه چه د هغے حقیقت مونږ ته نهٔ دے معلوم، زمونږ ذهن ورته نهٔ رسیږی چه په کومه طریقه ورته ور رسیږی یا دا چهٔ د نبی علیه السلام دعوت په دوی کی باقی پاتے دے۔

په یو بل صحیح روایت کی دا راغلی دی چه الله پاك ما ته دا زمکه راغونډه کړه تردے چه ما د هغے مشرق او مغرب ولیدو (یعنی دا ټول عالَم ئے نبی علیه السلام ته داسے وښودو لکه د لاس په تلی کی ئے چه ژاولی او دا دنیا ورته الله راټوله کړه)

(صحیح مسلم: ٢٨٨٩)

په مسند احمد کی حدیث دے حاصل ئے دا دے چه نبی علیه السلام په مجلس کښ ناست وو د بحرین نه د عبد القیس قبیلے وفد راغلو، نبی علیه السلام ترے تپوس وکړو د کوم ځای یئ؟ هغوی ووئیل: د عبد القیس قبیلے یو، نبی علیه السلام ورته ووئیل: د فلانکی کلی، د فلانکی علاقے دا نومونه ئے ورته واخستل هغوی ورته ووئیل: تهٔ خو داسے خبرے کوے لکه زمونږ علاقے ته چه راغلے ئے۔ نبی علیه السلام ورته وفرمایل: آؤ، دا ما ته الله راښودلی دی کله چه زهٔ معراج ته تلے وم، دا ټولے علاقے ما ته داسے راښودلی دی چه هر کلی کلی ما لیدلی دی۔

مسند احمد ٣٢٧/٢٤)

د نبی علیه السلام ناشنا معجزه وه چه الله ورته ټوله دنیا ښودلے وه، هر کلی باندے د هغه نظر لګیدلے وو الله ورله معلومات ورکړے وو نور علمونه الله رب العزت زمونږ په نبی باندے راکولاو کړی وو، د غیب علم ورسره نهٔ وو لیکن ناشنا علمونه ئے ورکړی وو او ډیره زیاته پیرزوئے پرے کړے وه د داسے عظیم انسان تابعداری نهٔ کول او دا پریښودل او هغه چا پسے تلل چه هغه سره داسے علمونه نشته دا ډیره لویه بد بختی ده۔

نو نبی علیه السلام راواپس شو بیرته زمکے ته راغے او بیرته د بیت المقدس په لاره باندے راکوز شو د هغه ځای نه جبریل علیه السلام راروان کړو په هغه براق باندے ئے سور کړو او بیرته ئے مکے مکرمے ته راوستو۔

بیا احادیثو کی راځی چه پدے وخت کی دا واقعه راغله چه د مکے د مشرکانو یوه قافله وه پدے لاره روانه وه،

د نبي عليه السلام د معجزې ښکاره کولو دپاره بعضې واقعات الله راولي نو نبي عليه السلام د مشرکانو پدې قافله تيريدو نو ددې براق آواز دې اُوښانو واوريدو نو منډه ئې کړه يو اُوښ ترې وتښتيده يوه کنده کې ورك شو، مشرکان ورپسې ګرځيدل راګرځيدل نبي عليه السلام ورته آواز وکړو چه ستاسو اُوښ فلاني کنده کې دې هغوی دا آواز واوريده او ځوك ئې نۀ ليدل پدې کې مشرکان لاړل چه وې کتل نو په هغه ځای کې ئې پيدا کړو، دا ورته تعجبي ښکاره شوه چه دا آواز مونږ د کوم ځای نه واوريدۀ او په عربو کې دا کار وو چه د نبوت نه مخکې به الله تعالىٰ ناشنا ناشنا احوال په دوی راوستل، کله به د پيريانو آوازونه او کله د ملائکو آوازونه او کرامتونه به ښکاره کيدل۔ ابن ابی الدنيا په کتاب ((مجابی الدعاء)) کې دا ليکلي دي۔

غرض دا چه دا کار وشو چه نبي عليه السلام پدې سفر کې ترې شوې وو نو دې قافلې ته ورغې وو او د هغوی د لوښي نه ئې اُوبه وڅکلې چه هغه اُوبه پټې وې نو بيرته ئې پرې سر کيښودو او همغه شان ئې پټې کړې، اُوبه ئې وڅکلې او لوښې ئې خالي کړو، دوی چه کله سهار راپاڅيدل وې کتل چه اُوبه نشته دې او لوښې همغه شان پروت دې نو تعجب ئې وکړو چه دا اُوبه څنګه وچې شويدی، نۀ آوريدلی دي او نۀ ملګرو کې چا څکلي دي څکه هر يو وائي چه ما ندی څکلي دا به چا څکلي وي ؟

د نبي عليه السلام دا دوه جالتونه په لاره کې ښکاره شو پدې کې مکې مکرمې ته راورسيدو، د شپې د شپې الله تعالىٰ خپل ځای ته راورسولو او پدې يوه شپه کې دننه دننه داسې واقعات راغلل الله تعالىٰ ورته زمانه رالنډه کړه، دې ته طي الزمان وائي يعني زمانه راټاوول۔ دا به په آخرت کې هم داسې کيږي، کله يو وخت وي يو چا ته به ئې ډير اوږد کړي او بعضې بندګانو ته به ئې ډير را لنډ کړي، دا د الله تعالىٰ قدرت دې، پدې باره کې حديث دې نبي عليه السلام فرمائي:

د قيامت ورځ پنځوس زره کاله ده په کافرو به پنځوس زره کاله تيريږي ډير به ئې پرې اوږده کړي چه بالکل د تيريدلو په شان به نۀ وي او ايمان والو ته به ئې دومره آسانه کړي لکه د ماسپښين نه مازيګره پورې وخت يا د مازيګر نه ماښام پورې او بعضې مومنانو باندې به د دوه رکعاتو د مانځه د وخت په اندازه تيره شي،

دغسې دلته هم الله تعالىٰ د خپل نبي سره وکړل۔

رسول الله ﷺ راغے سهار مانځه له مسجد حرام ته لاړو هلته ئے خپل مونځ وکړو د مانځه نه روسته ناست وو او ډیر په فکر کی ناست وو ځکه دا ناشنا احوال ئے لیدلی وو چه په هغے کی ئے سوچ کولو چه دومره اُوږد سفر مے وکړو۔

بل پدے فکر مند وو چه په دۀ باندے د الله تعالیٰ د طرفه زور وو چه دا خبره به بیانوی او دا ډیره سخته مسئله ده چه د خلکو ذهن ورته نۀ ور رسیږی او هغه به بیانوی گرانه خبره وه، اُوس که زۀ چا ته ووایم چه زۀ بیت المقدس ته تلے یم یا آسمان ته تلے یم دا ما سره څوك منی او بیانونکے چه کومه خبره بیانوی او هغه د خلکو د ذهن نه بالاتره وی هغه ته ډیره سخته وی چه دا زۀ څنگه د دوی په ذهن کی واقع کړم، او بل طرف ته د الله حکم دے چه دا دے بیان کړے شی او ددے دعوت دے وکړے شی پدے کی ډیرے عجیبی فائدے دی،

نبی علیه السلام الله تعالیٰ پدے مکلف کړے وو چه دا خبره به کوی اُوس که زمونږه ذهن وے مونږ به وئیلے دا خلك خو لا کافر دی او بعض نوی مؤمنان دی نو دے خبرو ته څه ضرورت دے؟!

لکه ډیر خلك د مساجدو امامان رفع الیدین نکوی، آمین په زوره نۀ وائی، نورو سنت طریقو ته دعوت نۀ ورکوی وائی چه دا خلك نوی دی، ددے مسلمانانو څوارلس سوه کاله وشو اُوس هم نوی دی تر اُوسه پورے دوی زاړۀ نشو!!۔

نبی علیه السلام په دغه سختو حالاتو کی دا مسئله هم بیانوی چه د خلکو ذهن نۀ ور رسیږی زۀ وایم که دے زمانه کی دا مسئله بیانه شوے وے څه نا څه ذهن اخستله ځکه چه خلك په جهازونو کی په لږ وخت کی لرے لرے سفرے کوی او داسے سائنسی آلات ایجاد شویدی چه بندگان پرے وریځے او سپوږمئ ته خیژی څه نا څه مثال ئے شته هغه زمانه کی ئے مثال هم نۀ وو چه یو انسان په هوا والوځی آسمان ته دے وخیژی ددے مثال ئے نۀ وو لیدلے مونږ خو ډیر مثالونه لیدلی دی۔ لیکن نبی علیه السلام پدے مکلف دے چه دا مسئله به بیانوی نو رسول الله ﷺ داسے د پریشانئ په حالت کی ناست دے۔

د اتفاقیاتو نه عجیبه دا وه چه ابوجهل پرے ورتیر شو هغه ته ئے وویل (يَا ابْنَ أَخِيْ !) اے وراره ! (د استهزاء په طور ئے دا خبره وکړه) : (مَاذَا أُوْحِيَ اِلَيْكَ؟)۔

بیا درته څه وحی شویده؟، توقے ئے ورپورے کولے نو نبی علیه السلام ورته وویل : ما ته خو ناشنا وحی شویده،

ابوجهل : څه وحی شویده؟ نبی علیه السلام وفرمایل: زهٔ خو بیګاه شپه بیت المقدس ته لاړم۔

هغه وویل : په یوه شپه کی؟ نبی علیه السلام وفرمایل په یوه شپه کی بیت المقدس ته تلے یم۔ ابوجهل سمدستی تکذیب ونکړو چه ته دروغ وائے بلکه هغهٔ ئے پدے خبره کلك کولو نو ابوجهل وویل : دا خبره بل چا ته هم کولے شے که یواځے ما ته دے وکړه، نو پدے کی ابوجهل دے خلکو ته آواز وکړو : (یَا مَعْشَرَ قُرَیْشٍ!)۔

اے قریشو! راجمع شئ، قریش ئے راجمع کړل، پدے کی مسلمانان هم راجمع شو او مشرکان هم۔

نو ابوجهل وویل : (اِسْمَعُوْا مِنْ مُحَمَّدٍ) د محمد (علیه السلام) خبره واورئ!۔ د ابوجهل مقصد دا وو چه دا خبره به وکړی او خلك به د نبی علیه السلام نه واړوی لکه د بعضو خلکو تول کوشش اومحنت دا وی چه خلك د نبی علیه السلام د طریقے نه واړوی، نو ابوجهل ورته وویل چه تا ما ته کومه خبره وکړه هغه دوی ته هم وکړه، نو نبی علیه السلام وویل : بیګاه شپه الله زهٔ بیت المقدس ته بوتلم او دا لا څه چه د هغه ځای نه ئے آسمانونو ته وخیژولم او داسے داسے واقعات راباندے راغلل۔

هغوی ورته وویل : په یوه شپه کی ؟ نبی علیه السلام وفرمایل: آؤ په یوه شپه کی نو تولو خندا او توقے او مسخرے شروع کړے چه تر اُوسه پورے دے سړی څه د عقلمندئ خبرے کولے اُوس ئے د بے عقلئ خبرے شروع کړے نو پدے کی بعض کمزوری ایمان والا هم (العیاذ بالله) کافر شو، دا د الله تعالیٰ د طرفنه ابتلاء او امتحان وو، کله الله تعالیٰ داسے امتحان او ابتلاء کوی چه داسے مسئله به مینځ ته راولی چه ستا عقل به ورته نهٔ رسیږی الله تعالیٰ بنده معلوموی چه زما حکم منی او که عقل پرست دے، ډیر خلك د قبر عذاب نهٔ منی ځکه عقل ئے ورته نهٔ رسیږی، د رسول الله ﷺ احادیث نهٔ منی ځکه چه د هغے په حکمت نهٔ پو هیږی،

بعض ډاکټران د قرآن کریم آیتونه او ډیر داسے احادیث نهٔ منی چه هغه ورته د سائنس خلاف ښکاری حال دا چه سائنس خویو تجرباتی علم دے او تجربه کله خطاء

کیـږي هـم او د الله او د رسـول خبرې د کانړي کرښې دي هیڅ خلاف پکې نشته هغې ته تسـلیمیـدل پکـار دي اګرکه د بنده ذهن نهٔ ور رسیږي ځکه چه د الله علم کامل دے او زمونږ د بندګانو علم او عقل ناقص دي۔

الغرض دا چه داسې ابتلاء الله کله راولي په هغې کې ډیر خلك پیل شي۔

نـو پـدې ابتـلاء کې بعض د ایمان دعویدار هم اختـه شول هغوی وویل : چه دے نبي تـر اُوسه پورې ښې خبرې کولې چه عقل اخستلې اوس داسې خبرې کوي چه عقل ئې نهٔ اخـلـي دا څنګه ومنو چه په یوه شپه کې بیت المقدس ته ورسیږي او بیرته راشي حال دا چـه هـغـه ځای ته یو میاشت مزل دے، او عامو خلکو خنداګانې شروع کړې چه پدې سره نبي علیه السلام ډیر زیات پریشانه شو۔

(الاسراء والمعراج لمحمد بن رزق الطرهوني) والسیرة النبویة لابن کثیر ۲/۹٦)

پـدې کـې ابـوجـهـل لاړو ابوبکر پسې چه دا ددهٔ خاص ملګرے دے چه دا خو ترې واړه وو هـغـه ته به دا خبره وکړو هغه به ترې هم منکر شي، ابوبکر ددې واقعې نه ددے وخته پـورې خبر شوے نهٔ دے نو پدې کې سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه په لاره روان وو چـه ابـوجـهـل ورسـره مـلاؤ شـو او ورته ئې وویـل چه ستا ملګری خو نن ناشنا بله خبره کـړیده هغه وویل : څه دي؟ ابوجهل ورته وویل : هغه وائي چه زهٔ په یوه شپه کې بیت الـمقدس تـه تـلـې یم او بیـرته راغلې یم نو ابوبکر وویل : آیا هغه دا خبره کړیده ؟ دوی وویـل : آؤ، ابوبکر وویـل : که هغه دا خبره کړې وی نو رشتیا ئې وئیلي دي، دوی وویـل : آیا تـهٔ ددې تـصـدیـق کـوې چـه هـغـه د شپې بیت المقدس ته تلې دے او بیرته د صبا د راختلو نه مخکې واپس راغلې دے؟ ابوبکر صدیق رضی الله عنه وفرمایل:

هغه خولا یوه شپه یاده کړیده : (اِنِّیْ لَاُصَدِّقُهٗ فِیْمَا هُوَ اَبْعَدُ مِنْ ذٰلِكَ)

زهٔ د هـغـه تـصدیق کوم په هغهٔ څه کې چه ددے نه هم ډیر لرې وي یعنی که ددے نه لـرې یادوی او د یـوې شپې نه کم وخت یادوی هم زهٔ د هغه تصدیق کوم، هغه مونږ ته د آسمان او د عرش خبرې صبا او بیګاه کوی هغه ورله مونږ منلي دي نو دا خبره خو څه ګرانه نهٔ ده چه بیت المقدس پورې په یوه شپه کې لاړ شي او راشي۔

ابـوجـهـل ددهٔ پـه ایـمـان بـانـدې تـعـجب وکړو، ددې وجـه نـه ابوبکر تـه صدیق نوم کیښودے شو یعنی د الله د طرفه د راغلې هرې خبرې تصدیق کونکے، او یقین د الله رب

العالمین ډیر اُوچت نعمت دے چه الله تعالیٰ ئے چا ته ورکړی پدے سره په لړ عمل کی ډیر طاقت پیدا کیږی۔

پدے کی ابوبکر صدیق هم دے مجلس ته راغے او خلك هم دی، نو ابوبکر صدیق اراده وکړه چه مشرکانو ته د رسول الله ﷺ صدق او رشتینوالے ورښکاره کړی او نبی علیه السلام خپله هم اراده وکړه چه یو څه نښے ورته وښائی نو رسول الله ﷺ اول دا کار وکړو چه یو څو نښے ئے ورته وښودلے چه زما د تللو نښه دا ده چه یوه قافله په فلانی علاقه کی راروانه ده او درے ورځے روسته به راورسیږی ما هغه پدے لاره کی لیدلے ده۔

دویم دا چه دهغے مخے ته یو تَک سور اُوښ راروان دے هغه به مخے ته وی او نور اُوښان به وریسے وی۔

او دریمه دا واورئ چه د هغوی سره اُوبه وے په لوښی کی زهٔ ورغلم او هغه اُوبه مے ترے وڅکلے نو مشرکینو وویل چه مونږ انتظار کوو که ستا خبرے چرته رشتینی وے، ستا خبره به ومنو او که دروغ وی نهٔ به ئے منو،

پدے کی درے ورځے روسته مشرکان ورووتل معلومات ئے کولو نو قافله په همغه تاکلی وخت او صفت سره راغله څنګه چه نبی علیه السلام وئیلی وو۔

مشرکانو د قافلے والو نه تپوس وکړو چه رشتیا ستاسو نه اُوښ تښتیدلے وو؟

هغوی وویل: آؤ، دلائل النبوة للبیهقی باسناد صحیح ۳۵۵/۲)

دوی تپوس وکړو چه رشتیا تاسو سره اُوبه په هغه لوښی کی پرتے وے او د شپے تاسو نه چا څکلے وے او تاسو ته څه معلومات نهٔ وو او لوښے همغه شان پروت وو قافلے والو وویل : آؤ، دا کارونه هم شوی وو۔

دا ټول معجزات هغوی ولیدل د نبی علیه السلام د رشتینوالی نښے وے او مشرکانو ته بالکل ښکاره شوے۔

په دغه ورځ ابوبکر صدیق دا نښه ښکاره کړه چه مشرکانو ته ئے وویل چه تاسو ته معلومه ده چه نبی علیه السلام هیڅکله هم بیت المقدس ته نهٔ دے تلے (مخکی ئے سفر یو کرت شام ته کړے وو لیکن بیت المقدس ته نهٔ وو تلے مشرکانو ته دا تاریخ معلوم وو)،

نو سیدنا ابوبکر رضی الله عنه مشرکانو ته وویل چه که دا نبی تاسو ته د بیت المقدس بعضے نښے بیان کړی ویه ئے منئ؟

هغوی وویل پکار ده چه وے منو نو ابوبکر صدیق رضی الله عنه پوښتنه وکړه چه اے د الله رسوله! بیت المقدس څنګه دے؟ هغه جواب وکړو چه داسے رنګ ئے دے داسے شکل ئے دے، دومره دروازے ئے دی همغه شان نښے ئے وویلے څنګه چه د دوی په ذهن کی وو څکه دوی خو لیدلے وو،

نو پدے کی مشرکانو د باریکاتو تپوسونه شروع کړل یو پکی وویل چه په بیت المقدس مسجد کی څو ستنی دی څوك کړکئ دی؟۔ نبی علیه السلام فرمائی: چه زۀ خو دے پسے نۀ وم تلے چه دا به شمارم څکه دا کار خو عبثیاتو والا خلك کوی چه یوے علاقے ته ورشی ستنے، دروازے، کړکئ، بلفونه شماری نو زۀ ډیر پریشانه شوم د هغے حال مے ورته نشو وئیلے څکه چه هغه ما نۀ وو یاد کړی، د یادولو په غرض خو زۀ مسجد اقصیٰ ته نۀ وم ننوتے نو د الله نه مے سوال وکړو چه مدد مے وکړی نو الله رب العزت بیت المقدس را اُوچت کړو او زما مخے ته ئے ودرولو ما ورته کتل، دوی به تپوس کولو او ما به جواب ورکولو نو د هرے خبرے جواب مے ورله وکړو،

او دا د نبی علیه السلام د نبوت دلائل وو چه د رسول الله ﷺ پدے سفر باندے دا نښے نښانے هم دوی ته ښکاره شوے لیکن بیا هم (فَزَادُوا كُفْرًا اِلَى كُفْرِهِمْ) د دوی کفر نور هم زیات شو او ضد او عناد ئے شروع کړو، ضد او عناد داسے بد شے دے چه ښه دلیل به سړی ته واضحه شی او بیا به هم لتی وهی چه زۀ ئے نۀ منم۔

د سپوږمۍ چاودل

پدې ځای کې نبي علیه السلام د الله تعالیٰ په اِذن سره یو دوه غټې معجزې نورې هم ښکاره کړې چه مشرکانو ته ئې وویل چه که تاسو ته زهٔ یوه داسې معجزه دروښایم چه په آسمان کې وي وبه ئې منئ؟ مشرکینو هم دا مطالبه کړې وه چه تهٔ د زمکې معجزې مونږ ته ښائې نو په آسمان کې راته وښایه ستا خبره به ومنو.

نبي علیه السلام ورته وفرمایل که دا سپوږمۍ الله تعالیٰ زما په وجه ماته کړي تاسو به خبره ومنئ؟ نو نبي علیه السلام د دوي سره وعده وکړه چه کله سپوږمۍ د پنځلسمې شپې شي تاسو راجمع شئ هغوي راجمع شو نبي علیه السلام سپوږمۍ ته اشاره وکړه هغه په مینځ وچاودله چه نیم طرف ئې د غره (جبل ابو قُبَیس) په یو طرف او نیم ئې د غر په بل طرف پریوتو او خلکو ورته کتل بیا الله سبحانه وتعالیٰ بیرته زر یو ځای کړه او پورته ئې وخیژوله ټولو خلکو دا معجزه ولیده نو دوي وویل:

﴿سِحۡرٌ مُّسۡتَمِرٌّ﴾ ډیر تریخ جادو ورسره دې چه په آسمانونو باندې هم اثر کوي، د زمکې نه ئې جادو آسمان ته ورسیدهٔ دومره سخت جادوگر دې.

پدې خبره باندې ئې ځان خلاص کړو او دا داسې معجزه وه چه د دنیا عامو انسانانو ولیدله، د مکې نه علاوه د عامې دنیا خلکو هم ډیر تعجب وکړو، په هندوستان کې خلکو ولیدله چه سپوږمۍ ماته شوه، هندوان او ډیر کافران تاریخ د هغه شپې نه حسابوي چه د سپوږمۍ د چاودلو نه روسته فلانکې کار وشو او دا تاریخي واقعه ده او دا معجزه په مسلمانانو کې هم متواتره راروانه ده.

قرآن کریم کې الله تعالیٰ دا واقعه بیان کړیده:

﴿اِقۡتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانۡشَقَّ الۡقَمَرُ﴾

د قیامت ورځ رانزدې شوه او سپوږمۍ وچاودله).

د سپوږمۍ چاودل د قیامت نښه ده چه قیامت راتلونکې دې داسې به دا کائنات هم ماتیږي، اُوسنی سائنسدانان هم وائي چه په سپوږمۍ کې یو چاودې دې چه په یو وخت کې دا ماته شوې وه، دا دلیل دې چه سائنسي علوم هم د قرآن او حدیث تائید

کوی۔

پدے سره د مؤمنانو ایمان زیاتیږی الله فرمائی: ﴿ وَيَزْدَادَ الَّذِينَ آمَنُوا إِيمَانًا وَّلَا يَرْتَابَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتٰبَ ﴾ (المدثر: ۳۱)۔ دے سره د مؤمنانو په ایمان کی نور زیادت راځی۔

مشرکانو به قسم قسم طریقو سره د نبی علیه السلام د پړکولو او چُپ کولو کوشش کولو۔

د نبی علیه السلام پهلوانی

تاریخی روایتونو کی راځی چه یو پهلوان (ابو الْأَشَدِّين الجُمَحِي) ته الله تعالیٰ دومره طاقت ورکړے وو او بدن ئے دومره مضبوط وو چه په یوه څرمنه به ودریدلو نو چا به د هغے نه نشو لرے کولے که هرڅومره کسان به ورپسے ونښتل نو هغه به په ځای باندے ولاړ وو تردے چه د څرمنے حصه به وشوکیدله۔

تفاسیرو کی راځی چه دا آیتونه د هغه په رد کی نازل شویدی کوم چه په سورة البلد کی راغلی دی:

﴿ أَيَحْسَبُ أَنْ لَّنْ يَّقْدِرَ عَلَيْهِ أَحَدٌ ﴾ آیا دے گمان کوی چه په دهٔ به څوک قادر نهٔ وی۔ هغه به ویل چه په ما څوك قادر نهٔ دے، زهٔ لوی قدرت والا یم۔ بعضو انسانانو ته الله تعالیٰ قدرت ورکړی غلط ئے استعمال کړی، یو هغه ورته ورکړی هغه غلطه استعمالوی لکه اُوس کفار وائی: (أَشَدُّ قُوَّةً عَسْكَرِيَّةً فِي الْعَالَمِ)

مونږ په عالَم کی په فوجی طاقت سره ډیر طاقتمند یو لکه عادیانو به ویل:

﴿ مَنْ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً ﴾ (حم السجدة: ۱۵) (زمونږ نه څوك لوی طاقتور دے)۔

نو دهٔ به هم دا خبره کوله چه زهٔ پهلوان یم، دا د رسول الله ﷺ سره ملاو شو ورته ئے وویل چه ما له په څملولو راشه یعنی مصارعه (څملکولی) راسره وکړه که زهٔ دے راڅملولم ته به په حقه ئے، زهٔ به ایمان راوړم، د الله نبی ورله ورغے نو هغه ئے په ډیره آسانئ سره راڅملولو ځکه چه نبی علیه السلام ته الله تعالیٰ د څلویښتو ځوانانو طاقت ورکړے وو لکه د سیدنا انس بن مالك رضی الله عنه نه نقل دی چه نبی علیه السلام ته الله تعالیٰ د څلویښتو جنتی ځوانانو زور ورکړے وو او د یو جنتی ځوان

طاقت د دنیا والو د سلو کسانو زور لری گویا که رسول الله ﷺ ته د څلورو زرو کسانو طاقت ورکړے شوے وو او دا د نبوت طاقت وو، نو ابوالاشدین تعجب وکړو او په ضد کی راغے چه دا څنګه وشو چه زۀ ئے خجالته کړم نو د ضد د وجه نه په خپل کفر نور سخت شو۔

یو بل کس وو یزید بن رُکانه دا هم یو پهلوان وو هغه هم نبی علیه السلام سره دا شرط ایښے وو چه تۀ ما سره څملول وکړه که زۀ دے راڅملولم ایمان به راوړم، نبی علیه السلام هغه ته ورغے هغه ئے راڅملولو لکه دا په یو صحیح روایت کی راغلی دی، دویم ځل ورغے بیا ئے په ډیره آسانئ سره راڅملولو نو یزید (رضی الله عنه) ایمان راوړو او وے ویل چه زۀ په عربو کی هیچا نۀ یم راڅملولے هر څو مره عرب چه زما مخے ته راغلی دی هغه ما راڅملولی دی او تۀ چه ما داسے په آسانئ سره راڅملوے ددے نه معلومیږی چه تا سره باطنی طاقت دے او هغه د الله طاقت دے پدے وجه باندے زۀ ایمان راوړم نو صحابی ترے جوړ شو۔ (السیرة النبویة لابن کثیر۲/۸۲)

او دا هم د نبی علیه السلام یو قسم معجزه ده چه مشرکینو ته به ئے ښکاره کوله چه الله تعالیٰ دومره طاقت ورکړے سره ددے نه چه نۀ ئے چرته پهلوانی کړیده او نۀ ئے کراټی او باډی بلډری کړیده او نۀ ئے چرته د عامو انسانانو نه بدن غټ دے۔

د نبی ﷺ په قبائلو باندے ځان پیش کول

دا لسم کال د نبوت دے میلادی سنه (۶۱۹ء) ده پدے کی نبی علیه السلام پدے حالت کی وو چه خپل کار او دعوت به ئے همغه شان جاری ساتلو، که مشرکین هر څومره خلاف او ضد کوی خو نبی علیه السلام ته چه کوم کار سپارلے شوے وو هغه ئے نۀ پریښودو، دعوت به ئے قبائلو ته هم ورکولو او عامو افرادو ته هم او څوك چه به مکے مکرمے ته د بهر نه راتلل هغوی ته به ئے هم دعوت ورکولو ځکه مکه مکرمه د عامو انسانانو مرکز وو کوم خلك چه د دین منونکی وو، مختلف خلك به دلته راتلل نبی علیه السلام به هغوی ته دعوت ورکولو۔

رسول الله ﷺ تقریباً پنځلسو قبیلو ته دعوت ورکړیدے په مختلفو کلونو کی،

پنځلس غټو غټو قبائلو ته ئے ځان پیش کړیدے، د هغه د دعوت طریقه دا وه چه آسان او لنډ دعوت به ئے کولو دا قبائل په منیٰ کې په یو ځای بل ځای کې پراته وو او کله به میلو کې وو د عربو عادت دا وو چه کله به حج ته راتلل نو درے میاشتے مخکې به راتلل شوال ذو القعده او ذو الحجه دوی به مخکې احرام وتړلو او د خپلو کورونو نه به راروان شو او ذو المجاز، مجنه او عکاظ میلو کې به ئے بیع شراء (اخستل خرڅول) کول، تجارتونه به ئے کول تردے چه د حج ورځے به راغلے نو دا میلے به ئے بندے کړے ددے وجه نه چه کله اسلام راغے صحابه کرامو رضی الله عنهم ووېل چه دا خو د مشرکانو میلې دی دیته به اُوس ورتلل جائز وی او که نهٔ ؟ نو الله رب العالمین دا آیت نازل کړو :

﴿لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَبْتَغُوا فَضْلًا مِنْ رَبِّكُمْ﴾ (البقره:۱۹۸)۔

په تاسو هیڅ ګناه نشته چه تجارت وکړئ او حلال رزق طلب کړئ)

نو د هغوی میلو ته ورتلل حرام نهٔ دی، حلال شے په ځان باندے مهٔ حراموئ۔

(**فائده** : عکاظ میله به په اول د ذی القعده کې شروع کیده شل ورځے به وه بیا به د هغے نه روستو لس ورځے مَجِنّه میله وه او د هغے نه روستو به اته ورځے د ذی الحجے پورے د ذی المجاز میله وه او په نهمه ورځ به بیا عرفات ته ورتلل۔ مجنه په مر الظهران کې وه او عکاظ د طائف نه شمال مشرقی طرفته پنځه دیرش کیلو میټره وړاندے وه اُوس ورته الحویه علاقه وه پدے ځای کې عکاظ بازار[1] دے۔ او ذی المجاز د عرفات شا ته وه درے میله وړاندے۔ (المعالم الاثیرة ۱/۲۰۷)

نبی علیه السلام پدے میلو کې دا آوازونه کول :

(أَيُّهَا النَّاسُ ! قُولُوا لَا إِلٰـهَ إِلَّا اللّٰهُ تُفْلِحُوا)

اے خلکو !کلمه د توحید ووایئ الله به درله کامیابی درکړی)۔

ځکه چه عربو کې د شرك ماده وه د الله سره به ئے برخه داران جوړول، په هره قبیله او هره علاقه کې بت خانے وے د هغے عبادتونه به کیدل، د رسول الله ﷺ د زمانے نه درے سوه کاله مخکې دا شرك شروع شوے وو لکه دا خبره مونږ مخکې ذکر کړیده۔

دویم کار به نبی علیه السلام دا کولو چه خلکو ته به ئے وېل :

(أَلَا رَجُلٌ يَحْمِلُنِي إِلٰى قَوْمِهٖ فَأُبَلِّغَ كَلَامَ رَبِّي فَإِنَّ قُرَيْشًا قَدْ مَنَعُوْنِي أَنْ أُبَلِّغَ كَلَامَ رَبِّي)

اے خلکو ! پہ تاسو کی یو سړے نشتہ چہ ما خپل قوم تہ بوځی چہ زۀ د خپل رب کلام ورسوم او هغوی تہ قرآن بیان کړم ځکہ چہ قریش ما ددینہ منع کوی چہ زۀ د خپل رب کلام ورسوم)، اللہ پہ ما باندے کلام نازل کړیدے او قریش مے دیتہ نۀ پریدی چہ زۀ ئے بیان کړم نو تاسو کی څوک نشتہ چہ ما ځان سرہ بوځی او هلتہ ما تہ حفاظت راکړی او زہ هلتہ د اللہ قرآن بیان کړم۔

نو د نبی علیہ السلام دعوت تہ فکر وکړہ چہ هغہ بہ د کافرانو پہ میلو او بازارونو کی ګرځیدو او هغوی تہ بہ ئے دعوت ورکولو او ځان لہ ئے طاقت پیدا کولو او د حفاظت ځای ئے کتلو او ځان سرہ ئے ملګری پیدا کول چہ هغہ ئے شا تہ ولاړ وی،

ولے کہ داسے ځای ځان لہ پیدا نکړی او کار شروع کړی کیدے شی چہ کامیابی مونده نکړی نو نبی علیہ السلام بہ اسباب ځان لہ پیدا کول چہ ما سرہ یوہ قبیلہ ملګری شی چہ زۀ دعوت کوم او ددے نورو کفارو مقابلے تہ راسرہ ودریږی، او بیا دا دعوت د اخوا دیخوا خبرو نۀ وو بلکہ (فَأُبَلِّغَ كَلَامَ رَبِّي) چہ د اللہ کلام (قرآن) ورسوم، نو دعوت بہ د اللہ د کتاب نہ کولے شی، قرآن بہ رسوی، د هغے درسونہ د هغے الفاظ اود هغے تفسیر او د هغے احکام بہ خلکو تہ رسوی، اصلی دین دغہ دے چہ قرآن بیان شی، کہ پہ یو دعوت کی قرآن نۀ وی هغہ څہ دعوت نۀ دے هغہ بہ هسے یو وعظ او نصیحت وی یا بہ وړاندے شان قصے وی چہ دومرہ فائدہ بہ ئے نۀ وی کہ فائدہ پکی وی هم لږہ بہ وی او نقصانات بہ د هغے نہ ډیر پیدا کیږی،

او هر چہ قرآن دے نو دا خو قانونی کتاب دے، د ایمان کتاب دے د وعظ کتاب هم دے، هر څہ پدے کتاب کی دی، دا واقعی خبرہ دہ هسے د ځان نہ خبرہ نۀ دہ چہ بی حقیقتہ وی، هرڅومرہ چہ زړونہ کمزوری کیږی دومرہ د قرآن نہ جدا کیږی او زړہ چہ کلہ ژوړ کیږی او حکمت پکی پیدا کیږی د قرآن سرہ ئے مینہ زیاتیږی، قرآن کریم کی اللہ تعالیٰ ډیر کمالات اچولی دی۔

او روستہ بہ راشی چہ د نبی علیہ السلام د دعوت طریقہ دا هم وہ چہ هغہ بہ بعض ملګری بهر ملکونو تہ لیږل دے دپارہ چہ د هغہ ځائی خلکو تہ قرآن کریم وښائی او د هغے احکام ورتہ بیان کړی او د هغوی فیصلے پہ کتاب او سنت باندے وکړی لکہ سیدنا معاذ بن جبل، سیدنا ابو موسی الاشعری، او سیدنا خالد بن هبیرہ رضی اللہ

عنهم ئے لیږلی وو، مدینے ته ئے سیدنا مصعب بن عمیر رضی الله عنه لیږلے وو، ددے وجه نه د قرآن درسونه عام کول، دیته خلك رابلل دا د رسول الله ﷺ طریقه ده دے سره اصلاح د عالَم بنه کیږی، یو ځای بل ځای کی د قرآن درس وی خلك ورته راجمع کیږی نو دے سره ډیره اصلاح کیږی دغه نبوی طریقه ده۔

نو نبی علیه السلام به په ډیرو قومونو ځان پیش کړو لیکن هغوی به انکار کولو د انکار وجه دا ده چه دیته تینګیدل ګران کار وو چه دا نبی مونږ ځان سره بوځو نو د ټولو عربو او عجمو دشمنان به شو ټول خلك به زمونږ خلاف شی، اقتصادی پابندیانی به ولګی، جنګونه به راسره کوی، په لاره به مو نهٔ پریدی، دا خو اُوس نبی علیه السلام وفات دے ځکه مونږ داسے خبرے کوو کله چه هغه حاضر وی او تا نه مطالبه وکړی چه ما بوځه خپل کلی ته او ټوله دنیا دے خلاف کیږی او دشمنی درسره کوی بیا به ددے زور در معلوم شی مګر نبی علیه السلام ته پناه ورکول د لړو کسانو په نصیب شوله۔

بله وجه دا وه چه دلته د مشرکینو غلط دعوت هم شروع وو، ابولهب به هم دعوت کولو، مشرکانو به داسے دعوت کولو چه دا یو ساحر جادوګر سړے دے :

(لَاتَسْمَعُوْا لِهٰذَا الصَّابِیْ فَاِنَّهٗ کَذَّابٌ)

دا یو صابی سړے دے ددهٔ خبره مهٔ منئ یقیناً دا دروغجن دے،

روستـه به پسے دا دعوت هم کیدلو او کله چه غلط دعوت شروع وی او نیك دعوت هم کیږی نو ډیر لږ خلك خبره منی کوم چه بصیرت والا وی او عام خلك په ها هو پسے روان وی، اکثر خلك باطل پسے روان وی، د حق پیژندونکی او بصیرت والا خلك ډیر کم وی۔

دریمه وجه دا وه چه عربو به دا وئیل چه په دهٔ باندے مونږه ځکه ایمان نهٔ راوړو چه ددهٔ قوم په دهٔ بنه عالِم دے خپل قوم ئے بنه پیژنی نو هرکله چه خپل قوم پرے ایمان نهٔ راوړی هغه ورسره نهٔ ملګری کیږی نو مونږ ورسره څنګه ملګری شو۔

تـهٔ پدے قوم کی یی چه ستا دا قوم ستا مرتبه، علم او هر صفت بنه پیژنی نو هرکله چه قوم خبره نهٔ منی بل څوك ئے څنګه ومنی نو عربو یو دا دلیل وئیلو۔

روستـه زمانه کی عربـو دا دلیـل هـم وئیلو چه دا پریدئ که دا په خپل قوم باندے

غالبه شو نو دا به حق نبي وي څکه چه ابرهه پرے نهٔ دے غالبه شوے چه هغه يو زورور بادشاه وو نو که دا پرے غالبه کيږي دا به حق نبي وي او که دا پيغمبر په خپل قوم باندے غالبه نشو او وے وهلو ختم ئے کړو نو مونږ به هم ترے خلاص شو نو دا انتظارئے کولو۔

داسے انتظار اوس هم بعضے طلباء کوي چه ورته ووائي چه هلکه دا حق ولے نهٔ منئ؟ نو وائي به چه فارغ شو بيا به تحقيق کوو حال دا چه دا مسکين پدے نهٔ دے پوهه چه که د فراغت نه مخکې مرګ راشي بيا به څه وي ؟ د سنتو په مخالفت او غلطه عقيده کې به مړ شے، بلکه د حق په منلو کې جلتي پکار ده۔

غرض دا دے چه رسول الله ﷺ به خلکو ته دعوت ورکولو ډيرو خلکو به استجابت نهٔ کولو، نه به ئے منلو، پدے لسم کال باندے نبي عليه السلام يو څو قومونو ته او بعضے کسانو ته دعوت ورکولو چه د هغے مختصره خلاصه داسے ده :

بنو کلب ته دعوت

رسول الله ﷺ يو قوم ته ورغلو چه هغوی ته ئے بنو کلب وئيل په هغے کې يوه وړه قبيله وه هغوی ته ئے بنو عبد الله وئيل (د عبد الله بچي) هغوی ته ورغلو، نبي عليه السلام د اسلام دعوت ورکړو، قرآن ئے پرے ولوستلو، دعوت کې به هغه قرآن لوستلو چه الله په ما داسے کتاب راليږلے دے، تاسو واورئ، قرآن ډير مؤثر کتاب دے، عرب پرے پوهيدل او دا ئے هم ورته ووئيل : (إِنَّ اللّٰهَ قَدْ أَحْسَنَ اسْمَ اَبِيْكُمْ)

الله سبحانه وتعالیٰ ستاسو د پلار ډير ښه نوم ايښے دے چه عبد الله (د الله بنده) دا څومره ښکلے نوم دے (په نومونو کې غوره نوم عبد الله او عبد الرحمن دے لکه صحيح احاديثو کې ددے صفت راغلے دے) نو ستاسو د پلار ډير ښکلے نوم دے اے خلکو راشئ، خبره ومنئ، ايمان راوړئ، هغوی تيار نشو چه په رسول الله ﷺ ايمان راوړي او هغه ته پناهي ورکړي ددے خير نه الله محرم کړل۔

دارنګه نبي عليه السلام بنو حَنِيفه قبيلے ته ورغلو او هغوی ته ئے دعوت ورکړو چه راشئ په ما باندے ايمان راوړئ ما ته پناهي راکړئ هغوی ورله ډير سخت جوابونه

ورکړل په ټولو قومونو کې د دوی بد اخلاقي ډېره وه، مشرانو کې ئے بد اخلاقي وه روسته کشرانو کې هم بد اخلاقي راغله بیا د اسلام سره روسته دوی ډېرے سختے مقابلے هم کړیدي، مسَیلمة الکذاب په بنو حنیفه کې پیدا شو هغه د نبوت دعوت وکړه روسته دا قصه راځي ان شاء الله۔

او د صحابه کرامو ئے ډېره سخته مقابله کړیده د سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه په زمانه کې دا بنوحنیفه مرتد شوی هم دي، د مسلمانانو سره ئے سختے مقابلے کړیدي او ډېر کسان ئے شهیدان کړیدي۔

دارنګه نبي علیه السلام یو بل قبیلے ته دعوت ورکړو (بنو عامر بن صعصعه) هغوی ته ئے وویل چه ایمان راوړئ کلمه ووایئ ما خپل قوم ته بوځئ هلته ما له حفاظت راکړئ نو په دوی کې یو سړے وو چه د هغه بَیْحَرَه بن فِراس نوم وو د هغه په زړهٔ کې دنیا پرستي وه (کله چه یو سړے د دین کار د دنیا په نیت کوي په هغے کې الله سبحانه وتعالیٰ برکت نهٔ اچوي، د دین هر کار د الله د مخ د خاطره کول پکار دي مخکې په واقعه د ابو طالب کې مونږ وویل چه دهٔ د نبي علیه السلام ځلویښت کاله خدمت کړے وو لیکن بیا هم ورته الله تعالیٰ هدایت ورنصیب نکړو وجه دا وه چه ددهٔ دا خدمت د الله د رضا او د هغه د مخ د خاطره نهٔ وو بلکه د قومیت او د غیرت په بناء وو او د خپلولئ په اساس وو)

نو دے بَیْحَره وویل: (وَاللّٰهِ لَوْ أَخَذْتُ هٰذَا الْفَتٰى لَأَكَلْتُ بِهِ الْعَرَبَ)۔

قسم په الله که زهٔ دا ځوان راواخلم او لاس کې ئے ونیسم نو پدے سره به عرب وخورم)۔ وجه دا ده چه پدے سړي کې داسے کشش دے چه خلك پرے راجمع کیږي نو دا عرب به پرے ووهم او مشري به پرے وکړم، نبي علیه السلام ته ئے وویل چه صحیح ده مونږ په تا ایمان راوړو او ستا تابعداري کوو لیکن دا پوښتنه کوو که چرته تا ته الله تعالیٰ غلبه درکړه: (أَيَكُوْنُ الْأَمْرُ لَنَا مِنْ بَعْدِكَ؟) ۔ آیا بیا به ستا نه روسته خلافت او بادشاهي مونږ ته راکوے؟، دا وعده مونږ سره وکړه، د الله نبي ورته داسے ونهٔ وئیل چه ګورو به صحیح ده بیا به ئے درکړو هغه وفرمایل:

(اَلْأَمْرُ لِلّٰهِ تَعَالٰى يَضَعُهٗ حَيْثُ يَشَاءُ)۔

مشري او خلافت د رب العالمین په لاس کې دے هغه ئے چه چا ته ورکوي د هغه

خوښه ده۔ د اُوس نه دا وعده زهٔ تاسو سره نشم کولے۔

(پدے کی هم زمونږ دپاره د عبرت خبره ده، بعض مجاهدینو ته فتح او غلبه لا راغلی نهٔ وی او دوی په خپل مینځ کی په مشریٔ وران وی چه مشر به څوك وی هر سړے خپله پارټی او تنظیم مخکی کول غواړی، نیت خراب شی پدے وجه اکثر غلبه نهٔ راځی د مشریٔ غمونه نهٔ دی پکار بلکه د خپل دین غم پکار دے)۔

نو دے بنو عامرو د رسول الله ﷺ نه د هغه د وفات نه روستو د مشریٔ طلب وکړو نو نبی علیه السلام ښائسته جواب ورکړو نو دوی وویل؛

(أَفَتُهْدَفُ نُحُوْرُنَا لِلْعَرَبِ دُوْنَكَ ثُمَّ إِذَا أَظْهَرَكَ اللّٰهُ يَكُوْنُ الْأَمْرُ لِغَيْرِنَا لَاحَاجَةَ لَنَا بِأَمْرِكَ)۔

آیا مونږ به ستا په حفاظت کی د عربو د مقابلے دپاره خپلے سینے نیولی وی ځان به مړ کړو بیا چه غلبه راشی مشری به د بل چا وی زمونږ دے دین ته حاجت نشته)،

نو دوی دین کی د دنیا دپاره داخلیدل پدے وجه الله تعالیٰ ورته توفیق ورنکړو۔

د سیرت په کتابونو کی راځی چه کله دوی د حج نه واپس لاړل خپلے علاقے ته نو د خپل قوم یو بوډا سړی سره ئے ملاقات وکړو چه د دوی مشر وو او حج ته د کمزوریٔ او بوډاوالی د وجه نه نهٔ وو راغلے هغه ته ئے دا واقعه بیان کړه چه د عبد المطلب په اولادو کی یو سړے وو چه نوم ئے محمد وو هغه ویل زهٔ نبی یم په ما ایمان راوړیٔ او توحید ومنیٔ، شرك پریدیٔ او ما ته پناه راکړیٔ لیکن مونږ ترے مشری طلب کړه هغه زمونږ دا مطالبه ونهٔ منله او وے وئیل چه دا د الله خوښه ده نو مونږ د هغه نه انکار وکړو۔

هغه بوډا سړے ډیر هوښیار وو او په عربو کی هوښیارتیا او عقلمندی د پخوا نه وه په خبره ډیر ښه پوهیدل او کمالات پکی وو نو هغه وویل :

(يَا بَنِيْ عَامِرٍ...... فَأَيْنَ كَانَ رَأْيُكُمْ عَنْهُ؟)

اے بنو عامرو! ستاسو رأیه او عقل چرته تلے وو چه تاسو پدے سړی ایمان نهٔ راوړو :

(وَالَّذِيْ نَفْسُ فُلَانٍ بِيَدِهٖ مَا تَقُوْلُهَا إِسْمَاعِيْلِيٌّ قَطُّ)

قسم په هغه ذات چه زما نفس د هغه په لاس کی دے داسے خبره په عربو کی هیچا نهٔ ده کړے چه هغه د نبوت دعوه کړی وی، ځکه الله دا دعوه چا ته نهٔ وه نصیب کړے، هرکله چه دا دعوه بل چا نهٔ ده کړے او دے ئے کوی معلومیږی چه دا حق نبی دے په دهٔ باندے به تاسو ایمان راوړے وے کلی ته به مو راوستلے وے،

بیائے ووېل: (وَهَلُ لَهَا مِنُ تَلَافٍ؟)۔ آیا ددے به څه تلافی او تدارك وشی؟
(وَهَلُ لِذُنَابَاهَا مِنُ مَطُلَبٍ؟)۔ آیا ددے به څه درك وشی؟ عرب دا مثال ورکوی په هغه مقام کی چه یو سړی مارغه نیولے وی او هغه تونے بیا وتښتی نو د هغے دپاره دا الفاظ استعمالوی دا یو ښکلے او قیمتی مارغه وو چه ستاسو نه لاړو نو هغوی ئے پدے کار باندے ملامته کړل۔

د بهر ملکونو هغه کسان چه د نبی ﷺ دعوت ئے قبول کړو

د سُوَید بن صامت اسلام قبلول

ددے موسم د حج نه لږه زمانه روسته څه کسان وو چه هغوی ته نبی علیه السلام د اسلام دعوت ورکړو او هغوی قبول کړو او دا کسان د بهر ملکونو والا خلك وو چه یو د هغوی نه

(۱) : سُوَید بن صامت رضی الله عنه دے دا شاعر او لبیب یعنی هوښیار او بهادر انسان وو او د مدینے اُوسیدونکے وو په خپل قوم کی په (الکامل) سره مشهور وو کامل معنیٰ دا چه پوره سړے چه هر قسم صفت پکی وی،

بعض انسانانو کی الله دا کمال اچولے وی چه په هر خیر کار کی استعمالیږی او بعض کسان داسے وی چه د دین یو کار کوی نو سوید بن صامت کی ډیر کمالات راجمع وو شاعر هم وو او د پخوانئ زمانے حکمتونه هم ورته یاد وو، دا سوید مکے ته راغے د حج یا د عمرے په نیت سره د نبی علیه السلام ددهٔ سره ملاقات وشو هغه ته ئے ووېل چه زهٔ تا ته څه خبرے کوم ما ته الله تعالیٰ نبوت راکړیدے کتاب ئے راباندے نازل کړیدے هغے ته لږ غوږ کیده او وائے وره۔

سوید بن صامت د لقمان حکیم د حکمتونو عالِم وو او د لقمان حکمتونه په عربو کی مشهور وو د لقمان حکیم دوه قسمه حکمتونه وو (۱) یو ما یتعلق بالتوحید (هغه حکمتونه چه د توحید سره ئے تعلق وو د الله د یو والی او د هغه د تعلق خبرے وے) او (۲) دویم هغه حکمتونه وو چه په هغے کی د دنیا د زهد او د بی رغبتئ خبرے او آداب او اخلاق پکی وو، عربو به هغه حکمتونه یادول چه په هغے کی به د زهد او د

دنیا د سپکوالی خبرے وے او آداب بہ پکی وو نو سوید بن صامت تہ د زھد والا حکمتونہ یاد وو او د توحید د حکمتونو نہ غافل وو ھغے تہ ئے توجہ نۂ وہ۔
(دا زمونږ تجربہ دہ چہ کتابونو کی د توحید او د نبی علیہ السلام د تابعدارئ ډیرے ښائستہ خبرے موجودی وی خاصکر قرآن او حدیث کی خو ټول توحید او د نبی علیہ السلام د تابعدارئ خبری دی او مبتدعین دا کتابونہ گوری پہ ھغے کی د توحید مسئلے وی او سنت تہ پہ کی ترغیب وی پہ ھغے ورتیریږی لیکن ھغے تہ ئے ھیڅ فکر نۂ وی بلکہ کومہ خبرہ چہ د دوی د مزاج مطابق وی ھغہ ترے راخلی یا ھغہ خبرہ راخلی چہ د دوی د مذھب تائید پرے کیږی او نورے خبرے پریدی نو دوی بہ ھم د لقمان د توحید خبرے پریښودے او د زھد خبرے بہ ئے راخستے)
نو سوید بن صامت نبی علیہ السلام تہ وویل: (لَعَلَّ الَّذِیْ عِنْدَكَ مِثْلَ الَّذِیْ عِنْدِیْ)
شاید چہ دا تا سرہ کومے خبری دی د ھغہ خبرو پشان دی چہ ما سرہ دی،
یعنی دغہ ستا خبرے بہ ما تہ ھم یادی وی۔ نو رسول الله ﷺ جلتی ونکړہ ځکہ د دعوت طریقہ دا دہ چہ د بل خبرہ بہ ھم آورے ھغہ تہ بہ ھم غوږ ږدے د ھغہ پہ زړہ کی چہ کوم سوال جواب دے چہ ھغہ وشی او زړہ ئے صفا شی نو تہ بہ ورتہ خپلہ خبرہ وکړے نو نبی علیہ السلام ورتہ وویل: پیش کړہ۔
سوید بن صامت بعضے د حکمت خبرے وکړے چہ لقمان حکیم داسے وئیلی دی، آداب ئے بیان کړل نبی علیہ السلام ورتہ وویل:
(اِنَّ ھٰذَا لَكَلَامٌ حَسَنٌ) دا خو ډیرے ښے خبری دی۔
(وَالَّذِیْ عِنْدِیْ أَفْضَلُ مِنْ ھٰذَا)
لیکن ما سرہ چہ کومے خبری دی ھغہ غورہ دی ددے نہ،
نو سوید بن صامت وویل: ووایہ، نبی علیہ السلام ورتہ قرآن ولوستلو او قرآن کریم د حکمت کتاب دے ددے یو نوم حکیم ھم دے لکہ الله فرمائی:
﴿وَاِنَّهٗ فِيْٓ اُمِّ الْكِتٰبِ لَدَيْنَا لَعَلِيٌّ حَكِيْمٌ﴾ (الزخرف:٤)۔
دا قرآن زما پہ نزد اُوچت کتاب دے او د حکمتونو نہ ډک کتاب دے۔
﴿كِتٰبٌ اُحْكِمَتْ اٰيٰتُهٗ﴾ (ھود:١)
داسے کتاب دے چہ ھرہ خبرہ ئے د حکمت نہ ډکہ دہ،

الله تعالیٰ داسے کتاب نازل کړیدے چه عوام خلك هم پرے پو هه کیدے شي۔
نبی علیه السلام چه قرآن ولوستلو نو د قرآن خو ډیر غټ دهشت او رعب وو په عربو باندے ځکه چه هغوی پو هیدل چه دا څومره ناشنا کتاب دے۔ نو هغه وویل چه ستا خبرے خو زما د خبرو نه ډیرے ناشنا او ډیرے خوږے دي، پدے کی ډیر انصاف او عدل پروت دے نو ایمان ئے راوړو، الله سبحانه وتعالیٰ ورته د ایمان توفیق ورکړو او دا واقعی خبره ده هر حکمت چه بنده په یو کتاب کی وینی هغه به په قرآن کریم کی او دارنگه په احادیثو کی په ډیر ښائسته انداز سره موجود وی۔
نو سوید بن صامت ایمان راوړو او بیا مدینے ته واپس شو چه دا د نبوت یولسم کال وو۔ او د عیسیٰ علیه السلام د زمانے نه (۶۱۹) کاله تیر شوی وو۔
پدے وخت کی په مدینه کی به د بُعاث جنگ کیدو د اَوس او د خزرج قبیلو ترمینځ نو د هغوی په یو یو جنگ کی دا سوید بن صامت شهید شو او دا داسے وخت وو چه نبی علیه السلام مدینے ته هجرت نهٔ دے کړے او سوید صرف اجمالی ایمان راوړیدے او مدینے ته تلے دے او هلته سمدستی شهید شویدے،
الله رب العالمین چه چا دپاره جنت لیکلے وی اسباب ورته جوړ کړی۔ دا ئے راوستلو د نبی علیه السلام سره ئے خبرے وشوے ایمان ئے راوړو او مدینے ته چه ورسیده نو په دغه جنگ کی شهید شو څه خاص عملونه ئے هم ندی کړی، نهٔ ئے چرته دعوت کړیدے، نهٔ ئے جهاد کړیدے معلومیږی چه دا د احکامو او د مونځونو نه هم خبر نهٔ دے صرف اجمالی ایمان ئے راوړیدے، الله سبحانه وتعالیٰ ورله د جنت ذریعه گرځولے ده۔

د ایاس بن معاذ رضی الله عنه اسلام

(۲) دویم کس: د مدینے نه راغے د هغه ایاس بن معاذ نوم وو او نور ملگری هم ورسره وو، دا د اَوس قبیلے نه وو، دوی ددے دپاره مکے ته راغلی وو چه د اَوس او د خزرج قبیلے به خپل مینځ کی سخت جنگونه راتلل او خزرج قبیله لویه او قوی وه او د اَوس قبیلے کسان کم وو نو دا یو څو کسان مکے ته ددے دپاره راغلل چه د قریشو نه ئے وعده اخستله چه تاسو زمونږ مدد وکړئ او دا قوم راسرهٔ ووهئ او هغوی سره ئے عقدِ حِلف

کولو۔ یعنی تاسو مونږ سره دا لوظ او قسم وکړئ چه تاسو به زمونږ د خزرج په مقابله کی مدد کوئ۔

نو نبی علیه السلام د دوی نه خبر شو چه دا هلکان راغلی دی ځکه چه نبی علیه السلام به موقعے ته کتل او داسے کسانو ته به ئے خبره کوله نو دے څو ځوانانو ته ورغلو او د دوی سره کیناستو او ورته ئے وویل:

(هَلْ لَكُمْ فِيْ خَيْرٍ مِمَّا جِئْتُمْ لَهُ)

تاسو چه کومے خبرے له راغلی یئ آیا زهٔ ددے نه غوره خبره تاسو ته وکړم؟

هغوی وویل: څه خبره ده؟ نبی علیه السلام ورته وفرمایل: زهٔ د الله رسول یم، هغه زهٔ بندگانو ته رالیږلے یم، دے خبرے ته دعوت ورکوم چه دوی یواځے د الله بندگی وکړیٔ او د الله سره هیڅ شریکان جوړ نکړی او په ما باندے الله کتاب نازل کړیدے۔ بیا ئے دوی ته د اسلام دعوت ورکړو او قرآن کریم ئے پرے ولوستلو۔

نو ایاس بن معاذ وویل: اے زما قومه! قسم په الله دا ډیرے خوږے خبری دی او غوره دی د هغے نه چه مونږ کومے خبرے له راغلی یو، دا خبرے ډیرے مهمی دی۔ نو پدے وفد کی د انس بن رافع په نوم یو کس دے هغه خاورے راواخستے او د ایاس مخ ئے پرے ویشتلو او دا ئے وویل: (دَعْنَا عَنْكَ فَلَعَمْرِیْ لَقَدْ جِئْنَا لِغَیْرِ هٰذَا)

دا خبرے پریده مونږ خو بل مقصد دپاره راغلی یو، مونږ قوم څه دپاره رالیږلی یو او ته څه کوے، ددین په خبرو کیٔ ننوتلے۔

بعضے خلکوته د دین خبرے هسے کپ ښکاره کیږی ځکه د دنیا خبرے دوی ته لوی ښکاره شوی وی نو ایاس بن معاذ چُپ پاتے شو، بیا د دوی نهٔ د قریشو سره وعده وشوه او نهٔ ئے په نبی علیه السلام باندے ایمان راوړو ددے لوی خیر او دولت نه محرومه شو بیرته مدینے ته واپس لاړل، مدینے ته چه ورسیدل ایاس بن معاذ مړ شو د الله کار ته گوره چه الله چا لـه خیر لیکلے وی نو دهٔ د مرگ په وخت کلمه وئیله (لا اله الا الله) او د الله حمدونه او تکبیرونه ئے وئیل په اذکارو باندے ئے خُله خوزیدله۔

د عامو کسانو نه چه روسته کوم خلك مسلمانان شو د هغوی یقین راغلو چه ایاس مسلمان مړ دے اگرکه په هغه ځای کی هغه دا کلمه (لا اله الا الله محمد رسول الله) هم ونهٔ وئیله، چه محمد رسول الله ﷺ حق نبی دے لیکن اراده ئے وکړه چه ددهٔ تابعداری

پکار ده صرف اجمالي تصديق ئې وکړو نو الله پاك ورله په وخت د مرگ کې کلمه د توحيد ورنصيب کړه او د احاديثو نه معلوميږي چه څوك د مرگ په وخت دا کلمه ووائي نو الله پاك ئې اُور ته نۀ بوځي، الله سبحانه وتعالیٰ د خپلو بندګانو د مغفرت او معافئ دپاره بهانه گوري، انتهائي رحيم ذات دے، د محبت لائق دے. سبحانه ما اعظم رحمته وسلطانه.

ابو طالب ته نبي عليه السلام وويل چه ته دا کلمه ووايه (أُحَاجُّ لَكَ بِهَا عِنْدَ اللّٰهِ).

الله ته به ستا خبره کوم او سفارش به درله کوم ليکن هغه ته الله تعالیٰ د ايمان توفيق ورنکړو.

د ابوذر غفاري ﷺ اسلام

(۳) دريم مسلمان چه د هغه واقعه مشهوره ده هغه ابو ذر غفاري (رضي الله عنه) وو هغه ايمان راوړو، کله د حق يو داعي دعوت کوي او د هغه علاقې خلك ددۀ د دعوت قدر ونکړي نو ددۀ دعوت الله تعالیٰ نۀ ضائع کوي بلکه ددۀ د دعوت اثر په بل ځای باندې وشي بل ځاى کې به ملګري پيدا شي نو پدې کې ابوذر غفاري رضي الله عنه چه مشهور صحابي دے د غِفَار قبيلے نه دے،

(مِنْ نَوَاحِيْ يَثْرِبَ) : د مدينے په خواو شا کې دا قبيله وسيدله، دا د جاهليت د زمانے موحد وو، د جاهليت په زمانه کې هم دۀ د بتانو عبادت بد ګڼړلو، فطرتاً موحد وو (په عربو کې بعض کسان فطري مسلمانان او موحدين وو د چا دعوت ئې نۀ وو آوريدلے په هغوی کې يو زيد بن عمرو بن نفيل او قس بن ساعده او ابوذر غفاري او عمرو بن عبسه او عبيد الله بن جحش او ددے په شان نور کسان وو اګرکه په تفصيلي دين باندے نۀ پو هيدل لکه دا خبره مخکې هم ذکر شويده).

ابوذر غفاري هغه صحابي دے چه نبي عليه السلام ئې روسته داسے صفت کړيدے :

(مَا أَظَلَّتِ الْخَضْرَاءُ وَلَا أَقَلَّتِ الْغَبْرَاءُ مِنْ رَجُلٍ أَصْدَقَ لَهْجَةً مِنْ أَبِيْ ذَرٍّ).

د آسمان نه لاندے او د زمکے دپاسه زيات رشتيني انسان د ابوذر نه بل نشته)

دومره مبالغه ددۀ په صفت کې کړے شوېده، يو زاهد او په دنيا کې بې رغبته

صحابی دے،

د ابوذر رضی الله عنه خاصه رایه او خاص مذهب دا وو چه د پیسو او د طعام ساتل صبا ته ناروا دی، د ډیر زهد د وجه نه ئے دا رایه جوړه شوې وه اگرکه د نورو صحابه کرامو رایه دا وه چه د پیسو ساتل او د ډوډئ ساتل د صبا دپاره جائز دی۔

ابوذر رضی الله عنه فرمائی : ما د خلکو نه واوریدل چه په مکه کی داسے سړے پیدا شویدے چه د نبوت دعوه کوی ځان ته نبی وائی (او داسے خبرو ته خلك تړی وو) راځئ چه ابوذر پریدو چه مونږ ته خپله واقعه خپله بیان کړی هغه فرمائی :

ما خپل ورور (اُنیس) ور ولیږلو چه مکے ته لاړ شه او دغه سړی سره ملاؤ شه او د هغه سره خبرے وکړه او ما ته د هغه خبر راوړه، انیس لاړو د نبی علیه السلام سره ئے لیدل وکړل بیرته کورته راغے، ما ترے تپوس وکړو چه څه حال وو؟ هغه وویل : بنه سړے وو (يَأْمُرُ بِالْخَيْرِ وَيَنْهٰى عَنِ الشَّرِّ) د خیر خبرے ئے کولے او د شر نه ئے خلك منع کول، صرف دومره خبره ئے راوړه نو ما ورته وویل: (لَمْ تَشْفِنِيْ مِنَ الْخَبَرِ)

تا خو په خبر باندے زما شفاء ونکړه، د هغه پوره تعارف او معلومات دے راته رانۀ وړو نو ما خپله امسا او توشه دان (کڅوړه چه کجورے پکی وے) رواخسته او مکے ته روان شوم، مسجد حِرام ته راورسیدم هلته ناست یم د زمزم اُوبه څکم،

ما نبی علیه السلام نۀ پیژندلو او دا مے بده گنړله چه د هغه په باره کی تپوس وکړم (ځکه چه د هغه نوم اخستل دشمنی وه اوداسے وه لکه چه په انسان باندے بم راخلاصیږی، په اکثرو ځایونو کی خلك د اهل حقو نوم نشی اخستلے ځکه خلك پرے بد گمان کوی نود مکے د کفارو د یرے او د هیبت د وجه نه د هغه نوم هم چا نشو اخستلے) تردے چه ماسخوتن شو علی رضی الله عنه راباندے راتیر شو تپوس ئے وکړو چه دا سړے خو مسافر ښکاری؟ ما وویل : آؤ، نو هغه راته وویل : ما سره کورته لاړ شه نو زۀ ورسره روان شوم ما د هغه نه تپوس نۀ کولو او هغه زما نه نۀ کولو، شپه تیره شوه، صبا چه شو زۀ مسجد حرام ته راغلم دے دپاره چه ددے نبی په باره کی تپوس وکړم خو څوك نۀ وو چه ما ته د هغه په باره کی خبر راکړی، هغه فرمائی:

(زۀ همدغسے ناست وم) چه بیا علی رضی الله عنه راباندے راتیر شو او وے فرمایل:

(أَمَا نَالَ لِلرَّجُلِ يَعْرِفُ مَنْزِلَهٗ بَعْدُ؟)۔

تۀ لا خپل مقصد ته نۀ ئے رسیدلے، ابوذر وویل: نۀ،
ورته ئے وویل : ما سره راروان شه، نو کور ته ئے بوتلم او تپوس ئے رانه وکړو،
(مخکی ئے ترے تپوس نۀ کولو ځکه چه په عربو کی د سخاوت او د میلمستوب ماده وه او زمونږ په اسلام کی هم ددے ډیر فضیلت راغلے دے چه میلمه راشی د هغه به اکرام کولے شی ځو مره چه د انسان وسع کیږی)
نو علی رضی الله عنه د ابوذر غفاری نه په دویمه ورځ تپوس وکړو او دا تپوس د هغه د فائدے دپاره وو چه دا سړے ما ته حال نشی وئیلے چه زۀ ترے تپوس وکړم مقصد ته ئے ورسوم نو ورته ئے وویل : (مَا أَمْرُكَ ؟ وَمَا أَقْدَمَكَ هٰذِهِ الْبَلْدَةَ؟)
څه مقصد لرے او د څه دپاره دلته راغلے ئے؟، نو ابوذر وائی ما ورته وویل :
(اِنْ كَتَمْتَ عَلَيَّ أَخْبَرْتُكَ) که تۀ خبره پټه ساتے حال درته وایم۔
علی رضی الله عنه وویل چه بالکل صحیح ده نو ما ورته وویل دلته یو سړے پیدا شویدے د نبوت دعوه ئے کړیده ما ورور رالیږلے وو لیکن هغه صحیح احوال رانۀ وړل زۀ وریسے راغلے یم ګورم چه څنګه سړے دے نو علی رضی الله عنه ورته وفرمایل : (أَمَا اِنَّكَ قَدْ رَشَدْتَّ) خبردار ! یقیناً تا ته هدایت کړے شویدے)،
دا د الله حق نبی دے او تا ته الله هدایت کړیدے چه دے خبرے پسے ئے راوستے، دا د الله پاك مهربانی وه چه د علی سره ئے ملاؤ کړو ځوك چه د خیر اراده لری الله پاك ورته لارے خلاصوی،
او ددے نه دا معلومه شوه چه حق پسے به ګرځی، سفرے به کوی تحقیق به کوی، دا حق خو څه توقی نۀ دی چه همداسے د مور په غیږه کی به تا ته حاصلیږی، او دا تحقیق به ځکه کوی چه پدے پورے د جنت او د جهنم مسئلے تړلے شویدی او هغه څه وړه مسئله نۀ ده چه سړے به ئے همداسے پریدی)
پدے کی سهار شو هغه ته ئے وویل چه زۀ دے د رسول الله ﷺ ملاقات ته بوځم ما پسے راځه : (هٰذَا وَجْهِيْ اِلَيْهِ) زۀ اوس روان یم، که مشرکین چرته تا ما سره وینی نو مونږ ته خو داسے ډیر څه نۀ وائی، د قوم سړے ځوك په آسانئ باندے نشی وهلے او مسافر سړے خو په آسانئ باندے وهی نو تا له به ډیر سخت ضرر درکړی۔ نو که مشرکینو ولیدو نو زه به یو دیوال ته ودریږم خپلے څپلئ به سموم او تۀ به سیده ځے ما

ته به نهٔ گوري.

(او دا طريقه د مجاهدينو دپاره هم ده چه كله يو ملګري وي په هغه باندې د نيولو نه يريږي نو په هغه باندې به ځان ناخبره كړي داسې به نهٔ ښكاره كوي چه دا زما ملګرې دې)

پدې كې علي رضي الله عنه لاړو د نبي عليه السلام كور ته داخل شو او ابوذر ورپسې روسته ورغې هغه هم ورننوتلو نبي عليه السلام ئې چه وليدو هغه ورته كلمه د توحيد ووئيله (اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمدا عبده ورسوله).

نو ابوذر سمدست دا كلمه ووئيله په غير د شك او شبهې او په غير د اعتراضاتو كولو نه ئې ايمان راوړو ځكه د نبي عليه السلام مخ او د هغه وقار او د هغه ناسته پاسته به چا وليده ضرور به متأثره كيدو، د اهل حقو په مخ باندې الله تعالىٰ يوه رڼا اچولې وي چه د هغې په وجه مخاطب ته فائده رسيږي).

نو ابوذر ايمان راوړو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: (يَا أَبَا ذَرٍّ! اُكْتُمْ هٰذَا الْأَمْرَ)

اې ابوذره ! دا دين پټ وساته او لاړ شه خپل كلي ته : (فَإِذَا سَمِعْتَ ظُهُوْرَنَا فَأَقْبِلْ)

كله چه تهٔ زمونږه په غالبه كيدو او ښكاره كيدلو خبر شوې چه الله مونږ له غلبه راكړه بيا راشه هغه وخته پورې تهٔ خپل كلي ته لاړ شه، نبي عليه السلام دهٔ ته امر كړيدې، دا امر د ارشاد دې چه د خلكو د فائدې او مصلحت دپاره وي منل ئې څه ضروري نهٔ وي پدې وجه ابوذر رضي الله عنه ووېل:

(وَاللّٰهِ لَأَصْرَخَنَّ بِهَا بَيْنَ ظَهْرَانَيْهِمْ)

قسم په الله چه د توحيد آواز به د دوې غوږونو ته رسوم، د دوې ترمينځ به يوه چغه وهم او ديته د الله دپاره جذبه وائي، كله كله يو شې پټول جائز وي ليكن كه يو سړې ئې راښكاره كوي نو كولې شي، موقع او محل، مصلحت او مفسدت ته كتل پكار دي خپل منفعت ته كتل نهٔ دي پكار بلكه د دين مصلحت ته كتل پكار دي.

كله چه صبا شو ځهٔ مسجد حرام ته راغلم قريش مشركان په مسجد كې ناست وو، (ګپونه به ئې لګول ځكه مسجد د دوې داسې وو لكه حجره لكه قرآن وئيلي دي :

﴿ وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِنْدَ الْبَيْتِ إِلَّا مُكَاءً وَتَصْدِيَةً﴾ (الانفال۳۶)

(د دوې مونځ د بيت الله په خوا كې شپيلي او لاسونه پرقول وو).

ابوذر رضی الله عنه وائی زهٔ ورغلم او ورته مے وویل :
(يَا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ! اِنِّیْ أَشْهَدُ أَنْ لَّا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ)۔

اے د قریشو ډلے ! یقیناً زهٔ گواهی کوم چه نشته حقدار د بندگئ سوئ د الله نه او زهٔ گواهی کوم چه محمد (ﷺ) د الله بنده او د هغه رسول دے۔

دا داسے کلمه وه لکه بم چه په مشرکانو ورگوزار کړی دومره پرے بده لگیدله نو مشرکانو وویل : (قُوْمُوْا اِلٰی هٰذَا الصَّابِیِّ)

دے صابی پسے ورپاځئ، وے وهئ، ټول مشرکان را باندے راجمع شو دومره ئے ووهلم چه مرگ ته ئے نزدے کړم، پدے کی د الله مهربانئ ته وگوره چه عباس رضی الله عنه راغے چه په دے وخت کی مسلمان شوے نهٔ وو لیکن نرم سړے وو،

ابوذر فرمائی په ما باندے دپاسه راڅملاستو او خلك ئے رانه منع کړل او ورته ئے وویل : (وَیْلَکُمْ تَقْتُلُوْنَ رَجُلًا مِنْ غِفَارٍ وَمُتَّجَرُکُمْ وَمَمَرُّکُمْ عَلٰی غِفَارٍ)۔

آیا تاسو د غفار قبیلے سړے وژنئ او ستاسو د تجارت د تلو راتلو لاره شام ته په غفار قبیله ورغلے ده) نو پدے خبره ئے هغوی ویرول نو خلك زما نه جدا شو،

لیکن د الله د دین دپاره چه کومه سختته وی هغه انسان ته ډیر مزه ورکوی، ابوذر رضی الله عنه پدے وهلو او تکلیف نهٔ وو چه صبا له شو بیا هغوی ته ورغے او د هغوی په مجلس کی ئے آواز وکړو اِنِّیْ أَشْهَدُ أَنْ لَّا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ)، اے قریشو زهٔ گواهی کوم چه لائق د بندگی نشته سوئ د یو الله نه او محمد رسول الله ﷺ د الله بنده او رسول دے)۔

نو دوی وویل: ودرېږئ دے صابی ته او وے وهئ نو د پرون ورځے په شان ئے بیا ووهلم مرگ ته نزدے شوم بیا عباس رضی الله عنه راغے په ما باندے دپاسه راڅملاستو او مشرکین ئے رانه منع کړل او دا ئے وویل چه اے خلکو دا د غفار قبیلے دے، بَرَمُته به مو کړی بیا زهٔ دے خلکو پریښودم،

بیا نبی ﷺ راته وویل چه ددے ځای نه لاړ شه نو بیرته ئے خپل کلی ته ولیږلم۔

بیا په روسته زمانه کی رسول الله ﷺ چه کله مدینے ته هجرت وکړو نو مدینے ته راغے د خپل ایمان اظهار ئے وکړو او بیا په جهادونو کی حاضر شوے دے لکه ددهٔ بعض واقعات روسته راځی ان شاء الله تعالیٰ۔

نو گوره یو بنائسته گل د مکے نه بهر علاقه کی پیدا شو چه داسے یو مؤمن او مجاهد وی دا د اسلام دپاره پوره ملاتړ وی پدے کی یو دوه کسانو نورو ایمان راوړو چه یو طفیل بن عمرو الدوسی وو او بل ضماد بن ثعلبه وو چه د دوی په وجه ډیر عجیب انقلاب راغے۔

د طفیل بن عمرو الدوسی (رضی الله عنه) د اسلام واقعه

(٤) بل کس چه ایمان ئے راوړو هغه طفیل بن عمرو الدَوسی (رضی الله عنه) دے چه ددهٔ تفصیلی واقعه مخکی په صفحه (٣٠٥) ذکر شوه هغے ته رجوع وکړه او دلته ئے راوړه۔

د ضِمَاد بن ثعلبه ازدی (رضی الله عنه) اسلام راوړل

(٥) : د لسم کال د نبوت نه روسته د یو لسم کال په شروع کی یو بل کس راغے چه هغه ته ئے ضماد الازدی وئیلو دا د ازدِ شَنُوءَه قبیلے نه وو په یمن کی اُوسیدونکے وو دا هم د حج دپاره راغلے وو نو دهٔ د مشرکینو نه واوریدل چه دلته یو سړے پیدا شویدے لیونے دے او لیونتوب پرے د پیریانو د وجے نه راغلے دے، پیریان پرے کینی دماغ ورله گډوډ کړی غورزیږی راغورزیږی یا د شپے ډیرے خبرے کوی خوب نهٔ ورځی۔

(دوی به نبی علیه السلام ته لیونے پدے وجه وئیلو چه د شپے عبادت به ئے ډیر کولو ځان سره به ئے قرآن لوستلو نو دوی به وئیل چه دا تو له شپه ولاړ دے او گوریږی او دا خو د لیونو کار دے، دوی خو د الله بندگی نهٔ پیژندله۔

او بله وجه د لیونتوب ئے دا بنودلهٔ چه دا یوه خبره وکړی کلک پرے ولاړ وی هغه خبره پریدی نهٔ دا هم د لیونو طریقه ده چه خپله خبره باندے کلک وی او د بل چا خبره نهٔ منی، او بله دا ده چه شپه او ورځ ئے په ځان یوه کړیده خپل راحت، صحت او مال ته نهٔ گوری بس دغه یوه خبره ئے راتینگه کړیده پکار دا ده چه د خپل صحت او وخت لحاظ ئے کولے نو ځکه به ئے ورته لیونے وئیلو حال دا دے چه نبی علیه السلام د تول انسانیت نه زیات کامل عقل والا انسان وو لیکن دے لیونو ورته لیونی وئیلو)۔

ضِماد الازدی چه کله دا خبره واوریده په زړه کې ئې شفقت راغې او وې ویل :
(لَوْ اَنِّیْ لَقِیْتُ هٰذَا الرَّجُلَ لَعَلَّ اللّٰهَ یَشْفِیْهِ عَلٰی یَدَیَّ)
که زۀ ددې سړي سره ملاقات وکړم که دا سړې رشتیا لیونې وي ما ته یو دم راځي زۀ به پرې دم واچوم شاید چه الله تعالیٰ به ورته زما په لاسونو شفاء ورکړي او جوړ به شي نو ښه به وي۔

د خیر خواهئ په نیت بانده ورغلو او نبی علیه السلام ته ئې وفرمایل :
(هَلْ لَّكَ یَا مُحَمَّدُ اِنِّیْ اَرْقِیْ مِنْ هٰذَا الرِّیْحِ؟)
ستا شوق شته چه دم دربانده واچوم ځکه ما ته د پیریانو دم راځي ؟۔
نبی علیه السلام ورته خبره شروع کړه اول ئې خطبه ووئیله (لکه سنت طریقه هم دا ده چه سړې خبره شروع کوي مخکې خطبه وائي)
نو دا خطبه ئې ورته ووئیله : (اِنَّ الْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِیْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَیِّئَاتِ اَعْمَالِنَا، مَنْ یَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ یُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِیَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ اَمَّا بَعْد) :
د اما بعد نه روسته نبی علیه السلام ورته نوره خبره هم کوله لیکن په دۀ بانده ددې خطبې ډیر زیات اثر وکړو ځکه نبی علیه السلام ډیر فصیح بلیغ انسان وو او ددې خطبې په فصاحت او کمال بانده هغه ځوك پوهیږي چه په عربي ژبه پوهیږي چه پدې خطبه کې ډیرې فائدې دي نو ضماد وویل: (اَعِدْ عَلَیَّ کَلِمَاتِكَ هٰؤُلَاءِ)
دا خبرې ما ته بیا وکړه نبی علیه السلام ورته بیا خطبه ووئیله په دریم ځل ئې بیا مطالبه وکړه چه دا کلمات بیا ووایه نبی علیه السلام بیا وویله نو ضماد الازدي وویل:
(لَقَدْ سَمِعْتُ قَوْلَ الْکَهَنَةِ وَقَوْلَ السَّحَرَةِ وَقَوْلَ الشُّعَرَاءِ فَمَا سَمِعْتُ مِثْلَ کَلِمَاتِكَ هٰؤُلَاءِ، وَلَقَدْ بَلَغْنَ قَامُوْسَ الْبَحْرِ، هَاتِ یَدَكَ اُبَایِعُكَ عَلَی الْاِسْلَامِ، فَبَایَعَهٗ)
په تحقیق سره ما د کاهنانو او د ساحرانو او د شاعرانو خبرې آوریدلی دي لیکن ددې کلمو په شان کلمې ما د چا نه نۀ دي آوریدلی او یقیناً دا خو په فصاحت او بلاغت او کمال کې د دریاب ژوروالي ته رسیدلي دي۔ (پدې کې داسې ژوروالې پروت دې)۔ نو سمدست ئې ووئیل چه لاس راکړه چه زۀ تا سره په اسلام بانده بیعت وکړم نو بیعت ئې ورسره وکړو او کلمه د توحید او د رسالت ئې ورته ووئیله۔

(صحيح مسلم ١٤-باب تخفيف الصلاة والخطبة : رقم: ٢٠٤٥)

او دا مشرکان خو دروغژن دی چه تا ته لیونے وائی، ضماد الازدی د دم دپاره راغلے وو لیکن د رسول الله ﷺ دم په دهٔ باندے ولگیدهٔ۔

(ددے روروایت نه دا فائده معلومه شوه چه باطل پرست او مشرکین خلك د حق نه اړوی لیکن په حقیقت کی دوی د حق دپاره دعوت کوی په غیر مستقیم او غیر شعوری طریقے سره، خلك په زوره متوجه کوی چه ددے سړی خوا له مهٔ ورځئ نو د خلکو توجه پیدا شی چه دا به څنګه وی؟ کله چه خواله راشی نو انابت والا پکی حق قبول کړی، د مشرکینو دا اراده وی چه په څه طریقه خلك د حق نه واړوی لیکن پدے سره خلك حق ته نور هم مائله کیږی، مقصد دا چه یو سړے به حسد کوی خو د حسد ګر دلاسه به الله حق نور هم خور کړی دا د الله قانون دے)۔

دویمه فائده دا معلومه شوه چه کله په تا کی د خیر خواهی صفت وی الله تعالیٰ به ستا خیر خواهی کوی لکه ضماد خیر خواهی کوله نو الله دده خیر خواهی وکړه د اسلام لوی دولت او عزت ئے ورکړو۔

دریمه فائده دا معلومه شوه چه د عربو مشرکینو ته دمونه هم یاد وو الله تعالیٰ ئے هم منلو، ډیر دمونه ورتلل لکه نبی علیه السلام ته څه صحابه کرام راغلل چه مونږ سره څه دمونه دی، په مار لړم او په لیونو باندے دمونه اچوو نو دا دمونه مونږ اچوو که پریدو؟ نبی علیه السلام ورته وفرمایل: (اِعْرِضُوا عَلَيَّ رُقَاكُمْ).

ما باندے خپل دمونه پیش کړئ۔ کله چه هغوی دمونه پیش کړل نبی علیه السلام وفرمایل: (لَا بَأْسَ بِالرُّقٰى مَا لَمْ يَكُنْ شِرْكًا)

دمونه اچوئ په دم کی باك نهٔ وی ترڅو چه شرکی الفاظ پکی نهٔ وی۔

په بل باندے دم اچول جائز دی خو چه د شرك د الفاظو نه پاك وی که د شرك دم وو یا ئے معنیٰ نهٔ لرله نو هغه دمونه ناروا دی۔ که یو دعا د ځان نه جوړه کړی او تجربه ئے پرے کړی وی شرکی الفاظ پکی نهٔ وی نو پدے سره دم جائز دے۔

او دغه شان تعویذونه هم په اسلام کی نشته۔

دارنګه معلومه شوه چه دمونو کی هم الله تعالیٰ اثر اچولے دے۔

څلورمه فائده دا معلومه شوه چه پیریان په سړی باندے کیناستلے شی۔

پنځمه فائده : دم طلب کول د توکل خلاف دی :

(مَنِ اکۡتَوٰی اَوِ اسۡتَرۡقٰی فَقَدۡ بَرِیَٔ مِنَ التَّوَکُّلِ) (الترمذی :۲۰۵۵ بسند صحیح)۔

چا چه داغ ولګولو یا ئے دم طلب کړو نو د توکل نه بیزاره شو (بلکه پخپله په ځان دم اچول پکار دی)۔

شپږمه فائده : بعض خلکو باندے پیریان نهٔ وی هسے د دماغو بیماری وی یا هسے وَهم وی دا چرته په زړو کسانو کی په یو کس کی وی، بعضو خلکو باندے جادو نهٔ وی هسے لږ څو ورځے مریض شی وَهم ئے ونیسی او وائی چه په ما جادو شویدے۔

0000

مقصد دا چه ضماد الازدی د رسول الله ﷺ سره په اسلام بیعت وکړو نو پدے سره الله سبحانه وتعالیٰ یو بل کُل پیدا کړو چه دا هم د اسلام د خوریدلو دپاره یوه لویه کامیابی شوه۔

د مشرکانو دا اراده وه چه ددۀ نه خلك واړوی ځکه د حسدګرو دا طریقه وی چه خلك ترے واوړی خو الله رب العزت د حسد ګر په ژبه دعوت خوروی، حسد ګر ووائی چه دلته یو سړے پیدا شویدے نو خلك ورته لا متوجه شی، نو ضماد الازدی ته د مشرکینو د غلط دعوت د وجه نه الله تعالیٰ د ایمان توفیق ورکړو۔

نبی علیه السلام د دعوت او د حق دا کار جاری ساتلو خاصکر د حج په ورځو کی به نبی علیه السلام خلکو ته د اسلام د واضح او حق دین دعوت ورکولو، د شپے به تللو په منیٰ او په مزدلفه کی به ګرځیدو او خلکو ته به ئے دعوت ورکولو وجه دا وه که د ورځے دعوت ورکوی نو مشرکان راتلل بیرته ئے پرے دعوت ګډوډ کولو۔

د مدینی د شیرو ځوانانو سره ملاقات

رسول الله ﷺ په یولسم کال د نبوت د شپے ګرځیدو او سیدنا ابوبکر صدیقؓ او سیدنا علی بن ابی طالبؓ ورسره ملګری وو او په منیٰ کی په یوه دوه قبیلو باندے ورتیر شو چه یوه قبیله بنو شیبان او بله بنو ذهل وو۔

نبی علیه السلام دوی ته د اسلام دعوت ورکړو او قرآن ئے پرے ولوستلو چه په ما

باندې دا کتاب نازل شویدې نو پدې کې د ذُهل قبیلې څه کسان وو هغوی د ابوبکر صدیق رضی الله عنه نه تپوسونه وکړل سیدنا ابوبکر صدیقؓ ورته جوابونه ورکړل څکه سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه د عربو په نسبونو ښه پوهیدو نو د نسبونو تفصیل ئې ورته وکړو،

دې کسانو د اسلام سره څه نا څه مینه پیدا شوه او د اسلام امید ترې وکړے شو لیکن سمدست ئې اسلام قبول نکړو توقف ئې وکړو ودریدل چه مونږ فی الحال ایمان نۀ راوړو لږ سوچ کوو نو الله رب العزت ورته سمدست اسلام نصیب نکړو۔

پدې کې په منیٰ کې نبی علیه السلام روان وو، د جمرة العقبه چه کوم غر دے چه هغه اُوس وران شویدے۔ چه دلته ورسیدو څه آوازونه ئې واوریدل چه څه کسان دی نیمه شپه ده او خبرې کوی رسول الله ﷺ به داسې وخت غنیمت گڼړلو چه څه کسان پیدا کړی او خبره ورته وکړی، سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه او سیدنا علی بن ابی طالب رضی الله عنه او نبی علیه السلام درې واړه ورغلل چه وې کتل شپږ کسان وو چه خپل مینځ کې ئې خبرې اترې کولې او دا د مدینې اُوسیدونکی وو چه د حج دپاره راغلی وو، دا شپږ کسان ځوانان وو لیکن د ډیر پوخ او کامل عقلونو خاوندان وو او نرمی هم پکې وه۔

(**فائده** : کله چه سړی کې عقل او نرمی وی هغوی ته هدایت کیږی، او کله چه انسان بی عقل او سخت وی نو هغوی ته غالباً هدایت نۀ کیږی۔

﴿وَيَجْعَلُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِينَ لَا يَعْقِلُونَ﴾ (یونس ۱۰۰)۔

الله پلیتی او گندگی په هغه چا وراچوی چه بی عقله وی)۔

(وَيُعْطِىُ عَلَى الرِّفْقِ مَا لَا يُعْطِىُ عَلَى الْعُنُفِ) (مسلم:۶۷۶۶)۔

الله تعالیٰ په نرمئ سره هغه څه ورکوی چه په سختئ سره ئې نۀ ورکوی۔

معلومه شوه چه څومره څوك زیات عقلمند وی هغومره به زیات نیك عمله وی، او څومره چه زیات جاهل وی هغومره د دین نه وړاندې وی)

نو دې شپږو کسانو کې عقلمندی او نرمی وه نو الله ورته هدایت وکړو،

ددې شپږو کسانو مشر سیدنا اَسعَد بن زُرَاره رضی الله عنه وو۔

۱ - اَسعَد بن زُرَارَه (د بنو نجار نه)

۲- عَوْفِ بن الحارث بن رِفاعه (د بنو نَجّار نه)
۳- رافع بن مالك بن عَجْلان (د بنو زُریق نه)
٤- قُطبَه بن عامر بن حَدِیْدَة (د بنی سَلِمَه نه)
۵- عُقبَه بن عامر بن نابی (د بنو حرام بن کعب نه)
٦- جابر بن عبد الله بن رِئاب (د بنو عُبَید بن غَنَم نه)

دے شپږو ځوانانو ته رسول الله ﷺ د اسلام دعوت ورکړو او قرآن ئے پرے ولوستلو نو دوی یو بل ته وویل چه اے ملګرو! دا هغه حق پیغمبر دے چه یهودیان مونږ ته ددهٔ په باره کی دهمکیانی راکوی۔

(**فائده**: واقعه دا وه چه مدینه کی درے ډلے وسیدلے یو اَوس او بل خزرج او دریمه ډله د یهودیانو وه او یهودیان درے ډلے وے (۱) بنو نضیر، (۲) بنو قریظه (۳) بنو قینقاع۔ مدینه دوه حصے د اَوس او خزرج سره وه او دریمه حصه د یهودو سره وه او دا یهود د فلسطین نه راغلی وو، د کفارو د ظلم د وجه نه ئے هجرتونه کړی وو او ډیر پخوا راغلی وو دلته په مدینه کی ئے زمکے اخستے وے او آباد شوی وو عرب ترے جوړ شوی وو او د خپل یهودیت رسمونه او رواجونه ئے نهٔ پریښودل دوی عبرانیین وو د موسیٰ علیه السلام قوم وو۔ دوی به عربو یعنی اَوس او خزرج والو ته وئیل (د اَوس او خزرج والو به په خپل مینځ کی جګړے راتللے او کله به ئے د یهودو سره جګړه راتلله نو دے یهودو به دے عربو ته وئیل چه: (قَدْ أَظَلَّ زَمَانُ نَبِيٍّ فَنَتَّبِعُهُ فَنَقْتُلُكُمْ قَتْلَ عَادٍ وَإِرَمَ)۔

نزدے دهٔ چه یو پیغمبر راتللو والا دے چه آخری نبی دے په مکه کی به پیدا کیږی او دے مدینے ته به راځی مونږ به د هغه نبی تابعداری کوو، هغه ته به الله تعالیٰ کتاب ورکوی مونږ هم اهل کتاب یو او هغه به هم کتاب والا وی او تاسو خو مشرکان یئ نو تاسو به داسے وژنو لکه د عادیانو او د ارم والو په شان۔ لکه عادیان ارم قبیلے الله تباه کړیدی نو تاسو به هم زمونږ په لاس دغه شان تباه کیږئ۔

لکه الله تعالیٰ په قرآن کریم کی داسے تعبیر کړیدے:

﴿وَكَانُوا مِن قَبْلُ يَسْتَفْتِحُونَ عَلَى الَّذِينَ كَفَرُوا﴾ (البقره:۸۹)۔

چه دا یهودیان ظالمان دی چه دوی به وئیل چه دا نبی دے الله راولیږی چه مونږ ددهٔ په ملګرتوب کی د کفارو سره جنګ وکړو کله چه نبی راغے نو کفر ئے پرے وکړو۔

بد ترین کفار او سخت کفار په دنیا کې یهودیان دي دویم نمبر مشرکان او دریم نمبر نصاریٰ دي)۔

نو دے شپږو کسانو ته نبي علیه السلام ورغلو او تپوس ئے ترے وکړو: (مَنْ اَنْتُمْ؟) تاسو څوك یئ؟ هغوی وویل: مونږ د خزرج قبیلے کسان یو، نبي علیه السلام وفرمایل: د یهودیانو حلفاء یئ؟ هغوی وویل: آؤ،

نبي علیه السلام ورته وفرمایل: (اَفَلَا تُجَالِسُوْنَ اُكَلِّمُكُمْ؟)

لږ نه کینئ چه خبرے وکړو؟ هغوی وویل: ولے نه، نو دوی د نبي علیه السلام سره کیناستل نو نبي علیه السلام دوی ته د اسلام حقیقت ښکاره کړو او دعوت ئے ورکړو او الله طرفته ئے راوبلل او قرآن کریم ئے پرے ولوستلو نو دوی یو بل ته وویل: قسم په الله! اے قومه تاسو ته معلومه ده چه دا خامخا هغه نبي دے چه یهودیان پرے تاسو ویروی (فَلَا تَسْبِقَنَّكُمُ الْيَهُوْدُ) ۔ اے ملګرو! تاسو نه یهود مخکې نشي په ایمان راوړلو کې پدے نبي باندے، پدے سرې باندے ایمان راوړل پکار دي نو په جلتئ سره ئے ایمان راوړو او اسلام کې داخل شول په غیر د دے نه چه د مشرانو سره مشوره وکړي یا داسے ئے ونه وئیل چه مونږ کشران یو نه پو هیږو، بلکه د دوی زړهٔ صفا وو حق ئے سمدستی قبول کړو دا قانون دے چه د حق په قبلولو کې به تاخیر نه کوے۔

د ایمان راوړو نه پس ئے نبي علیه السلام ته وفرمایل چه زمونږ په قوم کې ډیر اختلافات دي د بُعَاث په شان جنګونه پکې دي ځکه د اَوس او د خزرج او یهودیانو به ډیر جنګونه راتلل نو که ستا په وجه الله رب العزت دا جنګونه او اختلافات ختم کړي (فَلَا رَجُلٌ اَعَزُّ مِنْكَ) ۔ نو ستا نه به بل لوی عزتمند سړے نه وی او که الله دا خلك ستا په وجه راجمع کړي نو ستا نه به بل عزتمند سړے نه وی همدغه رنګه وشوه چه الله رب العزت هغه جنګونه او د کلونو کلونو فتنې د محمد رسول الله ﷺ په وجه ختمے کړلے او ورونه ورونه جوړ شو او د یو بل نه قربانیدل۔

دے شپږو کسانو ایمان راوړو او وے فرمایل چه اے الله د رسوله! مونږ به ستا دا پیغام په مدینه کې خپل قوم ته رسوو او مونږ چه کوم دین قبول کړو دے ته به دعوت ورکوو نو که الله تعالیٰ خلك ستا په وجه راجمع کړي نو ستا نه به بل لوی عزتمند هیڅوك نه وی۔ دوی سمدستی د اسلام په حقیقت پو هه شو چه دا هغه دین دے چه ددے

قبلونکی په یو فلیټ فارم باندې راجمع کیږي او ددې منونکی ورونه ورونه گرځوی په یو صف کی ئې ودروی.

د حج موسم ختم شو دوی د اسلام دا پیغام ځان سره واخستو او مدینې تـه لاړل، مدینـه کی خبره خوره شوه چه دې کسانو ایمان راوړیدې او یو نبی پیدا شویدې نبی آخر الزمان، د انصارو یو کور هم داسې پاتې نشو چه هغې کی د رسول الله ﷺ تذکرې نهٔ وې او ویل به ئې چه هغه نبی پیدا شو چه یهودیانو به مونږ ته خبر راکولو.

پـه یـو حدیث کـی راغلی دی چه سیدنا حذیفه بن الیمان او سیدنا معاذ بن جبل به یهـودو تـه ورتـلـل هـغـوی تـه بـه ئې وئیل چه تاسو پدې نبی باندې ولې ایمان نهٔ راوړئ؟ حـال دا چه تاسو به مونږ ته ددهٔ صفتونه ښودل نو راشئ ایمان راوړئ. نو په یهودو کی چه به کوم کسان لږ نرم وو نو ښه جواب به ئې دا ووچه دا نبی د عربو نبی دې زمونږ نهٔ دې او کوم چه به ضدیان وو هغوی به وئیل چه دا هغه نبی نهٔ دې.

دا شپږ کسـان چه کله مدینې ته لاړل هلته ئې دعوت شروع کړو. نو په عامو انصارو کـی د اسلام گـونگسې خورشو او خـلـکو کی د آخری نبی او د اسلام خبرې کیدلې اگـرکـه عـامو انصارو ایمان نهٔ وو راوړې په دولسم کال د نبوت چه د حج ورځې راغلې نو بیعة العقبة الاولیٰ وشو.

بَیعَةُ العَقَبَۃِ الاُولیٰ

پـه دولسـم کال د نبوت چه د عیسیٰ علیه السلام نه راپدیخوا (۶۲۱) کاله تیر شوی وو، حـج د گـرمـئ پـه موسم کی وو د جون میاشت وه چه د عقبه اولیٰ بیعت وشو چه د هغې واقعه داسې وه:

چـه دولس کسـان د مـدیـنـې نـه راغـلـل پـنـځـه هغه مخکنی مؤمنان وو چه شپږم ملگرې جابر بن عبد الله ترې پاتې شو او پنځه راغلل او اوه کسان نور وو چه هغه دا دی: دوه کسان د اَوس قبیلې دی او باقی د خزرج نه دی:

۱ – معاذ بن الحارث ابن عفراء (د بنو النجار د خزرج نه)

۲ – ذَکوَان بن عبد القیس (د بنو زُرَیق د خزرج نه)

٣- عُبَادَه بن صَامت (د بنو غنم د خزرج نه)
٤-يزيد بن ثَعْلَبه (د حلفاؤ د بنو غنم د خزرج نه)
٥- عَبَاس بن عُبَاده بن نَضْلَة (د بنو سالم د خزززج نه)
٦- ابو الْهَيْثَم بن تَيِّهَان (د بنو عبد الاشهل د اَوس نه)
٧- عُوَيْم بن سَاعِدَة (د بنی عمرو بن عوف د اوس نه)

دوی تهول دولس کسان وو نبی علیه السلام سره په منیٰ کی د شپے په وخت ملاؤ شو، رسول الله ﷺ د دوی نه تپوس وکړو چه تاسو مؤمنان یئ او که نهٔ ؟ دوی وویل چه اے د الله رسوله ! مونږ خو د مخکی نه ایمان راوړیدے۔ نبی علیه السلام ورته وفرمایل: کلمه د توحید وایئ ؟ دوی وویل : آؤ۔ زما رسالت منئ ؟ هغوی وویل: بیخی ئے منو، تهٔ د الله حق رسول ئے۔

پدے کی رسول الله ﷺ د دوی نه بل بیعت واخستو چه هغے ته بیعة النساء وائی یعنی هغه بیعت چه نبی علیه السلام به د مکے د فتح نه روسته د زنانو نه اخستلو دا بیعت به نبی علیه السلام د سړو نه هم اخستلو او د زنانو نه هم لیکن الله تعالیٰ په قرآن کریم کی د ښځو قید لګولے دے۔ الله فرمائی :

﴿يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا جَاءَكَ الْمُؤْمِنَاتُ يُبَايِعْنَكَ عَلَى أَنْ لَا يُشْرِكْنَ بِاللَّهِ شَيْئًا وَلَا يَسْرِقْنَ وَلَا يَزْنِينَ﴾ (الممتحنة:١٢) ۔

نو نبی علیه السلام دا دولس کسان کینول او پدے شپږو خبروئے ترے بیعت واخستو۔ د بیعت معنیٰ ده وعده کول۔ نبی علیه السلام ورته وفرمایل : اے زما ملګرو! ما سره بیعت وکړئ :

١- (عَلَى أَنْ لَا تُشْرِكُوا بِاللَّهِ شَيْئًا) چه تاسو به د الله سره شریکان نهٔ جوړوئ هیڅ شے) ځکه چه شرك په چا کی وی نو نور اعمال ئے الله ته قبول نهٔ دی، دا ګند به د ځان نه لری کوی۔

٢- (وَلَا تَزْنُوا) زنا به نهٔ کوئ۔
٣-(وَلَا تَسْرِقُوا) غلا به نهٔ کوئ۔ پردی مالونه به نهٔ اخلئ۔
٤- (وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُم) خپل اولاد به نهٔ وژنئ۔
٥- (وَلَا تَأْتُوا بِبُهْتَانٍ تَفْتَرُونَهُ بَيْنَ أَيْدِيكُمْ وَأَرْجُلِكُمْ)

بهتـان (او تهـمتونه به) په چا نهٔ ترئ. بهتان دیته وائی چه یو سړی کی عیب نشته او بـل تـن پرے الزام لګوی لکه زنا ئے نهٔ ده کړے او هغه ورته د زنا نسبت کوی، کافر نهٔ دے او هغـه ورتـه کـافـر وائـی، جاسوس نهٔ دے او هغه ورته جاسوس وائی، دا ډیره لویه ګناه ده. دے مجموعه پنځو ګناهونو ته افحش الذنوب وائی (یعنی ډیر غټ ګناهونه) دا اولنئ ګناه چه شرك دے ایمان ختموی او دا نور لوی ګناهونه دی مثال ئے داسے دے لکه د سړی ایمان یو روغ شے وی او توره ورته راخطا کړی او په مینځ ئے نیم کړی.

٦- شپږم ئے ورته دا وویل: (وَلَا تَعْصُوْنِیْ فِیْ مَعْرُوْفٍ)

په نیکئ کی به زما نافرمانی نهٔ کوئ.

ددے شپږو خبرو پابندی به کوئ: (فَمَنْ وَفٰی مِنْكُمْ فَأَجْرُهٗ عَلَی اللّٰهِ) چا چه ددے پابـنـدی وکـړه اجـر ئے پـه الله تـعالیٰ دے، پدے کی د دنیا مادیات او لالچ نشته لکه ډیر خلك داسے دی چه د دین یو کار شروع کوی اول ئے په دنیاوی ماده باندے نظر وی.

(وَمَنْ أَصَابَ مِنْ ذٰلِكَ شَیْئًا فَعُوْقِبَ بِهٖ فِی الدُّنْیَا فَهُوَ لَهٗ كَفَّارَةٌ).

پـدے ګناهونو کی که چا بعض ګناهونه وکړل د شرك نه بغیر او الله په دنیا کی ورله سزا ورکـړه، قـدری مـصـیبت ئے ورباندے راوستو یا ورنه چا لاس غوڅ کړو یا قصاص کـړے شـو، حـد پـرے جاری شو یا د الله د طرفه مصیبتونه راشی نو دا به ددهٔ دپاره د ګناه کـفـاره وی الله تـعـالـیٰ بـه ئے مـعـاف کړی نو الله تعالیٰ د مصیبت سره ګناهونه معاف کوی.

(وَمَنْ أَصَابَ مِنْ ذٰلِكَ شَیْئًا فَسَتَرَهُ اللّٰهُ، فَأَمْرُهٗ إِلَی اللّٰهِ، اِنْ شَاءَ عَاقَبَهٗ وَاِنْ شَاءَ عَفَا عَنْهُ)

او چا چـه دا ګـنـاهـونه وکړل او الله ورباندے پرده واچوله او حد ورباندے قائم نشو نو قـانـون دا دے چـه ددهٔ کـار به الله ته سپارلے شوے وی که د الله خوښه وه سزا به ورکړی او که د الله خوښه وی معافی به ورته وکړی.

(البخاری عن عبادة بن الصامت ۳۸۹۲ ومسلم: ٤٥٥٨ طبع دار الجیل)

دے دولسو صـحـابـه کـرامـو د رسـول الله ﷺ سره پدے شپږو خبرو بیعت وکړو چه مونږ به ددے پابندی کوو لکه عباده بن صامت رضی الله عنه به دا خبره کوله چه مونږ د رسول الله ﷺ سره پدے شپږو خبرو بیعت وکړو.

(**فائده**: د نبی عـلـیـه الـسلام سره بیعت کول فرض دی، د هغه سره به بیعت کولے

شی په ایمان بانـدے لـکه په مونږ هم دا فرض دی چه په نبی علیه السلام باندے به ایمان راوړو، دویم بیعت علی الاعمال دے چه صحابه کرامو به بیعت په بعض اعمالو کولو لکه دلته په اعمالو باندے بیعت شویدے چه ددے گناهونو نه ځان ساتل دی، کله نا کله صحابه کرامو په نورو اعمالو هم د نبی علیه السلام سره بیعت کړیدے۔

جریر بن عبد الله البجلی رضی الله عنه راغے ایمان ئے راوړو، دا فرمائی :

ما د رسول الله ﷺ په بیعت وکړو :

(عَلٰى اِقَامِ الصَّلٰوةِ وَاِيْتَاءِ الزَّكٰوةِ وَالنُّصْحِ لِكُلِّ مُسْلِمٍ) (۱/۴۱) رقم: ۵۷)۔

په مونځ قائمولو او په زکاة ورکولو او په خیر خواهی باندے د هر مسلمان دپاره) چه ستا په زړه کی به د هر مسلمان دپاره خیرخواهی وی۔

(**فائده** : جریر بن عبد الله رضی الله عنه کی دومره خیرخواهی وه چه د یو سړی نه ئے اس اخستلو د آس مالك ورته وویل دا په درے سوه دے نو دهٔ درے سوه روپیٔ ورکړے چه وے ئے کتلو آس ورته ښه ښکاره شو نوسل روپیٔ ئے نورے ورکړے چه بیا ئے وکتلو آس ورته قیمتی ښکاره شو سل ئے نورے ورکړے تردے چه اته سوه روپیٔ ئے ورکړے بیا ئے وویل چه ما د رسول الله ﷺ سره د هر مسلمان دپاره په خیر خواهیٔ باندے بیعت کړے دے۔

داسے خیر خواهی مونږ له هم پکار ده، په بیوعو او تجارتونو او په ټوله زندگیٔ کی، دا وجه ده چه زمونږ په تجارتونو کی ډیر خیر او گټه ځکه نشته چه خیرخواهی پکی نهٔ وی۔

(۲ **فائده:** دارنگه صحابه کرامو په جهاد باندے هم بیعت کړیدے۔

(۳**فائده:** د پیرانو او خانقاهونووالو سره بیعت جائز نهٔ دے ځکه دا بدعت دے د ځان نه جوړ شوی اذکار او طریقے ورته ښائی او بیعت د نبی ﷺ خصوصیت وو، سیدنا ابوبکر، عمر، عثمان او ابو هریره ﷺ د چا نه په اعمالو بیعت نهٔ دے اخستے، سلفو کی دا طریقه نهٔ وه، سلفو کی د تعلیم او تعلم طریقه وه، استاد به یو عمل وکړو شاگردانو به زدهٔ کولو، او پیری مریدی د دریمے صدیٔ نه روسته پیدا شویده دا د نصاراؤ نه پاتی دی پدے کی ډیر مرضونه پیدا کیږی د وحدة الوجود عقیده، د پیر تصور کول، د احکام شرعیه ؤ نه منکر کیدل، د قرآن کریم د درسونو او د جهاد خلاف کول)۔

په مدینه کې د اسلام سفیر

دے شپږو کسانو بیعت وکړو او نبي علیه السلام ورسره د خپل طرف نه یو داعي او سفیر ولیږلو چه هغه یو ښائسته ځوان سیدنا مصعب بن عمیر رضي الله عنه دے چه دا په اسلام کې پخوانے مؤمن دے، د سابقین اولین (اولنو مومنانو) نه دے په مکه کې دا ډیر مالداره سړے وو چه ښائسته جامے به ئے اغوستے او قیمتي عطر به ئے استعمالول چه کله ئے ایمان راوړو نو غریب شوځکه هرچا ورسره تعلق ختم کړو او د دین کارئے شروع کړو نو مالداري ئے ختمه شوه دومره غریب شو چه کله د اُحد په غزا کې شهید شو نو بیا ورته کفن نهٔ ملاویدهٔ یو ځادرئے وو چه په سر به ئے واچولو خپے به ئے ښکاره کیدلے او چه په خپو به ئے واچولو سر به ئے ښکاره کیدلو نبي علیه السلام وویل : ځادر ورله په سر واچوئ او په خپو باندے سر ګړے واچوئ، نبي علیه السلام به چه کله مصعب بن عمیر ولیدهٔ زړا به ورله ورتلله۔

مصعب بن عمیر ته به مُقری (د قرآن ښودونکے) وئیل کیدو، د قرآن ښائسته طریقے سره لوستونکے وو۔

سیدنا مصعب بن عمیر رضي الله عنه ئے ولیږه چه تهٔ مدینے ته لاړ شه او هلته د اسلام دعوت وکړه او د قرآن تعلیم ورکړه دے دپاره چه په مدینه کې کوم مسلمانان دي هغوی ته د شریعت احکام معلوم شي او نوي کسان ایمان راوړي نو مصعب بن عمیر لاړو او د اسعد بن زراره رضي الله عنه په کور کې دیره شو،

د دعوت طریقه په هغه وخت کې همدا وه چه یو کس یا دوه کسان به ئے ولیږل او په یو ځائ کې به دیرهٔ وو د قرآن درسونه به ئے کول او اسلام ته به ئے خلك رابلل اُوس هم غوره طریقه همدا ده چه علماء درسونه شروع کړي او عوام ورته کیني نو سیدنا مصعب بن عمیر رضي الله عنه په مدینه کې دعوت شروع کړو او د سیدنا اسعد بن زُراره رضي الله عنه په کور کې به اوسیدو او ددے لپاره ئے دعوت کولو چه مدینه د هجرت دپاره تیاره کړي او دار الخلافه جوړه شي۔

نو مصعب بن عمیر العبدري رضي الله عنه او اسعد بن زراره رضي الله عنه دواړه به

په یو ځای ددعوت دپاره ګرځیدل او خلکو ته به ئے د اسلام دعوت ورکولو۔

(فائده: د یو کس چه متقی وی د هغه په وجه الله پاك ډیر خیر خوروی خلکو ته هدایت وشی پکار ده چه مونږ کی هم تقویٰ راشی او خلکو ته زمونږ نه هدایت او نیك عمل خور شی او صحیح عقیده خلك زړه کړی۔

د مصعب بن عمیر او د اسعد بن زُراره د دعوت ناشنا واقعه

او د اسَید بن حُضیر د اسلام واقعه

د سیدنا مصعب بن عمیر او د سیدنا اسعد بن زراره رضی الله عنهما یوه ناشنا واقعه دا ده چه بنی عبد الاشهل په مدینه کی یوه قبیله وه دوی به د هغوی د دعوت دپاره ورتلل ځکه دا خلك د ایمان نه لری وو، غوښتل ئے چه د توحید دعوت ورکړی او د شرك نه بیزاره شی چه کله دوی دواړه دغه کلی خوا ته ورغلل نو یو باغ وو هغے ته داخل شو په دغه باغ کی یو کوهے وو چه بِئرِمَرَق ورته وئیل کیدهٔ د هغے په غاړه کیناستل نو کومو خلکو چه به ایمان راوړے وو هغوی به پدے مصعب بن عمیر پسے ګرځیدل ځکه دهٔ ته به خلکو مُقرِی وئیلو (یعنی نورو ته د قرآن تعلیم او درس ورکونکے)

نو مصعب بن عمیر ته په دغه باغ کی ډیر کسان راجمع شو پدے وخت کی د بنی عبد الاشهل د قبیلے دوه مشران وو یو اسید بن حضیر رضی الله عنه او بل سعد بن معاذ رضی الله عنه دوی دواړه مشرکان وو خبر شول چه دلته دا دوه کسان راغلی دی او خلکو ته دعوت کوی نو سعد بن معاذ اُسید بن حضیر ته وویل چه ته ورشه دغه باغ کی دوه کسان مصعب بن عمیر او اسعد بن زراره دی دوی منع کړه چه زمونږ دے علاقے ته نهٔ راځی ځکه زمونږ دا کمزوری خلك بی عقله کوی او د خپل پلار نیکه د دین نه ئے اړوی، او زهٔ درسره ځکه نهٔ ځم چه اسعد بن زراره زما د ترور (خالے) ځوی دے که زهٔ درسره لاړ شم صله رحمی به کټ شی که دا نهٔ وے نو دا بل به ما برابر کړے وے، په عربو کی دا قانون وو چه د صله رحمیٔ به ئے ډیر خیال ساتلو او په اسلام کی هم دا

قانون دے چه د خپلولئ به ډیر لحاظ کولے شی)،

اسید بن حضیر نیزه راواخسته او روان شو، کله چه سیدنا اسعد بن زراره رضی الله عنه اُسید ولیدو چه راروان دے نو مصعب بن عمیر ته ئے وویل چه دا یو سړے راروان دے چه د علاقے مشر دے که دهٔ چرته ایمان راوړو ډیر خلك به په اسلام کی داخل شی مشران چه کله ایمان راوړی کشران خپله تابع کیږی، نو تهٔ د الله نه رشتینی دعا وغواړه او په اخلاص سره دعوت ورکړه،

مصعب وویل : که کیناستو خبره به ورسره وکړم۔

پدے وخت کی اُسید بن حضیر راورسیده دوی ته ئے کنځلے وکړے او سخت الفاظ ئے ورته وویل چه تاسو څه له دلته راغلی یئ؟ دا کمزوری خلك بی وقوفه کوئ او د پلار نیکه د دین نه ئے اړوئ که ځانونه درباندے ګران وی نو زمونږ د خوا نه لاړ شئ۔

نو سیدنا مصعب بن عمیر رضی الله عنه ورته وویل تهٔ نهٔ کینے چه زمونږ خبره واورے که زمونږ خبره حقه وی قبوله به ئے کړے او که تهٔ زمونږ خبره بده ګنړے او زمونږ خبره درته غلطه ښکاره شی نو مونږ به خپله خبره بنده کړو نهٔ به ئے کوو،

(او دا د دعوت ښه طریقه ده چه مخاطب ته ووائی چه زما خبره واوره که غلطه وه مهٔ ئے منه او که صحیح وه نو ولے د صحیح خبرے نه انکار کوے)۔

نو اسید بن حضیر ورته وویل: د انصاف خبره دے وکړه، عرب ډیر هوښیار خلك وو په خبره پو هیدل نو هغه نیزه ئے په زمکه کی ناله کړه او د هغوی په خوا کی کیناستلو، مصعب بن عمیر رضی الله عنه په ډیر اخلاص سره پرے قرآن ولوسته نو په اسید بن حضیر باندے ئے ډیر ښه اثر وکړو ځکه عرب د قرآن په مقصد او فصاحت او بلاغت پو هیدل او د رسول الله ﷺ صفتونه ئے ورته بیان کړل او د اسلام تشریح ئے ورته وکړه چه اسلام یو جامع او کامل او غوره دین دے، د الله بندګی پکی ده او د رسول الله ﷺ تابعداری او جنت پکی دے او په اسلام کی دا دا اخلاق او اعمال دی۔

نو هوښیار سړے چه په کولاؤه سینه داسے خبرے واوری خامخا اسلام قبلوی نو د مصعب بن عمیر ملګری فرمائی : (فَوَاللّٰهِ لَعَرَفْنَا فِیْ وَجْهِهِ الْاِسْلَامَ قَبْلَ اَنْ یَّتَكَلَّمَ)

قسم په الله مونږ دهٔ په مخ کی اسلام ولیده مخکی د خبرو کولو نه) چه مخ ئے روښانه او ښائسته کیدو او پړقیدو ددے دعوت د آوریدو په وجه باندے او دعوت پرے

سمدست اثر وکړو.

نو اسید بن حضیر وویل : (مَا أَحْسَنَ هٰذَا وَأَجْمَلَهٗ؟).

دا څومره ښائسته او مزیدار دین دے؟ تاسو چه کله څوك پدے دین کی داخلوئ نو څه ترتیب وی ؟ نو مصعب بن عمیر رضی الله عنه ورته وویل: چه زمونږ په دین اسلام کی د داخلیدو طریقه دا ده چه بنده به اول غسل وکړی او جامے به پاکے کړی

(دا ددے دپاره چه د الله دین ته راځی چه ظاهر او باطن دواړه پاك شی،

یو کس (کُلَیب) ایمان راوړو نبی ﷺ ورته وفرمایل:

(أَلْقِ عَنْكَ شَعْرَ الْكُفْرِ وَاخْتَتِنْ) (ابو داود باسناد حسن رقم: ۳۵٦ طبع دار الکتاب بیروت).

لاړ شه د کفر ویښته لرے کړه او ځان سنت کړه)

نو مصعب بن عمیر ورته وویل چه کله غسل وکړی بیا به د حق کلمه ووائی : (اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ) دیته شهادة الحق (د حق گواهی) وائی او بیا به دوه رکعته مونځ وکړے (چه د اول نه دے د الله سره تعلق جوړ شی) نو اسید بن حضیر پاڅیدو، غسل ئے وکړو او جامے ئے هم بدلے کړے او بیا ئے کلمه د حق ووئیله او بیا ئے دوه رکعاته مونځ هم وکړو، او په اسلام باندے مشرف شو.

د سیدنا اسید بن حضیر رضی الله عنه فضائل

سیدنا اُسید بن حضیر رضی الله عنه ایمان راوړو دا ډیر اُوچت صحابی وو ددهٔ ډیر کرامات وو د قرآن سره ئے ډیره مینه وه او قرآن به ئے په ډیر ښکلی آواز باندے لوستلو چه ملائك به ددهٔ په آواز باندے راکوزیدل لکه په یو حدیث کی راځی چه دهٔ د شپے قرآن لوستلو رڼا گانے جوړے شوے چه د هغے د وجه نه اس لتی وهلے نو دے حیران شو چه دا ولے لتی وهی؟!! نو قراء ت ئے په قلاره کړو نو اَس په قلاره شو ځکه هغه ملائك جدا شو بیا ئے په اُوچت آواز قراء ت شروع کړو نو اس بیا لتی شروع کړے نو دهٔ وویل چه څوی مے دلته پروت دے چه هغه راله مړ نکړی نو هغه خپل بچے ئے راجدا کړو چه د هغه یحیٰی نوم وو نو چه وے کتل رڼا ده او بره روانه ده، آخر هغه رڼا غائبه شوه صبا ته مے نبی علیه السلام ته دا واقعه بیان کړه،

نبی علیه السلام وفرمایل: (تِلْكَ السَّكِينَةُ تَنَزَّلَتْ لِلْقُرْآنِ) (بخاری ومسلم)
دا سکینه (ملائك) وو چه د قرآن د آوریدو دپاره راکوز شوی وو. بیا نبی علیه السلام وفرمایل: (اِقْرَأْ يَا أُسَيْدُ) قرآن وایه اے اُسیده قرآن مهٔ پریده. ځکه تا ته د داود علیه السلام په شان آواز درکړے شویدے. (ابونعیم)
سیدنا اُسید بن حضیر رضی الله عنه به فرمایل: که درے وختونو کی په ما مرګ راشی زهٔ به یقینی جنتی یم (۱): (عِنْدَ خُطْبَةِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ) د رسول الله ﷺ د خطبے په وخت کی. (۲): (عِنْدَ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ) د قرآن کریم د تلاوت په وخت کی ځکه پدے وخت کی زما توجه ډیره برابره وی. (۳) دریم د جنازے په وخت کی،
دا د زړه د جوړیدو دلیل دے چه پدے وختونو کی اثر اخلی. او چه پدے وختونو کی په زړه اثر نهٔ وی نو دا دلیل دے چه زړه خراب دے.
(**فائده**: دعوت پکار دے کیدے شی چه ستا د دعوت په وجه یو چا ته هدایت وشی او د هغه نه قیمتی انسان جوړ شی لکه اسید بن حضیر رضی الله عنه مسلمان شو او د قوم سردار وو، ډیر خیر ترے خور شو)
اسید بن حضیر رضی الله عنه چه کله مسلمان شو خپل ملګری ته واپس شو ددهٔ ملګرے سعد بن معاذ په هغه مجلس کی ناست وو چه کله ئے دے ولیدهٔ سعد بن معاذ خپلو ملګرو ته وویل: (وَاللهِ لَقَدْ جَاءَكُمْ بِغَيْرِ الْوَجْهِ الَّذِيْ ذَهَبَ بِهِ)
قسم په الله دا شخص تاسو ته په غیر د هغه مخ باندے راروان دے په کوم باندے چه تلے وو یعنی چه تلے وو مخ ئے جدا وو (خړ پړ وو) او د هغه طرفه چه راغے رنګ ئے تازه او ښائسته وو بدل شوے وو.
نو اسید بن حضیر رضی الله عنه د حکمت نه کار واخستلو کله چه راغے یه مجلس باندے ودریدو سعد بن معاذ ورته وویل: څه دے وکړل؟ نو دهٔ ورته وویل چه دواړو سړو سره مے خبره وکړه، او هغوی څه داسے د نقصان خبرے نهٔ کولے، ما دواړه منع کړل نو هغوی وویل چه تهٔ څه غواړے هغه به کوو.
(دهٔ خپلو ملګرو ته دا ونهٔ وئیل چه زهٔ مسلمان شوے یم) بیا دهٔ یو چل جوړ کړو چه سعد بن معاذ هم لاړ شی او دا خبرے واوری نو سمدست ئے سعد ته ونهٔ ویل چه تهٔ لاړ شه بلکه هغه ته ئے داسے وویل چه هلکه ما ته داسے وئیلے شویدی چه بنوحارثه یوه

قبیله ده هغه راځي او دغه باغ کې ستا دغه د ترور ځوی (اسعد بن زراره) وژني، د هغه د قتل اراده ئې کړیده، ستا خپلولي خرابوي او ستا د خپلولۍ امان ختموي نو دے ئې غصه کړو چه زما د ترور ځوی څوك څنګه مړ کړي؟ نو دهٔ خپله نیزه واخسته او په جلتۍ باندے ورغے چه زما د ترور ځوی څوك مړ نکړي نو دے چه کله ورغلو مصعب بن عمیر او اسعد بن زراره رضي الله عنهما په خپل حالت کې د خپلو ملګرو سره ناست دي څه خطره نشته نودے پدے پو هه شو چه د دوی د قتل اراده نهٔ ده شوے بلکه دا هسے اسید بن حضیر زهٔ دلته د خبرے د آوریدو دپاره راوستلم۔

نو سعد بن معاذ دواړو ته په ردو بدو شروع شو چه تاسو زمونږ ماشومان ولے خرابوئ؟ ولے دلته راغلی یئ؟ زمونږ پدے کورونو کې ماشومانو ته غلط دعوت ورکوئ او سفاهت او بې عقلي خوروئ او اسعد بن زراره ته ئې ووېل اے ابو امامه ! قسم په الله که تهٔ زما د ترور ځوی نهٔ وے ما به سخته سزا درکړے وے او دا کار به تا زما نه نهٔ وے کړے او مصعب بن عمیر ته ئې هم ووېل چه تا سره زما د ترور ځوی دے که نهٔ وے نو ما به سخت وهل او سزا درکړے وے۔

ددهٔ د راتللو نه مخکې سیدنا اسعد بن زراره رضي الله عنه مصعب بن عمیر رضي الله عنه ته ووېل چه دا د قوم مشر راروان دے که دا ستا تابعداري وکړي او ایمان راوړي ددهٔ پسے روستو قوم دے هیڅوك به ددهٔ نه پاتې نهٔ شي نو په اخلاص سره دعوت ورکړه نو سیدنا مصعب بن عمیر سعد ته ووېل چه آیا نهٔ کینے چه خبره واورے کچرته داسے خبره مے وکړه چه ښه وه او ستا خوښه شوه نو قبوله ئې کړه او که تهٔ زمونږ خبره بده ګنړے او بده درته ښکاره شي مونږ به د خپلے خبرے نه منع شو۔

نو سعد بن معاذ ووېل : د انصاف خبره دے وکړه، کیناستهٔ او خپله نیزه ئې په زمکه کې ناله کړه نو مصعب بن عمیر رضي الله عنه ورته د اسلام دعوت ورکړو او قرآن ئې پرے ولوسته او قرآن کریم یو ناشنا تاثیرناك کتاب دے او خاصکر د صحابي په خُله چه په ښه آواز لوستل کیږي او آوریدونکے پرے پو هیږي نو دا به څنګه اثر نهٔ کوي نو اثر ئې پرےَ وکړو او د اسلام خوبیانې او فائدے او کمالات ئې ورته بیان کړل۔

صحابه فرمائي چه دهٔ لا اسلام راوړے نهٔ وو چه مونږ ددهٔ په مخ کې اسلام ولیدهٔ چه مخ ئې پرقیدو او زلیدو نو سعد بن معاذ ووېل چه تاسو پدے دین

کی سرہے داخلوئ د هغے څه طریقه ده؟ نو هغوی ورته وویل چه څوك اسلام کی داخلیږی غسل به وکړی او پاکے جامے به واچوی او بیا به د حقے کلمے ګواهی ورکړی او بیا به دوه رکعاته مونځ وکړی،

نو سعد بن معاذ رضی الله عنه دا کار وکړو او اسلام کی داخل شو او کلمه د حق ئے وویله بیا لاړو د خپل قوم مجلس ته هرکله چه هغوی ولیدو وے وئیل چه دا سړے په بدل مخ باندے راروان دے، هرکله چه دے د هغوی په مجلس کی ودریدو وے فرمایل:

(یَا بَنِیْ عَبْدِ الْاَشْهَلِ) اے خلکو! په تاسو کی زهٔ څنګه سړے یم؟

نو هغوی وویل: تهٔ زمونږ سردار ئے او په مونږ کی غوره ئے۔

نو سعد رضی الله عنه ورته وفرمایل: چه زما خبرے تاسو سړو او ښځو سره حرامی دی ترڅو چه تاسو په الله او د هغه په رسول باندے ایمان رانهٔ وړئ او توحید قبول نکړئ، تاسو به د محمد رسول الله ﷺ رسالت منئ او توحید به قبلوئ هله به زهٔ تاسو سره خبرے کوم۔ نو پدے کی عامو خلکو ایمان راوړو چه زمونږ مشر ایمان راوړیدے نو مونږ هم په اسلام کی داخلیږو۔

صرف د یو کس نه علاوه چه د هغه نوم اُصَیْرِم وو ټول قوم ایمان راوړو او دهٔ پدے وخت کی ایمان رانهٔ وړو بیا روسته د اُحد د غزا په وخت کی ئے ایمان راوړو، دهٔ په اول وخت کی ایمان رانهٔ وړو ځکه دا مشر سړے وو د سعد بن معاذ خبرے پرے دومره اثر ونکړو لیکن الله تعالیٰ په تقدیر کی مؤمن او جنتی لیکلے وو،

کله چه نبی علیه السلام او صحابه کرام د احد غزا ته روان شو نو دهٔ په زړه کی راغلل چه ایمان راوړل پکار دی ځکه زما قوم او د الله رسول د کفارو سره جنګ کوی او مونږ همداسے ناست یو نو ایمان ئے راوړو په غیر ددینه چه د نبی علیه السلام سره ملاؤ شی د هغه سره ئے د ملاقات نه په غیر کلمه د شهادت وویله ځکه د اسلام احکام او د توحید د عقیدے مسائل دهٔ په مدینه کی آوریدلی وو نو ایمان ئے راوړو او روان شو او خپله توره ئے واخسته او د احد په جنګ کی شریك شو جنګ ئے کولو کولو تردے چه په همدے غزا کی شهید شو، نبی علیه السلام ددهٔ په باره کی وفرمایل:

(عَمِلَ قَلِیْلًا وَاُجِرَ کَثِیْرًا) عمل ئے کم وکړو او اجر ورته ډیر ملاو شو۔ کم عمل دا دے چه یوه سجده ئے هم الله ته نهٔ وه لګولے نهٔ ئے مونځ کړے، نهٔ ئے زکاة ورکړے لیکن ایمان

ئے راوړو او جهاد کې شریك شو او شهادت ورته حاصل شو نو خاتمه ئے په ایمان شوه۔

سیدنا مصعب بن عمیر او سیدنا اسعد بن زراره رضی الله عنهما به په مدینه کې دعوت کولو پدے کې ډیرو خلکو ایمان راوړو او په مدینه کې اسلام خور شو څه لږ لږ کسان وو چه اسلام کې داخل نشو، بنی امیه بن زید، بنی خطمه، بنو وائل دے کسانو ایمان رانهٔ وړو چه بیا په پنځم کال د هجرت دوی په اسلام کې داخل شو ددے وجه دا وه چه د دوی مشر غلط وو او دوی د هغه تقلید کولو او ددے درے واړو قبیلو یو مشر وو چه د هغه نوم قیس بن اسلت شاعر وو۔قوم ددهٔ ډیر خبره منونکی وو، دے شاعر به ورته ویل چه ایمان مهٔ راوړئ،

(عربو به د شاعرانو تابعداری ډیره کوله ځکه هغه زمانه کې د خبرے د خورولو دوه طریقے وے یو خطابت او بل شعر عربو به شعر ډیر زر یادولو بلکه پدے کې به ئے مقابلے کولے کعبے ته ئے اوه معلقے (د اشعارو مجموعے) زوړندے کړے وے خپل فصاحت او بلاغت به ئے په شعر سره ښکاره کولو نو د شعر سره به ئے ډیره مینه وه)۔

فائده: یوه واقعه کې راځی چه د شعر متعلق ده: یو اعرابی راغے ایمان ئے راوړو او رسول الله ﷺ ورته د مانځه تعلیم ورکړو چه مونځ کوه هغه وویل چه څو رکعاته مونځ دے؟ نبی علیه السلام د هغے اندازه ورته بیان کړه چه سهار دوه رکعاته دی د ماسپښین څلور دی الخ هغه لاړو صبا ته بیرته راغے نبی علیه السلام ته ئے وویل هغه رکعتونه رانه ګډ وډ شو نبی علیه السلام ورته بیا د پنځه مونځونو د رکعتونو تعداد بیان کړو په دریمه ورځ بیا راغے چه هغه رکعتونه رانه بیا خطا شو نو یو مسلمان شاعر وو هغه وویل: اے د الله رسوله! ما ته ئے پریده چه زهٔ ورته مونځ وښایم نبی علیه السلام ورته وویل: تهٔ ئے ورته بیان کړه ځکه د عربو شعرونه ښه یادیدل نو هغه ورته وویل:

يَا هٰذَا اِنَّ الصَّلَاةَ أَرْبَعٌ فَأَرْبَعٌ ○ فَثَلَاثٌ بَعْدَهُنَّ أَرْبَعٌ ○ وَالْفَجْرُ رَكْعَتَيْنِ لَا تُضَيِّعُ

اے سړیه! مونځ څلور رکعاته د ماسپښین دی بیا څلور د مازیګر دی بیا درے د ماښام دی د هغے نه روسته څلور د ماسخوتن دی او سهار دوه رکعاته دی چه ضائع ئے نهٔ کړے)۔ نو خلك حیران شو او وے خندل چه دا څنګه ښائسته تعلیم ئے ورته ورکړو۔

د عربو د شعر سره ډیر تعلق وو او شاعر ورته ډیر لوی شے ښکاره کیدو ددے وجه نه

دوی د شعر نه متأثره وو نو نبی علیه السلام ته به ئے شاعر وئیلو سره ددے نه چه پدے پو هیدل چه دا شاعر نهٔ دے ځکه دوی په شعر پو هیدل)۔

مدینه منوره دار اسلام جوړ شو ډیر کورونه اسلام کی داخل شو۔

کله چه دیارلسم کال د نبوت شو سیدنا مصعب بن عمیر رضی الله عنه د مدینے نه مکے ته لاړو نبی علیه السلام ته ئے خبر ورکړو او زیرے ئے ورکړو چه مدینه کی ډیرو خلکو ایمان راوړو او د مدینے د خلکو صله رحمی او ښائسته اخلاق او خیر او د هغوی د دشمن د مقابلے طاقت تولے خبرے ئے ورته بیان کړے۔

بَیۡعَةُ الۡعَقَبَةِ الثَّانِیَة (دویم بیعتِ عَقَبه)

نو په دیارلسم کال د نبوت د حج په موسم کی په (۶۲۲ء) کال کی د مدینے نه نور کسان راغلل چه څه کشران صحابه کرام وو او مشرکین هم ورسره وو نو په لاره کی دے مؤمنانو مشوره وکړه چه:

(حَتّٰی مَتٰی نَتۡرُكَ رَسُوۡلَ اللّٰهِ ﷺ یَطُوۡفُ وَیُطۡرَدُ فِیۡ جِبَالِ مَکَّةَ وَیُخَافُ؟)

دا ترڅو پورے به رسول الله ﷺ مونږ په مکه کی پریدو چه خلك به ئے په غرونو کی زغلوی او یرولے به شی؟ نو دا پیغمبر مدینے ته راولو۔

دا صحابه کرام څه دپاسه اویا کسان وو او دوه ورسره زنانه وے یوه نُسَیۡبَه بنت کعب الانصاریه (ام عمّاره) د بنو مازن بن النجار نه او بله اسماء بنت عمرو (ام مَنِیع) د بنو سلمهٔ نه رضی الله عنهما۔

بعض روایاتو کی دی چه کعب بن مالك ﷺ وائی مونږ درے اویا کسان وو او دوه راسره زنانه وے۔ (الروض الانف ۲/۲۵۸)

او دے صحابه کرامو مشران خبر نکړل تردے چه مکے مکرمے ته ورسیدل د عمرے مراسم ئے ادا کړل او د رسول الله ﷺ سره ئے پټ روابط ونیول چه مونږ سره یو ځای کی کینه چه خبرے وکړو دوه کسان ئے ور ولیږل سیدنا کعب بن مالك ﷺ او سیدنا براء بن معرور ﷺ چه تاسو د رسول الله ﷺ نه وخت واخلئ، دوی مخکی نه نبی علیه السلام نهٔ وو لیدلے نو دوی د چا نه تپوس وکړو چه محمد څوك دے؟ نو چا ورته وویل چه تاسو

عباس پیژنئ دوی وویل آؤ، ځکه عباس مشر سړے وو نو هغه ورته وویل : دغه عباس سره چه ناست دے دغه سړے محمد دے او عباس ئے ترهٔ دے۔

د ورځے دوی ورغـلـل تعارف ئے ورسره وکړو نبی علیه السلام ورته وویل تاسو څوك یئ؟ نو هغوی وویل : دا یو براء بن معرور او زهٔ کعب بن مالك یم۔ نو نبی علیه السلام ورته وویل : الشاعر، ته هغه شاعر کعب ئے ؟ نو ما ورته وویل: آؤ، زه هغه شاعر یم۔

نو کـعـب بـن مـالك فـرمـائـی چـه زهٔ د رسول الله ﷺ دا خبره نهٔ هیروم چه ما ته ئے شاعر وویل۔

(رسول الله ﷺ ورته دا الشاعر د خوشحالئ د وجه نه وویلو چه یو شاعر دے او راځی زما تـابـعـدار کـیـږی ځـکـه شاعر چه د یو سړی ملګرے شی او ایمان راوړی ددے داسے مثال دے لـکـه ریډیـو تیشن چه واخلی چه خپل دعوت خوروی ځکه د شاعر خبره د ریډیو په شان ډیره خوریدله نو ددهٔ په وجه به خلك په اسلام کی ډیر داخلیږی)۔

سیـدنـا کـعـب او سیـدنـا بـراء بـن معرور دواړو ورته وویل چه تهٔ زمونږ د ملګرو سره مـلاقـات وکـړه نو نبی علیه السلام ورته وویل چه د ایام تشریق د لوی اختر یولسمه یا دولسـمه شپه به د جمرة الصغریٰ (چه خلك ورته وړکے شیطان وائی) ددهٔ په غره کی به په فلانکی ځای کی راجمع کیږو۔

دوی وویل مونږ به درځو تا سره به بیعت کوو۔ نبی علیه السلام ورته وویل : صحیح ده راشئ د شپے وخت ئے ځکه مقرر کړو چه د مشرکینو نه ډیره یره او خطره وه۔

نو دوی دا ترتیب اختیار کړو چه کله دغه شپه راغله دوی په منیٰ کی اُودهٔ شو او چه کله د شپے دریمه حصه شوه راپاڅیدل راروان شو هغه ځای ته راغلل۔

کـعـب بـن مالك رضی الله عنه فرمائی چه مونږ کله د نبی علیه السلام ملاقات له تـلـلـو نـو مونږه د قطا مارغه په شان روان شو غلی غلی۔ قطا مارغه ډیر په پټه د خپل مـقـصـد ځای ته ورځی مونږ د هغه په شان روان وو، پدے وجه چه خپل قوم (مشرکان) مو ونهٔ وینی او د مکے مشرکان مو هم ونهٔ وینی هغه ځای ته ورسیدو،

مـونـږ سره یـو مشـر وو عبـد الله بن عمرو بن حرام (د جابر رضی الله عنه) پلار چه دا پدے وخت کـی مسلمان شوے نهٔ وو لیکن صحابه کرامو په دهٔ کی خیر لیدو نو ځکه ئے دا هم راپاڅولو او د ځان سره د تللو دعوت ئے ورکړو او دا ئے ورته وویل چه تهٔ پو هه،

شریف او مشر او سردار سړے ئے مونږ دا نۀ غواړو چه تۀ صبا دپاره د اُور خشاك جوړ شے نو ایمان راوړه اُوس مونږ د نبی علیه السلام ملاقات ته څو تۀ هم راسره لاړ شه نو دۀ هم اسلام قبول کړو او د نبی علیه السلام په غیاب کی ئے ایمان راوړو، نبی علیه السلام سره ئے لا ملاقات نۀ دے شوے،

دے درے اویا کسانو سړو او دوه زنانهؤ د رسول الله ﷺ ملاقات وکړو او د نبی علیه السلام سره د هغه تره عباس هم ملګرے وو چه پدے وخت کی ئے ایمان نۀ وو راوړے لیکن عباس امین سړے وو او پدے خوشحالیدو چه د خپل وراره کار ته حاضر شی۔

د خبرو شروع او د عباس ددے مسئولیت خطره بیانول

کله چه دوی د یو بل سره ملاؤ شو نو اول خبرے عباس (رضی الله عنه) شروع کړے عباس رضی الله عنه د مدینے دے ګلانو ته ووبل چه دا محمد زما وراره دے زۀ ددۀ سره په عقیده کی ملګرے نۀ یم،

د مکے مشرکان ددۀ د قتل اراده لری او مونږ بنو عبد المطلب ددۀ حفاظت کوو اُوس دا پیغمبر تاسو ته درځی کچرته دا په لاره کی پریدئ او ددۀ حفاظت نشئ کولے نو اُوس ئے پریدئ څکه دے په عزت او حفاظت کی دے د خپل قوم نه او کچرته ددۀ پوره حفاظت کولے شئ نو بیا ددۀ خوښه دهٔ چه درځی او که نۀ؟

نود دین دے پتنګانو ورته ووبل چه مونږ ستا خبره واوریده۔ نبی علیه السلام ته ئے ووبل چه اُوس تۀ خبرے وکړه اے د الله رسوله ! د خپل رب دپاره او د خپل ځان دپاره په مونږ شرطونه کیده او مونږ نه لوظونه واخله۔

(ددے جواب نه معلومیږی چه دا ګلان په خپل عزم کی ډیر مضبوط وو او د ایمان خوند ئے زړۀ ته کوز شوے وو او پدے مسئله کی ئے هر قسم خطرے ته ځان پیش کړے وو)

نبی علیه السلام په دوی باندے قرآن ولوسته او اسلام ته ئے ترغیب ورکړو نو دوی ووبل چه مونږ خو دا تولے خبرے منو څکه دوی د مخکی نه اسلام قبول کړے وو نو نبی علیه السلام ورته د اسلام نوره تشریح ونکړه، د مانځه، د زکاة، روژے او حج وغیره څکه پدے باندے دوی پو هه وو نو په دوی باندے ئے شرطونه کیښودل چه هغه

پـنـځه شرطونه وو چه پدے به ما سره بیعت کوئ او دا د جابر رضی الله عنه په روایت د امام احمد کی ذکر کړیدی (مسند احمد : ۳/۳۲۲)

(۱) اوله خبره (عَلَى السَّمعِ وَالطَّاعَةِ فِي الْمَنْشَطِ وَالْمَكْرَهِ، فِي النَّشَاطِ وَالْكَسَلِ)

چه تـاسـو بـه زما خبره آورئ او زما تابعداری به کوئ که تاسو خوشحاله یئ او که خـفـه، تـازه یئ او که سست. او دا به د مسلمان صفت وی چه هغه به په خوشحالئ او خـفـګـان او په فقر او مالداریٔ کی او په ځوانئ او بوډاوالی او په مرض او صحت کی د الله د حکم او د نبی د طریقے لحاظ ساتی۔

(۲) (وَعَلَى النَّفَقَةِ فِي الْعُسْرِ وَالْيُسْرِ) دویـم دا چـه خـرچه به کوئ چه غریب یئ او که مالداره۔ وجه دا ده چه د جهاد فی سبیل الله دپاره مال لګول ضروزی دی۔

(**فائده:** پدے خبرو زمونږ نه هم بیعت اخستل شویدے پکار ده چه مونږ هم خپل مال خرچ کړو د جهاد او مسکینانو او مدرسو دپاره)۔

(۳) دریمه خبره : (وَعَلَى الْأَمْرِ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّهْيِ عَنِ الْمُنْكَرِ)

د نیکئ امر به کوئ او د ناروا نه به منع کوئ۔

(٤) څلورمه خبره : (وَعَلَى أَنْ تَقُومُوا فِي اللّٰهِ، لَا تَأْخُذُكُمْ فِي اللّٰهِ لَوْمَةُ لَائِمٍ)

د الله د دین په باره کی به د یو ملامت کونکی د ملامتیا نه یره نکوئ۔ خلك به ډیره مـلامتیـا وائـی او خبرے بـه کـوی چـه صابیان شو د پلار نیکه دین مو پریښودو لیکن تـاسـو بـه د چا د ملامتیا نه نهٔ یریږئ۔ او دا د مؤمنانو صفت دے په قرآن کریم کی بیان شویدے : ﴿وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَائِمٍ﴾ (المائدة:٥٤)۔

دوی د چا د ملامتیا پرواه نهٔ کوی۔

(۵) پـنـځـمه خبره : (وَعَلَى أَنْ تَنْصُرُونِي إِذَا قَدِمْتُ إِلَيْكُمْ وَتَمْنَعُونِي مِمَّا تَمْنَعُونَ مِنْهُ أَنْفُسَكُمْ وَأَزْوَاجَكُمْ وَأَبْنَاءَكُمْ وَلَكُمُ الْجَنَّةُ)

تـاسـو بـه زما مدد کوئ کله چه زهٔ ستاسو خوا ته درشم او تاسو به زما داسے حفاظت کـوئ لکه څنګه چه د خپلو ځانونو او د خپلو ښځو او اولادو حفاظت کوئ (زما نه به داسے دفاع کوئ) او ددے په بدله کی به تاسو ته الله تعالیٰ جنت درکوی دا زما تاسو سره وعده شوه۔

(٦) په بعضو روایتونو کی دا هم راغلی دی چه نبی علیه السلام ورته شپږمه خبره

هم وکړه چه : (أَنْ لَّا نُنَازِعَ الْأَمْرَ أَهْلَهُ) که یو سړے مشر شو او الله ورله خلافت ورکړو او هغه ئے اهل او لائق وو او هغه د دین کار کولو نو تاسو به د هغه سره جګړے نۀ کوئ۔

دا هم په بعضو احادیثو کې راغلې دی لیکن پدے مقام کې دغه پنځه خبرے په باب د سیرت کې مشهورې دی۔

پدے پنځه خبرو باندے بیعت زمونږ نه هم اخستے شویدے رسول الله ﷺ خو ژوندے نۀ دے خو د هغه د سنتو حفاظت په مونږ باندے لازم دے، د نبی علیه السلام په سنتو غیرت پکار دے۔

پدے پنځو خبرو بیعت وشو پدے کې یو صحابی براء بن معرور رضی الله عنه لاس راوړاندے کړو او وے وئیل چه قسم په هغه الله چه تۀ ئے په حق سره نبی رالیږلے ئے مونږ به ستا داسے حفاظت کوو لکه څنګه چه د خپلو بیبیانو حفاظت کوو بالکل به پدے وعده کلک یو، مونږ سره وعده وکړه اے د الله رسوله مونږ قسم په الله جنګیان یو او د یوے کړئ خلک یو او دا کار مونږ د مشرانو نه په میراث کې اخستے دے۔

براء بن معرور رضی الله عنه لا خبرے کولے چه پدے مینځ کې ابوالهیثم بن التیهان رضی الله عنه ووئیل اے د الله رسوله ! زمونږ او د یهودو ترمینځ وعدے دی او د هغوی سره زمونږ تعلقات او خپلولی ده مونږ په تا باندے ایمان راوړو اُوس به مونږ د هغوی سره مقاطعه او بائیکاټ کوو چه الله تعالیٰ کله تا له غلبه درکړی نو بیا به ته بیرته خپل قوم ته راواپس کیږے او مونږ به یواځے پریدے او هلته به مونږ د یهودو سره هم ورانه کړی وی او ته به رانه بیرته مکے ته راشے چرته داسے کار خو به نۀ کیږی ؟

ددے صحابی مقصد دا وو چه پوره به راځے مونږ به یواځے نۀ پریدے نو نبی علیه السلام مُسکے شو او وے فرمایل:

(بَلِ الدَّمُ الدَّمُ، وَالْهَدَمُ الْهَدَمُ، أَنَا مِنْكُمْ وَأَنْتُمْ مِنِّيْ أُحَارِبُ مَنْ حَارَبْتُمْ وَأُسَالِمُ مَنْ سَالَمْتُمْ)

بلکه زمونږ او ستاسو وینه شریکه ده او زما مرګ به هم تاسو سره وی، زۀ ستاسو نه یم او تاسو زما نه یئ، زۀ به هغه چا سره جنګ کوم چه تاسو ورسره جنګ کوئ او زۀ به هغه چا سره صلح کوم چه تاسو ورسره صلحه کوئ)۔ زۀ به نۀ واپس کیږم او رسول الله ﷺ تر مرګه پورے په همدے لوظ باندے پاتے شو چه د مکے د فتح نه روسته رسول الله ﷺ په مکه کې نۀ دے وسیدلے بلکه مدینے ته واپس راغے او هلته ئے

د دنیا نه رحلت هم وکړو۔

ددے بیعت د خطرے بیانولو تاکید

کله چه دا بیعت وشو نو دوه صحابه کرام د یو بل نه روستو پاځیدل او ددے مسئولیت او ددے کار خطرئے ورته بیان کړو او خبره ئے مضبوطه کړه دے دپاره چه د ملګرو قربانی معلومه کړی او دے دپاره چه دوی په ډیره ښکاره توګه بیعت وکړی او په سوچ او فکر سره بیعت وکړی،

عباس بن عباده بن نضله رضی الله عنه پاځیدو خپلو ملګرو ته ئے وویل چه تاسو چه ددے سړی سره وعده کوئ پدے کی به ستاسو مالونه ځی پدے کی به ستاسو مشران قتلیږی پدے کی به دا ټول عرب او عجم ستاسو دشمنان ګرځی کچرته په وخت د مصیبت کی دا نبی پریدئ اُوس ئے پریدئ او کچرته دا نبی مو پریښوده نو الله به په دنیا او آخرت کی سخت عذاب درکړی۔ او کچرته تاسو دا اراده لرئ چه دا نبی مونږ نۀ پریدو اګرکه زمونږ مشران مړه کیږی او مالونه مو ځی نو پدے کی د دنیا او د آخرت خیر او عزت دے۔ صحابه کرامو وویل: چه مونږ دے هرڅه ته تیار یو۔

سیدنا جابر رضی الله عنه وائی مونږ راپاځیدو چه د نبی علیه السلام سره بیعت وکړو مګر پدے مینځ کی اسعد بن زراره رضی الله عنه (چه کشر صحابی وو لیکن د علم او د پوهے په لحاظ سره مشر او د قوم سردار وو) د رسول الله ﷺ لاس ئے ونیولو خلکو ته ئے وویل تاسو به بیعت نۀ کوئ ځکه چه مونږ دلته په اُوښانو راغلی یو ددے سړی خوا له، مونږ ته دا علم دے چه دا د الله رسول دے ځکه مونږ دا سفرے دۀ پسے کړیدی، دا د الله حق رسول دے تاسو پوهیږئ چه ددۀ سره چه مونږ بیعت کوو ددے څه معنیٰ ده؟ معنیٰ ئے دا ده چه نن ورځے نه د ټولو عربو نه جدائی (او هغوی سره د دشمنئ اعلان) او ستاسو د مشرانو قتل کیدل او ستاسو په سرونو د تورو ګوزارونه کیدل دی، پدے کی به ستاسو مالونه ځی پدے کی به ستاسو مشران قتل کیږی، نو که تاسو دے ته صبر کولے شئ نو دا لوظ واخلئ او ستاسو اجر به په الله تعالیٰ بلندے وی او که ددے نه یره کوئ نو اوس نه ئے پریدئ نو دا به ستاسو دپاره د الله تعالیٰ په نیز

یو عذر وی۔

سیدنا جابر ﷺ وائی : ملګرو ورته وویل چه اسعده ! لاس دے لرے کړه مونږ د رسول الله ﷺ سره بیعت کوو قسم په الله دا بیعت مونږ نهٔ پریدو او نهٔ بیرته د خپلو خبرو نه رجوع کوو۔

بعضو روایتونو کی راځي چه که دا کار مونږ وکړو یعنې تاسو سره مو بیعت وکړو مونږ له به څه شے راکوی، د الله نبی ورته د دنیا لالچ ورنکړو چه خلافت به درکړم، پیسے به درکړم ځکه د انبیاء علیهم السلام دعوت د بصیرت دعوت وی چه هغه په الله او په آخرت ایمان لرل دی د دنیا لالچ ئے ورنکړو وجه دا ده چه په مادیاتو څوك ملګرے شی نو کله چه مصیبت راشی بیا تښتی او یا دغه مادیات بند شی نو بیا ملګرتوب نهٔ کوی د ملګرو تربیت په مادیاتو باندے نهٔ دے پکار د ملګرو تربیت په تقوی او په اخلاص پکار دے)۔

نو نبی علیه السلام ورته وفرمایل : (وَلَكُمُ الْجَنَّةُ) تاسو له به الله تعالیٰ جنت درکوی ددے مقابله کی، صحابه کرام پدے خبره ډیرسخت خوشحاله شو ځکه چه مؤمنان دی نو وے ویل چه قسم په الله دا ډیره ښکلے وعده ده مونږ هیڅکله ددے نه روسته کیږو نهٔ مونږ پدے خبره کلك یو۔

سیدنا کعب بن مالك ﷺ وائی :

رسول الله ﷺ مونږ سره په جنت وعده وکړه، ډیره ښائسته وعده وشوه۔

هرکله چه اسعد بن زراره رضی الله عنه د ملګرو استعداد او قربانئ ته تیاریدل ولیدل نو دے بیعت ته اول دهٔ مخکوالے وکړو او نبی علیه السلام ته ئے لاس ورکړو۔

ابن اسحاق وائی : بنو النجار دا ګمان کوی چه ابوامامه اسعد بن زراره اول هغه شخص دے چه د رسول الله ﷺ سره ئے بیعت کړیدے او ددے نه روستو بیا عام بیعت شروع شو، جابر رضی الله عنه وائی : مونږ یو یو سړے به پاڅیدو او رسول الله ﷺ به مونږ نه بیعت اخستو او مونږ ته به ئے ددے په بدله کی د جنت وعده راکوله۔

پدے بیعت کی چه کله د دوه زنانهٔ نمبر راغے نو د هغوی سره ئے په خُله باندے بیعت وکړو او لاس ئے ورنکړو۔

عائشه رضی الله عنها فرمائی: چه د رسول الله ﷺ عادت مبارك دا وو چه پردو

زنانو ته به ئے لاس نۀ ورکولو۔ پردۍ زنانه هر هغه څوك ده چه ستا ورسره نكاح كيږي لكه ورندار، ښينه، د ماما لور، د كاكا لور۔

د شيطان آواز

كله چۀ دا معاهده او بيعت سر ته ورسيدو نو شيطان دا حالت وليدو نو صبر ئے ونشو نو پدے وخت كي سمدست غر ته وختلو او په اوچت آواز ئے چغه كړه

(يَا أَهْلَ الْحَبَاجِبِ ! هٰذَا مُذَمَّمٌ وَالصُّبَاةُ مَعَهُ)

اے كورونو والو، اے خيمو والو : دا مذمم دے (بل روايت كي محمد راغلے دے) مشركانو بۀ رسول الله ﷺ ته مذمم (بد وئيلو شوے بد حالے انسان) وئيلو او د محمد معنیٰ ده صفت والا انسان) نو نبي عليه السلام ته به ئے د ډيرے دشمنۍ د وجه نه مذمم وئيلو۔ نبي عليه السلام به فرمايل: تاسو نۀ گورئ چه ددے مشركانو كنځلے الله پاك مانه څنگه اړوي دوی مذمم ته كنځلے كوی او زۀ محمد يم)

نو دلته ابليس دا آواز وكړو چه (إِنَّ مُذَمَّمًا وَالصُّبَاةُ مَعَهُ قَدِ اجْتَمَعُوا عَلٰى حَرْبِكُمْ)۔

يقيناً مذمم او ددۀ ملگری حاجيان راجمع شويدی تاسو سره جنگ كوی۔

دا آواز چه وشو عامو خلكو واوريده او حيران شو، ددے شيطان نوم ازب وو په منیٰ كي وسيده نبي عليه السلام چه كله دا آواز واوريدۀ نو هغه ته ئے خطاب وكړو :

(أَمَا وَاللّٰهِ يَا عَدُوَّ اللّٰهِ لَأَتَفَرَّغَنَّ لَكَ)

قسم په الله اے د الله دشمنه ! زۀ به تا ته ځان وزگاركړم، نبي عليه السلام ته الله دا طاقت وركړے وو چه شيطانان ونيسي دا د هغه معجزه وه۔

(**فائده** : شيطان په مختلفو شكلونو ځان بدلوی كله د مُلا په شكل وی تقريرونه به كوی علماء فرمائي چه د هر مُلا خبره به نۀ منے ترڅو چه دے ورله نسب او علم وغيره نۀ وی پيژندلے ځكه كيدے شي چه هغه شيطان وی او ستا د گمراه كولو دپاره خبره كوی)

پدے كي سيدنا عباس بن عبادة بن نضله صحابي وويل چه اے د الله رسوله ! كه ستا خوښه وی اجازت راكړه پدے منیٰ والو مونږ تول په توره سره حمله كوو او وژنو ئے؟

نبی علیه السلام ورته وفرمایل :(لَمْ نُؤْمَرْ بِهٰذَا)۔
ددے امر مونږ ته اُوس نهٔ دے شوے)۔
صحابه کرامو دلته جنګ کولے شو لیکن د هر څه دپاره خپله موقعه وه، په موقعه باندے کار کول ښکاروی بی وخته چه کار شروع کړی نو ګډوډ به ئے کړی رسول الله ﷺ بادشاهانو ته خطونه اول نهٔ لیږل څکه خبره ګډه وډه کیدله روسته ئے ولیږل۔
نو نبی علیه السلام ورته وویل: مونږ ته لا د قتال امر نهٔ دے شوے۔ په جلتئ باندے ددے ځای نه پاڅیږئ چه مشرکان راځی چه مونږ خوارهٔ شوی یو۔
نو صحابه کرام جدا شو خپلو خیمو ته ئے ځان ورسولو او هلته اُوده شو تر صبا پورے نو مشرکین پدے قادر نشو چه دغه اجتماع او د دغه صحابه کرامو مجلس وینی۔ نبی علیه السلام د مدینے د انصارو صحابه کرامو سره مکملے خبرے وکړے او دے صحابه کرامو ترے دا وعده واخستبه چه اے د الله رسوله ! تهٔ به مدینے ته راځے او نبی علیه السلام ترے دا وعده واخسته چه کله زهٔ درغلم زما حفاظت به کوئ۔
پدے کی د حج دا موسم چه کله تیر شو دا صحابه کرام مدینے ته روان شو، د دوی د روانیدو نه مخکی قریشو د شیطان د هغه آواز په وجه تحقیق شروع کړے وو چه دا څوك دی چه ددے سری (نبی علیه السلام) سره زمونږ په مقابله کی بیعت کوی نو د قریشو غالب ګمان پدے راغے چه دا د مدینے انصار دی څکه دوی د شپے پاڅیدلی دی او بیعت ئے کړیدے نو د مکے مشرکانو د مدینے انصارو ته دا وویل چه تاسو راغلی یئ زمونږ ددے صاحب سره زمونږ په خلاف بیعت کوئ او دا تاسو د ځان سره بوځئ، قسم په الله مونږ د مدینے والو سره جنګ بد ګنړو نو ولے تاسو په زوره زمونږ سره جنګ جوړوئ ؟ نو د مدینے هغه مشران مشرکان ددے بیعت نه خبر نهٔ وو، هغوی ورته قسمونه وکړل چه قسم په الله که مونږ دا بیعت کړے وی یا ترے خبریو دا چا وئیلی دی چه دوی بیعت کړیدے،
عبد الله بن ابی ابن سلول چه دغه وخت کی مشرك وو روسته منافق شو هغه وویل چه دا خبره باطله ده چه مدینے والا دی د یو سړی سره بیعت کوی : (مَا كَانَ قَوْمِیْ یَفْعَلُ ذٰلِكَ دُوْنِیْ) زما قوم زما نه په غیر د هیچا سره خبرے نهٔ کوی او که زهٔ په مدینه کی وے هم دوی به دا خبرے زما د اجازے نه په غیر نشوے کولے او حال دا چه زهٔ دے دلته یم

او دوی دے خبرے کوی ځکه زۀ په دوی مشریم او دوی زما خلاف نۀ کوی
نو قریش پدے مطمئن شو چه دا خبره دوی نۀ ده کړے نو مسلمانانو یو بل ته وکتل چه خبره الله سبحانه وتعالیٰ پټه کړه ځکه دوی کشران وو او مشرانو قسمونه وکړل د دوی نه چا تپوس ونکړو دوی واپس شول،
مشرکینو بیا تحقیق شروع کړو چه دا به چا کړی وی؟ نو بیا ئے پدے یقین راغے چه مدینے والو دا بیعت کړیدے د قرائنو او د علاماتو نه ئے معلومه کړه نو یو څو شاهسواران ئے تیار کړل چه تاسو تیار شئ او د مدینے والا چه کوم حاجیان راغلی دی په دوی حمله وکړئ چه د دوی دا بیعت ختم کړو او مړۀ ئے کړو،
لیکن د مدینے انصارو ډیر مزل کړے وو او مدینے ته نزدے شوی وو نو د مکے مشرکان پدے قادر نشو چه دوی راگیر کړی ځکه چه الله سبحانه وتعالیٰ دوی خلاص کړی وو۔
لیکن پدے لار کی دوه صحابه کرام ونیول شو یو سعد بن عباده رضی الله عنه او بل منذر بن عمرو رضی الله عنه، منذر بن عمرو ترے منډه کړه هغه ترے خلاص شو، هغه ته هم الله نجات ورکړو، سعد بن عباده رضی الله عنه ئے ونیولو، لاسونه ئے ورله د څټ سره په یو پړی باندے وتړل، راښکلو ئے او وهلو ئے او د ویښتو نه ئے نیولے وو تردے چه مکے ته ئے داخل کړو او ورته ئے وویل چه تا ولے د محمد (رسول الله) سره بیعت کړیدے او ولے دے د هغه د مدد کولو اراده کړیده؟۔
په روایتونو کی راځی سعد بن عباده رضی الله عنه فرمائی چه ما یو ښائسته سړے ولیدۀ چه هغه پدے لار تیریدلو هغه ته مے سوال وکړو چه د دوی نه مے خلاص کړه هغه وویل چه زۀ خو ابوجهل یم خلکو ته ئے وویل چه نور ئے هم ووهئ او هغه هم په مخ باندے یو سخت گوزار راکړو ما ورته وویل چه دا شکل دے څومره ښائسته دے او اخلاق دے څومره خراب دی۔ (په بعض روایتونو کی راځی چه دا سړے سهیل بن عمرو وو چه روسته ترے جلیل القدر صحابی جوړ شویدے)
(الاکتفاء بما تضمنه من مغازی رسول الله لابی الربیع سلیمان الکلاعی الاندلسی :۱/۲۵۰، والسیرة النبویة لابن کثیر ۲/۱۸٤)۔
زۀ دے مشرکانو وهلم په مکه کی پدے وخت کی د یو سړی رابانددے رحم راغے هغه

راته وویل چه په مکه کې څوك نۀ پیژنې ؟ ما وویل: دوه کسان پیژنم یو حارث بن حرب بن امیه او بل مطعم بن عدی نودۀ ورته وویل چه د دواړو په نوم آواز وکړه، او د هغوی د پیژندلو وجه ذکر کړه نو دۀ آواز وکړو او وې وئیل چه زۀ دا دواړه پدې وجه پیژنم چه ما به د دوی د تجارت قافله په امان سره د مدینې په خوا کې تیره وله او هیچا به پرې ظلم نشو کولے نو دغه سړے لاړو دغه دوه کسان ئې د کعبې په خوا کې وموندل ورته ئې وویل چه دلته یو سړے دے چه د مکے مشرکانو نیولے دے په خوړ کې ئې وهی او هغه ستاسو نوم یادوی او وائی چه د هغه او ستاسو ترمینځ امان دے هغوی وویل : څوك دے ؟ ورته ئې وویل چه سعد بن عباده دے۔

هغوی وویل : چه بالکل ئې رشتیا وئیلی دی دۀ به زمونږ تجارتی قافلے په امان سره تیرولے۔ نو هغوی راغلل او سعد بن عباده ته ئې امان ورکړو نو خلکو وهل بند کړل ځکه چه د عربو دا عادت وو چه چا ته به ئې امن ورکړو نو خلکو به ضرر رسول بند کړل پدے طریقه الله سبحانه وتعالیٰ سعد خلاص کړو او مدینے ته روان شو د مدینے انصار چه پوهه شو چه زمونږ مشر سعد بن عباده ئې نیولے دے نو خپل مینځ کې ئې اراده وکړه چه واپس کیږو او په مکے والو باندے حمله کوو او خپل قیدی ترے راخلاصوو نو پدے وخت کې دوی ته سعد بن عباده ور ورسیده او ټول په امن وامان کې مدینے ته ورسیدل۔

ابن هشام رحمه الله وائی چه دا پناهی ورکونکے ابوالبختری بن هشام وو۔

نبی علیه السلام سمدست ددے صحابه کرامو سره نۀ وو تلے ځکه چه د الله تعالیٰ د طرف نه ورته امر نۀ وو شوے ځکه انبیاء کرام علیهم السلام د الله تعالیٰ د امر تابع وی روسته چه کله ورته د الله تعالیٰ امر وشو نو هجرت ئې وکړو۔

اول بیعت چا کړے وو ؟ بعض وائی سیدنا ابوالهَیثَم بن التَّیِّهَان او ځینی وائی سیدنا براء بن معرور لیکن صحیح دا ده چه اولنے بیعت سیدنا اسعد بن زراره رضی الله عنه کړے وو او خبرے اول هغوی کړے وې او اسعد په دعوت کې مشر وو اګرکه د عمر په لحاظ په ټولو کې کشر وو۔

د صحابه کرامو په باب د بیعت کې طریقه دا وه چه یو لاس به ئې ورکولو لکه څنګه چه مصافحه کې یو لاس ورکولے شی په بیعت کې هم دا سنت او په مصافحه کې هم

یو لاس ورکول سنت دی،

بعض خلك هسے سینه زوری کوی وائی چه په دوه لاسونو کی ادب ډیر دے لیکن دا د نبی علیه السلام او د صحابه کرامو نه ځان مخکی کول دی، ادب خو د هغوی نه زدهٔ کول پکار دی چه هغوی یو لاس ورکولو پکار ده چه مونږ هم یو لاس ورکړو او د مصافحے معنیٰ هم دا ده: (اِلْصَاقُ الْكَفِّ بِالْكَفِّ) یو ورغوے د ورغوی سره یو ځای کول نو ولے یو سړے د مذهب دپاره سینه زوری وکړی، مصافحه په یو لاس سنت ده په فقه حنفی کی هم دا خبره ذکر ده، د حجر اسود د ښکلولو په باب کی ئے لیکلے ده۔

دولس نقیبان (مشران) مقررول

نبی علیه السلام ددے بیعت په وخت کی د ډیرے هوښیارتیا نه کار واخسته ځکه نبی علیه السلام یو اعلیٰ، با تدبیره او پوهه قائد وو ځکه الله تعالیٰ ورته دومره امت ورسپارلے وو هغه دا کار وکړو چه دے انصارو صحابه کرامو ته ئے وویل چه تاسو به یو کار وکړئ چه په بنی اسرائیلو کی دولس نقیبان (مشران) وو۔ تاسو هم ما ته دولس مشران راکړئ د هر قوم نه یو یو مشر راکړئ او دغه مشر به خپل قوم تیاروی او زما مدد ته به ئے تیاروی پدے خبره پاندے به ورله ذهن سازی کوی چه ددے پیغمبر امداد به کوئ او ددهٔ دفاع به کوئ په خپل ځان او مال سره او د ټولو عربو او عجمو دشمنی ته به ځان تیاروئ او دا نبی به مدینے ته راځی۔

انصارو دولس مشران مقرر کړل نهه د خزرجیانو نه وو او درے د اَوس قبیلے نه وو،

د خزرج قبیلے نقباء:

١ - اسعد بن زُراره بن عدس رضی الله عنه۔

٢ - سعد بن الربیع بن عمرو رضی الله عنه۔

٣ - عبد الله بن رواحة بن ثعلبة رضی الله عنه۔

٤ - رافع بن مالك بن العجلان رضی الله عنه۔

٥ - البراء بن معرور بن صخر رضی الله عنه۔

٦ - عبد الله بن عمرو بن حرام رضی الله عنه

۷- عباده بن صامت بن قیس رضی الله عنه۔
۸- سعد بن عباده بن دُلَیم رضی الله عنه۔
۹- المنذر بن عمرو بن خُنیس رضی الله عنه۔
د اَوس قبیلے نقیبان :
۱۰- اُسید بن حضیر بن سماك رضی الله عنه۔
۱۱- سعد بن خیثمة بن الحارث رضی الله عنه۔
۱۲- رفاعه بن عبد المنذر بن زبیر رضی الله عنه۔

دے مشرانو ته ئے وویل چه تاسو به په خپل قوم کی کارکوئ او داسے ذمواری به اخلئ لکه حوارینو چه د عیسیٰ علیه السلام ذمه واری اخستے وه کله چه عیسیٰ علیه السلام الله تعالیٰ خپل ځان ته خیژولو نو د دوی نه ئے کلکه وعده اخستے وه چه د الله په دین به کلك ودریږئ هغوی وویل: مونږ به د الله په دین کلك ودریږو۔

پدے وخت کی دا اویا کسان صحابه او دوه زنانه مدینے ته لاړل۔

د هجرت شروع کیدل

پدے وخت کی څه واقعات راغلل :

یو دا چه رسول الله ﷺ خوب ولیده، هغه خوب دا وو چه زما ملگری روان دی هجرت کوی داسے علاقے ته ورځی چه کجوری پکی ولاړی دی او بین لابتین (د دوه خوړونو ترمینځ علاقه) ده،

د نبی خوب وحی وی هغه رشتینی کیږی او د عامو انسانانو خوبونه کله رشتیا وی او کله نهٔ۔

دغه کوم ځای چه نبی علیه السلام خوب کی لیدلے وو نو وے وئیل چه ددے نه مدینه مراد ده ځکه دغسے ځای بل نهٔ وو سویٰ د مدینے نه نو ملگری روان شو یو یو کس به په پټه د مکے نه وتلو او مدینے ته به ئے هجرت کولو تردے چه دا خوب حبشو ته ورسیدو هلته چه کوم مسلمانان تلی وو او هجرت ئے کړے وو هغوی ته چه دا خوب کله ورسیده پدے پوهه شو چه د رسول الله ﷺ د هجرت ځای مدینه دے او

مسلمانان به هلته جمع کیږی هغوی هم د حبشو نه مدینے ته راروان شو څه وخت پس مدینے ته راورسیدل او څه کسان ډیر روسته چه کله نبی علیه السلام مدینے ته هجرت وکړو نو دوی د حبشو نه راغلل لکه نبی علیه السلام چه کله شپږ کاله مدینه کی تیر کړل نو شپږ کاله روسته سیدنا جعفر ؓ، سیدنا ابو موسیٰ اشعری رضی الله عنه وغیره صحابه کرام راغلل، پدے وخت کی د خیبر غزا شوے وه نبی علیه السلام وفرمایل: زهٔ نهٔ پو هیږم چه په کومه خبره ډیره خوشحالی وکړم، په فتح د خیبر او که په راتلو د جعفر۔ (رضی الله عنه)۔ د دوی سره ام حبیبه رضی الله عنها هم وه چه نبی علیه السلام ورسره غائبانه نکاح کړے وه او اُوس د حبشو نه راورسیده وادهٔ تیار شو، د هغے ماما (سیدنا عثمان بن عفان) رضی الله عنه پکی لویه ولیمه ورکړه۔

د هجرت مقاصد

صحابه کرامو چه هجرت کولو د هغے دوه دریے مقاصد وو:

۱- اول دا چه د الله بندګی دلته نهٔ کیږی نو مونږ به خپل وطن پریدو بل ملك ته به لاړ شو چه هلته د خپل رب صحیح عبادت وکړو لکه سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه چه هجرت کولو نو ابن الدغنه ورته ووېل: څه کوے؟ هغه ورته ووېل: (أَسِيحُ فِي الْأَرْضِ وَأَعْبُدُ رَبِّي) په زمکه ګرځم او د خپل رب بندګی کوم، الله پاك هم فرمائی:

﴿يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ أَرْضِي وَاسِعَةٌ فَإِيَّايَ فَاعْبُدُونِ﴾ (العنکبوت:۵۶)

اے زما مومنانو بندګانو! یقیناً زما زمکه فراخه ده نو خاص زما بندګی وکړئ۔

د انسانانو د پیدائش مقصد د الله بندګی ده۔

هجرت د مشقتونو او تکلیفونو نوم وو د صحابه کرامو د هجرت مقصد چکر او مال حاصلول نهٔ وو۔

۲- بله فائده د هجرت دا وه چه مکه کی صحابه کرامو ته تکلیف وو، وهل ټکول ئے خوړل ددے دپاره وتل چه څه نا څه امن ورته ملاؤ شی۔

۳- دریمه دا چه د مسلمانانو دپاره یو دار الخلافه جوړه شی، ذ مسلمانانو داسے ځای پیدا شی چه د الله تول دین عملی شی ځکه د کفر په ملك کی پوره دین باندے عمل نهٔ

کیږي لکه پدې زمانه کې حکومتونه اسلامي نهٔ دي نو پوره دین باندې عمل نهٔ کیږي، د حدودو، د قضاء، او د دیاتو مسائل پکې نشته ځکه د کفر ملك کې په انفرادي دین باندې عمل کیږي خو پوره دین نهٔ وي.

دا وجه ده کفار د مسلمانانو دار الخلافه نهٔ پریږدي، نهٔ غواړي چه د دوی خلافت راشي ځکه د مسلمانانو د حکومت نه دوی یریږي، که کوم ځای کې د ګوزارې والا اسلامي حکومت هم قائم شي دوی د هغې د ختمولو کوشش کوي. نو صحابه کرام روان شو هجرتونه ئې شروع کړل.

هغه وخت کې هجرت ډیر سخت وو ځکه د مکې نه چه خلك وتل مشرکانو به نهٔ پریښودل لاروکې به ورته ناست وو نیول به ئې او وهل ټکول به ئې.

بله دا چه د هغوی سره به ئې مال نهٔ پریښوده چه ځان سره ئې د مکې نه بهر اُوباسي او دا خبره ئې نهٔ برداشت کوله چه دوی دې په بل ځای کې په امن کې وخت تیر کړي، صحابه کرامو کې صبر او پوخ ایمان وو نو ځکه ئې دومره تکلیفونو ته غاړه ایښې وه.

لکه سیدنا ابوسلمه رضي الله عنه حبشو ته هجرت کړې وو بیا بیرته مکې ته راغې پدې وخت کې نبي علیه السلام او صحابه کرامو مدینې ته هجرت کړې وو نو دوی هم اراده وکړه چه مدینې ته مهاجر شي نو د ابوسلمه سخرګنۍ راولګیده د هغه نه ئې د هغه ښځه او بچي پاتې کړل او ابوسلمه یوائې هجرت وکړو،

کله چه د ابوسلمه تربوران کورنۍ خبره شوه نو د ام سلمه د ورونو نه ئې د هغې بچې وغوښتو چه دا خو زمونږ وراره دې نو بچې ترې هغوی واخسته نو ام سلمه به هره ورځ هغه خوړ ته راوتله په کوم ځای کې چه ترې خاوند جدا شوې وو او ژړل به ئې تر یو کاله پورې به ئې دا ژړا کوله، بیا د خپلوانو پرې رحم راغې او وې وئیل چه تاسو پدې زنانه څه کوئ دا پریدئ چه مدینې ته لاړه شي او د خپل خاوند سره یو ځای شي،

نو هغې د هجرت اراده وکړه هغه خپل بچې ئې هم د خپلې سخرګنۍ نه واخسته او ځانله روانه شوه، پنځه سوه کیلو میټره مزل به یواځې کوي، د الله نه سوی ورسره هیڅوك نشته، دښتې بیابانونه او خطرې دي، تنعیم علاقې ته چه ورسیده چه دا د مکې نه بهر درې میله فاصله کې یو ځای دې،

هلته چه ورسیده نو یو کس ورته ملاؤ شو عثمان بن طلحه بن ابي طلحه هغه

ورتـه وویـل اے د ابو امیه لورئے چرته ځے؟ ام سلمه رضی الله عنها وویل : مدینے ته ځم هلتـه مے خاوند تلے دے، ورتـه ئے وویل تاسره څوك نشته ؟ دے ورته وویل : نشته سوی د الله نـه او دا یـو ځـوی راسـره دے۔ نـو عثمان بن طلحه العبدری وویل : وَاللّٰهِ مَالَكِ مِنْ مَتْرَكٍ)۔ قسـم پـه الله تا خو همداسے پریخودل نهٔ دی پکار۔ نو عثمان د هغے د اُوښ مهار ونیولو او لاندے ورسره پیاده روان شو او اته نهه ورځے مزل ئے وکړو،

(عـربـو کی د امانت، اخلاقو، میلمه دوستیٔ صفتونه زیات وو ځکه پکی الله تعالیٰ دا خوږ نبی هم راولیږلو)

ام سلمه رضی الله عنها به د عثمان بن طلحه ډیر صفت کولو او دا به ئے ویل :

فَوَاللّٰهِ مَا صَحِبْتُ رَجُلًا مِنَ الْعَرَبِ قَطُّ أَرىٰ أَنَّهُ كَانَ أَكْرَمَ مِنْهُ) .

قسـم په الله زهٔ د هیڅ یو عربی سره کله هم نهٔ یم ملګرے شوے چه هغه زما په ګمان د عثـمـان بـن طـلـحـه نه ډیر عزتمند وی۔ ام سلمه وائی : کله چه به مونږ یو ځای کی دمـه کـولـه نـو دهٔ به زما اُوښه کینوله او بیا به زما نه روستو شو تردے چه زهٔ به راکوزه شـوم نـو دهٔ بـه دغـه اُوښـه د ونے پورے وتړله او بیا به لرے لاړو یوے ونے لاندے به ئے ډېره وو‌هلـه۔ بیـا چه به د تللو وخت رانزدے شو زما اُوښ به ئے زما خوا ته راوستو او زما نه بـه روستـو شـو او مـا تـه بـه ئے وویـل چه په اُوښ سوره شه، کله چه به زهٔ په اُوښ برابره کیناستم نو دے به راغے او د اُوښ مهار به ئے ونیولو او روان به شو۔

پـه دے طـریـقه مونږ رارروان وو تردے چه قباء ته رانزدے شو نو عثمان ورته وویل هاغه مـخـامـخ کـلـی کی ستا خاوند دے کوم چه ددے ځای نه ښکاری د الله په برکت ورشه او خپله ترے مکے ته واپس لاړو،

(عثمان بن طلحه العبدری رضی الله عنه روستو د صلح حدیبیه نه بعد ایمان راوړو)

(البدایة والنهایة ۲۰۸/۳)

ام سلمه رضی الله عنها چه قباء ته ورسیده نو د خپل خاوند سره ملاؤشوه

بیـا روستـه ابـوسـلـمـه رضـی الله عنه چه ډیر بهترین صحابی دے وفات شو نو نبی علیه السلام ام سلمه رضی الله عنها په نکاح واخسته۔

ام سلمه رضی الله عنها وویل : یا رسول الله ﷺ ماله غیرت راځی چه زما خاوند دے مړ شی او زهٔ بـل خاوند سره نکاح وکړم نو نبی علیه السلام ورله دعا وغوښتله ځکه

چه نبي علیه السلام ددې دپاره خاوند ضروري ګنړلو او نبي علیه السلام به داسې زنانه سره نکاح ځکه کوله چه د هغې اعزاز او اکرام وشي ځکه د دین دپاره ئې ډیرې سختې تیرې کړې وې نو نبي علیه السلام دعا وغوښتله چه ددینه دا غیرت ختم شي نو بیا نبي علیه السلام ورسره نکاح وکړه۔

کله چه ابوسلمه مړ شو نو نبي علیه السلام ام سلمه رضی الله عنها ته دا دعا وښودله چه داسې ووایه:

(اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَیْهِ رَاجِعُوْنَ اَللّٰهُمَّ أُجُرْنِیْ فِیْ مُصِیْبَتِیْ وَأُخْلِفْ لِیْ خَیْرًا مِنْهَا)

نو هغې وویل چه زما د خاوند نه خو غوره څوك نشته ځکه زما خاوند اولنې مسلمان دې چه هجرت ئې کړیدې لیکن دغه دعا ما وویله د نبي علیه السلام د تابعدارئ په وجه نو الله رب العزت ما له په نکاح باندې نبي علیه السلام راکړو چه د ابوسلمه نه ډیر غوره دې، ام سلمه ددې دعا فضیلت بیانوي چه دا دعا تاسو هم وایئ الله به د مصیبت عوض ضرور درکوي۔ د نبي علیه السلام په اذکارو کې ډیرې فائدې دي چه په یقین سره ئې بنده ووائي۔

د سیدنا عمر رضی الله عنه د هجرت واقعه

صحابه کرامو چه کله هجرت شروع کړو نو په پټه به ئې هجرت کولو لیکن عمر فاروق رضی الله عنه ښکاره هجرت وکړو شل کسان ئې ځان سره ملګري کړل، او شریك هجرت ئې کولو، عمر رضی الله عنه مسجد حرام ته لاړو طواف ئې وکړو او دوه رکعاته مونځ ئې وکړو، مشرکین ناست وو خپل مینځ کې ئې ګپ شپ لګولو نو ورغې او هغوی ته ئې وویل چه کوم انسان دا غواړي چه مور پرې بوره شي او ښځه ئې کونډه شي نو زهٔ روان یم هجرت کوم راځئ مقابلې ته راوځئ نو څوك ددهٔ مقابلې ته را ونهٔ وتل ځکه سیدنا عمر رضی الله عنه یو طاقتور سړې وو خلك ترې یریدل ځکه دې په مکه کې یو بهادر سړې وو، (وَأَشَدُّهُمْ فِيْ أَمْرِ اللّٰهِ عُمَرُ) ۔ د الله په دین کې هم ډیر سخت سړې وو د دین په معمولي خبره ماتیدو به غصه کیدلو۔



د عیاش بن ابی ربیعه او هشام بن العاص د هجرت واقعه

عمر رضی الله عنه مدینے ته هجرت وکړو شل کسان ورسره وو، عمر رضی الله عنه ته خو څه تکلیف ونهٔ رسیدهٔ ځکه خلك ترے یریدل لیکن ددهٔ سره دوه کسان وو چه هغوی سره ئے وعده کړے وه چه تاسو به هم ځان سره بوځم یو عیاش بن ابی ربیعه چه د ابوجهل د مور د طرفه ورور وو،

(د ابوجهل ورونه مسلمانان شوی وو لکه سلمه بن هشام هم د هغه ورور وو مسلمان شوے وو خو ابوجهل ته الله تعالیٰ د هغه د بد عملیٔ د وجه نه د ایمان توفیق نهٔ وو ورکړے) او بل کس هشام بن العاص بن وائل وو. هشام بن العاص د عمر سره وعده وکړه چه ستا سره به هجرت کوم او د بنی غفار قبیلے د حوض سره به ملاویږو. نو په هشام باندے قوم پوهه شو چه هجرت کوی نو هغه ئے بند کړو،

او عیاش بن ابی ربیعه ورسره لاړو او مدینے ته ورسیدل هلته په امن شول.

او دلته ابوجهل او حارث بن هشام چه د ابوجهل ورور وو یو پروګرام جوړ کړو چه مونږ دا خپل ورور بیرته مکے ته راولو دا څنګه مدینے ته لاړو نو د دوی نفس کی خباثت وو د هغه د واپس کولو کوشش ئے کولو.

دواړه مدینے ته لاړل او هلته ئے خپل ورور عیاش ته وویل چه ستا مور دومره خفه ده چه د ډیر خفګان نه ئے دا قصد کړیدے چه تر څو ما عیاش لیدلے نهٔ وی تر هغه وخته پورے به زهٔ خپل سر ته ګمنز ورنزدے نهٔ کړم او سوری ته به نهٔ کینم. ستا مور داسے قسم کړیدے نو عیاش اراده وکړه چه د خپلو ورونو سره مکے ته واپس شی لیکن سیدنا عمر رضی الله عنه ورته وویل چه لاړ نشے دا دوی چل جوړ کړیدے او مور دے دا قسم نهٔ دے کړے او که بالفرض قسم ئے کړے وی نو چه کله سپږو تنګه کړه خپله به سر ګمنز کړی او که د مکے ګرمیٔ تنګه کړه نو سوری ته به کینی.

عیاش وویل زهٔ ورسره ځم، عمر رضی الله عنه ورته بیا هم چل ورښودلو چه زما دا اُوښه واخله دا ډیره تکړه ده کچرته دے ورونو ترلے نو زما دا اُوښه تیزه ده پدے به ترے راوتښتے.

(دیته اسلامی اخوت او ورورولی وائی چه خپل مال یو مسلمان ورور ته قربانی کوی)

کله چه دوی روان شو په لاره کی ابوجهل یو چل او د هوکه وکړه او هغه ته دا چه ابوجهل خپل ورور عیاش ته ووېل چه زما دا اوښه کمزوری ده زهٔ به ستا پدے اوښه تا سره کینم، عیاش ورته ووېل: صحیح ده، کله چه عیاش د خپلے اوښے نه راکوز شو نو ابوجهل او حارث ونیولو او لاس او خپے ئے ورله وتړل او په اوښه ئے سور کړو او د ورځے ئے مکے ته داخل کړو او ابوجهل آواز وکړو چه داسے کار د خپلو بی وقوفانو سره وکړئ۔ ابوجهل ډیر ریاکار او متکبر سړے وو دا وجه وه چه نبی علیه السلام ورته ددے امت فرعون وئیلے دے۔ نو ابوجهل ووېل چه زما دا ورو کم عقل شوے وو ما ورسره داسے کار وکړو نو تاسو هم د خپلو کم عقلو سره داسے عمل وکړئ۔

چا چه به ایمان راوړے وو هغوی ته به ئے بی وقوفه وېل لکه نن صبا هم حق پرستو ته خلك بی وقوفه، بی ادبه وائی۔

دا د کفارو طریقه ده چه په اهل حقو باندے غلط نومونه اړدی۔

عیاش ئے په مکه کی وتړلو بیا ډیره موده روستو هغه هم راخلاص شو او هجرت ئے وکړو۔

د سیدنا صهیب الرومی د هجرت واقعه

بل صحابی چه په ډیره سخته او مجاهده سره ئے هجرت کړے وو هغه سیدنا صهیب رومی رضی الله عنه وو، دهٔ د نبی علیه السلام نه روسته هجرت کړے وو، لیکن مونږه ئے مخکی ذکر کوو۔

صهیب رومی رضی الله عنه په اصل کی د روم نهٔ وو بلکه دا د حِیری علاقے وو او دا اصل نه عرب وو څه کسانو غلو او ډاکوانو د خپلے مور او د پلار نه تښتولے وو هلته ئے د رومیانو ژبه زده کړے وه نو ځکه به ورته خلکو صهیب رومی وئیلو۔

عمر فاروق رضی الله عنه په صهیب رومی درے اعتراضه وکړل اول دا چه ته خو د روم نهٔ ئے ځنګه ځان ته رومی وائے ؟ دویم تهٔ عربی پوره نشی وئیلے ؟ دریم ته اسراف کوے ؟ نو صهیب رضی الله عنه ورته ووېل: زهٔ د اصل نه عرب یم او رومی ځان ته ځکه وایم چه ما په روم کی وخت تیر کړیدے هلته رالوی شوے یم او عربی فصیحه ځکه نشم وئیلے چه زهٔ د خپل وطن نه لرے پاتے شوے یم نو عربی ژبه کی لږ کمزورے

یم او اسراف زۀ نکوم بلکه زۀ د الله تعالیٰ د رضا دپاره مال خرچ کوم۔

سیدنا صهیب رومی رضی الله عنه چه کله مکے ته راغلو او نبی علیه السلام ته وحی وشوه او دعوت ئے شروع کړو نو صهیب رومی ایمان راوړو کله چه نبی علیه السلام د هجرت امر وکړو نو سیدنا صهیب رومی رضی الله عنه د هجرت اراده وکړه لیکن د مکے مشرکانو دے هجرت ته نۀ پریښودو ، او څوکیداران ئے پرے مقرر کړل نو دۀ د شپے داسے حیله وکړه چه بار بار د قضاء حاجت (اَودس ماتی) په بهانه ووتلو نو هغوی گمان وکړو چه خیټه ئے خرابه ده نو خپل مینځ کی ئے وویل چه لات او عزیٰ ئے خیټه خرابه کړیده۔

کله چه دغه څوکیداران اُوده شول نو صهیب رومی ترے ووتلو څه لږ ساعت روسته مشرکین پرے پوهه شو چه دے خو زمونږ نه وتلے دے نو په خپلو آسونو سوارۀ شول نو صهیب رومی پوهه شو چه کسان راپسے راورسیدل نو په یو اُوچت ځای ودریده او غشی ئے راویستل او مشرکانو ته ئے وویل : تاسو ته معلومه ده چه زۀ ستاسو د ټولو نه ښه نښه ویشتونکے یم، قسم په الله زۀ به تاسو په غشو ولم تردے چه غشی خلاص شی نو په توره به درسره جنگ شروع کړم او یو کس به هم ستاسو ژوندے رانه خلاص نشی۔

مشرکانو ورته وویل چه قسم په الله که تۀ زمونږ نه پدے کامیاب شے چه خپل نفس او مال مدینے ته ورسوے تۀ مکے ته غریب راغلے وے او دلته ډیر مالداره شوے او اُوس بل خوا ته ځے، صهیب ورته وویل که چرته زۀ تاسو ته د خپل مال ځای در وښایم نو زما لار به آزاده کړئ ؟ مشرکانو وویل صحیح ده ستا مال راوښایه لار به دے پریدو۔

سیدنا صهیب رومی ورته د خپل مال ځای په مکه کی وښودلو او صهیب رضی الله عنه دوی پریښودو، صهیب مزل شروع کړو مدینے ته او په خپل مال هیڅ خفه نۀ وو د رسول الله ﷺ د لیدلو شوق ئے وو، کله چه قباء ته ورسیدو نو رسول الله ﷺ ولیدۀ نو دۀ په لیدلو ډیر خوشحاله شو او وے فرمایل :

(رَبِحَ الْبَیْعُ أَبَا یَحْییٰ، رَبِحَ الْبَیْعُ) تا په خپله سودا کی گټه وکړه اے صهیبه ! درے ځله ئے دا خبره وکړه د صهیب رومی په حقله دا آیت نازل شو:

﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنْ یَّشْرِیْ نَفْسَهُ ابْتِغَاءَ مَرْضَاةِ اللّٰهِ وَاللّٰهُ رَؤُوْفٌ بِالْعِبَادِ﴾ (البقرہ:۲۰۷)

(بعض د خلکو نه هغه دی چه ځان خرڅوی دپاره د طلب د رضا د الله تعالیٰ او الله تعالیٰ شفقت کونکے دے په بندګانو)

نبی علیه السلام ته په وحی سره د صهیب خبر رسیدلے وو صهیب ورته وویل : قسم په الله چه زما د طرفه خو تا ته څوك خبر راوړونکی نهٔ دی راغلی، دا نهٔ ده مګر تا ته د آسمان د طرفه وحی شویده۔

حاصل دا چه مسلمانانو سره ددے دومره تکلیفونو نه هجرت کولو۔

زینب رضی الله عنها د رسول الله ﷺ لور چه کله هجرت کولو مشرکان ورپسے راووتل او هغه ئے په برچه باندے په سپو غزو کی ووهله چه د هغے د وجے نه بیماره وه تردے چه مدینے ته راغله د همدے زخمونو د وجه نه شهیده شوه۔

د سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه د هجرت واقعه

پدے دوران کی په مکه کی عام مسلمانان ختم شو هجرت ئے وکړو صرف درے کسان پاتی شو چه یو سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه بل سیدنا علی رضی الله عنه او بل زمونږ خوږ نبی کریم ﷺ او څه هغه کمزوری او معذور مسلمانان چه وتلے نشو، سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه اراده وکړه چه زهٔ هم هجرت کوم نبی علیه السلام ورته وفرمایل: لږ صبر وکړه (لَعَلَّ اللّٰهَ أَنْ يَّجْعَلَ لَكَ صَاحِبًا)

شاید چه الله به تا سره یو ملګرے پیدا کړی۔ بله ورځ بیا راغلو او نبی علیه السلام ته ئے وفرمایل چه زهٔ هجرت کوم نبی علیه السلام ورته بیا وفرمایل : صبر وکړه شاید چه الله به ستا ملګرے پیدا کړی، د صدیق اکبر دا ګمان نهٔ وو چه نبی علیه السلام به هجرت کوی۔ نو هغه دوه سورلئ تیارے کړے، ددے مطالبے نه مخکی نبی علیه السلام ابوبکر ته د هجرت اجازه ورکړے وه، برك الغماد علاقے ته لاړو هلته نه ابن الدغنه راواپس کړو لکه دا واقعه مخکی تیره شویده۔

نو پدے وخت کی مشرکینو په ابوبکر صدیق باندے سختی زیاته کړه تکلیفونه او ضررونه او وهل ټکول ئے شروع کړل نو ابوبکر صدیق رضی الله عنه بیا د هجرت اراده وکړه۔

نبی علیه السلام ورته وویل : لږ صبر وکړه الله به ستا ملګرے تیار کړی مقصد ئے خپل ځان وو بیا نبی علیه السلام ورته یوه ورځ خبره ښکاره کړه چه ما ته به هم د

هجرت امر کيږي، نو ابوبکر صديق رضي الله عنه ورته ووېل :

اې د الله رسوله ! ستا هم دا اراده شته چه هجرت وکړې ؟ نو نبي ﷺ وفرمايل :

زما هم اراده ده، ابوبکر صديق د څلورو مياشتو نه دوه اوښې ساتلې وې ددې انتظار ئې کولو چه مونږ ته به د هجرت امر کيږي ځکه نبي ﷺ د الله تعالیٰ د امر تابع وو، الله ورته ارشاد فرمائيلې وو :

﴿فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ وَلَا تَكُن كَصَاحِبِ الْحُوتِ﴾ (القلم:٤٨)۔

د الله حکم ته صبر کوه او د يونس عليه السلام په شان نشې۔

يونس عليه السلام خپل قوم ته دعوت ورکړو، قوم خبره ونۀ منله نو يونس عليه السلام اجتهاد وکړو او د الله د اجازې نه بغير د کلي نه روان شو آخر دا چه الله پرې امتحان راوستو لکه قرآن کريم کې هغه واقعه ذکر ده۔

نبي ﷺ ته دا خبرې يادې وې پدې انتظار وو او بې اجازته ئې هم هجرت نۀ کولو، تردې چه د مشرکينو په زړه کې يوه خبره راغله چه دا مسلمانان خو تدريجاً تدريجاً د مکې نه ووتل او هلته مدينه کې جمع کيږي دا خو زمونږ دپاره ډير نقصان دې او هغه دا چه يو خو زمونږ بت پرستي ختميږي ځکه که دغه خلکو هلته حکومت جوړ کړو راځي به او په مونږ به حملې کوي نو بت پرستي به ختمه شي۔

بله دا چه مونږ باندې به اقتصادي مشکلات راشي او هغه دا چه مونږ د تجارت دپاره شام ته سفر کوو او دغه لار په مدينه ورغلې ده نو دوي به مونږ ته ضرر راکوي او لاره به مو بنده شي نو راځئ چه خپل مينځ کې مشوره وکړو او ددې نبي مخه ونيسو۔

د قريشو مشوره د رسول الله ﷺ د قتل او د هغه د هجرت واقعه

نو دوي په دار الندوه کې راجمع شو چه دا د قريشو پارلمان وو،

د زيارت ورځ (٢٦) صفر سنه (١٤) کال د نبوت دې موافق (١٢) ستمبر سنه (٦٢٢م) يعنې د بيعة العقبة الکبریٰ نه دوه نيمې مياشتې روسته دا مشوره وشوه۔

ابوجهل اعلان وکړو چه پدې مشوره کې به د بنو هاشم او بنو عبد مناف او بنو عبد

المطلب نه ځوك نۀ وي سوئ د ابولهب نه چه ابولهب پدے غونډه کی شریك کړے شو او اجازه ورکړے شوه ځکه چه دا د نبی علیه السلام ډیر لوی دشمن وو،

او دا شرط ئے ځکه ولګولو چه د دوی پدے فیصله نبی علیه السلام خبر نۀ شی نو دوی د قریشو د قبیلو مختلف مشران راجمع شول دے دپاره چه د نبی علیه السلام په باره کی په جلتئ سره فیصله وکړی او اسلامی دعوت ختم کړی،

ددے پارلمان غړی په لاندے ډول دی :

۱ - ابوجهل بن هشام د بنو مخزوم قبیلے نه۔

۲/۳/٤ : جُبَیْر بن مُطعم، طُعَیمه بن عدی، حارث بن عامر د بنو نوفل بن عبد مناف نه۔ (جبیر روستو مسلمان شویدے)

۵،۶،۷ - شیبَه بن ربیعه، عتبه بن ربیعه، ابوسفیان بن حرب د بنو عبد شمس بن عبد مناف نه۔ (ابوسفیان پکی زوستو مسلمان شویدے)

۸- نضر بن الحارث د بنو عبد الدار نه۔

۹،۱۰، ۱۱ - ابو البَخْتَری بن هشام، زمعه بن الاسود، حکیم بن حزام د بنو اسد بن عبد العزیٰ قبیلے نه۔ (حکیم روستو مسلمان شویدے)

۱۲، ۱۳ - نُبَیْه بن الحجاج او مُنَبِّه بن الحجاج د بنو سهم نه۔

۱٤ - اُمَیَه بن خلف د بنو جُمَح قبیلے نه۔

او دغه شان نور کسان وو او څه کسان د قریشو نه نۀ وو۔

دوی چه کله مقرر وخت ته حاضر شول نو پدے وخت کی ابلیس هم د شیخ نجدی په شکل راغلو او ددوی سره پدے مشوره کی ئے حصه واخسته ځکه چه ابلیس داسے دشر او د منافقت مجالسو ته حاضریږی،

نو ابلیس د نجد د علاقے د یو بوډا په شکل پدے اجلاس کی حاضر شو، دوی ترے تپوس وکړو څوك ئے ؟ هغه وویل : زۀ د نجد علاقے یو شیخ یم، ستاسو ددے خبرے نه خبر شوم کوم دپاره چه تاسو راجمع شوی یئ نو راغلم چه ستاسو مشورے واورم او کیدے شی چه زۀ به هم مشوره درکړم، او ستاسو خیر خواهی به وکړم۔ نو هغه ته ئے هم اجازه ورکړه۔ نو د هغوی سره کیناستو۔

ظالمانه قرارداد

مشوره شروع شوه چه ددے سرې (پیغمبر) سره څه کوو ؟ ابو الاسود (ربیعه بن عمرو د بنو عامر بن لُؤَیُ نـه) وویل : دا پیغمبر په یو اُوښ وتړئ او ډیر لرے علاقے ته ئے بوځئ او هلته ئے پریدئ چه هرڅه پرے وشو، مونږ به ترے وزګار شو او زمونږ الفت او محبت به بـرقرار پاتی شی۔ نو شیخ نجدی وویل چه دا خو څه رایه نۀ ده تاسو ددۀ فصاحت او ښائسته او خوږو خبرو ته نۀ ګورئ چه هغه د خلکو په زړونو غلبه کوی که تاسو دا کار وکړو نو لویه خطره دۀ چه دے به هلته لاړ شی دعوت به شروع کړی په یوه قبیله د عربو به نازل شی ملګری به ئے پیدا شی او زیات به شی او بیا به راشی او تاسو باندے به حمله وکړی جنګ به درسره شروع کړی۔

نو بله رایه ورکړئ۔ ابو البَختری بن هشام وویل چه دا پیغمبر به په یوه کوټه کی په اوسپنو کی وتړو تړدے چه مرګ به پرے راشی لکه مخکی چه شاعرانو سره دا کار کړے شویدے لکه نابغه او زهیر سره نو دے به هم مړشی۔

شیخ نجدی وویل چه دا رایه هم زما خوښه نۀ ده ځکه چه ددے پیغمبر خپلوان شته بنو هاشم دارنګه ملګری ئے شته هغه به راشی او ددے کوټے دروازه به ماته کړی او خلاص به ئے کړی دا خو څه ګران کار نۀ دے۔

ابوجهل وویل چه زما رایه دا ده چه د قریشو د هرے یوے قبیلے نه به یو یو ځوان مقرر کړو او هغوی ته به توری ورکړو او په تورو باندے به زهر هم واچوو او دا کسان به په یو ځل باندے پرے حمله وکړی او قتل به ئے کړی، کله چه دے قتل شی نو ددۀ دعوت به ختم شی او ددۀ ملګری هیڅ هم نشی کولے او ددۀ وینه به پدے طریقه په قبائلو باندے تقسیم شی نو بنو هاشم به د خپل ټول قوم سره په جنګ باندے قادر نۀ وی او که بنو هاشمو دیت غوښتلو ورله راجمع به ئے کړو، سل اوښان دی څه ګرانه خبره نۀ ده۔

(شیخ نجدی) ابلیس وویل : (هٰذَا هُوَ الرَّأْیُ)

همدا رایه ده چه دښمنلو قابل ده او زما په زړه کی هم دا رایه ده چه همداسے دے وشی۔

(**فائده** : د اهل حقو د قتل ارادے شویدی لکه د موسیٰ علیه السلام د قتل اراده شوے وه او د ابراهیم علیه السلام د قتل اراده شوے وه، د اصحاب کهفو د قتل اراده شوے وه، الله تعالیٰ د حق سره دا خبرے تړلی دی)

کله چه دوی مشوره وکړه نو نبی علیه السلام ته الله تعالیٰ وحی راولیږله چه بیګا شپه به په خپله بستره نهٔ تیروی نو نبی علیه السلام د غرمے په وخت کی د ابوبکر صدیق کور ته لاړو دے دپاره چه د هغه سره د هجرت وخت متعین کړی او د وتلو پروګرام جوړ کړی، هغه ته چا وویل چه نبی علیه السلام راغے (مُتَقَنِّعًا) چه څادرئے اغوستے دے نو هغه وویل چه نبی علیه السلام خو به مازیګر یا سهار راتللو دا چه د غرمے په وخت راځی نو دا د عادت خلاف کار دے څه حادثه به وی۔ ابوبکر رضی الله عنه فرمائی: نبی علیه السلام چه راغلو څادرئے اچولے وو د ګرمئ نه د ځان د بچ کولو دپاره او پدے طریقه خلکو ته پوره معلومیږی هم نهٔ۔

کله چه نبی علیه السلام دننه راننوتلو نو په کور کی اسماء رضی الله عنها وه چه دا د نبی علیه السلام بنیںنی وه او بله عائشه رضی الله عنها د رسول الله ﷺ بی بی وه چه په یو لسم کال د نبوت ورسره نکاح شوے وه او واده ئے په مدینه کی کړے وو۔

نبی علیه السلام وویل: دوی اُوباسه مقصد ئے دا وو چه راز پټ پاتی شی۔ صدیق اکبر رضی الله عنه وویل: دوی باندے امن دے دوی ستا خبره هیڅکله نهٔ ښکاره کوی خبره کوه زما مور او پلار دے ستا نه قربان شی،

نبی علیه السلام وفرمایل: ما ته د الله د طرفه امر شویدے چه هجرت وکړم نو سیدنا ابوبکر صدیق ورته وویل : (اَلصُّحْبَةَ يَارَسُوْلَ اللّٰه) اے د الله رسوله ! زما مور او پلار دے تا نه قربانی شی ما به د ځان سره ملګرے کوے۔

نبی علیه السلام ورته وویل : بالکل تهٔ به زما ملګرے ئے۔

نو ابوبکر صدیق رضی الله عنه ډیر زیات وژړل، عائشه رضی الله عنها فرمائی چه ما د خفګان او د غم د وجی نه ژړا لیدلے وه لیکن د خوشحالئ نه ژړا ما چرته نهٔ وه لیدلے او پدے ورځ ما د خوشحالئ د وجه نهٔ د ابوبکر ژړا ولیدله چه دا څومره لویه خبره ده چه محمد رسول الله ﷺ ما ځان سره ملګرے کوی دا د ابوبکر رضی الله عنه په ډیر اُوچت ایمان باندے دلالت کوی ځکه چه د نبی علیه السلام سره هجرت کولو

معنیٰ دا ده چه تول مصیبتونه قبلول او مرګ ته ځان وړاندې کول۔

د رسول الله ﷺ د هجرت دپاره تیاری

نبی علیه السلام خپل کور ته لاړو د هجرت دپاره ئې تیاری کوله او مشرکین هم توله ورځ په پټه سره پدې تیاریٔ کی وو چه کوم کسان به حمله کوی او رسول الله ﷺ چه په کومه بستره کې څملې په هغې به حمله کوی، د مشرکینو یقین وو چه دا پیغمبر به وژنو لیکن (وَاللَّهُ غَالِبٌ عَلَىٰ أَمْرِهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ﴾ (یوسف:۲۱)۔ الله په خپل کار غالب دے لیکن اکثر خلك نهٔ پوهیږی۔

مشرکانو یولس کسان منتخب کړل چه د شپې به د الله نبی وژنی (انا لله وانا الیه راجعون) ددې یولسو کسانو مشر ابوجهل وو چه یو به دے پدے قتل کی حصه اخلی ۲- : بل نضر بن الحارث۔ ۳-اُمَیه بن خلف ٤-: حکم بن ابی العاص، ۵- عُقبه بن ابی معیط، ٦- نُبیه بن الحجاج ۷- مُنبه بن الحجاج، ۸- : زَمْعَة بن الاسود۔ ۹- طُعَیْمَه بن عدی ۱۰- ابی بن خلف ۱۱- ابولهب د رسول الله ﷺ ترهٔ۔

کله چه د ماسخوتن وخت شو د نبی علیه السلام د کور نه ئې ګیره واچوله ګیر چاپیره ترے کیناستل پدے اراده چه په نبی علیه السلام حمله وکړی نبی علیه السلام پدے وخت کی په خپل کور کی وو وتلے لا نهٔ وو، د الله د امر تابع وو پکار خو دا وه چه د ورځے غرمه کی وتلے وے لیکن د الله تعالیٰ د حکم تابع وو او بل ئې ترتیب جوړ ولو۔

مشرکانو په نبی علیه السلام سمدست حمله ولے نهٔ کوله ؟

د سیرت علماؤ ددے دوه وجې لیکلی دی یو دا چه سمدست حمله کولو سره خلك خبریدل کیدے شی چه هغوی ئې خلاص کړی۔ دویمه وجه دا ده چه د نبی علیه السلام د ګاونډی په دیوال دوی راښکاره شو نو د کور زنانه پرے آواز وکړو دا څه کوی؟ نو دوی راواپس شو او خپل مینځ کی ئې فیصله وکړه چه د چاپه کور مهٔ ور اوړئ بیا به خلك وائی چه دا قریش دومره بې کاره او خسیس خلك دی چه د چا لحاظ نکوی او په پردو دیوالونو وراوړی نو دوی وویل صبر وکړئ چه دا سړے د شپے مانځه ته راپاځیږی یا به د قضاء حاجت دپاره راوځی نو حمله به پرے وکړو۔

پدے وخت کی ابوجهل خپل تکبر ښکاره کولو خپلو ملګروته ئے وویل چه دا پیغمبر وائی چه ایمان راوړئ الله به دنیا کی په عربو او عجمو حکومت او بادشاهی درکړی او که مړه شوئ نو آخرت کی به جنت (باغونه) درکړی د اُردن د باغونو په شان او که ایمان رانهٔ وړئ نو زهٔ به مو ذبح کړم او آخرت کی به اُور ته داخلیږئ۔ او اوس د ځان نه خبر نهٔ دے چه دے مونږ قتلوو۔

د ابوجهل مقصد دا وو چه نبی علیه السلام (العیاذ بالله) په خپلو خبرو کی دروغجن ثابت کړی، لیکن ابوجهل دروغجن وو او د نبی علیه السلام خبره حقه وه او د ابوجهل ایمان او یقین نهٔ وو، د پیغمبرانو خبرے داسے وی چه په ظاهره کی د هغے د جوړیدو هیڅ اسباب نهٔ وی لیکن هغه حقیقت وی۔

نبی علیه السلام د خندق په غزا کی تسکوره (کوداله) ووهله او وے فرمایل : فارس او روم فتح شو نو منافقانو وویل مونږ د لوږے مړهٔ شول، زمونږ د ختمیدو یره ده او دے فارس او روم فتح کوی نو ابوجهل هم داسے خندا کوله۔

ددے نه دوه فائدے معلومے شوے : (۱) دا کفار د نبی علیه السلام د دعوت په حقیقت پوهه وو لیکن د ضد او د عناد د وجے نه ئے کفر کولو۔

(۲) دویمه فائده : په جنګ کی د کفارو ذبحه کول جائز دی لکه ابوجهل وویل: (كَانَ لَهُ فِيكُمُ الذَّبْحُ) ۔ هغه به تاسو ذبح کوی۔ دویم ددے آیت نه معلومیږی : (فَاضْرِبُوا فَوْقَ الْأَعْنَاقِ)۔ (انفال:۱۲) د څټونو دپاسه ئے ووهه)۔

د نبی علیه السلام په کور کی سیدنا علی رضی الله عنه وسیدو نبی علیه السلام به پرے خرچه کوله نو نبی علیه السلام ورته وویل چه تهٔ به زما په بستره کی زما په ځای څملے او زما یو شین څادر دے دا به تهٔ په ځان باندے واچوے۔

سیدنا علی رضی الله عنه ئے د ځان سره نهٔ بوتللو د هغے وجه دا وه چه د نبی علیه السلام سره د خلکو امانتونه پراتهٔ وو ددے دپاره چه دا خپلو مالکانو ته واپس کړی (ددینه د امانت لحاظ معلوم شو او حدیث کی هم راغلی دی :

(لَا إِيْمَانَ لِمَنْ لَا أَمَانَةَ لَهُ وَلَا دِيْنَ لِمَنْ لَا عَهْدَ لَهُ)

(احمد۱۲۳۸۳) وابن ابی شیبة ۱۱/۱۱ واسناده حسن)۔

د هغه چا ایمان نشته چه د امانت حفاظت نهٔ کوی او هغه څوك بی دینه دے چه د

وعدے لحاظ نهٔ ساتی۔

سیدنا علی رضی الله عنه د نبی علیه السلام په بستره کی اُوده شو او دیته په اسلام کی فدائیت او قربانی وائی۔ علماءِ فرمائی چه اول فدائی په اسلام کی سیدنا علی رضی الله عنه دے ځکه دۀ د کفارو په لاس کی ځان ورکړو او نبی علیه السلامؑ ئے بچ کړو او دا دۀ کمال وو ځکه دۀ د مرګ خطرهٔ هم وه اګرکه د علی رضی الله عنه نه د سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه فضیلت ډیر دے ځکه چه د ابوبکر صدیق رضی الله عنه ډیره خطره وه چه ووژلے شی او علی رضی الله عنه ته نبی علیه السلام دا زیرے ورکړے وو چه ته زما په ځای څمله دا مشرکان تا ته هیڅ تکلیف نشی درکولے،

کله چه شپه نیمه شوه راووتلو او مشرکین چار چاپیره ناست وو د سورة یس اولنی آیتونه ئے ولوستل :

﴿ وَجَعَلْنَا مِنْ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ سَدًّا وَمِنْ خَلْفِهِمْ سَدًّا فَأَغْشَيْنَاهُمْ فَهُمْ لَا يُبْصِرُونَ﴾ (يس:۹)

او خاورے ئے راواخستلے او د مشرکینو په سرونو ئے واچولے د هر یو مشرك په سر ئے واچولے پدے کی اشاره وه الخیبة والخسران ته چه تاسو نامراده او تاوانی شوئ۔

پدے هجرت سره د اسلام غلبه راتلله :

﴿ وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِينَ كَفَرُوا السُّفْلَى وَكَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ الْعُلْيَا﴾ (التوبة : ٤٠)۔

(الله تعالیٰ د کافرانو کلمه او دین ښکته کړو او د الله تعالیٰ کلمه او دین به همیشه اُوچت وی)

نو ددے هجرت معنیٰ دا شوه چه اے مشرکانو ! تاسو ذلیله شوئ او دین اسلام غالب شو۔

د کور نه وتل او غار ثور ته رسیدل

نبی علیه السلام د شپے ووتو او دا (۲۷) صفر وو او د نبوت (۱٤) کال دے موافق (۱۳/۱۲) ستمبر سنه (۶۲۲ء) او سیده د سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه کور ته ورغے او په کړکۍ باندے ووتل په شا طرف او غار ثور ته لاړل غار ثور د مکے په جنوبی طرف دے، مدینے ته چه ځے په شمالی جانب به ځے لیکن دوی جنوب طرف ته لاړل،

دے دپاره چه خلکو باندے خبره پته وساتي چه د اول نه د چا په نظر کي رانشي۔
د غار ثور پورے درے کیلو میتره مزل وو۔ (المعالم الاثیرة فی السنة والسیرة ۱/۱۵۲)
(صاحب د الرحیق وائي تقریباً پنځه میله دے)۔
صاحب د اتلس سیرت وائي : د مکے نه څلور نیم کیلو میتره په جنوب طرف کي دے۔
دا ډیر سخت.غر وو پدے سفرکي د نبي علیه السلام خپے مبارکے ډیرے خوږے شوے وے وجه دا وه چه یو خو نبي علیه السلام ډیرے مزلے او سفرے نهٔ وے کړے او بل دا چه د خپو په څوکو به تلل ځکه دا خلك قیافه دان وو چه د قدمونو د مزل نه به ئے خلك پیژندل۔ ابوبکر صدیق رضی الله عنه بیا نبي علیه السلام په شا کړو دا د ابوبکر صدیق کرامت وو چه پدے سخت غرئے نبي علیه السلام خیژولو الله سبحانه وتعالیٰ دا کمال ورکړے وو۔
سیدنا عمر فاروق رضی الله عنه به فرمایل : چه ارمان دے چه د ابوبکر صدیق د عملونو نه یوه شپه او یوه ورځ ماله راکړے شي دا زما بس وه هغه شپه چه د نبي علیه السلام سره ئے هجرت کړے وو چه په هغے کي ئے د رسول الله ﷺ خدمت کړے وو او بله هغه ورځ چه په کومه ورځ نبي علیه السلام وفات شو سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه د ټولو کفارو او مجرمینو په مقابل کي ډیر کلك ودریده،
نبي علیه السلام او ابوبکر صدیق دواړه غار ثور ته لاړل (غار ثور د جبل ثور په سر باندے یو غټ کمر دے په هغے کي یو غار دے او بل کمر دے چه د هغے لاندے غار دے دا غار دوه خولے لري یو د بره طرفنه او بل ښکته طرفنه)۔
مشرکین په خپل ځای ناست وو یو کس پرے تیریدو هغه ورته وویل تاسو څه ته دلته ناست یئ هغوی ورته وویل چه مونږ دا سړے قتلوو، نو هغه سړی ورته وویل چه هغه خو ستاسو نه ووتلو او ستاسو په سرونو ئے خاورے شیندلے، هغوی چه خپل سرونه وکتل خاورے پرے پرتے وے چه کله ئے دننه کورته په یو سوری کي وکتل نو وے لیدل چه همغه کټ دے او سړے پکي پروت دے او شین څادر پرے غوړیدلے دے نو دوی وویل چه دا خو پروت دے۔
مشرکین په انتظار کي وو تردے چه د ﷺ د راپاڅیدو وخت شو نو چه وے کتل سیدنا علي رضی الله عنه راپاڅیدو، مشرکینو ترے تپوس وکړو چه ستا هغه ملګرے

څه شو ؟ علي ﷜ ورته ووېل چه ما ته علم نشته چه چرته دے، دے مشرکینو سیدنا علي ﷜ ونیولو او د سر نه ئے راښکلو او ډېر زیات ئے ووهلو تردے چه حرم ته ئے راوستلو او د څه لږ وخت دپاره ئے جیل ته واچولو ددے دپاره چه د نبي ﷺ ځای ورته وښائي لیکن علي رضي الله عنه څه معلومات ورنکړل۔

مشرکینو فیصله وکړه چه د مکے ټولے لارے بندي کړئ ځکه دا سړے (پیغمبر) به پدے مکه کي په کوم ځای کي پټ وي او بل دا چه انعام ئے مقرر کړو چه که هر چا دا سړے او ابوبکر ژوندي ونیول یا ئے مړه کړل نو د هر یو په سر به ورته سل سل اُوښان انعام ملاویږي یعني دوه سوه اوښان چه دا د دوه کسانو دیت جوړیږي دا ډېر زیات مال وو هر سړي دا کوشش کولو چه زۀ دا انعام حاصل کړم۔

په همدے دوران کي مشرکین د سیدنا ابوبکر صدیق کور ته لاړل، دروازه ئے ووهله، اسماء بنت ابی بکر رضي الله عنها راووتله نو ابوجهل ترے تپوس وکړو چه پلار دے چرته دے ؟ هغے ووېل : ما ته پته نشته، کور کي نشته چرته وتلے دے۔ نو ابوجهل څپیړه ووکړه تردے چه د غوږ نه ئے والۍ وغورځیدلے۔

په بعضے روایتونو کي راځي چه دومره ئے ووهله چه شاته وغورځیده او د بې هوشۍ حالت ته ورسیده۔

د نبي علیه السلام په طلب کي ئے درے قسمه فوجونه ولیږل (۱) په اسونو سوارۀ خلك (۲) پیاده خلك (۳) او قیافه دان خلك چه د قدمونو نښے پیژني، دا فن په عربو کي مشهور وو، هغوی پکي دومره ماهر وو تردے چه دا به ئے هم پیژندله چه پدے لاره د وادۀ والا زنانه تلے ده او که بې واده۔

مشرکین ډېر وګرځیدل تردے چه جبل ثور ته ورسیدل د غره سر ته وختل یا خو د قدمونو نه ئے معلوم کړل او یا دا چه د شك په بناء ورغلل دومره نزدے ورغلل چه سیدنا ابوبکر صدیق رضي الله عنه وفرمایل :

یارسول الله ! کچرته دا مشرکان سر ښکته کړي او خپلو قدمونو ته وګوري نو مونږ به ویني۔ پدے غار کي یو طرف او بل طرف ته درے سوري وو او دوی یو خوا بل خوا کتل لیکن پدے غار کي دننه ئے نۀ کتل۔

ددے دوه وجې دی یوه وجه لږه د سند په لحاظ کمزورے ده هغه دا چه ددے غار په

خوله کی جولاګی (غنی) جاله اچولې وه او کوتره راغلې وه هګۍ ئې اچولې وې نو دوی دا ګمان وکړو چه که دوی غار ته داخل شوی وی نو دا جاله به ورانه شوې وې او دا هګۍ به ماتې شوې وې. الله تعالیٰ د خپل نبی حفاظت پدې طریقه وکړو.

دا خبره د سیرت کتابونو کی راغلې ده لیکن دومره قوی نۀ ده،

ظاهر دا ده چه الله تعالیٰ ملائك راولیږل د خپل نبی د حفاظت دپاره

﴿وَاَيَّدَهٗ بِجُنُوْدٍ لَّمْ تَرَوْهَا﴾ (التوبة : ٤٠).

او الله تعالیٰ ددې کفارو زړونه او ذهنونه دې طرف نۀ بوتلل او دا د نبی علیه السلام معجزه ده، ددې داسې مثال دې لکه چه نبی علیه السلام په مشرکینو د کور نه راووتلو او هغوی نۀ لیدلو او دا هم د نبی علیه السلام معجزه وه.

سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه چه دا خبره وکړه چه که یو کس لاندې وګوری مونږ به وینی نو نبی علیه السلام ورته وفرمایل :

﴿لَا تَحْزَنْ اِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا﴾ (التوبة: ٤٠).

مۀ غمژن کیږه یقیناً الله تعالیٰ زمونږ سره دې.

او حدیث کی داسې تعبیر راغلې دې : (مَا ظَنُّكَ بِاثْنَيْنِ اَللّٰهُ ثَالِثُهُمَا﴾

ستا څه ګمان دې په هغه دوه کسانو چه الله تعالیٰ ئې دریم دې) او دا ډیر اُوچت توکل دې د الله په ذات څکه داسې وخت کی په سړی هیبت راځی او حال وائی لیکن نبی علیه السلام په امن او سکینه او وقار کی دې.

شیعه ګان ظالمان وائی : سیدنا علی بهتر دې څکه په بستره پاتی شوې دې او سیدنا ابوبکر رضی الله عنه په غار کی یریږی لیکن دا خبره د دوی سراسر خطاء ده، د علی رضی الله عنه اُوچت شان دې لیکن د صدیق اکبر درجه او مرتبه په سیدنا علی المرتضیٰ رضی الله عنه باندې ډیره لویه او اُوچته ده څکه چه صدیق اکبر دلته دخپل ځان په مرګ ندې یریدلې بلکه هغه په نبی علیه السلام خفه کیدلو دلیل پرې دا دې چه صدیق اکبر ورته وویل : یارسول الله که زۀ ووژلې شوم څه پرواه نشته زۀ خود مسلمانانو نه یو کس یم زما په مرګ څه نقصان نۀ کیږی :

(وَاِنْ قُتِلْتَ اَنْتَ هَلَكَتِ الْاُمَّةُ) که تۀ ووژلې شې تول امت تباه کیږی.

(مختصر سيرة الرسول لعبد الله بن محمد بن عبد الوهاب ص : ١٩٠) والروض الانف ٢/٣١٥)

صاحب د الروض الانف لیکی چه نبی علیه السلام صدیق اکبر ته (لَاتَخَفْ) ونهٔ وئیل چه مهٔ یریږه بلکه (لَاتَحْزَنْ) ئے وویل یعنی مهٔ خفه کیږه ځکه چه د صدیق اکبر خفګان په رسول الله ﷺ باندے وو۔ (الروض الانف ۲/۳۱۵)

بله دا چه سیدنا ابوبکر ته خطر زیات وو ځکه کفارو په دهٔ باندے د انعام ورکولو اعلان کړے وو او سیدنا علی ﷛ ته د مرګ خطر نهٔ وو صرف دِ وهلو خطر وو۔

فائده: مشرکان د ابوبکر کور ته ځکه ورتلل چه دوی پدے پو هیدل چه کله دا دوه کسان موجود وی د امت مشری کولے شی نبی علیه السلام او بیا سیدنا صدیق اکبر رضی الله عنه او د دواړو دِ مرګ ئے یو شان دیت مقرر کړو سل سل اُوښان، په صدیق اکبر رضی الله عنه کی هم د الله د نبی په شان کمالات وو د هغه پوره تابعدار وو۔

بل کمال د صدیق اکبر دا وو چه نبی علیه السلام او صدیق کله دے غار ته ورسیدل نو صدیق اکبر ورته وویل : اے د الله رسوله ! تهٔ به اول غار ته نهٔ داخلیږے کیدےٓ شی چه پدے غار کی څه مار لړم یا بل ځناور وی داسے نهٔ چه تا ته تکلیف ورسوی زهٔ به مخکی ورداخل شوم نو مخکی صدیق اکبر ورننوتلو هغه ځای ئے جارو کړو او هغه سوری ئے بندے کړے څه اسباب ورسره نهٔ وو خپل لنګ ئے وشلولو د هغے نه ئے توټے راغوټی کړے او هغه سوری ئے پرے بندی کړے۔

په غار کی دوه سوری پاتی شوی د هغے دپاره توټه نهٔ وه چه پکی ورئے کړی نو سیدنا صدیق اکبر رضی الله عنه دواړه سوری په خپلو پوندو بندی کړی کیناسته او خپلے ځپے ئے اُوږدے کړے او سوری ئے پرے بندی کړی نو بیا ئے نبی علیه السلام ته وویل چه راننوځه، نبی علیه السلام غار ته داخل شو او د صدیق اکبر په غیږ کی ئے سر کیښودو او اُوده شو، پدے وخت کی ماریا لړم د صدیق اکبر رضی الله عنه خپه وچیچله هغه بیا هم حرکت نهٔ کولو هسے نهٔ چه د الله رسول راویښ شی۔

په صدیق اکبر رضی الله عنه کی دومره ادب وو، کله چه صدیق اکبر وچیچل شو د سترګونه ئے اُوښکے روانے شوے د نبی علیه السلام په مخ مبارك باندے ولګیدے هغه راویښ شو ورے فرمایل: ابوبکره څه اُوشو ؟ ولے ژاړے ؟ هغه وویل یارسول الله ! څه شی وچیچلم نو نبی علیه السلام ورته وویل خپه رادیخوا کړه نو لاړ ئے پرے واچولے سمدست روغ شو، دا د نبی علیه السلام معجزه وه چه دم به ئے سمدست اثر کولو او

مریض به پرے جوړ شو لکه چه دا معجزه د عیسیٰ علیه السلام هم وه۔

(د سیدنا ابوقتاده رضی الله عنه په اُحد غزا کی سترګه بهر راوتلے وه نبی علیه السلام هغه راواخستله او وردننه ئے کړه او دم ئے کړه سمدست جوړ شو او داسے جوړه شوه چه د روغے سترګے نه ښه ښکاره کیدله، د ابورافع په قتل کی د سیدنا عبد الله بن عتیك رضی الله عنه خپه ماته شوه په هغے باندے نبی علیه السلام لاس راخکلو سمدست جوړ شو، د سیدنا علی المرتضیٰ ﷛ سترګی خوږے شوے وے نو دم ئے کړے او لاړے ئے پکی تو کړے بالکل جوړ شو او دا واقعه د خیبر په غزا کی راغلے وه۔

حدیث کی راځی چه د صدیق اکبر رضی الله عنه په بدن کی دا زهر پڑاتهٔ وو د نبی علیه السلام د وفات نه دوه کاله روسته دے زهرو اثر شروع کړو تردے چه د هغے د وجه نه وفات شو ګویا که ابوبکر صدیق رضی الله عنه هم د نبی علیه السلام په شان یو قسم شهادت موندلے دے۔

(**فائده** : دلته بعضو قصه ګو خلکو دا خبری د ځان نه جوړی کړی دی چه نبی علیه السلام ددے مارنه تپوس وکړو چه تا زما ملګرے ولے وچیچه؟ هغه وویل ځکه چه ما د ډیر وخت نه انتظار کولو چه دا پیغمبر به راځی او زهٔ به ددهٔ ملاقات کوم او دهٔ زما لاره بنده کړے وه۔

دا د ځان نه خبری دی، د حدیثو او د سیرت په کتابونو کی نشته،

دا د سیدنا ابوبکر صِدیق فضیلت شو۔

نبی علیه السلام درے شپے په غار ثور کی تیرے کړے د صفرے (۲۷) تاریخ وو د جُمعے، د خالی او د اتوار شپه۔

(**فائده** : نبی علیه السلام د دوشنبی په ورځ پیدا شوے وو پدے ورځ ئے مدینے ته هجرت کړیدے او پدے ورځ وفات شوے هم دے ددے ورځے ډیر فضیلت دے پدے ورځ روژه نیول هم مستحب دی)۔

پدے درے شپو کی نبی علیه السلام پدے غار کی اُوسیده، د شپی به ورته سیدنا عبد الله بن ابی بکر د صدیق اکبر ځوی راتللو (دا یو هوښیار او تکړه ځوان وو) او د دوی دواړو سره به ئے شپه تیره وله او د مشرکینو احوال به ئے ورته بیانول خبرونه به ئے ورته راوړل، او سهر وختی به بیرته مکے ته راتللو او د قریشو سره به ئے په مکه کی داسے

حالت اختیارولو لکه چه دۀ په مکه کی شپه تیره کړی وی۔
بل د سیدنا صدیق اکبر رضی الله عنه غلام عامر بن فُهیره رضی الله عنه به گډے بیزے څرولے نو د شپی به ئے گډے بیزی د غر بیخ ته راوستلے او د هغے نه به ئے پیٔ راولشل او دوی دواړو ته به ئے غر ته وروخیژول او د سیدنا عبد الله بن ابی بکر رضی الله عنه په قدمونو به ئے هغه گډے بیزے روانی کړی چه هغه قدمونه وران کړی چه څوك دا ځای معلوم نۀ کړی او سهر وختی په تیاره کی به ئے مکے ته ځان رسولو۔
د درے شپو نه بعد د دوشنبی په شپه نبی علیه السلام د یو مشرك سره چه عبد الله بن اُریقط ئے نوم وو خبره کړے وه چه دۀ ته د مدینے شاړے لارے معلومے وے، دا د خلکو لاربنود وو، نبی علیه السلام او ابوبکر صدیق ته عامه لاره د مدینے معلومه وه لیکن د شاړو او دشتو لاری ورته نۀ وے معلومے۔ او ددۀ دپاره ئے مزدوری مقرر کړه او دا ئے ورته وویل چه درے ورځے بعد به راځی او دوه اُوښے به راولی او مونږ ته به لاره ښائی پدے مشرك د نبی علیه السلام او د صدیق اکبر رضی الله عنه اعتماد وو اگر که دا مشرك وو او ددۀ مزدوری کمه وه او مشرکانو سل اُوښان ورکول لیکن د غیرت د وجه نه ئے حال نۀ وئیلو او د وعده خلافیٔ او دروغونه ئے ځان ساتلو او دا د عربو ډیر ښائسته صفت وو۔
(**فائده** : علماء فرمائی: ددینه دا فائده معلومه شوه چه د مشرك نه مدد اخستلے شی کله چه اسلام ته پکی ضرر نۀ وی او ددینه امام بخاری رحمه الله دلیل نیولے دے چه د کفارو نه جهادی فائدے اخستل یا لار معلومول یا اسلحه د هغه نه اخستل جائز دی، آؤ، کله چه اسلام پرے ذلیله ښکاره کیدو بیا به د کافرو نه مدد نۀ اخلی نبی علیه السلام په خیبر کی یهودیان زمیندار جوړ کړل، د اُحد غزا کی ئے د یهودو نه اسلحه اخستے وه د وړوکی کافر نه مدد اخستل او په هغے د غټ کافر وهل)۔
مشرکانو د مدینی پورے کلو ته اَستازی او قاصدان لیږلی وو چه که نبی (علیه السلام) او ابوبکر (رضی الله عنه) چا قتل کړل دوه سوه اُوښان به انعام ورکوو نبی علیه السلام چه د مکے نه وتلو ډیر خفه وو او مکے ته ئے خطاب وکړو چه اے مکے! تۀ د تولو ښارونو نه ما ته ډیره محبوبه ئے که زۀ دے خپل قوم نه وے ایستلے زۀ به هیڅکله نۀ وے وتلے (سنن النسائی (٤٢٣٩) والترمذی (٣٩٢٥)

ځکه په مکه کې د الله کور آباد وو۔

په لاره کې بیا د سورة محمد آیتونه نازل شو :

﴿ وَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ هِيَ أَشَدُّ قُوَّةً مِّن قَرْيَتِكَ الَّتِي أَخْرَجَتْكَ أَهْلَكْنَاهُمْ فَلَا نَاصِرَ لَهُمْ ﴾ (آیت :۱۳) نبی علیه السلام ته الله تعالیٰ تسلي ورکړه چه ډیر داسے کلی تیر شویدی چه هغوی ستا د کلي والو نه ډیر مضبوط وو کوم چه تهٔ ویستلے مګر هغوی مونږ هلاك کړل چه هیڅوك مددګارئے نهٔ وو نو دا کلي والاهم زما نه نشي خلاصیدے۔

او کله چه جحفے علاقے ته ورسیدل نو الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو :

﴿ إِنَّ الَّذِي فَرَضَ عَلَيْكَ الْقُرْآنَ لَرَادُّكَ إِلَىٰ مَعَادٍ ﴾ (القصص:۸۵)

یقیناً هغه الله چه پهٔ تا باندے ئے د قرآن رسول فرض کړیدی هغه به خامخا تا مکے ته راواپس کوی) دا پکی یو تفسیر دے، (امتاع الاسماع للمقریزی۴/ ۱۹۸)

نو پدے سره د نبی علیه السلام ډیره تسلي وشوه۔

نبی علیه السلام سره عبد الله بن اُریقط ملګرے شو او عامر بن فهیره هم ورسره وو پدے وخت کې د مشرکانو طلب کمزورے شوے وو۔

فوائد : دلته دا فائدی معلومے شوے : (۱) د مشرك نه فائده اخستل، (۲) د اسبابو استعمال۔ (۳) نبی علیه السلام په غیبو نهٔ پوهیدو لاره ورته نهٔ وه معلومه او مشرك ته معلومه وه۔

(٤) معجزه د نبی علیه السلام۔

(۵) فضیلت د سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه۔

(٦) د نبی علیه السلام د مکے سره زیاته مینه د وجه د عبادت د رب خپل نه)

دوی سفر شروع کړو، عبد الله بن اُرَیْقِط اللیثی داسے لار اختیار کړه چه د مشرکانونه پټه وه، د غار نه چه ووتل نو دوی د مکے جنوبی طرف ته چه یمن طرف وو مزل شروع کړو بیا د ساحل (دریاب) په لاره جدٰی طرف ته روان شو دا مغرب طرف وو چه هلته لاړل بیا ئے سفر شروع کړو تردے چه داسے لارے ته ورسیدل چه خلك پرے نهٔ تلل مګر شاذ ونادر نو د هغه ځای نه شمال طرفته روان شو چه په شمال طرف مدینه وه نو نبی علیه السلام په عُسفان علاقه ورتیر شو دارنګه بیا په قُدید علاقه باندے ورتیر شو بیا په خرّار علاقه باندے بیا په (ثنیة المره) باندے بیا په لِقُف باندے بیا په بنو مدلج باندے

بیا د ذی کشر مینځ باندې ئې روان کړل بیا (جَدَاجِدُ) بیا (أجرد) بیا په (تِعْهِن) باندې بیا په (عبابید) بیا ئې په (الفاجه) باندې ورتیر کړل بیا ئې په (العرج) باندې ورکوز کړل بیا ئې په (ثنية العائر) باندې بوتلل چه دا د (رَكُوبه) علاقې ښي طرفته وو بیا ئې په (بطن رئم) علاقه باندې ورکوز کړل تردې چه قباء ته ورسیدل چه دا د مدینې نژدې علاقه او ښي طرفته واقع ده. (ابن اسحاق)

د سیرت په کتابونو کې د عامر بن فهیره او د عبد الله بن اریقط دومره ذکر نهٔ کیږي، د عامر بن فهیره بیا هم څه نا څه ذکر راځي لیکن د عبد الله بن اریقط ذکر نهٔ کیږي ځکه چه دا مشرك وو خپله مزدوري ئې واخسته او واپس لاړو او د نبي علیه السلام او د ابوبکر تذکره کیږي.

د هجرت په لاره کې راغلي ناشنا واقعات

۱- کله چه دوی د غار ثور نه روانیدل نو اسماء بنت ابي بکر صدیق رضي الله عنها راغله، د سفر سامان او څه خوراك ئې راوړو، اسماء رضي الله عنها دسترخوان راوړو چه دا د څرمنې نه جوړ وو نو کله چه ئې دا دسترخوان په اُوښه پورې زوړندولو نو د تړلو دپاره څه پړې نهٔ وو نو صدیق اکبر ورته وویل چه دا خپل نطاق وشلوه (نطاق یو کمر بند وو چه د پرتوګ دپاسه به زنانهٔ اغوستلو چه د پخلي او د لوښو وینځلو په وخت کې جامې د څاځکو نه بچ ساتي)

نو هغه ئې څیرې کړو نیم کمربند ئې د ځان نه تاؤ کړو او نیم باندې ئې دسترخوان وتړلو ددې وجه نه اسماء رضي الله عنها ته ذات النطاقین وائي.

۲- بله دا چه کله ئې دا سورلۍ راوستلې نو د سیدنا ابوبکر صدیق رضي الله عنه چه کومه بهتره سورلي وه هغه ئې نبي علیه السلام ته ورکړه چه دا تهٔ واخله لیکن نبي علیه السلام ورته وویل : (بِالثَّمَنِ) په پیسو به ئې راکوې. هغه وویل : پیسې نهٔ اخلم. نبي علیه السلام ورته وویل : (بِالثَّمَنِ). خامخا به ئې په پیسو درنه اخلم. نو ابوبکر د نبي علیه السلام خبره ومنله. اګرکه سیدنا ابوبکر رضي الله عنه خپل ځان او مال په نبي علیه السلام قربانولو او هغه د نبي علیه السلام خبره ومنله ددې وجه نه نبي

علیـه السلام فرمائی ما د هر چا احسان پوره کړیدے سوئ د ابوبکر نه څکه هغه مال او ځان زما نه قربان کړیدے۔

دلتـه نبی علیه السلام دا سورلی په غیر د روپو نه قبوله نکړه وجه دا ده چه هجرت نیك عـمـل دے او دا د الله بندګی ده او نبی علیه السلام غوښتل چه خپل مال ئے د الله په لار کی مصرف شی او هم خپل ځان، او په خپل نفس او مال دواړو سره هجرت وکړی۔

۳- سیدنـا ابوبکر صدیق رضی الله عنه لویه قربانی کړے وه هغه دا چه کله د کور نـه راوتلو ټول مال ئے راخستے وو او داسے ناشنا توریه ئے کړے وه چه د پیسو په ځای ئے په بوجئ کی کانړی اچولی وو، د ابوبکر صدیق پلار ابوقحافه رضی الله عنه وویل چه ابوبکر څه پریښی دی نو اسماء رضی الله عنها ورته وویل : ډیر مال ئے پریښے دے۔ هغه وویـل : کوم ځای دے؟ ابوقحافه پدے وخت کی ړوند شوے وو نو هغه ئے بوتللو او په بـوجـئ ئے ورلـه لاس کیښـوده کـومـه کی ئے چه کانړی اچولی وو او بره ئے پـه دَرِی (طاقـچـه) کی ایښے وه نو پلار ئے وویل چه دا خو ئے ډیر مال پریښے دے پدے زمونږ کار کیږی۔

د لارے واقعات :

د ابـوبـکر صدیق رضی الله عنه په عازب باندے قرض وو د اُوښ پالان ئے ترے اخستے وو ابـوبـکر صدیق عازب تـه وویل چه ځوی (براء رضی الله عنه) تـه ووایه چه هغه پالان راوړه نـو عـازب ورتـه وویـل چـه زما ځوی به پالان هغه وخت دروړی چه کله تـه ما تـه د هجرت واقعه بیانه کړے۔

ابـوبـکـر صـدیـق ورتـه واقعه شروع کړه چه مونږ یوه شپه او نیمه ورځ مزل وکړو د غـرمے وخت وو سخـتـه ګرمی وه، د دمے اراده مو وکړه نو روان وو یو غټ اُوږد کمر مخے تـه راغـے هـغـے سورے لرلو چه په هغے باندے نمر نهٔ وو راغلے۔نو رسول الله ﷺ او ټول ملګری هغے تـه ورسـتـانهٔ شول،

ابـوبکر رضی الله عنه فرمائی : د نبی علیـه السلام دپاره مے ځای تیار کړو، کانړی مے تـرے لـرے کـړل او ما سره یو پوستین وو د څرمن هغه مے خور کړو او نبی علیـه السلام تـه مے وویـل چـه پدے څمله زهٔ به ګیر چاپیره دے علاقه کی څوکیداری کوم او احوال

هم معلوموم۔
د صدیق اکبر رضی الله عنه خدمت ته وګوره خپله هم ستړے ستوړے دے او څوکیداری کوی۔
(فائده : نبی علیه السلام به د قیلولے ډیر اهتمام کولو چه د شپی د تهجدو په کولو کی دا مددګار دی، په یو حدیث کی دی :
(قِيْلُوْا فَإِنَّ الشَّيَاطِيْنَ لَاتَقِيْلُ) (الصحيحة ٤/٢٠٢)۔
تاسو د غرمے خوب کوئ ځکه چه شیطانان د غرمے خوب نۀ کوی۔
حسن بصری رحمه الله څه خلك ولیدل چه په بازار کی ئے د غرمے په وخت کی منډے وهلے نو هغه وویل ددے خلکو شپه ډیره د غفلت ده او بده شپه ئے ده۔
ابوبکر صدیق رضی الله عنه علاقه کتله فرمائی : زۀ د یو راعی (چوپان) سره ملاؤ شوم د هغه هم اراده وه چه دے کمر ته دمه یوسی نو ما ترے تپوس وکړو، د چا غلام ئے ؟ هغه وویل د مکے د یو سړی غلام یم، نو ابوبکر ورته وویل : دے ګډو کی پئ شته؟ هغه وویل :آؤ، ابوبکر صدیق ورته وویل: تۀ اجازه کوے چه دا ګډه راولشم ؟ هغه وویل : اجازه ده نو هغه ګډه راولشله۔ ابوبکر رضی الله عنه ورته وویل : صبر وکړه د ګډے هغه غلانزی ئے وڅنډله خاورے وغیره ئے ترے پاکے کړے مقصد ئے دا وو چه د نبی علیه السلام خوراك دے چه خیری او ګندونه پکی واقع نشی۔
نو پئ ئے راوړل نبی علیه السلام اُوده وو، ابوبکر نۀ راپاڅولو د ادب د وجه نه یا کیدے شی چه خوب کی ورته وحی کیږی۔ سیدنا ابوبکر فرمائی : ما لږ شان انتظار وکړو نو نبی علیه السلام راپاڅیدو، ما یو مشکیزه ځان سره راوړے وه چه نبی علیه السلام به پرے اودس کوی او د هغے نه به اُویه څکی،
(فائده: په سفر کی ضروری شیان ځان سره راوړل پکار وی)
ددے مشکیزے نه مے اُوبه په پیو کی راواړولے چه یخ شی نبی علیه السلام ته مے وویل : پئ وڅکه یا رسول الله ! هغه وڅکل تردے چه زۀ ډیر خوشحاله شوم۔
(فائده: د ابوبکر د رسول الله ﷺ سره انتهائی محبت وو)
نبی علیه السلام وفرمایل: آیا د سفر وخت نۀ دے راغلے، نو سفر مو شروع کړو۔
سوال : دلته بعض خلك دا سوال کوی چه نبی علیه السلام ولے بی اجازته پئ

څکلی دی؟

جواب : دا د مشرکانو مال وو ددے اخستل جائز دی دا وجه کمزوری ده، د مشرکانو مال حرام دے مگر که د قتال په وخت کی غنیمت حاصل کړی یائے په خپله درکړی، اغوا کاری، غلا، دوکه د مشرکانو سره هم جائز نهٔ ده۔

صحیح جواب دا دے چه مشرکینو کی دا ښه عادت وو چه خپلو غلامانو ته به ئے ویل که څوك مسافر په لاره کی راشی نو ددے ګډو بزو پیۍ ورکوئ او دا د هغوی کرم او جود وو پدے وجه دلته سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه د هغه غلام نه اجازه هم طلب کړه۔

(اول جواب څکه کمزورے دے چه مغیره بن شعبه رضی الله عنه د خپلو ملګرو سره د جاهلیت او د شرك په زمانه کی د یو بادشاه ملاقات له لاړل هغه بادشاه ددهٔ تولو ملګرو ته قیمتی هدیی ورکړے او دهٔ ته ئے بیکاره هدیه ورکړه دے غصه شو په واپسی کی په لاره کی ددهٔ ملګری اُوده شول دهٔ خپله توره راواخسته تول ملګری ئے قتل کړل او مال ئے ترے واخستو نبی علیه السلام ته راغلو سمدست ئے اسلام راوړو نو نبی علیه السلام ورته وویل : ستا اسلام منظور دے لیکن دا مال ستا د دوکے مال دے، دا مونږ نهٔ قبلولو نو دا دلیل دے پدے چه د مشرکانو مال په دوکه اخستل ناجائز دی)۔

دریم جواب : نبی علیه السلام میلمه دے او میلمه له جائز دی چه د علاقے خلك دودئ ورکړی او که انکار وکړی نو د خپلے لوږی د ختمولو په اندازه بی اجازته څه شے خوړل ورله جائز دی۔

۳- دریمه واقعه : پدے سفر کی صدیق اکبر مشر معلومیدو څکه چه هغه لږ کمزورے وو او نبی علیه السلام صحمتند وو نو ځوان معلومیدو اګرکه سیدنا ابوبکر د نبی علیه السلام نه دوه کاله کشر دے نبی علیه السلام ئے د خپل ځان نه په اُوښه مخکی کینولے وو نو په لاره چه به څوك راغلل او تپوس به ئے وکړو چه دا څوك دے ؟ نو سیدنا ابوبکر به توریه طریقے سره وئیل : (هٰذَا رَجُلٌ يَهْدِيْنِى الطَّرِيْقَ)

دا یو سړے دے چه ما ته لاره راښائی۔ د سړی به دا ګمان شو چه دا ظاهری لاره ئے مراد ده او د ابوبکر صدیق مقصد به دا وو چه ما ته هدایت او د خیر او د الله د رضا کولو لاره راښائی۔ توریه به ئے کوله، توریه داسے شے دے چه د دروغو نه پرے سړے بچ کیږی۔ سیدنا عمر فاروق رضی الله عنه فرمائی :

(إِنَّ فِي الْمَعَارِيضِ لَمَنْدُوحَةً عَنِ الْكَذِبِ) په توریه کی د دروغونه بچاؤ دے۔
(تهذيب الآثار للطبرى ٤/٢٠٨) وهو المروى عن عمران بن حصين ايضاً كما فى ابن ابى شيبة٨/٥٣٥) (٢٦٦٢٠)۔
نو صدیق اکبر رضی الله عنه به توریه کوله او داسے به ئے نهٔ ویل چه دا فلانے دے او زهٔ فلانے یم۔

د سراقه بن مالک ورزغلیدل

٤- څلورمه واقعه: صدیق اکبر رضی الله عنه فرمائی: په لاره کی د مشرکینو نه مونږ پسے هیڅوك رانغلو مگر سراقه بن مالك بن جُعْشُم المدلجی چه دا بیا روسته مسلمان شوید ے۔
سراقه خپله بیان کوی چه زهٔ د خپل قوم په یو مجلس کی ناست وم پدے کی یو سړے راغے هغه وویل چه ما د دریاب په غاړه څه کسان ولیدل چه روان وو ما ته محمد (ﷺ) او د هغه ملگرے ښکاره کیدل،
او مشرکینو پدے باندے انعام مقرر کړے دے دا گټل پکار دی،
سراقه وویل: زما په زړهٔ کی دا راغله چه دا همدغه کسان دی لیکن ما ورته وویل دا محمد (رسول الله ﷺ) نهٔ دے، دا نور کسان دی لږ مخکی ما هم ولیدل، مقصد مے دا وو چه بل څوك وریسے لاړ نشی لږ ساعت پدے مجلس کی کیناستم بیا کور ته لاړم خپلے وینځے ته مے وویل چه ددے غونډئ نه اخوا ته زما اس ولاړ دے هغه راوله او د کور نه شاته ئے ورته هغه لاړه اَس ئے راوستلو، ما د کور نه توره او نیزه راواخستله۔
نیزه ډیره اُوږده وی هغه مے داسے ټیټه ونیوله چه سرئے په زمکه لگیدو ددے دپاره چه دا خلك پو هه نشی او دا انعام یواځے ما ته ملاؤ شی نو زهٔ د خپل اَس خوا ته ورغلم پرے کیناستم او په جلتئ باندے مے پدے خوړونو کی روان کړو روان وم تردے چه زهٔ هغه ساحل ته ورسیدم کوم ځای کی چه نبی علیه السلام او د هغه ملگری روان وو۔
د قُدَید په علاقه کی مے ومونډل چه قُدید علاقه (١٢٠) کیلو میټره د مکے نه لرے پرته وه۔ (المعالم الاثيرة١/١٥٣) او د مشهورے لارے نه اته کیلو میټره جدا علاقه ده۔
نبی علیه السلام پدے سفر کی شا ته نهٔ کتل او صدیق اکبر رضی الله عنه به شاته

کتل نبی علیه السلام ډیر په سکون او اطمینان سفر کولو هیڅ یره ورسره نهٔ وه، سیدنا ابوبکر وکتل سراقه ئے ولیدو نو وے ویل : یارسول الله ! مشرکین راورسیدل۔

نبی علیه السلام ورته وفرمایل :﴿ لَا تَحْزَنْ اِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا﴾

مهٔ غمژن کیږه الله تعالیٰ زمونږ سره ملګرے دے چه الله درسره وی څه پرواه ده، اسباب به استعمالوی او په الله تعالیٰ به توکل هم کوی۔

سراقه بن مالك رضی الله عنه فرمائی: چه کله زهٔ ورنزدے شوم ما د نبی علیه السلام قراءت واوریده چه ډیر په اطمینان روان وو چه کله زهٔ ښه ورنزدے شوم زما د اَس دا مخکی خپے په زمکه کی دننه ننوتے حال دا چه ډیره سخته زمکه وه پدے وخت کی زهٔ راوغورزیدم بیا را اُوچت شوم اَس ته مے آواز وکړو هغه خپلے خپے راویستلے نو ما استسقام بالازلام وکړو یعنی په غشو باندے مے خپل قسمت معلوم کړو یعنی لاټری مے وکړه (لاټریانی د مشرکینو عادت وو چه نن صبا دا کارونه ډیر زیات دی او دا د جواریٔ یو قسم دے)۔

سراقه وائی چه کله ما غشی راویستل هغه څه راووتل چه زما خوښ نهٔ وو، په غشی کی ئے دا لیکلی ووچه دے پسے تهٔ نشے رسیدلے۔ دا انعام نشے حاصلولے، پدے کی چه بیا ورپسے روان شوم نو بیا زما د اَس خپے په زمکه کی خښے شوے بیا د اَس نه وغورزیدم او آواز مے ورته وکړو، اَس بیرته راوچت شو بیا مے قسمت په غشو معلوم کړو بیا همغه غشے راوختلو چه بیا په دریم ځل روان شوم نو د اَس خپے په زمکه داسے ډیرے ننوتلے چه نبی علیه السلام او ابوبکر ته مے وویل چه زما دا ګمان دے چه تاسو ما ته ښیرے وکړے تاسو ماله دعا وکړئ او زما د طرفه به تاسو ته امان وی زهٔ به هیڅ ضرر نهٔ درکوم که تاسو راته دعا ونکړئ زهٔ به هلاك شم۔

نو دوی ودریدل او نبی علیه السلام ورته دعا وکړه، د اَس سینه او خپے د زمکے نه داسے راووتلے چه دے زمکے داسے دوړے او لوګی وکړل۔ سراقه وائی: ما تعجب وکړو چه زمکے نه لوګی څنګه راووتل او د اَس خپے درے ځل څنګه په سخته زمکه کی داخل شوے؟!!۔ پدے وخت کی نبی علیه السلام او ابوبکر ودریدل او سراقه ته ئے وویل : څه غواړے هغه وویل: زهٔ خو ستا د مرګ دپاره راوتلے یم چه هغه انعام حاصل کړم هرکله چه ما تاسو ولیدلئ چه زهٔ تاسو نشم وژلے نو تاسو زما نه دا متاع (سامان) او

نفقه واخلئ او په فلانی ځای کی زما اوښان څریږی چه د هغه اوښانو نه ستاسو څومره خوښ وی واخلئ نبی علیه السلام ورته وویل : ستا اوښانو ته زمونږ حاجت نشته، نو هیڅ ئے ترے وانخستل۔

سراقه وویل : که ما ته څه امر خدمت وی ؟ نبی علیه السلام ورته وویل چه په لاره کی څوك مشرکان راځی نو زمونږ لاره ورته مه ښایه زمونږ نه پټوالے وکړه۔

سراقه دا وعده پوره کړه چه کله به په لاره کی څوك راتلل د نبی علیه السلام د وتلو شپږمه ورځ وه خلکو به ئے طلب کولو څوك چه به سراقه ته په مخه ورغلو ورته به ئے وویل چه پدے لاره کی څوك نشته ما معلومات کړیدے۔

سراقه بن مالك په اول د ورځ کی د رسول الله ﷺ د قتل کوشش کولو او په آخر د ورځ کی ئے د هغه څوکیداری او حفاظت کولو، الله تعالیٰ داسے انقلابات راولی او احوال بدلوی۔

سراقه بن مالك وائی : کله چه زهٔ د نبی علیه السلام نه واپس کیدم نو نبی علیه السلام یوه ناشنا خبره وکړه وے فرمایل: (كَيْفَ بِكَ) ستا حال به څه وی اے سراقه کله چه تا ته د کسریٰ د سرو بنګړی اچولے شی ؟ نو ما وویل : کسریٰ بن هرمز؟ نبی علیه السلام وویل : کسریٰ بن هرمز۔ سراقه وائی : ما تعجب وکړو چه دوه کسان دی او د مکے مشرکان ئے په قتل پسے راروان دی او ټول خلك ئے خلاف دی او دے وائی چه د کسریٰ بنګړی به تا ته واچول شی او فارس به د مسلمانانو لاس ته راشی۔

بیا روسته د سیدنا عمر رضی الله عنه په دور خلافت کی فارس صحابه کرامو فتح کړو او د کسریٰ تاج او بنګړی راوړل شو، سیدنا عمر رضی الله عنه دغه بنګړی سراقه بن مالك ته واچول او ورته وے فرمایل چه اوځه او دا خلکو ته وښایه۔ سراقه بهر راووتلو او د مدینے په کوڅوکی ئے خلکو ته د کسریٰ بادشاه بنګړی خودل چه د نبی علیه السلام هغه وعده چه د هجرت په لاره کی ئے ما سره کړے وه او هغه وخت زهٔ مسلمان نهٔ وم او د هغه د قتل پسے وتلے وم رشتینی شوه۔

دیته انباء بالغیب (د غیبو خبرداری ورکول) وائی نبی علیه السلام په غیبونهٔ پوهیدو لیکن په وحی سره به ئے دا خبرے کولے پدے کار د صحابه کرامو ایمان نور هم زیات شو۔

سراقه وائي : زما يقين راغے چه نبي عليه السلام به غالبه كيږي نو ما ورته وويل : ما ته امان وليكه نو نبي عليه السلام عامر بن فهيره ته وويل : څرمنه راواخله او دۀ ته امان وليكه نو هغه وليكل چه د سراقه بن مالك دپاره امان دے۔

(**فوائد**: ۱- د نبي عليه السلام معجزے۔ ۲- : د ابوبكر صديق خفگان په نبي عليه السلام باندے۔ ۳- د الله په وعدو يقين۔

۵- پنځمه واقعه د هجرت د لارے :

د ام معبد خزاعيه ناشنا قصه

نبي عليه السلام يوے لارے ته ورسيده چه مشلل علاقه وه چه دا د مكے نه (۱۳۰) كيلوميټره جدا ده، او د درياب نه څلويښت كيلوميټره راجدا دے۔

هلته يوه زنانه وه د هغے ام معبد نوم وو د خاوند نوم ئے ابومعبد وو نبي عليه السلام دهغے په خوا ورتير شو نو هلته ئے دمه وكړه دا زنانه به د خيمے نه بهر ناسته وه او خلكو ته به ئے خوراكِ څكاك وركولو، ډيره ميلمه دوسته ښځه وه،

نبي عليه السلام ورته وويل : د خوراك څه شته ؟ ام معبد وويل : قسم په الله ! كه د خوراك څه وے ما به ضرور ستاسو ميلمستوب كړے وے۔ (وَالشَّاةُ عَازِبُ) او گډې بيزې صحراء ته تللي دي دلته نشته دے چه راوے لشو۔ او دا ډير د قحط كال هم وو، نبي عليه السلام چه وكتل په خيمه كي يوه كمزورے گډه ولاړه وه نبي عليه السلام وويل چه دا گډه خو شته دے؟ ام معبد ورته وويل چه دا گډه كمزورے ده او د ډير كمزورتيا د وجه نه د نورو گډو نه پاتے شويده نو ابومعبد نورے گډے بوتلي دي او دا ئے پريښے ده او پدے كال بارانونه هم نۀ وو نو گډو بيزو كي به پئ هم نۀ پيدا كيدل،

نبي عليه السلام ورته وويل اجازه كوے چه زۀ ئے راولشم؟ نو ام معبد ورته وويل چه دا گډه خو ډيره وچه ده دا خو داسے ده لكه د حيوان خپه چه رالشي هغے كي خو پئ نۀ وي۔ نو نبي عليه السلام بسم الله وويله او خپل لاس مبارك ئے د هغے غولانزو ته وروړاندے كړل هغے خپے كولاؤ كړے او پئ پكي راغلل يو لوښے ئے ترے ډك كړو د نبي عليه السلام ملگرو وڅكل او هغه زنانه ته ئے وويل تۀ ئے هم وڅكه، هغے هم وڅكل،

نبی علیه السلام هم وخکل نو بیا ئے وویل بیا لوښے راوړه بیا ئے راوړو نبی علیه السلام هغه بیا راولوشله او په خپل لاس ئے هغه لوښے ډك كړو او هغوی ته ئے پریښودو، او نبی علیه السلام او ملګری د دوی نه روان شو،

وخت لا نۀ وو تیر چه ابو معبد خپل كور ته راغے د ډیرے كمزورئ نه ئے خپے راښكلے نو كوركی ئے پئ ولیدل نو د ام معبد نه ئے تپوس وكړو چه دا د كوم ځای نه راغلل، تعجب ئے وكړو، حال دا چه په كور كی د پئ ګډه هم نشته، ام معبد ورته وویل ته څه خبر ئے، دلته داسے كسان راغلل ما نه ئے د پیو مطالبه وكړه ما وویل څه نشته نو دا اُوچه ګډه ئے راولشله۔

ابو معبد خپلے ښځے ته وویل چه ددې سړی صفت راته بیان كړه نو هغے د نبی علیه السلام ډیر اُوچت صفات بیان كړل،

علماء فرمائی هغه صحابه كرامو چه د نبی علیه السلام سره ئے شل شل كاله تیر كړیدی هغوی هم داسے صفات ندی بیان كړی داسے هوښیاره، ذهینه او فصیحه ښځه وه۔ هغے د نبی علیه السلام صفتونه د سر نه تر خپو پورے بیان كړل، چه قسیم وسیم جسیم وو چه په آخر د سیرت كی به دا ذكر كړو۔ ان شاء الله تعالیٰ۔

نو ابو معبد وویل قسم په الله دا خو هغه سړے دے چه قریش ورپسے ګرځی او انعامات ئے پرے مقرر كړیدی دا هغه محمد رسول الله (ﷺ) دے كه ما ته موقعه ملاؤ شوه زۀ به پرے ایمان راوړم او ملګرتوب به ئے كوم۔

سیرت كی راځی چه پدے موقعه كی یو جن (پیری) مكے ته لاړو او هلته ئے په تیز آواز شعرونه وویل چه خلكو اوریدل روسته ورپسے روان وو لیكن د هغه پیری شكل ئے نۀ لیدو، دا پیرے په لاندے طرف د مكے داخل شو او بره طرف باندے ووتلو او دا اشعار ئے وویل:

جَزَی اللّٰهُ رَبُّ الْعَرْشِ خَيْرَ جَزَائِهٖ	❁	رَفِيْقَيْنِ حَلَّا خَيْمَتَيْ أُمِّ مَعْبَدِ
هُمَا نَزَلَا بِالْبِرِّ وَارْتَحَلَا بِهٖ	❁	وَأَفْلَحَ مَنْ أَمْسٰى رَفِيْقَ مُحَمَّدِ
فَيَا لِقُصَيٍّ مَا زَوَى اللّٰهُ عَنْكُمْ	❁	بِهٖ مِنْ فِعَالٍ لَا يُحَاذٰى وَسُوْدَدِ
لِيَهْنِ بَنِيْ كَعْبٍ مَكَانُ فَتَاتِهِمْ	❁	وَمَقْعَدُهَا عِنْدَ الْمُؤْمِنِيْنَ بِمَرْصَدِ
سَلُوْا أُخْتَكُمْ عَنْ شَاتِهَا وَإِنَائِهَا	❁	فَإِنَّكُمْ إِنْ تَسْأَلُوا الشَّاةَ تَشْهَدِ

(۱) الله رب العرش دے هغه دوه ملګرو ته نیکه بدله ورکړي چه د ام معبد خیمو ته داخل شول۔

(۲) دا دواړه په ډیره نیکئ او خیر سره نازل شو او په خیر سره روان شو او هغه کس کامیاب شو چه د محمد (ﷺ) ملګرتیا ئے وکړه۔

(۳) اے قصي قبیلے په تاسو تعجب دے چه الله رب العزت ستاسو نه څومره د خیر شے بوتللو او سرداری ئے ترے بوتله۔

(٤) د بنو کعب دے مبارك وي چه داسے زنانه د هغوی سره ده چه د مؤمنانو سره د هغے ډیره لویه مرتبه ده۔(یا ددے ځای د مومنانو دپاره انتظار ګاه ده)

(۵) د خپلے خور نه تپوس وکړئ د هغے د ګډے او د لوښی او د پیوو په باره کی که تاسو د هغے ګډے نه تپوس وکړئ نو ګډه به هم ګواهی ورکړي)۔

د رسول الله ﷺ په لاس سره څومره عظیمه معجزه ښکاره شوه۔

اسماء رضی الله عنها فرمائی : مونږ ته دا معلومه نهٔ وه چه نبی علیه السلام او ابوبکر کوم طرف ته تلی دی خو چه کله دا اشعار مونږ واوریدل مونږه پوهه شو چه نبی علیه السلام مدینے ته روان وو ځکه ام معبد د مدینے په لاره کی وسیدله۔

د بُرَیدہ بن الحصیب سره ملاویدل

٦- د هجرت پدے لاره کی بله واقعه :

دا راغله چه یو مشرك دے بریده بن الحصیب الاسلمی نوم ئے دے د اویا کسانو سره د نبی علیه السلام مقابلے دپاره راووتلو ځکه دا ئے آوریدلی وو چه قریش انعام ورکوی نو پدے لالچ راوتلے وو (لکه ددے امت مجرمین بعض مجاهدین نیسی امریکایانو کافرانو ته ئے د ډالرو د حاصلولو په غرض ورکوی، نبی عَلَیه السلام فرمائی: چا چه د مسلمان په سر پیسے وخوړلے الله تعالیٰ به د جهنم اور په دهٔ باندے وخوروی)۔

کله چه بریده سره د اویا کسانو نه نبی علیه السّلام سره ملاؤ شو او وے لیدهٔ نو وے ویل چه دا خو د مرګ سړے نهٔ دے ددهٔ په مخ کی خو ډیر وقار او ښائست دے نو نبی علیه السلام دعوت ورکړو هغه د خپلو ملګرو سره مسلمان شو۔

سبحان الله ! د نبی علیه السلام د مرګ په اراده راوتلي وو ليکن الله بدل کړو او دوی خپل پتمګی راواخستل او په نيزه ئے ودرول او وے فرمايل چه د امن او سلامتيا بادشاهي راغله، زمکه به د عدل او انصاف نه ډکه شي او خپل قوم ته واپس شو۔

او بعضے احاديثو کي راځي چه نبی علیه السلام ددهٔ د نوم نه فال نيولے وو، د بريده څوی عبد الله بن بريده فرمائي چه د نبی علیه السلام طريقه دا وه چه هغه به نيك فالي نيوله نو د بريده نه ئے تپوس وکړو چه ستا څه نوم دے ؟ هغه ووېل : بريده۔

نبی علیه السلام وفرمايل : (بَرَدَ لَنَا) خبره زمونږ دپاره يخه شوه، د مشرکينو زور ختم شو بيا ئے وفرمايل : د کومے قبيلے ئے هغه ووېل : د اَسلم۔ نبی علیه السلام ابوبکر ته وفرمايل : (سَلِمْنَا) خلك به الله تعالیٰ زمونږ تابعدار کوی۔

بيا ئے ووېل : پدے قبيله کي د چا څامن يئ ؟ هغه ووېل : (من بنی سهم) د بنو سهم نه يو، نبی علیه السلام ابوبکر صديق ته وفرمايل: (خَرَجَ سَهْمُكَ) ستا برخه راووتله، الله تعالیٰ به مو بختور کوی۔

(فال نيول ديته وائی چه يو سړے په لاره باندے روان وی مخے ته ئے يو سړے راشی چه نوم ئے نافع وی نو دے ووائی چه زما پدے سفر کي به منفعت او فائده وی، بد فالي نيول ناجائز دی او نيك فالي نيول جائز بلکه سنت عمل دے)

٦- شپږمه واقعه دا راغله چه سيدنا زبير بن العوام رضی الله عنه سره د بعضو ملګرو نه شام ته د تجارت دپاره تلي وو واپس راتلل نو نبی علیه السلام ئے په بطن رئم علاقه کي وليده پوهه شو چه نبی علیه السلام خو هجرت کوی نو نبی علیه السلام او ابوبکر رضی الله عنه ته ئے سپينی جامی ورکړے نو هغوی واغوستلے۔

په دے وخت کي مدينے والو ته خبر ورسيدو چه نبی علیه السلام راروان دے مدينے ته هجرت کوی نو د مدينے انصار به هره ورځ راوتل او د نبی علیه السلام انتظار به ئے کولو چه کله به غرمه شوه ګرمی به زياته شوه واپس به خپلو کورونو ته راغلل يوه ورځ انصارو انتظار وکړو واپس راغلل نو پدے کي يو يهودی وو چه يا خو دهٔ هم د نبی علیه السلام د راتللو انتظار کولو يا دا چه د خپل کور سر ته ختلے وو نو دے يهودی نبی علیه السلام وليدو نو په اوچت آواز ئے چغه کړه :

(يَا بَنِيْ قَيْلَةَ ! هٰذَا جَدُّكُمُ الَّذِیْ تَنْتَظِرُوْنَهٗ)

(اے د قبیله اولادو ! دا هغه ستاسو بخت دے چه تاسو ئے انتظار کولو۔ یا جد نیکه ته وائی۔ اوله معنیٰ ظاهره ده۔

قباء ته رسیدل

پدے آواز آوریدو سره دلته صحابه کرامو انصارو توری او نیزی راواخستے او د نبی علیه السلام مخے ته ورغلل او ډیر ناشنا استقبال ئے وکړو چه نبی علیه السلام ته څوك ضرر ورنکړی او په بنی عمرو بن عوف کی صحابه کرامو تکبیرونه شروع کړل، د نبی علیه السلام نه گیر چاپیره تاؤ شو او هغه باندے ئے د نبوت سلامونه واچول او د الله نبی په ډیر آرام او سکون کی وو، ډیره د خوشحالئ ورځ وه، ماشومان لاروته راووتل او تکبیرونه ئے وئیل او سړی او ښځے د کورونو سرونو ته وختل سیل ئے کولو، د مدینے ډیره تاریخی ورځ وه چه داسے پرے کله هم مخکی نهٔ وه تیره شوے۔

براء بن عازب رضی الله عنه فرمائی: ما مدینے والا نهٔ وو لیدلی چه په یو شی باندے دومره خوشحاله شوی وی څومره چه د رسول الله ﷺ په راتللو خوشحاله شو۔

پدے کی نبی علیه السلام ملگری په ښی طرف روان کړل او قباء ته راغلل بنی عمرو بن عوف کی ئے واړول نبی علیه السلام چه قباء ته راورسیدو نو د دوشنبے (یوم الاثنین) ورځ وه اتم د ربیع الاول وو، ۱٤ څوارلسم د نبوت وو او موافق د ۲۳ ستمبر سنه (٦۲۲ء) وه۔

نبی علیه السلام په بنی عمرو بن عوف کی د ونے لاندے یو ځای کی ناست وو، نو کومو صحابه کرامو چه نبی علیه السلام نهٔ وو لیدلے هغوی به راتلل او په سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه به ئے گمان کولو چه دا د الله نبی دے ځکه چه نبی علیه السلام او سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه تقریباً په عمر کی یو شان وو ابوبکر دوه کاله کشر وو مگر لږ خوار وو پدے وجه هغه به مشر معلومیدو، پدے وخت کی د کجورے هغه سورے د نبی علیه السلام نه واوړیدو نو سیدنا صدیق اکبر رضی الله عنه پاڅیدو او په نبی علیه السلام باندے ئے په خپل څادر سره سورے وکړو نو ملگری پوهه شو چه نبی علیه السلام څو دغه دے، نبی علیه السلام به ناست وو او سیدنا

صدیق اکبر رضی الله عنه ولاړ وو د خلکو استقبال به ئے کولو۔

نبی علیه السلام په بنی عمرو بن عوف کی د کلثوم بن الهدم کره دیره شو دهٔ کور ته به ئے بیت اَلعُزَّاب وئیلو یعنی د بی وادهٔ خلکو کور ځکه چه دهٔ به ځان سره دغه شان ځوانان دیره کول ځکه چه نورو صحابه کرامو به ودونو والا خلك دیره کول او سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه د خبیب بن اِساف (یا - یساف) کره دیره شو، او ځینی وائی چه خارجه بن زید کره دیره شو۔

نبی علیه السلام دلته په قباء کی ځلور ورځے تیرے کړے یعنی پیر، منګل، بدھ او جمعرات۔

په قباء کی نبی علیه السلام څه کارونه وکړل ؟

نو اول کار ئے دا وکړو چه مسجد قباء ئے جوړ کړو او پدے کی ئے مونځونه وکړل دا هغه مسجد دے چه دیته الله تعالیٰ په قرآن کریم کی اول مسجد وئیلے دے چه په تقویٰ سره ئے بنیاد ایښودے شوید ے،

﴿ لَمَسْجِدٌ أُسِّسَ عَلَى التَّقْوٰى مِنْ أَوَّلِ يَوْمٍ أَحَقُّ أَنْ تَقُوْمَ فِيْهِ ﴾ (التوبة :۱۰۸)

(**فائده**: ددینه معلومه شوه چه مسجد په اسلام کی یو اهم شے دے، مسجد چه په یوه علاقه کی نهٔ وی هغه علاقه بی روحه ده)

نبی علیه السلام دلته په بنی عمرو بن عوف یعنی قباء کی وسیدو خلك به ئے ملاقات له راتلل۔

په قباء کی نور کوم کارونه وشو؟

د سیدنا سلمان فارسی رضی الله عنه اسلام

اول کس چه نبی علیه السلام ته راغے او ایمان ئے راوړو هغه سیدنا سلمان فارسی رضی الله عنه وو چه دهٔ دوه نیم سوه کاله عمر وو او ځینی وائی چه دریے نیم سوه کاله عمر ئے وو۔

سلمان فارسی په ایران کی د رامُهُرمز علاقے وسیدونکے وو د پلار نه پټ شوے وو او په صحیح دین پسے ګرزیدو، د سلمان فارسی ډیره مزیداره او اوږده واقعه ده چه روسته

به ان شاء الله تعالیٰ په تفصیل سره راشي اجمال ئے دا دے:

اول دۂ نصرانیت قبول کړو بیا ئے د یو بل پسے شپږ اوه راهبانو سره وخت تیرکړو هغوی مړه شول او دے ژوندے وو بیا آخري استاذ ئے چه مړ کیدو نو ورته ئے وویل چه د نصاراؤ نور حق پرست علماء پدے علاقو کی نۂ دي پاتي اُوس هغه وخت رانزدے شویدے چه آخري نبي به راوځي، تۂ یثرب (مدینے) ته لاړ شه چه دا یوه ریګستاني د کجورو علاقه ده هلته به دغه نبي هجرت کوي،

نو سلمان فارسي څه کسانو ته غواګاني او ګډے بیزے په مزدورئ ورکړے چه ما یثرب ته بوځي هغوی په لاره کی په وادی القریٰ علاقه کی په یهودیانو باندے خرڅ کړو بیا دغه یهودیانو په مدینه کی په نورو یهودیانو خرڅ کړو چه د وادی القریٰ والا یهودیانو خپلوان وو نو دلته ئے په مدینه کی د غلامئ زندګی تیروله۔

سلمان فارسي فرمائي: کجورے مے پریکولے چه د بهر نه یو سړے راغے زما مالکانو ته ئے وویل چه د قریشو یو سړے راغلے دے محمد ئے نوم دے په قباء کی پرے خلك راجمع شویدي، خلکو ته دعوت ورکوي، زۂ د کجورے ونے ته ختلے وم ما چه دا خبره واوریده نو په ما باندے رعب راغے او بدن مے خولے شو نزدے وه چه د کجورے نه خکته راغورزیدلے وے، نو زر د ونے نه راکوز شوم او د دغه سړی نه مے تپوس وکړو چه څه خبره ده؟ نو زۂ خپل مالك په سخته څپیړه ووهلم چه ستا ددے خبرو سره څه کار دے خپل کار سره کار لره،

کله چه بیګاه شو ما ځان سره کجورے واخستے او قباء ته ورغلم نبي علیه السلام ته مے وویل چه ما ته دا خبره رارسیدله چه تۂ یو نیك سړے ئے او ستا دا ملګری غریبانان دی نو ما دا صدقه راوړیده نو هغه ته مے کجورے کینبودے نو نبي علیه السلام ملګروته وویل چه دا اُوخورئ او خپله ئے ترے لاس بند کړو او ما دا خبره د خپل استاذ نه زده کړے وه چه دا آخري نبي به صدقه نۂ قبلوي او هدیه (تحفه) به قبلوي نو ما وویل چه دا یوه خبره خور رشتیني شوه،

بیا مے بله ورځ نورے کجورے راواخستے او نبي علیه السلام ته مے راوړے ورته مے وویل چه دا هدیه ده نو نبي علیه السلام هغه قبوله کړه، بیا سلمان فارسي د رسول الله ﷺ شا ته کتل نبي علیه السلام پو هه شو چه دا کس زما د نبوت مهر معلومول

غواړی نو قمیص ئے اُوچت کړونو ما د نبوت مهر ولیدو او زۀ پرے ورخکته شوم ښکل مے وکړو اؤ په ژړا شوم او ایمان مے راوړو۔

سیدنا سلمان رضی الله عنه نبی علیه السلام ته خپله ټوله واقعه بیان کړه نبی علیه السلام ورته وفرمایل: دا قصه دے صحابه کرامو ته بیان کړه،

سلمان بیا په دغه حالت د غلامئ کی وو چه ددۀ نه د بدر او د اُحُد غزا هم فوت شوه بیا نبی علیه السلام ورته په پنځم کال د هجرت وفرمایل چه د خپلو مالکانو سره کتابت وکړه یعنی په پیسو ترے ځان آزاد کړه مالك ورته وویل چه ما له د کجورے درے سوه بوټی نال کړه او څلویښت اوقیه سره زر راوړه تۀ به آزاد شے،

سلمان فارسی ﷺ نبی ﷺ ته شکایت وکړو چه مالك راباندے دا څیزونه مقرر کړیدی؟ نبی علیه السلام ملګروته وویل په دۀ باندے صدقه وکړئ نو هغوی درے سوه بوټی ورکړل نبی علیه السلام ورله په خپل لاس مبارك نال کړل ټول راوختل حال دا چه د کجورو قانون دا دے چه ډیرو بوټو کې کم راخیژی نورسخا کیږی نو دغه یهودی چه د سلمان مالك وو ډیر تعجب وکړو، دا د نبی علیه السلام معجزه وه،

نبی علیه السلام لږ سرۀ ورکړل چه دا سرۀ دے مالك ته ورکړه سلمان فارسی ورته وویل اے د الله رسوله ! دا خو ډیر لږ دی هغه په ما باندے ډیر سره اینبی دی نبی علیه السلام ورته وفرمایل: دا واخله زر دے چه الله تعالیٰ به ئے ستا نه ادا کړی،

سلمان وائی : ما هغوی ته دا تول کړل نو قسم په الله چه ټول حق مے ورته ادا کړو او زۀ آزاد شوم او څه زیاتی هم راسره پاتے شو۔

صحابه کرامو به دعوه کوله انصارو به وئیل چه سلمان زمونږ نه دے، مهاجرینو به وئیل : سلمان زمونږ نه دے نو نبی علیه السلام وفرمایل : (سَلْمَانُ مِنَّا أَهْلِ الْبَيْتِ) سلمان زمونږ د اهل بیتو نه دے۔ په اسلام کی تعصب نشته وګوره دا د فارس نه راغلے دے لیکن د رسول الله ﷺ د کورنئ نه حسابیږی دیته د عدل دین وائی۔

دویمه واقعه- حیی بن اخطب یهودی او د هغه ضد :

صفیه رضی الله عنها چه روسته زمانه کی د خیبر د غزا نه بعد د رسول الله ﷺ بی

بی گرزیدلے ده فرمائی: زما پلار حُيَیُ بن اَخطب یهودی او زما ترۂ ابویاسر دواړو ته زۀ ډیره گرانه وم کله چه به دوی کورته راغلل نو د ټولو بچو نه به ئے اول ما سره ملاقات کولو کله چه رسول الله ﷺ مدینے ته راغلو او په قباء کی په بنی عمرو بن عوف کی دیره وو نو زما پلار او ترۂ دواړه سهار وختی لاړل

(دے دپاره چه وگوری چه د مکے نه دا کس راغلے دے دا څنګه سړے دے)

نو کورته مازیگر د نمر پریوتو وخت کی راغلل او ډیر ستړی او پریشانه او متغیره وو چه په آرام ملاماتی راروان وو، صفیه رضی الله عنها وائی: زۀ ورته د خپل معمول مطابق په ډیره خوشحالئ راغلم نو ما ته ئے هیڅ توجه ونکړه او دیکه ئے راکړه څکه دواړه ډیر غمجن وو نو زما ترۂ زما پلار ته وویل: (اَهُوَهُوَ؟) آیا دا هغه سړے دے چه په مخکنو کتابونو کی الله تعالیٰ مونږ سره وعده کړے وه؟ نو پلار مے ترۂ ته وویل:

(نَعَمْ وَاللّٰهِ) آؤ، قسم په الله. نو ترۂ مے پلار ته وویل: تۀ ئے بنه پیژنے ؟ هغه وویل: آؤ، ورته ئے وویل: (مَا فِیْ نَفْسِكَ مِنْهُ؟) ستا په زړۀ کی ددۀ په باره کی څه خبره ده؟ هغه وویل: ترڅو چه زۀ ژوندے یم دشمنی به ورسره کوم.

یهودو څکه ایمان نۀ راوړو چه دوی په خپله مشرئ باندے یریدل چه دا به ختمه شی نو حُيَیُ بن اخطب د رسول الله ﷺ سره همداسے دشمنی کوله تردے چه د خندق د غزا نه روسته ونیول شو او د علی بن ابی طالب رضی الله عنه په لاس باندے ذبح کړے شو څکه چه دۀ د بنو قریظه ؤ مدد کړے وو او لوظ ئے مات کړے وو.

۳- دریمه واقعه: دریمه واقعه دا راغله چه علی رضی الله عنه درے ورځے روسته د مکے نه راغے او څه عجیب هجرت ئے وکړو هغه دا چه یواځے هم وو او سورلی هم ورسره نۀ وه او پیدل مزل ئے کړے وو تقریباً پنځه سوه کیلو میتره لاره ئے په ډیر تکلیف باندے وهلے وه او د مکے نه په پټه راوتلے وو او خپے ئے هم زخمی شوے وے،

کله چه علی رضی الله عنه راورسیدو نبی علیه السلام ورته غاړه ورکړه او ددۀ په دے تکلیف باندے ئے وژړل او بیا ئے خپلے لاړے راواخستے او لاسونو کی ئے تو کړے او د هغه په خپو ئے راښکلے نو الله تعالیٰ داسے جوړ کړو چه د مرگ د ورځے پورے ئے د خپو درد نۀ وو لیدلے، د نبی علیه السلام په لاړو کی الله تعالیٰ دومره شفاء اچولے وه.

د نبی علیه السلام د بدن کومه حصه چه د کوم مسلمان سره لگیدلی وی هغه

انسان به الله تعالیٰ اُور ته نهٔ داخلوی لکه چه دا خبره د احادیثونه معلومیږی دا یو عزت وو چه الله تعالیٰ خپل رسول ته ورکړے وو۔

٤- بله واقعه : سهل بن حنیف او مسلمانه ښځه

سیدنا علی رضی الله عنه فرمائی: په کوم کور کی چه مونږ وسیدو هغه کور تنگ وو مونږ په کی نهٔ ځائیدلو نو نبی علیه السلام زهٔ د یوے زنانه سره په یو کور کی دیره کړم چه هغه کونډه وه او په بیله کمره کی وسیدله لیکن د تعجب کار دا وو چه دے زنانه ته به د شپے یو سړے راتللو او خبرے به ئے ورسره کولے او د شپے به ئے ورته څه شے ورکولو او هغے به ترے اخستلو نو ما تعجب وکړو چه کونډه ښځه ده او پردے سړے ورسره خبرے کوی زما غیرت دا برداشت نکړه نو ما ددے زنانه نه تپوس وکړو چه اے د الله تعالیٰ وینځے! تهٔ ولے د پردی سړی سره خبرے کوے دا خو ستا دپاره جائز نهٔ دی او حال دا چه تهٔ یوه مسلمانه ښځه ئے؟

هغے راته وویل چه زما خاوند نشته او نهٔ مے څوك خادم شته او دا سهل بن حنیف صحابی دے دهٔ ته دا پته لگیدلے ده چه زما هیڅوك نشته هغه راځی د شپے د مشرکانو بتان مات کړی چه د لرگونه جوړ دی او د هغے لرگی ما ته راوړی چه خپل تنور او نغری کی ئے سیزه او د شپے ئے د خلکو د خبریدو د وجه نه پټ راوړی.

کله چه سهل بن حنیف رضی الله عنه شهید شو نو دے زنانه او علی بن ابی طالب رضی الله عنه به د هغه ډیر صفت کولو او دا منقبت به ئے ورله بیانولو چه دا بت شکن وو، بتان به ئے ماتول او د کونډو خدمت به ئے کولو دا واقعه هم په قباء کی مینځ ته راغله۔ (الروض الانف ۲/ ۳۳۰) والسیرة النبویة لابن کثیر ۲/ ۲۷۰)

په بعض روایتونو کی راځی چه نبی علیه السلام په قباء کی (۲۲) ورځے او په بعضو کی (۱۸) ورځے او په بعضو کی دی چه (۱٤) ورځے ئے تیرے کړے لیکن غوره قول دا دے چه څلور ورځے ئے تیرے کړے د دوشنبے په ورځ راغلے وو چه (۲۳) ستمبر (۶۲۲ء) میلادی کال وو پدے وخت کی د نبی علیه السلام عمر (۵۳) کاله وو او د نبوت زندگی ئے (۱۲) کاله پنځه میاشتے او څوارلس ورځے تیرے شوے وے۔

(السيرة النبوية لابن كثير٢/ ٢٧٠) والرحيق)

مدینې ته داخلیدل

د جُمعې په ورځ رسول الله ﷺ ته د الله د طرفه امر وشو چه ته ددې ځای نه اُوځه نو رسول الله ﷺ په خپله سورلۍ باندې سور شو او بنو نجار ته ئې جواب ولیږه چه دوی په مدینه کې وسیدل ځکه چه قباء د مدینې نه درې میله وړاندې ده، مدینې ته ئې خپلو ماماګانو بنو نجارو ته جواب ولیږه چه راشي نو بنونجار راغلل توري ورسره وې او د نبی علیه السلام په حفاظت کې څه یو طرف او څه بل طرفته ودریدل۔

نبی علیه السلام او ابوبکر صدیق رضی الله عنه په یوه اُوښه سوارهٔ شو او مدینې طرفته روان شو، دا د جُمعې سهار وو چه لږ غوندې تیر شو دلته یوه وادي راغې (رانوناء) ورته وائي دلته د بنو سالم جمات راغې نو رسول الله ﷺ دلته د جُمعې مونځ ادا کړو دا اولنۍ جُمعه وه په اسلام کې چه نبی علیه السلام په مسجد د بنو سالم کې ادا کړه او ددې نه مخکې به د جُمعې مونځ په بانډو کې کیدو او نبی علیه السلام په مکه کې نشو کولې د مشرکانو د یرې د وجه نه او په مسجد قباء کې ئې ځکه ونکړو چه هلته د جمعې ورځ پرې رانغله۔

(ځینې احناف وائي چه نبی علیه السلام په قباء کې (۲۲) ورځې تیرې کړیدي او هلته ئې د جُمعې مونځ نهٔ دې کړې ځکه چه دا بانډه وه۔ دا خبره ضعیفه ده د درې وجو نه اول دا چه نبی علیه السلام په راجح قول سره په قباء کې څلور ورځې تیرې کړیدي۔

دویم دا چه رانوناء علاقه چه د بني سالم مسجد پکې وو دا هم بانډه وه۔

دریم دا چه مدینه ټوله بانډه وه څه بنارونه پکې نهٔ وو جوړ شوي۔ او دا مسئله چه په بانډو کې د جُمعې مونځ نهٔ کیږي کمزورې مسئله ده او صحیح او قوي دلائل ددې په خلاف دي)۔

کله چه د جُمعې مونځ وشو رسول الله ﷺ روانیدو نو د بنو سالم د مسجد صحابه کرام ورته راجمع شو او ورته ئې وویل چه اې د الله رسوله! ته چرته ځې ته به زمونږ سره پاتې کیږې (هَلُمَّ اِلَی الْعَدَدِ وَالْعُدَدِ یَارَسُوْلَ اللّٰه) اې د الله رسوله! زمونږ شمار هم ډیرې

دے او سامان هم ډیر دے۔ او د هغه اُوښه ئے ونیوله چه په دے کسانو کی عِتُبَان بن مالك او عَباس بن عُبَاده بن نضله رضی الله عنهما وو۔ (عیون الاثر ۱/۲۵۵)

نبی علیه السلام دوی ته وفرمایل: (دَعُوهَا فَاِنَّهَا مَأْمُوْرَةٌ) دا اُوښه پریدئ دیته د الله د طرفنه امر شویدے چه دا خپله کوم ځای ته لاړه هغه به زما ځای وی،

پدے کی حکمت دا دے چه که نبی علیه السلام په خپل اختیار کوم ځای اختیار کړے وے نو بیا به نور صحابه کرام خفه کیدے چه زمونږ ځای ته ولے رانغلو ؟ لکه دا د صحابه کرامو کمال وو چه د وحی تابع وو۔

اُوښه روانه وه هر کور باندے به چه تیریدلے هغه صحابی به ورته وویل چه یا رسول الله ! مونږ کره پاتے شه لیکن نبی علیه السلام به ورته همدغه وئیل چه دا اُوښه پریدئ دے ته امر شویدے۔

هر صحابی پدے انتظار وو چه زما ځای کی به دا اُوښه ځملی مګر اُوښه روانه وه تردے چه د مسجد نبوی د دروازے په ځای ځملاسته نبی علیه السلام پرے همغه شان سور دے بیا پاځیدله لږه مخکی لاړه بیرته راواپس شوه او په هغه مخکنی ځای کی ځملاسته او خپل ځټ ئے په زمکه کیخودو،

نو نبی علیه السلام وفرمایل: (هَاهُنَا الْمَنْزِلُ اِنْ شَاءَ اللّٰه) دا به زما د اُوسیدو ځای وی ان شاء الله، دا د بنو النجار علاقه وه نبی علیه السلام هم دا خوښوله چه د خپلو ماماګانو خواته دیره شی دے دپاره چه د هغوی اکرام وشی او الله تعالیٰ هم اُوښے ته ددغه ځای توفیق ورکړو، دغلته موجود صحابه کرامو هر یو مطالبه کوله چه اے د الله رسوله ! مونږ سره دیره شه مګر ابوایوب انصاری رضی الله عنه په جلتئ سره راغے د نبی علیه السلام د اُوښے نه ئے په جلتئ سره پالان لرے کړو او خپل کور ته ئے دننه کړو۔

اسعد بن زراره رضی الله عنه د اُوښے مهار ونیولو کورته ئے بوتلله وے وئیل چه زما کور ته راځه اے د الله رسوله ! او ابوایوب رضی الله عنه وویل:

ما کره راځه اے د الله رسوله ! نو رسول الله ﷺ وفرمایل:

(اَلْمَرْءُ یَکُوْنُ حَیْثُ یَکُوْنُ رَحْلُهٗ)

سړے به هغه ځای وسیږی چرته چه د هغه پالان او سامان وی او زما پالان ابو ایوب انصاری رضی الله عنه کورته وړے دے نو زهٔ به هلته وسیږم۔

دائے هم وفرمایل چه زما په ماماګانو کی د چا کور ډیر نزدے دے ابوایوب انصاری رضی الله عنه وفرمایل : دا زما کور دے او دا مے دروازه ده۔

کله چه ابوایوب انصاری رضی الله عنه کره نبی علیه السلام راغلو نو ورته ئے وفرمایل چه زمونږ دپاره د قیلولے (خوب) ځای تیار کړه نو هغه د نبی علیه السلام او د ابوبکر صدیق رضی الله عنه دپاره د قیلولے ځای تیار کړو او دائے ورته وویل : چه د الله په برکت راپاځیږئ۔

د سیدنا ابوایوب انصاری رضی الله عنه ډیر فضائل دی چه په خپل ځای کی به راشی ان شاء الله تعالیٰ، ددهٔ خپل نوم خالد بن زید دے او په ترک کی په قسطنطینیه علاقه کی د جهاد په موقعه کی وفات شویدے او ډیر اُوچت صحابی دے او ددهٔ لوی منقبت دا دے چه نبی علیه السلام اول ددهٔ په کورکی په مدینه کی وسیدلے دے۔

د ابوایوب انصاری رضی الله عنه کور دوه چهته وو، ابوایوب انصاری رضی الله عنه بره وو او رسول الله ﷺ لاندے چهت کی وو نو د شپے د سیدنا ابوایوب انصاری رضی الله عنه په زړه کی دا خبره تیره شوه چه د الله نبی دے لاندی وی او مونږ دے پرے بره یو دا خومره بی ادبی ده نو خپلو ماشومانو ته ئے وویل : د کوټے په مینځ باندے مهٔ ګرځئ بلکه غاړے ته ګرځئ هسے نه چه د الله نبی ته څه تکلیف ونهٔ رسی او بی ادبی ونشی۔

(**فائده** : ددینه معلومه شوه چه د الله د نبی ادب پکار دے او د صحابه کرامو سره د نبی کریم ﷺ خومره لوی ادب وو، حقیقی محبت کونکی وو)

صبا له سیدنا ابوایوب انصاری رضی الله عنه نبی علیه السلام ته عرض وکړو : اے د الله رسوله ! بره چهت کی تهٔ اُوسیږه او مونږ به لاندے اُوسیږو نبی علیه السلام ورته وفرمایل : چه پدے کی مونږ ته آسانی ده ځکه چه مونږ ته میلمانهٔ راځی۔

ابوایوب انصاری رضی الله عنه به بل کمال دا کولو چه د نبی علیه السلام دپاره به ئے طعام تیارولو نبی علیه السلام به ترے خوراك وكړو چه څه به ترے پاتی شو نو هغه به بیا ابوایوب انصاری رضی الله عنه خوړلو او د هغه ځای نه به ئے خوراك كولو د كوم ځای نه به چه نبی علیه السلام خوراك كړے وو، د خادم نه به ئے تپوس وكړو چه نبی علیه السلام د كوم ځای نه خوراك كړیدے؟ هغه به ورته وښودو، دا كار به ئے د تابعداریٔ او د بركت په نیت باندے كولو۔

صحابه کرامو به د نبی علیه السلام د اداء تابعداری هم کوله اګرکه دین به هم نهٔ وو۔

یوه ورځ ئے ډوډئ ورولیږله نبی علیه السلام ترے خوراك ونکړو سیدنا ابو ایوب انصاری رضی الله عنه د خپل خادم نه تپوس وکړو چه نبی علیه السلام د کوم ځای نه خوراك وکړو؟ خادم ورته وویل چه نبی علیه السلام ترے څه ونهٔ خوړل،

سیدنا ابو ایوب انصاری لاړو نبی علیه السلام ته ئے عرض وکړو چه اے د الله رسوله ! خوراك دے ولے ونهٔ کړو ؟ نبی علیه السلام ورته وفرمایل : پدے کی اوږه وه، ابو ایوب انصاری عرض وکړو : آیا اوږه حرامه ده ؟ نبی علیه السلام ورته فرمایل: حرامه نهٔ ده لیکن زهٔ د هغه چا سره خبرے کوم چه تاسو ئے ورسره نهٔ کوئ زما د ملائکو سره تعلق دے ما ته وحی راځی۔

(**فائده** : کچه اُوږه خوړل مسجد ته د تللو په وخت جائز نهٔ دی ځکه ملائکو ته ضرر رسوی او خلکو ته هم ضرر رسوی او د اوږے او د پیازو او د هر بدبویه شی استعمال مانځه ته د نزدے کیدو په وخت جائز نهٔ دے او که پخه شی یا په بله څه طریقه سره ئے بدبوئی زائل شی نو بیا ئے خوراك جائز دے، ددے نه معلومه شوه چه د نسوار او سګریټ استعمال هم حرام دے ځکه چه پدے سره هم د خولے نه بدبوئی ځی چه مسلمانانو او ملائکو ته تکلیف رسوی)

کله چه نبی علیه السلام مدینے ته راننوتو نو په ټولو کورونو او لاروکی د تسبیحاتو او حمدونو آوازونه وو او د انصارو ماشومانو جینکو د ډیرے خوشحالئ نه تمبل وهلو او دا اشعار به ئے ویل :

طَلَعَ الْبَدْرُ عَلَيْنَا مِنْ ثَنِيَّاتِ الْوَدَاعِ	❁	وَجَبَ الشُّكْرُ عَلَيْنَا مَا دَعَا لِلّٰهِ دَاعِ	
أَيُّهَا الْمَبْعُوثُ فِينَا	❁	جِئْتَ بِالْأَمْرِ الْمُطَاعِ	

په مونږ باندے د ثنیة الوداع نه سپوږمئ رابنکاره شوه، په مونږ باندے شکر لازم دے ترڅو چه د الله دپاره یو دعوت کونکے موجود وی۔

اے په مونږکی رالیږلے شوی پیغمبره ! تا مونږ ته هغه خبره راوړے ده چه مونږ به ئے پوره طریقے سره منو۔ (الرحیق المختوم)



د مسجد نبوی جوړول

نبی علیه السلام د سیدنا ابو ایوب انصاری رضی الله عنه په کور کی وسیدو نو په همدے ورځ چه بیګاه له د خالی شپه وه د بنو نجار پسے ئے جواب ولیږلو چه راشی، هغوی راغلل، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل دا زمکه (چه درمن وو او یو دیوال پکی ولاړ وو دا زمکه) د چا ده؟ ما ته دا قیمت کړئ زهٔ پدے باندے مسجد جوړوم۔

دا زمکه د دوه هلکانو وه چه یتیمان وو او د اسعد بن زراره رضی الله عنه په تربیت کی وو۔ (السیرة النبویة ۲/۲۷۲)

بنو نجارو نبی علیه السلام ته وفرمایل چه دا مونږ هسے د الله دپاره وقف کوو نبی علیه السلام وفرمایل: ما نه به ضرور پیسے اخلئ (دے دپاره چه نبی علیه السلام په خپل مال سره دا مسجد جوړ کړی ځکه چه مسجد جوړول ډیره لویه قربانی ده او همیشه دپاره ثوابونه دی، پدے وجه دے مسجد ته مسجد نبوی وائی چه د رسول الله ﷺ په لاس مبارك باندے ددے بنیاد کیخودے شویدے)۔

(**فائده**: بعض خلك په سړکونو کتونه اچوی او د خلکو نه چنده غواړی دا ډیره غلطه طریقه ده او دین سپکول دی او لوی ظلم دے، په مسلمانانو لازم ده چه ځان دپاره به ضرور مسجد جوړوی او خپل مال به پکی لګوی)

صحابه کرامو ورته عرض وکړو: چه دا میدان د دوه یتیمانانو دے سهل او سهیل هغوی به مونږ رضا کړو نو هغوی دواړو سره ئے خبره وکړه، هغوی رضا شو نو په لس درهمه ئے دغه زمکیه واخسته او مسجد ئے پرے شروع کړو۔

سیدنا انس بن مالك رضی الله عنه فرمائی: دغه میدان کی د مشرکانو مقبره وه، مړی پکی خښ وو کجورے پکی ولاړے وے او کندے کپرے پکی وے، نبی علیه السلام وفرمایل: د مشرکانو قبرونه وران کړئ او هډوکی ورله بهر اُوباسئ ځکه د مشرك څه قدر نشته او کجورے پریکړے شوے او هغه کندے هموارے کړے شوے او مسجد نبوی چه کله جوړ نهٔ وو نبی علیه السلام په یو بل هموار میدان کی مونځ کولو، هلته به د شپے ګډے بیزے اوده کیدلے او د ورځے به پکی نبی علیه السلام

مونځونه کول۔

(امام بخاریؒ باب اینبودے دے بَابُ الصَّلَاةِ فِيْ مَرَابِضِ الْغَنَمِ باب رقم (۴۹)،

دګډو بیزو د پریوتو په ځاي کي مونځ کیږي او پدے باره کی ئے حدیثونه راوړیدی۔

۲- فائده : د مشرکانو په مقبره کی مسجد جوړول جائز دی پدے شرط چه قبرونه به لرې کوي او د مسلمانانو په مقبره کی مسجد جوړول نارو ادی۔

د مسلمان قبر مسجد کی دننه راوستل هم ګناه ده، کوم مسجد کی چه قبر وي په هغے کی مونځ نۀ کیږي او کـه قبر ورانوي د قبر دپاسه ګرځي هم ګناه ده او که د مسلمان قبر راسپړي کیدے شي چه د هغه هډوکی مات شي او د مړي هډوکی ماتول داسے دی لکه د ژوندي هډوکی ماتول، که یو قبر راشي نو په ادب به د هغه هډوکی واخستل شي او په بله مقبره کی به دفن شي لیکن مقبره کی مسجد جوړول او مسجد ته قبر رانویستل د توحید خلاف دی)۔

د مسجد نبوي په جوړولو کی به رسول الله ﷺ خپله هم خدمت کولو خختے به ئے راچلولے او صحابه کرامو به هم کولو، دا زمکه سل ګزه وه او په هغه وخت کی قبله بیت المقدس وه، مسجد ئے په مربع شکل باندے جوړ کړو او ساده مسجد ئے جوړ کړو، د کجورو تنے ئے راوړے مخے ته ئے ودرولے او کانړي ئے ورسره کیخودل چه نمر او هوا به پکی رانتوتله او د غاړو دیوالونه ئے د کانړو نه جوړ کړل او په هغی کی ئے خته ولګوله، درے دروازے ئے پکی جوړے کړے او دپاسه چهت ئے ورله د کجورو د څانګو او چوکونه جوړ کړو چه باران به وشو لاندے مسجد به لوند شو،

صحابه کرام لاړل خاورے ئے راوړے پکی وا ئے چولے بیا به په خاورو جامے ککړي کیدلے نو صحابه کرامو د خوړ نه شړي په لمنو کی راوړلے، نبي علیه السلام چه راغے وے لیدل چه صحابه کرامو شړي اچولی دی نو پدے کار خوشحاله شو او وے فرمایل: دا مور ډیر ښه کار کړیدے۔

(نبي علیه السلام فرمائي: په مسجد کی چه کومے شړي وي دا بهر مۀ اُوباسئ ځکه چه پدے باندے الله تعالیٰ ته سجده کیږي او دا شړي هغه کس ته قسم ورکوي چه څوك ئے بهر اُوباسي چه ما مۀ اوباسه ځکه په ما باندے مسلمان الله تعالیٰ ته سجده لګوي نو کانړي هم پدے خفه کیږي او الله تعالیٰ پیژني)

باران چه به کله وشو نو د نبی علیه السلام په پوزه مبارکه به ختـه معلومیده پداسے سجده کی ډیره عاجزی وی، په درئ او جانماز باندے مونځ جائز دے لیکن په خاوره یا په بزکی باندے سنت دے)۔

مسجد په اسلام کی ډیر اهمیت لری پدے وجه نبی ﷺ اول مسجد جوړ کړو۔

بیا مسجد نبوی یواځے مسجد نهٔ وو بلکه دا د مسلمانانو د مشورے او د تعلیم او د تعلم مرکز وو او د خلکو ترمینځ به په کی فیصلے کیدلے دا یوه لویه جامعه او لویه مدرسه وه اویا کسان صحابه کرام اصحاب الصفه پکی اوسیدل، مسافر به پکی وسیدل، ذکر او عبادت به پکی کیدو، د جهاد ټریننگ به هم پکی کیدو، نبی علیه السلام به صحابه کرامو ته ویل چه د تورو او نیزو چلولو چل زدهٔ کړئ، کله کله به صحابه کرامو لوبی هم پکی کولے ذ ددے دپاره چه یهود پو هه شی چه زمونږ په دین اسلام کی فراخی ده او د یهودو په دین کی تنګوالے وو، مسجد نبوی ته به زنانه او ماشومان هم راتلل۔

(**فائده** : ماشومان مسجد ته بوتلل سنت طریقه ده چه د مانځه او عبادت سره عادت شی خیر دے که شور کوی، که د متیازو خطره وی د هغے هم علاج شته هغه ځای دے وینځل شی که د مساجدو نه ماشومان بند شی نو ویډیو ګیمونو او فلمونو ته به ځی تربیت به ئے ونشی، او کوم روایت کی چه راغلی دی چه تاسو ماشومان او لیونی د مساجدو نه جدا وساتئ نو هغه روایت ضعیف دے، حارث بن نبهان راوی (مُتَّفَقٌ عَلٰی ضُعُفِهٖ)، اتفاقی ضعیف دے) (سنن ابن ماجه (۷۵۰)۔

صحابه کرامو وویل: اے د الله رسوله ! دا مسجد غټوو ولے نهٔ ؟ ځکه چه د مسجد چهت دومره ټیټ وو چه لاس ورِ رسیدلو نبی علیه السلام وفرمایل: دا نهٔ غټوو (عَرِیُشٌ کَعَرِیُشِ مُوُسٰی) دا د موسیٰ علیه السلام د څپر په شان دے۔ نو په همدغه حال ئے پریښودل پکار دی۔

(**فائده** : مساجد ساده جوړول غوره دی ځکه چه د غلا خطره نهٔ وی، هر وخت ورته راتلل کیدے شی او که اعلیٰ جوړ شی بیا به د مانځه نه روسته بندوی، بل په ساده مسجد کی عاجزی ډیره وی،

سیدنا عثمان بن عفان رضی الله عنه مسجد نبوی لږ ښائسته کړو ستنی ئے پکی د۔

کانړو ودرولے نو ډیرو صحابه کرامو ئے خلاف وکړو هغه بیا دا حدیث ذکر کړو:

(مَنْ بَنٰی لِلّٰهِ مَسْجِدًا بَنَی اللّٰهُ لَهٗ بَیْتًا مِثْلَهٗ فِی الْجَنَّةِ)۔

چا چه د الله دپاره مسجد جوړ کړو الله تعالیٰ به ورله دغه شان کور په جنت کی جوړ کړی) نورو صحابه کرامو به وئیل چه دلته مِثْلَه (مثلیت) نه مراد دا چه په غټوالی او وړوکوالی کی د هغه مسجد په شان وی نۀ په بناسست کی مګر دا د سیدنا عثمان رضی الله عنه اجتهاد وو چه هغه ته الله تعالیٰ پدے باندے اجر ورکړیدے)۔

نبی ﷺ او صحابه کرامو به مسجد نبوی جوړولو او دا اشعار به ئے لوستل:

اَللّٰهُمَّ لَا عَیْشَ اِلَّا عَیْشُ الآخِرَة	فَاغْفِرِ الْاَنْصَارَ وَالْمُهَاجِرَة

اے الله اصل ژوند خو د آخرت ژوندے دے نو انصار او مهاجرینو ته بخنه وکړه۔

او دا به ئے ویل:

هٰذَا الْحِمَالُ لَا حِمَالُ خَیْبَر	هٰذَا اَبَرُّ رَبَّنَا وَاَطْهَر

د خیبر د کجورو او د دنیا بارونه خو څه بارونه نۀ دی بلکه اصلی بار او بوج خو دا دے چه انسان مسجد جوړولو کی څه بار کړی او اے ربه زمونږ! دا ډیر د نیکئ او د ګناهونو نه د انسان پاکونکے شے دے۔

نبی علیه السلام چه به دا خبرے وکړے نو د صحابه کرامو تازګی او جذبه به زیاته شوه نو هغوی به داسے وئیل:

لَئِنْ قَعَدْنَا وَالنَّبِیُّ یَعْمَلُ	لَذَاكَ مِنَّا الْعَمَلُ الْمُضَلَّلُ

که مونږ کینو او د الله نبی کار کوی نو دا به خامخا زمونږ نه د ګمراهئ کار وی۔

او پدے حالت کی به ئے د الله تعالیٰ ذکر هم کولو او خښتے به ئے راچلولے او مسجد به ئے جوړولو۔

سیدنا عمار بن یاسر رضی الله عنه به دوه دوه خښتے راوړلے او نورو ملګرو به یوه یوه خښته راوړله نو نبی علیه السلام د هغه د سر نه خاورے څنډلے ځکه چه کوړئ وینښتو والا وو او ورته وے فرمایل:

وَیْحٌ لَكَ یَا ابْنَ سُمَیَّةَ! تَقْتُلُكَ الْفِئَةُ الْبَاغِیَةُ (سیرة ابن کثیر ۲/۳۰۷)۔

اے د سمیه ځویه! په تا افسوس دے! تا به یوه باغی ډله وژنی چه د امیر المؤمنین نه به ئے بغاوت کړے وی۔ یعنی عمار ته ئے د شهادت زیرے ورکړو۔

د اذان ترتیب

مسجد نبوی تیار شو صحابه کرام به مانځه ته راتلل لیکن اذان هم نهٔ وو او د مانځه وخت هم نهٔ وو متعین، څوك به مخکې راتلل او څوك به روسته، ګینتې هم نهٔ وې نو صحابه کرامو خپل مینځ کې مشوره وکړه نو پنځه مشورې ورکړې شوې:

۱- اوله مشوره دا وه چه ټلئ به جوړه کړو چه په هغې به خلك راخبره وو نبی علیه السلام ورته وفرمایل: ټلئ خو د نصاراؤ طریقه ده د هغوی سره مشابهت راځی او د کفارو سره مشابهت نه ځان ساتل پکار دی.

(نن صبا مسلمانانو کې د ټلئ نظام په سکولو او کورونو کې دارنګه په موبائلونو کې دا ټول د کفارو سره تشبیه ده چه په غیر شعوری طور سره په کې مسلمانان اخته دی)

۲- دویمه مشوره دا وه چه یو ښکر به سورې کړو په هغې کې به آواز کوو او هغه به وهو، نبی علیه السلام ورتهٔ وویل: پدې کې د یهودو سره مشابهت دے چه هغوی دا کار کوی.

۳- دریمه مشوره دا وشوه چه یوه جنډه به د مانځه په وخت کې اُوچتوو نو پدے هم مشوره رانغله ځکه چه جنډه په ماښام او ماسخوتن کې نهٔ ښکاری.

٤- څلورمه مشوره دا وه چه اُور به بل کړو پدے سره به خلك خبروو نو نبی علیه السلام وفرمایل: پدے کې د مجوسو سره مشابهت راځی دا هم نهٔ کوو.

۵- پنځمه مشوره عمر رضی الله عنه وفرمایل: یو سړے به مقرر کړو، هغه به د مانځه په اوقاتو کې آواز کوی چه (اَلصَّلَاةُ جَامِعَةٌ) مونږ ته خلك راجمع شویدی. نو پدے مشوره راغله یوه ورځ نیمه پدے عمل وشو.

نو پدے کې یو صحابی سیدنا عبد الله بن زید بن عبد ربه رضی الله عنه خوب ولیدو چه یو سړے روان دے شپیلئ ورسره ده، دهٔ ورته وویل: دا خرڅوې؟ هغه وویل: تهٔ پرې څه کوې؟ دهٔ ورته وویل: خلك پرے مانځه ته راغواړو، هغه سړی ورته وویل: زهٔ به درته کلمات وښایم هغه وایه: عبد الله بن زید ورته وویل: څه کلمات دی؟ نو هغه ورته الله اکبر الله اکبر الخ اذان او اقامت وښودو، سهار چه راغې نبی علیه السلام ته

ئے دا خوب بیان کړو نبی علیه السلام وفرمایل : (اِنَّهَا لَرُؤْیَا حَقٍّ)
دا حق خوب دے، دغه کلمات وئیل پکار دی،
نو نبی علیه السلام ددے خوب تائید وکړو او عبد الله ته ئے وویل چه ته بلال ته دا کلمات ووایه چه هغه اذان وکړی ځکه چه هغه ستا نه په آواز کی اُوچت دے نو اول مؤذن په اسلام کی سیدنا بلال رضی الله عنه مقرر شو۔
(د اذان ډیره اُوچته مرتبه ده عمر رضی الله عنه به وئیل : چه ما یو کار هم نهٔ کولے خو صرف اذان مے کولے دا مے بس وه ځکه چه اذان ډیر غټ دعوت دے)۔
(**فائده** : دا څه وجه ده چه دا خوب یو کشر صحابی سیدنا عبد الله بن زید بن ربه رضی الله عنه ولیدو او غټ غټ صحابه کرام موجود دی هغوی ئے نهٔ وینی ؟
ددے حکمت دا دے چه څوك د الله تعالیٰ د دین دپاره څومره خواری کوی الله تعالیٰ هغه ته بدله ورکوی، که اعلیٰ سړے وی او خواری ئے کمه وه بدله به ورته کمه ملاویږی، په کوم شی کی چه ئے مجاهده کوله هغه به په تا باندے الله تعالیٰ راکولاووی ددے وجه دا وه چه سیدنا عبد الله بن زید رضی الله عنه ددے مشورے نه روسته ډیر پریشانه او فکر مند شو چه په څه طریقه خلك مسجد ته راوغواړو نو ورځ ئے هم په مسجد کی تیره کړه او شپه ئے هم په مسجد کی وکړه نو الله رب العزت اذان ددهٔ په ژبه مشروع کړو۔
چه کله اذان مشروع شو نو یهودیانو او منافقانو خندا شروع کړه چه دا خو رمیاړی دی قرآن کریم کی الله تعالیٰ په هغوی باندے رد کړیدے۔
﴿ وَإِذَا نَادَيْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ اتَّخَذُوهَا هُزُوًا وَّلَعِبًا ﴾ (المائدة:۵۷)۔
او کله چه تاسو د مانځه دپاره اذان وکړئ نو دا خلك د هغے نه ټوقے او لوبی جوړوی۔

د سیدنا عبد الله بن سلام رضی الله عنه د اسلام قصه

عبد الله بن سلام د یهودو یو جیّد او قابل عالِم وو، هرکله چه دا خبر شو چه رسول الله ﷺ مدینے ته راغے او په بنو نجار کی وسیږی دے وائی : زهٔ د کجورے په ونه کی وم او زما نه لاندے زما ترور خالده بنت الحارث ناسته وه ما د خلکو څه شور واوریدو

چه لګیا دی دا خبره کوی چه یو نبی مدینے ته راغلو۔ نو ما په ونه کی الله اکبر ووئیلو او خکته مے راټوپ کړو نو زما ترور او په یو روایت کی دی چه مور مے وویل چه الله دے تا نا امیده کړی که تا د موسیٰ بن عمران په باره کی آوریدلی وے چه راغلے دے نو تا به دومره ډیره پریشانی نهٔ وے کړے، نو ما ورته وویل : اے زما تروړے قسم په الله دا د موسیٰ علیه السلام ورور دے او د هغه په دین باندے دے،

دے فرمائی: زهٔ نبی علیه السلام ته راغلم هرکله چه ما د هغه مخ ولیدو ما وپیژندل چه دا دروغجن مخ نهٔ دے نو اوله خبره چه ما ترے واوریده دا وه چه وے فرمایل:

(يَا أَيُّهَا النَّاسُ ! أَفْشُوا السَّلَامَ وَأَطْعِمُوا الطَّعَامَ وَصِلُوا الْأَرْحَامَ وَصَلُّوا بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ بِسَلَامٍ)

(اے خلکو ! سلامونه اچوئ او په خلکو خوراکونه کوئ او صله رحمی قائمه کړئ او د شپے چه کله خلك اُوده وی مونځونه کوئ جنت ته به په سلامتیا سره داخل شئ)

دهٔ څه سوالونه د پخوانو کتابونو نه زدهٔ کړی وو چه د هغے جواب صرف نبی ته معلوم وو نو دهٔ په نبی علیه السلام باندے هغه سوالونه وکړل او نبی علیه السلام د هغے تیك تیك جوابونه ورکړل نو دهٔ سمدستی اسلام راوړو،

بیا ئے نبی علیه السلام ته وفرمایل: (إِنَّ الْيَهُودَ قَوْمٌ بُهُتٌ)

یهودیان یو بهتانی قوم دے که زما د اسلام نه دوی خبر شی نو په ما به بهتان تړی نو تهٔ زما په باره کی د دوی نه غائبانه تپوس وکړه، نبی علیه السلام یهودیان راجمع کړل او تپوس ئے ترے وکړو چه عبد الله بن سلام په تاسو کی څنګه سړے دے ؟

هغوی وویل : خَيْرُنَا وَابْنُ خَيْرِنَا۔ په مونږ کی غوره دے او پلار ئے هم غوره وو۔

بیا نبی علیه السلام وفرمایل: خبر راکړئ که عبد الله اسلام راوړی تاسو به اسلام راوړئ ؟ هغوی وویل: الله تعالیٰ دے هغه ته ددے نه پناهی ورکړی۔

نو عبد الله بن سلام راووتو او دا ګواهی ئے وکړه :

أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ) نو یهودو سمدست وویل:

(شَرُّنَا وَابْنُ شَرِّنَا) دا هم شری انسان دے او ددهٔ پلار هم شری وو۔

عبد الله بن سلام فرمائی: زهٔ ددے خبرے نه یریدم نو نبی علیه السلام ته د یهودو دوکه معلومه شوه۔

دا هغه وخت وو چه یهودیانو ښکاره دشمنی د نبی علیه السلام سره نهٔ وه شروع کړې صرف خبرې به ئې کولې،

پدې وخت کې نبی علیه السلام د ایمان دعوت یهودو ته ورکړو،

عبد الله بن سلام مسلمان شو خپلې ښځې او بچو او ترور ته ئې دعوت ورکړو هغوی هم ورسره مسلمانان شو، په یهودو کې دا سړې او دهٔ کورنئ مسلمانان شو، یهودو کې ډیرکم خلك اسلام قبلوی او دارنګه شیعه ګان هم ډیر غلیظ کافر دی، ډیر کم پکې اسلام قبلوی نبی علیه السلام فرمائی: که دولس یهودیان په ما ایمان راوړی نو ټول به مسلمانان شی، ځکه چه دوی کې ضد زیات دے۔

سیدنا عبد الله بن سلام رضی الله عنه ډیر پاك صحابی وو، خشوع پکې ډیره زیاته وه قرآن کریم به ئې ډیر لوستلو۔

یو وخت کې ئې خوب لیدلے وو، یوه ښائسته باغیچه ده زهٔ پکې ناست یم او یو ستن ده زهٔ په هغې بره خیژم پدې ستن باندې ختل راته ګران وی نو پدې ستن کې یو کړئ وی زهٔ د بره ختلو اراده کوم نو خادمان راشي ما ونیسی او د ستنې سر ته مې وخیژوی او هغه کړئ مې لاس کې نیولې وی،

نو پدې وخت کې زهٔ راویښ شوم چه ګورم هغه کړئ مې په لاس کې ده،

نبی علیه السلام ته راغے دا خوب ئې ورته بیان کړو نبی علیه السلام ورته وفرمایل چه باغ د اسلام باغ دے او کړئ العروة الوثقیٰ ده یعنی د توحید او د کفر بالطاغوت مضبوطه کړئ ده دا به ستا لاس کې وی تردې چه تهٔ به پدې اسلام مړ شے، پدې وجه صحابه کرامو به سیدنا عبد الله بن سلام رضی الله عنه ته جنتی وئیلو۔

قرآن کریم کې ډیر آیتونه ددهٔ په باره کې راغلی دی چه اهل کتابو کې علماء دی چه دا پیغمبر منی او تاسو اے قریشو! دا نبی نهٔ منئ۔

څو ورځې روسته د رسول الله ﷺ پسې د هغه بی بی ام المؤمنین سوده بنت زمعه رضی الله عنها او د هغه دواړو لوڼرو فاطمه او ام کلثوم رضی الله عنهما او اسامه بن زید او ام ایمن رضی الله عنهما هجرت وکړو او د دوی سره عبد الله بن ابی بکر رضی الله عنه هم راووتو هغه هم ځان سره د سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه اهل وعیال ملګری کړل چه په هغوی کې عائشه رضی الله عنها هم وه دوی ټول په شریکه راروان

شو او مدینې ته په خیر وخیریت سره راورسیدل،

صرف زینب رضی الله عنها چه د ابوالعاص بن ربیع بی بی وه هغه نۀ راپریښودہ تردے چه هغې د بدر د غزا نه روسته هجرت وکړو۔ الرحیق المختوم (۱۳٦)

د مسجد نبوی سره نبی علیه السلام خپلے کوټے هم جوړے کړے، وړے وړے کوټے چه لاس به ورسیدو او تنګے کوټے وے د مسجد نه ګیر چاپیره وے او خواته ئے د نورو صحابه کرامو کوټے وے۔

د نبی علیه السلام په دے وخت کی یوه بی بی په نکاح کی وه ام المؤمنین سوده رضی الله عنها بیا ئے روسته د عائشه رضی الله عنها سره وادهٔ وکړو او په آخره زندګی کی ئے بیا ډیر نکاحونه وکړل شپږ میاشتے روسته نبی علیه السلام دغه کوټو ته نقل شو لیکن دغه کوټے ډیرے تنګے وے،

سیده عائشه رضی الله عنها فرمائی چه نبی علیه السلام به مونځ کولو، زۀ به پرته وم نو نبی علیه السلام چه به سجده کوله زۀ به ئے وسکونډلم نو ما به خپلے خپے راټولے کړے، (صحیح البخاری: ۳۸۲)

نبی علیه السلام سید العالمین وو او کوټے ئے دومره تنګے وے، غټے ئے هم جوړولے شوے لیکن پدے کی عاجزی وی او بندګی ښه کیږی ډیر وخت پورے کور کی ډیوه هم نۀ وه، ډیر روسته ئے ډیوه بله کړه۔



او پدے سره د سیرتِ رسول (ﷺ) **اول جلد** ختم شو ولله الحمد،

وسبحانك اللهم وبحمدك اشهد ان لا اله الا انت استغفرك واتوب اليك وصلى الله وسلم على نبينا محمد وآله وصحبه اجمعين ما تعاقب الليل والنهار۔



وکتبه بیده : ابو زهیر سیف الله بشاوری :

رمضان ۱٤۳٤/۲٤ هجری، الموافق : ۲/۸/۲۰۱۳ء)

فهرست مضامینِ کتاب سیرتِ رسول











سیرت الرسول صلی اللہ علیہ وسلم